# پښتانه

د کلتوري ښکیلاک په زنځیرونو کې

لیکوال

غوث خیبري

(۱۳۸۱-۲۰۰۲)

ACKU

٩٢

# پښتانه

## د کلتوري ښکیلاک په زنځیرونو کې

لیکوال

PROPERTY OF ACKU

غوث خیبري

(۲۰۰۲-۱۳۸۱)

PROPERTY OF ARIC
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00010116 1

ACKU

# دکتاب ځانګړنې


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | : پښتانه د کلتوري ښکیلاك په زنځیرونو کې |
| لیکوال | : غوث خیبري |
| خپرندوی | : خپله لیکوال |
| چاپشمېر | : (۱۰۰۰) ټوکه |
| کمپوزر | : عزت الله شمسزی |
| چاپکال | : ۱۳۸۱ل _ ۲۰۰۲م |

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

## سرلیک


* د پښتنو په هکله تاریخي لیکنو ته یوه کتنه . . . ۱
* د پښتنو د څواکمنۍ په اړه څېړنې اوګروېږنې ۲۰
*د افغانستان په پښتلیك کې دپښتنو ونډه ۴۰

لومړی څپرکی

* د امیر شېرعلیخان په امارت کې د پښتنو یالنې تکل ۶۴
* پښتو ژبه او امیرشېرعلیخان ۸۳
*د شېرعلیخان په دربار کې د پښتنو مشرانو درناوی ۹۵

دویم څپرکی

* د امیر عبدالرحمن خان په امارت کې د پښتنو او... ۱۱۰
*امیر عبدالرحمن خان او د پښتو ژبې او پښتنو ۱۲۷
* پښتو ژبه او د امیر عبدالرحمن خان امارت ۱۴۳
* پښتانه ـ د ډیورنډ کرښه او امیرعبدالرحمن خان ۱۵۲

درېیم څپرکی

* د امیر حبیب الله خان په امارت کې د پښتوژبې
خوځښت او د پښتنو سیاسي تحرك ۱۷۰
*د پښتو ژبې نوې حالت او د پښتنو سیاسي فعالیت ۱۸۶
* د پښتو ژبې په اړه د امیرحبیب الله خان نوې پرېکړه ۲۱۲

## څلورم څپرکی

※ د امیر حبیب الله خان د دربار مورخین ملافیض محمد د پښتو ضد کتابونو لیکوال ۲۲۰
※ د ملا فیض محمد د پښتون دښمن کتابونو لنډه پېژندنه ۲۳۴

## پنځم څپرکی

※ د امیر امان الله خان په امارت کې پښتو ژبه او د فرهنګي ښکیلاک دوام ۲۴۴
※ امیر امان الله خان د یو ملي شخصیت په جامه کې ۲۶۰
※ د امان الله خان د لومړنی لویې جرګې او لومړني اساسي قانون په باره کې تېروتنې ۲۷۲
※ د پښتو ژبې په اړه د امیر امان الله خان فکر او عقیده ۲۷۵
※ مرکه د پښتو د امان الله خان د کړې وعدې یوه بېلګه ۲۸۶

## شپږ څپرکی

※ ۹ میاشتې سقاو سالاري او د پښتنو برخلیک ۳۰۰
※ عیاری از خراسان ـ د غل نه د اتل جوړولو هڅه ۳۱۲
※ د پښتنو په لاس د سقاو سالارۍ رنګېدل ۳۲۵
※ د سقاو زوی او د پښتنو څخه د ښښنې غوښتنه ۳۳۲

## اووم څپرکی

※ د محمدنادرخان پاچاهي او د پښتو او پښتنو سره چلند ۳۴۳
※ د محمدنادرخان په دوره کې د پښتو یون ته یوه کتنه ۳۵۹

**اتم څپرکی**

* د محمدظاهرخان د پاچاهۍ په ۴۰ کلونو
کې د پښتو یون ۳۷۳
* د پښتو یون پر وړاندې ستونزې او خنډونه ۳۹۵
* په مطبوعاتو کې د پښتو ژبې انځور ۴۰۹

**نهم څپرکی**

* د پښتو ژبې لپاره د وزیر محمدګل خان مومند
اوملګرو مبارزه ۴۱۸
* د وزیر محمدګل خان مبارزه او د مخالفانو غبرګون ۴۲۹

**لسم څپرکی**

*په سردارمحمدداود شهید باندې د پښتونیزم تورونه
او د پښتو یون ۴۴۳
* د پښتو ژبې د حق لپاره د مبارزې دوام ۴۵۸

**یوولسم څپرکی**

* د افغانستان دموکراتیک جمهورت، مارکسیزم د
ناسونالیزم په مقابل کې ۴۶۸
* پښتني فرهنګ د روسي ژبې تر خطر لاندې ۴۸۱

**دولسم څپرکی**

* تنظیم واکې، د طالبانو اسلامي امارت او د فرهنګي
ښکیلاک دوام ۴۹۶
* د طالبانو په اسلامي امارت کې د پښتو ژبې او ۵۱۵

**دیارلسم څپرکی**

* د زور تاریخ نوی پړاو، پښتانه او فرهنګي ښکیلاک ۵۲۷
* د طالبانو خلاف د امریکې ستراتیژي او تاکتیك ۵۳۲
* پښتانه د امریکې د بمباریو اصلي موخه ۵۳۸
* په افغانستان کې د طالبانو سقوط او د قدرت خلاء ۵۴۳
* دبن غونډه ۵۴۸
* د هېواد وروستي حالات او نوي اټکلونه ۵۵۷
* اخذلیکونه ۵۶۱
* پایلیکونـــه ۵۶۵

# د پیل خبرې

## د پښتنو په هکله تاریخي لیکنو ته یوه کتنه

لوی احمدشاه ابدالي (دراني) پر ۱۷۴۷م کال د لومړي ځل لپاره د تاریخي افغانستان په دننه کې دیوې پراخې پښتنې امپراتورۍ بنسټ کېښود او پر دې ډول د اسیا په زړه کې د افغانستان په نوم یو هېواد د نړۍ په سیاسي نقشه کې خپل ځای ونیو او د اسیا ددې برخې په پېښلیك کې یو نوی څپرکی ور زیات شو.

هغه وخت دنړۍ هېوادونو او په ځانګړي ډول اسیایي ملکونو د غه تصور هم نه شو کولی چې د ستراحمدشاه بابا په لاس دغه جوړ شوی هېواد به ددې سیمې په برخلیك کې دومره بنسټیز رول ولري او د اسیا او نړۍ یو پېژندل شوی شاعر او فیلسوف "علامه اقبال" به د همدې اهمیت له مخې افغانستان ته د اسیا زړه خطاب وکړي.

د نړۍ پوهانو او پېښلیك لیکونکو فلسفي او سیاسي هستو یو هم د غه اټکل نه شو کولی چې د اسیا دغه نوی جوړ شوی خپلواك هېواد به د تاریخ په اوږدو کې دغه وس ولري چې د سترو ښکیلاکګرو یرغلونو او یا د خپلو ګاونډیانو د بدنیتیو او ورانکاریو پر وړاندې ځان ټینګ او خپل شتوالی خوندي وساتي او یا به په پوهنیز او مدني لحاظ وروسته پاتې پښتانه ددې جوګه شي چې د پرمختللو وسلو او د جګړې دمودرن او عصري ماشین په مخکې د ودرېدلو همت او جرات ولري.

خو د زمانې بهیر هغه اټکلونه ناسم ثابت کړل.

ستراحمدشاه بابا چې په کومه طریقه د پښتنو له خوا واکمن او د اوسني افغانستان بنسټ ایښودونکی ومنل شو دغه طریقه د افغان

ولس دودیز ژوند یو منل شوی اصل دی او د نړۍ په نورو ولسونو کې یې ساری نه شي موندل کېدای. دغه دودیز اصل لویه جرگه وه. د خینو پوهانو په عقیده د لویدیزې نړۍ" ډموکراسي" د پښتنو د لویې جرگې یو ناسم انډول دی ځکه چې په لویدیزه نړۍ کې انتخابات د ډموکراسۍ بنسټ گڼل کېږي. لیکن د غه انتخابات هېڅکله صادقانه نه شي کېدلی او د پیسو په زور د انتخاباتو برخلیك ټاکل کېږي او پانگه کولی شي یو کاندید بري ته ورسوي په داسې حال کې په داسې حال کې چې په لویه جرگه کې یوازې قومي شخصیتونه چې ښه نوم او شهرت ولري د خلکو له خوا چون کېږي او دغه کار د پانگې د لگښت څخه پرته سرته رسېږي.

احمدشاه ابدالي چې د شېرسرخ په لویه جرگه کې د مشر په توگه د پښتنو له خوا وټاکل شو، د لوړو اسلامي او پښتني اخلاقو خاوند وپېژندل شو او د خپلې واکمنۍ په دوران کې د هغه انساني کړنې د غیر اسلامي مورخانو له خوا هم د ستاینې وپېژندل شو او د پښتنو په انتخاب افرین وویل شو. له همدې کبله انگریز پوه او د پښتنو د ژوندانه له اصولو سره اشنا" جارج روس کیپل" وایي چې د پښتنو د جرگې اصل تر ټولو غوره ډموکراسي ده. (۱)

بل انگریز پوه الفنستون دی چې په لیکلي کتاب کې یې د پښتنو دودیز اصول ډېر ستایلي او پښتو او پښتونولۍ ته په زیات ارزښت قایل شوی دی. (۲) خینې نور هم په خپله پښتو او پښتونولي د اسلامیت یو ژوندی اړخ بولي، احمدشاه بابا چې د لوړ اسلامي او پښتني شخصیت درلودونکی و له واکمنۍ څخه مخکې یې د یو سپېڅلي او صادق انسان په توگه د ایران د پاچا" نادرقلي افشار" د مهرمنې او لوریت او عزت د ایراني (اقامحمدقاجار) او ایراني قزلباشو په لاس د لوټ کېدو نه ژغورلی و. دا هغه وخت و چې پر

۱۷۴۷م کال نادرافشار د اقامحمد قاجار او ایراني قزلباشو لـه خوا ووژل شو او د نادرحرم د زلمي احمدخان پښتـو تر حمایت لاندې پاتې شو او قزلباشـو هـڅه وکـړه چـې د نـادرقلي دښځې پـه نـاموس تـېرى وکړي.(۳)

لیکن د ستر احمدشـاه ابدالـي او د ورسـره پښتنـو سـرتېرو دغـه تاریخي کارنامه چې بـاید ایرانیـانو ورتـه زیـات ارزښت ورکـړى واى او هم یې د پښتنو د لوړ اخلاقي کردار پوره درناوى کړى واى او هېڅکله یې هغه له یاده نـه واى ویستلى. پرخلاف د ایران خلکو د پښتنو هغـه تاریخي سبق هېرکړ او راتلونکو ایراني حکومتونـو د افغـانـانو واکمنـې ته په ښه نظر ونه کتل.

دقاجاریـانو نـه نیولې تر پهلویانو پورې ایرانـي واکمنو د افغـاني دولتونو او حکومتونو او ان چې د افغان ولس سره دښمني چلولې او د افغانستان د خاورې د ځینو برخو د لاندې کولو ناپـاك هـوس یـې په زړه کې ساتلى دى. ددې هوس د پوره کولو لپاره یې له هرڅه نـه مخکې پـه پښتنو کې د خپل ښکیلاك د مفکورې په خپرولو پیـل وکـړ او لکـه چې ولیدل شـول. د پښتنو واکمنو د بې فکرۍ، نـاپوهۍ او ځان ځانۍ پـه برکت ځینې بریاوې هم لاسته راوړې. چې پـه دې کتـاب کـې بـه یـې بېلګې وړاندې شي.

احمدخان ابدالي د ځوانۍ څخـه تـر زړبـودښت پـورې د اسـلامي عقیدې له مخې یو روحاني بزرګ او د پښتونولۍ له مخې یو سپېڅلى او رېښتیانى پښتون پاتې او د همدغـو دوو ځانګړتیـاوو لـه برکتـه یـې د پښتنو لپاره یوه پراخه او ډېره ستره امپراتوري جوړه کـړه. چـې دوسـتان او دښمنان ورته ګوته په غاښ پاتې شول.

دلته به د اړتیا له مخې ددې سترانسـان او لوى افغان په باره کې د دښمنـانو د لیکنو څخـه یـو څو کـرښې راواخلو. دغـه کـرښې یـو داسـې

ایراني مورخ کښلي دي چې لیکلی تاریخي اثر یې د پښتنو په هکله له کینې او عداوت څخه ډک دی او هم یې د لیکوالۍ اخلاقي معیارونه نه دي رعایت کړي. هغه معیارونه چې هر لیکوال او په ځانګړې توګه مورخ یې باید په پام کې وساتي.

د پښتنو دغه دښمن ایراني مورخ د لوی احمدشاه بابا شخصیت داسې ستايي:

" احمدشاه درانی مردشجاع، باعزم و مدبر بود، حسن رفتار ومماشلت باطبقات مختلفه از شاهکارهای مشار الیه محسوب می شود. مرد بارحم ومال اندیش بود، و با همین صفات ممیزه توانست افغانستان راکه قبل از او اهمیتی نداشت، در انظارخارجه اهمیت بدهد و درواقع بطوریکه اروپایی ها هم می نویسند موجد افغانستان جدید وموسس سلسله سدوزایی است.

در حقیقت این اساس حکومت و ملت فعلی افغانستان مرهون زحملت وتدابیر و عزم و اراده احمدشاه درانی میباشد، احمدشاه از لهو ولعب وعیاشی دور بود، باشجاعت وخوی سپاهگیری، دم از درویشی وفقیری می زد وبافقرا با نهایت محبت رفتار می کرد.

درشب های جمعه مجلس از علماء تشکیل وبا انها طعام صرف میکرد و نسبت به زیر دستان خود روف و مهربان بود"(۴).

د ایراني مورخ په غټ تاریخي اثر کې همدغه څو کرښې په حقیقت ولاړې دي او د افغانستان په اړه نورې ټولې تاریخي پېښې تحریف شوې او مسخه شوې بڼه لري. د بېلګې په توګه همدغه مورخ د همدې احمدشاه بابا په هکله یو ځای داسې لیکي:

" احمدشاه درانی تجزیه کننده افغانستان " چې په یقین سره دغه ډول فکر په تاریخ لیکنه کې د نوموړي پوهه تر پوښتنې لاندې راولي. (۵).

بله د پامور خبره داده چې ایراني مورخ د افغانستان سیاسي تاریخ کښلی دی. خو د ایران په خاوره باندې یې د پښتنو واکمنیو ته هېڅ اشاره نه ده کړې. یانې دا چې د اصفهان تر نیولو وروسته د ایران پاچا (شاه حسین صفوي) شاهي تاج له خپل سر نه لرې او د پښتون شاه محمود هوتک پر سر یې کېښود او د افغان پاچا بیعت ته یې غاړه کېښودله.

یا همدې ایراني پاچا (شاه حسین صفوي) د پښتنو شاه اشرف هوتک د واکمنۍ پر وخت خپله لور دې پښتون پاچا ته ورنکاح کړه. د پښتنو په اړوند د ایراني مورخ (میدي فرخ) د کنځلو او سپکاوي میراث یو افغان مورخ (فیض محمد کاتب هزاره) ته هم ورسېد چې د ایراني مورخ ډېر نږدې دوست پاتې شوی و. ښایې زیات پښتانه (افغانان) په دې باندې خبرنه اوسي چې فیض محمد کاتب هزاره پر سراج التواریخ سربېره دوه نور کتابونه هم په ځانګړې ډول د پښتنو په باره کې لیکلي دي چې تر حده پورې په کې حقایق تحریف او په غیر صادقانه ډول کښل شوی دی. دغه دوه کتابونه چې د ایراني مورخ فرخ د فکر په اندازه لیکل شوی دی یو یې (فیض فیوضات) او بل یې (نژاد نامه افغان) نومېږي.

(فیض محمد کاتب هزاره) که څه هم د افغاني واکمنو د دربار مورخ و لیکن د همغو واکمنو له ښه سلوك او پېرزوینې څخه یې ناوړه ګټه اخیستې او د پښتنو پر ضد یې لیکنې کړې. چې په دې باره کې په خپل ځای پوره رڼا اچول شوې ده. د پښتنو خلاف د تاریخ لیکنو لړۍ همدا اوس هم په ایران کې په پوره قوت روانه ده. چې موږ یې ځینې بېلګې په دې کتاب کې راوړې دي. کله چې پر ۱۷۷۳م کال لوی احمدشاه بابا له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې دهغوی د امپراتورۍ وارث (اعلیحضرت تیمورشاه دراني) وټاکل شو او ددوی د پاچا کېدو

سره په افغانستان کې د یران د فرهنګي ښکیلاك غنه په خوځېدو راغله او پښتانه ددې ښکیلاك په ځنځیرونو وتړل شول.
د ایران د پلازمینې (تهران) د پوهنتون یا د ایران پلوو افغاني ستمیانو د لیکنو له مخې ( دانشگاه) یو تن اسناد (چنګیزپهلوان) خو په خپل تازه کتاب " افغانستان ـ عصر مجاهدین و برامدن طالبان" کې دغه بې بنسټه دعوه هم وکړه چې ګویا افغانستان د ایراني فرهنګ پورې تړلې یوه سیمه ده او د ایراني فرهنګ حوزه پېژندل کېږي. په دې هکله موږ په خپل ځای کې خبرې کړې دي.
زیاتو بهرنیو پېښلیك لیکونکو د افغانستان خاوره د پښتنو اصلي ټاټوبی ګڼلی او په (مهابارت) کې یاد شوي خلك (ګندهاریان) یې همدغه اوسني پښتانه پېژندلي دي. مهابارت له یونیم زر څخه تر دوو اوحتی د ځینو په قول تر درېیو کالو پورې لرغونتوب لري.
انګرېز پوه (الفنستون) د هغو کسانو په جمله کې دی چې عقیده لري " افغانستان د اسیا هغه هېواد دی چې لرغوني اوسېدونکي یې پښتانه دي" (۶).
د بهرنیو او کورنیو تاریخپوهانو نظریه هم داده چې د ۱۷۴۷م کال څخه تر دې وخته پورې یوازې پښتانه واکمن پاتې شوي دي او نن هم د طالبانو د اسلامي غورځنګ مخالفین عین همدغه غږ پورته کوي او په دې ډول د ملګرو ملتونو او لویدیزو هېوادونو ملاتړ ترلاسه کوي.

## پښتانه او د فرهنګي ښکیلاک مسئله:

ښايي په دې هکله دغه کتاب په پښتو ژبه کې لومړنی اثر وي چې په دې تاریخي تریخ حقیقت باندې رڼا اچوي. چې څنګه د پښتنو په اوږد واکمنۍ کې پښتانه د پښتو ملي ژبې د لرلو سره سره د ایراني فرهنګ تر خطر لاندې راغلل او د پښتو ژبې په ځای فارسي ژبه چې

ایرانیان یې خپله ژبه بولي د افغانانو په هېواد کې یوه حاکمه ژبه وګرځېدله.

لومړی باید دې مطلب ته د لوستونکو پام راوګرځوو، چې په دې بحث کې د مقصد ټکی دا نه دی چې د فارسي ژبې سره کوم مخالفت شته دی او یا یې لکه څنګه چې صدیق فرهنګ په ( افغانستان درپنج قرن اخیر) کې لیکلي دي، پښتانه په غوڅه توګه دغه ژبې نفې کوي، بلکې د مقصد اصلي ټکی دادی چې ولې پښتو ژبې ته چې د هېواد د خلکو د مطلق اکثریت ژبه ده او پښتانه واکمنان هم له اتنیکي پلوه په پښتون قوم پورې تړلي وو او د واکمنیو ساتونکي یې هم پښتانه ګڼل کېدل د " خپلې ژبې" پر ځای " بله ژبه" حاکمه کړې وه او دغه حقیقت یې هیرکړی و چې:

بله ژبه زده کول که لوی کمال دی
خــــپله ژبــه هیرول بې کمـالي ده

ولې د وخت واکمنو او حکومتونو د هېواد د یو ستر اکثریت پښتنو په روا حق سترګې پټې کړې او بله ژبه یې په دغه قوم حاکمه کړې ده، ولــې پښتنــو واکمنــو چــې درانیــان، بارکزیــان، پــوپلزیــان او محمدزیان وو د ومره پوهه نه درلوده، چې د پردی ژبې حاکمیت د پردي فرهنګ د مسلط کېدلو یوازینی اغېزمنه لاره ده او که د کوم قوم ژبه محکومه وي نو هغه قوم هم محکوم پېژندل کېږي.

د تاریخي څېړنو له مخې دا حقیقت پوره جوت دی چې په افغاني دربارونو کې د ایراني فرهنګ او فارسي ژبې د نفوذ ( د پښتو ژبې د شاته پاتې کېدلو سبب وګرځېد او پښتو ژبې ته د دوزخي ژبې نسبت کول هم له همدې ځای څخه سرچینه اخلي. د پښتو ژبې نومیالي ناسونالیست شاعر ( حمزه بابا ) ویلي دي:

وایي اغیار چې ددوزخ ژبه ده

زه به جنت ته د پښتو سره ځم
اوس به د تاریخ په رڼا کې چې څنګه او له کومې لارې فرهنګي ښکیلاك د افغانانو هېواد ( افغانستان ) ته راننووت او د پښتنو واکمنو د بې کمالۍ، بې کفایتۍ او غفلت په نتیجه کې یې په دې خاوره کې خپلې ریښې وزغلولې.

هغه وخت چې د ایران سني پاچا ( نادرافشار یا نادر خراساني ) دغه وس وموند چې کندهار ونیسي نو تر بریالیتوب وروسته یې هلته په خپل نوم یو وړوکی ښارګوټی او د خپنو په وینا یوه لویه کلا ودانه کړه او نوم یې وربانديې (نادراباد) کېښود. دا چې ایراني مورخانو او څېړونکو د کندهار اوسنی ښار نادراباد ګڼلی او ځینو کورنیو تاریخ لیکونکو هم دا خبره منلې ده، له حقیقت سره سمون نه خوري، ځکه چې د نادراباد پاتې شونې برخه نن هم د کندهار د ښار په شمالي اړخ کې د (توپ خانې بازار) یا د توپ خانې ناحیې په نوم شته او ما په خپله د هغه لیدنه کړې ده.

په دې باره کې زه انکار نه کېدونکی ثبوت لرم او هغه دا چې نادر افشار د کندهار د نیولو په وخت یو لږ شمېر شعیه ګان او قزلباشان د خپل لښکر په جمله کې کندهار ته راوستي وو او نادراباد یې هم د همغو شعیه او قزلباشو د اوسېدو لپاره ودان کړ، چې وروسته د کلونو په بهیر کې هغه شعیه ګان او قزلباشان د کندهار د پښتنو په منځ کې په پښتنو بدل شول یانې پښتو ژبه یې د فارسي ژبې په څنګ کې زده کړه، چې پیاوړي پښتو شاعران په کې هم پیدا شول.

نن ورځ د کندهار د توپ خانې وړه سیمه چې پخوانی نادراباد دی له شعیه ګانو څخه ډکه ده، د کندهار اوسنی ښار د لوی احمدشاه بابا د وخت یادګار دی او احمدشاهي ښکلې جومات د احمدشاهي بازار په سر کې ولاړ دی او زرګونه مسلمانان په کې لمونځ کوي.

ما لنډه یادونه وکړه چې د کندهارد شعیه ګانو په جمله کې تکړه پښتو شاعران هم راپیدا شول، چې د هغوی له جملې څخه یو تن اروانباد محمدحسین طالب کندهاري دی، دی د محمدظاهرخان د پاچاهۍ په وخت د افغانستان د ولسي جرګې وکیل هم وټاکل شو. روڼ اندي او ازاد خیاله شاعر و. یو شعر یې په امریکه کې د کاروان د اخبار دوه ویشتمه ګڼه ۱۹۹۵م کال کې خپور شوی دی چې سرخط یې دی:

د نیکه روغ

برایي مې دا زخمي زړه ناقرار کــــړم
په جهان جهان غمو یې ګرفتار کــــړم
څه ووایم چې یې څرنګه ازار کــــړم
هسې رنګه چې له ژونده یې بیزار کړم
زه ګرم نه یم دا زما زړه لیوني دی
غم لړلی نازولی دی کـــمکی دی.

دشعر پیل یې داسې و چې دلته ولیکل شو او دغه شعر څه اوږد دی، همدغه ډول د کندهار په شعیه ګانو کې نور ادیبان شاعران او پوهان راپیداشول کمکی دی.

دشعر پیل یې داسې و چې دلته ولیکل شو او دغه شعر څه اوږد دی، همدغه ډول د کندهار په شعیه ګانو کې نور ادیبان شاعران او پوهان راپیداشول چې ټول د پخواني نادرافشار او اوسنۍ د کندهار د توپخانې د ناحیې اوسېدونکي وو او نېکونه یې څه د نادر افشار او څه د لوی احمدشاه بابا غازي د واکمنۍ په وخت کې له ایران څخه کندهار ته راغلي وو او مورنۍ ژبه یې فارسي وه.

ښاغلی ( شیخ محمداصف محسیني قندهاري) هم چې دکندهار د غیرهزاره شعیه ګانو مشراو د توپخانې یا پخواني نادراباد( تکیه

خاني) واعظ یا خطیب دی چې د شورویانو پرضد د افغان ولس د جهاد په وخت کې یې دمجاهدینو ( تنظیم حرکت انقلاب اسلامي) مشري پر غاړه درلودله او د تنظیم موسس هم دی په خپله دی، د هغو شعیه ګانو اولاده ده چې د نادرافشار او اعلیحضرت احمدشاه دراني په وخت له ایران څخه کندهار ته کډه شوي وو.

ما په کندهار کې د خپل ماموریت په وخت د شیخ محمداصف محسني قندهاري سره ډېر لیدلي و، لیکن کله چې نوموړی د تنظیمي جګړو په وخت کې د خپل تنظیم له سرو سره د ایران قم ښار ته لاړ نو هلته یې د ایراني اخوندانو په تقلید د (ایت الله) لقب هم د خپل نوم سره یوځای کړ او اوس یې خلك یا دحرکت اسلامي د تنظیم غړی د (ایت الله شیخ محمداصف محسني) په نوم یادوي.

پر ۱۳۷۳م کال چې کله د ستر احمدشاه بابا له وفات نه وروسته (تیمورشاه دراني) د خپل پلار پر ځای کېناست، نو ده د پښتو ژبې نه زیات فارسي ژبې ته پاملرنه وکړه او د همدې ژبې څخه یې په رسمي چارو کې کار واخیست او ددې دندې لپاره یې همغه قزلباش او شعیه ګان غوره کړل چې له ایران نه افغانستان ته کډه شوي وو او مخکې یې ذکر وشو.

ایراني مورخ (مهدي فرخ) په دې اړوند داسې لیکي:

"کارهای مالی وقسمت مهم امور رسمی حکومت را به طایفه قزلباش وشعیه محول نمود."(۷)

په تېرو پاڼو کې موږ وویل چې ایران قزلباشانو د اقامحمد قاجار په ملګرتیا (نادرقلي افشار) د ایران غښتلي پاچا ووژلو او د حرم عزت او پت یې پښتون احمدخان ابدالي د خپلو پښتنو ملګرو سره یو ځای خوندي وساتلو. ددې خدمت په بدل کې د نادرافشار ښځې د کوه نور الماس احمدخان ابدالي ته د تحفې په ډول ورکړ او هغه کوه نور الماس

تن د برتانيې دملکې په تاج کې تومبل شوی دی. قزلباشو چې د شعيه ګانو سره په ګډه نادرافشار په دې ګناه وژلی و چې هغه يو سني پاچا و اوس ديوه داسې پاچا د دربار او حکومت چارې سرته رسولې چې هم سني و او هم پښتون يانې اعليحضرت تيمورشاه درانی.

ايران چې د احمدشاه دراني په لاس د نوي خپلواك افغانستان پر جوړېدو هېڅ راضي نه و، د تيمورشاه دراني په پاچا کېدلو يوځه خوشحاله شول ځکه چې له يوې خوا تيمورشاه دراني ديوې ايرانۍ پېغلې سره واده کړی و او له بلې خوا يې شعيه ګان او قزلباشان دخپل حکومت په اډانه کې ځای پر ځای کړي او فارسي ژبه يې درسمي چارچلونې ژبه ګرځولې وه. دغه کار د ايران له نظره د ايراني فرهنګ د ښکيلاکي مفکورې د پرمختګ لپاره ډېره غوره او اغېزمنه وسېله پېژندل کېده.

د هغو شعيه ګانو او قزلباشانو څخه چې د نادر افشار سره د جګړو په دوران کې افغانستان ته راننوتي وو ډلې ډلې د کابل، مزارشريف. هرات او قندهار په ښارونو کې ځای پرځای شول او وروستی نسل يې افغاني هويت لاسته راوړ او ټولو د پښتنو واکمنو د باور او اعتماد نه په ګټه اخيستلو د فارسي ژبې او ايراني فرهنګ د پراختيا او پرمختيا لپاره دپام وړ کار او خدمت وکړ او ددې په نتيجه کې پښتو ژبه پرته له دې چې پښتانه واکمن په ځان پوه شي د هېواد د ډېره کيانو د ژبې په توګه د فارسي ژبې نه وروسته وساتلی شوه او پښتون ولس د خپل مشروع حق څخه بې برخې شو.

اعليحضرت تيمورشاه دراني که څه هم د خپل نوميالي او نڼګيالي پلار( احمدشاه بابا) په څېر د پښتو ژبې تکړه شاعر و. ليکن پښتني احساس او جذبه يې د ستر احمدشاه دراني په څېر نه وه. بلکې

د تاریخ د پاڼو په شهادت د فارسي ژبې او ایراني فرهنګ تر ژورې اغېزې لاندې راغلی و.

د تیمورشاه دراني د واکمنۍ له وخت نه دهېواد ټولې مهمې ادارې، مالي او اقتصادي چارې دغیر پښتون په لاس ورغلې و او دغو غیر پښتنو هم دغه دنده درلودله چې ټول کارونه یوازې او یوازې په فارسي ژبه سرته ورسول شي او دغه ژبه یوازینۍ حاکمه ژبه اوسي. دا هغه څه وو چې ایران یې غوښتونکی و، پښتون تیمورشاه دراني ښایي دفرهنګي ښکیلاك په مانا او اهمیت نه پوهېده، ددې ښکیلاك عواقب یې نه شول سنجولای او یا خو یې ورباندې سرنه خلاصېدو.

غیرپښتنو تاریخلیکونکو په دې ویاړ کاوه چې تیمورشاه دراني د فارسي ژبې شاعر و، دساري په توګه دسوسیالیستي مفکورې درلودونکی مورخ (غبار) لیکي: "تیمورشاه مرد تحصیل کرده وشاعر زبان دری بود درحالیکه پدرش احمدشاه شاعر زبان پشتو بود" (۸).

ښایي مورخ غبار په دې باره کې معلومات نه درلود چې تیمورشاه دراني د پښتو ژبې یو تکړه شاعر هم و او موږ په همدې کتاب کې دهغوی د پښتو شعرونو څو غوره بېلګې هم وړاندې کړي دي.

د ایراني ښځو سره د پښتنو مشرانو د ودونو او نکاح مسئلې د تیمورشاه نه وروسته د یوه ناوړه میراث بڼه غوره کړه اوزیاتو پښتنو د ایراني پېغلو سره وصلت یو ضروري کار وباله، چې په دې لړ کې د امیر دوست محمدخان پلار هم د یوې قزلباشې ښځې سره واده وکړ او میر دوست محمد خان د همدې قزلباشې مېرمن له بطن څخه نړۍ ته راغی (۹).

امیرعبدالرحمن خان په دې ویاړ کړی دی چې مور یې د یوې ایراني کورنۍ پورې تړاو لري او په ناپوهۍ سره څان د امیر شېرعلیخان څخه چې د پلار مور ې دیوې پښتنې کورنۍ څخه وه لوړ

او برتر بولي. اميرعبدالرحمن خان په خپل ژوند ليك كې په دې هكله داسې ليكي:

"مادر" پدرم يكى از خواتين خانواده شاهى و ازنژاد شاه طهماسب بوده ومادرشيرعليخان يكى از طايفه سليم زايى كه شعبه از پوپل زايى است بوده. هيچ يک از اجداد او سلطنت نه كرده اند" (۱۰).

په دې ډول ليدل كېږي چې پښتنو واكمنو په لوى لاس د ايران د فرهنګي ښكيلاك د رېښو ځغلېدلو لپاره لاره اواره كړې او خپل ملي افغاني غرور يې د نورو لپاره او د نورو په ګټه تر پښو لاندې كړى دى. بې پښتو پښتنو واكمنو يوازې د خپلې خولې دخوند او مزې لپاره او هم د خپلې واكمنۍ د خوندي ساتلو په لاره كې د پښتنو پياوړى جنګي ځواك پر كار راوستى دى.

هو! پښتنو واكمنو يوازې د پښتنو تورې اومړانې ته اړتيا درلوده، چې دخپل سلطنت واګي ورباندې ټينګي كړي ليكن د حكومت د چارچلونې واك او اختيار يې ټول د غيرپښتنو په لاس وركړى و. په داسې حال كې چې د ايران واكمن هېڅكله دې ته چمتو نه شول چې ان يو تن غير ايرانى يانې پښتون د حكومت په چارو كې شريك كړي.

د پښتنو واكمنو بې كفايتۍ په ژبني لحاظ د پښتون قوم د ژوندانه چوكاټ ګډوډ او ان مات ګوډ كړ، ځكه چې دوى د خپلې مورنۍ ژبې پر ځاى ديوې بلې ژبې تر حاكميت لاندې راغلل او په معنوي ډګر كې غيرپښتنو ته محتاج پاتې شول، په داسې حال كې چې نومړو پښتنو واكمنو خپله واكمني د پښتنو په جګړه ييز ځواك خوندي ساتله. د همدې ځواك په بركت هېڅ بهرنى هېواد دغه جرئت پيدا نه كړ چې ددوى واكمني له منځه يوسي.

د پښتنو واکمنو دغه ډول دوه مخې سیاست پښتو ولس ته ډېر درونړ زیان ورساوه، ځکه چې د فرهنګي ښکیلاك په نتیجه کې پښتو ژبه د محکومیت په حال کې پاتې شوه. د حکومتونو د چارچلونې کار او د ښوونې او روزنې، اقتصاد او سیاست چارې پوازې د فارسي ژبو په واك کې پاتې شوې. دحکومت مالي او اداري چارې او نور مهم رسمي کارونه چې تیمورشاه دراني د شعیه و او قزلباشو په واك کې ورکړې و دغه طایفې یوې هم د افغان ولس او د افغانستان له خاورې سره کومه اړه نه درلوده، چې ددې حقیقت تصدیق امیرعبدالرحمن خان داسې کړې دی:

" شعیه و قزلباش طایفه ایست که هیچ ربطی به افغانستان ندارد"(۱۱).

په دې حالت کې څنګه ممکنه وه چې هغوی دې د افغانستان خاورې او د افغانستان خلکو ته وفادار پاتې شي. بلکې هغوی د ایران د فرهنګي ښکیلاك یوه اغېزمنه وسېله وه او د هغوی په زیار د فرهنګي ښکیلاك رېښې ورځ پر ورځ ژورې لاړې او فارسي ژبه هم د افغانانو د هېواد لومړنۍ ژبه وپېژندلې شوه په داسې حال کې چې دا دهېواد د لږکیانو ژبه وه نه د د ډېرکیانو.

د ۱۱۸۶کال په وروستیو کې تیمورشاه دراني پلازمېنه د کندهار نه کابل ته ولېږدوله او هماغه دولتي مامورین چې ډېرکي یې قزلباش او شعیه وو له ځان سره کابل ته راوستل. دغو مامورینو یا کارچلوونکو په ټولو اداري او مالي او د ایراني مورخ (فرخ) په ټولو مهمو کارونو قبضه کړې وه او دوی یوازې هغه کسان د کار لپاره قبلول چې په فارسي ژبه ښه پوهېدل اوپه دې ژبه یې ( خط او کتابت) کولی شو. د کار لپاره دغه شرط چې له فرهنګي ښکیلاك سره یې نېغه اړیکه درلوده، ددې سبب شوه چې په دولتي ادارو کې د کار لاسته راوړلو په هیله هر پښتو فارسي ژبی د زده کړې هڅې پیل کړې، ځکه

چې هغوی پوهېدل په دولتي ماموریت کې د یو هوسا، سوکاله او خوشحاله ژوند ډېر امکانات شته دي. هغوی فکر کاوه په دولتي ماموریت کې هم عزت دی هم دولت او هم شهرت، هم تنخواه ده او بډې او رشوت، نو نتیجه دا شوه چې پښتانه کرار کرار د نویو شرایطو تر اغېزو لاندې خپله مورنۍ ژبه پښتو هېره کړي، اولادونه یې دعلم له د زده کړې لپاره فارسي ژبې ته مخه کړي، ځکه چې دښوونې چارې هم د اداري او مالي، اقتصادي چارو په څېر په همدغه ژبه سرته رسېدل.

په کابل ښار کې له ډېرې لرغونې زمانې پښتانه مېشته وو، ډاکټر جي، ایل، یاورسکي (DR. J.L.jaworskij) د عربي وتلی سیاح ابن بطوطه په حواله لیکي چې دکابل د نامتو ښار اوسېدونکي سوچه ارین او د اپاګانا ـ اواګان او یا اوګان په نوم یاد شوي دي" چې په دې اړه پوره تفصیلات وروسته په همدې کتاب کې راځي.

همدغه اوګان قوم دمنځنیو پېړیو د پېښلیک کښانو له خوا د افغان په نوم یاد شوی دی او عربي، ایراني، انګلیسي، روسي، هندي، ناروېزي او ان چې امیرعبدالرحمن خان، دسراج التواریخ لیکونکی فیض محمدکاتب هزاره، میرغلام محمد غبار، صدیق فرهنګ، پوهاند محمدحسن کاکړ، پوهاند استاد عبدالحی حبیبي، پوهاند استاد رشاد او نورو مورخانو یوازې پښتانه د افغان په نوم یاد کړي دي.

الفنستون او سراولاف کیرو پښتانه افغانان ګڼلي او علامه سیدجمال الدین افغان په تتمته البیان فی التاریخ الافغان کې نظر ښکاره کوي. چې د لومړي ځل لپاره ایرانیانو پښتانه د افغانانو په نوم یاد کړي دي. لیکن د (افغان ـ پښتون) د نومونو د یووالي تاریخ ډېر وړاندینی او لرغونی دی. په دې اړوند د استاد پوهاند عبدالحی حبیبي علمي څېړنې د زیات ارزښت وړ دي.

له دې لنډې يادونې څخه مقصد دادی چې کله ایرانی پاچا (نادرقلي افشار) ایراني شیعه ګان او قزلباشان له ځان سره افغانستان ته راوستل او د هغه نه وروسته پښتو پاچا تیمورشاه دراني یوه ډله شعیه او قزلباش مامورین له ځان سره نوي پلازمېنې کابل ته د اداري او مالي چارو او نورو مهمو حکومتي کارونو لپاره راورسول، نو د کابل په ښار کې پښتانه یا د ابن بطوطه په قول اوګان ـ اپاګانا او اواګان په نوم دیو پیاوړي ځواك په توګه مېشته وو او قزلباش ـ شعیه ګان چې هوښیار خلك وو د افغانانو په منځ کې د اوسېدلو جرئت ونه کړ، ځکه خو پښتنو واکمنو هغوی ته د کابل د ښار یوه لرې پرته سیمه چې د کابل د (شیردروازې) د غره په لمن او د ښار جنوب ته پرته وه د اوسېدلو لپاره وټاکله، چې د ایران څخه راغلو قزلباشانو او شعیه ګانو په خپله هغه وړې سیمه باندې د چنداول نوم کېښود.

د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په وخت د کابل د ښار ختیځ اړخ ته یوه کوچنۍ سیمه هم د قزلباشو او شعیه ګانو په اختیار کې کېښوده چې د (مرادخانې) په نوم یې شهرت وموند. په مرادخانې کې له ډېره وخته راپه دې خوا د شعیه ګانو یو زیارت و چې د (ابوالفضل) په نوم یې یاداوه.

په عین حال کې دغو قزلباشانو او شعیه ګانو دیادې شوې (مرادخانې) په اړخ کې یو وړوکی بازار هم ودان کړ، چې د ایراني بازارونو په تقلیدي یې ورباندې (خیابان) نوم کېښود او په دې ډول د پښتنو واکمنو په دوران کې د ایران څخه راغلو شعیه ګانو او قزلباشانو ورو ورو یو لړ امتیازونه لاسته راوړل او همدوی د ایراني فرهنګ د پراختیا او مسلط کېدلو لاره اواره کړه.

د دې په څنګ کې هزاره شعیه ګان چې دسترتولواك احمدشاه دراني د واکمنۍ په وخت یې افغاني هویت لاسته راوړی و د ایراني

قزلباشانو او شعیه ګانو په خوا کې د اوسېدلو په هیله د (چنداول) په ګاونډ کې یوه وړه سیمه د هستوګنې لپاره غوره کړ او په خپله دغه سیمه باندې یې د ( قلعه هزاره های چنداول) نوم کېښود.

د کلونو په اوږد بهیرکې په چنداولو کې مېشتو قزلباشانو او شعیه ګانو پیاوړي دیني عالمان او ادیبان هم پیدا کړل، چې په افغانستان کې یې د "شعیه مذهب" او "فارسي ادب" لپاره د پام وړ خدمتونه وکړل. د هغو دیني پوهانو او ادبي سیاسي شخصیتونو له جملې نه لاندې کسان د یادلو وړ دي.

١. مېرزا مهدي چینداولي چې وروسته دسیاسي فعالیت په تور اعدام شو.

٢. خلیفه غلام حسن.

٣. دخلیفه غلام حسن زوی محمدحسین نهضت چې څه وخت د ولسي جرګې وکیل هم د چنداولو له حوزې څخه وټاکل شو.

۴. میرعلي اصغرشعاع.

۵. جعفرخان فرقه مشر.

۶. محمداسماعیل مبلغ.

٧. شامل علي احمدشامل زاده.

٨. برات علي تاج.

د خلیفه غلام حسن کشر زوی او د محمدحسین نهضت ورور (محمدعلي پیام) ددې کتاب د لیکلو په وخت په ایران کې مطبوعاتي فعالیت لري او د یوې ځانګړې موخې لپاره قلم چلوي او هغه د پښتنو د واکمنۍ سره مخالف دي.

د میرزا مهدي چنداولي زوی (محمداصف اهنګ) چې دمیرمحمد صدیق فرهنګ دوست پاتې شوی، د پښتنو په ضدعین دریځ لري او اوس په کاناډا کې دی.

د وخت په تېرېدو هغو قزلباشانو او شعیه ګانو چې نیکونه یې له ایران څخه افغانستان ته راکډه شوي وو د کابل پر ښار سربېره د هرات او مزارشریف په ښارونو کې هم استوګنه غوره کړه او د پښتنو واکمنو له لنډفکرۍ او غفلت نه په ګټه اخیستلو یې اولادونه د حکومت په ادارو کې دفارسي ژبې په برکت د ډېرو امتیازونو خاوندان شول او ایراني حکومتونو او سیاسي رژیمونو له همدې شعیه ګانو څخه په افغاني واکمنو باندې د فشار دیوې وسیلې په توګه کار اخیستل پیل کړل.

ایران پلوي شعیه ګان او قزلباشان د پښتنو واکمنو رژیمونو یا امارتونو په وخت کې د کابل د ښار لویدیځو، شمال او جنوبي سیمو ته هم ورسېدل او خپلې مېنې یې ورانې کړې. په ښار کې دپوستین او پوستینچې ګنډل. دقره قلي خولیو جوړول، د عسکري او ملکي دریشیو تیارول د همدوی ځانګړي کارونه وو، خو وروسته چې د محمدنادرشاه په وخت په کابل کې د طب پوهنځی جوړ شو نو په سلو کې اتیا محصلین یې د شعیه مذهبو د کورنیو څخه چون شول او د کابل د ښار ډاکتران ټول شعیه مذهبي او روغتیایي چارې د همدوی له خوا نه سرته رسېدلې.

دوی ټولو له ایران سره نږدې اړیکې درلودلې او د مېشتو پښتنو په پرتله یې ډېر ښه ژوند درلود، اوس ایراني مطبوعات (ورځپاڼې، مجلې او کتابونه) چې د افغانستان د خاورې او افغان ولس په ضد یې مطالب خپرول په پوره ازادۍ او اسانۍ کابل، هرات او مزارشریف ته چې شعیه مذهبي په کې مېشته او فعال وو رسېدل او د فرهنګي ښکیلاک رېښې ورځ په ورځ غزېدلې.

ددولت اداري او مالي چارې او ځینې نور مهم کارونه خو له ډېر پخوا نه د غیر پښتنو واکمنو په واك کې ورکړل شوي وو او دادی

روغتیایي چارې هم دوی ته ورحواله شوې. د چنداول او مرادخانې سیمې چې په پیل کې ډېرې محدودې او کوچنۍ وې په لویو بازارونو او تجارتي سرایونو بدلې شوې او پښتانه چې د کابل ښار اصلي اوسېدونکي پېژندلي کېدل او دغه مطلب موږ د تاریخ په رڼا کې مطالعه کړ په پوهنیز او اقتصادي ډګر کې د راغلو کډوالو څخه وروسته پاتې شول او د فارسي ژبې حاکمیت له پخوا نه زیات ټینګ شو.

پښتو ژبې ته د پښتنو د واکمنۍ په کلونو کې د حاکمیت حق ورنه کړل شو او دغه بې عدالتي ددې سبب شوه چې ډېره کیان پښتانه د فرهنګي ښکیلاک په نتیجه کې د لړه کیانو تر مادي او معنوي اغېزو لاندې راغلل او د حکومتي ادارو په چوکاټ کې د دندو سرته رسولو په هیله په حتمي ډول فارسي ژبې زده او کرار کرار خپله مورنۍ ژبه هېره کړه. په وروستیو کلونو کې چې قومي تخلصونو رواج وموند نو بې شمېره کسانو ځانونه یو سفزي، مومند، شینواري، دراني، بارکزي، پوپل زي، نورزیو وردګ او داسې نور معرفي کړل پرته له دې چې په پښتو وپوهېږي او یا پښتو خبرې وکړي شي.

# د پښتنو د واکمنۍ په اړه څېړنې

# او څرګندونې

دا چې د هر تاريخي يا ټولنيز مطلب د رښتيا ښودلو لپاره بايد د پرديو خبرې د ثبوت او يا شاهد په توګه ذکر کړو، د تېرو وختونو نه راپاتې بدعت دي او د همدې اړتيا او مجبوريت له مخې مونږ هم د مطلب پيل د بهرنيو څېړونکو په وينا کوو ښايي دغه څېړنې او ګروېږنې د حقيقت نه د خلکو د انکار لارې وتړي او د مقصد ټکي په ښه ډول روښانه کړي.

مونږ په مخکنيو کرښو کې د( ډاکټر جي، ال، ياورسکي) د کتاب (د اميرشيرعليخان په دربارکې د تزاري روسيې سفارت) په حواله دعربي نامتو سيلاني (ابن بطوطه) د خولې خبرې راوړلې چې په کې ويل شوي وو، د کابل د تاريخي لرغوني ښار اوسېدونکي د "اپاګانا- اواګان- اوګان) په نوم يادېدل او دا مو هم د کورنيو او بهرنيو مورخانو له قوله وويل، چې " اپاګانا، اواګانا، اوګان" همدغه اوسنی " افغان" دی چې تاريخ پوهان او ختيځ پېژندونکو " پښتون- افغان" د يو قوم نوم ګڼلی دی چې هنديان ورته پټان وايي.

سر اولاف کيرو چې په ناويشلي هند کې د برتانيې د حکومت کارکوونکي پاتې شوي او د پښتنو په سيمو کې زيات وخت تېر کړی، نو خپل تحقيقي اثر يې هم د " پټانز The Pathans" په نوم ليکلی او خپور کړی دی.

دغه کتاب چې د انګرېزانو يوسياسي پوځي شخصيت ليکلی، د خينو تېروتنو سره سره بيا هم د کتنې او ګروېږنې وړکتاب پېژندل شوی دی، د پښتنو په اړوند د اولاف کيرو کتاب د انګرېز (مونت ستوارت

الفنستون) د کتاب پیسې دویم کتاب دی. اولاف کیرو د کتاب په ځینو برخو کې دیو مورخ په توګه خبرې کوي او په ځینو ځایونو کې د یو پښتون پېژندونکي ماهر په څېر خپلو خبرو ته رنګ ورکړی دی. د پښتنو د ځواکمنۍ انځور په خپل قلم داسې کاږي.

" پښتانه د قبیلوی کامنویلت په شان دی چې د هر فاتح لپاره لښکر جوړوي او د خپلو متو په زور، نور امپراتورۍ ته رسوي، هر پردی چې د پاچاهۍ د نیولو او جوړولو هوس کړی دی، له همدغو پښتنو څخه یې ګټه اخیستی ده او یو شمېر له همدغو پښتنو څخه په پردۍ خاوره کې د پاچاهیو په جوړولو هم بریالي شوي دي، د ساري په توګه ځینو پښتنو په شمالي هندوستان کې کلونه کلونه پاچاهۍ کړې دي.

دهند په تاریخ کې درېواړو خلجیانو، لودیانو او سوریانو د ډیلي پر تخت باندې د پښتنو حاکمیت چلولی دی" (۱۲).

( اولاف کیرو د پښتنو وریانو او په وروسته درانې احمدشاه بابا واکمنۍ هېره کړې ده، په تېره بیا ستر احمدشاه بابا چې دخپلې پښتونخوا پر وړاندې د ډیلي تخت هېڅ ګڼلو،

د ډيلي تخت هېرومــــه چې رایاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا دغرو سرونه

همدغه انګرېز پوه په یو بل ځای د پښتنو د ځواکمنۍ په هکله وايي:

" د پښتنو حاکمیت ( واکمنۍ) له مانداو څخه ناربادادو ته نږدې ده بیا تر بنګال پورې ټولو د پښتنو تابعیت کاوه، د ډیلي ټول پښتانه واکمن غلجي وو، په عین وخت کې د لرې پښتونخوا پښتنو په تېره بیا د هسکو سیمو اوسېدونکو، د پردیو د واکمنیو پر ضد ترپایه پورې مقاومت کړی او د هېچا حاکمیت ته یې غاړه نه ده ایښې، ان په ۱۷ مه

ېږي کې يې د مغلو د زيات طاقت په وخت کې هم خپله ازادي خوندي ساتلې وه." (۱۳)

اوس پوښتنه دا پیداکېږي چې تر لوی احمدشاه دراني وروسته پښتنو ولې د خپلو سرلوړو نیکونو او پلرونو هغه ځواکمني هېره کړه او په لوی لاس يې پردۍ ژبه او پردي فرهنګ د هېواد په ډېره کیانو پښتنو مسلط کړل او پښتو ژبه يې د یوې محکومې او دویمې ژبې مقام ته ورسوله. په داسې حال کې چې همدغه پښتانه واکمن، د خپلې واکمنۍ د خوندي او دايمي ساتلو لپاره د پښتنو مېړانې او سربښندنې ته اړ وو، پښتانه چې د ډېرې لرغونې زمانې راهیسې نه یوازې په افغانستان بلکې په ټوله اسیا کې یو ځواکمن قوم پېژندل کېدل. پښتنو واکمنو يې دملي ژبې او پښتني فرهنګ هېڅ خیال ونه ساتلو او د ناپوهۍ او لنډفکرۍ په نتیجه کې يې د غیرپښتني ژبې او فرهنګ حاکمیت ته غاړه کېښوده او په دې ډول ځواکمن پښتانه د فرهنګ په ډګر کې بې ځواکه شول. ځکه چې د پښتون مفکر محمدګل خان مومند په وینا" دیوه قوم چې ژبه حاکمه نه وي، هغه قوم هم حاکم نه شي پېژندل کېدای".

ایرانیان چې د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو دښمنان پاتې شوي دي او مورخینو يې د افغانانو په ضد د خپلو تاریخونو پاڼې توري کړي دي، کله کله په قهرجنه لهجه په ځینو حقایقو اعتراف کوي او د پښتنو د ملي غرور ستاینه کوي. وګورئ د ایراني څېړونکي دې کرښو ته:

" پشتون ها غرورعجیبی نسبت به نژاد شان دارند و از اینکه پشتون هستند برخود می بالند." (۱۴)

دا خبره د هر افغان لپاره د زیاتې پاملرنې وړ ده چې ایران په دې حقیقت ښه پوهېږي چې پښتانه په خپل توکم، خپلې ژبې او خپلې پښتونولۍ ویاړي او د غرور او سرلوړۍ احساس کوي، خو په زړه

پښتانه) واکمن په دې حقیقت باندې د پوهېدلو څخه عاجز پاتې شوي او خپله ژبه ، فرهنګ یې له یاده ویستلی دی او له یامه غورځولی دی.

ما وړاندې دې ټکي ته لنډه اشاره وکړه چې ایرانیان د پښتنو سره په دښمنۍ او مخالفت کې اوږد تاریخ لري، نن ورځ چې ملایان او اخوندان په ایران حکومت چلوي او د شاهي کورنیو دوره تېره شوې ده، هم د ایران د حکومت له خوا د پښتنو سره د عناد او دښمنۍ غر پورته کوي دلته به د ایران د اخوندي رژیم د بهرنیو چارو د وزارت له خوا د خپور شوي کتاب "افغانستان" څخه یو څو کرښې راواخلو ترڅو ددې کتاب لوستونکو ته د افغانانو او د پښتو ژبې په اړه د ایرانیانو د فکر او اند څرنګوالی تر یوې اندازې پورې څرګند شوې وي:

" پشتو، که زبان قوم پشتون میباشد از سال ۱۹۲۶م توسط دولت به عنوان رسمی در نظر گرفته شد. این اقدام خشم قبایل دیگر راکه اکثر فارسی زبان هستند برانگیخت، همه مردم افغانستان زبان فارسی رامی دانند واغلب به ان تکلم می کنند، تاقبل از تصویب قانون اساسی سال ۱۹۲۶م مبنی بر رسمی شدن زبان پشتو، پشتون ها زبان فارسی را می دانسته و امروز نیز میدانند، پشتو یکی از گویش های زبان فارسی است و ریشه های لغات ان نیز فارسی میباشد. از این جهت زبان نیز یکی دیگر از منابع اختلاف و مشاجره در افغانستان بوده است زیرا قبایل دیگر ما ضربه پذیرش زبان پشتو نبوده اند". (۱۴)

دغه ډول لیکنې او دفکر انداز په حقیقت کې د ایران د فرهنګي ښکیلاك څخه له دفاع نه پرته بله مانا او مفهوم نه شي لرلی. په غلطه لار روان ایرانیان د خپل غلط نظر پر وړاندې کولو سره په تاریخي او علمي مسایلو کې د خپلې ناپوهۍ ثبوت وړاندې کوي. که چېرته پښتنو واکمنو خان او خپل اصل او نسب پېژندلی وای او په پښتنو

باندې یې د فرهنګي ښکیلاك د مسلط کېدو مخه نیولې وای، نو ایراني مورخانو او څېړونکو به دغه ډول ادعاګانې چې کوم علمي او تاریخي بنسټ نه لري نه وای کړي او په افغانانو کې د بې اتفاقۍ راپیدا کېدلو لارې به هم په بشپړ ډول تړلې پاتې وای.

د "افغانستان" نومي کتاب ایراني لیکوال د ایراني فرهنګ څخه د دفاع لپاره وایي چې پښتانه پخوا هم په فارسي پوهېدل او نن هم پوهېږي. پښتو د ایرانۍ ژبې یوه لهجه ده او ... د افغانستان نورقومونه (مقصد د هېواد لږکیان دي) د پښتو ژبې منلو ته چمتو نه وو". (۱۵) دا څه ډول منطق او څه ډول پوهه کېدلی شي، چې ډېره کیان یانې پښتانه دې د لږکیانو ژبه زده کړي او پر دې ژبه خبرې وکړي، لیکن لږه کیان یانې فارسي ژبې دې چمتو نه اوسي چې د ډېره کیانو ژبه یانې پښتو دې زده کړي او هغه دې ومني؟؟.

ولې دی د افغانستان څواکمن ولس (پښتانه) اړ کړی شي چې له خپلې ملي ژبې تېر شي او پردۍ ژبې دې په دوی حاکمه او پردی فرهنګ دې وروباندې مسلط اوسي.

هېواد دې یې افغانستان وي، خو ژبه دې یې غیرافغاني وي. واکمن دې پښتانه وي لاکن ژبه دې یې پښتو نه وي. حکومت دې د پښتنو وي او د حکومت چارچلونې ژبې دې هغه وي چې د ایراني حکومتونو د چارچلونې ژبه ده او د فرهنګي ښکیلاك اجنټان دې دغه دعوه وکړي چې د افغانستان وړوکي قومونه د افغاني ژبې (پښتو) منلو ته حاضر نه دي او دا په افغانستان کې د قومونو ترمنځه د اختلاف او شخړو منبع ده.

پر ۱۹۲۶م کال چې کله د افغانستان پښتون پاچا اعلیحضرت امان الله خان غازي د پښتو ژبې د رسمي کېدلو او تعمیم په خاطر کوم فرمان جاري او قانوني بڼه یې ورته ورکړه، نو د نوموړي قانوني حرکت

سره یوازې هغو کسانو د مخالفت سر وخوراوه چې د ایراني ښکیلاك په خدمت کې وو. دوی په دوه ډلو وېشل شوي وو، یوه ډله هغه شعیه ګان او قزلباشان وو چې نیکونه یې د نادرافشار سره افغانستان ته راغلي او زیات یې په کندهار، هرات، مزارشریف او کابل ښار کې مېشته شوي او د افغاني تابعیت پاڼه ورکړل شوې وه. دویمه هغه ډله کسان وو چې په ختنه غیرپښتانه وو لیکن افغاني هویت یې درلود. دوی ټول د ایراني واکمنو سره یو ځای د پښتنو د واکمنۍ او ځواکمنۍ څخه په وېره کې وو او په ایران باندې د پښتنو د پاچاهۍ خاطرې یې لا په ذهن کې هغه شان ژوندۍ او تازه ساتلې وې.

د اعلیحضرت امان الله خان غازي په دربار کې ایران لوی سفیر او فوق العاده استازی (مهدي فرخ) هغه پښتو ضد شخصیت و چې د افغانانوسره یې د خپلې ژورې کینې ثبوت په خپل تاریخي کتاب" تاریخ سیاسي افغانستان " کې ورکړی دی او د قلم په ژبه یې د افغان پاچا غازي امان الله خان دومره سپکاوی کړی دی چې د مورخ فرخ داخلاقي انحطاط انځور په کې له ورایه څرګند دی.

ده په خپله د پښتنو یا افغانانو په ضد ناروا لیکنې کړي او د پښتو ژبې دتعمیم او رسمي کېدلو د مخالفو ډلو سره یې په پټه همکاري درلوده او هم یې د افغاني پاچاهانو ( امیرحبیب الله خان او امیرامان الله خان) د دربار د تاریخ لیکونکي یا مورخ ( ملافیض محمدکاتب هزاره) سره چې غیر پښتون و نږدې اړیکي درلودلې او کاتب هم خپل یو کتاب (فیضی از فیوضات) چې زیاته برخه یې د پښتنوضد وه نوموړي ایراني مورخ (مهدي فرخ) ته ورکړ چې له افغانستان نه یې وباسي او په ایران کې یې چاپ او خپور کړي.

ایراني سفیر هڅه درلوده چې په افغانستان کې د ایران د فرهنګي ښکیلاك د پلوي ډلو سره خپلې اړیکې ټینګې وساتي او ان چې د دربار

غیر پښتون مورخ (فیض محمد کاتب هزاره) هم د خپل کنترول لـه ساحې څخه بیرون ونه ساتي او نوموړي ته سلا مشوره ورکړي او لـه خولې یې خبرې راوباسي. دی یو ځای په خپل کتاب کې لیکي:

" درموقع که نگارنده در کابل اقامه داشتم ملا فیض محمد کاتب هزاره مورخ وصاحب سراج التواریخ شخصاً برای من اقرار واعتراف نمـود کـه سراج التواریخ فی المثل ناسخ التواریخ است که مرحوم لسان الملک بـرای تملق از قاجاریه نوشته ومن نیز همان رویه را مجبور بودم ومخصوصاً نسبت به دولت ایران عمداً بیشتر حقایق رامخفی میداشتم زیرا به خاطر شعیه بودن مورد خصومت و خطر واقع می شدم. "(١٦)

ایراني مهدي فرخ هـڅه کړې ده چې دې ټکي ته د خلکو پـام راوګرځوي چې ګویا سراج التواریخ فقط د غوړه مالۍ او تملق له مخې لیکل شوی هغه تاریخ دی چې په افغانستان کې شعیه مورخ فیض محمد کاتب هزاره لیکلی دی. ځکه خو یې مطالب پوره د باور وړ نـه پېژندل کېږي. دویمه خبره په کې داده چې ایراني سفیر غواړي دغـه ټکي غټ کړي چې د افغاني واکمنو د دربارونو پېښلیك لیکونکي غیر پښتانه او د شعیه مذهب درلودونکي و، نو ځنګه یې کولای شول چې د سني پاچاهانو او د هغوی د ولس په هکله سم او پـه صداقت ولاړ قضاوت وکړي او د پېښو پـه لیکلو او ثبتولو کې خپلـه بې طرفـي وساتي.

دا خبره تریـوه حده پورې حقیقت ته نږدې ښکاري چې یـو شعیه مذهبه غیر پښتون مورخ به د پښتنـو د ځواکمنۍ په اړه د پېښو سم او په رښتینولۍ ولاړ انځور د قلم په ځوکه ونه شي ویستلای او یا بـه یې ویستل ونه غواړي، په تېره بیا چې دغه مورخ د ایرانیت تر اغېزې

PROPERTY OF ACKU 10116

لاندې وي او د همدې اغېز له مخې يې د پښتنو خلاف کتابونه هم ليکلي دي.
د پښتنو د څواکمنۍ د تخريبولو او کمزورۍ کولو لپاره ايراني ليکوالو له ډېر وخت راهيسې قلم چلولی او له غرض او دښمنۍ نه ډک کتابونه يې ليکلي او خپاره کړي دي چې يوه بېلګه يې د لته ددې کتاب لوستونکو ته وړاندې کوو. يو ايرانی محقق ليکي:
" پښتانه په افغانستان کې د نورو ټولو قومونو لکه تاجك، هزاره، قزلباش، ايماق، مغلو، ازبك، ترکمن، قرقيز، بلوچ، نورستاني، براهويي) څخه په شمېره کې زيات دي او زياته فيصدي يې جوړوي په دې ډول:
پښتانه ۶،۵ مليونه او همدومره په پاکستان کې.
تاجك ۳،۵ مليونه هزاره د ۸۷۰،۰۰۰ په شاوخوا کې، ازبك د يو مليون په حدودو کې د افغانستان په شمال کې ۱۰۰،۰۰۰ په حدودو کې او نور قومونه له دې نه هم واړه دي." (۱۸)
دغه ډول سرشمېرنه که له يوې خوا د پښتنو له نظره سمه نه ده، له بلې خوا يو شمېر هزاره څېړونکو هم هغه د تاجکو په ګټه بللې ده. د ايران د قم څخه خپرېدونکې مجلې (سراج) ۱۷ ګڼه کې د تاجکو شمېر لږ او د هزاره وو زيات ليکل شوی يانې ايراني ليکوال د تاجکو شمېره له اصل نه ډېره ښودلې ده، د بهرنۍ نړۍ په هېوادونو کې لکه پخوانی شوروي اتحاد، امريکا، انګلستان، المان، سويس، ناروې، ډنمارك او نورو کې چې له اتنيکي پلوه سر شمېرنې خپرې شوي د افغانستان د ټول نفوس ۷۰-۷۱ په سلو کې پښتانه ښودلې شوي، چې د ټولو راوړل ددې کتاب په پاڼو کې ډېر ګران برېښي.
د افغانستان لپاره د واك فاونډيشن د بيا ودانولو، انکشاف او مخدره موادو د کنټرول او څېړنيز انستيټيوټ له خوا نه چې د شپږو

کالو هخو او زیار په نتیجه کې کومه ورو ستی سرشمېرنه د کتاب په بڼه د The Ethnic Composition of Afghanistan په نوم چاپ او خپره شوې ده او د علمي میتودولوژي پر اساس په کې د ژبې او ختې ترمنځ توپیر هم څرګند شوی. په هغه کې پښتانه د ختې پر بنسټ په سلو کې ۷۳-۶۲ راغلي او هزاره د ختې په بنیاد په سلو کې صفر او او د ژبې پر اساس صفر ښودلي شوي دي، البته نور قومونه په ډېره ټیټه شمېره کې دي چې دلیکلو اړتیا یې نه لیدل کېږي. (۱۹)

په دې ډول د نړیوالې سر شمېرنې له مخې د غه حقیقت ثابت ښکاري چې پښتانه په افغانستان کې یوځواکمن قوم دي او پښتو ژبه د همدغه ځواکمن طاقت مورنی. ملي ژبه ده چې د هېواد ټول واکمن پر همدې قوم او ځواك پورې تړاو لري او د پېړیو په اوږدو کې لکه مخالفان چې ګوت خنډنه کوي همدوی واکمن پاتې شوي دي، چې دا په خپله ددې ولس د ځواکمنۍ پوخ دلیل اوثبوت ګڼل کېږي.

په اسیا کې پرتو هېوادونو په تېره بیا ګاونډیو ملکونو د غه وس نه دی لرلی. چې د جګړې له لارې په پښتنو سوبمن شي چې د اروپا ستر طاقت برتانیې هم دغه بری نه دی ترلاسه کړی، لیکن ایران وکړای شول د فرهنګي ښکیلاك په وسیله د پښتون قوم ځواکمنۍ او واکمنۍ ته تر یوه حده زیان ورسوي او د پښتو ژبې پر ځای فارسي ژبه د چارچلونې او پوهنیزو زده کړو ژبه وګرځوي او دغه ښکیلاك هم په خپله د پښتنو واکمنو په لاس د بري پولې ته ورسوي.

خو له دې تریخ حقیقت سره سره ایراني مولفین او مورخین په ډېرې سپین سترګۍ په افغانستان کې واړه قومونه د پښتون تر استعمار لاندې بولي او په ناسمو تبلیغاتو نړیوال ذهنیت دوکه کوي او هم د افغانستان په ورونو قومونو کې دمخالفت او بې اتفاقۍ تخم شیندي. همدغو ایراني لیکوالو د خپل ناروغ ذهن او ناسالم تفکر له

مخې په خپلو ليکلو اثارو کې د "پشتونيز" مردوده اصطلاح رواج کړه او د هېواد په د ننه کې د پښتو ضد څېړونکو لکه ميرمحمدصديق فرهنګ او ځينو هزاره ليکوالو عين دغه کليمه په خپلو ليکنو کې وکاروله او د ايران د فرهنګي ښکېلاك د اجنټانو په جامه کې راښکاره شول.

ايران چې تل يې دافغاني ناسيونالېزم او اوسيني پښتنو ته ځخه په خپله ګاونډ کې د وېرې احساس کړی دی، هېڅکله نه دی راضي شوی، چې په خپل ځنګ کې دې د پښتنو ځواکمنۍ او واکمنۍ ووينې، بلکې دغه هڅه يې کړې ده، چې پښتانه د فرهنګي ښکېلاك له لارې کمزوري او پښتو ژبه د تل لپاره د فارسي ژبې تر حاکميت لاندې پاتې وي او پښتانه د خپلې ژبې پرځای دغه ژبه خپله کړي. له دې حقيقت نه انکار نه شي کېدی چې پښتنو واکمنو په خپله دغه لاره اواره کړه چې د فرهنګي ښکېلاك ارابه په اسانۍ سره په هغه تېره شي.

د ستراحمدشاه بابا پر ګدۍ ناست اعليحضرت تيمورشاه دراني مخکينی واکمن و چې د ايران د فرهنګي ښکېلاك د هرکلي لپاره ووت او پښتو ژبې او پښتني فرهنګ ته يې شا ور واړوله. پوه انګرېز اولاف کيرو ددې مطلب تفصيل داسې ليکي:

"تيمورشاه دراني د احمدشاه بابا غوره زوی و... کله چې د هرات والي وټاکل شو نو د هرات د خلکو رسمي ژبه فارسي وه.. د فارسي ژبې په پوهېدلو سره تيمورشاه خپل ټول کړه وړه د ايرانيانو په شان کړل، دده کلتور هم د پښتنو له کلتور سره توپير درلود.. ده په خپل دربار کې هغه کسان دمنشيانو او مامورانو په توګه مقرر کړي وو چې په فارسي پوهېدل ياني فارسي يې ژبه وه او فارسي يې ليك کاوه."(۲۰)

کوم بنسټ چې د ایراني فرهنګ لپاره تیمورشاه دراني دپاچاهۍ نه مخکې کېښود. د هغه تر مړینې وروسته هم په خپل ځای پاتې شو او ټولو پښتنو واکمنو لړ یا ډېر د هغه پیروي وکړه. د هغوی له خوا ټاکل شوي مامورین چې ډېره کیان ایراني قزلباشان او شعیه ګان وو پښتانه په دې بهانه په اداري، مالي چارو او نورو مهمو حکومتي ادارو کې نه منل چې فارسي ژبه یې نه وه زده، هغوی پښتنو ته ښوونه کوله چې باید خامخا فارسي ژبه زده کړي او کـه نـه په ماموریت نه منل کېږي. لیکن دغسې شرط له اول نه تر اخره یانې د تیمورشاه دراني له وخت نه تر محمدظاهر شاه او محمد داود خان پورې په لړکیو فارسي ژبو باندې کېښبودل شوه، چې باید د ډېره کیانو ژبه چې پښتو ده زده کړي او که نه ددولت په ماموریت کې نه منل کېږي.

هغه ښکیلاکي حرکت چې د پښتنو د ځواکمنۍ د کمزوري کولو په مقصد پیل شوی و، د هر پښتون واکمن په دوران کې په خپل حال پاتې شو. بلکې نوي بعدونه ورته ورکړی شول، دساري په توګه امیرعبدالرحمن خان چې ځان پښتون پېژني عقیده پیدا کوي چې (فارسي یوه علمي ژبه ده) او (افغاني ژبه یانې پښتو د افغانستان لرغونې ژبه ده) او د فارسي ژبې د علمیت خبره ایرانیانو د پښتنو واکمنو په ذهن کې کېنولې وه، امیرعبدالرحمن خان په خپل ژوند لیک (تاج التواریخ) کې خپله عقیده داسې څرګندوي.

" السنه مفصله ذیل را میتوانم تکلم نمایم وخطوط اتـها را بخوانیم: افغانی که زبان قدیم افغانستان است، فارسی که زبان علمی است وروسی وعربی وهندوستانی" (۲۱).

دا چې امیر عبدالرحمن خان افغاني ژبه یانې پښتو د افغانستان لرغونې ژبه بولي، د نوموړي په پوهه دلالت کوي خو یوازې فارسي ژبې

ته د علمي ژبې نوم ورکول کوم منطقي بنسټ نه لري. که چېرته پښتو ژبې ته په يو علمي ډګر کې د ازمېښت تېرولو موقع ورکړ شوې واى او دهغه ازمېښت څخه بريالى نه وه راوتلې نو هغه وخت د پښتو ژبې په اړه قضاوت کېدلى شو.

دا خبره يو حقيقت دى چې پښتو ژبه د افغانستان ډېره لرغونې ژبه ده او پښتانه چې ددې ژبې ويونکي ګڼل کېږي د اسيا په پېښليك کې يو پېژندل شوى لرغونى قوم دى. دغه ځواکمن قوم د تاريخ د پلار هيرودت په وينا د نړۍ د سترو فاتحانو سره خونړۍ جګړې کړي او د هېڅ بهرني ځواك حاكميت ته يې غاړه نه ده ايښې.

ډنماركي يوه (پروفيسرارتوكريستن سن) په (ايران در زمان سامانيان) كې ليكي، چې په ايران كې د سامانيانو د واكمنۍ په وخت كې د ايران ختيځ پلو (افغاني ژبه) ويل كېدله" (۲۲) د هېواد مورخ غبار وايي چې " د افغانستان خلكو شپږ. كاله د ايران د پاچا كوروش پر وړاندې وجنګېدل او د همدې جګړو په جريان كې په **۵۳۶** له ميلاد نه مخكې كوروش ووژل شو."(۲۳)

د پښتنو د ځواكمنۍ په هكله پوهانو اوتاريخليكونكو دغه ډول ډېرې څېړنې او ګروېږنې كړي دي، چې په ټولو كې پښتانه ځواكمن خلك ښودل شوي او دوى د پېړيو په اوږدو كې كله هم خپله ژبه نه هېره كړې. ډېر څېړونكي په دې عقيده دي چې پښتو ژبه د پښتنو د بقا او پايښت يوه غټه وسيله پېژندل كېږي او ددوى دژوند فلسفه په پښتو او پښتونولۍ كې پرته ده.

پښتو ژبه د پښتنو ديووالي او اتفاق غټه ټېنه او عمده وسيله ده. پښتو ژبه د پښتنو د تاريخي او سياسي هويت د پېژندلو ډېر مهم عنصر دى. زما يو ملګرى ډاكټر (حيد) د افريقا په نايرو كې د ملګرو

ملتونو د اداري (يونسيف) چې د ماشومانو لپاره د مرستو رسولو اداره ده دنده سرته رسوله: يوه ورځ يې ماته كيسه كوله چې:

مازيگر و. د خپلې مېرمنې او دوه بچو سره د څه اړتياو پېرودلو لپاره بازار ته وتلي وو. په يو دكان كې مو څه شيان واخيستل د هټۍ خاوند يو زلمى ته د عبدالله په نوم غږ وكړ چې زموږ شيان په سمه طريقه وتړي.

ما چې د عبدالله نوم واورېد نو له ځان سره مې اټكل وكړ چې ښايي دغه سړى كوم عرب، ايراني يا افغان اوسي. نوموړي خپل كار پاى ته ورساوه په دې وخت كې ما خپلې مېرمنې ته په كرار اواز ووېل

دا سړى خو مسلمان دى.

هغه چې زموږ خبره واورېده نو مخ يې راواړوه او پوښتنه يې وكړه:

ـ تاسو خو راته افغانان ښكاره شوئ.

موږ ورته ووېل:

ـ هو موږ د افغانستان يو.

ـ هغه بيا پوښتنه وكړه:

ـ پښتانه يئ؟

ما يې خبره پرېكړه او په پښتو مې ورسره خبرې وكړې، د هغه په سترگو كې اوښكې راپيدا شوې او ويې ويل:

ـ خدايه شكر دى چې د پركلونه وروسته مې خپل پښتون ورور وكوت او بيا يې په دواړو لاسونو راسره روغبړ وكړ او ټينگ شو چې چاى راته راوړي. موږ په خندا ورنه رخصت واخيست او د خپل كور پته مې هم وركړه، چې د رخصتۍ په ورځ زموږ كورته راشي. په ايران كې استوگن يو هزاره محقق د پښتنو او پښتو ژبې په هكله ديوې تاريخي څېړنې په ترڅ كې ليكي:

" زبان پشتو همواره برای پشتونها نشانه ونمایه وحدت خلل ناپذیر قومی، فرهنگي ویکی از میانی اصل و برجسته هویت سیاسی بوده که انهار ار درمقابل سایر اقوام متمایز و مقتدر جلوه گر ساخته است."(۲۴).

د پښتنو د خواکمنۍ په اړه زیاتو تاریخپوهانو او څېړونکو دې حقیقت ته زیاته ګوته نیولې ده، چې د افغانستان ټول واکمن له توکمیز پلوه پښتانه وو او پښتنو له انګرېزانو سره په درېیو مهمو جګړو کې مهم او د پام وړ رول لوبولی دی، د برتانیې څخه د سیاسي بشپړې خپلواکۍ لاسته راوړلو امتیاز هم د پښتنو سره دې او په هندوستان او ایران باندې هم پښتنو واکمني چلولې ده.

د شوروي اتحاد پر وړاندې د جګړې په دوران کې ترټولو زیاتې پیاوړې د مقاومت ډلې پښتنو جوړه کړې وه اوپه دې جهادي قوماندانانو کې د پښتنو شمېره له غیر پښتنو څخه زیاته وه.

شورویانو هم په افغانستان یوازې د پښتنو سیمې زیاتې وځپلې او د وژل شویو پښتنو شمېره له تاجکو، هزاره و او ازبکو نه څوچنده زیاته وه، چې دغه حقیقت د امریکایي لیکوال او محقق ښاغلي (بروس ریچارډسن) په کتاب چې په دري او پښتو ژبو ژباړل شوی دی ښه څرګند دی. دی وایي چې شورویانو د جګړې په دوران کې د پښتنو پر ضد د قومي پاکونې او یو مخیزې تباهۍ سیاست نه کار اخیست او د همدې پالیسۍ له مخې یې د پښتنوله سیمو سره ډېر بې رحمانه چلند وکړ، په داسې حال کې چې دغیرپښتنو سیمې له دغه ډول تباهۍ نه خوندي پاتې شوې وې. د پښتنو د خواکمنۍ په اړه تاریخي څېړنې او ګروېږنې د نن یا پرون خبره نه ده، د یونان د مقدوني سکندر او د ایران د ګشتاسپ سره د پښتنو ډغرې د بهرنیو او کورنیو تاریخلیکونکو

لپاره ډېره د پام وړ موضوع پېژندل شوې ده او زياتې پاڼې يې پرې ډکې کړې دي.

په وروستيو سلو کلونو کې هم دغه موضوع د اسيا د نيمې وچې د پښتنليك ليکونکو لپاره د يوه ځانګړي ارزښت درلودونکې پاتې شوې، ځکه چې د اکتوبر د مارکسيستي انقلاب (۱۹۱۷م) څخه وروسته د اسيا هېوادونه د يو نوي سياسي، اقتصادي بهير له څپو سره مخامخ او بنسټيز بدلونونه په کې راغلل. د منځنۍ اسيا ګڼ شمېر هېوادونه د سوسيال امپرياليزم ښامار له ستونې تېر کړل او له دودېزې ازادۍ څخه بې برخې شول، خو يوازې د پښتنو هېواد دکمونيزم له خطر نه بچ پاتې شو او پښتنو خپله سياسي ازادي او د ځمکې بشپړتيا خوندي وساتله، چې دا هم د پښتنو د ځواکمنۍ يو بل ثبوت و.

د پښتنو د ځواکمنۍ په اړه د ختيځ لوی فيلسوف او پېژندل شوې سياسي شخصيت علامه سيدجمال الدين افغان هم خپله عقيده څرګنده کړې او ليکلي يې دي:

" فارسی زبانان پشتون را بنام افغان وهنديان بنام پتان ياد می کنند، واين هر سه نام به يک قوم اطلاق ميشود که پشتو زبان ايشان است، عنصر غالب ملت افغان از روی تعداد قوم پشتون است.

جذبه هجوم و اقدام، غريزه انتقام وشجاعت وحماست در محاربات و تهور درمخاصمات و منازعات که به کوچکترسبب ها به وجود می ارند، خاصه جبلی و طبعی شان ميباشد. هيکل های با صلابت ايشان که با چين های جبين توام گردند قوای جسمانی و شوکت حماسی انها را ترجمانی مينمايد. از صدها سال باين سو چون در طبايع انها دلاوری وميل طبيعی به سوی محاربات جاگرفته است لهذا عموم رجال افغان همچون نظام تربيت يافته عالم طبيعتا تربية عسکری را فراگرفته اند". (۲۵)

دغه نومیالی شخصیت وایي چې پښتانه فطرتاً عسکر دي. ددوی د وجود جوړښت، د ژوند طریقه، ژبه او څېره ددوی په څواکمنۍ دلالت کوي او په همغو ژبو روانه وه، د فرهنګي ښکیلاك په بڼه په خلکو نه وه مسلط شوي، خو په افغانستان کې د ټولې نړۍ برخلاف د ډېره کیانو او د هېواد څواکمن توکم ژبه چې د افغانستان په جوړښت کې یې هم لومړنی رول لرلی و، دیوې محکومې او دویمې ژبې مقام او حیثیت درلودلی او د حکومتونو د چارچلونې ژبه د لږکیانو ژبه پاتې شوې ده.

هرکله چې حکومت تکل کړی او د ډېره کیانو د ژبې (پښتو) د تعمیم او رسمي کېدلو لپاره یې کوم فرمان جاري کړی، نو مخالفانو د هېواد په دننه کې د حکومت دغه کړنه فاشیستي ګڼلې او د هغه مخنیوي لپاره یې هڅې روانې کړې دي. یا که چېرته د مفکر پښتون وزیرګل محمدخان مومند بابا غوندې کوم نومیالي شخصیت د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو غوښتنه کړې ده، نو د پښتنو مخالفانو په هغه ستر شخصیت باندې د فاشیست تور لګولی دی، چې پخوانی لیکوال او مورخ سیدقاسم رښتیا او ورور یې میرمحمد صدیق فرهنګ د هغوی په سر کې ولاړ وو. په ذهني او شعوري طور ړانده پښتانه واکمن د مخالفانو په ټولو ناروا او غیرعادلانه کړنو نه یوازې سترګې پټولې، بلکې هغوی ته یې ډول ډول امتیازات هم ورکول.

سیدقاسم رښتیا چې د نیمې پېړۍ نه زیات د افغانستان مطبوعاتي سیاست په خپل لاس کې اخیستی و او د وزارتونو او سفارتونو څوکۍ ورته ورکړل شوې وې، تر مړینې لږ مخکې خپل سیاسي خاطرات خپاره کړل، چې د خپرېدلو لګښت یې دپښتون دښمنې (امید) د جریدې مدیر پر غاړه اخیستې وه په خپل کتاب "خاطرات سیاسي" کې ددې خبرې ذکر راوړی چې:

"لپاره ددې چې ما په ځان باندې د پښتون دښمنۍ تورونه رد کړي اوسي نو پښتو ژبه مې زده کړه او د ځان لپاره مې هم پښتو تخلص رښتیا غوره کړ. په همدې ډول پښتون صدراعظم محمد موسی شفیق چې خپله هم د پښتو ژبې یو تکړه لیکوال او شاعر و د میر محمدصدیق فرهنګ سره ددوستۍ له مخې نوموړي ته په پراګ کې د افغانستان د لوی سفارت څوکۍ ورکړه. ارواښاد شفیق دلوی پښتون محمدګل خان مومند ډېر درناوی کاوه، لیکن فرهنګ په خپل کتاب (افغانستان در پنج قرن اخیر) کې د پښتنو د ملي شخصیت محمدګل بابا مومند په هکله سپك نظر کړی دی."

فرهنګ په همدې کتاب کې د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدو په لاره کې د وزیر محمدګل خان مومند مبارزه یو فاشیستي عمل ګڼلی، په داسې حال کې چې د استاد خلیل الله خان خلیل غوندې یې د غل بچه سقاو لپاره په ادبي پیرایه کې د یو نوي شخصیت جامه ګنډلې او د هغه په تن کړې یې ده. (په دې هکله نور تفصیل به وروسته راشي). په دې ډول افغانستان د نړۍ یو مثالي هېواد و، چې واکمنان او ډېره کیان یې پښتانه خو ژبه یې غیرپښتو وه او لږه کیانو چې غیرپښتانه وو د خپلې ژبې په زور په هېواد کې په اداري، مالي، اقتصادي، پوهنیزو او ټولنیزو چارو مسلط او په پښتو باندې دیو فرهنګي ښکیلاك وسیله شوي وو.

همدغو لږکیانو له پښتنو او پښتو ژبې سره دمخالفت په مقصد مضبوط مورچلونه جوړ کړي وو او هغه مورچلونه د مطبوعاتو، تاریخلیکنې او ښوونې او روزنې چارې وې چې غیرپښتنو یې اداره په لاس درلوده.

دوی اجازه نه ورکوله چې په ورځپاڼو، مجلو، راډیو او نورو وسایلو کې د پښتو ژبې د حق غوښتنې غږ پورته شي او یا د غیرپښتنو

له خوا د لیکل شویو غلطو تاریخي مطلبونو تردید وکړی شي. د عامه اطلاعاتو د وسایلو دکنترول، څارنې او ادارې صلاحیت دغیر پښتنو لکه ( استاد صلاح الدین سلجوقي، سیدقاسم رښتیا، استادخلیل الله خلیلي، محمدعثمان صدقي) او داسې نورو په واك کې ورکړل شوي وو، دوی چې په پښتو ژبه نه پوهېدل د پښتنو واکمنو سلاکاران او هم د عامه اطلاعاتو د وسایلو او نشراتي پالیسۍ جوړونکي او اجراکوونکي وو. دوی په ختیه پښتنو واکمنو ته دغه مشوره ورکوله، چې باید د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدو خبره په مطبوعاتو، خپرونو او نورو وسایلو کې منځته رانه شي، ځکه دغه کار ستاسو د واکمنۍ په ګټه نه دی. ( په دې اړوند نور حقایق په خپل ځای کې راځي) او نه دې تاریخي حقایق وویل شي، په دې باره کې زه ( ددې کتاب لیکوال) دیوې پېښې شاهد پاتې شوی یم، چې یادونه یې د پورتنۍ موضوع په اړه ډېر ضروري بولم، چې د کتاب لوستونکو ته د مطلب ټکي پوره روښانه شوي وي.

پر ۱۳۳۸ل کال زه د کابل راډیو (هغه وخت لا د افغانستان راډیو) نوم نه و ایښودل شوی ( د پښتون ژغ) د مجلې چلوونکی وم. د یوتاریخي مضمون په ترخ کې مې د علامه سیدجمال الدین افغان د کتاب (تتمته البیان فی التاریخ لافغان) نه دغه څو کرښې اقتباس کړې وې:

" در وقت محاربه افغان و ایران، د راصفهان یک نفر سپاهی افغان را ضابطی دید که ازخط اتش رجعت قهقرایی می نماید، ضابط حکم به اعدامش داد، سپاهی مذبور فوری دست راست خود را از استین بیرون کرد نشان داد که دستم در محاربه قطع شده ونه میتوانم اسلحه را استعمال نمایم.

ضابط از اعدام صرف نظر کرد اما به عقب رفتن را نـــــه پســـندید و گفت:

_ ای نامرد! پس بگرد و به جنگ ادامه بده، اگر دست راستت بریـده شده، دست چپ داري، اگر ان هم قطع شد پس دندان داری گوشت دشمن را به دندان بکن و تا نفس واپسین با دشمن مصـــــروف کـــار زار وپیکـــار باش". (۲٦)

د پښتون ژغ د چاپ کېدلو په وخت کې ددولتـي چاپخونې رئیس اروابښاد محمد ابراهیم کندهـاري مـا تـه پـه ټلیفـون کـې وویـل، چـې دمجلې نـه بـاید هغـه مضمون وویسـتل شـي، چـې د ایرانیـانو سـره د افغانانو د جګړې حال په کې لیکل شوی باید یو بـل مضمون د هغـه پر ځای واچول شي.

ما دخدای بښلي کندهاري نه و پوښتل، چې پوهېدلی شم دغه امر چا کړی دی؟

هغوی وویل د مطبوعاتو د مستقل ریاست د قلـم مخصـوص څخـه ټلیفون شوی او وایي چې دغـه مضمون د افغانسـتان او ایران سیاسـي اړیکو ته زیـان رسـوي، مـا وویـل دا خـو د افغانـانو د تـاریخ متـن دی او ایراني مطبوعات به همدا اوس د پښتنو پر ضد کرغېړن مطالب خپروي او پښتانه بې فرهنګه بولي.

لنډه دا چې هغه مضمون په همغـو یـو څو کرښو لـه هغـه مجلې نـه وویستل شو او اجازه رانه کړل شوه چې دعلامه سیدجمال الدیـن افغـان په قلم لیکل شوی مطلب په پښتون ژغ کې خپور شي.

که له یوې خوا د افغانستان په تاریخ کې د لیکونکي او مـورخ لـه پلوه د پښتنو په تـاریخي حماسو سترګې پټې شوي. نـو لـه بلې خـوا د پښتـو ژبـې او پښتنـو د حـق ژونـد سـاتلو پـه اړه پورتـه شـوی غـږ یـو

فاشیستي عمل ګڼل شوی او د هغه سره مخالفت څرګند شوی دی او ایراني څېړونکو او هزاره محققینو ورته د پښتنونیزم نوم ورکړی دی. چې په همدې کتاب کې یې بېلګې ښودل شوي دي.

دا په حقیقت کې د لږه کیانو له خوا په ډېره کیانو باندې چې پښتانه دي دحاکمیت چلولو یو ثبوت دی، په دې مانا چې د لږه کیانو ژبه په ډېره کیانو حاکمه ده او د سیاست په نوم تاریخي حقایق هم نه شي خپرېدلی.

میرمحمدصدیق ځان ته دا حق ورکړی چې د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو په لاره کې مبارزه او د حکومت فرمان فاشیستي عمل وبولي، لیکن پښتانه له دې حق نه بې برخې ساتل شوي وو چې دخپل ملي تاریخ یوه پاڼه خپره کړي او په خپلو حماسو وویاړي. دا په یو خپلواك هېواد افغانستان کې دمېشته اکثریت لپاره ډېره دردوونکې خبره ده، چې دتاریخ څېرکې دې ددوی د ځواکمنی او قربانۍ داستانونه وي خو دوی دې د خپلې ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو د حق غوښتنه ونه کړای شي او یا دې ورباندې د فاشیستي تورونه ولګول شي. په افغانستان کې د فرهنګي ښکیلاك رېښې ژورې ځغلي لیکن پښتانه دې ددې ښکیلاك سره د مقابلې حق ونه لري او د هېواد ملي ژبه دې کله په یوه او کله په بله بهانه هغه شان دحکومتي چارچلونې له واك څخه بې برخې وساتل شي.

# د افغانستان په پېښليك کې د پښتنو ونډه

تر دې سرليك لاندې بايد يو پنډ څېړنيز کتاب وليکل شي، خو زه د اوسني کتاب له ټاکلي چوکاټ سره سم په دې هکله ډېرې لنډې خبرې کوم. چې دکتاب د پاڼو د زياتېدلو مخه ونيول شي او په عين حال کې د پښتنو دحق غوښتنې اوازونه وېرېدونکي د نړۍ د تاريخ پوهانو د ويناوو په رڼا کې د پښتنو د کارنامو څېړه په سمه توګه وليدل شي، هغه کارنامې چې د افغان ولس د وياړ شمله ورباندې هسکه ده.
سراولاف کيرو د العتبي په حواله ليکي چې:

" په هندوستان کې د سلطان محمود غزنوي سوبې او برياوې د پښتنو دمېړانې او جګړه ييز مورال برکت و."(۲۷) کيرو چې له ډېر تړې نه پښتانه ليدلي او پېژندلي دي، يو ځای د سلطان محمود د دربار دلوی پوه (ابوريحان البيروني) په حواله ليکي:

" پښتون ډېر جنګيالی قوم دی"(۲۸)

" دمحمود غزنوي پلازمېنه د پښتنو د سيمو په منځ کې پرته وه او د پښتنو سره يې نېغ تماس درلود ، کله چې محمود په بلخ باندې يرغل وکړ همدا د پښتنو لښکر ورسره و ، د هند په فتوحاتو کې هم پښتانه هغه سره ملګري وو ، د محمود غزنوي په هڅو او هرې خواته يرغلونو پښتانه تر ټولو زيات وو چې د هند هرې برخې او سيمې ته ور ورسېدل او د اسلام د خپرولو په لار کې يې خدمت وکړ او د هند راجا جيپال ته يې په زرم ميلادي کال کې ماتې ورکړه." (۲۹)

بايد دا ټکی په پام کې ونيول شي چې د پښتون ولس او پښتو ژبې سره جفا او ناانصافي هم دمحمود غزنوي د واکمنۍ يادګار دی، دغه

واکمن چې د مور لـه خوا پښتـون او د پـلار لـه خوا ترك و، د پښتنـو د څواکمنۍ څخـه د ګټې اخیسـتلو سره سره نـه خو پښتنو تـه پـه خپلـې پاچاهۍ کې کوم اوچت مقام ورکړ او نه یې د پښتو ژبې حق پر ځای کړ. د تومورېي په دربار کې د زرو تنو په شاوخوا کې شـاعران وو چې یو تـن هم په کې پښتون نه و، محمود ایرانی شاعر ( فردوسي ابوالقاسم) تـه پـه دې هیله د پیسو وعده وکړه چې د هغه په ستاینه کې شـاهنامه ولیکـي او دا داسې کار و چې ښایي هېڅ پښتون شاعر د هغه کولو تـه چمتـو نـه و.

د افغانسـتان یو زرکلن تـاریخ لـه هغـه وخت نـه پیـل او د پخوانـي پاچـا محمدظاهر خـان د واکمنۍ تر وروستیو کلونـو پـورې رارسـېږي. ددې تاریخ پاڼو ته په کتنه د غه حقیقت هر باضمیره انسان کتلای شي، چې پښتنو پـه دې پېښلیـك (تـاریخ) کـې ډېره سـتره ونـډه لرلـې اوپـه وروستیو درېیو پېړیو کې خو په تخت ناست ټولواکـان ټول پښتـانـه وو چې مخالفین هم په همدې ټکي باندې زیاته تکیه کوي.

په داسې صورت کې د پښتنو په ژبني حق بـاندې سترګې پټول نـه خو دعقل په تله برابـره خبره ده او نـه د حقیقت نـه انکـار دتـاریخ د نفي کولو امکان رامنځته کولی شي او که څوك د تاریخ د نفي کولـو تصور ولري باید ددماغي خلل په ناروغۍ اخته اوسي. موږ پـه دې کتـاب کـې د هغو پښتنـو واکمنو د امـارتونو او پـاچـاهیو دورې څېړلـي دي چې پـه خـته پښتـانـه وو. خـو پـه پـښتو او لاسـونو کـې یـې د پـردي فرهنـګ د ښکیلاك زنځیرونه پراته وو او د پښتني فرهنګ او پښتـو ژبې د ودې او پرمختیا لپاره یې هېڅ ونه کړل. هغوی چې د پښتون د سـتر کـهول سره یې د وینې تړاو و. خو عمل او کړنې یې غـیر پښتنـي وې او پښتـانـه یـې یوازې دخپلو واکمنیو د ساتلو او خوندي کولو لپاره پـه کـار راوسـتل او بس.

په هغو حکومتونو. امارتونو اوپاچاهيو کې چې پښتنو ته منسوب او غير پښتنو ورته د پښتنو حاکميت ويلو نه په کې پښتو ژبې حاکميت درلود او نه پښتني فرهنگ او چې د يو قوم او ولس سره خپله ژبه او خپل فرهنگ نه وي، د هغوی حاکميت هم تش په نوم وي. ايرانيانو او د هېواد د ننه غير پښتنو تل دغه تبليغ کړی دی، چې له دريو سوو کالو راهيسې په افغانستان کې يوازې پښتانه حاکمان پاتې شوي او ان يو تن وزير هم د حکومتو په کابينو کې غير پښتون نه دی ليدل شوی، وگورئ د" افغانستان " نومي کتاب د غه کربنې ته:

" از سال ۱۷۴۷ م تا پايان ۱۹۹۱- ۱۳۷۰ پشتونها بر افغانستان حکم رانده و همه امتيازات و امکانات موجود را درخدمت خور گرفته اند، کابينه های افغانستان معمولا بيش از دو نفر غير پشتون نداشته که ان هم مصادر ومناسب غير مهم بوده است، در بعضی دوره ها، مثلا در ۱۹۶۳ در کابينه دکتور يوسف، اصلا وزير غيرپشتون وجود نداشت"(۳۰).

د ايران د فرهنگي ښکيلاك دغه مدافع څېرونکی يقينا چې غير پښتون صدراعظم ډاکټر محمد يوسف په پښتنو حساب کړی دی چې دا يې د پوهې د کمزورۍ څرگند ثبوت گڼل کېدی شي.

په ايران کې مېشته يو هزاره محقق د خپل يو څېړنيز اثر " نيم رخی از سياست تصرف زمين وبرتری طلبی قومی در افغانستان " کې ليکي:

" دردستگاه امير امان الله خان عناصر تنگ نظر ومتعصب پشتون گرا مثل گذشته شاهر گ های اصلی رمق قدرت دولت را در دست داشتند."
(۳۱)

اوس که ديو فرضي حقيقت په توگه دا ومنل شي چې د پښتنو د واکمنۍ په وخت " رمق قدرت ودولت" دمتعصبو پښتونگر او تنگ

نظرو پښتنو په لاس کې و او غیر پښتانه له ټولو چارو نه لرې ساتل شوي وو، نو بیا یو غیر پښتون هزاره مورخ " فیض محمد کاتب" ته څنګه اجازه ورکړی شو چې د پښتنو لپاره (سراج التواریخ) ولیکي او هم په (فیض فیوضات) او (نشر او نامه افغان) کې د پښتنو پرضد مطالب ولیکي او زیات تاریخي حقایق د خپلې عقدې له مخې ثبت کړي؟

که چېرې په فرضي ډول دا ومنو چې پښتانه په رښتیا د واکمنۍ په دوران کې ( تنګنظر او متعصب) وو، نو ولې یې په حکومتي او دولتي چارو کې د لږه کیانو ژبه چې فارسي وه حاکمه کړه او د هېواد د ډېره کیانو ژبه ( پښتو) یې دیوې دویمې او غیررسمي ژبې مقام ته راښکته کړه..؟

ولې یې په خپلو امارتونو، پاچاهیو او جمهوریتونو کې د پښتنو ضد مورخانو ته دغه واك ورکړ چې د افغانانو او افغانستان په نوم تاریخونه ولیکي او پرته له سند او دستاویز، منبع او ماخذ نه د پښتو په هکله داسې مطالب قلم بند کړي، چې د پښتنو له شان سره نه ښايي؟؟ ( په دې اړوند دې وکتل شي د غبار- رښتیا او فرهنګ له خوا لیکل شوي تاریخونه).

تعصب او تنګنظري بلکې له پښتنو سره ضدیت او دښمني باید دا وګڼل شي چې کله د پښتنو مشرانو ، د پښتنو په واکمنیو کې د ننه د هېواد د ډېره کیانو د ژبې ( پښتو) د تعمیم او رسمي کېدلو د حق ژوندي کولو په هیله خپل غږ پورته کړی دی، نو فرهنګ او نورو د لږه کیانو په استازیتوب باندې پر هغو د فاشیستي تور لګولي او غیرواقعانه او ناسم تبلیغ ته یې لاس اچولی دی. چې په دې کتاب کې ورباندې په خپل ځای کې خبرې شوي دي. انګرېزانو د پښتنو داتلولۍ، توري او مېړانې، ننګ او غیرت په اړه ډېر څه لیکلي او

خپاره کړي دي. خو زموږ د هېواد غیر پښتنو مورخانو پـه ډېرو ژوندیو حقایقو باندې خاورې اړولي او په هغه باره کې یې چوپتیا غوره کړې دی، چې په کار دی په دې اړوند جلا کتاب ولیکل شي.

په پښتنو باندې چې کوم تورونه ایرانیانو لګولي دي هغـه پـه عین شکل یا لږ توپیر سره غیر پښتنو څېړونکو او تـاریخلیکونکو دهېواد دننه تکرار کړی دی چې بېلګې یې پـه همدې کتـاب کې ښودل شوي دي.

ایرانیان او همدغه ډول په ایران کې مېشته هزاره څېړونکي چې په ایـران کـې نشـراتي مرکزونـه او هـم "مرکـز فرهنـګي نویســندګان افغانسـتان" لري او پـه منظم ډول اوونیزې او مجلې خپـروي، د خپلـو څېړنو په تـرڅ کې ددې حقیقت یادونـه کـوي، چې پښتـو ژبـه د پښتني ټولنې په جوړښت او د ملي یووالي په ټینګولو کې یو فعـال او خوځنده عنصر دی. پښتو ژبه د پښتنو پـه ټولیز ژونـد کـې د خوځښت اغېزمنه وسیله ده او پر دې کار کې اصل او اساسي رول لوبوي.

محقق حمزه واعظي په دې هکله وایي:

" زبان پشتو به عنوان یک عنصر فرهنگی فعال وموثر، توانسته در ایجاد انگیزه و انرژي همگونی، همخوانی وچسپیدگی اجتماعی پشتون ها نقـــش تعین کننده ای در مقاطع مختلف تاریخی بازی کند."(۳۲)

خو دغـه ژبـه چـې د پښتنـو لپـاره د زیـات ارزښت او اهمیـت وړ پېژنـدل شـوې د پښتنو واکمنو پـه دوران کې کلـه هـم خپـل حق تـه ونـه رسېده او د لږه کیانو ژبـه د هغـوی پـه واکمنیـو کـې حاکمـه ژبـه پېژنـدل کېده، چې دا د هېواد لـه ډېره کیانو سره ظلم او نا انصافي وه.

غیرپښتنو هم ددې تاریخي حقیقت لـه منلو څخـه مـخ واړاوه، چې پښتـو ژبـه بـاید د افغانـانو پـه هـېواد کـې رسـمي او د حکومـت د

چارچلونې ژبه اوسي او دا هغه څه وو چې ايرانيانو غوښتل او په دې لاره کې يې زياتې پيسې او وسيلې پر کار اچولې وې. د افغانستان د ننه فرهنګي ښکيلاک لومړی د پښتنو له درباره پيل شو، ځکه چې په دربارونو کې پښتني احساس او د پښتنولۍ جذبه د عام ولس په پرتله ډېره کمزورې او پر خلاف د ايراني کلتور او ژبې سره يې دلچسپي زياته وه، چې تيمورشاه دراني ددې حقيقت يو ثبوت ګڼل کېدی شي.

د دربارونو دغه لنډ فکري ددې سبب شوه چې پښتو ژبه او ويونکي يې (پښتانه) دپردي فرهنګ تر اغېزې لاندې راشي او د پښتني فرهنګ د ځلا مخه بنده شي.

د پښتنو تاريخ دغير پښتنو په لاس وليکل شي او هغوی ددې پښتنليک پېښې دخپل اند او خپلې خوښې سره سمې د تاريخ په پاڼو کې ثبت کړي، چې ځينې ورې بېلګې يې په دې کتاب کې راوړل شوي دي. فرهنګي ښکيلاک لړه کيانو ته دغه امتياز په برخه کړ، چې د ډېره کيانو پر ژوند يو لړ محدوديتونه کېږدي او په دې ډول د پښتني ناسيوناليزم او قوميت له ځپو نه ځان بچ وساتي. پښتو ژبه چې د څېړونکو په قول په پښتني فرهنګ او د پښتنو په يووالي او نژديکت کې يو فعال عنصر پېژندل کېده. د دربارونو د غفلت او ناپوهۍ له امله په يو غير فعال عنصر بدله شوه او د هغه پر ځای فارسي ژبه چې د هېواد د لړه کيانو به وه په فرهنګي ډګر کې په يو فعال عنصر بدله شوه.

هغه پښتو ژبه چې د پښتون قوم تاريخي حماسې په کې ځای شوې وې او د پښتنو د وياړونو ژوند انځورونه په کې پراته وو، د فرهنګي ښکيلاک دپلويانو له خوا وړاندې دغېر علمي ژبې ټاپه ووهل شوه او په دې امارتونو، پاچاهيو او ولس مشرۍ (جمهوريتونو) کې ناست پښتانه مشران چې يوازې پښتانه يې د واکمنيو د دوام وسيله وه،

دهغو دښمنانو تحريکاتو په مانا نـه پوهېدل او نه يې دغـه درك درلـود چې د غير پښتنو په لاس د پښتنو د ملي تاريخ دتحريف او مسخ کېدلو مخه ونيسي.

هندي پوهان او په تېره بيا تـاريخليکونکي دا عقيـده لري چې کـه دهند له تاريخ نه د پښتنو چپتر(څپرکي) وويستـل شي نـو د هند تـاريخ يو بشپړ او د منلـو وړ تـاريخ نـه شي ګڼل کـې دی. ددې حقيقت په پـام کې ساتلو سره اوس دغـه اټکل ښه کېدلی شي، چې د افغانستـان پـه تاريخ کې د پښتنو ونډه څومره غټه او برجسته ده، ځکه چې لـه يوې خوا پښتانه د اوسني (معاصر) افغانستان جوړوونکي بلل شوي او لـه بلې خوا د انګرېزانو، ايرانيانو او شورويانو د لويو جګړو زيـات بوج او فشـار پـه پښتنـو راوستـل شـوی و، چـې ددې حقيقـت د ثبـوت لپـاره د پرديو په لاس کښل شوي اثار ډېر ښه او د ډاډ وړ سندونه کېدلی شي او موږ وربانديې د خبرو کولو اړتيا نه وينو.

زه خپله پـه دې بـاور يم چې پښتنـو هومره ځان نه دی پـېژندلـی، څومره چې نورو پېژندلي دي او داولاډ کـيرو دا خبره راتـه تر ډېره حده سمه ښکاي چې پښتنو نور شاهنشاهيو ته رسولي، ليکـن د خپـل کـور ودانولو او د هېواد دننه د پياوړو حکومتونو په جوړولو کې پاتې راغلي دي. ددې وجه داوه چې فرهنګي ښکيـلاك د پښتنـو پـه دربـارونو کـې رېښې ځغلولې وې. په دغو دربارونو کې دپښتنو خپله ژبه حاکمه نه وه او د پښتنـو د سياسي او اقتصـادي ژوند د خوځښت او جـوړښت دغـه اساسي عنصر د فعاليت د حق نه بې برخې شوی و.

پـه دې کتـاب کـې د پښتنـو واکمنيـو تـه يوه لنډه کتنه شـوې او د هغـوی پـه دربـارونو او حکومتـونو کـې د پښتـو ژبـې څرنګوالـی جـوت شوی دی، دغه لړۍ د پښتون اميرشيرعليخان څخه پيل او د طالبـانو د اسلامي امارت په دورې پای ته رسېدلې ده. په دې سلسله کـې د تنظيم

شاهي او په ځانګړي ډول د پروفیسر برهان الدین رباني دحکومت په دوره کې چې ایراني څېړونکو او په ایران کې مېشتو هزاره محققینو هغه د پښتنو د دري سوه کلني واکمنۍ پای او د غیر پښتنو د واکمنۍ پیل ګڼلي ده هم راغلي ده خو په تفصیل سره وربانديې خبرې نه دي شوي، یوازې د هغو ترخو حقایقو ذکر شوی دی چې پښتانه او پښتو ژبه ورسره مخامخ شوی دی.

د استاد برهان الدین رباني یا تنظیم شاهي د حکومت بنسټ د افغانستان نه بیرون په پاکستان کې کېښودل شو او د پروفیسر رباني واکمني په ۱۹۹۲م کال پیل شوه او همدغه واکمني د څېړونکو له خوا د غیر پښتنو په نوم ولیکل شوه، د تاریخي، سیاسي مسایلو یو تن محقق په دې اړوند ولیکل چې:

" تشکیل دولتی در کابل ۱۹۹۲ که عمدتا تحت کنترول و در انحصار اقوام فارسی زبان قرار گرفت، اولا موجب پدید امــــدن دو جبهــه مجــزا ورویاروی "فارسی ها" و " پشتونها" گردید وثانیا به تضعیـــف موقعیـــت و موضع سیاسی - اجتماعی جامعه و احزاب پشتون ها انجامید، ثالثــــا ســر اغازی شد درجهت نمایش عریان ترصف بندی ها و مرزهای قومی، زبـــانی وسیاسی در جامعه ناهمگون وپرتنش افغانستان ".(۳۳)

په دې ډول لیدل کېږي چې هم ایراني مولفان او روڼ اندي او هم د هغوی د عقیدې دلیکې پیروان غیر ایراني لیکوال دپروفیسر رباني واکمنۍ د پښتنو ( افغانانو) نه جلا او په غیر پښتنو پورې تړلې بولي او په همدې دوره کې چې ډېره لنډه وه، د پښتو ژبې د ویونکو پر ضد ددښمنۍ یوه زوروره څپه راښکاره شوه چې د افغانستان د تاریخ پاڼې وربانديې بدرنګه شوې.

پښتنو په خپله دري سوه کلنه واکمنۍ کې د فارسي ویونکو سره تر دې حده تعصب او ضدیت نه و ښکاره کړی، چې د استاد رباني د واکمنۍ په څلورو کلونو کې ولیدل شو او دا په حقیقت کې دتنظیم شاهۍ په تندي یو تور داغ دی چې راتلونکي نسلونه به وربانديې تحقیقي او څېړنیز کتابونه ولیکي.

دغیر پښتنو د کنترول او انحصار لاندې حکومت په څه باندې څلورو کلونو کې د پښتنو سره د سخت تبعیض او توپیر سیاست او چال چلند څخه کار واخیست او د جمیعت اسلامي پورې تړلو حکومتي چارواکو په هره وینا او خطابه کې د پښتنو په واکمنیو باندې ناروا تورونه ولګول، په داسې حال کې چې دپښتنو واکمنو په خاصه پاملرنه فارسي ژبې ویونکو د پښتو ژبې او پښتو ویونکو په پرتله فراوان امتیازونه درلودل او ډېره کیانو پښتنو په مادي او معنوي لحاظ ډول ډول ستونزې ګاللې او.د پردۍ ژبې تر حاکمیت لاندې وو.

د ساري په ډول په خپله پروفیسر رباني چې لومړۍ زده کړې یې د بدخشان د ولایت د یفتل په کلي کې سرته رسولی دی او د یوې بېوزلې کورنۍ پورې یې اړه لرله، د پښتنو د واکمنۍ پر وخت د لوړ زده کړو لپاره د مصر د عربي جمهوریت د جامع الازهر مشهور پوهنتون ته ور وپېژندل شو او له هماغه پوهنتون څخه یې په اسلامي پوهنو کې ډګري لاسته راوړه او هېواد ته له راستنېدو وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې د استادۍ دنده ورکړل شوه او له همدې لارې نه ورته د ارام ژوند او سیاسي فعالیت شرایط هم برابر شول.

دغه مثال د لکونو غیرپښتنو په باره کې د یادونې وړ دی، چې دپښتنو په واکمنۍ کې پرته له کوم تعصب او تنګنظرۍ څخه د مادي اومعنوي اسانتیاوو نه برخمن او د حکومت لوړ مقامونو ته رسول شوي

وو، چې د افغانستان شل ملیونه وګړي په دي حقیقت باندې شاهدي وايي.

پښتنو د خپلې واکمنۍ په پېړيو کې د تعصب او تنګنظرۍ د نه لرلو له امله په هېواد کې ددري ژبې د پراختيا او پرمختيا لاره اواره کړه او هېڅکله يې ددې ژبې سره کوم ضديت او حساسيت نه دی ښکاره کړی او فارسي ويوکي يې خپلو ورونه ګڼلي دي. ليکن د پښتو ژبې د حق غوښتنې مبارزې ته د فرهنګ غونډې کسانو په خپلو ليکنو کې دفاشيستي حرکت نوم ورکړی دی.

دغه ډول غيرعادلانه او غير عالمانه قضاوت په حقيقت کې د تعصب او تنګنظرۍ مانا ورکوي او پښتانه د يو مظلوم اکثريت په دريځ کې ځای نيسي، په نړۍ کې بل داسې هېواد نه موندل کېږي، چې په هغه کې دې يو ځواکمن اکثريت دمظلوميت په دريځ کې ودرېدلی وي، د ډېره کيانو سره د لږه کيانو ژوندون د نن يا پرون خبره نه ده، بلکې يو اوږد کړکېښ (تاريخ) لري. په دې اوږدو کلونو کې ځواکمنو ډېره کيانو چې واکمني يې درلوده د لږه کيانو سره د ورورۍ او برابرۍ سلوك درلودلی او ګډ ژوند يې پر وړاندې ببولی دی. ليکن د ډېره کيانو پښتنو د فارسي ژبې له حاکميت سره سره لږه کيان په فاشيستۍ نه دي تورن کړي او نه يې د هغوی د ژبې د نفي کولو لپاره کوم قدم پورته کړی دی.

هرپښتون واکمن د ژبې او فرهنګ په برخه کې دلږه کيانو پلوي کړې او ان چې له خپلې ژبې او فرهنګ څخه يې سترګې پټې کړي دي، چې ساری يې د نړۍ په هېڅ يو هېواد کې نه شي ليدل کېدای.

موږ مخکې ددې ټکي يادونه وکړه چې په دې کتاب کې د پښتنو واکمنو د واکدارۍ په کلونو کې د پښتو ژبې او پښتنو حالت ته لنډه کتنه شوې او لړۍ يې د امير شېرعليخان څخه پيل کېږي، د

امیرشېرعلیخان پسې امیرعبدالرحمن خان، امیر حبیب الله خان، امیرامان الله خان، اعلیحضرت محمدنادرخان، پاچا محمدظاهرشاه، جمهورریس محمد داود خان، د افغاني مارکسیستانو د واکمنۍ دوره، د تنظیم شاهۍ (پروفیسر رباني د حکومت دوره چې د افغانستان داسلامي دولت په نوم یاده شوې ده او د طالبانو د اسلامي غورځنګ (د افغانستان د اسلامي امارت) دوره تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوی دی.

دغه کتاب په هغو کلونو کې لیکل شوی چې لیکوال یې په جرمني کې دکډوالۍ د تریخ او غمجن درددوونکي شپې ورځې تېرولې او خپل پلارني ټاټوبي ته یې دبېرته ورستنېدو په هیله ورځې او اوونۍ شمېرلې او د ګړیو حساب یې نیولی و، نو ددې عذر په درلودلو سره خامخا په کتاب کې څه نا څه نیمګړتیاوې لیدل کېږي.

تر هرڅه لومړی لیکوال د اخځونو د نشتوالي له کبله له سختو ستونزو سره مخامخ و او د کډوالۍ شرایطو اجازه نه ورکوله. چې دی دې د نوموړي اړتیا د پوره کولو لپاره کوم بل هېواد ته سفر وکړي. د پرله پسې هڅو او کوښښونو سره داسې کوم بل اثر په نظر رانغی چې دپښتنو واکمنو د واکدارۍ په دورو کې ورڅخه د پښتو ژبې او پښتني فرهنګ پر ځرنګوالي رڼا اچول شوې وي، یا دې د هغو فرمانونو اصل متن خپور شوی وي چې د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو د موضوع پورې اړه ولري.

له دې نه انکار نه شي کېدای چې ځینو پښتنو واکمنو په دې اړوند فرمانونه جاري کړي وو، لیکن هغو فرمانونو په زړه پورې پایله نه درلوده، چې په لاملونو یې دلته لنډې خبرې شوي دي په دې کتاب کې د ملامتیا ګوته زیاته په خپله پښتنو واکمنو ته نیول شوې ده، ځکه

چې ددوی د غفلت او لنډ فکرۍ لـه املـه فرهنګي ښکیـلاك د پښتنو ملي او سیاسي هویت ته سخت زیان ورسولو.

په دې اثر کې د پښتنو ژبه نه دفاع باید د دري ژبې نفي کول او یا ددې ژبې سره دښمني ونه ګڼل. بلکې پښتانه چې د افغانستان د ډېره کیانو په نوم یاد شوي دي او ددې هېواد په پېښلیك کې د نورو په پرتله د زیات اغېزمن رول درلودونکي پاتې شوي حق په جانب و پېژندل شي چې د خپلې روا غوښتنې غږ پورته کړي.

افغانان له څېرمه په دې پوهېږي چې فرهنګي ښکیلاك ددوی لپاره د سیاسي ښکیلاك نه زیات خطرناك ثابت شوی ځکه چې فرهنګي ښکیلاك ددې ولس په معنوي ژوندانه باندې یرغل ګڼل کېږي. دغه حقیقت نن ورځ د ټولنپوهنې په رڼا کې پوره جوت شوی دی چې که د یو ولس په معنوي ژوند کې پردي عناصر ځای ونیسي نو د خپلو اغېزو په وسیله د نوموړي ولس ژوند د یو ښنستیز بدلون سره مخامخ کوي.

ژبه د هرې ټولنې د فرهنګي اډانې ستن ده او فرهنګي ودانۍ په همدې ستن باندې تکیه لري. که چېرې دیوې ټولنې د فرهنګي ماڼۍ څخه دغه ستن لرې شي. نو هغه ماڼۍ په ډېره اسانۍ سره رنګبدلې شي چې پښتانه په خپل جوړ کړي هېواد کې د پښتنو واکدارانو د غفلت له امله د فرهنګي ماڼۍ د نړېدلو شاهدانو پاتې شوي دي. ځکه چې پښتو ژبه د پښتني او افغاني فرهنګ د اډاني څخه جلا او ځای یې یوې بلې ژبې ته چې د افغانانو ژبه نه وه ورکړی شو او په دې ډول په پښتنو باندې فرهنګي ښکیلاك مسلط کړی شو.

افغانان او افغاني ژبه (پښتو) زموږ د هېواد ډېره لرغونې ژبه او لرغوني ولس پېژندل شوی دی. هغه وخت چې ایران باندې ساسانیانو واکمنۍ درلوده او اوستا ددویم ځل لپاره لیکل کېدو، نو د ایران په ختیځ پلوه هېواد کې پښتو ژبه ویل کېدله چې دغه مطلب لکه ددې

ـــريزې پـــه لومړيـــو پـــانو کـــې چـــې وويـــل شـــو، ډنمـــارکي پـــوه (پروفيسـر ارتوکريسـتن سـن) پـه خپــل مشـهورشـوي اثـر(ايـران در زمـان ساسانيان) کې هم راوړي دي، نو په دې حساب افغانستان د پښتو ژبې اصلي ټاټوبی دی او همدې خلکو يانې پښتوويونکو په خپل نامه امپراتوری جوړې کړي دي او د نړۍ په پېښليک کې يې خپله پېژندګلوي کړې ده.

وروسته که د پښتنو واکمنو دې بې کفايتۍ له امله دغه ژبه او پښتانه د فرهنګي ښکيلاك تر اغېزو لاندې راغلي دي مانا يې دا نه شي کېدلی چې دغه ولس او دغه ژبه بايد د تل لپاره دخپل روا حق څخه بې برخې پاتې وي او که چېرته د خپل حق غوښتنه وکړي، نو د مخالفينو له خوا دې ورباندې د فاشيستۍ ټاپه ولګول شي . لکه د صديق فرهنګي غوندې کسانو چې دغه خطا کړې ده.

د افغانستان په پېښليك کې چې پښتانه کومه ونډه لرلې ده او کومې واکمنۍ چې ددوی له خوا نړيوالو ته پېژندل شوې دي دوی ته دغه حق ورکوي چې له فرهنګي ښکيلاك څخه ځان ازاد او خپله ملي ژبه د حق خاونده کړي، دا نه د نورو لږه کيو قومونو سره د ښمنې ده او نه د لږه کيانو په حق تېری دی.

دا نه تعصب دی او نه تنګنظري، افغاني ژبه او د افغانستان نوم يو د بل سره تاريخي پيوستون او طبيعي تړاو لري او غېر پښتانه ورونه بايد د عقل او منطق پر بنسټ ددې تاريخي جريان سره برخورد وکړي، دا چې پښتنو واکمنويه دري ژبه شعرونه ويلي او ديوانونه يې جوړ کړي دي د هغوی دخپل شخصي شوق او ذوق نماينده ګي کوي، نه ديو ستر ولس او قوم چې پښتانه دي.

د پښتنو ملي اتل "خوشحال خان ختك" هم فارسي شعرونه لري چې له پښتو شعرونو سره يو ځای دهغه په ديوان کې شته دي او پوهاند

ډاکټر جاوید په همغوفارسي شعرونو یوه وړه رساله لیکلې ده او چاپ کړې ده. دخوشحال خټك دغه فارسي شعرونه په دا مانا ونه لري چې ګڼې خوشحال پښتون نه بلکې تاجك، هزاره یا ازبك و. همدغه ډول ګڼ شمېر پښتوپوهانو، ادیبانو، لیکوالو، څېړونکو او ان چې مورخانو په فارسي ژبه اثار لیکلي او چاپ کړي دي، چې تر ټولو وروستی شخصیت علامه عبدالحی حبیبي کندهاری و، چې فارسي لیکلي اثار یې په ایران کې هم چاپ شوي دي. دغه لیکلي اثار نه شي کولی ددغو مفکرینو ملي هویت او په پښتون ټبر پورې ددوی تړاو نفي کړي.

پښتنو که د هېواد دیوځواکمن ټبر په توګه د فارسي ژبې ته دومره مینه ښکاره کړې ده، نو دهېواد غیرپښتنو لره کیو باید له دې مینې سره خپل غبرګون ښودلی او پښتنو ژبه یې په ښه شان زده کړی وای. دپښتنو د ځواکمنۍ سره مخالفت او دښمني په هېواد کې د ورونو قومونو تر منځه د ګډ ژوند په توګه نه ده، بلکې د فرهنګي ښکیلاك د پلویانو لپاره یو بری ګڼل کېږي او پښتانه مجبوریت لري چې د فرهنګي ښکیلاك پای ته رسول وغواړي.

دفکرمندۍ خبره ده چې ولې او دکومو لاملونوله مخې پښتنو واکمنو د ایراني فرهنګي ښکیلاك مخه ونه نیوله او پښتو ژبه چې د پښتنو قام په ملي جوړښت او یووالی کې اساسي عنصر دې د حکومت د چارچلونې ژبه ونه پېژندل شوه ...؟

ولې پښتانه واکمن د خپل پښتني احساس او افغانی هویت نه بیګانه شوي وو . د هغه ولس ژبې ته یې شا اړولې وه چې دوی خپله په هغه پورې منسوب ګڼل کېدل او پردیو لکه ایرانیانو د افغان -افاغنه - پشتون په نوم یادول چې په دې کتاب کې یې ځینې بیلګې لوستونکو ته وړاندې شوي دي.

مونږ په دې کتاب کې د هر پښتون واکمن دواکمنۍ دورې ته یوه لنډه کتنه کړې اود پښتنو او پښتوژبې د حال احوال خبرمو اخیستی دی. دیو افغاني احساس په هنداره کې مو د هر امیر، پاچا، ولسمشر څېره لیدلې او د نوموړي په دوره کې مو د فرهنګي ښکیلاك په هکله خبرې کړې دي. هغه فرهنګي ښکیلاك چې د پښتنو د څواکمنۍ د کمزورولو لپاره یوه اغېزمنه وسیله ګڼل شوې وه اوپه پوره هوښیارتیا اومهارت سره په پښتنو مسلط شوې وه. هغه پښتانه واکمن چې دلوی احمدشاه دراني په لاس د جوړشوي افغانستان او افغاني واکمنۍ د ژوندي او خوندي ساتلو مسئولیت د هغوی غاړې ته لویدلی و او هغوی باید دغه دروند تاریخي مسئولیت په غوره طریقه او ښه شان سره سرته رسولی وای.

هغوی چې د پښتنو په سرښندنو خپلې واکمنۍ ساتلې او د پښتنو په توره یې خپل دښمنان او هم خپل مخالفین ځپل باید د خپل مېړه ولس او ددې ولس د ژبې، پښتني فرهنګ او تاریخي راویاتو زیات خیال ساتلی او درناوی کړې وای او دفرهنګي ښکیلاك تغر یې له دربارونو څخه ټول کړي وای. پښتانه واکمن ښایي نه پوهېدل او یا یې په ذهن کې دا نه تېرېدل چې یو وخت به د پښتو ژبې او پښتنو دښمنان دغه تریخ حقیقت د پښتنو لپاره یو پېغور وګڼي چې پښتنو واکمنو په فارسي ژبه شاعري کوله او هم یې درباري او د حکومت چلولو ژبه پښتو نه بلکې فارسي وه، همدغه ډول ایرانیان دعوه وکړي چې افغانستان د ایران د فرهنګي نفوذ ساحه یا سیمه ده یا په بل عبارت د ایران د خاورې یوه برخه وه.

دغه فرهنګي ښکیلاك دتاریخ په اوږدو کې د افغان ولس په کورنیو چارو کې دلاسوهنې او په افغانستان کې د مېشتو ورونو قومونو د بې اتفاقه ساتلو لپاره یوازینۍ اغېزمنه وسیله پاتې شوې ده. ایرانیان

فارسي ژبه خپله مورنۍ ژبه ګڼي. لیکن تاجکان او هزاره ګان چې په دغه ژبه خبرې کوي ایرانیان نه بولي.

ایران پېژندونکي بهرني پوهان او هم ایراني ادیبان، شاعران او څېړونکي تل دغه خبره په خپلو لیکنو کې تکراروي چې فارسي ژبې ته په تاجکستان کې تاجکي او په افغانستان کې دري ژبه وایي. خو تاجکي او دري ژبې کومې بېلې او ځانګړې ژبې نه دي، بلکې د ایران له فارسي پورې تړلي او تش د لهجې څه توپیر په کې شته دی. (۳۴)

د ډهلي د پوهنتون د فارسي ژبې استاد (پروفیسر ډاکټر عابدي) عقیده څرګندوي چې د ۱۹۲۵ کال نه مخکې د ایران د هېواد نوم فارس یا پارس و او دغه نوم په ایران باندې د عربو د تسلط تر وخته پورې په خپل حال پاتې و. له پورتني ذکر شوي نېټې یانې ۱۹۲۵ نه وروسته د پارس یا فارس چې په انګرېزي کې د پرشین persian په نوم یادېده د ایران نوم د هغه ځای ونیو.

پروفیسر ډاکټر عابدي چې په خپله هندي دی او د ایران څخه یې د فارسي ژبې دکتورا P.H.D لاسته راوړې دی وړاندې وایي:

" د فارسي یا پارسي نوم د فارس یا پارس د نوم سره تړاو لري، چې د ایران د هېواد پخوانی نوم دی، فارسیان یا پارسیان د دې هېواد اوسېدونکي وو چې په فارسي یا پارسي ژبه غږېدل. د پارس د هېواد سمندري برخه د (خلیج پارس) په نوم یادېږي چې په انګرېزي کې ورته (Persian Golf) وایي." (۳۵)

عین دغه نظر یو انګرېز پوه (سر. ای. دینسن روس) په خپل کتاب (The persians) کې راوړی دی. نن ورځ د ایران د پخواني نوم پارس د ژوندي ساتلو لپاره د ایران په شیراز کې د (پارس) په نوم ورځپاڼه خپرېږي. چې مسئول مدیر یې (فضل الله مشرقي) دی.

پارسیان یا فارسیان the persian چې له نوم څخه یې څرګندېږي (افغانان) نه وو او نه افغانستان د پارس د خاورې کومه برخه وه، فارسي ژبې ته فارسي ژبو شاعرانو او صوفیانو لکه (مولانا جلال الدین بلخي) چې په روهي شهرت لري( پهلوي ژبه) هم ویلې ده، مولانا وایي:
"مثنوی معنوی... هست قران به زبان پهلوی"

له بلې خوا پښتو ژبه په لرغونو عربي، هندي، انګرېزي، روسي، ډنمارکي، ناروېژي، ایراني او نورو متنونو کې د افغاني ژبې او پښتانه د(افغانان - افاغنه) په نوم یاد شوي دي. ظهیرالدین محمدبابر په (تزک بابري) ابوالفضل علامي په (ائین اکبری یا تاریخ اکبرنامه) مهدي فرخ په (تاریخ سیاسي افغانستان) مولوی ذکاوالله په (تاریخ هند) امیرعبدالرحمن خان په (تاج التواریخ) فیض محمد کاتب هزاره په (سراج التواریخ - فیضی از فیوضات او نژاد نامه افغان) ناصر مستوری کاشاني په (افغانستان - دیپلوماسي دو چهره) علی رضا علی ابادي په (افغانستان) میرغلام محمد غبار په ( افغانستان د رمسیرتاریخ) او ابن بطوطه په خپله (سفرنامه) کې پښتانه د (افاغنه) په نوم راوړي دي.

نن سبا چې د ایران په قم کې د (سراج) او (دردري) په نوم کومې مجلې خپرېږي او تاریخي تحقیقي لیکنې په کې چاپ کېږي، پښتنو ژبه د( زبان افغاني) په نوم یادوي او دپښتنو لپاره د (افغانان) نوم په کار راولي د بي بي سي راډیو نن هم فارسي خپرونه چې د ایران لپاره یې لري د پرشین (persian ) په نوم یادوي او په پوهنتونونو کې هم په همدې نامه زده کړې رواني دي، خو د حیرانتیا خبره داده چې ایرانیان په تېره بیا تاریخلیکونکي او سیاسي څېړونکي او لیکوال اوس هم د خپلو اسلافو تاریخي تېروتنې بیا تکراروي او وایي چې ګویا" پښتنو

یاپختو" کلمې له فارسي څخه اخیستل شوي او پښتو د پهلوي ژبې یوه څانګه ده.

دپورتني مطلب د روښانه کولو او وضاحت لپاره د یو متعصب او تنګنظره ایران لیکوال دنوي کتاب " افغانستان و ظهورطالبان" څخه دغه څو کرښې په امانت را اخلو دی لیکي:

" واژه وکلمه پشتون ویا پختون برگرفته از لغت فارسی است وبه دلیل اینکه قبایل در پشت کوه ها می زیسته اند، ایرانی ها انهار راپشتون نامیده اند، زبان پشتو نیز شاخه از زبان اصلی وقدیمی زبان پهلوی میباشد."(۳٦)

نوموړی کتاب چې د پښتو ژبې او پښتون قام سره د ایرانیانو د عناد او دښمنۍ د پر تازه ثبوت ګڼل کېږي، د یولړ تاریخي تحریفونو او بې لاریو (انحرافاتو) څخه ډك دي. په داسې حال کې چې د هخامنشیانو په وخت کې په افغانستان باندې د ایران د واکمنۍ یادونه کوي دا له یاده وباسي، چې د اوږدو کلونو لپاره پښتنو په ایران پاچاهي کړې او برسېره پر دې چې ایراني پاچا(شاه حسین صفوي) خپله لور د خوشامندو په ډول پښتون شاه اشرف هوتك ته په نکاح کړه. احمدخان ابدالي ( وروسته ستر احمدشاه بابا دراني) هم د ایران د سني پاچا نادرشاه افشار د مېړمنې او لوړو عزت او ناموس د ایراني قزلباشانو او د هغوی د سرکرده اقامحمدقاجار له منګولو وژغوره. چې ایرانیانو باید د پښتنو هغه تاریخي کارنامې په یاد ولري او دافغان شاهنشاه محمود هوتك څېره هم هېڅکله هېره نه کړي. چې ایراني پاچا ورته خپل تاج پر سر کېښود.

مور د تاریخي څېړنې په رڼا کې ولیدل چې افغانان (پښتانه) پارسیان نه دي او نه هم پښتو ژبه د پارس یا فارسي ژبې زېږنده ده. بلکې دکرکېښ (تاریخ) د پاڼو په حواله همدغه پښتانه وو چې په اریایي

دوره کې يې کوروش د جګړې او مقابلې په وخت کې ووژلو. دا خبره يقين ته ډېره نږدې ده چې د افغانانو سره د ايرانيانو دښمني له هماغه وخت څخه پيل کېږي او په ايران کې د بېلابېلو رژيمونو او حکومتونو له خوا دوام مومي.

دشلمې سليزې ( پېړۍ) له پيل څخه ايراني مورخانو او مولفانو د پښتنو پر ضد د اثارو په ليکلو پيل وکړ، چې لومړنی اثر( تاريخ سياسي افغانستان ) و چې دمهدي فرخ له خوا د امير امان الله خان او افغان ولس پر خلاف د تاريخي حقايقو په تحريف کولو ليکل شوی و او دادی د يويشتمې سليزې په پيل کې هم هغه لړۍ جاري وساتل شوه او د (افغانستان وظهورطالبان) مولف حسام الدين امامي د خپل زړه براس په طالبانو ويستلی او په دې ډول يې د قلم عفت تر پښو لاندې کړی دی.

په پښتنو باندې فرهنګي ښکيلاک زما په اند د پښتنو واکمنو د بې کفايتۍ او لنډ فکرۍ پايله ده. نه د ايراني واکمنو د کفايت او هوښيارۍ نتيجه. که چېرته پښتنو واکمنو د خپل پښتني فرهنګ او افغاني هويت ارزښت پېژندلی وای، خپله ملي ژبه پښتو يې د خپلو دربارونو او حکومتونو دچارچلونې واکمنه او حاکمه ژبه ګرځولې او پردۍ ژبې ته يې حاکميت نه وای سپارلی، نو نن ورځ به پښتانه د فرهنګي ښکيلاک په زنځيرونو کې نه وای تړل شوي او ايرانيانو به هم خپل حد پېژندلی وای او دبې ځايه او بې سنده دعوو ځای به ورته نه وای پاتې.

په دې کتاب کې د غه موضوع تر څېړنې او ګروېږنې لاندې نيول شوې ده، چې پښتنو واکمنو له پښتو او پښتنو سره څه کړي او د پښتو ژبې د تعميم او رسمي کولو لپاره يې کوم ګام پورته کړی دی. د پښتو ژبې او پښتنو پر ضد مخالفانو څومره هلې ځلې کړي او د فرهنګي

بنکیلاك په ګټه یې تر ګــوم حـده پــورې روا او نــاروا خدمتونــه ســرته رسولي دي.

موږ د پښتنو واکمنو د واکمنیــو پـه دوران کې د « پښتوادبي تـاریخ» په اړه خبرې نه شو کولی، ځکه چې دغه موضوع ددې کتاب له چوکاټه نه وتلې ده او نه دپښتو ادبیاتو په تاریخ کې څرګند یا نـا څرګند تحول مسئله څېړلی شو، بلکې ددې کتـاب ټول څېرکـي یـوازې دغـه موضـوع تر څېړنې او بحث لاندې نیسـي، چې ولې پښتانـه د خپلـو واکمنیـو پـه وخت د پښتو ژبې د حاکمیت او رسمیت څخه بې برخـې پاتې شول او د هېواد ډېره کیان د لږه کیانو د ژبې تابع وګرځېدل.

د ګران هېواد دپوهو لیکوالو، څېړونکو او ادبپوهانو لـه خوا پـه دې هکله پخې لیکنې او کره کتنې شوي دي، چې دامیردوست محمدخان دواکمنۍ په وخت د پښتو ادبي غورځنګ لومړنـي قدمونـه پورتـه شوي او تر ۱۳۵۷ل کال پورې یې پښه رارسېدلې، خو تر هغه ځایه چې لیـدل کېږي پښتوژبې نه د پښتنو واکمنو پـه دربـارونو کـې او نـه پـه دولتـي او حکومتـي چـارچلونـه کـې پښتـو ژبـې دکوم قـانون یـا فرمـان لـه مخـې رسمیت او حـاکمیت درلودلی دی. ددې خبرې مانـا دا کېدی شي چې دربارونه او حکومتونه د یوې بلې ژبـې تر حـاکمیت لاندې وو چې هغـه ژبه د پښتو یانې د هېواد د اکثریت خلکو ژبـه نـه وه پـه داسـې حـال کـې چې واکمني او ټولواکي د پښتنو وه او افغانستان هـم د افغانـانو هېـواد او اصلي ټاټوبی پېژندل کېده.

لکــه څنګه چــې پښتانــه د تــاریخي لیکنــو اوســندونو لــه مخــې د افغانســتان تـر ټولـو زیات ځواکمـن قـوم و، پښتـو ژبـه هـم یـوه پیـاوړې ادبي او تاریخي ژبه ګڼل کېدله چې ان د ستراحمدشاه بابا، تیمورشاه دراني او نـورو پښتنـو واکمنـو او ملـي مشـرانو لکه عبدالله خـان وکیـل الدوله پوپل زی پر دې ژبه شاعري کوله. روښاني کورنۍ او د خوشحال

خان ختټك د شعر او شاعرۍ ژبه وه ليکن پښتنو واکمنو د ناپوهۍ يا لنډفکرۍ له مخې دغه پياوړې ژبه د خپل حق نه بې برخې وساتله چې د دې په نتيجه کې فرهنګي ښکيلاك د پښتنو دکور دروازه وټکوله.

دغه فرهنګي ښکيلاك د انګريزانو د سياسي ښکيلاك څخه څو چنده خطرناکه اوتباه کوونکې ثابت شوه او په حقيقت کې د پښتنو په کور يوه غدۍ وه. دې غدۍ د پښتنو د يووالي، اتحاد او اتفاق غښتلې پيکرته داسې زيان ورساوه چې په ختيه پښتانه واکمن غير پښتانه او ديګان شول. يو واکدار ولس په خپل کور کې دننه بې واکه شو او ژبې ته يې دغير علمي ژبې نوم ورکړ شو. دغه ناسم او ګمراه کوونکي تبليغ چې پښتو ژبه د علم اوپوهې، ښوونې اوروزنې، مالي او ادارې، اقتصاد او سياسي چارو دسرته رسولو وس نه لري د فرهنګي ښکيلاك اصلي موخه وه او د پښتنو ځوان توك دهمدې تبليغ په څپو کې داسې لاهو شو چې د ببرته ژغورلو هيڅ هيله يې پاتې نه شوه.

د فرهنګي ښکيلاك پلويانو د افغانانو د کور دننه د پښتوژبې او دپښتنو د ځواکمنۍ پرضد خپلې هڅې جاري وساتلې او له زهرو ډکې ليکنې يې د کتابونو په بڼه خپرې کړې، ليکن پښتنو واکمنو بيا هم د خپلې پښتونولۍ ثبوت ورنه کړ او د فرهنګي ښکيلاك زنځيرونو يې ونه شلول.

د پښتنو واکمنو دغه تاريخي غفلت دپښتون ولس لپاره په يوه داسې افت بدل شو چې ددې سلېزې (پېړۍ) وروسته پورې يې هم د پښتو او پښتنو واکمنې او ځواکمنې دواړه ستونزمن او کړومن وساتل. په شلمه پېړۍ کې پښتون ولس داسې پښتانه واکمن هم ولېدل چې هغوی د فرهنګي ښکيلاك د ختمولو پر ځای د( مارکسيستي مفکورې) پيروي غوره ګڼله او د مسلمانانو افغانانو په ټاټوبي کې يې يو غير اسلامي يا دهري نظام ټينګ کړ.

ددوی لپاره پښتو، پښتونولي، افغاني احساس اوجذبه، افغاني هويت او افغاني ناسيوناليزم مطرح نه و. بلکې مارکسيزم لينينيزم يې د افغان ولس پر ژوند مسلط کول غوښتل او دغه مفکوره ورته (حل المشکلات) ښکارېده. ددې ناپوهۍ په اور کې بيا هم د هېواد ډېره کيان وسول او لږه کيانو په کې ګټه وکړه. دساري په توګه په کمونستي نظام کې يو هزاره لس کاله د هېواد صدراعظم پاتې شو او د قومونو او مليتونو د وزارت يو هزاره معين ښاغلی کارګر ديو هزاره څېړونکي خدای ښېلي حسين نايل ګڼ شمېر اثارچاپ کړل. چې پخوا يې د خپرېدلو امکان نه و.

پښتنو واکمنو په دې دوره کې هم ونه کړای شول چې پښتو ژبې ته خپل حق ورکړي او يا يې لږ تر لږه ددري ژبې سره برابر وګڼي. نورمحمد تره کی خپل پنځه اثر (زنده ګی نوين) هم د نظر زاده په مستعارنوم په فارسی چاپ او خپور کړ او د ګوند او رژيم دواړو ژبه دري وه په داسې حال کې چې شفاهي خبرې او مکالمې ټولې په پښتو وې.

د مارکسيستي نظام تر ړنګېدو وروسته لومړني تنظيم جهادي حکومت په پاکستان کې د(ای.اس. ای) او ميا نواز شريف تر نظر لاندې جوړ او کابل ته ولېږدول شو. چې په هېڅ ډول يې د افغان ولس استازيتوب نه شو کولی. دتنظيمي حکومت تر جوړېدو څو مياشتې وروسته چې د افغانستان د جميعت اسلامي مشر پروفيسر برهان الدين رباني په زور سره ځان د هېواد ولسمشر اعلان کړ، په دې تصور چې ګويا د اوږدې مودې لپاره به واکمني له ځان سره ساتي اعلان وکړ چې نور په افغانستان کې د پښتنو د واکمنۍ دوره دتل لپاره پای ته رسېدلې ده، چې همدغه مطلب قوماندان احمدشاه مسعود هم په خپله يوه وينا کې تکرار کړ.

۲

د استاد رباني واکمني چې د هېواد د مورخانو، څېړونکو، ليکوالو او روڼ اندو په عقيده د افغانانو د پېښليک تر ټولو توره او کرغېړنه واکمني وه د طالبانو د اسلامي غورځنګ په لاس پای ته ورسول شوه. د طالبانو اسلام غورځنګ چې پښتانه په کې ډېره کيان دي په هېواد کې نوی اسلامي امارت چې په شرعي قانون ولاړ دی جوړ کړ او د پښتنو د مخالفانو او نړيوالو له نظره د افغانستان اسلامي امارت د پښتنو د واکمنۍ د لړۍ دوام وپېژندل شو.

په دې کتاب کې د هر پښتون واکمن او هم د غير پښتون (استادرباني) په واکمنۍ رڼا اچول شوې او د فرهنګي ښکيلاك وضع په کې څېړل شوې ده. دغه کتاب که څه هم د زياتو نيمګړتياوو درلودونکی به وي خو د هغې اوږدې چوپتيا ماتوونکی دی چې پښتنو په کې د پښتنو واکمنو د واکمنيو په اوږدو کلونو کې غوره کړې او د خلکو په خوله د سياست برغولی اېښودل شوی و.

د سياست هغه برغولی چې د پښتنو په زيان او د غيرپښتنو په ګټه و پښتنو واکمنو هغه د خپلې واکمنۍ ددوام ډېره ښه وسيله ګڼله. پښتانه او پښتو ژبه دواړه دهمدې سياسي مصلحت قرباني شول او فرهنګي ښکيلاك په اسانۍ سره خپل عمر اوږد کړ.

فرهنګي ښکيلاك د پښتنو تاريخي شهرت او افغاني هويت تر خطر لاندې راوستل او د پښتنو مخالفينو ته يې دغه مجال ورکړ، چې د نړيوالو او دننه په هېواد کې د نالوستو پرګنو ذهنيت د خپلو ناسمو او په تنګنظرۍ او تعصب ولاړو ليکنو سره خراب کړي او هم د پښتنو نوی توك دې ته وهڅوي چې د خپلې ملي ژبې پرځای پردۍ ژبه زده کړي. د همدې خطر په احساس کولو پوهاند استاد عبدالحی حبيبي نوی توك داسې مخاطب کړ.

قـوم مـــــن ای تـــوده والا نـــژاد وی نیاکـــــان غیـــورت مـــــرد وراد
بـــا تـــــودارم گفتـــــگوی محرمـــــی تـــا زاســـــرار حیـــــات اگاه شـــوی
بشـــنو ای پشـــتون بـــاصدق وصفـــــا حـــــافظ کهســــار قلـــب اســــیا
گربــــــزرگی خواهـــــــی و ازادگي یا چـــون اســـلاف غیـورت زنـده گی
اولاً پشـــتو لســـــانت زنـــده ســـــاز هـــم بریـــن شـــالوده کـــاخت برفـــراز
قصرملیـــت بـــــران تعمـــیر کـــــن تـــاتوانی تکیـــــه بـــــر شمشـــیرکن
جـــان مـــن ای ملـــت دشـــمن فـــــگن جـــان مـــن ای ملـــت دشـــمن فـــــگن

غوث خیبري، جرمني
دمارچ میاشت ۲۰۰۱م کال

# لومړی څپرکی

## د امیرشېرعلیخان په امارت کې د پښتو پالنې تکل

امیرشېرعلیخان (۱۸۶۳-۱۸۷۸) د افغانستان او نړۍ په کړکېچن کې یو ځانګړی ځای لري، که څه هم د خپل کور(هېواد) دننه هغه د یولړ مخالفتونو، ضدیتونو او شخصي دښمنیو سره مخامخ شو او انګرېزي ښکیلاك د همدغه پښتون واکمن په وخت کې په افغانستان تېری وکړ. لیکن ددغو ټولو خبرو او خوږو ترخو پېښو سره سره نوموړی امیر یو مدبر، روڼ اندی او ترقۍ خوښونکی پاچا او هم د پښتو ژبې سره همدرد او خواخوږی پېژندل شوی دی.

دی په تاریخ کې دسیاسي، پوځي او ټولنیزې پوهې درولودونکی امیر او په هېواد مین پښتون واکمن تېرشوی او دده په ټولنیزو ریفورمونو او سیاسي پوځي نوښتونو او شخصي ژوند باندې بهرنیانو هم پخې لیکنې کړې دي، په هغه وخت او زمان کې دلویدیځ تمدن سره د امیر شېرعلیخان مینه او په افغانستان کې د هغه د راوستلو تکل د پښتون امیر لپاره دیو ښه نوم او شهرت موجب شو او هم یې دنوموړي اصلي او حقیقي څېره نړیوالو او هېوادوالو ته ور وپېژندله.

د امیر شېرعلیخان دوه زامنو (سردارمحمدایوبخان او سردارمحمدیعقوبخان) هم د افغانستان په تاریخ او سیاسي برخلیك کې لوی رول لوبولی دی، په دې ډول که له یوې خوا سردارمحمدایوب

خان دمیوند فاتح وپېژندل شو او انګرېزانو ته یې سخته ماته ورکړه، نو له بلې خوا امیرمحمد یعقوب خان چې یو ناروغ او کم زړه پاچا ګڼل کېده د انګرېزانو سره دګندمك تړون له مخې چې پر ۱۸۷۹م کال لاسلیك کړ د افغانستان د خاورې څه برخې چې د پلار تر واکمنۍ پورې یې په خپل حال پاتې وې انګرېزي حکومت ته پرېښودلې چې دغه سیمې په کې شاملې وې:

"خیبرکورمه - پشین، سیبی- لورلایي او نور"(۳۷)

امیرشېرعلیخان د امیردوست محمدخان زوی او پښتون اتل وزیر محمداکبر خان غازي مشر ورور و. دیو باندې څلوېښتو کالو په عمر د پلار له مړینې وروسته پاچا شو. د امیرلومړني مخالفان او دښمنان دده خپل تربوران (سردارمحمدافضل خان ـ سردار عبدالرحمن خان چې وروسته امیرعبدالرحمن خان شو، سردارمحمد اعظم خان او سردار محمدشریف خان وو. چې ټولو پیرنګیانو سره سازباز درلود او د انګرېزي ښکیلاکګرو په لمسون یې د شېرعلیخان خلاف عمل کاوه. د همدې ورانکاریو له مخې امیر دغه اړتیا احساس کړه چې باید د پیرنګیانو دشرارتونو ددفع کولو په هیله روسي دولت سره د اړیکو ټینګولو لاز غوره کړي چې دغه کار د افغان انګلیس ددویمې جګړې سبب شو.

وزیرمحمداکبرخان غازي چې د امیرکشر ورور و. انګرېزانو او افغانانو په تاریخ کې یوه وتلې پېژندل شوې څېره ده، چې د افغان انګلیس د لومړۍ جګړې (۱۸۴۱) لوی اتل ګڼل شوی او د همدې جګړې د برتانوي قوماندان جنرال سېل مېرمن (لیډي سیل چې اصلي نوم یې فلورنشیا او د غازي محمد اکبرخان سره د نورو انګرېزي اسیرانو په جمله کې و) په خپل کتاب کې چې د یادښتونو په ډول کښل شوی دی. د نوموړي اتل په هکله ډېرې خبرې کړې دي

(حمید کشمیري) په (اکبرنامه) کې د هغه د اتلولۍ ډېر په زړه پورې انځور وړاندې کړی او انګرېز جنرال ( سرونسنت ایري) هم په خپل کتاب ( دکابل پاڅون) کې د هغه مېړه پښتون په هکله ځینې مطالب لیکلي دي.

د پورتنیو تاریخي حقایقو په رڼا کې لیدل کېږي چې امیر شېرعلیخان دیوې داسې کورنۍ پورې تړاو لري چې د برتانوي ښکیلاك پر ضد د مبارزې او جګړې اوږده سابقه لري اوپه همدې علت انګرېزانو پتېیلې وه چې باید د امیر دواکمنۍ پر وړاندې خنډونه او ستونزې راپیدا کړي او په دې ډول د نوموړي د واکمنۍ موده لنډه او د هغه پر ځای هغه افغانان واکمنۍ ته ورسوي چې د برتانوي ښکیلاك سره معاملې او سودا کولو ته چمتو ښکاري.

امیر شېرعلیخان په داسې مهال کې واکمنۍ ته ورسېد چې پلار یې ( امیردوست محمدخان) او ځینو نورو پښتنو واکمنو د برتانوي هند د سیاسي اوپوځي مشرانو سره د ببلابېلو سیاسي لوبو پړاوونه وهلي او انګرېزي ښکیلاك د افغانانو په کورنیو چارو کې څرګندده لاسوهنه درلوده او دپښتنو په هېواد کې یې خپلې ځانګړې ګټې په پام کې نیولې وې.

په عین حال کې تزار روسیې هم په افغانستان کې خپلې موخې درلودلې او د هغو په چوکاټ کې یې دیپلوماتیکي هڅو ته دوام ورکاو او سیاسي لوبغاړي یې پوره فعال او بیداره وو. د افغانستان په شمال کې دپنج ده سیمه روسي واکمنو د افغانانو له هېواد نه جلا او په خپله خاوره پورې یې وتړله ایران د اوسني (معاصر) افغانستان له جوړېدونه د زیاتې روحي ناکرارۍ احساس کاوه او د پښتنو د تاریخي دښمن په توګه یې عمل کاوه. په افغانانو کې د بې اتفاقۍ او اختلافونو راپیدا

کولو له لارې یې د مقصد ځای ته ځان رسولو لپاره نقشې جوړولې او دسیسې یې پر کار اچولې.

د برتانوي ښکیلاك لپاره چې لوی او پراخ هندوستان یې له ستونې تېر کړی و، وړوکی افغانستان دیوه داسې کلك اوستغ هډوکي حیثیت موندلی و، چې د هغه ښکیلاك ستونی وریاندې ځېرې کېده، ځکه خو یې خپل ټول ځواك ددې هډوکي د تېرولو او هضمولو لپاره پر کار اچولی و.

برتانوي هند د ستر احمدشاه بابا په همت او جرئت او سیاسي پوهې او تدبر دلوی او پیاوړي افغانستان زغم نه شو کولی، ځکه چې د هغه افغانستان شتوالی دهند ازادۍ غوښتونکي دې ته وهڅول چې د افغانستان د خلکو نه د ازادۍ مبارزې او د خپلواکۍ ګټلو چلونه او حکمت عملي زده کړي او بیا د برتانوي ښکیلاك پر ضد پاڅون وکړي.

برسېره پر دې د برتانوي هند حکومت دا هم په پام کې لرل چې له هند سره لګېدلي سیمې چې پښتانه په کې اوسېږي او د پردیو واکمنیو ته غاړه نه ږدي د تل لپاره د برتانوي هند پورې وتړي او د لوی او غښتلي افغانستان له پیکر نه یې جلا کړي، چې د خپل مقصد یوه برخه یې په امیر محمد یعقوب خان باندې پوره کړه او بله برخه یې د امیرعبدالرحمن خان د امارت په وخت د افغانانو د هېواد څخه لکه یوه بوټي غوڅه کړه او د غلام هندوستان له خاورې سره یې یوځای کړه.

لیکن د پیرنګیانو امپراتورۍ دغه وس ونه موند چې پښتانه د هندي هویت درلودونکي کړي او خپل غلامان ورنه جوړ کاندي. پښتانه، پښتانه پاتې شول که په سمه کې وو یا په غرونو او درو کې، (سرمورتیمورډیورنډ) یوازې په یوه فرضي کرښه دوی یو له بله بېل کړل خو پښتو یې ورنه وانه خیستی شوه. پښتو ژبې د ویشل شویو پښتنو

یووالي او وحدت خوندي وساته او همدغو پښتنو پیرنګي ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې.

د افغان انګلیس په درېیو جګړو کې د پښتنو ونډه تر ټولو ډېره وه او د شوروي اتحاد سره په جهاد کې پښتنو له نورو قومونو څخه زیات زیان وکوت. چې په دې اړه باوري معلومات او سر شمېرنې (احصایې) د نړۍ په مطبوعاتو کې هم خپاره او امریکایي څېړونکی (محقق) بروس ریچارډسن په خپل لیکلي کتاب کې د هغو لنډ تفصیل ورکړی دی.

افغانستان چې د افغانانو په نوم جوړ شوی تاریخي هېواد پېژندل شوی دنړدې درېیو سووکلونو راهیسې په کې پښتانه چې د افغان قوم بل نوم دی واکمن پاتې شوي دي، د لوی احمدشاه بابا دسیاسي پوهې او تدبر له مخې په دې هېواد کې مېشته غیرپښتنو ژبي قومونه لکه تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، قرغز، نورستاني او پشه یي او نور هم افغانان وګڼل شول او په سیاسي ځواك کې ورته ونډه ورکړی شوه.

دغه ستر کار نه دکوم زور پایله وه او نه دکوم بهرنی فشار او تهدید(ګواښ) بلکې احمدشاه دراني د خپل لوړ انساني او اسلامي خصلت او د خپلې پښتنو او پښتونولی له مخې سرته رسولی و او د هېواد د اقلیتونو(لږه کیو) سره د ورورۍ او خواخوږۍ یو ژوندی ثبوت او د خپل سرلوړي ولس سره د هغوی د بې کچې مینې او محبت څرګند مثال و.

د اعلیحضرت احمدشاه زوی تیمورشاه دراني خو د خپل دولت او حکومت اداري او مالي او نورې مهمې چارې د غیر پښتنو او د ایران څخه د کډه شویو مهاجرو شعیه ګانو او قزلباشانو په لاس ورکړي و، پرته له دې چې د خپل دغه کار راتلونکي پایلې یې په پام کې ساتلي وي. دا یوه غټه سیاسي تېروتنه وه، چې د زلمي او بې تجربې

تیمورشاه دراني له خوا وشوه. د هغوی سره د ملیت او قومیت په اړه هومره احساس او جذبه نه وه لکه څومره چې د ستر احمدشاه بابا سره وه. دسیاسي پوهې اندازه یې هم ډېره لږه وه، د ایراني ښځې په کولون سره نور هم د ایراني ژبې او ایراني کلتور په خم کې رنګ شو. چې فارسي شعر او شاعري یې ددې حقیقت ثبوت وړاندې کوي.

لیکن د انګرېز پوه (سراولاف کیرو) دا خبره د حقیقت سره پوره اړخ نه لګوي چې وایي "تیمورشاه دراني په پښتو ژبه نه پوهېده او پښتو خبرې یې نه شوې کولی"(۳۸)

تیمورشاه دراني نه یوازې په پښتو خبرې کولی شوې، بلکې د پښتو ژبې نازکخیاله شاعر هم تېر شوی دی چې لاندې یې د شعر یوه بېلګه وړاندې کېږي:

ڼن مې بیا له تورو سترګو سره جنګ دی
پرلــبانـــو مې د زړه د وینــو رنګ دی
عــشق دی مشك پټول نه شي تیمورشاهه
چــې په خپله ځان رسوا کا هغه رنګ دی.
* * *
هی هی دیـــــار صــورت لکـــــه ګلونه
چې وهلي یې په مخ دې شـــــنه خـــالونه
توکل دې پر خپل خـــدای کړه تیمورشاهه
چې په کار دي د فاني دنیا کارونه. (۳۹)

البته د غه خبره دیو تاریخي واقعیت په توګه د منلو وړ ده چې پښتون پاچا اعلیحضرت تیمورشاه هغه څوك و، چې د پښتو ژبې او پښتني فرهنګ دخلا خواته یې هېڅ ډول پاملرنه ونه کړه او په دې مسئله کې دپښتون ولس پر وړاندې مسئول پېژندل شوی دی. په همدې

دلیل موږ هم نوموړی د ایرانـي ژبـې او فرهنـګ یـو خدمتـګار ګڼو او د پښتنو له کتاره مو ګوښه کړی دی.

د اعلیحضرت تیمورشاه درانـي لـه خـوا د حکومـت رسـمي مـهمې چارې شعیه ګانو او قزلباشـانو تـه سـپارل کېدل چې پـه وینـه او مذهب ایرانیان وو. دا کار دپښتون قوم او پښتو ژبې سره ځرګنده جفا وه. پـه افغـاني (پښتـون) فرهنګ بـاندې یـو کلك او مرګونـی ګوزار کـه څه هـم نوموړي پاچا بـه دغـه کړنـه پـه عندي او ارادي تـوګه نـه وه کړې. لیکـن د یو پښتون ادیب او شاعر په حیث یې دغه دنده درلودله، چې د هـېواد د ډېره کیـانو ژبـه او فرهنګ لـه پامـه ونـه غـورځوي او لـږ تـر لـږه دفارسـي ژبې او فرهنګ سره یې برابـر وبولـي او د حکومـت پـه رسـمي، اداري او مالي چارو کې ورځـه ګـټه واخلي. د ښوونې او روزنې په ډګر کـې ورنـه کار واخلي او پـه دې ډول د خپل ننګیالي ولس پر وړانـدې خپلـه فریضـه او وجیبه سرتـه ورسوي.

کوم اساس چې تیمورشاه درانـي د فارسـي ژبـې او فرهنـګ د خپلولـو لپاره کېښود هغه د راتلونکو پښتنـو واکمنو لـه خـوا هـم رعـایت شو او ټول پښتانـه لکـه زمانشـاه سـدوزی، شـاه محمـود ابدالـي، شـاه شـجاع، امیر دوست محمدخـان محمـدزی، امیرشېرعلیخـان، امـیرمحمدافضل خان، امیرمحمداعظم خان، امیر محمدیعقوب خـان، امـیر عبدالرحمن خـــان، امـــیر حبیـــب الله خـــان، امیرامـــان الله خـــان، اعلیحضـــرت محمدنادرخـان، اعلیحضـرت محمدظـاهر خـان، سـردارمحمدداود خـان ولـس مشـر پـه همغـه لاره روان پـاتې شـول چـې اعلیحضـرت تیمورشـاه دراني پرانیستې وه.

لیکن په دوی کـې ځینو واکمنـو د خپلو نیکونـو د هسـکې شملې د درنـاوي پـه خـاطر او هـم لـه دې کبلـه چـې د پیـاوړي پښتنـي احسـاس او جذبې چې په عین حال کې د خپلې افغاني خاورې سره د هغـوی دژورې

میني څرګندوی هم وو دلرلو په وجه د پښتو ژبې او فرهنګ د راژوندي کولو په تکل لوی یا واړه قدمونه واخیستل او دپښتون قوم او ولس او ژبې سره یې خپله مینه او پېرزوینه ښکاره کړه، خو د وروستۍ پایلې تر وخته یا وفاته او یا له هېواد څخه وتلو ته مجبور شول.

څرنګه چې داعلیحضرت تیمورشاه دراني نه وروسته په افغانستان کې د غښتلي حکومت او دولت بنسټ د امیر شېرعلیخان له خوا کېښودل شو او پښتون فرهنګ او پښتو ژبې ته دخدمت کولو تکل هم دهمدوی د سپېڅلي ارادې نتیجه وه. ځکه خو موږ ددې کتاب پیل د امیر شېرعلیخان په ربتیني ډول د خپل قوم سره مینه درلودله او د همدې مینې له مخې یې د پښتنو مشرانو او د برتانوي ښکیلاک پر ضد د جنګېدلي اتلانو زیات درناوی کاوه او د پوخ عمده اوغټ جنرالان یې زیات پښتانه وو او له همدې وجې د برتانوي ښکیلاکګرو په جګړه کې دمېړانې ښکاره کولو له کبله یې ملي اتل غازي محمدجان خان ته د جنرالۍ مقام ورکړ. هغه غازي محمدجان خان ته چې د افغانستان په پېښلیك کې د درناوي او ویاړنې ځای لري او د هېواد د ازادۍ د لارې پېژندل شوې څېره ده.

شېرعلیخان چې له سدوزۍ مور نه نړۍ ته راغلی و، بل ورور یې غازي محمداکبر خان چې په وزیر شهرت لري هغه څوك دی چې د افغان انګلیس په لومړۍ جګړه (۱۸۴۰-۱۸۴۱) کې یې د اسیرانو په ډله کې د انګرېز جنرال سیل مېرمن (پاتریشیاسیل) هم شامله وه او د خپلو یادښتونو په کتاب کې یې د غازي محمداکبر خان د پښتني سلوك پوره ستاینه کړې ده، د (مېرمن سیل) دغه کتاب په پښتو او فارسي ژبو ژباړل شوی او په کابل او وروسته په پېښور کې خپور شوی دی، چې د ارزښت له مخې بیا یادونه وشوه.

د امیر شېرعلیخان دپښتنې وینې اغېزه د نومـوړي دحکومـت پـه چارو کې دېره څرګنده لیدل کېده او د همدې اغېزې لـه مخـې امـیرد ایران د حکومت په سیاست باندې ژور نظر درلود او د هغه مقابله یې کوله. شېرعلیخان د ایـران د ښکیلاکـګرو مقصدونـو او غرضونـو پـه ماهیت ډېر ښه پوهېده. امـیر اورېدلـي او لیدلـي وو چـې ایـران پـه افغانستان کې فارسي ژبه خپل میراث بولي او ان په ایرانـي کتـابونو او خپرونـو کـې یـې پـه خپلـه دغـه مطلـب لوسـتی و، چـې ایرانیـان د افغانستان فارسي ویونکي ایراني الاصله بولي.

(باید یادونه وکړم چې عین دغه مطلب بیا وروسته د اعلیحضرت امان الله خان غـازي پـه دربـار کـې ایرانـي سـفیر او د تـاریخ سیاسـي افغانستان مولف سیدمهدي فرخ په خپل کتاب کې تکرار کړه.)

هغه ژبه چې اعلیحضرت تیمورشاه درانـي سرکاري ژبـه ګرځولـې وه درې اتیـا کالـه وروسـته د امیرشېرعلیخان د واکمنۍ پـه وخت کې پـه سیستـان باندې د ایـران ددعـوې یو سند شو او ایران د همدې ژبې په استناد دغه دعوه وکړه چـې: "څرنګه چې د سیسـتان خلك په فارسي ژبه خبرې کوینو دغه سیمه تړوله د ایران د خاورې یوه برخـه ده. فرهنګ لیکي:

" چون شیرعلیخان بار دوم به سلطنت رسید، درصد ان شد که سیستان را ازدست ایران خارج کند وان کشور را به جنگ تهدید نمود، درین وقت بود که انگلیس ها بیاد معاهده ۱۸۵۷افتاده پیشنهاد حکمیت نمودند وپیشنهاد شان ازجانب هر دو دولت قبول شد."

هئیت برتانیه بریاست میجرجنرال سرفربدریک گوله سمیت کـه قبلا سرحد ایران وبلوچستان راتعین نموده بـود دراوایـل سـال ۱۸۷۲از راه بندرعباس به سیستان وارد شد. ازطرف ایران شخص بنام میرزامعصوم خان و

وازطرف افغانستان سیدنورمحمدشاه به عنوان نماینده تعین شدند تا هیئت را در اجرای وظیفه اش کمک کرده معلومات لازم را دراختیار ان بگذارند.

نماینده ایران اولتر به محل حاضرده باتفاق جنرال انگلیسي نقاط مختلف سیستان را گردش ومعاینه نمود، بعد از چندروز نمـــاینده افغانســـتان وارد سیستان گردید، اما نماینده ایران از ملاقات و مذاکره با واستنکاف کــرد و درنتیجه هیئت انگلیس بدون انکه با نمایندگان جانبین درخود محل مذاکــره ونکات مورد اختلاف را تحقیق کند به تهران رفت و متعـــاقب آن هیئـــت افغانی هم به شهر مذکور مـــسافرت کرد.

سیدنورمحمدشاه دلایلش را درمورد ادعای افغانستان برسیستان کتباً بـــه گولد سمیت تسلیم داد وایرانی ها نیز این کار را کردند، خلاصـــه دلایـــل مذکور را هیئت حکمیت درگزارش خود چنین بیان نموده است:

دلایل ومدارک ایران:

سیستان ازقدیم الایام جز ایران بوده وفقط برای مدت محدود از ان جـدا شده بود.

فعلاً سیستان درید تصرف ایران میباشد وزبان اهالی ان نیز فارسی است.

دولت انگلیس این حق را تصدیق ودرسنه ۱۸۶۳به ایران اطلاع داده بود که حق خودرا به زور شمشیربدست ارد.

دلایل ومدارک افغانستان :

مورخین ایران حتی درزمان فتح علیشاه سیستان را جز افغانستان شـــمرده اند.

رواج زبان فارسی دلیل حاکمیت ایران به سیستان نمی شـــود، زیـــرا در افغانستان زبان های مختلف به شمول فارسی معمول است.

الحاق فعلی سیستان به ایران نتیجه دسیسه امرای محلی مثـــل علیخـــان سربندی می باشد. (۴۰)

فرهنګ خپل پورتني مطلب د انګرېز مورخ سر پرسي سایکس دکتاب له دویم ټوك څخه راخیستی دی، په دې مطلب کې دا ټکی پوره جوت دی چې پر سیستان باندې دایران ددعوې په متن کې فارسي ژبه دیو قوي مدرك په توګه راوړی شوی دی او د همدې ټکي په رڼا کې دغه حقیقت ښه څرګند تر سترګو کېږي چې ایران فارسي ژبې ته په افغانستان کې دخپل ښکیلاکي میراث په سترګو کتل او هغه یې د خپلو سیاسي شومو غرضونو د لاسته راوړلو یوه وسیله پېژندله لیکن امیر شېرعلیخان هم دیوه ویښ واکمن په توګه د ګاونډي ایران په ذهني اندېښنو او سیاسي حرکتونو ډېر ښه پوهېده.

همدغه ډول په را وروسته کلونو اوپېړونو کې هم ایراني تاریخ لیکونکو لکه عباس اقبال، مهدي فرخ، محمود محمود او نورو یوازې په دې دلیل د ایران د خاورې پورې د هرات دتړلو غږ پورته کړی دی، یو ایراني څېړونکی (علی رضا علی ابادی) په (افغانستان) نومي کتاب کې چې په ۱۳۷۲ ل کال د ایران د بهرنیو چارو د وزارت له خوا خپور شوی دی په هرات باندې د ایران ددعوې یادونه کړې ده.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړو غرضونو له مخې د (ګزیده اسناد تاریخي مسئله هرات) هم چاپ او خپور کړی دی او دا ټول د افغانستان دخاورې په اړه د ایران د شومو مقصدونو څخه پرده لرې کوي. امیر شېرعلیخان دسیستان د وېش په هکله د انګرېزانو دحکمیت پرېکړې ته په ښه سترګه ونه کتل او ان هغه یې رد کړه، لیکن برتانوي حکومت د افغان امیر حکومت هم د ځان په ګټه نه ګڼلو، نو ځکه خو یې ورته دننه په هېواد کې شخړې او جنجالونه راپیدا کړل او دده د را پرزولو په تکل یې دامیرعبدالرحمن خان سره لاس یو کړ.

شېرعلیخان لکه چې په پیل کې وویل شول، په وینه کې یې پښتني جذبه او په زړه کې یې افغاني پیاوړی احساس درلود او همدې احساس او جذبې او هم د ایران دحکومت فرهنگي ښکیلاك دې ته وهڅولو چې باید د پښتو ژبې خواته په پاملرنه د هېواد ډېره کیان پښتانه له پخوا نه زیات ځان ته رانږدې کړي او د افغانستان د پښتو ولس ژبه کرار کرار په رسمي او حکومتي ژبه بدله کړي. امیرچې دخپلې واکمنۍ په پیل کې د افغانستان لپاره د یو غښتلي مرکزي دولت د جوړولو فکر درلود نو د تېولنیزو او صنعتي فورمونو په جمله کې یې د پښتو پالنې لپاره هم د زړه له اخلاصه سوچ کړی او په خپله پوه یې په دې برخه کې دیو منظم پلان دپلي کولو پر لور لومړني گامونه پورته کول شروع کړل.

اعلیحضرت امیر شېرعلیخان وکړای شول په ډېر ښه ډول سره دولتي او حکومتي چارې منظم او هېواد د پرمختگ پر لاره روان او وراني ویجاړې له سره جوړې کړي. په دې هکله مورخ فیض محمد کاتب هزاره لیکي:

" ومقارن این حال کارسلطنت ورتق وفتق امور مملکت رونق تازه گرفته وملک و ملت روبه ابادی نهاد و خرابی ها مرمت پذیرفت" (۴۱)

لیکن انگرېزان په کرار نه وو ناست او د امیر شېرعلیخان پر ضد یې فعالیت کاوه. سرداران (محمداعظم خان، محمدافضل خان، عبدالرحمان خان) د امیر د راغورځولو خوبونه لیدل او پېرنگیانو هم په دې کار کې د هغوی شا تېوله.

د امیرشېرعلیخان د واکمنۍ توپیر د تېرو پښتنو واکمنو سره په دې کې لیدل کېږي چې ده هڅه کوله او د ځینو تاریخي څېړونکو په وینا د زړه له کومې یې هیله درلوده، چې خلکو ته نږدې اوسي او په عمده او غتو کارونو کې د خپل ولس مشوره ترلاسه کړي، د همدغې اند له مخې دیوې لویې جرگې د جوړولو ارزو د عمل په ډگر کې پلي کړه او په

۱۸۶۵ کال کې یې دهېواد قریباً دوه زرو استازو په ګډون چې د بېلابېلو سیمو څخه رابلل شوي وو لویه جرګه جوړه او په خپله وینا یې پرانیستله. (۴۲)

د پښتون قوم ددغه تاریخي دود ارزښت د ستر احمدشاه نه وروسته پښتنو واکمنو لکه اعلیحضرت تیمورشاه دراني او نورو له پام نه غورځولی و. یو ایراني څېړونی عقیده ښکاره کوي چې "امیر شیرعلیخان در لویه جرګه سال ۱۸۶۵ میخواست ازیکطرف حمایت بیشتر مردم را جلب نماید و ازطرف دیګر ارزو داشت ولیعهدی پسرش را نیزروشن کند"(۴۳)

د ایراني څېړونکي علي رضا ابادي دغه وینا د حقیقت سره سمون نه خوري ځکه چې:

۱. د امیر له خوا د شهزاده عبدالله جان ولیعهد کولو مسئله دومره لوی ارزښت او اهمیت درلودونکی نه و، چې پاچا دې دهغه د منظورۍ لپاره لویه جرګه راوغواړي.

۲. د ولیعهد ټاکل دپاچا په واك کې وو او په پښتنو کې دغه عنعنه ډېره لرغوني ده او ټولو واکمنو ولیعهد تل په خپله خوښه ټاکلی دی. له همدې کبله د مورخ فیض محمدکاتب هزاره او نورو مورخانو په قول امیرشېرعلیخان د خپل وړوکي زوی شهزاده عبدالله جان د ولیعهدۍ اعلان د اختر د لمانځه نه وروسته په خپله وکړ او د لویې جرګې سره یې هېڅ تړاو نه درلود. ملا فیض محمد لیکي:

" امیر شیرعلیخان به جمیع بلدان وتمامت بزرگان اعلان فرموده مشتهرساخت که درشب دوم ماه شوال سال ۱۲۸۸ هجری همه شهر های مملکت افغانستان را ایین بربندند و بکمال زیب و ارایش مراسم چراغان

ولوازم جشن بزرگ ولیعهدی بپای برند و بزرگان ولایت غزنین را تا مقـر و عیان جلال اباد را تا لعل پوره و همچنین اشراف مضافات هـــر ولایـــت را دعوت دارلسلطنه کابل فرمود، و ادوات و الات جشن شاهانه بزرگ مرتـب ساخته تپه مرنجان را جشن گاه قرارداد و در روز عید سعیدفطر شهر را ائین بربسته قرب چهارلک تن که در دارلسلطنه انجمن شده بودند د روقت نمـاز گزاردن عید از تنگی ها چهل وشش فوج پیاده نظام مقیم کابل را باشـــصت ضرب توپ جهت شلک برتل مرنجان امر صحود فرموده شانزده فوج سواره نظام را به کنار چمن هندو سوزان حال موسوم به چمن حضوری تا نصف تل مذکور حکم ایستادن کرد وانگاه خطبه نماز عید نام سردار عبدالله جـــان را تالی نام پدرش خوانده چون نماز گزارده شد امیر شیرعلیخان فرزند ارجمندش را دراغوش کشیده مردم ایستاده پارا اگاه کرد که اینک شهزاده عبـــدالله را ولیعهد خود قرارداده شما را خبرداده ومیدهم که بعد از من بشرط حیـــات وبقای سلطنت و استقلال دولت اریکه امارت افغانستان او ومغوض بدوست که اطاعتش کنید و از امرو نهیش که مطابق امر ونهی خدا ورسول باشد سر نه پیچید و....." (۴۴)

د هېواد بل غیرپښتون تاریخلیکونکی سیدقاسم رښتیا د سراج التواریخ همدغه متن په (افغانستان در قرن ۱۹ - ۲۰ مخ) کې د لوې تویېر سره راوړی دی، پرته له دې چې د فیض محمدکاتب هزاره د تاریخ ذکر وکاندي.

د افغانستان در مسیرتاریخ لیکوال میر غلام محمدغبار د امیر شېرعلیخان د معاصر تاریخلیکونکی خافي (میرزایعقوب علي) دکتاب (پادشاهان متاخر افغانستان) په حواله د امیر شیرعلیخان د لویې جرګې تفصیل ورکړی، لیکن په جرګه کې دولیعهد د پېژندګلوی

کوم ذکر په کې نه لیدل کېږي، بلکې په لویه جرګه کې دهېواد د مهمو او د ارزښت وړ چارو د مطرح کېدلو یادونه کوي. دی وایي:

" برای بار اول امیر شیرعلیخان انعقاد مجالس کبیر مشورتی (لویه جرگه) را درمواردمهم امور کشور امر داد"(۴۵) غبار لومړنی لیکوال ښل کېږي چې د لویې جرګې د عام اوپېژندل شوي منل شوي لفظ په څنګ کې یې دمجلس کبیر کلمه هم په کار راوړله، چې دا په خپله د پښتو ژبې او پښتون قوم سره د مورخ غبار د زړه رخه څرګندوي.

په هېواد کې د طالبانو د اسلامي غورځنګ تر مسلط کېدلو وروسته دپښتنو پر ضد د زهرجنو تبلیغاتو په ترڅ کې په امریکه کې یوې ډلې چې په سر کې یې د ایران تعلیم یافته ( دکتورسیدمخدوم رهین) ولاړ دی، د پښتو نومونو دمتروك کولو یو تحریك روان کړ، دوی په خپلو لیکنو کې د ایراني نومونو په رواجولو او استعمالولو زور واچولو، چې په هغو کې دپوهنتون پر ځای دانشگاه، د پوهنځي پرځای دانشکده، د لويې جرګې پرځای مجلس کبیر ملي نومونه هم شامل دي.

موږ وویل چې غبار دخافي د کتاب په حواله د امیر شېرعلیخان د لویې جرګې ذکر راوړی او لیکلی دی، چې هغه لویه جرګه یا د غبار په قول مجلس کبیر ملي په هېواد کې دځینو مهمو چارو چې په هغه کې د ورونو سره د امیر شېرعلیخان د ژورو اختلافاتو مسئله هم شامله وه جوړه شوه. غبار دخافي لیکنه داسې را اخلي:

" اولین لویه جرگه ازطرف امیرشیرعلیخان درسال ۱۸٦۵ به شمول دو هزار نماینده گان تمام مناطق و طوایف افغانستان تشکیل گردید، تا درمورد مخالف های برادران امیر چون سردارامین خان و سردار محمدشریف خان غور کرده ورای دهند که امیر شیرعلیخان با ایشان چه نوع رفتاری درپیش

گیرد. ریاست این جرگه بزرگ را شخص شاه بدوش داشت. طبق این فیصله جرگه امیربعد از یک اخطار کتبی به قندهار سوقیات نمود، سردارمحمد امین خان برادرخودرا درمیدان جنگ بکشت وقندهار را تامین کرد."(۴٦)

په تېرو پاڼو کې مو پر دې موضوع باندې لړه غونډې رڼا واچوله چې پښتون واکمن امیرشېرعلیخان د فکر او اند پښتني له پلوه د پښتنو د تېرو واکمنو سره پوره توپیر درلود او ښايي له همدې کبله انګرېزانو يې د شخصیت او سیاست سره ضدیت درلود. په پښتنو مشرانو باندې زیات باور او تکیه او پښتو ژبې پلو د هغوی کلکه پاملرنه ممکن پېرنګیان په دې وېره کې غورځولي وي چې داسې چېرې ونه شي پښتانه ټول که لر دي که بر په امیر شېرعلیخان باندې راټول نه شي او د خوشحال خان خټک هغه وینا حقیقت ونه مومي چې ویلي يې وو:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو دننګ په کار پټ او اشکار

پېرنګي ديو هوښيار قوم په توګه دا هم په ياد کې ساتلي وو چې امير د ننګيالي پښتون وزيرمحمد اکبرخان کشر ورور دی او د پښتون غازي محمداکبرخان هغه پښتو مکالمه يې په خپلو کتابونو کې لوستې وه. چې د ويليام هې مکناټن د وژلو نه مخکې يې د تره زوی سلطانجان سره کړی او د (پاتخبر) د نيولو هدايت يې ورکړی و، ددوی د پښتو خبرو موضوع حميد کشميري په (اکبرنامه) او ميرزا عطامحمدپه "نوای معارك" نومي کتابونو کې راوړې ده. حميد کشميری وايي:

| | |
|---|---|
| عموزاده از پس به پشتوزبان | فغان زد که ای خان جادو بیان |
| سخن مختصر کن که ترکان سوار | برون امدند ازمیان حصار |
| زره پوش شمسیرها اخته | بیایند بالای ما تاخته |

کنون ایمنی شرط تدبیر نیست | درین مهلکه جای تاخیر نیست
شکارت باندازه جستن است | بزن ورنه بهرچه بنشستن است
شنیداین سخن لات جنگی تمام | که اموخته بود پشتو کلام.(۴۷)

دنوای معارك مولف (میرزاعطامحمد) هم د وزیر محمداکبرخان غازي د پښتو خبرو یادونه کړې او د مکناتن دنایب (پاتخبر) د سپورو ستغو د اورېدلو نه وروسته د پېرنګي پاتخبر او د ملګرو د نیولو حکم کوي. په نوای معارك کې راغل دي چې:

"سردارمحمداکبرخان موصوف به محض شنیدن این سخن از زبان صاحب معظم الیه نهایت ترش روی و تنګ دل ګردیده غازیان نصرت توامان همرکاب فتح ماب خود را درزبان افغانی حکم داد که:

"اوس وخت د مېړانې دی همت وکړئ، ټول فرنګیان ژوندي ونیسئ"(۴۸)

د اکبرنامي او نوای معارك د معتبرو کتابونو وینا ددې روڼ حقیقت ځرګندونه کوي. چې پښتنو واکمنو او د هېواد د ازادۍ د جګړو اتلانو ټولو د ټولو غیررسمي کارونو لپاره پښتو ملي ژبه کاروله او په همدې ژبه یې خبرې کولې. دپام وړ خبره داده چې فارسي ژبو لیکوالو په خپلو اثارو کې پښتو ژبه د افغاني ژبې او پښتانه یې د افغانانو په نوم یاد کړي دي، چې حمیدکشمیري او مېرزاعطامحمد عین همدغه کړنه ترسره کړې ده.

پېرنګیانو ته ماتې ورکوونکی ملي اتل چې د میوند فاتح په نوم زیات یاد شوی دی، هم د پښتون امیرشېرعلیخان زوی و، همدی و چې په تاریخ کې یې د افغان ولس دننګ او غیرت شمله هسکه وساتله او د خپل پلار په څېر یې د انګرېزانو غلامۍ ته غاړه کېنښوده.

د امیر شېرعلیخان لپاره د کورنیو شخړو راولاړوونکي هم انګرېزان وو او دهمدغه امیر دواکمنۍ په وخت پېرنګیانو د افغانستان په خاوره

تېرې وکړ او د افغان انګلیس دویمه جګړه هم دانګرېزي ښکیلاک له خو پیل شوه. برتانوي پېښلیك لیکونکو د افغان انګلیس ددویمې جګړې دپیل کېدلو لپاره جلا جلا لاملونه بیان کړي دي، چې په هغو کې د روس سره د امیر شېرعلیخان دوستي او سیاسي نږدیوالي ته زیات پام اړول شوی دی، لیکن حقیقت دادی چې انګرېزانو د پښتون امیر د افغاني غرور او برتانوي ښکیلاك ته د غاړې نه ایښودل د شېرعلیخان پر ضد د جګړې د پیل کولو بنسټیز لامل و.

ځینې څېړونکي خو دا هم وایي چې په روسیه باندې باور او اعتماد او د انګلیس سره مخالفت او د ښمني د امیرشېرعلیخان غټه تېروتنه وه او همدې تېروتنې د نوموړي د واکمنۍ لاره د خنډونو نه ډکه او پایلې یې د امیر د مخالفانو او په ځانګړي ډول دسردارعبدالرحمن خان په ګټه وې. لیکن دغه ډول قضاوت ښایي زیات سم نه وي او هغه څه چې امیرشېرعلیخان کول د هغوی په پام کې سم وو. ځکه چې د پښتون واکمن عقیده داوه چې په انګرېزانو باندې باور په خپله یوه غټه تېروتنه ثابته شوې ده او د افغانستان د تاریخ پاڼې په دې اړوند ډېر سندونه خوندي کړي.

هر افغان ته ددې حقیقت په باره کې پوره معلومات شته چې انګرېزانو د لومړي سر نه د پښتنو د واکمنۍ سره صداقت نه دی ښکاره کړی او په بېلابېلو بهانو او تورونو یې دغه هڅه جاري ساتلې ده چې د افغانستان په کورنیو چارو کې دلاسوهنې حق ځانته قایل شي، د هر هغه واکمن او ان چې د ملي شخصیت سره یې د مخالفت او ضدیت غږ پورته کړی او په ورانکارۍ یې لاس پورې کړی دی.

برتانوي ښکیلاك دپښتنو په هېواد کې یوازې دهغو واکمنو ننګه او ملاتړ کړې ده چې دافغان ولس د هیلو پرخلاف یې د انګرېزانو غوښتنو ته غاړه ایښې ده او په افغانستان کې یې د هغوی د ګټو د

خوندې کېدلو ډاډ ورکړی دی. هر پښتون واکمن چې دهېواد خپلواکه ساتلو، پرمختګ او د ولس د سوکالۍ لپاره ملا تړلې ده او د ریفورمونو پلي کولو په تکل یې ګام پورته کړی دی نو برتانوي ښکيلاك ورسره د مخالفت او ضدیت چلند غوره کړی او د هغوی پر وړاندې یې خنډونه راپیدا کړي، چې امیرشېرعليخان او غازي امان الله خان یې ژوندي مثالونه ګڼلی شو.

# پښتو ژبه او امیرشېرعلیخان

په تېرو پاڼو کې ددې حقیقت لنډه یادونه وشوه چې امیر شېرعلیخان د برتانوي ښکیلاك د زیات فشارسره سره دخپل هېواد خپلواکي او د خاورې بشپړتیا خوندي وساتله او په هېڅ وجه یې د هند د برتانوي حکومت ناروا غوښتنې او یو اړخیز شرطونه چې ټول د انګرېزانو په ګټه وو نه منل او د یو خپلواك واکمن په توګه یې د روسې، ایران او پېرنګیانو سره چارچلند وکړ.

امیر لومړنی پښتون واکمن و، چې د هېواد ټولنیز او پوهنیز پرمختګ لپاره یې د اصلاحاتو یو بشپړ او ګټور پلان او پروګرام دریفورمونو په ډول اعلان کړ او په پوره تدبر او زړورتیا سره یې د هغو په پلي کولو لاس پورې کړ. د افغانستان ټولو تاریخلیکونکو تقریباً علامه سیدجمال الدین افغان ګڼلی او داسې یې انګېرلي دي، چې ګڼې امیر ته داصلاحاتو پروګرام د هغه سترپوه او فلسفي له خوا ورکړ شوی و، لیکن زه په خپله دیو طالب العلم په توګه دغه اند نه شم منلی ځکه چې د امیر په اصلاحي پروګرام کې د پښتنو ملي ژبې خواته پاملرنه او ددې ژبې د رسمي کولو او پرمختیا موضوع هم شامله وه.

که چېرته علامه سیدجمال الدین افغاني چې په کونړ کې زېږېدلی و د پښتو ژبې سره د زړه مینه درلودلی نو لومړی به یې په خپله مورنۍ ژبه پښتو یوڅه لیکلي وای او د غربیت له قالب نه راوتلی وای. د سید دژوندانه په وخت او چې کله دی په خپل هېواد کې پاتې و، نو په پښتو ژبه کې ډېر پیاوړي پوهان او شاعران ژوندي وو او په همدې ملي ژبه یې لیکنې کولې او علمي او ادبي اثار یې تخلیق کول. په هغو باندې خبرې ددې کتاب له چوکاټ نه بهر موضوع ده.

سربېره پر دې د علامه سيدجمال الدين افغان تاريخي كتاب "تتمته البيان فی تاريخ الافغان" نه يوازې دا چې په عربي ژبه ليكل شوی، د پښتون پېژندنې او دپښتنو د سترو تاريخي كارنامو په هكله په كې څه نه ليدل كېږي او ان د كورنيو او بهرنيو تاريخليكونكو په پرتله په دې برخه كې كافي كمزورتيا لري. ددې ټكي څخه زما مقصد دادی چې ديو ستر نابغه لپاره ددغسې يوه عادي تاريخ ليكل نه شي كولی د هغوی د نبوغ ځلا راښكاره كړي او يا په پښليك ليكنه كې يې د فكري ځواك څرګندونه وكړي.

زه داسې تصوركوم چې ښايي كوم بل ليكوال نوموړی اثر د كوم ځانګړي مقصد لپاره د علامه له مړينې وروسته د هغوی په نوم ليكلی وي. دويمه خبره داده چې افغان سيدجمال الدين د پښتون امير شېرعليخان په اندازه د افغاني ټولنې دځانګړتياوو او د ولسي ژورو اړيكو سره اشنايي او بلدتيا نه درلوده، چې د پښتو ژبې سره مينه د هغه يوه غټه برخه وه. علامه سيد په سياست او فلسفه كې پوره پوهه درلودله ليكن د پښتني كلتور او پښتو ژبې او ادب سره زيات اشنا نه و، د هغوی سياست او فلسفې هم تر ډېره حده پورې د اسلام او اسلامي نړۍ سره تړاو درلود او افغان او افغانستان په نومونو پورې منحصر نه و، ځكه خو داشك راپيدا كېږي چې د اميرشېرعليخان لپاره د ټولنيزو او اقتصادي صنعتي اصلاحاتو او ريفورمونو پروګرام به علامه سيدجمال الدين جوړ كړی او نوموړي ته د عملي كولو لپاره وركړی وي.

ښايي دا خبره سمه وي چې علامه د اميرشيرعليخان سره نږدې اړيكي لرل او امير هم د هغوی قدر كاوه او په درنه سترګه يې ورته كتل ځكه چې سيد د پوهې له پلوه‌قدر او درناوی وړ سړی و. ليكن ټول خلك يې دعقيدې او مفكورې ملګري نه وو. هغه ديوه سياسي او

مذهبي لیډر نه زیات سیاسي او فلسفي شخصیت و او د اسلام په اړوند یې ځانګړې اند یښنې درلودلې چې ځینو دوستانو او شاګردانو یې لکه محمدعبده د هغه په هکله ځینې لیکنې کړي دي.

موږ وویل چې د امیر شېرعلیخان په وینه کې دپښتو ژبې او پښتون قام سره مینه د تېرو پښتنو واکمنو لکه اعلیحضرت تیمورشاه دراني، شاه شجاع او نورو په پرتله زیاته وه او ددې حقیقت ثبوت هغوی نسبتاً لنډې واکمنۍ په دوران کې ورکړ، چې دلته وربانډې لنډې خبرې کوو.

لکه چې تاریخلیکونکو لیکلي دي اعلیحضرت امیر شېرعلیخان په پښتنو واکمنو کې لومړنی پاچا و، چې د خپل حکومت لپاره یې یوه پیاوړې او منظمه کابینه جوړه او تکړه تکړه وزیران یې په کې وټاکل ددغو وزیرانو لپاره ډېر غوره او له مانادك پښتو نومونه وټاکلی شول چې دې نه مخکې یې سارى نه درلود دا چې په دې پښتو نومونو کې به د امیرشېرعلیخان سره کومو پوهو شخصیتونو مرسته کړې وي کوم لیکلی سند په لاس کې نه شته اویا خو ما ونه موندلی شو، خو په معنوي لحاظ د امیر دغه کړنه په هغه فرهنګ باندې یو رسا ګوزار پېژندل کېده چې اعلیحضرت تیمورشاه دراني په خپل دربار او حکومت باندې مسلط کړی و او په تېرو پلړو کې وربانډې خبرې وشوې.

سربېره پر دې د امیر شېرعلیخان دغه قدم د یو عصري نظام د منځته راتلو لپاره یوه نوې هڅه وه او ددې حقیقت څرګندونه یې کوله چې امیر دپرمختګ او ترقۍ او عصري نوښتونو غوښتونکی دی او دهېواد او ولس د سوکالۍ فکر ورسره دی. هوښیار او وېښ امیر د افغانستان دنوي حکومت جوړښت په لاندې ډول اعلان کړ:

* سيدنورمحمدشاه کندهاري دصدراعظم په توګه (دلوی مختار) په نوم.
* عصمت الله خان غلجی جبارخېل د کورنيو چارو د وزير په توګه چې لقب يې په حشمت الملك و د (لوی مين دغرو ملك) په نوم.
* ارسلاح خان غلجی د بهرنيو چارو وزير د(لوی دباندي) په نوم.
* * حبيب الله خان وردګ دماليې وزير چې دمستوفي لقب يې درلود د (لوی ملك) په نوم.
* حسين عليخان سپه سالار حربيه وزير د (تولمشر) په نوم.
* احمدعليخان تيموري معيرخزانه د امرکل د (لوتولونې) په نوم.
المحمد حسن خان چې لقب يې دبيرالملك و د پاچا سرمنشي د (لوی کښل) په نوم" (۴۹).
د پورتنيو پښتو نومونو تاکلو څخه مخکې امير شېرعليخان د خپل دربار پورې تړلو شخصيتونو لپاره هم پښتو لقبونه ورکړي وو، چې فيض محمدکاتب هزاره د هغوی يادونه په لاندې ډول سره کړې ده:
ايشيك اقاسي شېردل خان ته د(لوی ناب) لقب ايشيك اقاسي وروسته په (شاغاسي) واوښت.
د شېردل خان زوی خدشدل خان ته د (کمکي ناب) لقب.
مېرزا محمد حسن خان د بيرته د (کمناب) لقب"(۵۰).
د پښتو ژبې د پرمختګ او رسمي کېدو خواته د اميرشېرعليخان د پاملرنې اندازه يوازې له پورتنيو نومونو او لقبونو نه شي لګېدلی، بلکې امير د خپلې موخې د پوره کولو لپاره ځينې نورګامونه هم پورته کړي وو، ليکن د هېواد غير پښتنو تاريخليکونکو دهغو بشپړه شرحه نه ده ورکړې او په هغه برخه کې يې تنګنظري کړې ده، د ساري په توګه امير شېرعليخان په يوځې برخه کې يو لړ نوښتونه وکړل او عسکري

تعلیم نامي يې په پښتو ژبه برابرې کړې، خو ځينو ليکوالو وليکل چې امير يوازې عسکري (بولي) په پښتو کړې، وګورئ لاندې ليکنې ته:

" برای افراد اردو لباس بخصوص داده شد وبرای تعلیم انها رساله های درسیی تالیف گردید، که د ران قومانده ها به زبان پشتو ئود، ایـــن اولـــین اقدامی بود که در راه رسمیت دادن بزبان مذکور اتخاذ گردید زیرا تـــا ان وقت کار های رسمی تماماً به زبان فارسی دری اجرا میشد". (۵۱)

د اعليحضرت اميرشېرعليخان پـه امـارت کـې د پښتـو ژبـې د رسـمي کولـو کـار اصلـي موخـه او مقصـد پـه حقيقـت کـې د ايـران د فرهنګي ښکيلاك د ماتولو پر لور يو اغېزمـن ګام و او ورسره ورسره د امير دپښتونولۍ د پياوړي احسـاس ښکـارندوی هـم ګڼل کېده او دغـه احتمـال هـم يقيني کوي، چې ښايي امـير د هغـه ستر او د ارزښت وړ مقصد لپاره يو غښتلی تيم يا د پوهو کسانو ډله د ځان سره لرله، ځکـه چې امير په‌خپله د هېواد دنه او بهر دسـختو سياسي ستونزمنو شخړو سره مخامخ و او زيات وخت يې په هغو کې تېرولو.

د افغانســتان پـه چـارو کـې د پېرنګيـانو، روسـانو، ايرانيـانو لاسوهنې او د محمداعظم خـان، محمدافضـل خـان، عبدالرحمـن خـان قـدرت طلبي او د امـير د خپـل زوی محمديعقوب خـان سر غړونـې او بغـاوت د ذکـر شـويو سـتونزو اوشـخړو يـوه لـړۍ ګڼل کېدلــه، امېرشېرعليخان د نوموړو ستونزو او مشکلاتو سره د مبارزې په دوران کې د هېواد د پرمختګ په هيله د اصلاحـاتو پلي کولـو او دريفورمونـو عملي کولو ته هم ملا تړلې وه او د پښتو ملي ژبې د رسمي کولو ارمـان يې هم په زړه کې پروت و.

پښتون واکمن د پښتو ژبې د رسمي کولو چارې ته پـه پـام ګرځولـو سره په حقيقت کې د يو پښتـون پـاچا پـه تـوګه د خپـل مېړنـي ولـس يـو

ژوندی حقیقت نه غاړه ایښې وه او یو تاریخي مسئولیت یې پرڅای کاوه. دهغوی په اند دغه قدم د وخت یوه غوښتنه او تقاضا وه. د یو هېواد پاتې واکمن په توګه امر ښه یوه شوی و چې د (حشمت الملك- دبیر الملك- ایشیك اقاسي) او داسې نوموته او لقبونه چې په افغاني دربارونو کې په کار راوستل کېږي په اصل کې د ایراني فرهنګ او فارسي ژبې نه سرچینه اخلي او د افغان ولس او افغاني ژبې سره هېڅ اړیکې نه لري او پردي توري او نوموته دي.

امیر دغه تکل کړی و، چې د یو پښتون پاچا دربار د افغانیت تر اغېز لاندې وساتي نه د ایرانیت تر احساس لاندې. پښتو پاچا باید د پښتو او پښتونولۍ یو سمبول اوسي او د پردي فرهنګ د ښکېلاك څخه ازاد وي. هر پاچا باید د خپل هېواد د اصیل فرهنګ ډېوه رروښانه وساتي او دغه ویاړ د خپل ولس څخه ترلاسه کړي.

امیرشېرعلیخان له یوې خوا د خپلو اصلاحاتو پروګرام د عمل په ډګر کې پلی کاوه او له بلې خوا یې د انګرېزانو په شرارت نظر ساتلو اوپه افغانستان باندې د پېرنګي د نوي تیري سره چې احتمال یې ورځ په ورځ زیاتېده د مقابلې او مبارزې لارې لټولې. په دغسې حالاتو کې هم هغه مېړه پښتون د هېواد او ولس په ګټه قدم پورته کاوه.

هغوی خپل ۷۰-۸۰ زره پوځ په نویو وسلو سمبال کړ او یو لړ ګټور کارونه یې پیل کړل، چې دهیواد یو پیښلیك لیکونکی هغوی ته داسې اشاره کړې ده:

" مکاتب ملکی وعسکری را برای بار اول درمملکت اساس گذاشت وکارخانه های توپ وتفنگ سارتی را درمملکت وارد ساخت، صنایع راتشویق می نمود. عسکر منظمی را تشکیل داد، بزبان ملی پشتو توجه کرده اینرا در عناوین رسمی و بولیهای عسکری مروج ساخت، جریده

شمس النهار را تاسیس و مطبعه لیتوگرافی را تورید و تشکیلات دوایــــه را بطرز جدید تبدیل کرد، برای انشانی عمارات و تجدید سرکها و تعمیرپل ها در مرکز وولایات جداً داخل اقداماتِ شد ورروی همرفته درتمام شون ورشته های عمرانی، مالی، اقتصادی وعرفانی به تشبثات اساسی قیام وازید که به این حساب این پادشــا را میتــوان موســس مدنیــت جدیــد در افغانســتان شناخت"(۵۲)

افغانستان ته د نوي مدنيت راوستلو ويـاړ كـه د پښتـون امـير شېرعليخان په برخه دی نو يو بل وياړ هم خدای د هغوی پـه برخـه كړ، چې هغـه د پښتـو علمي ژبې د رسمي كولو او لكه چې مورخ رښتيـا وايي د حكومت په رسمي ليكونو او عناوينو كې ددې حقداري ژبې په كـار راوستل دي دی لومړنی پښتـون واكمـن و، چـې د خپـل ولـس او خپلې مورنی ژبې پښتو حق يې وپېژاند او د خپـل هېواد د پښتنليـك پر وړاندې يې خپله غاړه خلاصه كړه. هغـه پـه پښتـو ژبـه لكه تيمورشاه دراني غوندې شاعري ونه كړه او توري ستركې، كږې وريځې او غشـي مژګان يې ونه ستايل، خو د خوږې او نيازبينې پښتو ژبې خدمت يې په ايمانداری سره وكړ او كـه برتانوي ښكيلاك ورسره سختـه دښمنـي نـه وای راخيستی نو په يقين سره ويل كيدی شي، چې امير شـېرعليخان د زړه له كومې د پښتو ژبې سره مينه درلوده او ددې ژبې د بشپړ رسمي كولو او پرمختګ ته يې ملا تړلې وه.

د پېرنګي حكومت شرارت او د مخ پر وړانـدې سياست Forqard policy د امـير شـېرعليخـان د اصلاحـاتو د پـروګرام د عملـي كولـو پـر وړاندې داسې خنډونه راپيدا كړل چې لرې كول يې د هغه لپاره چنـدانـې ساده او اسانه نه وو كه څه هم د هغوی سره په مبارز ه كې و.

امیرشېرعلیخان د خپلې هوښیارۍ او سیاسي پوهې په برکت د برتانوي ښکیلاك په شیطاني اندېښنو او حرکتونو ډېر ښه پوهیده، چې عین دغه موضوع ( ډاکټر جی، ال، یاورسکي) D.R.J.L. jAWORSKIJ چې د پښتون پاچا شخصي روغتیایي ډاکټر و، د خپل کتاب (سفارت روسیه تزاري به دربار امیر شېرعلیخان) په یوه برخه کې داسې راوړې ده:

" قبل از نزاع من باحکومت انگلیس از طرق مختلف کوشیدند تا مرا بطرف خود جلب کنند و انچه درقدرت داشتند برای اینکه مرا طرفدار خود سازند دریغ نه نمود، پول، اسلحه و کارخانه های صنعتی، متخصصین فنی و امثال ان به من وعده نمودند، من چون خوب مستحضربودم که این وعه هـا بزل وعطای ایشان د قضا با خود چه میاورد و از وضع استعمار و استملاک انها درخاک هند وپیش امد ایشان با امرا وعمای ان مملکت پهناور کاملا واقف بودم.

دوستی با روس ها را ترجیه دادم و انچه راچهل سال پیش پدرم در نظر داشت، خواستم جامه عمل بپوشانم"(۵۳)

ډاکټریاورسکي چې د امیر شېرعلیخان د علاج دنده پر غاړه درلوده په کابل کې د روسیې د سفارت غړی هم و، په خپله سفرنامه کې دې خبرې ته هم اشاره کوي، چې د روسیې دولت د امیر پر وړاندې د یو ډول غلچکي سیاست څخه کار اخیست، په داسې حال کې چې د افغانستان پاچا دروسیې په اړه زیاته خوشبیني ښکاره کوله، دی لیکي:

" امیر تابه اخر عمر خود نمی دانست که چرا روسها به وعده هـــای خود وفا نمی کنند؟ امیرشیرعلیخان فدای خوش باوری وبی اطلاعی خـــود شد".(۵۴)

د افغانستان د پرمختګ او د افغان ولس دهوسایی لپاره د امیر شېرعلیخان نوښتونه او د اصلاحاتو پروګرام هم د ښکیلاکګرو هېوادونو په اند یو خطر پېژندل کېدل او د هغو د ناکامی په هیله یې وران کاریو ته دوام ورکاوه، هغو فکر کاوه چې د علم او پوهې په ډګر کې د افغانستان پرمختګ په راتلونکي کې د ستونزو او سردردی پیداکولو موجب کېدی شي، په داسې حال کې چې افغان پاچا د خپل هېواد لپاره د هر اړخیزې ترقی او ابادی غوښتونکی و.

د امیر ځانګړی طبیب (ډاکټر جی.یاورسکي) په دې اړوند داسې عقیده ښکاره کوي:

" ازطرف دیگر وقت وزمان با او یاری نکرد، دشـــمنان زود ملتفـــت شدند که پیشرفت افغانستان در ساحه علم وفن باعث درد سر بـــرای انـــها خواند گشت. لهذا هیچ دست کمک و امدادی بطرف او دراز نشد."(۵۵)

په ډول حالاتو کې هم امیرشېرعلیخان د ملي ژبې پښتو او پښتون قام پر وړاندې د خپل هوډ د سرته رسولو په لار روان پاتې شو او د ستړیا احساس یې ونه کړ.

مخکې ددې مطلب لنډه یادونه وشوه، چې امیر شېرعلیخان لومړنی پاچا و چې په هېواد کې یې د خپلو اصلاحاتو د پروګرام له مخې لیتوګرافي مطبعه هم په پلازمېنه کابل کې پر کار واچوله او لومړنی اخبار شمس النهار یې هم په همدې مطبعه کې چاپ کړ. سر بېره پر دې د کتابونو خپرولو لړی هم پیل شوه اوپه پښتو دري دواړو ژبو کتابونه د بېلابېلو موضوعګانو په اړه چاپ او خپاره شول، چې

دقاضي عبدالقادرله خوا په پښتو ژبه وژباړل شوې. کتاب " قواعد پلټن پیاده" چې تشریحات یې په دري دي له همدې جملې څخه دی. (۵۶)

هغه هیلې چې امیر د هېواد د هراړخیز پرمختګ په برخه کې له ځان سره لرلې او په هغو کې یوه هیله چې د هېواد د ډېره کیانو ( پښتنو) لپار د زیات ارزښت وړ پېژندل کېدله او په خپله پښتون واکمن هم دغه حقیقت منلی و، د پښتو ژبې د پالنې او دهېواد د رسمي ژبې په توګه د هغې رواجول وو، چې د حالاتو د ویجاړېدو او په افغانستان باندې د برتانوي ښکیلاك د ناروا او رسوا یرغل له امله یې دعمل جامه وانه غوستی شوه.

انګرېزانو او بړېڅو یې امیرشېرعلیخان ته ددې وخت ورنه کړ چې خپل هېواد او پښتانه دپردیو له فرهنګي ښکیلاك له زنځیرونو نه ازاد کړي. د پښتو ژبې د پالنې لپاره د امیر شېرعلیخان تلوسه د بل هرپښتون واکمن نه زیاته وه او کوم بنسټ چې هغوی اېښی و د امیر د ژوندي پاتې کېدو او د واکمنۍ د ځواکمن کېدلو په صورت کې ورباندې یوه دنګه ماڼۍ جوړېدلی شوه. د پښتو ژبې او پښتون ولس لپاره د امیر شېرعلیخان تاریخي ګام ډېرې غوره نتیجې ورکولی شوې.

که چېرته د امیر شېرعلیخان نه وروسته پښتنو واکمنو د نوموړي امیر په فرهنګي لاریون پیل کړی وای نو په افغانستان کې د پردي فرهنګ پر ځای یو غښتلی او پیاوړی پښتني فرهنګ منځته راتلای شو. پښتانه د فارسي فرهنګ له زنځیرونو څخه ژغورل کېدای شول او پښتو ژبه په یوه پرمختللي علمي ژبه بدلېدلای شوه.

امیر د ایمان په رڼا کې دې حقیقت ته رسېدلی و، چې د هېواد د اکثریت خلکو ژبه دغه حق لريّ چې د حکومت رسمي او په ټولو دولیت

چارو کې دچارچلند ژبه وي. ددې خبرې مانا دا نه وه چې ګني د ایران څخه راغلې ژبه دې په بشپړ ډول د کار او رسمیت څخه وژغورل شي، بلکې د پښتو ژبې په رسمي کېدلو سره پښتانه د فرهنګي ښکیلاك له زنځیرونو خلاصېدل او د خپل اصلي فرهنګ باغ وبڼ یې تازه ګي او ښېرازي پیدا کوله او په خپله مورنۍ ژبه دعلم او پوهې خاوندان ګرځېدل او د پردۍ ژبې له اړتیا او احتیاج څخه یې نجات موندلو.

لیکن داسې ونه شول او د امیرشېرعلیخان نه وروسته پښتنو واکمنو د پښتو ژبې د رسمي کولو او ژوندي ساتلو په اړوند د امیر په هغه ملي او علمي لاره باندې د یون کولو همت او جرئت او د پوهنیز قدم پورته کولو مېړانه پیدا نه کړه.

راتلونکو امیرانو او پاچایانو د امیر شېرعلیخان غوندې دملي تفکر او هېواد پالنې د اندېښنو درلودونکي نه وو، همدغه ډول هغوی ونه کړای شول د افغانستان د خاورې بشپړتیا خوندي وساتي او د امیر شېرعلیخان په شان په دې ملي هوډ ودرېږي، چې د هېواد یوه لویشت خاوره چاته خوشې نه کړي، د پردیو سره د افغانستان او افغان ولس دملي ګټو پر ضد تړونونه لاسلیك نه کړي او د هېواد خپلواکۍ ته زیان ونه رسوي، دهېواد یو مورخ د امیر شېرعلیخان په هکله لیکي:

" امیرشیرعلیخان اولین پادشاه سلسله محمدزای بود که هیچ معاهده را با خارجي ها امضاء نکرد که ناقض استقلال افغانستان می باشد ونه هیچ پارچه زمینی را از افغانستان به یک دولت خارجی گذاشت. (۵۷)

د افغانستان په پېښلیك کې دوه مېړني اتلان دي چې د ستراحمدشاه بابا نه وروسته یې د پښتنې مور پۍ حلال کړي دي چې یو امیر شېرعلیخان او بل اعلیحضرت امان الله خان غازي چې د هېواد د ازادۍ او خپلواکۍ د ساتلو او دملي ژبې پښتو سره یې د زړه

مینه ښکاره کړې ده او د افغانیت په جذبه او د پښتونولی په احساس يې هڅه کړې ده چې د خپل ننګيالي ولس د غيرت په هسکه شمله ویاړ وکړي.

# دشېرعلیخان په امارت کې د پښتنو مشرانو درناوی

موږ دروان څېرکي په لومړیو پاڼو کې دې مطلب ته لنډه غوندې اشاره وکړه، چې امیر شېرعلیخان د پښتنو مشرانو او په تېره بیا دهغو نومیالیو اتلانو سره ډېر درونـد او محترمانـه سـلوك كـاوه، چـې د پېرنگیانو پرضد یې غزا او جهاد کړی و او په پوره مېړانه یې د هېواد د ناموس او عزت ساتنه کړې وه. د افغانستان دسیاست د بیړۍ مانوگان پاتې شوي او د پښتو په توپاني سمندر کې یې په هوښیارتیا اوزړورتیا د هغې بېړۍ لارښوونه کړې وه.

د امیر شېرعلیخان په امارت کې تر ټولو درونـد پـېټی د پښتنـو مشرانو په اوږدو اېښودل شوی و، لیکن ددې خبرې مانـا دا نـه ده چې گني د نورو وړو قومونو مشران له پامه غورځول شوي وو.

امیر دپښتنني پیاوړتیا روحیـې او ملي جذبې سره سره د لـږه کیـو قومونو لایق او پوه مشران هم پر خپل ځان راټول کړي وو او د خپـل بـاور په رڼا کې یې اوچت حکومتي مقامونه هغوی ته ورکړي وو. دساري په توگه یو تن هزاره مشر (حسین علیخان) ته یې د سپه سـالارۍ رتبـه او د خپـل امـارت د حربیـه وزارت څوکـۍ سپـارلې وه او همدغـه ډول یـې دتاجك قوم پوه کسان هم په مهمو دندو گومارلي وو. لکه احمدعلیخان تیموري او محمدحسن خان چې لومړنی دټولو خزانه دار( لوټولوفی) او دیوم سړی چې د امیر شېرعلیخان د حضور سرمنشي د بیرالملك (لوی کنبلی) ټاکل شوی و.

نومـوړي امـیر د خپـل پـلار (امیردوسـت محمدخـان) تـر مړینـې وروسـته د هغـه نومیالي ولـس مشـرتوب پـر غـاړه اخیسـتی و، چـې د

انګرېزي ښکیلاك ۱۷ زره منظم پوځ یې د مرګ خولې ته ور اچولي او د برتانیې شاهي ماڼۍ یې جړقولې وه. هغه برتانیه چې په امپراتورۍ کې یې لمر نه ډوبېده او د نړۍ په هېڅ یو ځای کې دماتي سره نه و مخامخ شوی.

د هندوایسرا لارډ او کینډخور (امیلي) په یوه لیك کې لیکلي دي چې ما د هغې ماتې د خبرې اورېدلو ډېر وژړل، موږ ته هغه ناوړه او دردوونکې خبر د ډاکټر برایډن د ژوندي پاتې کېدو له لارې را رسېدلی و. د امیلي له خولې (پیتر هاپکرك) داسې راوړې دي.

" دریافت این خبر تکان دهنده بود و اورا ده سال پیرساخته بود، حوادث بسیار بدبد سرعت واقع شده بود، صرف چند هفته قبل (سرویلیام مکناتن) در نامه ایکه از کابل فرستاده بود اورا مطمین ساخته بود که همه چیز کاملاً تحت کنترول جدی او قرارداد ولی اکنون تمام سیاست لارد در اسیایی میانه برهم خورده بود، بجای انکه یک حکومت دوست در افغانستان برای حمایت هند در برابر تجاوز تدریجی روسها تاسیس میشد. برخلاف بدترین مصیبتی که موجب شکست اردوی برتانیه گردید رخ داده بود.

یک جمیعت وحشي و درنده خو، که با سلاح ساخت خودشان مجهز بودند موفق گردیده بودند، تا نیروی بزرگترین قدرت در روی زمین را تارو مارنمایند و این یک ضربه سختی بود به غرور و حیثیت انگلیس ها."(۵۸).

د برتانیې د ۱۷زره کسیز ځواك په دغه تباهۍ کې د امیر شېرعلیخان ننګیالي ورور( وزیرمحمداکبرخان) ډېره ستره ونډه درلودلې چې د افغانانو پښتلیك یې په ویاړ یادوي.

اوس د انګرېزانو د هماغې شرمناکې ماتې او بې ساري بربادۍ غچ له امیر شېرعلیخان څخه اخیستل غوښتل، د برتانوي هند حکومت هیله درلوده چې پښتون امیر د هغوی د یو ګوډاګي په توګه په

افغانستان کې واکمني ولري نه د یوه خپلواك او ازاد پاچا په حیث خو دا هغه څه وو چې امیر شېرعلیخان ورسره په هېڅ وجه موافقت نه شو کولی او د خپل ولس د غیرت شمله یې نه شوه ټیټولای.

امیر دا غوره ګڼلې وه چې په دې ستره مبارزه کې په خپلو پښتنو مشرانو زیاته تکیه ولري او د حکومت مهمې دندې دغو مشرانو ته وسپاري. د کابینې مشر یا لومړی وزیر دکورنیو چارو او بهرنیو چارو وزیران او داسې نور پښتنو ته ورکړي شول او د سیاست د ډګر عمده لوبغاړي هم پښتانه وو، چې پښتانه وو چې په هغو کې د لاندې پښتنو نومونو د یادونې وړ دي.

ارسلاح خان غلجی او وروریې عصمت الله خان غلجی، حبیب الله خان وردګي چې د سیدنورمحمدشاه خان له مړینې وروسته د نومړي پر ځای صدراعظم وټاکل شو. سردارمحمد ایوب خان غازي، ملا مشك عالم اندړ، غازي محمدجانخان وردګ، غلام حیدرخان وردګي چې مورخ غبار دی د جنرال غلام حیدر خان سپه سالار په نوم هم یاد کړی دی او داسې نور چې په عین حال کې د پوځي ډګر سر تېر اتلان ګڼل کېدل. پېرنګي پتېیلې وه چې په پښتو او پښتونولۍ مین امیر شېرعلیخان په هره طریقه او لاره چې ممکن کېدلی شي د افغانستان له واکمنۍ نه ګوښه او پر ځای یې داسې څوك چې د انګرېزانو شرطونو ته غاړه پسته کړې پاچاهۍ ته ورسوي.

امیر چې په دې حقیقت ډېر ښه پوهېدلی و، نو ددې حالت سره د مقابلې لپاره یې په پښتنو مشرانو باندې تکیه کول د وخت او راغلو سرایطو له مخې یوه اړتیا او ضرورت پېژندلو. امیر پښتو او پښتونولۍ ته په زیات ارزښت قایل و او د همدې عقیدې له مخې یې دلوی احمدشاه بابا نه وروسته دویمه لویه جرګه راوغوښتله او د

افغانستان د خپلواکی اود خاورې د بشپړتیا او ازادی پورې تړلی مسایل یې جرګې ته وړاندې کړل.

وایي چې د امیر شېرعلیخان دپاچا کېدو مهمه مسئله هم د پښتنو د عنعنوی دود دستور سره سمه د قوم د مشرانو او سپین روږو له خوا او د هغو مشرانو د پرېکړې په رڼا کې شوې وه. (ډاکټر یاورسکی) د خپل اثر په اووم څپرکي کې وایي:

" چهار روز بعداز فوت امیر دوست محمدخان، بزرگان وخوانین افغان افغان بروز جمعه بیست وچهارم ماه ذیحجه سال ۱۲۷۹ سردار شیرعلیخان راکه در انوقت ۴۱ سال عمرداشت، به پادشاهي انتخاب نموده و درمسجد جامع شهر هرات خطبه به نامش خواندند."(۵۹)

امیر د خپل نومیالي ولس دغه تاریخي عنعنه چې د اعلیحضرت تیمورشاه دراني له وخت څخه له پام نه غورځول شوې وه. یو ځل بیا ژوندی او د مسایلو دحل یوه ګټوره وسیله وپېژندل شوه، چې دا په خپله د امیر د پښتون فطرت یوه ښه بېلګه هم ګڼل کېدای شي.

امیر شېرعلیخان له یوې خوا د لوی برتانیې د شرارت او شیطنت او له بلې خوا د تزاري روسیې د منافقت یا نه صداقت سره مخامخ و او دیوې نوې جګړې وربخې د لرې نه د افغانستان د هسک پر مخ د راخورېدو په حال کې وې او امیر هغه په خپلو سترګو لیدلې.

پښتو پاچا دواکمن کېدو راهیسې د برتانوي هند د حکومت د ګوابښونو سره پنجه ورکړې وه، درې وایسراګان هند ته راغلل او ناکام ښبرته لاړل، ناکام په دې مانا چې امیرشېرعلیخان یې د خپلې غلامی په ولکه کې رانه ویستلی شو او نه یې د افغانستان خاوره لاندې کړای شوه، هغه درې وایسراګان چې امیریې د ګوابښونو او فشار سره مخامخ و دا وو:

لارډمیو- لارډ نارت بروك - لارډلیتن. ددغو لارډانو زور ته پښتون امیرشېرعلیخان غاړه کې نښبوده او د غلامۍ کوم تړون یې ورسره لاسلیك نه کړ. دهغو لارډانو له جملې څخه (لارډمایو) په تورو اوبویا (کالاپاني) کې دیو پښتون بندي په لاس د زندان په انګړ کې په چاړه ووژل شو.

هغه بندي پښتون په قام افریدی او نوم یې هم شېرعلي و، کله چې لارډمایو د کالاپاني په زندان کې د بندیانو کتنه کوله او ټول بندیان د جېل په انګړ کې ودرول شوي وو، نو لارډ پښتون شېرعلي ته د نږدې کېدو په وخت د هغه له خوا په چاړه ووهل شو او د چړې د ځوګوزارونو په نتیجه کې هغه مړشو.

د لارډمیو د وژل کېدو خبره د څو ورځو او هفتو پورې د برتانوي هند د حکومت له طرف نه پټه وساتل شوه، پښتو شېرعلي په همدې جرم پانسي کړی شو او د وژل شوي وایسرا پر ځای لارډنارت بروك او ددې پسې بیا لارډ لیتن د هند د وایسرا په توګه وټاکل شو او د همدې لارډ لیتن د حکومت په وخت کې د انګرېزانو پوځي ځواکونو له درېیو خواوو پر افغانستان یرغل وکړ چې ۱۸۷۸م کال و.

د شېرعلي افریدي په لاس د لارډمایو د وژل کېدو په اړه ما ( ددې کتاب لیکوال) پر ۱۳۵۰ل کال د ننګرهار په ورځپاڼه کې چې زه یې چلوونکی وم په خپل قلم لیکلی کتاب په پرله پسې ډول خپور کړی دی او اړوند مسایل مې ټول په هغه کتاب کې روښانه کړي دي.

لکه چې وړاندې وویل شول انګرېزانو غوښته پرېکړه کړې وه چې باید په افغانستان کې د امیر شېرعلیخان پر ځای بل څوك د واکمنۍ پر ډېره کېنوي او هغه نوی واکمن داسې څوك وي، چې د برتانیې غوښتنو ته غاړه کېږدي او ددوی د ګټو ساتندوی اوسي او هغه سړی سردار عبدالرحمن خان و.

د همدې موخې او مقصد د پوره کولو په تکل د برتانوي هند وایسرا لارډلیټن په افغانستان باندې د پوځي یرغل حکم وکړ او د افغان - انګلیس دویمه جګړه پیل شوه.

" جنرال سام برون د خپل پوځ سره د ټولو نه مخې د خیبر په دره ور ننوو او د علي مسجد کلا یې تر برید لاندې ونیوله. جنرال رابرټس د افغانستان په خوا یرغل وکړ او جنرال دونالدسیتوارت دکویټې له لورې پر کندهار مارش وکړ." (۶۰)

د جګړې د لمنې پراخېدلو سره ننګیالو افغانانو د خپلو اتلو مشرانو په لارښودنه د هېواد په ګوټ ګوټ کې په انګرېزي ځواکونو باندې خونړي بریدونه پیل کړل او د لومړۍ جګړې توربرېښونه یې د پېرنګیانو په ذهن کې بېرته تازه کړل.

جګړه ۱۸۸۰م کال ته ورسېده او برتانوي جنرالان هم یو دبل پسې بدل شو. د پښتنو د خرپ او ترپ برېدونو په یرغلګرو باندې د شپې خوب حرام کړی و. د همدې ۱۸۸۰م کال د جولایي په میاشت کې د میوند تاریخي جګړه وشوه، چې د افغانستان دتاریخ د ځلي په نوم یاده شوې ده. سردارمحمدایوب خان غازي په همدغه جګړه کې دیوه ځلانده ستوري په څېر وځلېد او د افغان ولس د ننګ او غیرت حماسه یې په یوه استوره بدله کړه.

د پښتنې پېغلې (ملالۍ) له خولې راوتلې ټپې د پښتو ادب د حماسي برخې سرلیك وګرځېدې او دویمه جګړه که څه هم ظاهراً د انګرېزي ښکیلاك په ګټه شوه، لیکن اصلي او حقیقي بری د افغانانو په برخه شوه. چې نړیوالو ته یې دا خبره په ثبوت ورسوله، چې پښتانه د نړۍ تر ټولو نومیالي او ننګیالي ازادۍ دوست او ښکیلاك دښمن قوم دی او هېڅوك د زور له لارې دغه قوم غلامۍ منلو ته نه شي مجبورولی. پېرنګیانو په خپلو سترګو ولیدل چې څنګه یوې پښتنې

پېغلې د بېرغچي له لاسه لوېدلی رپاندې بېرته لـه ځمکې را اوچت او هغه يې په خپله اوږه کېښوده او بیا یې د جگړې پـه ډگر کـې دغـه غـږ انگازه کړ چې:

که په میوند کې شهید نه شوې
خدايږو لالیه بې ننگۍ ته دې ساتینه
ته په میوند کې ځان شهید کړه
زه به سورشال ستا په زیارت وغوړومه.

د ملالۍ دغه اواز د پېرنگي ځواکونو پر سر باندې د بېروونکې او لړزوونکي تندر کـار ورکړ او پښتانـه جنگیـالي لکـه تـپـي زمريـان پـر دښمن ورپرېوتل او د مېونـد ځمکـه د يرغلگرو سـپاهيانو پـه وينـو سـره شوه.

"غبارد ( میرزایعقوب علي خوافي دکتاب " پادشاه هان متاخر افغانستان " په حواله لیکلي چې په دې جگړه کې د انگرېزانـو د ۱۲ زره عسـكرو له جملې څخه يوازې پنځه ويشت تنه په تېښته ژوندي پاتې شول او نـور ټول ووژل شول". (۶۱)

پښتانه په دې جگړه کې هم اتلان وپـېژنـدل شول او د افغانستان د تاریخ پاڼو ددوی دسربښندنو، اتلوليـو او مېړانـې ثبوتونـه پـه خپلـه لمنـه کې خوندي وساتل.

د افغان انگلیس په دویمه جگړه (۱۸۷۸-۱۸۸۰) کې هم د پښتنو ونډه تر ټولو نورو قومونو زياتـه وه او تاریخپوهـان ددې حقيقت اصلي لامل دا ښيي چې پښتانه د هېواد د نـورو قومونـو پـه پرتلـه زيـات دي او ډېره کيـان تـل د جگړې درونـد بـار پـر خپلـه اوږه اخلـي، چې د هغـو لـه جملې نه امریکايي مورخ او څېړونکی لوی دوپـري پـه خپلـو ليكنـو كـې ځو ځو ځايه دې حقيقت ته اشاره کړې ده.

ګڼ شمېر برتانوي ليکوالو او د تاريخي مسايلو څېړونکو د افغان انګليس په جګړو د هغو په بنسټيزو لاملونو، پايلو او تورو سپينو باندې ښه زيات کتابونه ليکلي دي، چې ځينې يې چاپ او خپاره شوي هم دي او لړه برخه يې په پښتو، فارسي، اردو او روسي ژبو ژباړل شوي دي، دغو ټولو ليکوالو، مورخانو او څېړونکو په دې حقيقت د تصديق مهر لګولی دی چې په (افغان انګليس) جګړو کې اصلي هيروګان (اتلان) پښتانه وو.

په دې ډله ليکوالو او څېړونکو کې هغه برتانوی پوځي افسران، سياسي شخصيتونه، جاسوسان او د برتانوي هند د حکومت مامورران او کارکوونکي هم شته چې په خپله يې په جګړو کې ګډون درلود او ځينو نورو يې د عيني شاهدانو په توګه د جګړې د پېښو جريان په خپلو سترګو ليدلی کتلی دی، لاندې موږ د بېلګې په توګه د ځينو ليکوالو نومونه راوړو:

۱. سرونيست ايري: دغه سړی چې يو پوځي ډګرمن و د افغان انګليس په لومړۍ جګړه (۱۸۴۱) کې د نورو يو شمېر انګرېزانو سره يو ځای د وزيرمحمداکبرخان غازي په اسارت کې و او د ازادېدو او د جګړې تر پای ته رسېدو وروسته يې په کور د کېناستلو په وخت د جګړې د پېښو جريان او د سترګو ليدلی حال د يو کتاب په بڼه خپور کړ اود برتانيې د شاهي دولت له خوا ورته د (سر) لقب هم ورکړ شو.

۲. رئا. ټي. ستيوارت: د برتانوی پوځ افسر و چې "په افغانستان کې اور" په نوم کتاب يې چاپ او خپور کړ.

۳. سرجان کين: برانوي جنرال و، چې د غزني دمحاذ قوماندانی دده پر غاړه وه، چې ده هم د افغان انګليس دجګړې په اړه يو کتاب ليکلی او هغه خپور شوی هم دی. پر ۱۳۳۸ ل

کال چې زه د راډيو (پښتون ژغ) دمجلې چلونکی او مدير وم نو ما دهمدغه انګرېزي جنرال سره د پښتنو د جګړې په اړوند يو تاريخي ناول (قهرمان ميميرد) په نوم پرلـه پسې ډول خپور کړ، چې ليکوال يې زه وم. ۴. ميجرالن: انګرېز پوځي و چې د شاه شجاع د حکومت په دوره کې يې په افغانستان کې خدمت کاوه او خپل کتاب يې هم په همدې اړوند ليکلی او چاپ کړی دی، دی په خپل کتاب کې په مېړانه اعتراف کوي:

۴. "زموږ د طمعې او حرص کولو سياست موږ تر ډېرې اندازې د زيانونو او تاوانونو او ظالمانه عملونو خواته ټېل وهلو"(۶۲) دغه سړی په کابل کې د انګرېزانو په (۴۴۵) لمبر پوځ کې په خدمت ګومارل شوی و، دی وايي چې د سفير مکناټن او شاه شجاع د وژل کېدو او د ټولو پوځونو او د هغو له جملې څخه د ۴۴۵ لمبر پوځ د تباه کېدو نه وروسته موږ په دې حقيقت پوه شولو چې په افغانستان او ټوله منځنۍ اسيا کې زموږ د واکمن کېدلو خيال پوچ او غلط و"(۶۳)

۵. هنري ديورند: د انګرېزانو پوځي منصبدار و چې د جګړې په پېښو او د افغان انګليس د اړيکو او ګډو مسايلو په اړه يې کتاب ليکلی او خپور شوی دی.

۶. راولنسن: برتانوی پوه دی چې د افغان انګليس دسياسي حالاتو او شخړو په هکله يې کتاب چاپ شوی دی.

۷. الفنستون: د پوځي او سياسي ډګر فعال کارکوونکی و چې د افغانانو د هېواد په اړه يې کتاب ليکلی دی او خپور شوی.

۸. جیمزهنت: د انګرېزانو د پوځي مسایلو شننونکی (تحلیلګر) دی چې په افغانستان کې يې د خپل پوځ د تباهی په هکله کتاب لیکلی دی.
۹. دوك اف ارګایل: د افغانستان او انګلیس د جګړو په اړوند يې کتاب د ارزښت وړ پېژندل شوی دی.
۱۰. فیلډمارشل لارډرابرټس: د افغان انګلیس د جګړو اوسیاسي شخړو په اړه يې کتاب لیکلی دی.
۱۱. پ. فریدریکس: د افغان انګرېز د جګړو اوسیاسي اختلافونو په اړه يې کتاب چاپ او خپور شوی دی.
۱۲. هاملتن: د افغان انګلیس په جګړو او سیاسي اړوند مسایلو يې کتاب چاپ او خپور شوی.
۱۳. جنرال سیل: په جلال اباد کې د برتانوي پوځونو قوماندان و او د جګړې په پېښو باندې يې کتاب لیکلی او خپور شوی.
۱۴. ارترسوین سن: د افغان انګلیس د جګړې په اړه يې کتاب لیکلی دی.
۱۵. سرپرسی سایکس: په همدې اړوند يې کتاب لیکلی.
۱۶. ایچ. بي. هنر: د افغان انګلیس د جګړو په اړه يې لیکلی اثر خپور شوی.
۱۷. لیپل ګریفن: د امیر عبدالرحمن خان سره د نږدې اړیکو درلودونکی انګرېز دی چې لیکلی کتاب يې چاپ او خپور شوی.
۱۸. هواردهنس من: د افغانستان او انګرېز په جګړو او سیاسي شخړو يې کتاب خپور شوی.

۱۹        سرفریزرتتلر: په افغانستان کې د برتانیې مختار وزیر و او دافغان انګلیس د اختلافونو په باره کې یې اثر چاپ شوی دی.

۲۰        کالونی جان: د پورتنیو یادو شویو جګړو او سیاسي شخړو په هکله یې کتاب لیکلی.

۲۱        الکساندر برنس: په کابل کې د افغانانو له خوا ووژل شو او لیکلی کتاب یې چاپ شوی دی.

۲۲        سرویلیم بارتن: ښايي دا همغه سړی وي چې انګرېز پوه (سراولاف کیرو) یې په خپل کتاب (پښتانه) کې پیژندګلوي داسې کړې ده:

بارتن د انګرېزانو د پوځ دیو افسر زوی و، دغه افسر د افغان انګلیس په لومړۍ جګړه کې له شاه شجاع سره و او دیوې پښتنې سره یې واده کړی و. چې د امیر دوست محمدخان وریره کېدله په دې دلیل د زېږېدلو په اساس بارتن نیم افغان او نیم انګرېز و. دافغان انګرېز په دویمه جګړه کې بارتن د خیبر دسیمې د قبایلي چارو مسئول و، دا سیمه یې د جګړې په نتیجه کې د افغان حکومت نه لاندې کړې وه، دلته شپاړس کاله پاتې شو او بیا تیرا ته د پولیتیکل ایجنټ په توګه تبدیل شو او په پوځي قطعه کې و، دی په خپل اثر کې لیکي چې زیاتې جګړې چې د پښتنو قبایلو او حکومت تر منځ پېښې شوي یوازینی لامل یې د اربابانو او دریم سړي میکانیزم په کارول و." (۶۴)

۲۳        ملیسن: یو برتانوی څېړونکی چې د افغان انګلیس د جګړه ییز مسایلو په اړوند یې کتاب خپور شوی دی.

۲۴        بالدفریس: د افغان انګرېز د جګړو په باره کې یې لیکلی کتاب خپور شوی دی، چې ایراني مورخ مهدي فرخ ورنه ګټه اخیستې ده.

۲۵. فلورنشیاسیل: د جنرال سیل مېرمن ده چې د لومړۍ جګړې په هکله یې یادښتونه خپاره شوي دي.
۲۶. فیریه: د افغان انګلیس د جګړو په اړه یې کتاب چاپ شوی دی.
۲۷. موهن لعل: د امیر دوست محمدخان منشي و او له کتاب نه یې زموږ ځینو تاریخلیکونکو لکه سیدقاسم رښتیا په خپل اثر کې اخیستنې کړي دي.
۲۸. دلیت کمارګهوش: کتاب یې په کلکته کې چاپ شوی او د افغانستان په تاریخي پېښو یې څېړنې کړي دي.
۲۹. کرنیل هالدك: د افغانستان په جګړو باندې یې لیکلی اثر خپور شوی دی.
۳۰. پیتر هاپکریك: د افغان انګلیس د لومړۍ جګړې په اړه یې کتاب چاپ او خپور شوی دی، ده په خپل اثر باندې د ( سترې لوبې GRAETGAME نوم ایښی دی.
۳۱. پاتریك مکروري: ده هم د افغان انګلیس د لومړۍ جګړې او د برتانوي پوځ د تباهۍ یو ښه انځور ویستلی او کتاب یې خپور شوی دی.
۳۲. میجرمتفورد: ( دیو څو سپرو سره د کابل پر لور) دده د کتاب نوم دی او همدوی په خپل اثر کې ویلي دي، چې " دمیوند جګړه په ۱۹ پېړۍ کې په اسیا کې د برتانیې یوه بشپړه ماتې ګڼل کېږي."(۶۵)

دلته دیادونې وړ خبره داده چې ځینو افغان پښتلیك لیکونکو لکه میر محمدصدیق فرهنګ په (افغانستان در قرن اخیر) کې د برتانیې لپاره دمیوند د جګړې ماتې تر دې کچه پورې مهمه او برجسته نه ده

ښودلې لکه څومره چې انګرېز لیکوال میجر متفورد په خپل کتاب کې ښکاره کړې ده.

افغان لیکوال د میوند د جګړې په اړه هڅه کړې ده چې دیپلوماتیکي انداز سره د کتاب لوستونکو ته دغه شك راپیدا کړي، چې د میوند په جګړه کې انګرېزان او د هغوی پوځي جنرال دیو دول برلاسي څخه برخمن و او د سردارمحمدایوب خان پوځي دریځ کمزوري و. زما په اند ښایي نور زیات کسان هم اوسي چې د افغان انګلیس د جګړو په باره کې یې پاخه اثار کښلي وي خو ما دهغو په هکله معلومات نه درلودل، ځکه مې له قلم څخه پاتې شوي دي. ددې کتاب لوستونکي به د مهرباني له مخې ما وبښي، د پورتنیو لیکوالو، څېړونکو او تاریخلیکونکو دیادونې څخه زما اصلي موخه او مقصد دادی چې دوی ټولو په خپلو لیکلو اثار وکې یوازې په پښتنو او ددوی په نومیالیو مشرانو او د افغان انګلیس د جګړو په اتلانو زیاتې خبرې او ګروېږنې کړې دي او نور قومونو ته یې په دویمه درېیمه درجه کې ارزښت ورکړی دی.

دوی په څرګند دول ددې حقیقت یادونه کړې چې په لومړي جګړه کې اوه لس زره تنه برتانوي پوځ او په دویمه جګړه کې دمیوند جنګیالو د جګړې په ډګر اوشاوخوا لرې نږدې سیمو کې په لسګونو زره انګرېزان د پښتنو قبېلو له خوا تباه اوبرباد شوي دي. همدغه مطلب ملا فیض محمد کاتب هزاره په سراج التواریخ کې هم په ډېر لنډیز سره داسې راوړي دي:

" وتمامت کشتگان لشکر انگلیس وخسارات ایشان بقرار نوشته لفتننت ایری که صاحب ناسخ التواریخ انرا از لفظ انگلیسی ترجمه وثبت کتاب نموده است اینست که لفتننت ایری میگوید این ننگ که در افغانستان

دولت انگلیس را افتاده هرگز در مملکت اسیا هیچکس را روی نداده زیـرا که شش فوج پیاده نظام وسه دسته قدر انداز و جماعتی او توپچیان یـوروپ ویک کرور روپیه که هر کروری وی صدلک میباشد خزانه دولت غارت شد ویکصد وچهارتن از بزرگان دولت انگلیس عرضه تیغ ابدار غازیان افغـانـان گردید وهمدرین باب شاعری قصیده در مدح سردار محمد اکبرخان گفتـه است که از تمام ان این یک بیت ثبت کتاب شد:

بهما از سیرسران فرنگ قرن درقرن استخوان بخشی."(۶۶)

د ( افغانستان درقرن ۱۹ ) مولف چې د خپل کتاب په لیکلوکې یې له سراج التواریخ او د موهن لعل د کتاب ( د امیر دوست محمدخان ژوند) څخه زیاته ګټه اخیستې ده فیض محمدکاتب د لیکنې سره دغه ټکی هم علاوه کوي چې:

" اکثریت اردوی انگلیس تاگندمک د راثر هجوم غازی ها غلـزایی و خوگیانی تلف شد و ۴۰ نفر سواره باقی مانده بود که حق مردم سـرخرود رسید و ازین جمله هم ۱۲نفر باقیمانده که مردم اطراف شهر جـلال ابـاد حصه خود شمردند و درپایان کار تنها داکتر برایدن به شرح فوق جان بـه سلامت برد" (٦٧).

د امیر شېرعلیخان په رګونو کې د همدغو پښتنو وینه وه، دی د یو پښتنو اتل وزیر محمد اکبرخان غـازي ورور او د بـل پښتـون اتـل سردار محمدایوب خان غـازي پلار و چې دغـو دواړو اتلانـو د پښتنو جنګیالیو په ملاتړ برتانوي ښکیلاك ته نه هېرېدونکي سبقونه ورکړل.

د افغان- انګلیس دویمه جګړه د همدې پښتون امیر په وخت کې پیل شوه، چې د مورخ غبـار پـه وینـا د افغـان- انګلیـس دلومړۍ جګړې دوام و، غبار لیکي:

" جنگ دوم انگلیس و افغان دنباله همان جنگ اول انگلیس و افغـــان است که فقط با یک متارکه ۳۵ ساله از هم جدا میشوند".

خو زما په انـد دویمه جګړه د پېرنګیـانو لپـاره د لومړۍ جګړې د غچ اخیستلو جګړه وه او موخه یـې د انګرېزانو لپـاره دسیاسـي حیثیت اعاده وه.

# دويم څپرکی

## دامیرعبدالرحمن خان په امارت کې د پښتنو او پښتو حال

د ۱۸۸۰ نه د ۱۹۰۱م کلونو پورې یویشت کاله د پښتنو د پاکې خاورې او دافغان د مسلمان ولس لپاره د یو نوي ښکیلاك پیلامه وه، په دغو یویشتو کلونو کې چې د امیر عبدالرحمن خان واکمني وه هغه څه پېښ شول چې نه یې تصور کېدلی شو او نه چا په خوب کې لیدلی شو.

دغه یویشت کاله د نوي پښتون واکمن د خوږو او تراخو، ښو او ناښو کارونو یوه داسې ټولګه ګڼل شوې ده، چې له تضادونو ډکه ده. امیر عبدالرحمن خان ما ځکه پښتون واکمن وباله چې ده ځان په خپله پښتون پېژندلی دی که څه هم د عمل په ډګر کې د پښتو او پښتونولی او پښتو قام دومره ملګری نه و لکه څومره چې امیرشېرعلیخان و.

دغه پښتون امر په خپل ژوند لیك کې چې په فارسي ژبه یې کښلی دی او یا ورته د ځینو تاریخلیکونکو په قول کوم بل چا لیکلی دی د ځان پېژندګلوي داسې کوي:

" نخستین پادشاه خانواده درانی احمدشاه بود ومن از همان خانواده هستم.")۶۹(

اوس په دې کې هېڅوك شك نه شي لرلی چې امیرعبدالرحمن خان پښتون واکمن و، لیکن دا ښېله خبره ده چې نوموړی د خپلې واکمنی په لاره کې د پښتون قام او پښتو ژبې سره هېڅ ډول همدردي او خواخوږي ښکاره نه کړه، چې دده نه وروسته واکمنو هم د همدې امیر پر لاره یون

وکړ او ددې په نتیجه کې پښتانه د فرهنګي ښکیلاك په زنځیرونو کې تړلي پاتې شول.

د امیر عبدالرحمن خان واکمني په دوو پېړیو وېشل شوې ده، چې پیل یې په ۱۹ مه پېړۍ اوپای یې په شلمه پېړۍ کې راځي. ددوی په ژوند لیك کې سر ترپایه پښتانه د (افاغنه) او پښتو ژبه د (افغاني ژبې) په نوم یاده شوې ده، چې دغه کار ددوی نه مخکې او وروسته ایرانیانو، هندیانو، انګرېزانو او عربو هم کړی او په خپلو څېړنو او لیکنو کې یې دپښتنو لپاره د (افاغنه - افغان) نوم کارولی دی، په داسې حال کې چې امیرعبدالرحمن خان او نورو کورنیو او بهرنیو تاریخلیکونکو د افغانستان نورو لړه کیو ته خپل خپل قومي نومونه راوړي دي. لکه تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، ایماق، نورستاني، پشه یي او داسې نور.

په دې اړه دې وکتل شي د سیدجمال الدین افغان، فیض محمدکاتب هزاره، محمودمحمود، مهدي فرخ، محمودافشار، عباس اقبال اشتیاني، الفنستون، ونیست ایري، سراولاف کیرو، جیمز هینت، مولوی ذکاء الله، محمودالحسن، ظهورالحسن او نورو تاریخلیکونکو او څېړونکو چاپ شوي اثار. امیر عبدالرحمن فارسي ژبې ته فارسي وایي لیکن پښتو ژبه د (افغاني ژبې) په نوم یادوي دی وایي:

" السنه مفصله زیل را میتوانم تکلم نمایم وخطوط انها را بخوانم: افغانی که زبان قدیم افغانستان است، فارسی که زبان علمی است، روسی وعربی و هندوستانی". (۷۰)

که څه هم امیر عبدالرحمن خان ډېر لږ لیك لوست کولی شو او کوم ښوونځی یې نه ولیدلی، لیکن په فطري لحاظ ډېر ذهین او هوښیار سړی و، چې موږ یې دلته د هوښیارۍ یو ښه ثبوت کتلی شو او هغه داچې افغاني ژبه یانې (پښتو) د افغانستان یوه لرغونې ژبه بولي او

چې ديو قوم ژبه لرغوني وي هغه قوم هم لرغونی ګڼل کېږي او دا خبره ددې حقيقت څرګند ثبوت هم منل کېدی شي چې پښتانه يا افاغنه د افغانستان لومړنی او اصلي اوسېدونکي دي او د (افغانستان) نوم د همدوی له وم څخه مشتق شوی دی.

دويمه خبره داده چې امير په خپله وايي: چې زه په افغاني ژبه يانې پښتو خبرې او لوستل کولی شم، امير په خپل ژوند ليك کې څو څو ځلي دغه حقيقت راوړی دی چې وايي: ما دخپلو جنګياليو سره چې ټول پښتانه وو په پښتو ژبه يانې افغاني ژبه خبرې کولې چې د لته ددې وينا د سپيناوي لپاره دده ژوند ليك (تاج التواريخ) نه دغه بېلګې را اخلو:

" من به زبان افغانی به سوارهای خود گفتم که دور ميربابا رابگيريـــد، ميربابا از سرکرده های بدخشان بود" (۷۱)

امير عبدالرحمن په يو بل ځای کې ددې خبرې تصديق کړی چې ټول جنګيالي يې پښتانه وو. دی وايي:

" تمام اجزای لشکر من افاغنه هستند". (۷۲)

ددې بنيادي وجه داوه چې امير د پښتنو په توره، ميړانه، زړورتيا او د خپل مشر (سردارعبدالرحمن) لپاره په سرښندنه او صداقت بشپړ باور درلود، سردار عبدالرحمن په ډېرو تاريخي حقـايقو پوهېده او د خپل پښتـون قـوم لوړې تاريخ جوړونکي کارنامې ورتـه پوره معلومـې وې. سردارعبدالرحمن خان په خپل ژوند ليك کې ددې حقيقت يادونه کړې ده، چې د مغل بابرپاچا او ايران په سوبو (فتوحاتو) کـې هم پښتنو پوره ونډه درلودله، دی وايي:

" نه فقط فتوحاتی که سلاطين افغان نموده اند، به رشـاوت شـجاعان افغان بوده است بلکی فتوحات را برپادشاه که موسس و نخســتي سـلطان سلطنت مغليه در هندوستان بوده است و فتوحات ايران هم بـــه رشـادت

شجاعان افغان بوده است. سلطنتی یا دولتی که بتواند مردمان جنگی افغانستان را با خود همراه نماید اورا تبریک گفت من یقین دارم و هر شخص که از تواریخ اسیا و از خصایل جنگی افغان ها با اطلاع باشد با من متفق خواهد بود". (۷۳)

د پام وړ خبره داده چې انګرېز پوه او څېړونکی (سراولاف کیرو) هم ددې حقیقت یادونه کړې ده چې د مغلو پاچا بابر په هند کې دجګړو او سوبو په وخت د پښتنو څخه ډېره ګټه اخیستې ده، چې هرڅوك کولی شي دغه مطلب د کیرو په مشهور اثر (پښتانه) کې ولولي.

په وړاندې کرښو کې ما دې ټکي ته لنډه اشاره وکړه چې امیر عبدالرحمن خان د افغانستان هر قوم د هغه په خپل نوم یادوي وګوری دې کرښو ته:

" اوقاتیکه پدرم ولایت قتغن را به شما داد طوایف تاجک وعرب و افاغنه قدیم و هزاره را برای خود مجزاء نموده فقط اهالی قطغن را به شما واگزار کرده بود" (۷۴)

امیرعبدالرحمن خان په خپله د افغانستان قومونه په خپل اصلي او تاریخ نوم سره ذکر کوي چې د نومورې په دې کړنه کې سیاست کوم رول نه لري او نه د قومونو نومونه د سیاست پورې تړي او دا یوازې د امیر د فکر ځانګړتیا شمېرل کېږي.

پخوا له دې چې سردار عبدالرحمن خان د افغانستان امارت ته ورسېږي او د (ضیاء الملت والدین) په لقب یادشي، په شمال کې د بدخشان د میرانو مطلق حاکمیت چلېدلو او د میرانو له جملې نه یو تن (میربابا) نومېده چې له ټولو نه پیاوړی و او د سردادرعبدالرحمن خان سره یې ځان پرتله کاوه.

ددغو سیمه ییزو واکمنانو ژبه فارسي وه او په قوم تاجك وو، په داسې حال کې چې سردارعبدالرحمن خان خان افغان گڼلو، لپاره ددې چې د هغه سیمه ییزو مطلق العنان حاکمیت پای ته ورسوی او خپل برلاسی په هغوی باندې ثابته کړي، نو د خپلو افغاني جنگیالیو په ملاتړ یې دهغو پر ضد جگړې پیل کړې.

دغه جگړې زرورې او سختې وې او سردار په خپله د جگړو قومانده په لاس کې درلوده او د جگړې په ډگر کې یې تل په افغاني ژبه (پښتو) خبرې کولې چې موږ یې په مخکنیو کرښو کې یوه بېلگه وړاندې کړه.

سردار عبدالرحمن خان لیکي چې دبدخشان دمیرانو سره دده جگړې زیاتې لاس په لاس وې او په دې جگړو کې یې په افغاني ژبه د خپلو سرتېرو جنگیالیو سره خبرې کولې، چې مقابل لوری یې په خبرو پوه نه شي. د بدخشان میربابا د سردارعبدالرحمن سره ژوره دښمني درلوده او ددوی سپکاوی به یې کاوه، دی (عبدالرحمن بابا) په خپله وایي چې د بدخشاني میر بابا کنځل یې په خپلو غوږو اورېدلي دي، یوه ورځ چې د جگړې په دوران کې دمیربابا له خولې ناسزا اوري نو د خپل جگړه ییز تاکتیك له مخې ځان هغه ته رسوي او خپل تمپك ورته په شقیقه ږدي افغان سردار عبدالرحمن خان دغه صحنه په خپل کتاب کې داسې انځور کړې ده:

" ازمیان همه مردم گذشته نزدیک میربابا رسیده از عقب گردن اورا گرفته ششلول خود را به شقیقه اش گذاشته گفتم:

حالا بگیر این همان افغان است که به او دشنام میدادي" (۷۵)

سردار عبدالرحمن خان چې په خپله د جگړې قوماندان و، په پښتو ژبه پښتنو نوکرانو ته لارښودنه کوي چې د مخې دروازه هم د بدخشي

میربابا پر مخ وتړي، چې د تېښتې لار ورته نوره نه وي پاتې. سردار په خپل ژوند لیك کې داسې لیکي:

" من بزبان افغانی به نوکران خود گفتم دروازه جلو را هم متصـــرف شوند. " (۷٦)

اصلي پېښه چې سردارعبدالرحمن خان بیان کړې ده، داسې وه چې سردار د بدخشان امیر( میربابا ) ته بلنه ورکوي چې د خبرو لپاره د سردار کورته ورشي، میربابا د خپلو وسله والو کسانو سره د عبدالرحمن خان کورته ورننوځي او د سردار نوکران ډېر ژر ئومورړي ته خبر ورکوي، چې میر بابا د خیانت تکل لري او غواړي تاسو ونیسي. سردارعبدالرحمن خان خپله وسله را اخلي او په ډېره زړورتیا میربابا ته ځان رسوي او خپلو پښتنو ساتونکو ته په پښتو وایي چې دروازې بندې کړي. میربابا چې توره په لاس کې نیولې وه او د سردارعبدالرحمن خان د وژلو نیت یې درلود، د سردار د وسلې له وېرې او د زیات هیبت له لاسه یې زړه کېږي او عبدالرحمن خان ورباندې غږ کوي، چې توره له لاسه وغورځوي او خپلو وسله والو کسانو ته حکم وکړي چې وسلې پر ځمکه کېږدي.

میربابا زارۍ کوي چې سردار عبدالرحمن خان یې ونه وژني، توره یې پر ځمکه غورځوي او وسله والو کسانو ته هم وایي چې وسلې پر ځمکه وغورځوي، بدخشاني میربابا د خپلې خاینانه کړنې له امله بښنه غواړي.

پښتون امیر عبدالرحمن خان په دې اړوند لیکي:

" انوقت به میر گفتم من شمارا دوستانه به خانه خود دعوت کردم شـــما چرا عداوتانه حرکت نمودید..؟

وقتی که مردم قبول حکم مرا نموده متفرق شدند، خودم میربابا را باده نفر سوار بخانه اش برده به عیال هایش گفتم برای من شام حاضر نمـــایند." (۷۷)

لـه پورتنیـو څرګندونـو څخـه زمـا موخـه او مقصـد دا وچـې دغـه ثبوتونه ښکاره کړم، چـې سردار عبدالرحمن خان د امارت لـه دورې نـه مخکې خپله ټوله تکیـه یوازې په پښتنو کولـه، د خپلو جنګیالیو او د کور د نوکرانو سره یې په افغاني ژبه (پښتو) خبرې کولې او غیر پښتنو هم نومورې ته دیو پښتنو (افغان) په سترګه کتل.

دا خبرې دمیر غلام محمد غبار د تاریخ غوندې د خپلې ګېډې نـه راویستي، بې سنده او بې ماخذه خبرې نـه دي، بلکـې د هـېواد دیـو تاریخي شخصیت له خولې راوتلې حقایق دي، همدغه شخصیت د خپل هېواد افغانسـتان بېلابېل قومونـه چې لږه کیـان دي پـه خپـو نومونـو یادوي. همدی لیکي: طایفـه هـزاره، قـوم تـاجك، جمشـیدی، ازبـك، ترکمـن او نـور پــه دي اړه دې وکتــل شــي د امــیرژونــد لیــك، امـیر عبدالرحمن خان په خپله ځان افغان بولـي او پښتـون د (افغـان - افاغنـه) په نوم یادوي.

دپام وړ خبره داده چې د اوس وخت هزاره لیکونکی او څېړونکی په یوه خوله امیر عبدالرحمن په (پشتوني ناسیونالیزم) هم تورنوي او د پښتنو ډېر کلك طرفدار او حامي یې بولـي، چـې مـیر محمـد صدیـق فرهنګ په دې اړند څه لیکلي دي او ابو احسان هم په همدې جمله کې دی:

لومړۍ به د ابواحسان د میرمحمدصدیق د لیکنې یو څو کـرښې را واخلو او وبـه ګورو چې ښاغلي فرهنګ پـه دې اړونـد څه لیکي او ابـو احسان څه وایي:

" امیر عبدالرحمن خان برای متلاشی ساختن پیکره نیرومند قومی هزاره، خودرا در عرصه ناسیونالیزم ماد پشتونی قرار داد"(۷۸)

" امیر صریحاً از پشتونها و دربین انها از درانی ها طرفداری میکرد، بنــا بران بجای انکه مانع خراج هزاره ها از افغانستان شود ۱۲ هـــزار خـــانوار درانی و چهارهزار خانوار غلجایی را به ارزگان کوچ داد وزمین های را کـــه قبلاً ملک هزاره بود با انها بخشید، بطوریکه درمنطقه ارزگان که ا انوقـــت قلب هزاره جات و مرکز ان محسوب می شد، فقط یک اقلیت کـــوچـــک هزاره، محروم از ملک وزمین باقی ماند وبس" (۷۹)

ښاغلي ابواحسان او فرهنګ چې له توکميز پلوه دواړه هزاره ګان دي ځکه خو يې د افغان امر عبدالرحمن خان په هکله قضاوت سم او د باور وړ نه شي پېژندل کېدی، لکه چې مونږ په مخکنيو پاڼو کې د پښتنو په اړه د سراج التواريخ او فيض از فيوضات د مولف کاتب هزاره د ناسم او د تعصب نه ډك قضاوت ذکر هم وکړ. دلته به لومړی په لنډيز سره د ابو احسان دليکنې جاج واخلو. دی د امير عبدالرحمن خان د (ناسيوناليزم هاد پشتونی) يادونه کوي، چې زما په اند دا يوه څرګنده تېروتنه ده چې دلته يې دردولو دلايل وړاندې کوم:

۱. کـه چـېرې امـيرعبدالرحمن خـان پـه رښتيـا سـره يـو (ناسيوناليست پښتون) وای نو تر هرڅه وړاندې يې بايد پښتو ژبې ته پام ګرځولی وای او دې ملي افغاني ژبې ته يې خپل دربار او حکومت کې رسمي او سرکاري بڼه ورکړې وای. فارسي ژبې ته يې بايد په دويم مقام کې ځای ورکړای وای. ځکه چې د هېواد ديوې لوې کي قوم ژبه وه ليکن امير دغه کار نه و کړی.

یو ربنتیانی ناسیونالیسټ تر هرڅه مخکې خپله مورنۍ ژبه د ارزښت وړ بولي او هغه له یوه پیاوړي سیاسي او پوهنیز (علمي) دریځ څخه برخمنه کوي. اجازه نه ورکوي چې هغه دې د هېواد د لږه کیانو دژبې تر حاکمیت لاندې وي او د ډېره کیانو د ژوند وسیله دې یوازې او یوازې د لږه کیو ژبه وپېژندل شي.

یو ربنتیانی ناسیونالیسټ د خپلې واکمنۍ ټول کړه وړه د خپل قومیت په کچ عیاروي او په هره کړنه کې همدغه معیار په پام کې ساتي په داسې حال کې چې امیر عبدالرحمن خان پښتانه یوازې د خپلو پوځي بریاوو او سیاسي لوبو وسیله ګرځولي وو. د سردارۍ په دوران کې عبدالرحمن خان هم په خپلو ټولو جګړو کې د پښتنو له مېړانې او زړورتیا څخه ګټه اخیستې ده او د امارت په وخت کې هم پښتانه د جګړو او سیاسي کړکېچونو د اوارۍ لویه وسیله ګڼل کېدله، په داسې حال کې چې امتیازات ټول د فارسي ژبې او ددې ژبې د ویونکو په اختیار کې وو.

دویم دلیل دا چې که چېرته امیرعبدالرحمن خان په ربنتیا یو ناسیونالیسټ پښتون وای نو دخپلې واکمنۍ په دوره کې به یې هېڅکله د پښتنو دلویو او وتلو مشرانو پر ضد توره نه پورته کوله اود هغوی دنابودۍ او له منځه وړل به یې نه وای غوښتي، چې په دې باره کې نورې خبرې به وروسته راشي.

د محمدصدیق فرهنګ خبرې چې ذکر یې مخکې وشو یوازې په سراج التواریخ تکیه لري او دغه تاریخ فیض محمد کاتب هزاره لیکلی چې د افاغنه و خلاف یې کتابونه لیکلي دي او موږ یې په لنډیز سره پېژندګلوي کړې ده.

فرهنګ له یوې خوا عقیده څرګندوي چې امیر عبدالرحمن خان په افغانستان کې د یوپیاوړي مرکزني حکومت غوښتونکی و او په دې

لاره کې یې د هېڅا او هېڅ قوم سرکښي او شرارت نه شو زغملی او له بلې خوا د افغانستان لړه کی قوم (هزاره) د امیر سره دمخالفت غږ پورته کړی چې په داسې حالت کې هغه مجبور او لاچار و، چې د هزاره ګانو سرکښي او شرارت په زور سره له منځه یوسي نو د هزاره قوم سره د عبدالرحمن خان دښمنی کوم قومي لامل نه درلود.

امیرعبدالرحمن خان یوازې هغه څوك خپل دښمن ګڼلو چې ددوی د واکمنی پر وړاندې یې سر راپورته کاوه، هغه که پښتون و که هزاره، که تاجك و یا که ازبك، نو د صدیق فرهنګ یا هزاره محقق ابو احسان دا خبره سمه نه بریښي، چې ګني عبدالرحمن خان یوازې د هزاره قوم سره دښمني درلوده او د هغوی پر ضد یې د (هادپښتون ناسیونالیزم) د احساس او جذبې څخه کار اخیستی دی.

ابو احسان چې (زه یې یو مستعار نوم ګڼم او ښایې تر دې نامه لاندې کومه پېژندل شوې څېره وي) وړاندې وایي:

" عبدالرحمن خان دردتهاجم گسترده خود علیه هزاره ها نیروی عظیم ملیشایې افغان ها را برای سرکوبې اقوام وسیع هزاره گسیل داشت. برحسب براورد، بیگش از یکصدو بیست هزار نیروی مسلح شبه نظامی افغان کوچی شرکت کردند". (۸۰)

ددې حقیقت څرګندونه خو امیر عبدالرحمن خان په خپل ژوند لیك کې هم کړې ده، چې ددوی وسله لښکر په غوښه توګه له پښتنو جوړ شوی و، نو د ابواحسان وینا چندان مورد نه شي پیدا کولی. ددې خبرې اصلي لامل دا و چې امیر د جګړې په معاملو کې یوازې خپل قوم (پښتانه- افغان) د باور او ډاډ وړ ګڼل او دایې برملا ویلي او لیکلي دي. امیر عبدالرحمن خان د بل هېڅا د فکراو عقیدې لاندې عمل نه

کاوه او هرڅه چې يې خپله سم ګڼل هغه يې کول، تاریخ لیکونکو دا د امیر د فطرت يوه ځانګړتیا پېژندلې او منلې ده.

خو ابواحسان يوازې په هغومره ويلو بسنه نه ده کړې، بلکې د هر وړاندې تللی او د زړه براس يې داسې ويستلی دی:

" طرح بر اندازی هزاره ها از صفحه سیاسی وجغرافیایی درگذشته یعنی قبل از به سلطنت رسیدن عبدالرحمن خان درمخیله سرداران پشتون پرورانده می شد اما انها این فرصت را بدست نیاوردند...

اما امیر عبدالرحمن خود را اولی الامرمسلمین، برگزیده خدا وحــــاکم مطلق وقوم افغان را قوم اصیل و باغیرت می پنداشت".(۸۱)

د ابواحسان دغه خبرې چې د امیر عبدالرحمن خان نه مخکې هم پښتانه سرداران ( واکمن) د هزاره قوم د ورکولو او د افغانستان دسیاسي او جغرافیایي نقشې له مخ نه يې ددغه قوم دلرې کولو پسې ملا تړلې وه يو بې بنسټه تور دی ځکه حقیقت نه لري.

حقیقت خو دادی چې د پښتون ستر شاهنشاه اعلیحضرت احمدشاه دراني زوی اعلیحضرت تیمورشاه دراني د کابل ښار د چنداول ديو شعيه هزاره ( شربت علیخان) د لور سره نکاح وکړه او ددوی دوه تنه شهزادګان چې يو يې شاهپور او بل يې عباس دی له همدې هزاره مېرمنې څخه زېږېدلي دي."(۸۲)

د افغانستان د چارو يو تن فرانسوی ماهر، لیکوال او څېړونکی (اولیوروا) چې د (د افغانستان جګړه) په نوم يې هم يو کتاب لیکلی او چاپ کړی دی او دا وخت د طالب ځواکونو دمخالفې ټلوالې یانې احمدشاه مسعود ملاتړ کوي د ابواحسان دعقیدې په پیروي لیکي:

" مناطق پشتون نشین درشمال افغانستان نیزبین میمنه وخان اباد وجــود دارد، این امر نتیجه سیاست موفقی است که امیرعبدالرحمن خان د رپایـــان

قرن اخر( قرن ۱۹) درجهت استیلای پشتون ها بر افغانستان درپیش گرفته بود."(۸۳)

دفرانسوي ليکوال او ژورناليست (اوليوروا) اثر چې په بشپړ ډول د پښتنو ضد روحيه او دريغ لري د هزاره د حزب وحدت د فرهنګي کميتې له خوا د ايران په مشهد(استان قدس) کې چاپ او خپور شوی دی او نن سبا يې د ابواحسان غوندې هزاره ليکوال او څېړونکي ديو تاريخي ماخذ په توګه په کار راولي.

دا چې هزاره ليکونکي او څېړونکي يا ايراني مورخان لکه سيدمهدي فرخ، محمود محمود او نور اميرعبدالرحمن خان ديو (ناسيوناليست پښتون) په توګه پېژندي دفکر مندی او تامل وړ خبره بريښي او کومه ساده موضوع بايد ونه پېژندل شي.

که څوك د امير عبدالرحمن خان د خپلې واکمنۍ دبنسټ مضبوطولو لپاره او هم د خپلې واکدارۍ د مخالفينو په ټکولو او چقولو کې له پښتنو څخه د ګټې اخيستل په (ناسيوناليزم پشتون) باندې تعبير کړي، نو له علمي پلوه دا منطق زيات کمزوری ښکاره کوي په تېره بيا په دې دليل هم چې نوموړي امير د پښتنو قومونو د غوڅو شويو سرونو نه ( کله منار) هم جوړ کړی دی. ( نورې خبرې به وروسته راشي) په عام طور تاريخليکونکو د عبدالرحمن خان په هکله ضد او نقيض قضاوتونه او تعريفونه کړي او دغه پښتون واکمن يې د تضادونو يوه ټولګه بللې ده. چا ورته ديوې اعجوبې نوم ورکړه چې د افغانستان په پېښليك کې يې ډېر ستر کارونه هم سر ته رسولي دي، ليکن ځينو بيا ويني څښونکی، ظالم، جلاد، بې رحم او ډېر سنګدله ګڼلی دی.

ځينو کرکېښ ليکونکو لکه سيدقاسم رښتيا ورته د افغانستان دتاريخ ديو ممتاز سياسي شخصيت نوم ورکړی . ليکن د سدوزيانو د

ستري امپراتوري. د توکړې کونکي په نوم يې هم ياد کړی دی. رښتيا وايي:

" امير دوست محمد خان، امير شيرعليخان وامير عبدالرحمن خان روی همرفته هرسه تن رات بايد شخصيت های ممتاز تاريخ افغانستان قبول کرد. دوره سلطنت کوچک ولی منظم وبا مرکزيت اميرعبدالرحمن خان مرحوم و اين دوره برزخ مملو از حوادث سياسي بوده، و درحقيقت به منزله دوره تجزيه امپراطوری سدوزايي به شمار ميرود که از تجزيه مذکور افغانستان کوچک ولی متحد با حدود معين امروز بوجود امد".(۸۴)

هزاره څېړونکی ابواحسان چې اميرعبدالرحمن يو ( ناسيوناليست پشتون) ګڼلی دی عقيده ښکاره کوي:

" خصلت وطنيت باطن عبدالرحمن خان بر معيار ادمکش وتحقير وشکنجه عجين بود، او بنيان ګزار سياست اعدام، اخراج و اشغل بود".(۸۵)

بل هزاره څېړونکی محمد عيسی غرجستان په خپل خپور کړي کتاب ( کله منار ها در افغانستان ) کې چې د قومي تعصب له مخې کښل شوی دی وايي:

" اميرغدار که از موضوع اگاه بود... و امير وحشي زياده ترېر افروخته ګرديد و..." (۸٦)

مورخ غبار ليکي:

" اميرعبدالرحمن خان مرد شديد البطش و سنگدل بود، با قساوت حکمرانی کرد بخصوص که اوضاع محيط طوری فراهم ميشد که خشونت اورا ميدان وسيع ميداد."(۸۷)

ليکن د پښتون (افغان) قوم غټ دښمن ايراني ديپلومات مورخ سيد مهدي فرخ چې کتاب يې (تاريخي سياسي افغانستان) افغانانو ته له توهين او سپکاوي سپورو ستغو او بدو ردو نه ډك دى د امير عبدالرحمن خان په باره کې داسې وايي:

" اميرعبدالرحمن خان يکی از بزرگترين امرای افغانستان است که بعد از احمدشاه دراني موسس و موجد افغانستان هيچ يک از امرای افغانستان اهليت و کفايت و لياقت وعقل عبدالرحمن خان را نداشتند و به همين جهت در تاريخ افغانستان برای خود موقعيت بخصوصی را حايز گشته و نظر به اهميت اقدامات او. ما هريک را جداگانه شرح خواهم داد. امير عبدالرحمن خان تنها کسی است که در افغانستان قدم های برای صلح امور برداشته و اگر شدت عمل امير عبدالرحمن خان نبود افغانستان به اين سرعت روی اسايش را نمی ديد. امير عبدالرحمن خان تنها اميروزمامدار عاقل و مدبر وذی فکر افغانستان بوده است. اگر سرنيزه انگليس ها نبود هيچ وقت امير عبدالرحمن خان تنها امير عبدالرحمن خان راضی نه ميشد که يک قسمت از خاک افغانستان را به مبلغ جزيی به هندوستان واگذار نمايد، او نبوغ داشت" (۸۸)

د افغانستان امير عبدالرحمن خان په هکله د تاريخ ليکونکو، سياسي څېړونکو او مورخانو ليکنې او ګروهېږنې لکه چې ځرګندېږي په خپله د تضادونو او تنا قصونو يوه مجموعه ده او ددې حقيقت څېره په کې له ورايه برېښي، چې زيات ليکوال، څېړونکي او ان چې مورخان د قومي، مذهبي، توکمي او سيمه ييزو تعصبونو او تنګنظريو نه خلاص نه دي او قضاوتونه يې پر حق او حقيقت باندې نه دي ولاړ.

د لیکنې پر وخت وربانديٍ خپل ذاتي احساسات او جذبات غلبه کوي او د پوهې له رڼا څخه د جهالت او ناپوهۍ تیارې ته ټېل وهل کېږي. یو واحد سړی څوك قاتل، ادم کش، بې‌رحمه، سخت زړه، ظالم او مستبد وبولي او څوك يې نابغه، پوه، لایق، مدبر، هوښیار او د پرمختګ او ترقۍ عاشق او لیوال وښیي.

هغه لیکنې او اثار چې ددغه ډول خلکو له خوا ولیکلی شي څومره ارزښت او یا بې ارزښتۍ درلودونکي به وي؟؟؟

دغه موضوع د هر افغان لپاره په اوسنیو شرایطو او دې وخت کې چې په تاریخي افغانستان کې حالات د پردیو د لاسوهنو او سیاسي بدنیتیو له امله ډېر خواشینوونکي دي د ډېرې پاملرنې وړ پېژندل کېږي.

دغه موضوع ښايي زیاتو کسانو ته پوره جوته نه وي، چې ګڼ شمېر ایرانیانو د افغانستان او افغاني واکمنو د ژوند او د واکدارۍ په هکله کتابونه او مورخانو يې تاریخونه کښلي او خپاره کړي دي چې لړۍ يې د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ له دورې مخکې پیل کېږي. زما په اند دغه لړۍ د رشیدالدین فضل د جامع التواریخ نه پیل کېږي، د عبدالمحمد د امان التواریخ، د فرخ دتاریخ سیاسي افغانستان، د ناصرمستوری کاشانی در افغانستان ، دیپلوماسي دو چهره، د علیرضا علی ابادي د افغانستان او ان چې د چنګېز پهلوان د افغانستان ـ عصرمجاهدین و برامد ان طالبان او نورو پورې دوام مومي.

ایراني تاریخلیکونکو او څېړونکو ټولو په خپلو لیکنو او اثارو کې یوه موخه او مقصد په پام کې نیولي دي او هغه د ایران سیاسي ګټلې او په افغانستان کې د فرهنګي ښکیلاك تداوم دی او بس. زموږ د هېواد مورخانو او تاریخي څېړونکو لکه م، غ، غبار، م جی، فرهنګ

او نورو له همغو کتابونو او تاریخي څېړنو څخه په ګټه اخیستلو خپل اثار بشپړ کړي دي. چې ددغو اثارو او ایراني لیکنو ترمنځ توپیر ډېر لږ دی.

نن ورځ هرېوه او هیواد پال افغان د غه یوه پوښتنه لري چې:

ایا زموږ د هېواد ګران افغانستان کوم غیر پښتون مورخ او تاریخ څېړونکي دغه همت او جرئت کړی دی، چې د ایران د هېواد او ایران واکمنو د ژوندانه او واکدارۍ په اړوند کوم تاریخي اثر ولیکي او یا لږ تر لږه د ایراني تاریخ لیکونکو هغو تېروتنو او غلطیو ته ګوته ونیسي چې په خپلو تاریخي کتابونو کې یې د افغانستان او د افغان ولس په تېره بیا پښتنو (افغانانو) په اړه یې کړي دي؟

ایا د ایراني واکدارانو د فساد، اخلاقي اوسیاسي انحطاط دورې د افغاني واکدارانو له دورو څخه څو څو چنده بد ترې نه وي او ایا په ایران باندې د پښتنو پاچایانو لکه شاه محمود هوتك او شاه اشرف هوتك د ایراني پاچاهانو صفي علیشاه، ناصرالدین شاه، شاه حسین صفوي، اغامحمدقاجار او نادر قلي افشار له دورو نه ښې او بهترې نه وي او د افغانانو د ننګ او غیرت، پت او عزت کیسې ایرانیانو ته په یادګار نه دي پاتې شوي.

ایا پښتون پاچا زلمي شاه اشرف هوتك ته د ایراني د پاچا شاه حسین صفوي دلور د نکاح کولو پېښه په خپله ددې حقیقت ثبوت نه وړاندې کوي، چې ایراني پاچا د پښتون پاچا په اخلاقو او ننګ غیرت باندې زړه تړلی و؟؟

پوښتنه داده چې ولې دې زموږ لپاره د عبدالحمدامان التواریخ او یادې محمدیوسف ریاضي بحرالفواید چې یو توك (عین - الوقایع) یې د افغانستان او افغانانو په هکله لیکل شوي دي ولیکي چې د نورو ایراني مورخانو غوندې اثار د تاریخي تېروتنو او د تاریخي تحریف



ACKU

شویو او مسخ شویو پښتو څخه ډك وي. لیکن زموږ د هېواد تاریخلیکونکي دې نه یوازې په هغو سترګې پټې کړي. بلکې له هغو نه دې په خپلو کتابونو کې هم اخیستنې وکړي او په افغانستان کې دې د فرهنګي ښکیلاك جرړې لا ټینګې کړي. د م. غبار. ص. فرهنګ. پوهاند صدیقي او نورو پښتني ضد لیکنې د ایراني مورخانو او مولفانو د اثارو د ژورو اغېزو یو څرګند ثبوت ګڼل کېږي. هغه څه چې ایراني تاریخلیکونکو او څېړونکو د افغانانو (پښتنو) پر ضد او مخالفت کې ویلي دي. زموږ د هېواد غیر پښتنو تاریخلیکونکو او څېړونکو په ډېر لږ توپیر سره تکرار کړي دي، خو د هغوی او ددوی اصلي موخه یوه ده.

د پښتنو واکمنو او افغان قوم په اړه قضاوتونه او انګېرنې سره نږدې او ورته رنګ او بوی لري. ددواړو لوریو قضاوتونه غیرعادلانه او غیرصادقانه دي او د فرهنګي ښکیلاك موخه ورکې په پام کې نیول شوي دي.

د ایراني مورخانو او څېړونکو په څېر د پښتنو په باره کې د غبار او فرهنګ او صدیق لیکنې هم په تعصب ولاړې دي.

# امیرعبدالرحمن خان او د پښتو ژبې او پښتنو مشرانو برخلیک

دهمدې څپرکي په لومړۍ برخه کې موږ د تاریخ په رڼا کې دغه حقیقت روښانه کړ، چې امیر عبدالرحمن خان دپاچاهۍ د نیولو لپاره په توده مبارزه کې د پښتنو د ځواك او جګړه ییز طاقت څخه زیاته ګټه واخیستله او په شمال کې یې خپل مخالفین د همدوی په مېړانه مات او له منځه یوړل.

موږ ولوستل چې امیر په خپل ژوند لیك کې بیا بیا دا خبره راوړې ده چې ده به خپلو جنګیالیو سره په افغاني ژبه یانې پښتو خبرې کولې او هدایات به یې ورکول او په دې کې لویه ګټه داوه چې د امیر مخالفین که د بدخشان تاجکان وو او که د مزار یا قندوز او فاریاب ازبکان په پښتو ژبه نه پوهېدل او د امیر په خبرو یې سر نه خلاصېده. لیکن د پښتو ژبې د رسمي کولو لپاره چې امیر شېرعلیخان کوم تهداب ایښی و. امارت ته له رسېدو وروسته عبدالرحمن خان هغه تهداب نه یوازې لا پوخ نه کړ، بلکې د نالوستۍ او بې تجربه ګۍ له امله یې هغه له بېخ نه را ونړولو او د پښتنو ژبه (پښتو) یې دیو نامعلوم او دردوونکي برخلیك سره مخامخ کړ.

هغه مینه چې د پښتو ژبې په نسبت د امیر شېرعلیخان په زړه کې پرته وه. د امیرعبدالرحمن خان په زړه کې یې ځای نه درلود. بلکې ددې مسئلې په سیاسي او ملي ګټو هم چندان نه پوهېده.

د انګرېزي ښکیلاك په هکله هم د امیر شېرعلیخان او امیر عبدالرحمن خان د عقیدو او فکرونو ترمنځه زیات توپیر لیدل کېده، د پښتنو مشرانو سره د چال چلند په برخه کې هم ددغو دواړو ترمنځ یو

پراخ واټن لیدل کېده، د امیر شېرعلیخان لپاره د پښتنو مشرانو درناوي یوه ملي وجیبه او سیاسي اړتیا ګڼل کېده. خو د امیر عبدالرحمن خان لپاره ددې وجیبې نه زیات د امارت او پاچاهۍ مسئلې زیات ارزښت او اهمیت درلود او ان چې ددې پاچاهۍ لپاره یې د انګرېزانو دوستي یو لوی غنیمت پېژندلو او د لومړۍ درجه ضرورت ورته ښکارېدلو.

امیر شېرعلیخان چې د خپل هېواد یو لوېشت ځمکه هم د برتانوي هند حکومت ته پرې نه ښوده او یو تړون یې هم د افغانستان دملي ګټو پر ضد د پردیو سره لاسلیك نه کړ، لیکن امیر عبدالرحمن خان دقدرت د لاسته راوړلو نه وروسته ډېرو ځیزونو یا د انګرېزانوغوښتنو ته غاړه کېښوده چې وروسته یه ورباندې خبرې وشي.

د امیرشېرعلیخان پرخلاف د جګړو په وخت امیر عبدالرحمن خان د پېرنګیانو په حمایت او ملاتړ زیات حساب کاوه او دایې منلې وه چې د افغان انګلیس د جګړو ملي اتلان پښتانه یه یو د بل پسې له منځه وړي او د ملي قوتونو زور به دخپل ځان او پېرنګیانو په ګټه اوبه کوي.

کورني او بهرني تاریخلیکونکي او څېړونکي په دې خبره یو خوله دي چې د امیر عبدالرحمن لپاره په دې وخت کې مهم سوال د امیرشېرعلیخان نه د امارت اخیستل او د خپلې پاچاهۍ یقیني کول وو، د سراج التواریخ له مخې په دې وخت کې هم د امیر عبدالرحمن د جګړه مارو ځواکونو قوماندان یوازې او یوازې پښتانه وو او یا خو یې غټ اکثریت د پښتنو و. فیض محمدکاتب ددغو پوښتنو نومونه داسې راوړي دي:

" جنرال غلام حیدرخان توخي سپه سالار، دوست محمدخان جبارخېل. میرثناګل. محمدګل خان جبارخېل. تیمورشاه خان غلجایي

چې د پنجده په جګړه کې یې هم برخه درلوده. جنرال امیرمحمدغلجایي، شمس الدین خان، سیدشاه خان او داسې نور.

هغه وخت چې سردارعبدالرحمن خان په شمال کې دسیمه ییزو ځواکمنو حاکمانو سره په جګړه بوخت و او هغوی یې د ځان تابع کول نو هم یې د پښتنو مېړنو ځوانانو په جګړه ییز ځواك تکیه درلوده او چې کله پاچاهۍ ته ورسېد، نو بیا د زیاتو دغوپښتنو مشرانو او قوماندانانو سره یې د مخالفت لاره خپله کړه. د ساري په توګه هغه پښتون قوماندان چې په (پنجده) باندې د روسانو د تېري په وخت د تېري کوونکو پر ضد جنګېدلی و، پر ۱۳۰۴کې د امیر سره د مخالفت له کبله د امیر په حکم ووژلی شو.

واکمنۍ ته د امیرعبدالرحمن خان د رسېدلو طریقه د زیاتو پښتنو مشرانو لپاره چې دیو پیاوړي ملي احساس درلودونکي وو د منلو وړ نه و، ځکه خو د امیرسره په مخالفت کې ودرېدل.

پښتانه مشران له ځېرمې د انګرېزانو سره د امیرعبدالرحمن خان د نږدې ځانګړو اړیکو درلودلو مخالف وو لیکن د امیر لپاره د پښتنو مشرانو مخالفت کوم خاص ارزښت او اهمیت نه درلود، بلکې د نوموړي لپاره د انګرېزانو سره دوستي او نږدې اړیکو زیات اهمیت او ارزښت درلود، ځکه چې دهغه د واکمنۍ بنسټ په همدغو اړیکو باندې ایښودل شوی و.

پښتنو مشرانو او ټول افغان ولس انګرېزان خپل تاریخي دښمنان پېژندل، ځکه چې تر دې وخته پورې یانې د عبدالرحمن خان دپاچا کېدو تر وخته یې دوه ځلې پر افغانستان تېری کړی او ددې هېواد د غلامولو لپاره یې زیاتې هڅې کړې وې. پښتانه او د افغانستان نور واړه قومونه په دې حقیقت ښه پوهېدل چې پېرنګیان په دې هېواد کې دیو لاسپوڅي حکومت او ددوی د لاس اله واکمن په لټه کې دي او د

امیر شېرعلیخان غوندې کلك پښتون هېڅکله په واکمنۍ باندې نه شي منلی.

همدغه وجه وه چې پښتنو مشرانو د امیر عبدالرحمن او د انګرېزانو په دوستۍ او نږدې اړیکو نه یوازې شك ښکاره کړ، بلکې دهغه سره یې کلك مخالفت هم څرګند کړ. مورخ غبار په دې اړه لیکي:

"مستوفی حبیب الله خان صدراعظم که درنزد انگلیس ها محبوس بود استشمام کرد که سردارعبدالرحمن خان سر سازش با انگلیسها دارد لهذا درخط مکاتبه ای به عنوان سپه سالار بلخ که تا هنوز قتون دست نخورده داشت وبه عنوان ملک عالم وجنرال محمدجان خان که درغزنه مصروف تجدید قوا بودند فرستاده ونوشت که سردارعبدالرحمن خان درپنهانی باانگلیسها ساخته است باید جلو اورا گرفته"(۸۹)

غبار چې د پښتنو له نوم سره حساسیت درلود، دلته یې هم له هماغه حساسیت نه کار اخیستی او د حبیب الله خان له نوم سره یې د (وردك) ذکر نه دی کړی او دی د امیر عبدالرحمن خان صدراعظم نه بلکې د امیر شېرعلیخان صدراعظم و، چې د سید نورمحمدشاه خان له وفات نه وروسته د شېرعلیخان له خوا صدراعظم ټاکل شوی و.

سربېره پر دې مورخ غبار د جنرال محمدجان خان له نوم سره هم د وردك ذکر نه دی کړی او دا نومیالی پښتون اتل و چې د افغان انګلیس په دویمه جګړه کې یې بې ساري مېړانه ښکاره کړې وه او د جنرالۍ رتبه ورته هم د امیر شېر علیخان له خوا ورکړل شوې وه.

امیر عبدالرحمن خان په خپل ژوند لیك کې ددې حقیقت څرګندونه کړې ده چې نوموړي د انګرېزانو دغوښتنې سره سم پاچاهۍ ته رسېدلی دی. د امیر خپله وینا داسې ده:

" درماه جمادی الاول سنه ۱۲۹۷ ش گریفن صاحب مجدداً کـاغذی به من نوشته سعی نموده مرا وادار بکابل رفته عنان سـلطنت افغانسـتان را بدست گیرم" (۹۰)

پـه یـو بـل ځای کـې امـیرعبدالرحمن خـان بیـا هـم دغـه مطلـب تکراروي او لیکي:

" وهمه مردم وعده دادند که از روی اخلاص به شما خدمت نموده بـا دولت برطانیه جنگ خواهیم نمود. من گفتم که لزومی ندارد بـا دولـت برطانیه جنگ نمائید زیرا که انگلیس ها خود مرا دعوت نموده اند قبـول سلطنت نمایم" (۹۱)

امیرعبدالرحمن خان د ۱۸۸۰میـلادي کـال د جولایـي پـه ۲۲ نېټه پـاچـا شـو او ډېر ژر یـانې تـش پنـځه ورځې وروسـته یـانې د ۱۸۸۰ میـلادي کـال د جولایـي دمیاشـتې پـه ۲۷نـېټه یـې د خپـل خان او انګرېزانو په ګټه د نومیالي پښتون سـردار محمدایوب خان غـازي پر ضد چې د افغان انګلیس ددویمې سترې جګړې اتل او د میوند فـاتح و جګړه پیل کړه.

دغـه جګړه د پښتـون ولـس لـه پـامـه یـوه نـا مشـروعه او یـوازې د انګرېزانو په ګټه جګړه وه. ځکه چې پښتنو سـردارمحمدایوب خان یـو مسلمان مېړه پښتون ګڼلو، چې د برتانوي ښکیلاك خلاف یې د ازادۍ پـه خونړۍ مبـارزه او توده جګړه کې ستره ونډه اخیسـتې او د پښتنـو دننګ او غیرت شمله یې هسکه ساتلې وه.

دهېواد یو تاریخلیکونکی په دې اړوند داسې لیکي:

" حقیقت این است که درین وقت در بین عامه مردم خصوصاً پشـتون ها، وجاهت وحسن شهرت ایوب خان نسبت به عبدالرحمن خان بیشتر بود، زیرا که اورا به عنوان فاتح میوند و فرزند امیر شیرعلیخان دشمن انگلیسها و

عبدالرحمن خان را برعکس دوست و دست نشانده دولت مذبور می شمردند"(۹۲)

امیرعبدالرحمن خان دخپل تاریخ په یو بل ځای کې د خلکو د مخالفت لامل داسې بیان کړی دی:

" چندین نفر از ملاها فتوی مذهبی را مهر کرده بودند که امیر عبدالرحمن خان کافر است زیرا که نایب انگلیس هاست"(۹۳)

امیرعبدالرحمن خان ا انګرېزان دواړه پوهېدل چې د امیر سره د پښتنو مشرانو د مخالفت بنیادي لامل د انګرېزانو پر وړاندې د امیر عبدالرحمن خان اطاعت او هغو ته تسلیمېدل دی او همدې اطاعت د امیر د واکمنی په لومړیو ورځو کې غتې ستونزې راولاړې کړې.

امیرعبدالرحمن خان د پښتنو مشرانو د راضي کولو لپاره یوه عاجله چاره دا وکړله چې نومیالی مجاهد او دامیر شېرعلیخان تکړه او یوه پښتون عصمت الله خان جبارخېل خان ته رانږدې کړي او یو لوړ مقام ورته ور وسپاري.

د هېواد یو تاریخلیکونکي لیکلي دي:

" امیرعبدالرحمن خان در مرحله اول عصمت الله خان از جمله مجاهدین را به عنوان صدراعظم مقرر کرد"(۹۴)

عصمت الله خان جبارخېل او بهرام خان جبارخېل هغه کسان وو چې ګڼ شمېر نورو پښتنو سره د انګرېزانو خلاف جنګېدلي او لوی نوم یې هم ګټلی و. افغان ولس ورته درناوی کاوه او د قدر په سترګو یې ورته کتل دا چې امیر عبدالرحمن خان عصمت الله خان جبارخېل خپل صدراعظم ټاکلی و زما لپاره د صدیق فرهنګ دا خبره لږه شکمنه او د تامل وړ ښکاري. ځکه چې امیرعبدالرحمن خان د امیرشېرعلیخان

غونډې کومه منظمه کابینه نه درلودله او ټول اختیارات یې په خپل لاس کې اخیستي وو.

په هر حال پښتون مشر عصمت الله خان جبارخېل هم ډېر ژر د بل پښتون مشر حبیب الله خان وردك چې د امیر له خوا بندي شوی و او ذکر یې په تېرو پاڼو کې راغلی دی زندان ته وغورځول شو او د امیر د ناباورۍ او بې اعتمادۍ ښکار شو. امیر عبدالرحمن خان ډېر ژر په پښتون غازي عصمت الله خان جبارخېل شك پیدا کړ او زندان ته یې د هغه غورځول د وخت د شرایطو نه راپیدا شوی ضرورت وباله. امیر عبدالرحمن خان د خپلې دې کړنې لپاره دغه دلایل راوړي دي:

" عصمت الله خان جبارخیل و دیگر خوانین غلجایی دوست و اقــوام مرحوم شیرعلیخان بودند و ازین جهت با معاندین من مــراوده داشــتند و درمیان طوایف فساد میکردند. به جهت این کار عصمت الله خان را درسنه ۱۳۰۰ش حبس نمودم. چون این شخص یکی از خوانین غلجایی بود محبوس شدن او یکی از جهات هیجان طایفه غلجایی گردید"(۹۵)

غبار او فرهنګ ددغه نومیالي پښتون مشر د وروستني برخلیك په اړه دوه جلا جلا او تر یوه حده ضد ونقیض څرګندونې کړې دي، مورخ غبار پرته له دې چې دخپلې وینا اصلي منبع او ماخذ ښکاره کړي وایي:

" عصمت الله خان جبارخیل درمحبس امیر بمــرد و ارصــلاح خــان برادرش ازطرف امیر اعدام گردید."(۹٦)

تاریخ لیکونکی صدیق فرهنګ د غبار د عقیدې پر خلاف داسې نظر ښکاره کوي:

" در جنوری سال ۱۸۸۲ میلادی عصمت الله خان جبارخیل هم معزول وبه جرم مکاتبه به سردارمحمدایوب خان زندانی گردید وچندی بعد در زندان ازطرف امیر اعدام گردید."(۹۷)

په ختیه پښتون امیرعبدالرحمن خان چې د ټولو سوبو اصلي ځواك يې پښتانه وو اوس يې د خپل سلطنت د بقا او پایښت په لاره کې پښتانه مشران هم قرباني کول، ده پښتانه مشران دیو غمجن او دردوونکي برخلیك سره مخامخ کړي وو او د برتانوي یرغلګرو سره جنګېدلي پښتانه اتلان يې هم معاف نه کړل.

دمیوند فاتح سردارمحمدایوب خان غازي د امیر عبدالرحمن خان سره د جګړې د اوږدولو نه لاس واخیست ځکه انګرېزانو د امیر پلوي کوله او هغه يې د پښتنو مشرانو وژلو ته هڅاوه. غازي سردارمحمدایوب خان ایران ته واوښت او جلا وطنه ژوند يې غوره کړ، لیکن د ایران پاچا ناصرالدین شاه په ډېره بې غیرتي سره هغه پښتون غازي مشر د ۲۵۰ ملګرو سره بې وسلې کړ او ورته یې وویل چې له دي وروسته تاسو ټول د انګلیس د حکومت اسیران یاست او باید هیڅ ډول حرکت له تاسو ونه لیدل شي.

ایراني مورخ محمودمحمود په تاریخ روابط سیاسي ایران وانګلیس ها کې داسې لیکي:

" بیگ مهری ناصرالدین شاه تا به اینجا کشیده شد که این مهمان اصیل ونجیب و جوانمرد شجاع (سردارمحمدایوب خان ) را به خواهش بی جای بیگانه گرفته تسلیم دولت انگلیس کند"(۹۸)

ایراني مورخ محمود محمود دیو ایراني په توګه دا منلې ده چې دایران پاچا ناصرالدین شاه چې دقاجاري کورنۍ یا قوم پورې يې تړاو درلود د پښتون نومیالي سردارمحمدایوب خان غازي په حق کې يې

ډېره بې غيرتي او بې ننګي کړې او د پېرنګيانو غوښتنه يې منلې ده. ليکن د ايرانيانو لپاره سياست او سياسي ګټې دننګ او غيرت نه زيات ارزښت لري او د افغاني ټولنې په څېر په کې ټولنيز قوانين په عنعنوي او دوديز اصولو نه دي ولاړ.

ښايي هغوی دغه دليل ولري چې ټولنه يې د فيوډالي چوکاټ نه وتلې ده. ځکه په کې قبيلوي ارزښتونه ځای نه لري. خو دا منطق او دليل په حقيقت نه دی ولاړ.

په افغانانو ( پښتنو) کې ځينې ځانګړتياوې دي چې دژوندانه ارزښت په همغه تله تلل کېږي او د هر افغان معنوي حيثيت په هغو پورې تړلی دی. ننګ، غيرت د پښتونولۍ د شفاهي قانون عمده برخه ده او که پښتون له دې برخې نه بې برخې او محروم پاتې وي نو په پښتني ټولنه کې ورته بې پښتو وايي او د ژوند حق ورته نه شي ورکړل کېدی.

دلته به د ايران د پاچا نصرالدين شاه قاجار د هغه کړنې په پرتله ديو پښتون ننګيالي د تاريخي کردارياد ونه وکړم ترڅو موضوع پوره روښانه شوي وي:

نادرعلي افشار د ايران يوازينی سني مذهبه پاچا و. ځکه خو ورسره ايراني شعيه ګانو او قزلباشانو ژوره د ښمني درلوده او د همدې دښمنۍ له مخې نومورې په داسې وخت کې د شعيه ګانو او قزلباشانو له خوا ووژل شو. چې هغه په خپل حرمسرای کې د خپلې کورنۍ سره په خوب ويده و.

د ايراني يا خراساني نادرافشار په پوځ کې دلسو پنځلسو زرو نه زيات پښتانه هم وو چې ددغو پښتنو پوځيانو مشران (احمدخان ابدالي) او( نورمحمدخان غلجي) وو او چې کله د نادرقلي د وژل کېدلو خبر ورته ورکړی شو. نو احمدخان ابدالي په چټکۍ سره ځان د پاچا

حرمسرای ته ورساوه او هلته یې ولیدل چې شعیه ګانو یو مشر اغامحمدقاجار د قزلباشو د څو تنو سره یو ځای د نادرافشار په مېرمن او لوڼو باندې د بې ناموسی هڅه کوي او پښتون احمدخان ابدالي د خپل پښتني احساس او پښتني دود دستور له مخې د وژل شوي پاچا د ناموس ساتنه د ځان فرض وګڼل او خبرداری یې ورکړ، چې که هرچا دپاچا زنانه و د بې ناموسه کولو تکل کړی وي نو دی به د خپلو پښتنو جنګیالیو سره دغه مجبوریت ولري چې خپلې تورې له تیکو وباسي او د هغو نه کار واخلي.

په دې ډول احمدخان ابدالي د ایران د وژل شوي پاچا د ناموس ساتنه وکړه او ددې فرضیې په بدل کې د نادرافشار مېرمن د کوه نور الماس چې نادر افشار له ډهلی نه راوړی و احمدخان ابدالي ته بخشش ورکړ.

دغه تاریخي جریان په لږ توپیر سره مورخ غبار او نورو تاریخلیکونکو په خپلو اثارو کې راوړی دی او کومه خیالي کیسه نه ده. سردار محمدایوب خان غازي چې د افغان انګلیس ددویمې جګړې یو نومیالی اتل و. د امیر عبدالرحمن خان له لاسه جلاوطنه شو او پېرنګیانو هغه هند ته ولېږداوه.

هغه په هېواد او ولس مین غازي د خپل هېواد او خپلو خلکو نه لرې د پېرنګیانو د ګومارل شویو ساتونکو تر څارنې لاندې د ژوندانه شپې او ورځې تېرې او له ملي ارمانونو سره یو ځای یې پر ۱۹۱۴م کال له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

په جلا وطنۍ کې د میوند د فاتح دردونکې مړینه د پښتنو مشرانو د تیاره برخلیک پای نه بلکې ددې برخلیک سریزه وه. نورګڼ شمېر پښتانه اتلان لکه غازي جنرال محمدجان خان وردك، غازي ملا محمددین اندړ چې په ملا مشك عالم مشهور و. ملا عبدالغفورغلجی

غـازي. غـازي محمد افضـل خـان د جـنرال محمدجـان خـان وردك ورور، بهرام خان جبارخېل او داسې نـور ټول د امـير عبدالرحمـن خـان د ژورې كينې او ښكاره د ښمنۍ سره مخامخ وو او دا ټول هغه مشران وو چې د هېواد د ازادۍ په لاره كې يې د انګرېزي يرغلګرو سره سختې جګړې كړې وې او په حقيقت كې دا پېرنګيان وو چې د پښتنو اتلانو دمنځه وړلو هيله يې په زړه كې درلوده، ليكن خپله يې په هغو باندې لاس برى نه و موندلى او هغه كار نن د پښتون اميرعبدالرحمن خان په وسيله سرته رسول غوښتل.

ملافيض محمد كاتب هزاره په سراج التواريخ كې په همدې اړه يو مطلب راوړى دى، چې زه په خپله په دغه مطلب كې شك لرم او حقيقت راته نه ښكاري، خو چې د پښتنو د مشرانو پر ضد دامير عبدالرحمن خان كينې ته پام اړوم نو د حقيقت نه راته دومره لرې هم نه برېښي هغه مطلب په لاندې ډول دى:

" درسال ۱۸۸۵ ميلادى بعد ملاقات اميرعبدالرحمن خان باويسـرای هند، انگليسها به امير شمشيرالماس نشان عطا مى كند، شمشيرمكلل به الماس را ويسراى طلبيده در نهايت تعظيم و ادب بر دست اعلى حضرت والا داده وگفت، چون ذات مسعود شما يكى از شجاعان روزگار شمرده مى شـود لايق مى بينم كه اين شمشير به يادگار از دولت ما در دست شما باشد.

امير درجواب ميگويد:

گردن دشمن دولتِ خود و دولت شما را بـه ايـن شمشـيرخواهم زد"(۹۹)

او امير هم خپله دغه وعـده په خپـل وخت او د هېواد دسياسي او ټولنيزو خاصو شرايطو له مخې پوره كړه او پښتانه مشران يې يو پر بـل پسې په يوه او بله بهانه له منځه يوړل.

که څه هم دتاریخ د یو زده کوونکي په توګه او د خپل پښتني احساس له مخې دا مې زړه ته نه لوېږي چې ګني پښتون امیر عبدالرحمن خان دې دیرغلګرو انګرېزانو مشر (وایسرای) ته دغه ډاډ ورکړی وي. چې دی به د انګرېزي ښکیلاك په توره د خپلو او برتانیې د دولت د دښمنانو اورمېږونه غوځ کړي، ځکه چې دغه د هسکو غاړو درلودونکي همغه پښتانه مشران وو، چې په لومړي او دویم جنګ کې یې پېرنګیان د سترو تباهیو او تاریخي ماتو سره مخامخ کړي وو، لیکن د هغو پښتنو مشرانو سره د امیر عبدالرحمن خان کړنو او دناانصافۍ سلوك د پېرنګیانو سره د امیر د کړې وعدې ثبوت وړاندې کوي.

د نومیالي پښتون مشرعصمت الله خان جبارخېل چې صدیق فرهنګ هغه د امیر عبدالرحمن خان د صدراعظم په توګه یاد کړی دی، په داسې حال کې چې وروسته دی په خپله لیکي:

" نظام اداری امیر به تمام معنی اتوکراسی یعنی خودکامگی بود، وی نه صدراعظم داشت ونه وزیر و تمام قدرت دولتی درشخص خودش متمرکز گردیده بود"(۱۰۰)

دعصمت الله خان له وژلو وروسته چې په ده باندې د لګول شوي تور ذکر لږ مخکې شوی دی، امیر عبدالرحمن خان د څو تنو نورو پښتنو مشرانو د له منځه وړلو لپاره د پلمې لټولو په فکر کې شو او ډېر ژر یې دجنرال محمدجان خان وردك د ورور محمدافضل خان او محمد موسی خان صافي د نیولو او بندي کولو حکم وکړ او بیا یې سنګسار کړل.

په پورتنیو پښتنو مشرانو باندې دا تور پورې کړی شوی و، چې ګني د امیرمحمدیعقوب خان د مور سره خط او کتابت کړې او هم یې

دبیني حصار په ښکار ځای کې د امیر عبدالرحمن خان د وژلو تکل کړی و."(۱۰۱)

د افغان انګلیس ددویمې جګړې نومیالی اتل غازي محمدجان وردك هم د امیر عبدالرحمن خان له پامه نه لرې و پاتې شوي. امیر دخپلې واکمنۍ او د پېرنګیانو حقیقي دښمن پېژندلو او دده ژوندي پاتې کېدل یې یو غټ خطر ګاڼه.

جنرال محمدجان خان غازي په خلکو دیو اتل په توګه پېژندل او د زیات درناوي څخه برخمن و. هغه یو سپېڅلی پښتون و چې د سیاست نه یې په پښتونولۍ او اسلامیت باندې زیاته عقیده درلوده. د هېواد او خپل ولس سره دهغوی ژوره مینه د هېچا له نظره پټه نه وه. امیر عبدالرحمن خان ددې ملي اتل لپاره هم دغه بهانه جوړه کړه، چې د امیر پاچاهي د رنګولو فکر ورسره دی او امیر د پېرنګیانو نږدې دوست بولي.

غازي محمدجان خان وردګ د یو قومي او ولسي مشر په توګه سوچ کاوه، لیکن امیر عبدالرحمن خان یو سیاسي شخصیت او د هغه نوي جوړ شوي دولت مشر و، چې د انګرېزانو په ملاتړ منځته راغلی و، امیر دغه هیله درلودله چې په هره ممکنه طریقه وي خپله واکمني په افغانستان کې ټینګه کړې، ځکه خو یې د هرې پېښې او هر مخالف پر وړاندې ډېر غوځ عمل کاوه او ټولې پرېکړې یې په خپل سر او دولس سره له مشورې نه پرته کولې چې دا یوه زورواکي او خودکامه طریقه وه.

امیر عبدالرحمن د جنرال محمدجان خان غازي سره هم په همدې ډول عمل وکړ او هغه یې په یو نامنلي تور زندان ته واچولو. دده سره یو بل پیاوړي پښتون ملا عبدالغفور غلجی چې د پېرنګیانو پر ضد یې په زیاتو جګړو کې د خپلو خلکو مشرتوب کړی او په جوماتونو کې یې د

انګریزانو خلاف وعظونه کول هم زندان ته غورځول شوی او دواړه مشران یو ځای ووژل شول.

غبار او فرهنګ ددغه توریالي او غازي پښتون مشر ( جنرال محمدجان خان وردګ) د وژلو پېښه یو ډول څېړلی، خو داسې برېښي چې فرهنګ د غبار د لیکنې څخه ګټه اخیستې ده. غبار لیکي:

" امیر جنرال محمدجان خان را مخفی توسط دوصد سوار به شهر مزار بنام تبعید اعزام نمود وتوسط دوصد سوار دیگر از مزار که ان جوانمرد را نمی شناختند، دریک منزلی شهر مزار اعدام نمود".(۱۰۲)

له دې وروسته امیر عبدالرحمن خان د یو بل نومیالي پښتون او دبرتانوي ښکیلاك لوی دښمن ملا دین محمد چې خلکو د ملا مشك عالم په نوم پېژانده او د امیر د انګرېز دوستۍ د سیاست کلك مخالف هم و، د نیولو پسې هڅې پیل کړې. د غزني د اندړو د قوم مجاهد پښتون مشر د امیر عبدالرحمن خان په سترګو کې یو اغزی و او ډېر بد یې ورته کتل چې امیر په خپل ژوند لیك کې دملا مشك عالم په هکله داسې لیکلي دي:

" ملامشک عالم که من اورا موش عالم میگفتم واین اسم نسبت به اسم اول مناسب تر بود باین دلیل که صورت اش موش وحرکاتش مذموم بود"(۱۰۳)

اندړ د غلجیو د سترقوم یوه پښه ده او ځینو کورنیو او بهرنیو لیکوالو او تاریخلیکونکو دوی دغلجیو په نوم هم یاد کړی دی. په خپله ملا دین محمد د انګرېزانو خلاف جګړو کې تل د خپل قوم د مجاهدو مشرتوب په غاړه درلوده او دا وخت عبدالرحمن خان نوموړی د خپل یو غټ دښمن په سترګو کتل.

امیر څو ځلي د هغه نه غوښتي وو او دخپلو استازو په لاس یې نوموړي پښتون مجاهد ته خطونه هم لیږلي وو، لیکن ملا مشك عالم د امیر په خبرو او وعدو باور نه درلود او حتی د وېرې احساس یې کاوه، فیض محمد کاتب هزاره د امیر عبدالرحمن خان په نوم د ملا دین محمد د استولي پیغام دیوې برخې ذکر دا ډول کړی دی:

" سه هزار تن بدون خطا وخیانت از بزرگان افغانی که در وقت استیلای دولت انگلیس به مدافعت گرائیده و درحمایت از ناموس مملکت اسلام زحمات شاقه بپای بردند، امروز در زندان کابل محبوس وباعث یاس وهراس مردم شده بنا براین تمامیت مردم که یکی از ایشان منم خودرا درمحل خوف وخطر پنداشته ام". (۱۰۴)

ملادین محمد پر ۱۸۸۶ م کال یانې دوه کاله وروسته له هغه چې د امیر د استازو په لاس یې هغه پیغام امیر عبدالرحمن خان ته ور واستولو په خپل مرګ مړ شو او پر ځای یې زلمی زوی ملا عبدالکریم دقوم مشر وټاکل شو او ده د خپل پلار د مجاهدې لاره غوره کړه.

امیر عبدالرحمن خان دیوه فرمان په ترڅ کې اندړو پښتنو ته چې د مشرتابه دنده یې ملا مشك عالم د زوی پر غاړه وه خبرداری ورکړ، چې که دپاچا اطاعت ونه مني نو سخته سزا به ورکړل شي. ددې سزا لپاره امیر څو لاملونه ښودلي وو او په پای کې امیر په هغه سیمه باندې د بریا موندلو وروسته د هغه ځای د پښتنو له سرونو کله منار جوړ کړ(۱۰۵)

دمخسودو د قوم پښتون نومیالی مشر ملاپیوند دیوه پلاوي په مشری امیرسره دلیدنې لپاره کابل ته لاړ چې هلته په خپله خوله د امیرعبدالرحمن خان نه مرسته وغوارې او د انګرېزانو خلاف یې د مبارزې او مجاهدې لپاره خپل ملګري کړي، لیکن امیر د هغه پښتون

مشر غوښتنه ونه منله او شخصاً یې ورسره د انګریزانو له وړې لیدنه کتنه هم ونه کړه.

مولوی ظاهرشاه په خپل کتاب کې عقیده ښکاره کوي چې کابل ته د تللي پښتنو پلاوي په جمله کې پښتني مېرمنې هم شاملې وې او د امیر سره د کتلو هیله یې درلوده خو دغه هیله پوره نه شوه. (۱۰۶)

امیرعبدالرحمن خان نه یوازې په پښتنو بلکې په نورو قومونو کې هم دسر سړي پرې نه ښودل. هغه د خپلې پاچاهۍ د ټینګښت لپاره د تشدد او مطلق العنانی لاره غوره کړې وه او د امیر شېرعلیخان غوندې یې د هېواد د ستونزو د اوارولو لپاره د ولس نه مشوره نه غوښتله. هغه اوس یو زورور لښکر چې ځینو تاریخلیکونکو ددغه لښکر شمېره شپږ نوي زره (۹۶۰۰۰) تنه ښودلې ده، قوماندانان یې ټول او یا خو غوخ اکثریت پښتانه وو او دعین الوقایع د لیکنې په اساس پېژندل شوې ځېره په کې جنرال غلام حیدرخان د سکندرخان زوی و چې امیر تل د نوموړي د مخالفانو د ټکولو په مقصد استولو.

# پښتو ژبه او د امیر عبدالرحمن خان امارت

تر دې ځایه مود تاریخي حقایقو په رڼا کې د پښتنو مشرانو هغو مشرانو پر ضد د امیر عبدالرحمن خان د کړنو انځور وړاندې کړ، چې د هغو هریو په افغان ولس کې د ملي خدمتونو له کبله ځانګړی مقام درلود او د برتانوي ښکیلاك سره یې د جګړو په ډګرونو کې دتورې او مېړانې په ښکاره کولو سره د ملي اتلانو لقبونه او اعزازونه ګټلي وو.

پېرنګیانو په خپله ددغو اتلانو په هکله ډېر څه لیکلي او خپاره کړي دي او په حقیقت کې د افغانستان د پښتنو ولسونو ډېر عمده څپرکی د همدوی وسله والو د کارنامو ځرګندوی دي، د پښتون ولس د ننګ او غیرت شملې همدغو اتلانو هسکې ساتلې وې.

امیر په خپل ژوند لیك کې ددې مطلب زیاته یادونه کړې چې (افاغنه - پښتانه) د یو جنګیالي ځواك په توګه دده په جګړو او وسله والو مبارزو کې او هم په هغو سوبو (فتحو) کې چې د امیرپه برخه شوي دي لومړی رول لوبولی دی، لیکن پښتانه مشران د انګرېزانو ددولت سره دعبدالرحمن خان د نږدې دوستانه اړیکو او د هغوی سره د سلامشورې کلك مخالف وو او دې مخالفت په وروسته کې نورو وړو قومونو ته هم سرایت وکړ.

امیر د ژوند تر پای پورې د انګرېز شکنو پښتنو اتلانو شخصیت او تاریخي کارنامو ته کوم ارزښت ورنه کړ او نه یې هم دده په وینا افغاني ژبې یا پښتو ته د امیر شېرعلیخان غوندې اهمیت ورکړ، بلکې د هېواد ملي اتلانو او ډېره کې قوم ژبه (پښتو) یې یوازې د خپلې اړتیا او ضرورت له مخې د سیاست په ډګر کې د یو وړوکي او محدود چوکاټ دننه په کار راوستله چې اصلي موخه او مقصد یې د

ځان په ګته د پښتنو قبایلو استعمالولو، چې همدې روان بحث کې به وروباندې خبرې وشي.

امیر عبدالرحمن خان د امیر شېرعلیخان په کچ دیو پیاوړی ملي او قومي احساس درلودونکی نه و او ان چې د پښتونولی په مفهوم هم ښه نه پوهېده چې دغه حقیقت د عبدالرحمن خان د خپلې وینا څخه ډېره ښه څرګندېږي.

امیر عبدالرحمن خان په خپل ژوند لیك کې په دې ویاړ ښکاره کړی دی چې د پلار مور یې د ایران شاه طهماسب له تومنې څخه ده، په داسې حال کې چې د امیر شېرعلیخان مور له پښتنې توك څخه بولي، امیر لیکي:

" مادرپدرم یکي از خواتین شاهی و از نژادشاه طهماسب بوده و مـــادر شیرعلیخان یکی از طایفه سلیم زاي که شعبه از پوپل زای است بوده، هیـــچ یک از اجداد او سلطنت نه کرده اند"(۱۰۷).

د نوموړي امیر دغه لیکنه هم د غیر پښتون څېړونکي (ابواحسان) دا عقیده او فکر باطل ثابتوي چې وایي امیر عبدالرحمن یو پښتون ناسیونالیست و او دهزاره قوم سره یې دهمدې احساس د اغېزې له مخې چلند کاوه.

دویمه دا چې د پښتنو مشرانو او پښتو ژبې سره د امیرچال چلند هم ښايي د ایراني نیا د وینې په پایلې پورې یوڅه تړاو ولري او د ایران د فرهنګي ښکیلاك په اړه د امیر عبدالرحمن خان بې تفاوتي په خپله دهمدې ارثي مسئلې نتیجه ده.

امیر عبدالرحمن خان په خپله ددې خبرې یادونه کړې ده چې په پښتو ژبه خبرې کولی او هغه لوستلی شي، یانې پښتو لیك لوست کولی شي، لیکن د خپلې یویشت کلنې واکمنۍ په دوران کې یې ددې

ملي ژبې رسمي کولو او ژوندي ساتلو لپاره يو قدم هم وانخيست بلکې د پښتون امير شېرعليخان سره دضديت له امله يې هغه تهداب هم ونړولو چې نوموړي د پښتو ژبې د رسمي کولو او پرمختيا په مقصد ايښی و. امير عبدالرحمن خان په خپل دربار کې يو تن پښتون منشي (ليکونکی) درلود چې نوم يې ملا محمدخان و او ځرنګه چې په پښتو ژبه يې د امير ځيني امرونه يا لارښووني ليکلې نو هغه د ملامحمدخان افغان نويس يا افغاني نويس په نوم يادېده.

مورخ غبار ددې سړي په هکله داسې ليکي:

" همچنين از طرف امير رسالات تبليغی ضد انگليسی در کابل بقلم ملامحمدخان افغان نويس حضور در پشتو تحرير و درمطبعه دولت چاپ و درطول سرحدات ازاد منتشرمی گرديد"(۱۰۸)

غبار د خپلې دې يادونې په اړه کومه حواله نه ده ورکړې او د اخيستنې اصلي منبع يې نه ده ښودلې، ځکه خو د افغانستان زيات روڼ اندي دغه پوښتنه راپورته کوي، چې ځنګه امير عبدالرحمن خان دغه مېړانه او جرئت ښکاره کولی شي، چې د خپل تحت الحمايګی په حالت کې او هم د انګرېزانو سره دوستانه تړونونو دلاسليك کولو نه وروسته د هغوی پر ضد تبليغاتي پاڼې د کابل په دولتي چاپخونه (مطبعه) کې چاپ او په ازادو سرحدونو کې خپرې او خلکو ته په لاس ورکړي او ددې تبليغاتي پاڼو ژبه دې هم پښتو اوسي؟

پېژنګيانو چې د امير عبدالرحمن خان په ځنګ کې خپل جاسوسان درلودل او امير هم له هغو نه بې خبره نه و، ځنګه يې کولی شول د خپل ملاتړ کوونکو انګرېزانو پر ضد د ورانکاری تکل وکړي او د ازاد سرحد پښتانه په تبليغاتي پاڼو باندې د هغوی پر خلاف راوپاروي چې غبار د همدې موضوع يانې د انګرېزانو پر ضد د امير

عبدالرحمن خان ددښمنۍ په اړه پرته له دې چې د خپلې وینا ثبوت یا اصلي منبع وښیي وړاندې لیکي:

" امیر عبدالرحمن خان چون نفرت شدید مردم را در برابر انگلیس میدید در داخله و سرحدات ازاد افغانستان شرقی روح جهاد و دشمني بانگلیسها را می دید و کتب و رسالاتی درین موضوع منتشرمیساخت.."

او علنا دربارهای خود از بیوفایي وغداری دولت انگلیس و دشمنی او با اسلام سخن میگفت ومردم را تشجیع مینمود و.."(۱۰۹)

غبار د هغو کتابونو او خپرونو نوم نه اخلي چې په پښتو ژبه یا فارسي د امیر په لارښود لیکلی شوي او چاپ شوي دي او د انګرېزانو ضد روحیه یې درلوده. همدغه مورخ دغه دعوه هم کوي چې امیر عبدالرحمن خان د انګرېزانو سره دښمني دې حد ته رسولې وه که ځوک به د انګرېز سفارت مخې ته پر لاره هم تېر شوی و نو د اعدام حکم به یې ورباندې کاوه.(۱۱۰)

که د مورخ دغه بې سنده خبره حقیقت ولري او د خان نه جوړه کړې شویّ نه وي دا خو په ځرګند ډول د پېرنګیانو سره د امیر عبدالرحمن خان دسرې جګړې مانا ورکوي او د سړې جګړې پای تل توده جګړه وي.

که چېرې په رښتیا سره امیر عبدالرحمن خان انګرېزان د اسلام دښمنان ګڼل او په همدې تکي یې ورسره ورانه وه نو بیا امیر ولې هغه پښتانه نومیالي مشران او پیاوړي ملایان چې د پېرنګیانو سر سخت دښمنان وو د انګرېزانو د مخې نه لرې او د نابودۍ کندې ته یې وغورځول؟

دهغوی یوازینی جرم خو د امیر په نزد دا و چې د انګرېزي ښکیلاك دښمنان او د پېرنګیانو سره د امیر ددوستۍ کلك مخالفین

دي، که چېرته امیر عبدالرحمن خان هغوی ځان ته راټږدي کړي وای او د پېرنګیانو سره د مبارزې په لاره کې یې خپل ملګري کړي وای نو هلته به د انګرېزي حکومت او دولت سره د امیر دکښنې او نفرت او د ښمنۍ ثبوت خلکو لیدلی وای.

دپام وړ خبره داده چې مورخ غبار د خپلې پورتنۍ لیکنې نه یو څو کرښې وروسته ، د سراج التواریخ د ۴۶۸مخ په حواله هغه مطلب راوړي چې د برتانیې د ملکې ویکتوریا د فرمان له مخې امیر عبدالرحمن خان ته د( ستاره هند) لقب ورکړل شوی دی او امیر په هغه فرمان کې د ملکې له خوا د دلاور اعظم په نوم یاد شوی او توصیه ورته شوې ده چې دستاره هند او دلاور اعظم له ټولو حقونو نه ګټه واخلي.

دسراج التواریخ د متن څو کرښې داسې دي:

" چون ما بدولت مناسب دانستیم که شـــمار را ریـــس دلاوراعظـــم احترامی طبقه اعلای ستاره هند نامزد ومقرر سازیم لهذا به ذریعه خط هـــذا شمارا خطاب ریس دلاوراعظم احترامی اعلای ستاره هند میدهیم و شمار را ماذون و مجاز می کنیم که شما رتبه مذکور را نگهدارید و به حقوق کلـــی وجزیی که لاز و ملزوم رتبه مذکور میباشد مستفید ومتمتع شوید، بدســـت خط ما بدولت، و مهر طبقه مذکور امروز ۱۱ اپریل ۱۸۸۵ عیسوی و سال ۴۸ جلوس میمنت مانوس فرمان هذا به صدور پیوست" (۱۱۱)

ددغه تاریخ سند په رڼا کې لیدل کېږي چې د مورخ غبار لیکلې خبرې او د انګرېزانو خلاف د امیر عبدالرحمن خان دښمني او ضدیت د حقیقت سره اړخ نه لګوي او د هغو خبرو په جمله کې راځي چې غبار له خپله ځانه جوړ کړي دي.

د امیر عبدالرحمن خان د حضور پښتون منشي ملامحمد خان افغاني نویس په قلم د لیکل شویو تبلیغاتي اشتهارونو یا پاڼو چې

ځانګړی تاریخي ارزښت یې درلود او د انګریزانو پر ضد وې او دیوه عمده سیاسي مقصد لپاره په پښتو ژبه لیکل او خپرې شوې وې، هغه هم د ازاد سرحد په خلکو کې چې ټول پښتانه دي. د بېلګې په توګه یوه پاڼه هم نه ده موندل شوې او نه چالیدلې ده، په داسې حال کې چې د بهرنیو هېوادونو ډېرو وتلو تاریخ لیکونکو او څېړونکو په افغانستان کې د خطي کتابونو او پاڼو په اړه خپلې لیکنې او څېړنې په نړیواله سطح خپرې کړې دي. چې د هغو له جملې څخه یو تن ( استاد پروفیسر دوبورکوي فرانسوی) دی. دغه سړی چې اصلاً یو راهب دی د حضرت خواجه عبدالله انصاري او مولانا جامي هیروي (نورالدین) په اثارو او شخصیتونو باندې پخې څېړنې کړې او خپرې کړې دي.

نوموړي فرانسوي محقق پر ۱۹۶۴میلادي کال د پاچا محمدظاهرخان په وخت دشاهي کتابتون، د پوهنې د وزارت د کتابتون، د مطبوعاتو د مستقل ریاست د کتابتون او ځینې نورو کتابتونونو د خطي کتابونو او پاڼو په هکله خپل څېړنیز اثر په دوو برخو کې چاپ او خپور کړی دی، په فرانسوي ژبه لیکلی شوی او د فرانسې دختیځ پېژندنې د ادارې له خوا په پاریس کې خپور شوی دی. لیکن د ملا محمدخان افغاني نویس د هغو مهمو تاریخي پاڼو هېڅ پېژندګلوي نه ده شوې. چې د امیرعبدالرحمن خان په لارښوونه یې د انګرېزي ښکیلاک ضد په پښتو ژبه لیکلي او د ازادو سرحدونو په پښتنو یې وېشلي وي.

بله خبره داده چې که امیر غوښتلي د سرحداتو پښتانه د انګرېزانو د حکومت خلاف راوپاروي او پر دې ډول د پېرنګیانو پر وړاندې ستونزې راپیدا کړي، نو د مولو محمدظاهرشاه وزیر د لیکلي تاریخي کتاب په حواله خو مونږ ولیدل چې د سرحد ازادو پښتنو د محسودو د قوم یو نومیالی قومي مشر ملاپیوند خو د یو پلاوي په مشرۍ چې

۱۸۷۰ تنه په کې وو او ښځو هم په هغه کې ونډه اخیستې وه کابل ته په همدې مقصد لاړل چې د انګرېزي ښکیلاك پر ضد د جګړو د دوام لپاره د امیر عبدالرحمن خان مرسته لاسته راوړي، خو امیر ورسره د انګرېزانو له وېرې لیدنه کتنه هم ونه کړه، بلکې د حکومت نورو کارکوونکو ته یې هدایت ورکړ، چې د پښتنو د هغه پلاوي سره وګوري او کتنو یې هم کومه نتیجه نه درلودله. په دې حالت کې امیر د کوم دلیل او منطق له مخې بیا هم په خپل منشي ملامحمد خان افغان نویس باندې پښتو تبلیغاتي پاڼې ولیکي او هغه پاڼې بیا د ازاد سرحد په پښتنو کې خپرې کړي؟

که چېرته په ختیځ پښتون امیر عبدالرحمن خان پښتو ژبې ته دومره له ارزښت کتلي وای نو په کار وو چې د امیر شېرعلیخان غوندې یې د هېواد د ډېره کیانو دغه ژبه رسمي کړې او خپل ځان او پښتانه یې دیوې پردۍ ژبې او د فرهنګي ښکیلاك له زنځیرونو څخه خلاص کړي وای. په دې وخت کې چې امیر عبدالرحمن خان د افغانستان واکمن پېژندل شوی و، لیکن ژبه د نوموړي دربار او حکومت د چار چلونې ژبه نه وه منل شوې. هلته غټو غټو انګرېزي پوځي او غیر پوځي افسرانو او کارکوونکو د پښتو ژبې زده کړې ته زیات زور ورکړی و او دغو ملکي او نظامي مامورینو د پښتنو په سیمو کې په پښتو ژبه چال چلند کاوه.

لیپل ګریفن چې د امیر عبدالرحمن خان په دربار کې د برتانیې د حکومت ګومارل شوی استازی و په پښتو ژبه ډېر ښه پوهېده، څکه چې امیر په خپل ژوند لیك کې ددې خبرې یادونه کوي چې ګریفن به انګرېزانو سره د امیر د کتنې او خبرو په پښتو ژبه د ژباړن ( ترجمان) دنده په غاړه درلودله.

یوه څېړونکي سر اولاف کیرو وایي چې:

" الفنستون هېڅ يو پښتانه ته موقع ورنه کړه چې له ده نه کرکه وکړي، هر يوه ته يې ځان رسولو او ددوی (پښتنو) په خوښه غړېده. نور لوړ رتبه چارواکي لکه جارج لارنس، ميکشن، ايډوارډز، نيکلسن، ابټ اورابرتس هم له تيماپې زيات پښتانه شوي وو"(۱۱۲)

تاريخ ليکونکو په وينا امير عبدالرحمن خان د افغانستان يو هوښيار او پوه واکمن تېر شوی دی ليکن زه داسې فکر کوم چې انګريزان له نوموړي نه زيات هوښياران وو. هغوی پوهېدل چې پښتانه د افغانستان د هېواد تر ټولو ځواکمن او له ټولو لوی قوم دی او ددې هېواد په برخليك کې همدغه ستر قام بنسټيز رول لري ځکه خو يې ددوی ژبه زده کړه او په همدې ژبه يې ددوی سره خبرې کولې خو په خټه پښتون امير په دې عمده او مهم ټکي نه و پوه شوی.

امير لکه چې پښتانه د خپلو سياسي او پوځي برياوو لپاره استعمال کړل هغسې يې د خپل درباري منشا ملامحمدخان افغاني موسس په قلم ليکلې پښتو پاڼې د يو جلا او ځانګړې مطلب او مقصد لپاره په کار راوستې او له هغه پرته يې پښتو ژبه د چار چلونې او ښوونې او روزنې ژبې مقام ته ونه رسوله.

امير داسې فکر کاوه چې پښتو ژبه د افغانستان ډېره لرغونې ژبه ده ليکن فارسي ژبه علمي ژبه ده او ددې فکر پايله دا شوه چې پښتانه د دوی د واکمنۍ په دوره کې هم د فرهنګي ښکيلاك په زنځيرونو کې تړلي پاتې شي.

امير په خپله د همدې فرهنګي ښکيلاك ډېر غټ ښکار پاتې شو ځکه چې دده له خوا يا دده په نوم ليکل شوي کتابونه لکه : تقويم الدين، پندنامه، ترغيب جهاد او مرات العقول ټول په فارسي ژبه وو او د پښتو ژبې يو اثر هم په کې ونه لېدل شو.

د برتانيې د سياسي چارواکو دوو تنو د امير عبدالرحمن خان سره زياتې نژدې اړيکې درلودلې چې يو يې ګريفن او بل يې هاملتن نوميدلو او دغو دواړو د افغانستان د تاريخي سياسي پېښو په اړه کتابونه ليکلي او خپاره کړي دي او محمدصديق فرهنګ د دغو دواړو ليکوالو له کتابونو نه په خپل اثر (افغانستان درپنج قرن اخير) کې زياته ګټه اخيستې ده.

ګريفن واکمنۍ ته د امير عبدالرحمن خان په رسولو کې مهم رول لوبولی دی او هاملتن هغه څوك و چې ښځه يې ياني ميرمن لليـاس هملتن د امير شخصي ډاکټره وه او همدغه ميرمن د امير عبدالرحمن خان د زوی نصرالله خان سره د حکيم باشي په توګه د انګلستان په سفر ملګرې وه او بيا همدې ميرمن شهزاده نصرالله خان د انګلستان د ملکې په حضور مشرف کړ چې امير يې په خپل ژوندليك يادونه هم کړې ده.

د پښتو ژبې په اړوند د امير عبدالرحمن خان دغه نظر چې ګڼي افغاني ژبه د افغانستان ډېره لرغونې ژبه ده ليکن پوهنيزه يا علمي ژبه نه ده د پوهانو په عقيده ناسمه او منلو وړ نه ده ځکه چې امير لا نړۍ ته هم نه و راغلی چې په پښتو ژبه کې د نظم او نثر ډېر پاخه علمي کتابونه او اثار ليکل شوي وو.

بايزيد انصاري، اخونددرويزه، خوشال خان ختك، معزالدين ختك، پيرمحمد کاکړ او داسې نور او نورو چې په هغو ټولو باندې خبرې او خبرنې ددې اوسني کتاب له چوکاټ نه بهر موضوع ده په پښتو ژبه باندې ګڼ شمېر کتابونه ليکلي او د بېلابېلو پوهنو (علومو) غبرګون يې په کې ځرګند کړی و. چې هوښيارو انګريزانو له همغو ذخيرونه پوره ګټې واخيستې.

میجر راورټي او پادري هیوز خپل پوهنیز کتابونه (ګلشن روه) او (کلید افغاني) د بیلیو ډکشنري په حقیقت کې په پښتو لیکل شویو کتابونو د اغیزو تر لاندې لیکلي دي. او بیا چې کله انګریزان په لوی هندوستان او د پښتنو په پښتونخوا مسلط شول نو د نومیالی پښتون پوه (سید تقویم الحق کاکا خیل ) په وینا انګریزانو ته د هم د پښتو ژبې د زده کړې ضرورت پېښ شو او د پښتو ژبې ښه خدمت یې وکړ.(۱۱۳)

امیر عبدالرحمن خان ښایي په دې نه و خبر چې دده د پاچاهی په وخت مولوي احمد د (ګنج پښتو) خوندور او ګټور کتاب لیکلی و. د پښتو ژبې په لمنه کې د هر علم او هر ډول پوهې ګلان ځای کېدلی شول لیکن امیرانو او د پښتنو کهول پورې تړلو پاچاهانو د فارسي فرهنګ د ژورواغیزو لاندې د خپلې ملي ژبې اصلیت نه شو پېژندلی.

امیر عبدالرحمن خان او د هغوی نه وړاندې وروستو پښتنو واکمنو دا پوهه نه درلوده چې پوه شوي وای: په نړۍ کې هیڅ داسې ژبه نه شي موندلای چې د هغې دې د پیدا ښت له وخته نه علمي ښه او پوهنیز صلاحیت او استعداد درلودلي وي بلکې هره ژبه د وخت او زمان د شرایطو او د علم او تکنالوژۍ د پرمختګ سره څنګ په څنګ د تولنیزو اړتیاوو په رڼا کې د علمي کېدلو په لار ګام پورته کوي او د کار هم هله ممکن کېدلای شي چې حکومت هغې ژبې ته د رسمي چارچلونې حق ورکړي.

پښتانه واکمن په خپله په هېواد کې د فرهنګي ښکیلاک راوستونکي او پیاوړي کونکي پېژندل شوي دي. همدوی د پښتو ژبې د نه علمي کېدلو او شاته پاتې کېدلو مسئول او ذمه وار دي ځکه چې ددوی په دربارونو او حکومتونو کې پښتو ژبې ته د وړاندې تللو حق نه و ورکړشوی او پاملرنه یې ورته نه وه کړې په داسې حال هغو واکمنو هر

یو د خپلې پاچاهۍ ستنې د همدې ژبې په ویونکو یانې پښتنو باندې ټینګې ساتلې دي.

انګریز یوه اولاف کیرو وایي چې حکومت ډېره هڅه کوله د پښتنو په سیمو کې داسې چارواکي (مامورین) وټاکي چې په پښتو ژبه باندې مسلط وي ځکه چې په دې وسیله د حکومت ټولې ستونزې په اسانۍ سره حل کېدلای شوې. کیرو وړاندې لیکي: "د ۱۹۰۱ م کال راپه دې خوا په تېرو پنځو سو کالو کې د انګریزي مامورانو ژبه پوره ښه شوې او پښتنو په خپله د هغوی د ژبې د زده کړې معیارلوړ بللی و، د انګریزي مامورینو او خلکو ترمنځ نیغې خبرې په پښتو کېدلې او ددې په نتیجه کې ښې اړیکې رامنځته شوې وې." (۱۱۴)

لیکن له بده مرغه امیر عبدالرحمن خان او نورو هوښیارو پیرنګیانو له تجربو او پوهې نه هیڅ زده نه کړل او نه یې د فرهنګي ښکیلاک څخه ځان او افغان ولس د ژغورلو کومه هڅه وکړه. هغوی ټول یوازې په دې یوه خبره ښه پوهېدل چې څنګه د بل وروور نه واکمني لاس ته راوړي او پښتانه تش د یو جنګیالي ځواک په توګه استعمال کړي.

امیر عبدالرحمن خان که په خپل دربار کې صرف یو پښتون منشي ساتلی و نو هغه منشي هم د یوه سخت زړه امیر د ګټو لپاره دنده سرته رسوله او دملت او ملي ګټو په کچ یې دخدمت کولو واك نه درلود ځکه خو دده لیکلي اثر موږ ونه موندلی شو.

## پښتانه ، د ډیورند کرښه او امیر عبدالرحمن خان

دامیر عبدالرحمن خان لـه خـوا د ډیورنـد کـرښې د تړون یا سند د لاسلیك له امله د ټولـو نـه غټ زیـان یـوازې پښتـون قـوم تـه ورسید اود هېواد نورو قومونه ددغې تباهی ځخه بچ پاتې شول.

ددې نـاملې کرغیړنـې کـرښې پایلـه د پښتـون واحـد قـوم توکـړې کیـدل او دستـر احمدشـاه بابا پـه لاس د نـوی جوړ شـوي افغانسـتان د تاریخي خاورې تجزیه وه ځکه خو د ټولو نه زیات مخالفت هم د پښتنو له خوا ښودل شوي دی چې امیر عبدالرحمن خان یې په خپـل ژونـد لیـك کې څرګنـد تصدیق هم کړی دی. د امیر د لیکنـې یـوه برخـه چـې ددې حقیقت څرګندوی دی، چې هغوی ډیورنډ کرښه نه ده منلې او د کرښې په اړوند د تړون لاسلیك نه وروسته هم د انګرېزانو خلاف جنګېدلـی دی او خپلې جګړې یې جاري ساتلي دي.

" برطبق اظهارات من جنگ چترال و جنگ باجور وجنـــگ ملاکنـــد وجنگ وزیری وجنگ افریدی تماما بعد از تاریخ مذکور یعنی امضای معاهده با دیورند با همین طوایف سرحدی که درحوزه اقتدار دولت انگلیس امـــده بودند حادث گردید، چرا که انها دیگر امید ندارند که تحـــت حکومـــت حکمرانیي مسلمان در ایندو نه میخواهند مطیع حکمرانی انگلیسها بـــوده باشند"(۱۱۵)

دتاریخي سندونو لـه مخې پـه دې حقیقت بـاندې سترګې نـه شي پټېدلای چې پښتنو لـه هماغـه لومړۍ ورځې نـه چـې امیر عبدالرحمـن خان د پېرنګي (سرمورتیمورډیورند) سره د ډیورنډ دلیکې په اړه کـاغذ

لاسليك كړ. نو دخپل اعتراض او مخالفت غږ پورته كړ او د انګرېزانو خلاف يې دجګړو په پيل كولو سره عملا دغه ليكه نامنظوره وګڼله.

د افغانستان په دربار كې د برتانيې مختار وزير (سرفرايزرتاتلر) په خپله "افغانستان" نومي كتاب كې چې پر ۱۹۵۰ميلادي كال په لندن كې چاپ شوى دى، ليكي چې: "د ډيورنډ كرښه دبې منطقى د سياست مظهر او روغې جوړې يو وچ سمبول دى. همدغه سياسي شخصيت وړاندې وايي چې: "د ډيورنډ كرښه د محاسنو څخه عيبونه زيات لري او د اتنوګرافى (خلك پېژندنه) او هم د پوځي او جغرافيايي له پلوه غير منطقي ده" د امير په نقشه كې او هم په تطبيقي او عملي توګه چې دغه كرښه له كومو كومو سيمو نه تېرېږي هېڅ نه دى پوه شوى" (۱۱۶)

مولوى محمدظاهرشاه وزير په خپل اثر كې ليكي:

د ډيورنډ د كرښې د نه منلو په خاطر د وزيرستان څخه يوه (۵۷۰) كسيزه ډله د ملا پيوند، مولانا همزالله خان او قاضي حاجي محمد په مشرى چې څو تنه ښځې هم په كې شاملې وې د جرګې په ډول او حتى د ننواتي په توګه كابل ته لاړه چې هلته د امير عبدالرحمن خان سره د ډيورنډ د كرښې په اړه خبرې وكړي او نوموړي د لارې نه بېرته راوګرځوي او د پېرنګيانو د ظلمونو او ناروا او حال ورته بيان كړي، ليكن جرګه په نهيلى او ناكامى بېرته راوګرځېده او امير ورسره د ليدنې كتنې وخت ونه موند.

كله چې جرګه تش لاس بېرته راوګرځېدله نو د وزيرو او مسيدو قومي مشرانو په جرګه كې پرېكړه وكړه چې د كرښې د ماتولو او بې ارزښته ګڼلو په مقصد به پښتانه په پېرنګيانو باندې خپل برېدونه او تاړاكونه لاپسې زياتوي. نو لومړى حمله يې په وانه باندې وكړه او په دې حمله كې يو زر اووه سوه درې شپېته (۱۷۶۳) تنه پېرنګيان ووژل

شول او د غازیانو شهیدانو شمېره (۷۱) کسه وو، ددې یرغل لاربښودنه ملا پیوند. مولوی همزالله او قاضي حاجي محمد پر غاړه درلوده او په مکین نومي سیمه باندې دپښتنو د برید نه وروسته چې زیات زیان په کې انګرېزانو وکوت. انګرېز جنرال او کهارټ د غازیانو مقابلې ته راغی. (۱۱۷)

مورخ غبار د موضوع په هکله داسې لیکي:

" امیرعبدالرحمن توانست که بعد از معاهده دیورند مردم افغانستان را درجای خودشان نگهدارد ولی اعلامیه های او درسرحدات افغانستان کارگر نیفتاد ومبارزات ملی دوام نمود، انگلیس ها عقب نشستند وایسرای هند شخصا از کلکته به پشاور امد و خط سرحدی رامعاینه نمود و درمهمند اشتهارات منتشرساخته دربدل وعده پول طلب اطاعت کردند ولی مردم به رهبری ملامحمدقدیم بن ملاخیل دعوت انگلیس را رد وخانه های طرفدارانگلیس را از موسی خیل وگدا خیل وعیسی خیل در سپین تنگي اتش زدند همچنین ماموندها هنگام حدبخشی برمعسکر انگلیس هجوم نمودند ومقاومت ها درسرتاسر سرحد دوام کرد"(۱۱۸)

پښتنو دډیورنډ کرښې سره د مخالفت او ضدیت ښکاره کولو لپاره په لاندې دلایلو تکیه کوله:

۱. دا کرښه د پښتنو دسیمو په منځ کې تېرېږي او یو ورور له بل ورور نه جلا کوي.

۲. دغه کرښه هغه سیمې د افغانستان له خاورې بېلوي چې پښتانه قومونه او قبیلې په کې د سوونو کالو راهیسې مېشتې دي او افغانستان ټول د افغانانو هېواد او ددوی په خپلو منځو جوړ کړی او ازاد کړی دی.

۳. دغه سیمې د ژبې، کلتور، دین او مذهب او دود دستور له مخې د هند دخاورې د اوسیدونکو د ژبو، کلتور، دین او مذهب او ملي عنعناتو سره ژور توپیر لري او دا دواړه یو د بل سره نه شي یو ځای کېدلی، هېڅوك دا حق نه لري چې پښتانه دې په زور او جبر له یو بل او د خپلې تاریخي لرغونې خاورې څخه جلا کړي.

۴. افغان ولس دغه حق امیر عبدالرحمن خان ته نه دی ورکړی. چې دی دې د پېرنګیانو سره په دې سلا شي چې هم د پښتون قوم او هم د پښتنې خاورې ځینې توکړې د پیسوپه بدل کې او یا د پاچاهی جوړولو په بدل کې یو غیر مسلمان حکومت یا سلطنت ته ورکړي. ځکه خو د امیر له خوا دکرښې معاهده د لاسلیك کېدلو سره سره به پښتانه د پېرنګیانو پر ضد خپلو حملو او جګړو ته دوام ورکوي او په اړه به دامیر غوښتنو ته ځواب ورکوي. پېرنګیانو په امیر باندې د ډیورنډ د کرښې په منلو سره دوه غټ مقصدونه او موخې خپل لاسته راوړل چې لاندې ورته اشاره کېږي.

۱. دلوی افغانستان د وجود نه د پښتنې سیمو د پرېکولو په وسیله دغه هېواد په یو وړوکي افغانستان بدل کړي.

۲. د افغانستان او سیمي د ځواکمن قوم (پښتون) د کمزوري کولو پر لور ګام پورته کول، ځکه چې په ټوله سیمه او اسیا کې دا یوازینی واحد قوم ګڼل شوی دی چې د تاریخ په اوږدو کې هر یرغلګر ځواك ته ماتې ورکړی دی او له خپلې خاورې نه یې په تېښته ویستلی دی، چې برتانیه هم په هغو یرغلګرو ځواکونو کې شامله ده.

د ډیورنډ دلیکي په منځته راوړلو سره پېرنګیانو وکړای شول دغه قوم دداسي برخلیك سره مخامخ کړي. چې په نړیوال کړکېښ کې یې ساری نه دی لیدل شوی په دې مانا چې ورور دلیکې په یوه خوا او بل ورور د لیکې په بل خوا پاتې شوي. یوه خور او یوه مور د کرښې په یوه لوري او بله مور او بله خور د کرښې په بل لوري او دا دنړۍ په تاریخ کې یو بې ساری او بې مثله کار و. پېرنګیانو په حقیقت کې د پښتون قام لپاره یوه ستره غمیزه رامنځته کړه او ددې قوم سره د انګرېزانو د غتې دښمنۍ ځرګند ثبوت ګڼل کېږي.

پېرنګیانو لوی افغانستان د دووکرښو په ویستلو کوچنی کړ، چې یوه کرښه د مکماهون او بله یې د ډیورنډ د کرښې په نامه یادېږي. په دغو دواړو لیکو کې د ټولو نه درونډ زیان پښتنو ته رسېدلی دی او ددغه قام تاریخي سیمې وېشل شوي دي.

امیرعبدالرحمن خان د ډیورنډ د کرښې سره د پښتنو کلك مخالفت د سر په سترګو وکوت، لیکن سره له دې یې هم د هغه مخالفت ته اهمیت او ارزښت ورنه کړ، ځکه چې د نوموړي لپاره د هغه د خپلې واکمنۍ مسئله مهمه وه. د حیرانتیا ځای دادی چې امیر په خپله د برتانوي هند له وایسرا نه غوښتنه کړې وه. چې هغه عالي جناب دې په خپله خوښه په نقشه کې هغه ځایونه اوسیمې په نښه کړي چې ضرورت ورته لري.

امیرپه دې اړه په خپل ژوندلیك کې داسې لیکي:

" از فرمان فرما خواهش نمودم نقشه به جهت من بفرستند وخطوط سرحدی را بطوریکه خودشان میخواهند معین نمایند روی نقشه مذکور تخمینا مخشض نمایند تا بدانم کدام نقاط یاغستان راخیال دارند تحت نفوذ و درحیطه اقتدار خود بیاورند."(۱۱۹)

امیر عبدالرحمن خان په خپله هم ددې حقیقت شاهد پاتې شوی و.
چې پښتون امیر شېرعلیخان تر څو واکمن و یوه لویشت د افغانستان ځمکه یې هم پردیو (روس یا انګلستان) ته ورنه کړه او په ډېره ایمانداری سره یې د افغانانو د تاریخي هېواد د خاورې د بشپړتیا ساتنه وکړه.

که په دویمه نړیواله لویه جګړه کې ځینې هېوادونه لکه ویتنام، کوریا او جرمني په دوه دوه برخوووېشلی شول نو هغه د یوې سترې عالمګېرې جګړې پایله وه، چې په هغه جګړه کې دېرش څلوېښت ملیونه انسانان ووژل شول. لیکن انګرېزي ښکیلاک پرته له کومې جګړې یا وینې توئېدنې د افغانستان دیو کمزوري او مجبور امیر نه په ګټه اخیستلو دیو خپلواک هېواد دخاورې ځینې برخې د ځان او خپلې واکمنۍ پورې وتړلې، چې په نړۍ کې یې بل مثال څوك نه شي پیدا کولی. په دې ډول امیر عبدالرحمن خان خپل امارت جوړ کړ. په دې امارت کې نه خو پښتو ژبې ته او نه یې ویونکو ته خپل رواحق ورکړی شو.

همدغه ډول د هېواد په شمال کې هم دپنجده سیمه پر ۱۸۸۵م کال امیر دیوې موافقې له مخې روسانو ته پرېښوده چې هلته پښتانه زیات نه وو." (۱۲۰)

د امیر عبدالرحمن خان په امارت کې د ایران له لوري راننوتې فرهنګي ښکیلاك په خپل پخواني حالت پاتې شو او اصلي لامل یې هم دا و، چې امیر په خپله ملي ژبه (پښتو) هغسې عقیده نه درلوده، چې امیرشېرعلیخان وربادې درلوده. امیر عبدالرحمن خان فارسي ژبې ته دیوې علمي او پښتو ژبې ته د هېواد دیوې لرغونې ژبې په سترګه کتل او همدا لامل بس و، چې پښتو ژبه او پښتنې فرهنګ د فارسي ژبې او فرهنګ د ښکیلاك لاندې وساتل شي.

د افغانستان خلك پـه دې حقيقت پوهېدل چې پېرنګيانو پـه هېڅ وخت کې د افغانستان دوستان نه وو او چې کله يې لـه لاسـه پوره شوې ده پـه دې پاکـه اسلامي او پښتني خاوره يې تېرى کړى او ډېره مـرګ ژوبله يـې منځتـه راوړې ده او دادی نـن يـې د امـير عبدالرحمـن سـره ددوستـي تـر پـردې لانـدې د افغانسـتان خـاورې يـوه تـاريخي ټوټه د ډيورنډ د کرښې پـه نـوم د افغانانو د هېواد لـه بـدن څخـه ديـوې بـوټي غوښې پـه شان پرې کړ، ليکن امير عبدالرحمن خان دخپل ولس سره پـه دې عقيده کې شـريك نـه و او داسـې فکـر يې کاوه چې انګرېزان لـه ده سره پـه صداقت او ايمانداری روان دي، تر څو چې يو وخت پـه خپلـه پـه دې تريخ حقيقت پوه شو چې انګرېزان ورته د خپـل لاسـپوخي پـه سترګو ګوري نه د يوه ازاد او خپلواك هېواد د مشر پـه توګه.

امير عبدالرحمن خان پـه خپـل ژونـد ليـك کـې دې مطلب تـه داسې اشاره کړې ده.

" از تصور اين امر مكرر بودم كه دولت افغانستان تا يک درجه تحـت امر هر فرمان فرمايى كه به هندوستان مقررشود ميباشـد ومـن كـه امـير افغانستان هستم الت بازيچه هستم كه فرمان فرما به هر شكلى كه خواسـته باشد انرا بگرداند"(۱۲۱)

دا د هغـه امـير اعـتراف دی چـې تـاريخليکونکو يـې د زيـاتې هوښياری او ځيرکی خبرې کړي او پښتون دښمن ايرانی مـورخ مـهدي فـرخ خـو نابغـه هـم بللـې او ګڼلـې ده، ليکـن د پښتنـو پـه ګټه دده د هوښياری څه پته نه شي لګېدلای. حتی چې پـه ځينو وختونو کې يې د پښتـون قـوم ملي او تـاريخي دود دسـتور او د پښتونولـی منلـې شـوي شفاهی قانون هم پـه لتـه وهلې ده

دساري په توګه جومات یا مقدسو ځایونو او زیارتونو ته د یو تورن او ګناه ګار ننوتل او په هغه ځای کې پناه اخیستل تر هغه وخته پورې د اجراتو یا کومې عملي کړنې غوښتنه نه شي کېدلی، تر څو چې نوموړی تورن له جومات یا زیارت نه راوتلی نه وي. یانې د جومات او هغه سپېڅلی ځای بې حرمتي د پښتونولۍ په قانون کې په خپله غټه ګناه ګڼل کېږي، لیکن امیر عبدالرحمن خان خپل یو مخالف په کندهار کې دخرقې مبارکې له جومات یا زیارت نه په زور راویستلی او هغه یې په خپل لاس وژلی دی، امیر ددې پېښې په اړه وایي:

" یکی از ملاهای کاکری موسوم به اخوند عبدالرحیم که نسبت کفر به من داده بود در خرقه شریف متحص شده بود حکم دادم سگ ناپاکی مثل او نباید درجای مقدس مذکور به ماند لهذا اورا از عمارت انجا بیرون کشیدند وبدست خودم اورا کشتم."(۱۲۲)

ګڼ شمېر څېړونکو عقیده ښکاره کړې ده چې د برتانوي هند دسیاسي چارواکو سره د ډیورنډ دکرښې د معاهدې لاسلیك کولو نه مخکې باید امیر عبدالرحمن خان په هېواد کې د یوه تاریخي لویه جرګه راغوښتي وای او د کرښې په اړوند یې د هغوی پرېکړه د یوه قانوني سند په توګه لاسته راوړې وای، نه دا چې امیر په یوازې ځان او خپل صلاحیت او اختیار د ډیورنډ کرښه لاسلیك کړي.

لیکن امیر د افغان ولس په دغه لرغوني او تاریخي عنعنې او دود عقیده نه درلوده او خان یې د قومي او ملي روایاتو پابند نه ګڼلو. نوموړي یوازې په خپل عقل او ذکاوت باور درلود او د نورو مشوره ورته سمه او ارزښتمنه نه ښکارېده. د فرهنګ او کلتور په اړه امیر عبدالرحمن خان نه یوازې د نظر خاوند نه و، بلکې د فرهنګي ښکیلاك په مسئله یې هم سرنه خلاصېده. له همدې کبله یې پښتو ژبې او

پښتني فرهنګ ته کوم خدمت ونه کړ او نه يې د امير شېرعليخان په اينبي تهداب باندې ګومه ښښته کښېنودله.

امير شېرعليخان هڅې پيل کړې وې چې امارت ته ورو ورو پښتني اسلامي بڼه ورکړي او پښتو ژبه هم کرار کرار د چار چلونې ژبه وګرځوي. خو عمر او شرايطو ورته ددې موقع ورنه کړه، چې د خپلو ملي ارمانونو سره ډولې منزل مقصود ته ورسوي. کله چې امير عبدالرحمن خان خپل امارت جوړ کړ، نو هغه ارمانونه هم خاورې شول او پښتانه او پښتو ژبه دواړه د نوي برخليک سره مخامخ او د هيلو کاروان يې د سختو سياسي توپانونو په دوړو او خاورو کې خپله لار ورکه کړه.

پېرنګيانو د امير عبدالرحمن خان سره ددوستۍ په نوم د امير د کمزورۍ نه په ګټه اخيستلو تاريخي افغانستان ديوې نوي غمېزې کندې ته ور وغورځاوه او د پښتنو د هېواد بريدونه ونړېدل.

انګرېزانو تر ممکن حده پورې د امير عبدالرحمن خان سره د منافقت او شيطنت سياست وچلاوه پرته له دې چې امير عبدالرحمن خان هغه درک کړي. دساري په ډول امير د برتانيې د ملکې ويکتوريا رالېږلی نښان (ستاره هند) ديو فرمان سره ومانه خو دا کار د انګرېز دښمن افغان ولس دکرکې او نفرت وړ وګڼل شو او چې کله اعليحضرت امير امان الله خان غازي واکمنۍ ته ورسېد او پورتنۍ مطلب يې د سراج التواريخ دريم ټوک کې ولوست نو دملي احساس او جذبې له مخې يې هدايت ورکړ. چې د سراج التواريخ هغه ټوک په اور باندې وسوزوي. (۱۲۳)

امير عبدالرحمن خان په پوېښت کلنۍ واکمنۍ کې دبهرني کومې لويې يا وړې جګړې سره مخامخ نه شو. ليکن دده پر ضد ډېر پاڅونونه وشول او کورنۍ ډېرې درنې جګړې وشوې او امير هم د خپلو مخالفينو

د ککریو نه کله مناورونه جوړ کړل چې امیر په خپله د هغو ذکر کړی دی.

ایراني تاریخ لیکونکي لکه محمد یوسف ریاضي د بحرالفواید (عین الوقایع) مولف محمود محمود د تاریخ روابط سیاسي ایران و انګلیس مولف داکتر یزدي افشار د افغان نامي مولف او داسې نور ددې حقیقت زیاته یادونه کوي. چې امیر عبدالرحمن خان د هزاره ګانو د ټکولو لپاره پښتانه ( افاغنه) په کار راوستل او پوځي خواکونه یې زیات پښتانه وو لیکن پښتون امیر دا خبره رد کړې ده. بلکې هغه غوښتل چې هزاره ګانو ته هم په خپل دربار کې اعزازونه او امتیازونه ورکړي. فیض محمد کاتب د هغه فرمان یوه برخه راوړې ده چې هزاره قوم ته په کې خطاب شوی دی:

"میخواهم که شما مردم هم مانند دیگر میران و بزرگان هزاره جات دربار پادشاه افغانستان پایه اعزاز ومایه اعتبار داشته باشید واین را نه میخواهم که خار وذلیل باشید"(۱۲۴)

دا خبره له تاریخي پلوه سمه ده چې امیر عبدالرحمن خان د پښتنو له ستر ځواک نه د خپل امارت په ټینګولو کې زیاته ګټه واخیستله خو پښتانه ملي مشران او اتلان یې هم چې د پېرنګیانو دښمنان وو او امیر هم ورنه وېره درلودله، له منځه یوړل.

امیرعبدالرحمن خان د لویدیځ فرهنګ او تمدن په باره کې ښه معلومات درلود او د هغه ځینې بېلګې یې په بېلابېلو ډګرونو کې دګټې اخیستلو وړ وګرځولې.لیکن دافغاني فرهنګ په هکله یې د پخلې پوهې کوم ثبوت ور نه کړ. هغوی دیوه اخبار د خپرولو هڅه هم ونه کړه. په داسې حال کې چې پښتون امیر شېرعلیخان د هېواد لومړنی اخبار شمس النهار په نوم او ځینې نورې موقوته خپرونې هم د

جلا جلا موضوعګانو او ضروري اړتیاو په اړه د هېوادوالو د خدمت په تکل راویستلي وې خو امیر عبدالرحمن خان هغه هم له یوې مخې بندې کړې.

امیر خان د درانیو د کورنۍ پورې تړلی ګڼلو او د لوی احمدشاه دراني درناوی یې کاوه لیکن د عمل په ډګر کې یې دیوه رښتیني پښتون واکمن کردار ادا نه کړ. نوموړي د ایران سره ددوستۍ لیوال نه و. څکه خو ایراني تاریخلیکونکو عقیده ښکاره کړې ده، چې امیر عبدالرحمن شعیه مذهبو ته چندان په ښه سترګه نه کتل او عین همدغه نظر د "کله منارها در افغانستان" لیکونکي هم څرګند کړی دی.
فرهنګي ښکیلاك په پښتنو باندې د امیر په واکمنۍ کې تداوم وموند او په دې درنه او خطرناکه مسئله باندې یې د فکر کولو وخت هم پیدا نه کړ.

دهمدې فرهنګي ښکیلاك د ژورې اغېزې له مخې د پښتو ژبې دپرمختیا او پراختیا مخه نیول شوې وه او پښتنو امیرانو د پښتني فرهنګ د څلولو صلاحیت او کفایت ښکاره نه کړ. پښتانه په افغانستان باندې واکمن وو، لیکن ژبه یې محکومه وه، پښتنو امیرانو په پردۍ ژبه خبرې او اجرات کول، هغوی د خپلو امارتونو اوپاچاهیو دساتنې او دفاع لپاره د پښتنو له څواك نه ګټه اخیسته، خو ددې څواك د ژبې سره یې خپلوي او عزیزولي نه څرګندوله.

امیر عبدالرحمن خان یو غښتلی امارت د پښتنو په توره جوړ کړ، خو دپښتو ژبې سره یې پښتو ونه کړه او فرهنګي ښکیلاك پر ځای پاتې شو. بهرنیانو او تر یوې اندازې پورې کورنیانو څېړونکو او مورخانو د امیرعبدالرحمن خان د هوښیارۍ او زیره کۍ خبرې کړې دي. لیکن زما په خیل اند که امیر په رښتیا دومره هوښیار وای نو د پښتني توك پورې د تړلي یو واکمن په توګه باید دغه ډېر ساده او ډېر روښانه

حقیقت یې درك کړی او پېژندلی وای چې د افغانانو ټولنیز او سیاسي ملي جوړښت په پښتو او پښتونولۍ باندې ولاړ دی، پښتونولي د پښتنو د ژوندانه فلسفه او پښتو ژبه ددغه قوم دملي او سیاسي هویت او موجودیت او پایښت وسیله اوتاداب پېژندل کیږي.

د پښتنو د پنځه زره کلن تاریخ، روایاتو او ددې قوم ددوامدارې بقا او ژوندي پاتې کېدلو راز په همدې فلسفه کې نغښتی پاتې دی. لیکن امیر د ژوندانه تر وروستۍ ورځې او شپې پورې په دې راز او فلسه پوه نه شو. پښتانه نن هم د پیرونو او پېړیو له منځ نه د خپل باتور نیکه (امیر کروړجهان پهلوان) د هغه اواز انګازه اوري چې ویلي یې وو:

زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته هم په کابل نشته
بل په زابل نشته له ما اتل نشته

امیر عبدالرحمن خان که څه هم ځان پښتون پېژندني او نه تاجك، هزاره یا ازبك خو په دې حقیقت یې سر نه و خلاص شوی، چې پښتو ژبه د افغان ولس دتاریخي پېژندګلوۍ او شتوالي پوخ او اساسي سند دی او د همدې سند د برکت پایله وه چې دا قوم د زمانې د زرورو تاړاکونو او توپانونو د منځ نه سوبمن او سر لوړی راوتلی دی.

زما په اند له امیر عبدالرحمن خان څخه دغه هزاره څېړونکی (حمزه واعظي) ډېر هوښیار او پوه دی، چې په دې حقیقت پوهېږي چې:

" زبان پشتو به عنوان یک عنصر فرهنگی فعال وموثـــر توانســـته در ایجادانگیزه د انرژي همگونگی، همخوانی وچسپیده گی اجتماعی پشتون هـد نقش تعین کننده ای درمقاطع مختلف تاریخی باز کند"

به عبارت دیگر زبان پشتو همواره برای پشتون ها نشـــانه ونمایـــه ی وحدت خلل ناپذیرقومی، فرهنگی ویکی از میانی اصیل وبرجسته ی هویـــت سیاسی بوده که انها را درمقابل سایر اقوام متمایز ومقتدر جلوه گر ســـاخته است"(۱۲۵)

امیر د خپلې ډېرې هوښیارۍ سره سره په دې نه و پوه شوی، چې پښتـو د پښتـون (افغـان) قـوم لپـاره یـوازې یـوه ژبـه نـه ده بلکـې پښتانـه پښتو، ننګ، غیرت، ملي حیثیت، غرور، ایمان، مسلماني، صداقت، پت، عزت، ربښتیا، زړورتیا، ویـاړ، سربښندنه، مېلمـه پالنـه، پـه وعـده باندې وفا، دمېلمه درناوی، وطن پالنـه، نـاموس سـاتنه، وفـاداري، پـه ازادۍ ژوند کول، د اسیرانو سره ښه سلوك، دتور سرو درنـاوی، دښمـن ته شا نه اړول، امانت داري، دالله پاك فرایض پر ځای کـول، خیـانت نـه ځان ساتل، پناه غوښتونکي ته پناه ورکول او داسې نـور ټول د پښتـو پـه نوم یادوي او ددغو اصولو څخه سرغړوونکي بې پښتوبولي.

د افغانسـتـان او نړۍ پېښلیکونو دغـه سندونه پـه خپلـو پاڼو کـې خوندي ساتلي چې نه یوازې امیرعبدالرحمن خان بلکې محمود غزنوي غوندې غیرپښتنو پاچاهانو هم دځواکمنو پښتنو پـه مټـو د خپلـو سوبو او بریـاو څلي پورتـه کـړي دي، لیکـن یـو هـم د پښتـو ژبـې او پښتنـي فرهنـګ د ژونـدي سـاتلو پـه لـور قـدم پورتـه نـه کـړ اود ســلطان محمودغزنوي په ګډون ټولو د فارسي یـا پارسـي فرهنګ او ژبې لپـاره خدمت وکړ او دغه فرهنګ یې په پښتنو باندې پـه یـو ښکیـلاك بـاندې بدل کړ.

سلطان محمود غزنوي چې له یوې پښتنې مور او ترك پلار نه نـړۍ ته راغلی و پـه افغانانو باندې د فرهنګي ښکیلاك لومړی عامل او لامـل

و او له هغه وروسته پښتنو واکمنو دغه همت او کفایت ثابت نه کړ چې د نوموړي ښکیلاك له زنځیرونو پښتانه ازاد کړي.

دغه سلطان په توکمي لحاظ دتاجك او هزاره قوم سره هیڅ نژدیکت نه درلود او د علامه سید جمال الدین افغان په وینا مور یې د زابل د پښتنو د توخي د قوم دیوه مخور لور وه او دی (سلطان محمودغزنوي) د خپلې مور په وجه د پښتنو له ملاتړ څخه برخمن او د همدوی د مېړانې په برکت پاچاهۍ ته ورسېد.

علامه سیدجمال الدین افغان لیکي چې سبکتګین د محمود غزنوي پلار چې نوی نوی په اسلام مشرف شوی و" دغزني د زابل د یوه پښتون ملك چې په قوم توخي وو لورځانته نکاح کړه او له همدې پښتنې څخه محمود وزېږېد او سبکتګین د خپلې پښتنې مېرمنې د قوم او نورو پښتنو په مرسته سلطنت ته ورسېد، له همدې کبله محمود ته محمود زابلي هم وایي"(۱۲۶)

دمور له خوا پښتون سلطان محمود غزنوي په خپل دربار کې د یوزر تنو په شاوخوا کې د فارسي ژبې د شاعرانو، ادیبانو او پوهانو یوه ټولنه جوړه کړې وه او ددې ټولنې ملك الشعراء (عنصری بلخی) نومېده، لیکن په هغو زرو تنو کې یو پښتون شاعر او ادیب یا مورخ او عالم ته ځای نه و ورکړل شوی. ځکه ما وویل چې په پښتنو باندې فرهنګي ښکیلاك له هماغه وخته پیل شوی دی اود پښتنو د واکمنۍ په دوره کې یې دوام موندلی دی.

دغزني د زابل د پښتنې سیمې همدې واکمن (سلطان محمود) د ایران نه فارسي شاعران هم په خپل دربار کې د فارسي ژبې خدمت ته ګومارلي وو او فردوسي د طوس له ښار نه راوکوچېد او دپیسو ګټلو لپاره یې د سلطان محمود غزنوي په خوښه او هدایت "شاهنامه" بشپړه کړه.

ایرانی ابوالقاسم "فردوسی" چې شعیه مذهبی و په خپله شاهنامه کې د وتلي پهلوان (رستم) سره د پښتنو د جگړو انځور هم ویستلی دی:

نژادش زاوگان (افغان) سپاهش هزار　　همه ناوك انداز وژوبین گذار
به بالا بلند وبه پیکر سطبر　　به جمله چو شیر وبه پیکار ببر

* * *

نژادش ز اوغان سپاهش بلوچ　　که بردشت خرگاه بگزید کوچ

* * *

که با هر یکی لشکر صدهزار سواره پیاده بلوچان کار
هزاران اوغان گروه　　زلاچین دلیران برگرد کوه

دمحمود غزنوي د دربار لوی پوه او د سانسکرت د ژبې سکالر (ابوریحان البیروني) چې نړیوال شهرت لري وایي چې:

" پښتون ډېر جنگیالی قوم دی" (۱۲۷)

همدغه ډول یو بل ستر پوه (العتبي) وایي:

" په هند کې د سلطان محمود غزنوي سوبې او بریاوې د پښتنو د مېړانې او جګړه ییز مورال برکت و". (۱۲۸)

هر افغان دغه حق لري چې پوښتنه وکړي:

ولې دې دغسې تومیالي او تنګیالي قوم د فرهنګي ښکیلاك دلاندې د خپلې ژبې د حاکمیت او رسمیت نه بېٔ برخې او بې واکه وساتلای شي او دقدرت پر ګدۍ ناست واکمن دې ورته هېڅ پاملرنه ونه کړي؟؟؟

ولې دې دغه قوم تل د نورو لپاره دسوبو، بریاوو او واکمنیو جوړولو اله او وسیله اوسي لیکن په هغو واکمنیو کې دې دوی د ژبنې او ملي حقونو څخه محروم وساتلی شي؟

په پښتنو باندې د فرهنګي ښکیلاك دوام ددوی په حقونو باندې دتېري او چپاول دوام دی.

اولاف کیرو وایي چې غزنوي سلطان محمود د هندو شاهي مهاراجا جیپال ته د پښتنو په توره ماتي ورکړه (۱۲۹)

نو دغو پښتنو هم دغه حق درلود چې د محمود په دربار کې د پوره امتیازاتو او خپلو ملي ژبني حقونو څخه برخمن شي نه دا چې د فرهنګي ښکیلاك په زنځیرونو وتړل شي او غزنوي دربار دې د ایراني شاعرانو مرکز او د هغوی د ژبې د ودې او پراختیا وسیله اوسي.

په پردي ژبه د پښتنو لپاره په لیکل شویو پښلیکونو کې تولې پښې کښل شوي دي. چې د فرهنګي ښکیلاك د موخو او مقصدونو ګټې په کې خوندي ساتلي شوي دي، نه هغه ډول چې د پښتنو حق په کې ادا شوی وي.

امیر عبدالرحمن خان دهمدغې فرهنګي ښکیلاك په وسیله پاتې شو او د پښتنو ژبني او ملي حقوقو ته یې هېڅ پاملرنه ونه کړه او د فرهنګي ښکیلاك د زرکلنې لړۍ نوې کړۍ شوه او په دې اوسني کتاب کې به موږ ووینو چې له امیر نه وروسته څه ډول نورو پښتنو واکمنو هم په همدې لاره یون کړی او پښتني فرهنګ ته یې شا اړولې ده او که نه.

څرنګه فرهنګي ښکیلاك ددې سبب شوی دی، چې ایران د افغاني ټولنې د ننه د پښتو ژبې او پښتون قوم سره د مخالفت تحریك د افغاني اجنټانو په وسیله او د ایراني پیسو په لګښت برحال وساتي او ان د افغانستان دنوم بدلولو ته یې وهڅوي.

# دامیر حبیب الله خان په امارت کې د پښتو ژبې خوځښت او د پښتنو سیاسي تحریک

د امیرعبدالرحمن خان تر مړینې وروسته د هغه له وصیت سره سم امیر حبیب الله خان د افغانستان د امارت پر ګدۍ کېناست. حبیب الله خان ته داسې امارت په میراث پاتې شوی و، چې دسر سړي اوپه هېواد مین کسان په کې امیر عبدالرحمن خان له منځه وړي او یا خو له هېواد نه شړلي وو.

حبیب الله خان د امیر عبدالرحمن خان د ویناله مخې دده زامنو په منځ کې تر ټولو پوه او هوښیار زلمی و او تل به د بهرنیانو سره د امیر د کتنو په وخت کې حاضر و او زیات وخت به یې د امیر لپاره د یوه ژباړن ( ترجمان) دنده هم سرته رسوله. ځکه چې انګرېزي ژبه باندې ډېر ښه پوهېده او د مسایلو اړوند د خپل پلار دسیاسي اصولو او کړنلارو نه ډېر ښه خبر و

به بله مانا حبیب الله خان یو تعلیم یافته او دلویدیځې پوهې برخمن زلمی و او امیر عبدالرحمن خان د خپل امارت په دوره کې تل په خپل دغه زوی باندې باور کاوه او په ځیر سره یې تر نظرلاندې ساتلو او څارلو.

په طبیعت او مزاج کې حبیب الله خان د خپل پلار په اندازه سخت دریځ اوتشدد خوښوونکی نه و. ښایي دا په نوموړي باندې د لویدیځې پوهې د اغېزو پایله وه که څه هم حبیب الله خان د اسلامي اصولو کلك پابند و، لیکن په خپل ژوند او خپل ولس په ژوند کې د لویدیځو کړنلارو مخالف نه و او د تعصب څخه یې ډډه کوله. د پوره سیاسي پوهې درلودونکی او په کورنیو او بهرنیو چارو کې د تجربې خاوند و.

امیرحبیب الله خان دپلار له خوا پښتون او د مور لـه خوا بدخشی تاجك و. ددغې بدخشۍ پېغلې سره سردارعبدالرحمن خان سمرقند تـه دسفر په وخت کې واده کړی و.(۱۳۰)

امیر عبدالرحمن خان په خپل ژوند لیك کې د حبیب الله خان د ښځو شمېره اوه ښودلي دي، چې شپږ په کې د پښتنو له کورنیو څخه وې چې پېژندګلوي یې داسې شوې ده:

۱. دغلجي محمدشاه خان لور چې د پښتون جنرال امیر محمدخان خورزه کېږي.

۲. دقاضي سعدالدین خان لور چې دهرات نایب الحکومه و.

۳. دشاغاسي محمدسرورخان لور.

۴. دسردارمحمدابراهیم خان لور چې د امیر شېرعلیخان لمسی کېږي.

۵. دمنګل او خوست د ولایاتو د رئیس لور.

۶. دلغل پورې دومندو دخان محمداکبر خان لور.

۷. د ازبك مېرسهراب بیك لور.

لیکن ایراني او د افغانستان ناپښتانه مورخین لکه مهدي فرخ او میرغلام محمدغبار دحبیب الله خان د ښځو شمېره تر سوونو پورې رسوي. دساري په توګه ایراني مهدي فرخ لیکي چې امیر حبیب الله خان په خپل حرم کې له درېیو سوو نه زیاتې ښځې ساتلې وې.(۱۳۱)

شاهزاده حیات الله خان عضدو له دچترالي کنیزې او شاهزاده محمدکبیرجان له منګلي کنیزې څخه دي.

مورخ غبار لیکي چې امیرحبیب الله خان سل ښځې درلودلې. (۱۳۲)

امیر عبدالرحمن خان دا هم لیکي چې ما د خپل مشر زوی حبیب الله خان لپاره د نومیالي غازي عمراخان باجوړي لور وکړه.(۱۳۳)

حبیب الله خان د افغانستان امارت ته له رسېدو مخکې د برتانیې د حکومت له لوري رتبه چارواکو سره د خپل پلار له لارې اشنایي پیداکړې وه او د پېرنګیانو د واکمنۍ کولو د بنیادي اصولو په اړه یې پوره معلومات درلود. همدا وجه وه چې د خپل امارت په دوره کې ورته د انګرېزانو له لوري څه ستونزې راپیدا نه شوې، بلکې د تاریخي مسایلو او موضوعګانو څېړونکو داعقیده هم ښکاره کړې ده، چې د امیر حبیب الله خان سره د زیاتو ستونزه په اوارولو کې برتانوي چارواکو مرسته کوله.

هغه ترون چې امیر عبدالرحمن خان دسرحدي کرښې په اړوند له انګرېزانو سره کړی و او د هغې له مخې د افغانستان ختیځ لوری او د جنوبي اړخ زیاتې سیمې دهغو د اوسېدونکو سره یو ځای د برتانوي هند په خاورې پورې تړل شوي وو د امیر حبیب الله خان له خوا هم په رسمیت ومنل شو او هېڅ ډول اعتراض یې ورباندې ونه کړ په داسې حال کې چې دی په خپله د ولیعهدۍ په توګه ددې حقیقت شاهد پاتې شوی و، چې پښتنو په عملي او نظري ډول د نوموړې سرحد کرښې پر ضد د اعتراض او نه رضایت غږ پورته کړی او د مخالفت په بنه یې د ترون مخکې او وروسته د پېرنګیانو په ځواکونو او پوځي تانو باندې خپلې حملې لا پسې سختې کړې وې.

دسرحدي سیمو د اوسېدونکو پرته د کرښې راپه دې خوا یانې د افغانستان د خاورې څخه هم د انګرېزانو پر ضد د مخالفت په توګه د افغانانو او پېرنګیانو ترمنځه دښمنۍ یو نوی رنګ غوره کړی و او خلکو په تېره بیا د سرحدي سیمو اوسېدونکو د امیرحبیب الله خان نه دغه هیله درلوده، چې هغه به د ډیورنډ د کرښې نامنلی او غیر

منطقي وبش چې په اصل کې د امیرعبدالرحمن خان دمجبورۍ ورځې نه د پېرنګیانو ګټه اخیستل و دخپلې خوا نامنظوره اعلان کړي، لیکن حبیب الله خان داسې څه ونه کړل، بلکې د برتانوي هند د حکومت ډېر نږدې دوست پاتې شو.

موږ لږ وړاندې دې خبرې ته لنډه اشاره وکړه چې امیر حبیب الله خان د لویدیځ فرهنګ پلوی و، څکه خو هغه د امارت پر تخت د کېناستلو په لومړي ورځ نوموړی په لویدیځه جامه کې دخلکو په منځ کې راڅرګند شو. نوموړي ښایي لومړی امیر و چې د افغاني جامې پر ځای یې فرنګي یا لویدیزه جامه په تن کړه او دلویدیز فیشن او کلتور سره یې زیاته مینه وه او د همدې عقیدې له مخې یې خپل دربار هم د لویدیز ډوله نظم او ترتیب لاندې راوستلو. یو نوی ډول یونیفورم یې د خپل دربار د کارکوونکو لپاره وټاکلو، چې د بهرنیانو څخه تقلید (پېښې) و. همدغه شان دلویدیزې مفکورې سره سم یې د ښوونې او روزنې سیستم هم د عمل په ډګر کې پلی کړ. په هېواد کې یې د پرمختللي ژورنالېزم (صحافت) بنسټ کېښود او په دې کار کې یې د پښتون محمود طرزي محمدزی له پوهې او تجربې نه زیاته ګټه واخیستله او دده په همت او لیاقت یې د سراج الاخبار په نوم جریده د خپرونو ډګرته راوویستله، چې مسول چلوونکی یې همدغه زلمی (محمود طرزی) وټاکل شو.

محمود طرزی د غلام محمد خان طرزي زوی و، چې د کندهار د محمدزائیانو څخه و او د فارسي ژبې تکړه شاعر پېژندل شوی، څکه خو محمود طرزی له توکمي پلوره پښتون ګڼل کېږي او محمدزائیان د درانیانو یوه پښه ده، امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان هم له همدې پښې نه دي.

زلمی امیر د حبیبي په نوم د یوې نوې لیسې بنسټ کېښود، چې د ختیزې پوهنې سره یوځای په کې د لویزې پوهنې زده کړې نه د ګټې اخیستلو احساس نه درلود او د روغتون یا شفاخانې پرځای یې عربي نوم غوره وګڼلو.

امیرحبیب الله خان د خپل پلار د وخت یو لړ سخت جزایي قوانین هم بدل کړل او په دې لړ کې یې زیات نوي کارونه پیل کړل. څېړونکي عقیده لري چې که امیر حبیب الله خان دیوې خوا په ځینو مسایلو کې ځان رادیکال او لویدیځ پلوی پېژندلو او د ډموکراتیکو خیالونو ښکاره کولو مظاهره یې کوله نو له بلې خوا یې دغه هڅه هم جاري ساتلې وه، چې د افغانستان د اسلامي ټولنې او مسلمان ولس دعقایدو او افغاني اصولو سره ضدیت او مخالفت ونه ښيي.

که له یوې خوا یې د جزایي قوانینو په سختوالي کې نرمښت راوستلو نو له بلې خوا یې د ښځو د ټولنیز ژوند پورې تړلي نوي مقررات منځته راوړل او د نن ورځې په اصطلاح یې د ښځو حقوق تر پښو لاندې کړل او ددې طبقې لپاره یې د ژوند وژواك چوکاټ نور هم وړوکی کړ، چې دلته یې یوه کوچنۍ بېلګه وړاندې کوو:

یعقوب علي خافي د خپل اثر په یو ځای کې لیکي:

" امیرحبیب الله خان در اوایل پادشاهی خود امر کرد که زنان برقع سفید ابرک زده نپوشند وبرقع باید به رنگ خاکی وعاری از هرگونه زینتی باشد، زنان بدون امر ضروری از خانه بدر نشوند ودر کوچه و بازار ها درنظر مردم نیایند ورنه مجازات خواهند شد"(۱۳۴)

د افغانستان درمسیرتاریخ لیکوال په همدې اړه وایي:

" اعلیحضرت زنان شهر کابل را که در زیارت گاه ها، بازارها وسیرگاه ها با برقع پرچین اهار داده شده وسفیدگشت وگزار داشتند،

ازهنگام جلوس خود منع کردند و رنگ چادری را به خاکی تبدیل دادنـــد و کنچنی ها ( سراینده ها رقاصه) را مجبور به توبه کردن شدند و کـــــوچـــه کنچنی ها به دیگر اضاف شهر مسکون گردید"(۱۳۴)

م. غبار دغه پورتنی مطلب د محمود طرزي دیوې مقالې څخه چې ۱۹۱۲م کې او ۱۳۳۱ل کال کې د سراج الاخبار پـه څلورمـه ګڼه کـې خپره شوې ده اخیستی دی. د پام وړ خبره داده چې پـه ۱۹ پـېړۍ کې د امیر حبیب الله خان دغـه کړنـه پـه ۲۱ پـېړۍ کـې دطالبـانو د اسـلامي غورځنګ د اسلامي امارت پـه دوره کې پـه عیـن شـکل او ډول تکـرار شوه او ټولي لویدیځې نړۍ او د هـېواد نـه بهر روڼ انـدو افغانـانو د ډېر کلك غبرګون او اعتراضونو په ترڅ کې هغه وغندله. په داسـې حـال کـې چې امیر حبیب الله خان دلویدیـځ فیشـن، لویدیـځ کلتـور او لویدیـځې پوهې او تمدن لیوال او د امارت په تخت د کېناستلو پـه لومـړۍ ورځ پـه اروپایي جامه کې راښکاره شو، لیکن د طالبانو اسلامي امرات مشـران او کشران او د حکومت چارواکي ټول مجبور مکلف دي چې د ږیـرې پـه لرلو سره د افغانانو عنعنوي او دودیزه جامه هم په تن او د لودیزې نـړۍ او اروپایي جامې څخه په کلکه پرهیز وکړي.

د امـیر حبیـب الله خان پــه انـد او کړنـو کــې یـو ځرګنـد تضـاد او تنـاقض لیـدل کېـده پـه دې مانـا چې پـه خپلـه دتجـدد او لویدیـځ ژونـد زیات لېوال او علاقه مند و، خو د روڼ اندۍ او روڼ اندو سره یـې جوړه نه وه او د فکر او اندېښنې د ازادۍ طرفدار او ملګری نـه و، ځکـه خـو یـې د خپلـې واکمنـۍ پـر مـهال د مشــروطیت غوښتونکـو سـره د ژوري کینې دښمنۍ او مخالفت ثبوت وړاندې کړ.

امیر په سیاسي ډګر کې د خپل پلار لاره خپله کـړه او د برتانیـا ډېر نږدې دوست پاتې شو. په داسې حال کې چې د افغانستان مېړنـي ولـس

ښکیلاکګره برتانیه د خپل هېواد تاریخي دښمنه پېژندله او دوه ستري جګړې یې ورسره کړې وې.

د افغانستان خلکو د سر په سترګو ولیدل چې برتانیې پښتون قوم او دپښتنو خاوره په خپله استعماري چاره تېپي کړه او د ډیورنډ کرښه یې په خپل زور په امیر عبدالرحمن خان باندې ومنله.

امیر عبدالرحمن خان په دې حقیقت بـاندې پوهېدلـی و، چـې د افغانستان خلك ورته د انګرېزانو سره د دوستی له امله کافر وایي:

" مردم میگفتند که من کافر هستم زیرا که دوست انگلیس ها کافر می باشد و هر مسلمان باید با من جهاد نماید"(۱۳٦)

لیکن امیر حبیب الله خان د خپل پلار د غه وینا هېره کړې وه او د پلار نه زیات پېرنګیانو تـه نـږدې پـاتې شـو. د ایـران د اخوندانـو یـا ملایانو د رژیـم دبهرنیو چارو د وزارت لـه خوا په خپور شوي کتـاب (افغانستان ) کې راغلي دي چې د امیرحبیب الله خان ددورې د ډېرو مهمو پـېښو لـه جملې نـه د افغانستان او انګلستان د درېیمې جګړې پېښېدل دي."(۱۳۷)

دا خبره د حقیقت سره سمون نـه خوري ځکـه چې امیر حبیب الله خان د ۱۹۱۹م کال د فبروری په ۲۰ نېټه وفات شوی (شهید شوی) او یوه اوونۍ وروسته د هغه زوی امان الله خان دپاچاهۍ پر تخت تاست دی او ددوی په وخت کې د افغان انګلیس درېیمه جګړه منځته راغلې چې په خپل ځای کې به وربانديې خبرې وشي.

د هزاره څېړونکـو (محققـانو) پـه انـد د امـیرحبیب الله خـان د واکمنۍ په وخت د هزاره قوم په ګټه ځینې نوښتونه وشول او نوې پېښې منځته راغلې. دساري په توګه:

هغه ځمکې چې د عبدالرحمن خان په وخت کې پښتنو کوچیانو تـه ورکړل شوې وې. بېرته هزاره ګانو ت ورکړل شوې. حسن فولادي لیکي:

" در طی دوران حکومت امیر حبیب الله خان و کوچی هـــای افغـان احمدزای به حکومت گفتند که انها قادر به زراعت این سر زمین نیســـتند و بنا بر این حکومت هزاره ها را دوباره به همان سر زمین قبلی شان بردنـــد" (۱۳۸)

د حسن فولادي غوندې نورو شعیه ګانو او هزاره څېړونکو او لیکوالو چې په خپلو لیکنو کې، څومره بدرد او سپورې ستغې امیر عبدالرحمن خان ته ویلي دي هغومره سپکاوی یې د امیر حبیب الله خان ته دی کړی. بلکې دده په هکله یې یو څه خوشبیني ښکاره کړې ده.

ددوی د خوشبینۍ لامل داسې دی چې ګویا امیر حبیب الله خان هغه ځمکې بېرته له پښتنو واخیستې او هزاره و ته یې ورکړل، چې امیر عبدالرحمن خان پښتنو ته ورکړې وې او هغه هزاره کورنۍ چې په بګرام او د جلال اباد په نهر شاهي کې د امیر عبدالرحمن خان له خوا مېشتې شوې وې هم بېرته راوغوښتلې شوې او ځمکې ورته ورکړل شوې. فولادي په دې اړوند داسې لیکي:

" به تاریخ ۱۷ دسامبر ۱۹۰۴م حبیب الله خان طی اعلامیه ای، اعلام داشت که امنیت مال و سرزمین انها تضمین شده است و مهاجرین خارجی ( پشتون ها) حق ندارند ازین مردم اخازی نمایند، درهمان زمان وی اعـــلان داشت هزاره های که در زمان حکومت پدرش از کشور فراری شده بودند، با این تضمین می توانند بر گردند که اگر سر زمین هایشان قبلا به خارجی ها داده نشده اند بعد ازین مصادره نخواهد شد" (۱۳۹)

د ( هزاره ها - حکام کابل) د کتاب مولف له تعصب او وروند ذهنیت څخه په کار اخیستو پښتو یانې افغانانو ته د خارجیانو لفظ استعمال کړی دی، چې تاریخي ارزښت او ماهیت نه لري، ځکه چې

افغان اپاګان- اوغان اوګان یا پښتون د افغانستان یا لرغوني اریانا اصلي اوسېدونکي او د معاصر یاني اوسني افغانستان جوړوونکي او د خپلواك افغانستان ددولت بنسټ اېښودونکي پېژندل شوي او د نړیه او افغانستان د پېښلیکونو پاڼې ددې حقیقت ثبوت وړاندې کوي.

د حسن فولادي هم مذهب، هم نژاد او هم ژبي مورخ فیض محمد کاتب هزاره په خپل معتبر کتاب سراج التواریخ کې خپل پلار نیکه او کورنی او توك ( مغل) معرفي کړي او پوهاند صدیقي د کابل پوهنتون استاد، هزاره ګان په ختیه مغول ثابت کړي دي چې په دې اړه یو څه لنډې خبرې په تېر څپرکي کې هم راغلي دي.

ددې تاریخي سندونو په رڼا کې خو مغول باید مهاجر یا کډوال وپېژندل شي نه افغانان یا پښتانه.

د ( تزك بابري) مولف محمد ظهیرالدین بابر مغول په خپله پښتانه د افاغنه یا افغانان په نوم یاد کړي دي او عین دغه کار عربي، ایراني، هندي، انګلیسي او د نړیه ټولو تاریخ لیکونکو کړی دی.

علامه سید جمال الدین افغان په خپل تاریخي اثر کې لیکي چې:

" هزاره: بعضی مورخین میگویند که این قوم از بقایای عساکر چنگیز خان می باشند بلکه تا سه صد سال بزبان مغلی گفتگو میکردند" ( ۱۴۰ )

ډاکټر جلال الدین صدیق په خپل څېړنیز اثر ( هزاره ها ) کې لیکي:

" هزاره ها در افغانستان از نظر نژادی از اصیل مغولی هستند که به لهجه های زبان دری سخن می گویند، نژاد مغولی که کلاً اقوام هزاره، ایماق، ترکمن، ازبک، قرقیز را در بر می گیرند" ( ۱۴۱ )

حسن فولادي چې لیکلي اثر یې ( هزاره ها - حکام کابل وحکومت های همسایه، (غلی عالمی کرمانی) له خوا په فارسي ژبه ژباړل شوی

دی. د افغانانو په هکله په لیکلو مطالبو کې د جاهلانه تعصب او تنګنظرۍ څخه کار اخیستی دی، چې د لته یې د ناپوهۍ او د افغان دښمنۍ یوه وړه بېلګه دمدعا ثبوت لپاره وړاندې کوو. دی لیکي:

" حاجی خان اکنون که موفق شده بود نیروهای هزاره را به دو پاسه دسته ی جدا از هم تقسیم کند، لذا فرصت برای سیاه ترین اعمال خیانت کارانه ای که همیشه تاریخ رسوای افغان ها از ان عاری نبوده است اماده شد"(۱۴۲)

حسن فولادي چې ګویا د یو تاریخي اثر د لیکلو هڅه کړې ده، د تاریخي سندونو او متنونو په وړاندې کولو کې له اندازې زیات پاتې راغلی او د تاریخي پوهې څخه یې له ړوند تعصب نه زیات کار اخیستی دی، دی وایي چې هزاره قوم ته د هزاره جات د ملکیت سند ایراني شاه عباس ورکړی دی، دی لیکي:

" بر طبق افسانه ی مردم هزاره، تمامیت هزاره ها توسط شاه عباس اول به رسمیت شناخته شده است و او حاکمیت هزاره جات را به مدت هشت نسل به مردم هزاره اعطا نموده است، بعد از هشت نسل هزاره ها کشورشان را به امیر دوست محمد خان درسال ۱۸۶۳ وا گذار نموند" (۱۴۳)

هزاره څېړونکو او محققینو په وروستیو څلورو پنځو کلونو کې دا هڅه پیل کړې ده، چې د هزاره قوم لپاره یو جلا او ځانګړی پېښلیك ولیکي او دغه فکر دوی ته د شوروي (روسي) پوهانو له کارونو څخه په الهام خیستلو را پیدا شو، دساري په توګه: لیون پاولاداد ( پښتنو حکومت) په نوم خپل لیکلی کتاب خپور کړ او تیمورخانوف د ( تاریخ ملی هزاره ها ) تر نامه لاندې خپل اثر چاپ کړ او ددوی دغه کارونه ددې سبب شول چې هزاره لیکوال او څېړونکي په شلمه- یوویشتمه

پېړۍ کې د ځان لپاره یو ځانګړی کړکېښ ولري او په دې کې زیاتـه پاملرنـه د پښتنـو (افغانـانو) واکمنیـو تـه واړوي، طبعـي خـبره ده چـې دحسن فولادي، ابواحسان او .. غوندې کسان به د افغانیت د عنصـر پـر ضد دریغ غوره کوي.

امـیرحبیب الله خـان د پـاچاهـی پـر تخـت بـاندې د کېناسـتلو پـه لومړي ورځو کې د یـو مسـلمان افغـان واکمـن پـه تـوګه یـو لـړ فرمانونـه جاري کړل، چې خاص اسلامي بڼه یې درلودلـه اوپـه شـرعي اصولـو ولاړ و، په داسې حال کې چې امیر په پوهنـیز او فرهنګي ډګر کې د لویدیـځ مدنیـت او کلتـور غوښتونکـی او خوښوونکـی و او دې تـه نـه و حـاضر شوی چـې لـږ تـر لـږه خو د څو ورځو لپـاره اسـلامي افغـاني جامـه پـه تـن کړي او په دې برخه کې د خپل ولس سره یو رنګوالی ښکاره کړي.

مـوږ وړانـدې دې ټکـي تـه اشـاره وکـړه چـې امـیر حبیـب الله خــان د واکمنی په لومړي ورځ د پېرنګیـانو پـه جامـه کې د خپلـو درباريـانو او روحاني شخصیتونو په منځ کې راڅرګند شو، لیکن ښايي امیر تـه دغـه حقیقت ښه نه معلوم ، چې افغانانو په هغه وخت کې ددغه پرنګي لباس څخه بد وړل او دیوې اسـلامي او افغـاني جـامې پـه سـترګو یـې ورتـه نـه کتل. افغان ولس او افغاني ننګیالیو اتلانو چې د خپلـو سرونو پـه بیـه خپل هېواد ( افغانسـتان ) د دښمنانو له سیوري نه بچ ساتلی و دغه ډول جامه نه اغوستله.

امیر حبیـب الله خـان د خپـل هېواد او خپـل ولـس د ملـي عنعنـو، دود ، دستور او افغاني اصولو سره دومره اشنا نه و، لکه څومره چې یې پلار امیر عبدالرحمـن خـان او تـر هغـه مخکې امیر شېرعلیخان او نـور اشنا وو. بلکې زلمی امیرحبیب الله خان د خپل ژوندانه ټول کـړه وړه پـه لویدیځ او په تېره بیـا د پېرنګیانو د ژوند په لارو چارو باندې عیار کړي وو.

د رسمي لباس سره امیر دګلف لوبه او اس سپرلۍ ټول په انګرېزي بڼه ترسره کول، یو افغان مورخ د خپلو سیاسي یادښتونو په کتاب کې لیکي:

" پدرم اهسته بگوشم گفت: به طرف چمن ببین امیر صاحب توپ بازي می کند، با چشمان کنجکاو متوجه چمن شدم، شخص قوي اندازی را دیدم که با لباس سفید همراه دنده دراز توپ سفید کوچکی رابه طرف مقابل پرتاب می کرد، پدرم برایم گفت که ان شخص قوی هیکل امیر صاحب و شخص باریک اندام همه او پسرش شهزاده عنایت الله خان معین السلطنه است که با هم مشغول بازی گلف می باشد" (۱۴۴)

د امیر حبیب الله خان څخه د هېواد روڼ اندو او په ازادۍ مینو خلکو دغه هیله او توقع درلودله، چې باید نوموړی ډېر ژر د پېرنګیانو څخه د افغانستان سیاسي خپلواکي ترلاسه کړي او په دې برخه کې د خپل پلار امیر عبدالرحمن خان تعهدات د راتلونکي وخت لپاره نامنلي اعلان کړي لیکن امیر داسې ونه کړل.

د ۱۲۸۴ل کال دمیزان په میاشت کې امیر د برتانوي هند د حکومت د مشرانو په بلنه هند ته سفر وکړ او د هند په بېلابېلو ښارونو لکه بمبۍ، کلکته، لاهور، اګره، دهلي او کراچۍ کې یې تاریخي ځایونه وکتل چې د ې سفر یوازې تفریحي بڼه درلودله، ځکه چې انګرېزان د امیر په عیاشانه مجاز ډېر ښه پوهېدل.

ځینې تاریخلیکونکي لیکي چې امیر حبیب الله خان څو څو ځلي دغه هڅه وکړه چې د برتانوي هند د حکومت د چارواکو سره د افغانستان دسیاسي استقلال په اړه خبرې وکړي، خو انګرېزانو به نوموړی امیر په هغه او دغه باندې تېر ویستلو او دسیاسي خبرو د پیل کولو موقع به یې په لاس نه ورکوله.(۱۴۵)

لیکن په عقلي او منطقي لحاظ دا خبره سمه نه بریښي، ځکه که چېرې د امیر حبیب الله خان ملي احساس او افغاني جذبه پیاوړي والي اود هېواد دسیاسي برخلیك غم ورسره وای نو هېڅکله انګرېزانو امیر په هغه او دغه باندې نه شو غولولای. امیر حبیب الله خان په هر حالت کې انګرېزان مجبورولی شول، چې د نوموړي سره خبرو ته کېني او د موضوع په اړه ورسره یوې پرېکړې ته ورسېږي او یا خو لږ تر لږه پېرنګیان د امیر نه وخت وغواړي چې د امیر په غوښتنه باندې غور وکړي.

د افغانستان از امیر کبیرتا رهبر کبیر لیکوال عقیده ښکاره کړې ده، چې ګویا امیرحبیب الله خان هند د سفر په جریان کې د لویدیځې نړۍ د ژوندانه د ډول او ځرنګوالي سره اشنایي پیدا کړه دی وایي:

" امیر در جریان همین سفر بود که لباس وطــــرز معیشــــت اروپـــایی راپسیندید و دربین و دربین عمله وفعله خود وخاندان شاهی انرا ترویج نمود" (۱۴۶)

دغه وینا د یو تاریخي حقیقت په توګه نه شي منل کېدای، ځکه چې موږ وړاندې دا خبره سپینه کړه، چې امیر حبیب الله دپاچاهۍ په لومړۍ ورځ په لویدیځه یاني د پېرنګیانو په جامه کې د درباریانو او حکومتي چارواکو او روحاني شخصیتونو په منځ کې راښکاره او ددې خبرې مانا داده چې نوموړی امیر د شهزادګۍ په دوران کې دلویدیځې پوهې او لویدیځ کلتور او د پېرنګیانو د ژوندانه د طریقو سره پوره بلدتیا او اشنایي پیدا کړې وه او هم په انګرېزي ژبه ډېر ښه پوهېده او د ځینو تاریخلیکونکو د وینا له مخې ګویا دولیعهدۍ په وخت کې هم هند ته په سفر تللی و.

امیرحبیب الله خان لومړنی افغان پاچا و، چې په غیر افغاني جامه یا UROPENDRESS کې د خلکو سره مخامخ شو. امیر دخپلې نوې جامې د غوښتنې سره سم په ړیره کې هم اصلاح قبوله او اروپایي Stayl یې ورته ورکړ. په داسې حال کې چې له دوی نه مخکې ټولو پښتنو واکمنو لکه امیر عبدالرحمن خان، امیرمحمدافضل، امیر محمداعظم خان، امیرشېرعلیخان، امیر دوست محمدخان، شاه شجاع سدوزی او نورو ټولو اوږدې ږیرې درلودې، چې دیوې نیمې لویشتې نه لنډې نه وې او دا هم د امیر حبیب الله خان د لویدیځ فیشن خوښونې یو ثبوت ګڼل کېږي.

زیات تاریخلیکونکي دغه یادونه هم کوي، چې امیرحبیب الله خان خپل دربار هم د لویدیځ نظم لاندې راوست او نوې یونیفورم چې په اروپایي ډول جوړ شوی و، د حکومت او دربار د کارکوونکو لپاره وټاکلو او هغوی اجازه نه درلودله، په افغاني کمیس او پرتوګ کې کار نه لاړشي، لیکن ددغه ډول تجدید خوښونې سره سره یې د اسلامي قانون او اصولو په رڼا کې نوي قدمونه پورته کړل چې دلته ورته لنډه اشاره کول ضروري ګڼو.

" امیر د خپلو نکاح کړو ښځو له جملې نه درې ښځې طلاقې کړې او څلور یې پرېښودې چې د شرعي سره برابرې وي. دهېواد په یولسو ښارونو کې یې د قران عظیم الشان دیادولو مدرسې جوړې کړې. په دې مدرسو کې باید له درېیو نه تر شپږو کالوپورې زده کوونکو دپاک قران حفظ پای ته رسولی وای. ښوونکو ته تنخواه د اوسېدو ځای، جامې او ډوډۍ دولت په غاړه اخیستې وه." (۱۴۷)

په جزایي قوانینو کې یې هم ځینې بدلونونه راوستل د ساري په توګه د (افغانستان از امیر کبیرتارهبر کبیر) د کتاب لیکونکی د

امیرحبیب الله خان په قلم د کوتوالي نومي کتاب څخه دغه مطلب رانقل کړی دی:

" درسال ۱۲۸۹ش درکتاب کوتوالی به قلم خود نوشت: سر از امروز ۲۹ذیقعده سال ۱۳۳۰ ق کور کردن انسان موقوف وعـــوض ان دوازده سال حبس وعوض گوش بریدن شش سال حبس وعـــوض دســـت بریـــدن درصورت غیر شرعی ده سال حبس مقرر شد، این فقرات سیاست حکمـــی میباشد هرگاه شرعی باشد السن بالسن والجرح قصاص، این حکم را تحریـــر کردم، به توفیق الهی خود من به همین قرار رفتار خواهم کـــرد. انشـــاء الله" (۱۴۸)

له کومې ضروري اړتیا پرته ښځو حق نه درلود له خپل کوره بهر راووځي او د یعقوب علیخان خافی دلیکنې له مخې چې دپادشاه متاخر په نوم لیکلی کتاب یې په ۱۳۳۴ل کال کې د افغانستان د تاریخ د ټولنې له خوا خپور شوی دی. که چېرې کومه ښځه بې له کومې ضروري اړتیا څخه له کوره راوتلې وه نو جزا به ورکول کېدله.

د امیر حبیب الله خان دغه ډول مقررات په هېڅ وجه د نوموړي د ظاهري کړو وړو او د مدنیت خوښوونکي فکر او عقیدې سره او ددې سره چې امیر هڅه کوله په کارونو کې دلویدیځ پېښې (تقلید) وکړي هېڅ سمون نه درلود. بلکې د یو ژور تضاد او تناقض څرګندوی ګڼل کېده

له دې حقیقت نه انکار نه شي کېدلی چې امیر حبیب الله خان د افغانستان یو ترقی غوښتونکی پاچا و او د لویدیځ دمدنیت زیاتې بېلګې یې په خپل هېواد کې خلکو ته ور وپېژندلې او لومړنی پاچا و، چې دجرمن له دملرفابریکي څخه یې د ځان لپاره بنز موټر راوغوښت او دلودیځ د پوهنې سیستم یې هم د بهرنیو ښوونکو داستخدام د لارې په

افغانستان کې پلې کړ او د لومړي ځل لپاره يې د پرمختللي ژورناليزم بنسټ کېښود، چې دغه د ارزښت وړ کار يې د زلمي ليکوال او ژورناليست محمود طرزي په مرسته سرته ورسوله او د هغه خدمت له مخې يې چې په دې ډگر کې نوموړي د هېواد او هېوادوالو لپاره وکړ د افغانستان د ژورناليزم پلار لقب ورته ورکړل شو. په دې اړه به وروسته زياتې خبرې وشي. ليکن ددې ټولو خبرو سره سره اميرحبيب الله خان په سياسي ډگر کې د خپل ننگيالي ولس هيلو ته ځواب ونه ويلو او د افغانستان د سياسي استقلال غوښتنې غږ يې پورته نه کړ. د ډيورنډ د کرښې په هکله يې خوله پټه وساتله او نه يې د افغانستان د خاورې او پښتون قوم په ټوکرې کېدلو کوم خپگان ښکاره کړ، بلکې هغه ديو کرار او چوپ افغانستان پاچاهي د ځان لپاره غنيمت وگڼله.

# د پښتو ژبې نوې حالت او د پښتنو سیاسي فعالیت

تېر بحث کې مو د امیر حبیب الله خان (سراج الملت والدین) په سیاسي او د اسلامي کړنو په څرنګوالي باندې رڼا واچوله، هغـوی د شخصي ژوند او رسمي دندو په هکله مو ځینې ټکي بیـان کړل او و مـو ویـل چې هغـه دلویدیـځ کلتـور او پوهنـې تـر اغېز لاندې و او د افغـاني ټولنې څېره یې په اروپایي هنداره کې لیدل غوښتل.

امیر حبیب الله خان په داسې وخت او شرایطو کـې د دغـه کـار تکـل وکړ، چې افغان ولس د پېرنګیانو سره په دوه سترو جګړو کې بریالي راوتلي و، خو د سیاست په ډګر کـې د امـیرعبدالرحمن خـان د کمزورۍ له امله د خپل تاریخي هېواد ځینې سرحدي سیمې یې لـه لاسـه ورکړې وې. چې سرحدي پښتنو په دې عمل د اعتراض په ډول د پېرنګیانو سره خپلو جګړو ته دوام ورکړ.

امـیرعبدالرحمن خـان چې یوویشت کالـه یې د خپلې واکمنـۍ پـه ټینګولو او د خپلو رقیبانو په مغلوبولو کې تېر کړي وو. دغه فرصت یا وخت نه و موندلی چې دهېواد لپاره په فرهنګي ډګر کې هم څو قدمونـه پورته کړي او یا بنـایي په دې برخه کې د پوهې څښتن نه و. نـو کلـه چې

امیر حبیب الله خان واکمنۍ ته ورسېد دهغه تش ځای د ډکولو لپاره یې هڅې پیل کړې او فرهنګي چارو ته یې خپل پام واړولو.

امیر حبیب الله خان په هېواد کې د لومړي ځل لپاره یو پوه پښتنو ته چې د شاهي مدرسې ښوونکی و او په اصل کې د کندهار د ولایت اوسېدونکی و په ۱۹۰۵م کال د (سراج الاخبار) په نوم دیوې جریدې د خپرولو اجازه ورکړه او په دې ډول د افغانستان د ژورنالیزم په کړکېښ کې د پښتون مولوی عبدالروف خان خاکي نوم په سر کې ولیکل شو، که څه هم ددغه پښتون په مسئولیت د سراج الاخبار د جریدې تش یوه ګڼه خپره شوه او اخبار د مقاماتو له خوا په نامعلومو دلایلو او ناثابتو لاملونو بند کړی شو.

په دې هکله زموږ د هېواد تاریخلیکوڼکي او څېړوکي پټه خوله پاتې شوي دي، چې مولوی عبدلروف خاکی چې د سراج الاخبار لومړنی بنسټ اېښودونکی او چلوونکی او هم د شاهي مدرس ښوونکی و، په هغه لومړنۍ ګڼه کې څه خپاره کړي وو، چې د هغه په تور ورته د سراج الاخبار ددویمې ګڼې د چاپ اجازه ورنه کړی شوه او نږدې شپږ کاله یانې تر ۱۹۱۱م کال پورې هغه اخبار خپور نه شو.

ټولو څېړونکو او تاریخلیکونکو په یوه خوله همدا یوه خبره تکرار کړې ده، چې دمولوی عبدلروف خاکی په مدیرت او مسئولیت یوازې یوه ګڼه سراج الاخبار چاپ شوی دی او بس، لیکن یوازې زموږ د هېواد نومیالي مورخ، محقق، ادیب او شاعر علامه پوهاند عبدالحی حبیبي په خپله یو معتبر اثر کې د پښتون مولوی عبدالروف خاکي قندهاري یوه لنډه خو ډېره په زړه پورې پېژندګلوي کړې ده، چې دهغې له مخې هر هوښیار سړی پوهېدلی شي چې امیر حبیب الله خان ولې د سراج الاخبار په خپرونه بندیز لګولی او ددویمې ګڼې د خپرولو اجازه یې نه

ده ورکړې. پوهاند حبیبي د مولوی عبدالروف خاکي پېژندګلوي داسې کړې ده:

" مولوی عبدالروف خان موسس انجمن سراج الاخبار از مشاهیر علمای افغانی در اوایل قرن بیستم است که درجنبش فکر عصری درست داشت، وی پسر مولوی عبدالرحیم کاکر قندهاریست که درشوال ۱۲۹۸ق درون بنای خرقه شریفه قندهار بدست خود امیر عبدالرحمن خان کشته شد. (بنگرید سراج التواریخ ج،۳ص ۳۸۲.)

تولد مولوی عبدلروف در شهر قندهار روز دوشنبه ۵ صفر ۱۲٦۷ق درخاندان علم وفضلیت مولوی حبیب الله معروف به محقق قندهاری است که از پدرش علوم منقول و معقول فراگرفته ومدتی پس از قتل پدرش بردست امیر از وطن تبعیدبسر برد ولی در حدود ۱۳۰۰ق امیر عبدالرحمن خان اورا پس بوطن خواست و درکابل به حیث ملای حضور ومدرس مدرسه شاهی وممتحن قضات مقرر گشت" (۱۴۹)

د استاد عبدالحی حبیبي په وینا دغه جید او د روڼ اندو د ټولنې سرخېل (مولوی عبدالروف خان) دیوې روښانفکرې ټولنې یانې انجمن سراج الاخبار د بنسټ ایښودونکو له ډلې څخه دی. چې د امیر حبیب الله خان په موافقت دسراج الاخبار د جریدې امتیاز هم همدې ټولنې او مولوی خاکي ته ورکړی شو او لومړنی ګڼه هم د همدغه انقلابي پښتو په مسئولیت چاپ او خپره شوه. لیکن په همدې ګڼه کې د مولوی عبدالروف خان په سرمقاله او د یو بل پښتون شاعر او روڼ اندي مولوی سرور واصف قندهاري په قصیده کې ځینې داسې خبرې وې، چې ډېر نوي مفاهیم په کې پراته وو او افغان ولس او امیر دواړو ته په کې پیغامونه پراته وو، لیکن د برتانوي هند د دولت چارواکي له هغو

مطالبو نه د وېرې او تشویش احساس وکړ او امیر حبیب الله خان یې وهڅولو، چې د سراج الاخبار خپرېدل بند کړي. (۱۵۰)

په دې تاریخي سند کې لیدل کېږي چې د مولوی عبدالروف خان خاکي دسراج الاخبار په بندولو کې هم انګرېزانو لاس درلود او امیر هم یو ځل بیا ددې خبرې ثبوت وراندې کړ، چې هغه د پېرنګیانو په مشوره کار کوي او د انګرېزانو خبرو ته غوږ نیسي.

له بلې خوا د هېواد غیر پښتنو تاریخلیکونکو دغه هڅه کړې ده، چې د هېواد روڼ اندي په غورځنګ چې دامیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال منځته راغلی او د هېواد په پېښلیك کې یې لوی بدلون هم راوست د پښتنو ونډه او ددوی د انقلابي روښانفکرانو بنسټیز کردار کمزوری او لږ وښیي.

موږ د تاریخ په مرسته دا کوښښ کړی دی، چې د روڼ اندی په غورځنګ کې چې د هېواد د مشروطیت غوښتنې د نهضت په نوم یاد شوی دی، د پښتنو درنه او او د ارزښت وړ ونډه ددې کتاب لوستونکو ته جوته کړو او هم د امیر حبیب الله خان په دوره کې د پښتو ژبې او د پښتنو په سیاسي حالت باندې رڼا واچوو.

امیر عبدالرحمن خان په هېواد کې د یو مستبد او زورواکي دولت بنسټ کېښود او د ژوند ترپایه پورې یې سیاسي فعالیتونو ته اجازه ورنه کړه او د امیر له وفات نه وروسته حبیب الله خان د همدغه دولت وارث شو او دده په وخت کې هم مطلقیت او استبداد دوام وموند او پښتنو د نورو نه مخکې د ټینګ شوي استبداد پر ضد د اعتراف غږ پورته کړ.

دغه غږ زموږ په تاریخ کې د (په افغانستان کې د مشروطیت غوښتنې غورځنګ) په نوم یادشوی او دا هغه نوم دی چې ددغه غورځنګ بنسټ ایښودونکو د خپل نهضت لپاره غوره کړی و.

دیادوني وړ ده چې د مشروطیت غوښتنې غورځنګ په دوو پړاوونو کې راڅرګند شوی دی. لومړی او دویم چې په دواړو کې موخه او مقصد یوه وه. لیکن د غورځنګ په غړو کې دپام وړ بدلون یا زیاتوالی او کموالی راغلی دی.

د مشروطیت غوښتنې د غورځنګ لومړنی بنسټ ایښودونکی یا د ازادۍ دلارې مبارزین چې د مرګ تر وروستۍ شېبې پورې په خپله عقیده او مفکوره ټینګ پاتې شول، هغه پښتانه وو که څه هم د خپلو لیکنو او شعرونو لپاره یې د پښتو ژبې پر ځای د فارسي ژبې نه کار اخیستلو او پردۍ ژبه یې د خپلې سیاسي مبارزې د وړاندې بیولو وسیله ګرځولې وه.

په حقیقت کې پښتنو د نورو نه مخکې د افغانستان لپاره د ولسواکۍ (دموکراسۍ) غوښتنې غږ پورته کړی دی او په دې لاره کې یې زندانونه، زنځیرونه او غوراب او ان چې اعدامونه او په توپ الوزونې هم په ورین تندي ومنلې.

دوی د ولسواکۍ د غوښتنې کار دلومړي ځل لپاره دهغې ټولنې یا انجمن د جوړولو له لارې پیل کړ. چې د (انجمن سراج الاخبار) تر نامه لاندې یې منځته راوړی او دسراج الاخبار جریده یې له هماغې ټولنې له خوا خپور کړی و. ددې ټولنې مشر او د جریدې چلوونکی پښتون مولوی عبدالروف خان خاکی قندهار و، چې مرستیال یې هم یو سرتېر انقلابي پښتون مولوی محمد سرور خان واصف، د مولوی احمدجان الکوزي چې تاجر تخلص یې کاوه زوی و. چې د ټولنې د لیکونکي یا محرر( منشي) دنده یې پر غاړه اخیستې وه" (۱۵۱)

امیرحبیب الله خان د انګرېزانو له لوري په دې مسئله خبر کړی شو. چې دا ټولنه او سراج الاخبار دواړه په افغانستان کې د ولسواکۍ یا مشروطیت د راوستلو موخه پر مخ بیایي.

هغه پښتانه پوهان، عالمان، لیکوال،شاعران، ادیبان، سیاسي مبارزین او نور چې د ولسواکۍ یا مشروطیت غوښتنې لومړني غورځنګ او د سراج الاخبار د ټولنې او سراج الاخبار منځته راوړونکي پېژندل شوي دادي:

١. مولوی عبدالروف خان خاکی د سراج الاخبار د ټولنې او سراج الاخبار لومړنی چلوونکی.

٢. مولوی محمدسرورخان واصف الکوزی چې د میر قاسم خان په وینا ( خدای بښلی واصف هغه لومړنی قافله سالار و، چې د مشروطه غوښتنې کاروان یې د خپل سر په بیه پر لاره روان کړ). او همداسې پوهاند عبدالحی حبیبي د مولوی محمدسرور واصف په هکله لیکلي دي:

"این شخص عالم و دردمند وشاعر فرزند مولوی احمدجان متخلص به تاجر ابن ازاد خان ابن زین العابدین از مردم الکوزایِ بالا ژره ارغستان قندهار بود، نویسنده و مترجم وشاعر فعلی بود و اثار ترجمه کرده او کتابیست بنام تاریخ ادریسیان و جمودیان و( موحدین افریقای شمالی) که از عربی به زبان دری در اورده شده و نسخه خطی ان در ارشیف ملی کابل موجود است، واصف عالم وشاعر ومتفکر و روشنفکر ، و به علوم ادبی و اسلامی اشنا بود که درسال ١٣٢٣ق در انجمن سراج الاخبار بحیث محرر (منشی شمول داشت)" (١٥٢)

لیکن زه په خپله ( ددې کتاب لیکوال) داسې انګېرم چې مولوی محمدسرورخان واصف د اوس وخت په اصطلاح یو انقلابي پښتون و او د امیر حبیب الله خان د مطلقه رژیم پر ځای یې د ولسواکۍ نظام د راوستلو هیله په زړه کې لرله او همدا یې دمبارزې موخه او مقصد و،

واصف او د کوزنی غړو یې د افغانستان د مشروطه غوښتنې پښبلیك په خپلو سرو وینو ولیکلو.

وایي چې کله امیر حبیب الله خان د مولوی محمدسرور واصف الکوزي او د هغه د ورور سعدالله خان او د پلار د تره زوی عبدالقیوم خان سره یو ځای د اعدام حکم لاسلیك کړ او مولوی واصف د توپ خولې ته وتړل شو نو پوښتنه ورنه وشوه چې:

دمرګ په دې وروستیو شېبو کې که څه ویل غواړې نو ووایه. واصف قلم او کاغذ وغوښت او ویې لیکل:

" درحالیکه به امنت بالله وملایکته... ایمان کامل داشتم به حکم امـــیر کشته شدم"

توصیه من به اخلاف اینست:

ترک مال وترک جان و ترک سر     در ره مشروطه اول منزل است(۱۵۳)

دوی درې واړه چې د عبدالرحمن خان لودین سره په شېرپور کې بندیان وو، پرته له عبدالرحمن نه د شېرپور په غونډۍ کې اعدام شول او په دې ډول د مشروطیت پښبلیك دوی او ملګرو یې په خپلو وینو وکښل.

۳. سعدالله خان الکوزی پر ۱۳۲۷ل کال د حکومت له خوا ونیول شو او دخپل ورور واصف سره یو ځای په توپ والوزول شو.

۴. عبدالقیوم خان الکوزی قندهای د نورمحمدخان زوی دمحمد لمسی او دمحمدعظیم خان کړوسی د واصف او سعدالله خان سره یو ځای په توپ والوزول شول. (۱۵۴)

۵. میرقاسم خان د لغمان د ولایت د چهارباغ اوسېدونکی او د سیدغلام محمد زوی و، چې لوی پوه او د

مشروطه غوښتني د غورځنګ د بنسټ ایښودونکو له جملې څخه و، دی یو ځل پر ۱۳۱۲ل کال کله چې محمد نادرشاه په شهادت ورسول شو د نورو تورنو کسانو په جمله کې په اعدام محکوم شو، لیکن په وروستیو شېبو کې له مرګ نه بچ کړای شو، وروسته د سردارشاه محمود خان په کابینه کې د عدلیې وزیر په توګه وټاکل شو او پر ۱۳۵۷ل کال په کابل کې مړشو.

۶. د وتلي مولوی عبدالروف خان دوه زامن مولوی عبدالواسع اخندزاده او مولوی عبدالرب اخندزاده چې دواړه پېژندل شوي او منلي پوهان وو.

مولوی عبدالواسع اخندزاده د امیر حبیب الله خان د امارت په وروستیو کلونو کې د کندهار د لومړنیو ښوونځیو سر رشته دار او دهېواد د خپلواکۍ د جګړې پیاوړی علمبردار و، د امیر امان الله خان غازي دپاچاهۍ په دوره کې یې دپښتو ژبې لپاره د قدر وړ خدمت وکړ چې په خپل ځای کې به ورباندې خبرې وشي.

۷. مولوی عبدالرب اخندزاده د خپل پلار نه د اسلامي علومو او عربي ژبې زده کړه وکړه او د امیر حبیب الله خان په دوره کې د حبیبې د مدرسې ددنیاتو او اسلامي فلسفې استاد ټاکل شوی و، چې دمشروطیت غوښتنې په تور زندان ته وغورځول شو، مولوی عبدالرب اخندزاده د امیر حبیب الله خان د حضور ملا هم و."(۱۵۵)

۸. مولوی غلام محی الدین خان افغان کورنۍ چې د سردار محمد ایوب خان سره هند ته فرارشوې وه او پر ۱۳۲۴ل کال بېرته هېواد ته راستانه شول. د هند په کالجونو کې یې زده کړې ترسره کړې وې، دی د سراج الاخبار د لیکوالو په ډله کې شامل او

د پښتو ژبې تکړه شاعر و. محمود طرزی دسراج الاخبار پـه یـوه ګڼه کې د افغان په هکله لیکلي دي:

" یک عالم باعمل افغانی نژاد افغانی زبان وطنی ما جناب مولوی غـــلام محی الدین افغان سر کرده مدرسه دارالمعلمین است که بزبان های شـــــرقی مانند پښتو،پارسي، عربی و زیاده بر ان بزبان های متنوعه هندوستان مــــانند اردو، گورمکهی، شاستری، سنسکریت وغیره بدرجه که ترجمــــه بتوانـــد اگاهی دارد" (۱۵٦)

دی د پښتو ژبې ښه شاعر او د فارسـي ژبې لیکـوال هم واو پښتـو شعرونه او پارسي مقالې یـې پـه سراج الاخبـار کې خپرې شـوي دي. پـه هېواد او خپـل ولـس بـاندې میـن و او پـه مزار بـاندې یـې دلومـړي ځل لپـاره پښتـو کتیبـه وکښل شـوه چـې د هغـوی ملـي شـخصیت پـه کـې پېژندل شوی دی.

۹. عبدالجلال خان پښتون چې د کندهـار اوسېدونکی او د مولوی غلام محـی الدیـن افغـان د تـره زوی و. دی هـم دمشـروطه غوښتنې پـه تـور پـه شـېرپور کـې بنـدي او د امـیر حبیـب الله خـان د واکمنۍ تر وروستیو ورځو پورې زندان کې پاتې شو.

۱۰. کاکـا سـید احمـد خـان لودیـن قندهـاری: د فیـض محمدخـان زوی او یـو پـوه پښتـون و. یولـس کالـه د ارګ پـه زنـدان کـې پـروت و او د مشـروطه غوښتنـې د غورځنګ تکـړه غـړی و اود اعلیحضرت امـان الله خـان غـازي پـه دوره کـې لـه زنـدان نـه خوشـې شو.

۱۱. بابا عبدالعزیز خان الکوزی د مېرزا عطـا محمـد خـان الکوزي کندهاري زوی و. د کندهار د طلوع افغان د اخبار لومړنی چلوونکی او پر ۱۳۰۹ل کال د کندهار دخلکو له خوا د ملي شورا

وکیل وتاکل شو. د مشروطیت دغورځنګ غړی او پر ۱۳۱۲ کال د برتانیې پر سفارت باندې د برید په تور دیارلس کاله بندي شو.

۱۲. اخندزاده محمداکبرخان اسحاق زی کندهاری پښتون د امیر حبیب الله خان په دوره کې د مشروطه غوښتنې په تور زنداني شو.

۱۳. شېرعلیخان بارکزی: د مشروطیت د غورځنګ تکړه غړی او پر ۱۳۲۷ ل کال په شېرپور کې بندي او په اماني دوره کې راخلاص شو.

۱۴. مولوی محمد مظفرخان مروت: په اصل کې د پښتونخوا دبنو او د اسماعیل خان د دېرې اوسېدونکی و. لیکن په برتانوي هند کې یې زده کړې کړې وې او د زده کړو وروسته د امیر حبیب الله خان په وخت کې د حبیبې لیسې په مدرسه کې د حساب او جغرافیې استاد تاکل شوی و. د لومړی مشروطه غوښتنې د غورځنګ غړی و، چې پر ۱۳۲۷ق کال په شېرپور کې زنداني او څوکاله وروسته په همغه زندان کې مړشو. (۱۵۷)

۱۵. مېرزامحمدحسن: په قوم اڅکزی او د کوتوالي په نوم کتاب یې د امیر حبیب الله خان د دربار د پېښو په اړه لیکلی دی، د شعر ځینې بېلګې یې په سراج الاخبار کې خپرې شوې دي، د مشروطه غوښتنې د غورځنګ غړی و چې پر ۱۹۱۶م کال په زندان کې وفات شو.

۱۶. محمدایوب قندهاري: د پوپلزی تاج محمد خان زوی و، چې د سردارمحمدایوب خان سره هند ته فرار شوي و، خو وروسته بېرته هېواد ته راغی، زوی یې محمدایوب خان د مشروطه غوښتنې د غورځنګ غړی و او په همدې تورباندې دمحمدعثمان خان سره یوځای تر نیول کېدو وروسته په توپ والوزول شو.

۱۷. محمد عیسی خان: د نوموړي محمد ایوب ورور و، چې په ورته تور باندې بندي او په زندان کې مړ شو(۱۵۸)

۱۸. پاچامیرخان وزیري: د وزیرو د قوم د خان زاده ګڼل شخه و. چې په لوګر کې میشته شوي وو او د شهزاده امان الله خان سره یې نږدې اړیکې درلودې. د امان الله خان د دورې تر پیل پورې د مشروطیت غوښتنې په تور په ارګ کې بندي پاتې شو او د خلاصیدلو نه وروسته د لوګر د حاکم په توګه وټاکل شو او بیا یې په دربار کې دنده درلودله.

تر دې ځایه پورې مونږ د لومړي مشروطیت غوښتنې په ملي او سیاسي غورځنګ کې د پښتنو د اساسي او لومړی درجه رول او ددوی د فعالیت او حرکت په اړوند په لنډیز سره خبرې وکړې او دا مو هم د تاریخ په رڼا کې روښانه کړل، چې په حقیقت کې د سراج الاخبار د ټولنې او جریدې بنسټ ایښودونکي پښتانه وو او یا په ټولنه کې ډېره کیان پښتانه وو. چې د ولسواکۍ یا د اوس وخت د لویدځ په اصطلاح ډموکراسۍ لپاره یې مبارزه کوله. لیکن دغه مبارزه په زور او تشدد ولاړه نه وه او نه په کې نور قومونه نفي شوي وو، بلکې پښتنو مشرانو او عالمانو د هیواد غیر پښتانه هم دځان سره شریک کړي وو البته په ټولنه کې کلیدي کردار دپښتنو پر غاړه و.

دمشروطه غوښتنې د لومړي غورځنګ په مرامنامه کې څومادو په څرګند ډول د ولسواکۍ او ډموکراسۍ مفهوم وړاندې کاوه، هغه څو مادې په لاندې ډول دي:

۱. اطاعت به اصول اسلام و تقدیس قران عظیم الشان وقبول تمام احکام اسلامي.

۲. کوشش مداوم د ربدست اوردن حقوق ملی ومشروطه ساختن رژیم حکومت تحت نظر نمایندگان دولت و تامین حاکمیت ملی وحکم قانون.

۳. اشتی و حسن تفاهم بین تمام اقوام وقبایل افغانستان وتحکیم وحدت ملی.

۴. سعی در اصلاح ملت از راه صلح و اشتی نه با دهشت افگنی و استعمال سلاح و زور.

۵. تاسیس مجلس شورای ملی از راه انتخابات ازاد نمایندگان مردم.

٦. تحویل استقلال سیاسی و ازادي افغانستان و گسترش روابط سیاسی و اقتصادی با دنیای خارج که در انوقت امیر افغانستان مکلف بود غیر از دولت هند برتانوی با دیگر دولتی روابط سیاسی نداشته باشد.

۷. تامین اصول مساوات وعدالت اجتماعی. (۱۵۹)

په افغانستان کې د مطلقه شاهي رژیم پر ځای د ولسواکۍ او دموکراسۍ د ټینګښت لپاره د غورځنګ د غړو مبارزه په بشپړ ډول په سوله ییزو لارو او اصولو ولاړه وه، لیکن شاهي نظام د هغوی پر ضد له زیات تشدد او زور څخه کار اخیستلو او د اعدامولو سره یو ځای زندانونه هم د مشروطه غوښتنې د غړو نه ډك كړي وو.

ددې موخې او مقصد لپاره په وژل شویو، فرارشویو او بندي شویو کسانو کې د پښتنو شمېره تر ټولو زیاته او ددې څخه دا څرګندېږي، چې د امیر حبیب الله خان په دورو کې پښتنو په سیاسي ډګر کې زیات فعالیت درلود، دغه سیاسي فعالیت یوازې د مشروطه

غوښتنې په لومړۍ دورو کې نه بلکې په دویمه مشروطه کې تر هغه لا زیات و او په دویمه مشروطه کې هم پښتنو پوهانو، لیکوالو، شاعرانو او ژورنالیستانو او سیاسي شخصیتونو د خپل مقصد لپاره مرکونه او بندونه وګالل.

دلته د اړتیا له مخې ددویمې مشروطه غوښتنې دغورځنګ پورې د تړلو هغو نومیالیو پښتنو لنډه پېژندګلوي کوو چې د قلم او وینا له لارې یې په سیاسي ډګر کې خپل فعالیت او نه ستړې کېدونکو هڅو ته دوام ورکړی او د سر او مال څه پروا یې نه ده کړې، د هغو پښتنو ملي مبارزې د افغانستان په پېښلیك کې نوي ځپرکي ور زیات کړل، لیکن د هېواد مورخانو لکه م. غبار او فرهنګ دهغوی له نومونو سره د پښتون دکلمې د استعمال نه کلکه ډډه کړې ده، ځکه خو زیات کورنیان او بهرنیان نه شي پوهېدلی، چې د مشروطیت دغورځنګ او د سراج الاخبار د ټولنې او جریدې بنسټ ایښودونکی او په هېواد کې د ولسواکۍ او ډموکراسۍ د راوستلو لپاره مبارزه کوونکي پښتانه او د پښتون د توك پورې تړلي خلك وو، چې دخپل مقصد لپاره یې غیر پښتانه هم د ځان ملګري کړل.

۱۹ محمود طرزی: په ختېه پښتون او د علامه عبدالحی حبیبي په وینا د رحمدل خان نمسی و، چې مور یې د غلجیو دایدوخېل هوتك له کورنۍ ښځه وه، رحمدل خان دغلام محمدخان پلار و او غلام محمدخان (وروسته طرزی) دمحمود طرزي پلار دی، یانې محمود طرزی هم د پلار او هم د مور له لوري په پښتنو ورګډېږي، له همدې کبله غازي امان الله خان دده لور وکړه او دی یې د لیاقت او پوهې له مخې د بهرنیو چارو وزیر وټاکلو.

محمود طرزی که څه هم ظاهرا ددویمې مشروطې د غورځنګ رسمي غړی نهو. لیکن د لیکنو له لارې چې په سراج الاخبار افغانیه

کې يې کولې د غورځنګ موخې او مقصدونو ته مرسته رسوله. پوهاند عبدالحی حبيبي په (جنبش مشروطيت در افغانستان) کـه عقيده ښکاره کوي چې:

" طرزی رهنمای موثر جوانان مشروطه خواه دوم و توسيع فکـو ازادی و تجدد خوای بود، يعنی احيای مجدد تحريک سرکوب شده مشروطيت اول و پرورش جوانان فداکار مانند امان الله خان و عبدالرحمن لودين و عبدالهادی خان و امثال ايشان."

وايي چې کله محمود طرزي د سقوي غلو له لاسه هېواد پرېښودلو ته مجبور شو، نو په داسې حال کې چې اوښکې يې له سترګو روانې وې د پښتو دغه بيت يې زمزمه کاوه:

دا ستـا په مينه په شپو شپو زه کړېدلی يم
اوس دې پرېږدمه چې انګرېز درته غندلی يم.

پښتون محمود طرزی دخدای بښلي مولوی عبدالروف خان خاکی دسراج الاخبار نه شپږ کاله وروسته يانې پر ۱۲۹۰ل کال د سراج الاخبار افغانيه په نوم اخبار په خپل مديريت خپور کړ، چې ځو تنو پښتنو ليکوالو او شاعرانو ورسره قلمي همکاري درلودله.

۱۹. عبدالـهادي خـان داوي"پريشـان" : د عبدالاحد اخوندزاده زوی د قندهار د داوي پښتنو څخه دی، چې په پښتو او فارسي دواړو ژبو يې ليکوالي او شاعري کړې ده، په اردو، ترکي، عربي او انګرېزي ژبو هم پوهېده او پر ۱۲۹۰ ل کال د عبدالرحمن لودين يو بل روڼ اندی انقلابي پښتون سره يوځای، د محمود طرزي تر لاس لاندې په سراج الاخبار افغانيه کې کار کاوه او د امان افغان مدير هم شو. داوی پريشان ددويمې مشروطې ډېر فعال غړی او دسياست د ډګر تکړه لوبغاړی و. دی د سراج الاخبار افغانيه ډېر

نږدې قلمي همکار و او د هېواد په نوي ادبي بهير کې د محمود طرزي سره يو ځای د پوره برخې خاوند ګڼل شوی دی.
ده پر ۱۹۲۰م کال د محمود طرزی سره يو ځای د هند دميسورې په خبرو کې ګډون درلود او د هغه افغان پلاوي غړی هم و. چې پر ۱۹۲۱م کال يې د برتانوي هند د استازي دابس سره خبرې کولې. پر نورو مهمو دندو سربېره په لندن کې د افغانستان لومړنی مختار وزير هم وټاکل شو او پر ۱۹۲۲م کال يې هلته د افغانستان سفارت پرانيست.
عبدالهادي داوي په زياتو هېوادونو کې د افغانستان د سفارت دنده سرته رسولې او وروستۍ دنده يې په کابل کې د مشرانو د جرګې مشرتوب و. پر ۱۹۸۲کال د ۸۸ کالو په عمر په کابل کې مړ شو. وايي په پښتو ژبه ځو بيتيزه مثنوي لري.
دپښتنې فرهنګ په ډګر کې يې د خدمت ساحه ډېره پراخه نه وه، ده د اسلام د ستر لارښود حضرت محمد ﷺ په نوم يو کتاب چې عبدالمجيد قرش په اردو ژبه ليکلی و د (زما رسول پاك) په نوم په پښتو ژبه وژباړلو. د پښتو په پرتله يې په دري ژبه کې شعرونه او ليکنې څو چنده زيات دي او په وروستيو کلونو کې چې د سترګو ديد يې له لاسه ورکړی و، د افغانستان په راډيو تلويزيون کې د ژوند وروستۍ مرکه هم په فارسي ژبه وکړه.
۲۱. عبدالرحمن لودين (کبريت) : د نوميالي پښتون کاکا سيداحمد خان لودين قندهاري نوميالي زوی و، چې ديو انقلابي او عقيدوي څښتن او ددويمې مشروطې ډېر زړور او تند مزاجه برجسته غړی هم و او په فکري لحاظ د محمود طرزي دلارې ملګری ګڼل کېدو. د حبيبې په مدرسه کې يې لومړنۍ زده کړه وکړه او د پښتو او دري ژبې نه پرته په ترکي، اردو، عربي او انګرېزي ژبو هم پوهېده.

پر ۱۳۰۲ل کال د هغه افغاني پلاوي برجسته غړی و، چې د افغانستان له خوا بخارا ته استول شوی و، پر ۱۳۰۳ کې د پاچا سرلیکونکی (سرمنشي) و، خو ژر یې له خپلې دندې نه استعفا ورکړه او پر ۱۳۰۷ ل د سقاوي انقلاب په وخت کې بندي شو.

عبدالرحمن لودین د پېرنګیانو ډېر کلك دښمن پېژندل شوی و او په پاچا محمدنادرخان باندې یې هم تل نیوکې کولې چې دځوانۍ په منګ د پاچا محمدنادرخان په حکم په ۱۹۳۰م کې د دلکشاه ماڼۍ نه بهر ووژل شو.

د انقلابي لودین پښتون په بېلابېلو دندو کې یوازې هغه دندې د ارزښت وړ پېژندل کېږي چې د پښتو ملي ژبې لپاره یې سرته رسولې دي. دی پر ۱۳۰۲ل کال د پښتو مرکې مشر و او دویم ځل هم د پښتو مرکې مشر وټاکل شو، لیکن د پښتو له خوا نه د خپرو شویو اثارو کوم لېست تر اوسه نه دی لیدل شوی. وایي چې عبدالرحمن لودین ځینې مقالې او لیکنې په سراج الاخبار افغانیه کې هم خپرې شوي دي، خو دا خبره نه ده سپینه شوې چې هغه په پښتو ژبه دي او که په فارسي ژبه.

مورخ غبار لیکلي دي چې عبدالرحمن لودین د (پښتو –دري) ژبې یو غټ قاموس لیکلی و، لیکن تر چاپ ونه رسېد (۱۶۰)

غبار د عبدالرحمن لودین د فارسي شعرونو ځینې بېلګې په خپل تاریخ کې راوړي دي لیکن د پښتو شعر یا نثر هېڅ کومه بېلګه یې نه راوړې. ځکه خو په دې خبره پوهېدل ګران کار دی چې لودین په پښتو کې لیکنې یا شعرونه لري او که نه؟

د " افغانستان درمسیرتاریخ" لیکوال وایي چې عبدالرحمن لودین پر ۱۹۱۸م کال د امیرحبیب الله خان د زېږېدنې په شپه چې د کابل په بازارونو ( د ارګ بازرا، چوك او شوربازار) کې جشن جوړ شوی و او د برېښنا څراغونه هره خوا رڼا خپره کړې وه، زلمی لودین د امیر د موټر

په انتظار کې ناست و او چې څنګه د امیر حبیب الله خان موټر د هغه دکان مخې ته راورسېد چې لودین تمانچه په لاس د هغه پر بام باندې ناست و، نو بې له ځنډه یې په امیر ډزې وکړې، امیر حبیب الله خان بچ پاتې شو او مردکی د موټر په بانټ باندې ولګېدله.

سبا ورځ له سهار نه جاسوسان په لټه کې شول او مېرزا محمد حسین خان مستوفي الملك ( دامستوفی الممالك د فارسي ژبې د وتلي شاعر او ادیب استاد خلیلي پلار و) په جدي توګه د پښتنې پلټنه پیل کړه او یو تن چې سرور (د کونډې زوی) نومېده او عبدالرحمن خان لودین یې له پخوا نه ځارلو او د عبدالرحمن لودین کور هم ددغه سړي د سیمساری له دکان نه لږ وړاندې و، د ډزو کوونکي په توګه حکومتي کسانو ته ور وپېژانده او لودین زنځیر او غوراب په شاهي ارګ کې کوټه قلفي بندي شو. په همدې تور عبدالرحمن لودین سره ځینې نور روڼ اندي هم ونیول شول چې عبدالهادي خان داوي پرېشان هم په هغه ډله کې شامل و. (۱۶۱)

م. غبار لیکي چې عبدالرحمن خان لودین د امیر امان الله خان غازي په واکمنی (۱۰۱) کې د نورو روښانفکرانو سره یو ځای له زندان نه خوشې کړی شو او په نوي اماني دولت کې په ماموریت ومنل شو او بېلابېلې دندې ورته وسپارل شوې چې د هغو له جملې نه د ( امان الله افغان) په اخبار کې دنده ترسره کول و.

۲۲. شجاع الدوله خان: په ختېه بابکرخېل پښتون دی او دغوربند د خانانو د کورنی پورې یې تړاو درلوده. دی د هغو زلمیانو په ډله کې و، چې شهزاده امان الله خان یې سر پرستي کول، دځینو انګېرنه داده چې د همدې ډلې په لارښوونه شجاع الدوله خان د لغمان په کله ګوش کې امیرحبیب الله خان وژلی دی او د وژلو پښتنې سیاسي او ګوندي

لاس درلود . چې عین دغه نظر استاد عبدالحی حبیبي هم په (جنبش مشروطیت در افغانستان) کې څرګند کړی دی.

دمورخینو په قول شجاع الدوله خان د امان الله خان په لومړۍ کابینه کې (۱۹۱۹) د امنیت د وزیر په توګه وټاکل شو او وروسته په لندن کې د افغانستان سفیر شو او پر ۱۳۰۸ل کال له هغې دندې لرې کړی شو، بیا په برلین کې مېشته شو او پر ۱۳۲۴ل کال مړشو.

۲۳. ادم خان: د لوګر له پښتنو څخه و او د هغه ځای دیوه خواکمنې کورنې پورې یې تړاو درلوده او په دویمه مشروطه کې یې زیات فعالیت درلود.

۲۴. غلام احمد اعتمادي: په خټه محمدزی پښتون او د عبدالقدوس خان اعتمادالدوله زوی و. پوهاند حبیبي لیکي چې د ۱۳۰۶ په حدودو کې په بمبۍ کې د افغانستان جنرال قونسل و او په پښتو، دري، اردو او لږ په انګرېزي هم پوهېده، ده دپښتون وتلي شاعر محمدافضل خان غر چې د مردان اوسېدونکی و، د شعر یوه ټولګه د (غره ګل) په نوم دیوې سریزې سره چې په دري ژبه لیکل شوې وه پر ۱۹۳۰م کال په بمبۍ کې چاپ کړه.

۲۵. جمعه خان: دی هم په خټه محمدزی پښتون او د عبدالقدوس اعتماد الدوله زوی و او د اماني دورې د روڼ اندو دکړۍ پېژندل شوې څېره وه، دی پر ۱۳۰۱ل کال بخارا ته د افغاني سفیر په توګه ولېږل شو.

۲۶. سیدغلام حیدرپاچا: د کونړ د ساداتو د کورنۍ یو زړور او فعال روڼ اندی زلمی و، چې په دویمه مشروطه کې یې دمیرقاسم خان او عبدالهادي خان داوی سره نږدې ملګرتیا او همکاري درلوده.

استاد حبیبي لیکي چې د ۱۳۰۸ل کال په اغتشاش کې یې د جلال اباد د بابریانو په کلا کې د فرقه مشرسیدحسین خان شیون او

محمدګل خان مومند سره په ګډه د جمهوريت په نوم يوه ډله جوړه کړه او د (کوږغم) په نوم يې يوه جريده هم خپره کړه اود هندوستان په ځينو اخبارونو لکه زميندار او د لاهور په ( افغانستان ) کې يې د حبيب الله خان دسقاو زوی د رژيم پر ضد تبليغات کول.

د ۱۳۰۸ل کال په وروستيو کې کابل ته لاړ او د امان الله خان په طرفدارۍ يې پيل وکړ، چې پر همدې تور د موتي د سرای په بنديخانه کې څوارلس کاله قيد شو او په همدې زندان کې د ۵۵ کالو په عمر مړ شو. (۱۶۲)

۲۷. سيدقاسم خان: په مخکې کرښو کې مو په لنډيز سره ددويمې مشروطه دغه مهم او برجسته غړی لوستونکو ته ور پېژندل شوی دی. دغه پښتون شخصيت د اخلاقو او پياوړي ذهن او سياسي شعرو په درلودلو سره د بهرنيو چارو د وزير محمود طرزي پام د ځان پر لور را اړولی و او دغه دوستي په خپلوۍ هم بدله شوه، ځکه چې محمود طرزي ورته خپله لور ورکړه او په دې حساب د امان الله خان نيازي ساندو يادېږي، ځکه خو په اروپا کې د امير امان الله خان د سفرونو ملګری و. په وطن او قام مين زلمی و او مهمې دندې يې سرته رسولې دي، چې په مسکو کې د افغانستان د سفارت مشاوريت او په بمبۍ کې افغان جنرال قونسلګري په هغه جمله کې راځي.

پوهاند حبيبي او غبار ليکي چې د امير حبيب الله خان د وژل کېدو د پېښې او د امان الله خان د پاچاکېدو د پېښو جريان يې د يو کتاب په ډول ليکلی دی ليکن له بده مرغه هغه کتاب د چاپ نه مخکې لادرکه شوی دی.

۲۸. سيدعبدالله خان: د سيدقاسم خان ورور و چې په دويمه مشروطه کې يو فعال زلمی و اود بهرنيو چارو په وزارت کې د محمود طرزي باوري کارکوونکی و. په اماني دوره کې د مسکو د سفارت

سکرتر وټاکل شو او د دندې سرته رسولو په وخت په امو دریاب کې غرق شو.

۲۹. سیدحسن خان فرقه مشر (شیون): د پښتو شعر او ادب د بڼ یو خوږ ژبی او په هېواد او قام مین شاعر او ادیب، د سیاست د نړۍ یو ایماندار او د ملي مفکورې او عقیدې درلودونکی شخصیت او د پوځي ډګر یو سرتېر او زړور قوماندان و چې د شیون او حسن په نومونو سره یاد شوی او پېژندل شوی دی.

د پلار نوم یې سیدحسین پاچا و چې د کونړ د سیدانو ددرنې کورنۍ پورې تړاو لري. دغه ادبي، سیاسي او پوځي شخصیت د ۱۳۷۵ل په شاوخوا کې د لغمان د لایت په چهارباغ کې زېږېدلی او د امیر حبیب الله خان په دوره کې په حربیه ښوونځي کې زده کړه کړې وه او له همغه ښوونځي نه فارغ شوی دی.

په سیاسي مبارزه کې ددغه پوځي جنرال موخه او مقصد په افغانستان کې دیوه ملي او ولسواکۍ رژیم منځته راتلل وو. د خپل سرلوړي او تاریخي هېواد سره د هغوی مینه بې کچه او د همدې بې کچې مینې د اغېزې له مخې یې په ننګرهار کې د ملي او دروند پښتون محمدګل خان مومند سره د (کورغم) په نوم یوه جریده خپره کړه او په همغه جریده کې به یې هېواد غم خوړلو.

دغه انقلابي پښتون د استاد حبیبي په وینا پر ۱۳۰۸ل کال د سیدرحیم پاچا په ملګرتیا په جلال اباد کې د جمهوریت راوستلو لپاره لومړی قدم هم پورته کړ. خو مقصد ځای ته په رسېدلو کې پاتې راغلل.

سیدحسن خان حسن (شوین) په ظاهرشاهي دوره کې د فرقه مشرۍ رتبې ته ورسېد خو پر ۱۳۱۹ل کال د سیاسي فعالیتونو په تور بندي او بیا په زندان کې شهید کړی شو.

ده د خپل هېواد سره د خپلې بې کچې مينې انځور په دې شعر کې وړاندې کړی دی.

غمونه ستا مې شوه په زړه باندې انبار وطنه ـ وطنه زار وطنه
ستا په کړاو کې مې وجود شولو بيمار وطنه ـ وطنه زار وطنه

پښتنو په سياسي ډګر کې نه يوازې په لومړۍ او دويمه مشروطه کې ستره او بنسټيزه ونډه درلوده، بلکې ځينې جلا سياسي ډلې يې هم منځته راوړې وې. لکه (افغان زلميان) او د غلام محی الدين افغان ډله ددې ډلې فعال غړي هم مير قاسم خان و، نور غړي يې حاجي ګل احمد خان د کابل له پښتنو نه او فتح محمدخان جبارخېل چې د حبيبي د ښوونځي مدير و. دی د ارسلا خان غلجي چې د امير شېرعليخان د بهرنيو چارو وزير و او بشپړ تفصيل يې په تېرو پاڼو کې راغلي دي د کورنۍ سړی و.

همدغه ډول عبدالهادي خان داوي پرېشان او عبدالجبارخان جبارخېل چې د فتح محمدخان جبارخېل کشری ورور و، چې په لومړۍ او دويمه مشروطه کې فعال او چرار کسان وو هم د نومړي ډلې خلك وو.

تردې ځايه موږ په لنډيز سره د هغو نوميالیو پښتنو يادونه تازه کړه، چې د امير حبيب الله خان د واکمنۍ له وخت نه يې سياسي فعاليت او د هېواد او ولس په ګټه نه ستړي کېدونکي مبارزه کړې وې او په دې لاره کې د سرونو د قربانۍ تر پولې پورې هم رسېدلي وو.

هغوی په هېواد کې د انګرېزانو د لاس پوځي رژيم سره د مخالفت غږ پورته کړی او د مشروطه غوښتنې لپاره چې د نن ورځې په مفهوم د ولسواکۍ غوښتنه وه خپله توده او سره مبارزه مخ پر وړاندې بيوله.

ليکن د زياتې حيرانتيا ځای دادی چې د هغو پښتنو مشرانو او د پوهې خاوندانو د خپلې ملي ژبې پښتو د رسمي کولو لپاره د مبارزې

او حق غوښتنې بيرغ پورته نه کړ او همدغه غفلت ددې سبب شو، چې غير پښتانه مورخين لکه، م، غبار او صديق فرهنګ د هغوی په غير پښتنو قومونو او توکمونو پورې وتړي او د پښتون کلمه ورته ونه کاروي.

ايرانيانو د فرانيسي د ۱۸مې پېړۍ د نوميالي کيسه ليکونکي الکسادند دوما د اثارو( ناولونو) د ژباړنې په رخت چې کله د پيشو يا قاليني ذکر راغلی دی، نو په قوس کې يې ورته ليکلي چې (ايرانی پيشو يا ايرانی قالينه) خو زمونږ د هېواد تاريخ ليکونکو، تاريخ جوړونکو پښتنو ته د پښتون د کلمې ليکل د سياست نه خلاف کار ګڼلی دی.

دهمدې سياسي مصلحت تر پردې لاندې د پښتنو دتاريخ پېښې هم تحريف کړي او مسخ کړي دي او پښتانه يې نا پښتانه ښودلي. دغه ډول ناسمه کړنه يا سياست د پښتنو لپاره د فرهنګي ښکيلاك ډېر څرګند ثبوت و، ځکه چې د پښتنو د واکمنۍ په اوږده دوره کې د پښتنو روڼ اندو انقلابيانو او د ولسواکۍ (مشروطيت) په لاره کې سرښندونکو سياسي فعالينو او مبارزينو ته د پښتون د کلمې ليکل د فرهنګي ښکيلاك د ګوډاګيانو له پامه ګويا د نورو لږه کيو قومونو په حق ظلم او ناروا وه. د فرهنګي ښکيلاك طرفدارانو د غه تبليغ کاوه چې که پښتون پاچا او امير په فارسي ژبه خبرې کوي او هم په ختهه پښتون ليکوال او شاعر په دري ژبه ليکنې کوي او شعر وايي نو بيا د پښتو ژبې د رسمي کېدلو او رواجېدلو کومه اړتيا نه ليدل کېږي او ضرورت يې نه احساسېږي.

م. صديق فرهنګ د پښتنو د همدې کمزورۍ نه په ګټه اخيستلو سره ليکلي چې " احمدشاه بابا په خپله پښتون اود پښتو ژبې لوی

شاعر و، لاکن ددوی د واکمنی پر مهال ټول خط او کتابت او رسمي چال چلند په فارسي ژبه کېده او فارسي یوه منلې شوې ژبه وه.

دحیرانتیا ځای دادی چې د محمود طرزي غوندې په خټه پښتون سیاسي، فرهنګي او ادبي شخصیت هم د امیر عبدالرحمن خان غوندې پښتو ژبه د افغاني ژبې او پښتانه د افغان په نوم یادوي او په خپل قلم په سراج الاخبار کې ددې سرخط لاندې مقاله خپروي، چې (زبان افانی، اجداد زبان ها وملت افغانی اجداد اقوام اریایها است).

د استاد محمودطرزي دا خبره په حقیقت کې د امیر عبدالرحمن خان ددې وینا جامع تفصیل دی چې ویلي یې دي: ( زبان افغانی د افغانستان ډېره لرغونې ژبه ده).

دشلمې او یوویشتمې پېړی رونې اندي افغانان په دې حقیقت نه شي پوهېدلی چې دهېواد دې لرغونې او حقدارې ژبې ( پښتو) ته د وخت واکمنو پښتنو او په تېره بیا دمشروطیت دداعیې مبارزو پښتنو په کوم ملي یا علمي لامل او دلیل خپل پام نه دی ور اړولی او د افغانستان د ډېره کیانو دغه ژبه یې د رسمي چارچلونې ژبه نه ده پېژندلې.

نن ورځ هر پښتون ته دغه یوه پوښتنه پیدا کېږي، چې د ساري په توګه ولې دې د غلام محی الدین افغان غوندې سیاسي، فرهنګي او ادبي شخصیت پښتو ادبیاتو ته په سراج الاخبار کې ( افغانی ادبیات) ووایي او یا دې پښتو مقالې یا مقالو ته فارسي سرخطونه (عناوني) ورکړي او عین همدغه کار دی د پښتو ژبې تکړه شاعر او ادیب مولوی صالح محمد په سراج الاخبار کې وکړي؟؟

دغه ډول پوښتنو ته زما په داند صرف یو ځواب موندل کېدی شي او هغه دا چې د پښتنو واکمنو په ټولو دورو کې فرهنګي ښکیلاک پوره

ځواکمن پاتې و او د هغه د ختمولو او له منځه وړلو لپاره مبارزه نه کېدله او یا خو د پښتنو سره د مبارزې امکانات نه لیدل کېدل.

بنايي د پښتنو واکمنو او سیاسي مبارزينو د پوهې سطح دومره اوچته نه وه، چې په پښتنو باندې دفرهنګي ښکیلاك د خطرونو او زیانونو اندازه ولګولی شي او د پردۍ ژبې د حاکمیت علمي او ملي مفهوم و پېژني او د اوږدې مودې لپاره یې د اغېزو په نتیجه پوه شي. هغوی یقیناً نه پوهېدل دیوه قوم او ولس چې ژبه حاکمه نه وي نو په خپله هم د یو محکوم قوم او ولس حیثیت پیدا کوي او د پردۍ ژبې محتاج پاتې کېږي.

اولادونه یې باید په حاکمه ژبه زده کړه وکړي، رسمي چارې سرته ورسوي علم او پوهه ترلاسه کړي او کرار کرار د حاکمې ژبې د ویونکو په منځ کې خپل ملي او قومي هویت او شخصي یا ځانګړتیا له لاسه ورکړي او نور یې په خپلو کې حساب کړي.

په ایران هسپانیه او نورو زیاتو هیوادونو باندې زیات کلونه د عربو واکمني وه او هرڅه په عربي ژبه کېدل، مانۍ او ودانۍ په عربي اسلامي ډول جوړېدلې او د ژوندانه چارې سرته رسېدلې خو کله چې عرب له هغو ملکونو لاړل د هغو هېوادونو سیاسي، فرهنګي، ادبي او پوهنیزو کړیو په ډېره لږه موده کې سره سم د هغوی ژبو هم پرمختګ وکړ.

پېرنګیانو هم نږدې دوه سوه کاله په ناوېشلي هندباندې واکمني درلودله او د خپلې واکمنۍ په کلونو کې یې انګرېزي ژبه د رسمي او د چارچلونې ژبه وه او د حکومت ټول اجرات او دارومدار په همدې ژبه و، لیکن کله چې پر ۱۹۴۷م کال له هند نه ووتل او هند یې په دوو جلا جلا هېوادونو یانې هند او پاکستان وویشلو هند خپله ملي او رسمي ژبه هندي او پاکستان خپله ملي او رسمي ژبه د اردو اعلان کړه. په

داسې حال کې چې اردو ژبه ډېره ځوانه او نوې پیدا شوې ژبه ده او د پیدا ښت کلونه یې په هندوستان کې د مغلو له واکمنۍ پیل کېږي. خو هغه د هېواد دعلمي او ادبي موسسو او ادارو او د وخت د حکومتونو په پاملرنه ددې جوګه شوې ده، چې د شعر او ادب، اقتصادي او سیاست، ښوونې او روزنې ژبه شي او نړیوال کچ ته ځان ورسوي.

په نړۍ کې پښتو ژبه ډېره لرغونې ژبه پېژندل شوې او ددې ژبې د اصلي ټاټوبي یانې افغانستان واکمن هم تل پښتانه پاتې شوي او په خپلې پښتونولۍ یې ویاړ کړی دی، خو دغه ژبه او ویونکي یې دفرهنګي ښکیلاک تر خارنې لاندې پاتې شوی دی. دغه فرهنګي ښکیلاک د ایران د هڅو او کوښښونو پایله پېژندل شوې ده، البته پښتانه واکمن او پوه پښتانه هم په دې برخه کې مسئول ګڼل کېږي. ځکه چې د پښتو ملي ژبې دحق په لاره کې یې خپلې ذمه وارۍ نه دي پر ځای کړي.

که څېرته پښتو روڼ اندو انقلابیانو د سیاسي فعالیتونو په اندازه فرهنګي فعالیت ته هم پام اړولی وای او د خپل ولس د ملي ژبې د پیاوړتیا او په حکومت کې د پښتنو د ژغورلو کېدو او خلاصون یوه اغېزمنه وسیله ګرځېدلې وای.

د پښتو ژبې له پامه غورځېدلو اصلي او بنیادي لامل همدغه فرهنګي ښکیلاک دی او د فرهنګي ښکیلاک اصلي موخه او مقصد هم د پښتون قام کمزورې کول او په وړو قومونو( لږه کیو) کې ددوی هضم کېدل دي. ځکه یو قوم چې د خپلې ژبې واك ونه لري، نو هغه قوم د یوه عزتمند او ابرومند یست او ژواك حقدار هم نه شي ګڼل کېدی. په دې اړوند پوهاند عبدالحی حبیبي په جنبش مشروطیت در افغانستان

کې یادونه کړې چې ددویمې مشروطې پـه کړنـلاره کـې راغلي وو، چې پښتو ژبې ته دې په هېواد کې د تعلیم لپاره پام وګرځولی شي.

# د پښتو ژبې په اړه د امیرحبیب الله خان نوې پرېکړه

ددې کتاب په تېرو پاڼو کې زموږ دغه هڅه وکړه چې د امیر حبیب الله خان په دورو کې د امیر په خپله لارښوونه او موافقه په هېواد د ژورنالیزم او اخبار چلونې نوې بنسټ کېښود او پښتنو واکړای شول د غیر پښتنو ملګرو په جذبولو سره د لومړي ځل لپاره د سراج الاخبار په نوم دیوې روڼ اندي ټولنې یا انجمن بنیاد کېږدي او د پښتون مولوی عبدالروف خان په مشرتابه او مسئولیت د سراج الاخبار په نوم یوه جریده د نوموړي ټولنې له خوا هم د خپرونو ډګر ته راوباسي او ددې جریدې لومړی ګڼه تر دې حده پورې تنده او تیزه اوسي چې انګرېزان یې د بندولو مشوره حبیب الله خان ته ورکړي او هغه جریده دویمې ګڼې ته له رسېدلو پخوا وتړل شي.

امیرحبیب الله خان چې دلویدیځ تمدن او فرهنګ د اغېزو لاندې و. شپږ کاله وروسته د هېواد نومیالی ژورنالیست او ژباړونکي ته چې په عین حال کې یو یوه سیاسي شخصیت هم و. د سراج الاخبار د خپرولو اجازه ورکړي. دغه شخصیت محمودطرزی و.

محمودطرزی د سراج الاخبار د جریدې په خپرونو کې د پښتنو لیکوالو، شاعرانو او ادیبانو د نږدې همکاریو غوښتنه هم وکړه او پښتنو لیکوالو، شاعرانو او سیاسي شخصیتونو چې د فارسي ژبې پاخه شاعران او لیکوال هم پېژندل کېدل. د استاد طرزي غوښتنه ومنله او د سراج الاخبار د چلولو په دنده کې یې دنوموړي ملګرتیا وکړه.

په تېرو پاڼو کې ددغو شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو نومونه راغلي دي، لیکن پښتنو په سراج الاخبار کې زیات شعرونه او لیکنې په دري ژبه خپرول او پښتو ژبې ته یې برابره او مساوي ونډه ورنه کړه، ځکه چې امیر حبیب الله خان او دربار یې په خپله تر فرهنګي ښکیلاک لاندې و او پښتو ژبه یې له پامه غورځولې وه.

سراج الاخبار په یوه ناسیونالیستي روحیه او جذبه خپرونې کولې او زه فکر کوم چې دا د پښتنو قلمي همکارانو او هم په خپله د محمودطرزي په لیکنو او شعرونو کې پرته روحیه او جذبه وه، ځکه چې ناسیونالیزم د پښتون قام په فطرت کې اخکلې شوې عنصرګڼل شوی دی او لویدیځو څېړونکو په دې اړه زیاتې لیکنې کړې دي.

پښتانه د تاریخ په اوږدو کې د هر ډول ښکیلاک مخالف پاتې شوي او د هغه پر ضد یې مبارزه کړې ده، چې د افغان انګلیس درې جګړې ددې حقیقت ثبوت وړاندې کوي. هغو پښتنو لیکوالو او شاعرانو چې په سراج الاخبار کار کاوه، ټول د ملي عقیدې او مفکورې خاوندان وو او ملي عقیده او مفکوره تل د ناسیونالیزم څخه منشاء اخلي نه له ارتجاعي خصلت نه، که هغو پښتنو په فارسي ژبه هم لیکنه کړې او یا یې شعر ویلی دی ښکاره خبره ده، چې ټول ناسیونالیستي رنګ او بڼه لري. د ساري په ډول دلته د انقلابي پښتون عبدالرحمن خان لودین د فارسي شعر یوه بېلګه د خپلې مدعا د ثبوت لپاره دلته راوړم:

"نعره"

ای ملت از برای خدا زودترشوید    ازشرمکروحیله دشمن باخبرشوید
تا از صدای صاعقه اش گنگ وکر شوید    وانکه چوری نعره زنان دربدرشوید
مانند برق جلوه کنان درنظرشوید ... الخ

ملامحمدجان خان عرض بیگي یو بل پښتون شاعر په سراج الاخبار کې خپل پښتني ناسیونالیستي احساس داسې ثرګند کړی دی

د افغانستان خلق زمري دي پر افګار به شې
خیالات د بدو ورته مه کړه نګونسار به شې

د پښتنو سرسخت مخالف م. فرهنګ عقیده ښکاره کوي چې سراج الاخبار نه یوازې په ناسیونالیستي روحیه چې د پان اسلامیزم نظریه هم ورسره ملګرې وه خپرېدلو، بلکې د پښتو ژبې د ښوونې موخه یې هم پر وړاندې بیوله. دی لیکي:

" انتشارسراج الاخبار، در ایجاد افکار عامه و بیداري شعور سیاسي دربین جوانان افغانستان تاثیر بس عمده داشت، مضمون اصلي جریده را ناسیونالیزم امیخته باپان اسلامیزم و مجادله با استعمارتشکیل میداد، اما علاوه بر ان ترویج معارف مجادله با خرافات وتعلیم زبان پشتو هم از اهداف عمده ان به شمار میرفت"(۱۶۳)

ما په ۱۹۷۰م کال کې د لومړي ځل لپاره د سراج الاخبار یو کلکسیون چې څه نیمګړتیا یې هم درلوده، د هېواد دیوه پوه او سیاسي شخصیت ډاکټر عبدالحکیم طبیبي په کور کې وکوت. دغه درونډ شخصیت په هغه وخت کې دهند په پلازمېنه ډهلي کې د افغانستان لوی سفیر او فوق العاده استازی و او ما د ALL INDIA

RADIO په پښتو څانګه کې د افغانستان او هند د موافقې له مخې کار کاوه او د ماښام له خوا مې د ډهلي په پوهنتون په ډهلي کالج کې تحصیل کاوه.

باید یادونه وشي چې حقوق پوه او دیپلومات ډاکټر عبدالحکیم طیبي په ختنه یوسف زی پښتون او د منوخان یوسف زي اولاده و، چې دا خبره ده په خپل ژوند لیک (خاطرات چهاردهه زندګی دیپلوماتیك من در خدمت افغانستان وجهان) کې کړې ده، دغه کتاب خدای بښلی طیبي هغه مهال چاپ کړ، چې په سویس کې یې د ژوند وروستۍ شپې ورځې تېرولې.

ډاکټر عبدالحکیم طیبي په سویس کې د (دعروه الوثقی) په یوه یوه اداره هم جوړه کړې وه، چې د عروت الوثقی مجله یې هم دهمدې ځای څخه خپروله. (۱۶۴)

د العروت الوثقی په نوم علمي او سیاسي مجله د لومړي ځل لپاره پر ۱۸۸۴م کال په پاریس کې د علامه سیدجمال الدین افغان له خوا خپره شوې، خو نوې دوره یې د ډاکټر طیبي په همت پر ۱۹۸۲کې په سویس پیل شوه.

د عبدالحکیم طیبي پلار د امیر حبیب الله خان په وخت کې د هغه روغتون یوناني طبیب و، چې د کابل د شتلاك په سیمه کې د امیرحبیب الله خان په لاربښوونه جوړ شوی و او د طیبي تخلص یې د کورنۍ د طبابت سره تړاو لري.

ما یوازې دجمعې په ورځ وخت درلود چې د سراج الاخبار د کلکسیون پاڼې وګورم او څه لنډ غوندې یادښتونه ورڅخه واخلم، په تېره بیا چې پښتو لیکنې او شعرونه یې زما لپاره په زړه پورې وو، لیکن دسراج الاخبار د پښتو د اوس مهال د پښتنو په منځ کې ژور توپیر پروت و او د جریدې په پښتو کې مې د فارسي ژبې نښې نښانې

زیاتې ترسترګو شوې. د زیاتو پښتو شعرونو سرخطونه مې فارسي وکتل او په یوه نیمه مقاله کې هم عین همدغه کیفیت لیدل کېده.

اصلي خبره داوه چې په سراج الاخبار کې پښتو ژبې ته ځای ورکول، دیوه ملي او سیاسي مصلحت زېږنده عمل ګڼل کېده او د امیر حبیب الله خان اراده په کې هم د خیله وه، امیر اوس په دې حقیقت پوهېدلی و، چې پښتو ملي ژبې ته پام اړول د نوموړي د حکومت یوه ذمه واري ده او ددې ژبې هېرول یا له پام نه غورځول دیوه ملي مسئولیت نه سترګې پټول دي. د همدې مسئولیت له مخې امیر حبیب الله خان ورور( سردارعنایت الله خان معین السلطنه) په غاړه و، لارښوونه وکړه چې پښتو ژبې ته په تعلیمي نصاب ځای ورکړي اود امیر دغه پرېکړه هم د تعلیمي نصاب د ټاکلي ډلې له خوا د عمل په ډګر کې پلې شوه.

دهمدې وخت نه پښتو ژبه دهغه وخت په ښوونځیو او مدرسو کې د یوې تعلیمي ژبې په توګه و پېژندل شوه او زده کوونکو ته د پښتو ژبې زده کړه پیل شوه خو د حیثیت له پلوه د بهرنۍ ژبې سره برابر وشمېرل شوه، مورخ غبار په دې اړوند نظر ښکاره کوي.

" همچنین زبان انگلیسی را درلیسه حبیبیه مقابل زبان پشتو گذاشتند تامتعلم که یا انتخاب کنند"(۱٦۵)

دغه پرېکړه که څه هم یوه نه نوې پرېکړه وه او په تېرو دورو کې ورته پام نه و اړول شوې لیکن دیوې بهرنۍ ژبې په څنګ کې ورته ځای ورکول د معقولیت په لحاظ کمزور وګڼل شوه او هم یې ملي او رسمي وزن کم شو وپېژندل شو.

په هغه وخت کې روڼ اندو او ویښو پښتنو ده هیله درلودله چې د پښتو ژبې زده کړه دې د هر زده کوونکي لپاره حتمي وي او انګرېزي یا نورې ژبې اختیاري وي، چې یوه قانع کوونکي پایله ولري.

هغه وخت د حبيبي په لېسه کې د پښتو ژبې ډېروه او روڼ اندي انقلابي ښوونکي لکه مولوي محمدسرورخان واصف، ميرقاسم خان لغماني او داسې نورو داستادۍ دندې سرته رسولې. ليکن په نوي پرېکړه باندې يې اعتراض ونه کړ، ځکه چې پوهېدل په هېواد کې د استبداد دوره ده او د پاچا دپرېکړې سره مخالفت د عمري بند او يا مرګ خطرونه له ځان سره لري.

دهغه وخت د مبارزو روڼ اندو پښتنو مشرانو په عقيده دا پرېکړه غيرعادلانه او ظالمانه وه، چې د هېواد ملي ژبه پښتو دې ديوې بهرنۍ ژبې سره په يوه تله وتلل شي او برابر حيثيت دې ورته ورکړی شي، يوازې ديوې ژبې په توګه دې په تعليمي نصاب کې شامله شي. په داسې حال کې چې پاتې ټول مضامين دې په فارسي ژبه وي او د پښتنو بچيان دې هغه مضامين لکه تاريخ، جغرافيه او نور په دري ژبه زده کړي.

د غبار د پورتنۍ ليکنې مانا هم دا کېدلی شي چې ګويا اميرحبيب الله خان پښتو ژبې ته کوم ځانګړی ارزښت او اهميت ورنه کړ او د زده کوونکي انتخاب هم خامخا انګليسي ژبه وي، ځکه چې په نوموړې ژبه کې د لوړو زده کړو او بهرنيو هېوادونو ته د تللو چانسونه هم زيات ليدل کېدل، سربېره پر دې نور امتيازونه يې هم له ځان سره لرل.

موږ په تېرو پاڼو کې په دې حقيقت باندې لنډې خبرې وکړې چې په لومړۍ مشروطه کې ټولو شاملو انقلابي پښتنو او همدغه ډول په دويمه مشروطه کې شامل پښتانه مشران او دسياست د ډګر لوبغاړي د امير حبيب الله خان د انګرېز دوستۍ له ډيپلوماسۍ څخه نه يوازې ناراض او قهرجن وو، بلکې د امير د راغورځولو لپاره يې عملي ګامونه هم پورته کړي وو او مولوي محمدسرورخان واصف او ملګرو

يې او همدغه ډول پښتون عبدالرحمن خان لودين چې د امير د وژلو هڅه يې هم کړې وه د امير د سياست سره د مخالفت له امله ډېرې درنې سزاګانې وليدې.

همدغه شان امير حبيب الله خان سره د (حزب جميعت سرنى) مخالفت چې په حبيبې لېسه کې جوړ شوى و او د غلام محى الدين افغان او ملګرو له خوا د جوړې شوي د (جوانان افغان) ډلې د ضديت اصلي لامل د پېرنګيانو سره د حبيب الله نږدې اړيکې وې، چې وروستى پايله يې ديوه بابکرخېل پښتون په لاس د امير وژل کېدل وو.

پښتنو د قلم او سياست له لارې د امير حبيب الله خان په دربار باندې د پېرنګيانو د تسلط او نفوذ کلك مخالفت ښکاره کړ. دوى په سراج الاخبار کې هم په پښتو او هم په فارسي ژبو شعرونه او مقالې خپرې کړې، خو هغو سياسي انقلابيانو په هغه اخبار کې د پښتو ملي ژبې دحاکميت او په پښتنو باندې د فرهنګي ښکيلاك د پاى ته رسولو غوښتنه ونه کړه او د پښتني (افغاني) فرهنګ د خوړل شوي حق د بېرته ورکولو دعوه يې د امير غوږونو ته ونه رسوله، ځکه د افغانستان په پېښليك کې هغوى يوازې او يوازې مشروطه غوښتونکي وپېژندل شو او پېښليك ليکونکو لکه غبار، فرهنګ او نورو چې غيرپښتانه وو ان هغو انقلابيانو ته د پښتون د کلمي له استعمال څخه هم ډډه کړې ده.

د مشروطه غوښتنې په سياسي مبارزه کې (الکوزو، لودي او کاکړو پښتنو) بنسټيز او کليدي رول ولوباوه، ليکن د فرهنګي ښکيلاك څخه يې د پښتنو د ازادولو لپاره کوم ګام وانخيست او نه يې د امير حبيب الله خان په هغه غير عادلانه پرېکړه باندې د اعتراض او نيوکې په توګه کومه مقاله يا کوم شعر په سراج الاخبار کې خپور کړ.

امیرحبیب الله خان په خپل دربار کې داسې کسانو ته فرهنګي چارې سپارلې وې چې هغوی په خپله پښتون د ښمنان او د فرهنګي ښکیلاک عاملان پېژندل کېدل چې د هغو له جملې څخه یو تن ( ملافیض محمدکاتب هزاره) و.

دغه غیر پښتون لیکوال او مورخ په پټه او ښکاره د پښتون قام خلاف کتابونه ولیکل چې په راتلونکي څېرکي کې په وربانديې خبرې وشي او د ایران سره به دده د نږدې اړیکو څرنګوالی جوت شي. لیکن پاك زړو او خوش باورو پښتنو مشروطه غوښتونکو د پښتون پاچا په لستوني کې ددغه مار سوړي ته چې ایران و هېڅ پام ونه کړ.

## شلورم څپرکی

# امیرحبیب الله خان د دربار مورخ ملافیض محمدکاتب د پښتون ضد کتابونو لیکوال

د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ تر وروستیو وختونو پورې په ختیه مغول ( ملافیض محمدکاتب هزاره) یوه ناپېژندل شوې څېره او د افغانستان د فرهنګي ډګر د اډانې او چوکاټ نه وتلې او له پام نه غورځېدلې سکه وه. لیکن د امیر حبیب الله خان د ځانګړې لوروني او توجه له مخې د امیر ددربار د مورخ په توګه وټاکل شو او د پښتنو (افغان) واکمنو د ژوندلیك او د هغوی د واکمنیو د مهال د پېښو د لیکلو دنده ور وسپارل شوه.

افغان واکمن امیر حبیب الله خان دغه کار په خپل اختیار او صلاحیت او پرته د نورو له مشورې او سلا څخه وکړ. لکه امیر په خپله لیکلي :

" ازدیرگاه مکنون خاطر داشتم و این امر را لازم پنداشتم که وقـایع و سوانح پادشاهان افاغنه را ازبدوسلطنت اعلیحضرت احمدشاه ابدالي (دراني) الی زمان هذا نگارش و هم چنانچه درین او ان که زمام اختیار امارت خطـه افغانستان از لطف ومرحمت حضرت یزدان درقبضه ی اقتدار این فرمانبردار خالق سبحان امد تصمیم عزم بر تسوید وقایع نمودم و خـود را از سـبب

گرفتاری در امور مهمه سلطنت وتربیت سپاه ورعیت موزوردید فیض محمدکاتب ابن سعید محمد مغول معروف به هزاره ی محمدخواجه را مامور فرمودم که به تحریر پرداخته سرگذشت پادشاهان افغان را کتابی مرتب سازد تا در روزگار یادگار بماند.

باوجود گرفتاری زیاد که در امورات دولت علیه خداداد افغانستان دارم، بازهم خبو جزو که از تحریر می براید خود من شخصاً ملاحظه کرده جک و اصلاح نموده اجازه چهاب را میدهم، هرگاه سهوی ملاحظه شود ان را ازباعث گرفتاری زیاد که دارم تصور دارند فقط."(۱۶۶)

په دې ډول یو افغان پاچا امیر حبیب الله خان په ختِه مغول لیکوال یا کاتب ملافیض محمدته (تر دې وخته پورې لاملا، مورخ نه و پېژندل شوی) دنده ورکړه چې د افغان پاچاهانو یا واکمنو سرگذشت دیو کتاب په ډول مرتب او ولیکي او دا یوه مشخصه او مجرده موضوع وه، لیکن کاتب ملافیض محمد د افغان امیر د ناوزګارتیا څخه په ګټه اخیستلو هغه څه ولیکل چې د امیر د غوښتنې سره یې سمون نه خوړ، بلکې نور غرضونه او مقصدونه په کې پراته وو.

د امیر حبیب الله خان د باور او اعتماد نه په ختِه مغول لیکونکی (کاتب) ناوړه استفاده وکړه او څنګه یې چې خپل زړه غوښتي وو هغسې یې ولیکل، چې ددې خبرې تصدیق په خپله یو غیر پښتون (هزاره) څېړونکی بصیراحمد دولت ابادي په خپل څېړنیز اثر" نګاه ګذرابه شیوه تاریخ نګاري در افغانستان وجهان) کې داسې کړی دی:

"طبق گفته بالا( د امیرحبیب الله خان هدایت ته اشاره ده) هدف از تدوین این کتاب کارنامه شاهان افغان است که باید برجسته شود اما مرحوم کاتب بر خلاف خواسته دربار وبر خلاف روش تاریخ نگاری کشور مردام را

غیرمستقیم وارد تاریخ می سازد او برای اولین بار اسامی کشته شـــده گان وغارت شده گان ( چې دا خلك گویا هزاره گان وو ) را همراه با عـــاملان کشتار انـــها ( چې څرگنده ده دا خلك افغانـان وو ) ثبـــت تـــاریخ مـــی کند". (۱٦٧)

ملافیض محمد د خپلې عقیدې او مفکورې لـه مخـې د پښتنـو واکمنو د بدنامولو لپاره قلم چلولی و او دغه لړۍ په وروسته کلونو کې د م. غبار، صدیق فرهنگ غوندې مورخانو او غیر پښتنـو څېړونکو او لیکوالو تر نن ورځې پورې جاري ساتلې ده.

د ملافیـض محمد کـاتب هزاره پـه قلـم هغـه لیکـل شـوی کتـاب د ( سراج التوایخ) پـه نـوم ونومـول شـو او د سـراج پـه کلمـې سـره یـې هغـه د سراج الملت والدیـن امیـر حبیـب الله خـان د لقـب پـورې وتړلـو. پـه ختـه مغـول مـلا فیـض محمد پـه حقیقت کـې خپـل کتـاب یـوازې د خپـل قـام (هزاره) په گټه لیکلی دی او ددې خبرې تصدیق یو غیر پښتون محقق د یـوه روسـي تـاریخ لیکونکـي پـه حوالـه کـړې دي، چـې تیمورخـانوف نومېږي او د هزاره گانو ملي تاریخ په نوم یې یـو کتـاب هم خپـور شـوی دی.

علي حسین نایل هزاره محقق یادونه کړې ده چې:

" د سراج التواریـخ پـه متـن کـې داسـې مطالبو او مسـایلو تـه ځای ورکړل شوی دی چې هغه په اصل کې د هزاره گانو د تاریخ لیکلو لپـاره د مستندو تاریخي موادو کار ورکوي او داسې محقق (تیمورخانوف) د (هزاره گانـو ملي تـاریخ) پـه لیکلو کـې لـه هغـه څخـه گټه اخیسـتې ده" (۱۶۸)

په همدې توگه سربېره پـه تـاریخ ملـي هزاره هـا پـه نـورو اثـارو کـې لکه تاریخ هزاره و هزارسان ـ غرجستان ـ کله منارها در افغانستـان او

نورو په ليکلو کې د سراج التواريخ متن د نومورړ کتابونو په کښلو کې اساس او بنسټ پيژندل شوی دی او دا هغه څه نه وو چې افغان امير حبيب الله خان دې کاتب ته دهغه په باره کې لارښوونه کړې وي، بلکې هزاره مورخ دغه کړنه د امير له ناوزګارتيا څخه يوه ناوړه ګټه اخيستنه وه او د پښتون دښمنۍ موخه په کې پرته وه.

ډاکټر علی رضوي چې د پخواني پاچامحمدظاهر شاه خان په وخت کې د افغانستان دتاريخ د ټولنې غړی او هم د هغې ټولنې د اريانا د مجلې چلوونکی د سراج التواريخ اهميت ته په دې ډول اشاره کړې ده:

"…. اگر سراج التواريخ نبود، افغانستان درمسيرتاريخ را مرحوم غبـلو به شکل کنونی يعنی بدين نفاست وخوبی و جامعيت به وجـــود اورده نــه ميتوانست.."(١٦٩)

ملافيض محمد له توکمي او مذهبي پلوه (افاغنه - پښتانه) ښه نه کتل. نوموړي د لفظونو او کليمو په تنسته کې داسې څه اوبدلي دي چې هغه په حقيقت کې د افغانانو په ملي غرور او تاريخي برم او پرتم باندې د ګوزارونو مانا ورکوي. کاتب د تاريخ په کرښو کې دقومي او مذهبي غوټې (عقدې) د راسپړلو اند د پيښو د کښلو په مهال له ياده نه ويستلی او د کمترۍ يا حقارت احساس ورسره تل ملګری پاتې شوی دی. ددغه ډول مطالبو د ليکلو له مخې امير امان الله خان غازي د سراج التواريخ د ځينو ټوکونو د سيزلو حکم وکړ او د مورخ غبار په وينا" امير امان الله خان هدايت ورکړ چې د هغو پرځای د ې د افغانستان ريښتياني او سم تاريخ وليکل شي"(١٧٠)

دامير امان الله خان غازي دغه حکم چې غبار يې په ( افغانستان درمسير تاريخ) کې يادونه کړې ده دا مانا ورکوي چې ملا فيض

محمد کاتب د تاریخي پېښو په لیکلو کې صداقت نه دی ښکاره کړی او مغولي غیر افغاني احساس یې په زړه کې پاتې شوی دی او ددغسې یو جانبدارانه احساس منطقي پایله همدا کېدی شي، چې د افغان امیر د هدایت او غوښتنې سره متضادې پېښې په ناسم ډول د پېښلیک په پاڼو کې ورځای اولیکل شوي تاریخ د شخصي او قومي غرضونو په یوه ناباوره کتابچه بدل شي.

پوښتنه منځ ته راځي چې ولې ملا فیض محمد کاتب هزاره د افغاني واکمنو په ژوند لیك او تاریخي پېښو په کښلو کې لازم صداقت نه دی ښکاره کړی او په خپلو ټولو کتابونو کې یې چې په همدې اوسني څېرکي کې به د هغو پېژندګلوي وشي د پښتون د ښمنۍ ثبوت وړاندې کړی دی؟؟

۱. فیض محمد کاتب په وینه افغان نه بلکې مغول و او د مغلو او پښتنو له تاریخي دښمنیو څخه ډېر ښه خبر و.

۲. کاتب د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې دهزاره قوم د بغوت او شرارت کرارولو لپاره د عبدالرحمن خان د زورچلونې عیني شاهد پاتې شوی و، نو د پښتنو واکمنو نه د غچ اخیستلو جذبه یې په زړه کې پرته وه او امیر حبیب الله خان ورته د هغه غچ اخیستلو ډېره ښه موقع په لاس ورکړه او د ساه پېژندنې یا سایکولوژۍ له مخې د ملافیض محمد کړنه د هغه منطقي پایله وه.

۳. ملافیض محمد کاتب هزاره د لیکوالۍ نه ډېرمخکې ایران ته تللی او په (نجف اشرف) کې یې له ایراني ښوونکو څخه زده کړه کړې ده، یو هزاره توکمی محقق کاظم یزداني په خپله یوه تاریخ څېړنه کې لیکي:

" کاتب در سال ۱۲۹۷ق به قندهار رفته و از انجا به نجف اشرف رفته وتا رسیدن به رتبه اجتهاد ( دا د ایراني شعیه ګانو د زده کړې درجې

دي) در انجا به تحصیل ادامه داده است و شرح اصول دین مولانا رشتی موید دیگری برین گفته می باشد. ملافیض محمد درنجف از شاگردان مبرز وبرجسته ایت الله رشتی بود."(۱۷۱)

۴. دې د پښتون د ښمن ایراني دیپلومات مورخ سید مهدي فرخ چې د (تاریخ سیاسي افغانستان) مولف دی ډېر نږدې دوست او باوري ملګری پاتې شوی دی او د همدې دوستۍ او اعتماد له مخې کاتب ملافیض محمد هزاره خپل یو لیکلی کتاب (فیض از فیوضات) چې د پښتون ضد روحیه لري، مهدي فرخ ته سپارلی چې په ایران کې یې چاپ او خپور کړي ځکه چې په افغانستان کې یې د چاپ کېدلو امکان نه‌لیدل کېده. حسین نایل په دې هکله لیکي:

" کاتب در اواخر دوران زنده گي خود به ایران سفر کرد، درانجا علاوه بر معالجت خود با دوستان وفضلای ان دیار ملاقاتهای انجام داد و نسخه یگانه کتاب خود فیض از فیوضات را درهمین سفر به مهدي فرخ که باهم رابطه دوستانه داشتند سرده"(۱۷۲)

ایرانی مورخ چې د اعلیحضرت امان لله خان په وخت کې د کابل په دربار کې دایران سفیر و، د (تاریخ سیاسي افغانستان) لیکوال دی، چې کتاب یې په حقیقت کې د پښتون دښمنۍ یوه ټولګه پېژندل کېږي او له تاریخي پلوه هېڅ ارزښت نه لري، علامه حبیبي په دې اړوند داسې وایي:

"مهدی فرخ نویسنده ایرانی که تمام تاریخ افغانستان را بانظر سطحی نوشته و اراده داشته تاهر چیز را کوچک وناچیز بدون عمق تاریخی مبنی بر رقابتهای قبیلوی وخاندانی نشان دهد و درتاریخ نویسی خود به هیچگونه عوامل و موثرات زمانی و روحی وتکامل اجتماعی ومراحل تسلسل سیر

طبقاتی قایل وناظر نیست، طوریکه در بالا اقتباس شد، قتل امیر را هم مبنی بر انتقام جویی فردی یا زمنی دانسته وسخت به خطا رفته است"(۱۷۳).

اوس کـه چـيرې دغسـې يـو افغـان دښمـن ايرانـي تـه ملافيـض محمدکاتب هزاره خپـل کتـاب (فيـض از فيوضـات) ددې لپـاره ورکـوي چې هغه يې په ايران کې چاپ او خپـور کړي، ځکـه چې پـه افغانسـتان کې يې دچاپ کېدلو امکان نه ليدل کېږي نو دغه کړنه پـه خپلـه د افغان دښمنۍ ثبوت ګڼل کېږي.

**۵**. د ملافيض محمد دغه کتاب په خپله د پښتون دښمنۍ يو داسې سند دی، چې په تاريخي پېښو کې يې زياته لاسوهنه شوې او حقايق په کې تحريف او مسخ شوي دي له همدې کبله ايراني مورخ مهدي فرخ (فيض از فيوضات) نه په خپل تاريخ يانې تاريخ سياسي افغانستان کې ځينې اخيستنې هم کړي دي، چې دلته يې يو څوکرښې را اخلو:

" عهد ومیثاق افغان ( نقل از کتاب فیض از فیوضات):

۱. وزیرمحمداکبر خان پسر امیر دوست محمدخان وسردارسلطان احمدخان فرزند سردارمحمد عظیم خان برادر امیر مذکورباقایدین قشون انگلیس عهد وپیمان درمیان نهاده و هشت لک روپیه گرفته، (درتواریخ دولک نوشته اند) اطمینان خاطر به تامین حالشان دادند وچون از شهر خارجشان کردند، روزدیگر سرویلیم جي مکناتن را به بهانه تجدید عهد از لشکرگاهش دورساخته او را کشته و ریسمان به پایش انداخته به حالت وحشیانه به روی خاک وخاشاک به مثابه حیوان حرام شده ای کشیده، در سقف چهارسوق اویختند و انگلیسان را دچار شدت سرما و کثرت

برف دیده به معاهده و مخالفه، جانب جلال اباد کوچ دادنـــد و از راه نقض عهد درپی ایشان افتاده منزل به منزل ایشان را قتل وغارت کرده، عیال و اطفال شان را به اسارت گرفته درقلعه بدیع اباد لمقـلن همه را محبوس بداشتند و چنـــان معـــابر را مقـــابر ومســـالک را مهالکشان ساخته، که از شانزده هزار نفر یک تن د کتر زنـــده بـــه لشکر جلال اباد رسیده دیـــگر همـــه رهســـپار هـــلاک ودمـــار شدند" (۱۷۴)

په فیض از فیوضات کې د ملا فیض محمد کاتب په قلم لیکل شوې دغه متن له دراغلو او د پښتنو پر ضد د وچې کلکې دښمنۍ کینې او عداوت څخه پرته نور څه نه شي کېدای او د تاریخي پېښو څرګند تحریف او مسخ کول دي او بس.

موهن لعل چې د امیردوست محمد خان منشي او د (امیردوست محمدخان ژوند) د کتاب لیکونکی دی د مکناټن څخه د غازي محمداکبرخان د پېسو اخیستل رد کړي او وايي چې کومې پیسې چې محمد صادق خان اخیستې وې هغه یوازې د هغې غلې او وښوپیسې وې چې د انګرېزانو قشلې ته رسول شوې وې او مخکې ورباندې د دوارو خواو له خوا موافقه راغلې وه.(۱۷۵)

مورخ رښتیا د موهن لف د کتاب په حواله لیکي:

" سردارمحمداکبرخان روز ۲۲دسمبر ۱۸۴۱ به مکناتن پیغام فرســـتاد که همه کارها حاضراست وباید برای تعدیل قرارداد یک مجلس عمومی بـــه شمول تمام سران ملی انعقاد یافته ومکناتن شخصاًقرارداد جدیـــد را مـــورد گفتگو قرارداده همه بر ان امضا کنند. همدان بود که مکناتن نیز قبول کرده وبرای فردا مجلس را د حدودقشله عسکری انگلیس هـــا تعـــین کردنـــد،

قراریکه موهن لعل میگوید درشب همین روز صاحب منصبان انگلیس چـون تیریور و مکنزی ولارنس به مکناتن مشوره دادند که خود دریـــن مجلـس حاضر نه شود تا مبادا به او صدمه برسد اما مکناتن نه پذیرفتـــه درجـواب گفت:

"میگویید خطرناک است البته که خطرناک است اما اگر کامیاب شوم از همه خطر ها نجات خواهم یافت" و این نشان میدهد که مکناتن بـــرای عملی کردن نقشه شوم خویش که تولید نفاق بین سران ملی و ازبین بـــردن یکی به ذریعه دیگر و رفع اغتشاش بود تا قبول هر نوع مخاطره نیز حـــاضر شده بود"(۱۷٦)

سرېېره پر دې حمید کشمیري چې د وزیر محمداکبرخان غـازي معـاصر او د انګلیس افغان د لومړۍ جګړې دپېښو عینـي شـاهد و، خپل منظم اثر اکبرنامـه کې د مکنـاتن د غـدارۍ او ناسم پـلان چـې د نوموړي د خاینانه ذهن محصول و ذکر کوي او د مکنـاتن د وژل کېدو مسولیت د مکناتن په خپله غاړه اچوي، چې د هغې پېښې په اړونـد یو مستند تاریخي اثر ګڼل شوی دی.

زه داسې انګېرم چې په زړه پورې به وي که د ملافیض محمد کاتب هزاره د لیکنې د غلط ثابتولو لپاره د حمید کشمیري لـه منظوم تـاریخ نه یو څو کرښې چې په جرګه کې د وزیر محمداکبرخان غـازي خلاف د انګرېز مکناتن ترخې او له سپکاوي ډکې خبرې او دغه حقیقت تـرې ښه څرګندېږي، چې دا مکناتن و چې په پښتون اکبرخان غازي باندې یې د تمـانچې د ګوزار تکـل کړی او غـازي محمداکبرخـان د مجبوریـت لـه مخې د ځان نه د دفاع په خاطر مکناتن ووژلو.

دحمید کشـمیري منظـوم پېښلیـك (اکبرنامـه) ځکـه پـه تـاریخي لحاظ زیات ارزښت لري چې دغه شاعر د وزیر محمداکبرخان معـاصر

او ان چې د غازي محمد اکبرخان له مړینې وروسته درې کاله نورهم ژوندی و او داکبرخان په لاس د مکناټن د وژل کېدو د پېښې د بر ترېدې شاهد و او د هزاره مورخ ملافیض محمدکاتب غوندې له صحنې نه لرې نه و پاتې شوی، چې یوې تاریخي پېښې ته خیالي او تبلیغي بڼه ورکړي.

حمیدکشمیري لیکي چې کله وزیرمحمداکبرخان غازي دمکناټن له غوښتنې سره سم په جرګه کې کېناست نو لومړی اکبرخان خبرې پیل کړې:

نشت اکبر ولات جنگ ازمایی ستادند گردن دیگر به پای
زبان برکشادند اکبرنامور بگفت ای جهانداروالاگهر
به حکم تو لشکر نگهداشتم علم بر سر انجم افراشتم
بلندان این شهرپست من اند زبردست ها زیر دست من اند
بمانده است تا دشمن اویختن همین بستن پای وخون ریختن
ولیکن بگیرم از ان باز دست بترسم که اری به پیمان شکست
به صدجهدبندم سر جویبار کند دیگری ماهیان را شکار
کز ایشان بسی مکر ونیرنگ رنگ همی خیزد از مردمان فرنگ
شمارند محکم به پیمان خویش ولیکن نباید زیک هفته بیش
رهانیابد دلم زین گرو به جز بستن عهد وپیمان تو
چه این گفتگو لات جنگی شنید ترش گشت و ابرو بهم درکشید
دلش سوخت از احتراق نهفت زبان اتشین کرد چو شمع گفت
کزین بیشتر تند خویی مکن زبان بند وگستاخ گویی مکن
مشو هرزه گوژاژ خایی بس است زبان بازکش خود ستایی بس است
که را زهره از ابی و اتشی که با ما زند دم زکگردنکشی
کجارفت ان عجز روز نخست همان لا به کردن به اواز سست
به یاد ار لرزیدن گردنت سر افکنده با من سخن کردند
که امروز سالار و سرلشکری هما لافی از امیری وسروری

بروت شکسته زگوشت شده است به چرخ زبر حد حزوشت شده است
ندانی که این احتشام از کسی است وگرنه چو تو خان اکبر بسی است
چه بود این سخن ها که گفتی مرا چه ناوکر ان سینه سفتی مرا
تو خود را چه دیدي انگاشتی مگر باخود از جهل پنداشتی
که شدلات جنگی ز دشمن زبون برشوه مدد جوید ازمن کنون
تو ازین خیال عبس در سراست از این نکته بگذر سخن دیگر است
درین یک دو روز از سپاه فرنگ ببیني جهان پر زشیر وپلنگ
که از برق شمشیر اتش فشان نمانند از افرینش نشان
نه کابل نه زابل نه غزنین و هلمند نه لشکر نه خان و خوانین هلمند
چون اکبر شنید این بیان درشت بران شد که مغزش ارد به مشت
وی عهد انگشت بر لب نهاد تحمل سر پای خشمش فتاد
همی خواست تا دشمن از خشم وتاب به پیمان شکستن در اردشتاب
کند دست بر جنگجوئی دراز پس انگاه کارش بسازد بساز
دگرباره گفتش که ای نامور بیا رام وتندی مکن اینقدر
حدیث صلاح منت جنگ شد سخن راست گفتم دلت تنگ شد
چه گفتم که این اتش افروختی زتاب نفس مغز من سوختی
چه سازم که شد عهد پابند من وگرنه من طاقت این سخن

په دې شېبو کې چې غازي محمداکبرخان د مکناټن، ترېور، مکنزي او لارنس سره په خبرو ناست و، د بالاحصار له لوري د انګرېزانو وسله وال ټولګي په پښتون محمداکبرخان او ملګرو باندې چې سردارسلطان احمدجان او محمدشاه خان بابکرخېل وو د یرغل او ددوی د نېولو په تکل راوتلي او تش د مکناټن له خوا نه د اشارې په انتظار کې وو. چې دې کار په خپله دیوه خیانت بنه درلودله.

حمید کشمیري د مکناټن او وزیرمحمداکبرخان پایله داسې لیکي:

بدین سان چو تیغ خود ان پیلتن　　شد می دم بدم تیز تر درسخن
عمو زاد پس به پشتو زبان*　　فغان زد که ای خان جادو بیان
سخن مختصر کن که ترکان سوار*　　برون امدند از میان حصار
زره پوش و شمشیرها اختد　　بیایند بالای ما تاخته
کنون ایمنی شرط تدبیر نیست　　درین مهلکه جای تاخیر نیست
شکارت باندازه جستن است　　بزن ورنه بهر چه بنشستن است
شنید این سخن لات جنگی تمام　　که اموخته بود پشتو کلام
زبان بست از گفتگوی وستیز　　زجاجست تاروی نهذ درگریز
بدامان او اکبرنیك کیش　　بزد دست و نشاند برجای خویش
بگفتش که بنشین کجا میروی　　بمان تا سخن سربه سر بشنوی
هنوزست حدیثی که پرسیدنست　　نپرسیده ام از چه ترسیدن است
ولی الات جنگی رهای زبند　　همی خواست چون صدا ندر کمند
در ان کشمکش از سرداغ ورود　　طمانچه زدن را بسی سعی کرد
ولی ان سیه دل خروش نکرد　　بفریاد چقماق گوش نکرد
طمانچه که ازبهر جان حسود　　فرنگی به صد کینه پرکرده بود
بکف داشت اکبر براور وزد　　خلك گفت بدخوا را این سزد
قضا از پسش گفت کای سینه رش ترا کرده خویش امد به پیش (۱۷۷)

---

* سلطان احمد احمدخان اکبرخان ته خطاب کوي.
* مقصد د انګرېزانو د وسله والو ټولي څخه دی.

حمید کشمیري (اکبرنامه) د وزیر محمد اکبرخان غازي له مړینې درې کاله مخکې یانې پر ۱۲۶۰ هـ ق کال لیکلی او د استاد احمدعلی کهزاد په وینا د یوه کال په موده کې یې کښلې ده، په داسې حال کې چې ملا فیض محمد کاتب هزاره نږدې نیمه پېړۍ وروسته په خپل اثر فیضی از فیوضات کې دغه تاریخي پېښه تحریف او مسخ کړې ده او دا د ملا فیض محمد د ناسمو او پښتون دښمنو لیکنو یوه وړه بېلګه ده، چې ایراني مورخ مهدي فرخ په ( تاریخي سیاسي افغانستان) کې را اخیستې ده.

دغه حقیقت د تاریخي معتبرو سندونو له مخې جوت شوی دی، چې د افغانانو (پښتنو) د تاریخ د تحریف کولو په کار کې ملا فیض محمد او مهدي فرخ یو شان ونډه لرلې ده، دواړو د تاریخي پېښو په کښلو کې له عناد او کینې او همدغه ډول له ذاتي غرضونوڅخه ګټه اخیستې ده او د بې طرفۍ یا غیر جانبدارۍ له اصل څه چې هر مورخ باید په پام کې وساتي تر پښو لاندې کړی دی.

له درېیو څلورو کلونو را وروسته چې په ختیځ شعیه هزاره څېړونکو د ایران په خاوره کې او د ایران د حکومت په سیاسي - اقتصادي مرسته ځینې څېړنیز او تاریخ ډوله کتابونه لکه تاریخ هزاره و هزارستان، غرجستان، کله منارها در افغانستان او داسې نور آثارو لیکلي دي په ټولو کې د عصبیت لهجه او د پښتون ضد روحیه له ورایه څرګنده ښکاري او د ملا فیض محمد کاتب له تاریخ نه په کې زیاته استفاده شوې ده.

ددغو کتابونو په لیکنه کې د طالبانو د اسلامي غورځنګ څخه د هزاره شعیه و د حزب وحدت ماتې ژوره اغېزه درلودلې ده لکه د ملافیض محمد کاتب لپاره چې د امیر عبدالرحمن خان برلاسۍ د هزاره ګانو په ځپلو کې لرلې ده.

دهغه هزاره څېړونکو لپاره چې په ایران کې د هر ډول څېړونو لاره خلاصه ده چې د افغانانو (پښتنو) خلاف دقلم چلولو وسه لري او پښتنو واکمنو ته د خپلې خوښې سره سم بد رد ویلی شي، په ایران کې څېړېدونکو دوه غټو مجلو( سراج او در دري) ته په یوه ساده کتنه دغه حقیقت ډېر ښه جوتېږي. د ساري په توګه د سراج مجلې د لیکوالو د ډلې نه بصیراحمد دولت ابادي په خپله څېړنیزه مقاله کې لیکلي دي:

" ازمیان صدها روحانی هزاره جات که در زمان عبدالرحمن خان به شهادت رسیدند فقط دو نفر روحانی جان بسلامت بردند که این دو توانستند جنایات امیر کابل و سپاهیان او را به رشته تحریر د راورند وان جلاد خون اشام را برای ابد رسوا سازند. این دو نفر اول ملا فیض محمدکاتب و دوم ملا محمد افضل ارزگانی می باشند"(۱۷۸)

# د ملا فیض محمد د پښتون دښمن کتابونو لنډه پېژندنه

ملا فیض محمد کاتب د یوه هزاره محقق د وینا له مخې د ۱۳۰۵ ل پوري کومه پېژندل شوې څېره نه وه، بلکې دربار ته دده د پېژندګلوۍ او د امیرحبیب الله خان خاص دفتر ته د نوموړي د معرفۍ کار هم د یو پښتنو د فضیلت او شرافت نتیجه وه. د غه پښتون ملا محمد سرورخان اسحاق زی و چې د نایب السلطنه نصرالله خان په دفتر کې یې دنده درلودله دغه هزاره څېړونکی وایي:

" درسال ۱۳۰۵ کاتب به کابل امد و از محضرملا محمدســـرورخان اسحاق زی کسب فیض نمود. ملا سروراسحاق زی که در دفتر خاص نایب السلطنه نصرالله خان کار میکرد مرد با فضلیتی بود و درسفر نصرالله خان به انگلستان نیز با وی همراهی داشت و گزارش های سفر اورا می نوشت کــه در سراج التواریخ نیز از ان گزارش ها استفاده به عمل امده است وهمـــین شخص بود که موجبات معرفی وشمول اورا در دفترخاص حبیب الله فراهـــم گردانید" (۱۷۹)

دساده او پاکو زړونو درلودونکو پښتنو دتاریخ په اوږدو کې دېردیو تېرګیو ته په خپله لاستي برابر کړي دي او بیا په هماغه تېرګیو باندې د پښتون د ګورې او قوي ونې په ډډ او ښاخونو باندې ګوزارونه شوي دي.

موږ د همدې کتاب په تېروپاڼو کې ولوستل چې پښتون واکمن اعلیحضرت تیمورشاه دراني په خپل لاس او خپل فکر فارسي ژبه او ايراني فرهنګ او کلتور په پښتنو باندې مسلط کړ او د هغې په نتيجه کې پښتانه او پښتو ژبه شاته وتمبول شول.

انګرېز پوه( فرير) همدغه موضوع يا مسله ډېره ژوره څېړلې ده او د تاريخي سندونو په رڼا کې يې ورباندې پخې خبرې کړي دي، فرير څرګنده کړې ده چې پښتو واکمن تيمورشاه دراني نه يوازې ټول دفتري او اداري کارونه په فارسي کړل، بلکې پښتني جامه ته يې هم تغير ورکړ اود افغانانو معاشره هم کرار کرار په ايراني اوقزلباشي معاشره بدله شوه. فرير وايي:

" تیمورشاه درانی به جای رواج های افغانی و طرز زنـده کگانـی ان طایفه ( مطلب له پښتنو څخه دی) طرز معاشرت ایرانی را زیاد ترجیح میداد و ان نوع زنده گی که در عهد حکومت احمدشاه درانـی سـرزمین رواج داشت درین عصر یک اندازه بر طرف شده حتی زبان افغانی (مقصد له پښتو څخه دی) هم از خودش و سران معاصرش کم کم فراموش شده و زبان فارسی در افغانستان به امور رسمی و دربـاری رواج زیـاد حـاصل کردوهم از عصر حکومت تیمورشاه زبان پشتو عقب مانده و زبان دفـتر و دیوان هم عوض پشتو فارسی شد. طرز لباس ومعاشرت افغان ها (پشتون ها) نیز اهسته اهسته بدل شده خوبی های سردران افغان به طرف ایرانی هـا و قزلباش ها مایل شده و همان افکار به دماغ شان پیدا شده که این هم اثـر عهد تیمورشاه است."(۱۸۰)

بـايد يادونـه وشـي چـې عيـن همدغـه مطلـب د پښتنـو وتلـي تاريخليکونکي قاضي عطاءالله هم په خپل کتاب (د پښتنو تاريخ) کې راوړی دی.

ملا فیض محمد کاتب هزاره د یو پښتون ملا محمد سرورخان اسحاق زي په لورونه او پېرزوینه د امیر حبیب الله خان دربار ته ور وپېژندل شو، لیکن نوموړي پښتون دغه تصور ونه شوکولی چې هغه نوم ورکي ملافیض محمد به یوه ورځ په خپله د پښتنو پر ضد قلم چلوي او کتابونه به لیکي.

هغه پښتون پوه دغه باور نه شو کولی چې دده له خوا دربار ته پېژندل شوی ملافیض محمد کاتب هزاره به د پښتنو په هکله صادقانه فکر نه لري او د ایران د فرهنګي ښکیلاك یوه اغېزمنه څېره به ترې جوړېږي. د امیر عبدالرحمن خان په عوض کې به له ټولو پښتنو څخه د غچ اخیستلو اراده کوي او د تاریخي پېښو حقیقت به مسخ کوي، خو د ایران او ایرانیانو سره به نږدې دوستي پالي.

تریو څو کالو مخکې پورې داسې فکر کېده چې ملا فیض محمد کاتب چې د امیرحبیب الله خان او وروسته هم د اعلیحضرت امان الله خان غازي ددربار مورخ یا د تاریخي پېښو او جریانانو لیکونکی او ثبت کوونکی پاتې شوی دی. یوازې او یوازې سراج التواریخ یې د امیر حبیب الله خان په حکم لیکلی او نورڅه اثار او لیکنې نه لري، خو کله چې پر ۱۳۶۳ل کال د پوهاند عبدالحی حبیبي کتاب (جنبش مشروطیت در افغانستان) دخلکو لاس ته ورغی نو استاد لوموړی ځل لپاره د ملا فیض محمدکاتب هزاره څلور نور کتابونه هم په خپل اثر کې معرفي کړي وو، چې په اصل کې قلمي نسخې وې او لاچاپ شوي نه وو. هغه درې ناچاپ کتابونه دا وو:

۱ تحفه الحبیب.
۲ فیضي از فیوضات.
۳ تذکره الانقلاب

۴. تاریخ حکمای متقدمین از هبوط ادم تابعثت حضرت عیسی. (۱۸۱)

د استاد تر وفات وروسته په تېره بیا د ۱۳۷۳ل کال نه را په دېخوا شعیه هزاره څېړونکو د ملافیض محمد د ځینو نورو کتابونو په اړه هم خپلې څېړنې او ګروېږنې دهېواد نه بهرفارسي مطبوعاتو کې خپرې کړي او په دې ډول یې دملافیض محمد کاتب د لیکلو کتابونو شمېره لاهم زیاته کړه، چې ددغو کتابونو زیاته برخه د افغانانو د تاریخ او د افغانانو د هېواد (افغانستان) او افغانانو د اصل ونسب په باره کې دي چې په لاندې ډول یې لنډه پېژندګلوي کوو:

۵. امان الانشاء.

۶. نژادنامه افغان.

۷. محموعه منتخب.

۸. یاد داشتها مربوط وقایع افغانستان د ۱۴۷۸صفحه.

۹. جلد چهارم سراج التواریخ، وقایع عصر امانیه وفقرات شرعیه.

۱۰. امان التوایخ، (ایرانی مورخ عبدالمحمد مودب السلطان هم په همدغه نوم یانې امان التواریخ په ۷ ټوکونو کې لیکلی او خپور کړی دی.)

د تحفه الحبیب تاریخي کتاب چې دافغاني واکمنو او د افغانستان پورې تړلې تاریخي مطالب په کې لیکل شوي وو د امیر حبیب الله خان په حکم سانسور او نامطلوب وګڼل شواو د سره لیکلو احکام یې د مولف ملا فیض محمدکاتب په نوم جاري شو.

د ملا فیض محمدکاتب د ثارو یو هزاره څېړونکی د تحفه الحبیب د مصادره کېدو او له سره د لیکل کېدلو په اړوند وایي:

" کارتصحیح و حذف واضافت مطالب تاریخ تحفه الحبیب بجای رسید که بعضی از اعضای هیات به منظور فضیلت نمای اظهار نظر های خلوج از صلاحیت خود برا ن کردند و حتی در برخی از موارد از بی حرمتی و اهانت بر مولف اجتناب را جایز شمردند بالاخره یکی از اعضای هیات در حاشیه کتاب نوشت:

" اصلاح و تصحیح ان به جز انکه سر از نو نوشته شود ممکن ندارد" همدغه څېړونکی بل ځای وایي:

" کتاب تحفه الحبیب مصادره و از چاپ بازداشته شد ومولف ان بعد از سر زنشها و تاکیدها مجددا به نگارش تاریخ مورد نظر با عنوان دیگر موظف گردید."(۱۸۲)

د ملا فیض محمدکاتب په هکله د امیر حبیب الله خان اود کتاب د کتلو او سمولو لپاره د ټاکلي هیات بدګوماني او په لیکل شویو مطالبو باندې شك ښکاره کول په خپله ددې حقیقت یو ثبوت وړاندې کوي چې د تاریخي پېښو د کښلو او ثبت کولو په دنده کې نوموړي درباري مورخ صداقت نه ښکاره کاوه او د هر څه یې د امیر د ناوزګارتیا نه په ګټه اخیستلو سره په تیاره کې تېر کړي دي.

دملافیض محمد کاتب هزاره یو کتاب (نژادنامه افغان) نومېږي چې د نورو تاریخي کتابونو څخه په استفاده د لوی پښتون ببلابېل قومونه او خېلونه په کې معرفي شوي دي، دغه کتاب پر ۱۳۷۹ل کال په پېښور کې د (موسسه انتشارات الازهر) له خوا چاپ او خپور شوی دی چې د پښتنی په لومړي مخ کې دکتاب لیکونکي د (علامه فیض محمدکاتب) په نوم یاد شوی او د کتاب په لومړی پاڼه باندې لیکل شوي ( مولف: مورخ شهیر ملافیض محمدکاتب). لیکن د کتاب په زیاتو پاڼو کې ددغه علامه او مورخ شهیرمعلومات ناسم او غیر واقعي

ښودلي شوي او ځای پر ځای نیوکې هم ورباندې شوي دي، چې زه به د ساري په توګه ددغو نیوکو او تېروتنو یوه وړه بېلګه دنژادنامه افغان څخه د لته وړاندې کړم ملافیض محمد کاتب هزاره لیکلي دي:

**اقوام وقبایل پشتون یا افغان:**

**" دانایان و تاریخ نگاران این قوم بزرگ وملت سترگ که اکنون لکها و هزاران قبیله و حنیلند ابتدای شجره و سلسله نسب خود را پس از ظهور اسلام از قیس عبدالرشید نام و شاه حسین غوري گرفته و...."**

لیکن د کتاب په پایځوب کې اعتراض کوونکي دغه مطلب ناسم ګڼلی او لیکلي یې دي:

**"انتساب پشتون ها به شاه حسین غوري سخنی است واهی وبی پایه که نه با عقل جوردرمیاید ونه با تاریخ".(۱۸۳)**

اوس په دې حالت کې چې له یوې خوا یو لیکوال اومورخ (علامه اوشهیر) وپېژندل شي او له بلې خوا یې لیکنه واهي او له عقل څخه لرې وګڼل شي څنګه به دا ممکنه وي، چې ددغه سړي لیکلي تاریخي پېښې او یادښتونه دې سم او د رښتیا او حقیقت پر بنسټ ولاړ وي.

اوبیا دا چې ددغه مورخ پلار نیکه او د هزاره قوم پورې تړلي کسان د یو پښتون واکمن امیرعبدالرحمن خان او یا نورو پښتنو واکمنو له خوا وژل شوي هم وي او دغه مولف چې په توکمي او مذهبي لحاظ د پښتنو سره تضاد او جلاوالی لري څرنګه به دې ته چمتوشي چې دپښتنو واکمنو کارنامې او د افغانانو تاریخ دې هغه شان ولیکي چې افغان واکمن (امیرحبیب الله خان یا اعلیحضرت امان الله خان غازي) یې هیله ښکاره کړې وه؟؟

په پښتنو باندې د فرهنګي ښکیلاك یوه غټه پایله خو داوه چې پښتانه دې د خپل پېښلیك له لیکلو نه بې برخې وساتل شي څکه چې

ژبه يې دهېواد رسمي او حاکمه ژبه نه وه او دتاريخ ليکلو حق په افغانستان کې يوازې هغو ليکوالو او مورخانو درلود چې په حاکمه ژبه يې خبرې او ليکنې کولې او هغه ژبه فارسي وه دساري په ډول:

استاد احمدعلي کهزاد، علي احمدخان نعيمي، محمدعثمان صدق، سيدقاسم رښتيا، دده ورور م، صديق فرهنګ، م، غبار، استاد خليل الله خليلي، استادمحمدابراهيم خليل چې د افغانستان بشپړ پښتليکونه او يايې د پښتليکونو ځينې برخې ليکلي دي، ټول غير پښتانه او د فارسي ژبې استادان يا شاعران وو او په دې کې لومړى ځو تنه خو د افغانستان دتاريخ د ټولنې مشران او ياې غړي وو.

د اريانا مياشتنی مجله هم د همدې ټولنې او همدغو کسانو له خوا خپرېدله چې يوازې يو دپښتو مضمون به په کې نشر کېده. دتاريخ د ټولنې ټول اختيار او صلاحيت د همدوی سره و او تاريخ ليکنه هم ددوی په انحصار کې وه ځکه خو پښتون تاريخ ليکونکي مجبور و خپل ليکلي تاريخ اثر داسې کسانو ته وسپاري، چې په پښتو ژبه نه پوهېدل او نه د پښتنو د ژوندانه د ځانګړتياوو څخه خبر وو.

د وخت دربارونو هم يوازې دهغې ټولنې دويونکو ژبه د تاريخ ليکنې ژبه پېژندله او هغوی يې دتاريخ ليکنې ماهران (سکالران) بلل، په دربارونو کې ناستو واکدارانو چې په خپله د فرهنګي ښکيلاک تر اغېزو لاندې افغان ميمزات له ژبې نه نيولې تر ملي جامو پورې له لاسه ورکړي وو، يوازې هغه تاريخ لوستلی شو چې متن يې په فارسي ژبه و او د همدې لامل په وجه پښتون پوه د تاريخ ليکلو کار ته زړه نه ښه کاوه او دې ته اړکړل شول چې د دربار په ژبه او د تاريخ د ټولنې په موافقت د افغانستان د پښتليك په ليکلو پيل وکړي.

په دې اړوند به زه د یوې لنډې خاطرې یادونه وکړم چې د پورتني مطلب تصدیق په کې په ښه ډول کېدلی شي او د فرهنګي ښکیلاك یو بل څرګند ثبوت هم ګڼل کېږي.

پر ۱۳۵۰ل کال او له هغه نه مخکې زه د ننګرهار ورځپاڼې مسوول چلوونکی وم. د ننګرهار او هېواد لوړ ادبي او فرهنګي شخصیتونه او د پښتو ژبې وتلي استادان او شاعران لکه مولانا قیام الدین خادم، استاد محمدامین خوګیانی، ولسي شاعر غلام الرحمن جرار، سیدمحمدظاهربینا، لیکوال او شاعر عبدالقدوس پرهیز، محقق او شاعر عبدالله بختانی خدمتګار او داسې نور به چې په هېواد کې پېژندل شوي مطبوعاتي څېرې هم وې د ننګرهار د ورځپاڼې سره خپلې نږدې اړیکې ساتلې او د خپلو مشورو او تجربو نه به یې برخمن کوم. د همدې لیدنو کتنو په وخت کې یوه ورځ استاد مولانا قیام الدي خادم او استاد مولانا محمدامین خوګیانی زما په دفتر کې سره یو ځای شول او ما هم د یوه کشر په توګه د هغو مشرانو له عالمانه خبرو او مرکې نه ګټه واخیستله.

د خبرو په منځ کې یو ځل د غه موقع برابره شوه، چې د یو شاګرد په حیث له استاد خوګیاني نه پوښتنه وکړم:

استاده! تاسو د علامه سیدجمال الدین افغان ګټور کتاب (تتمه البیان فی تاریخ افغان) ولې په پښتو ژبه ونه ژباړلو چې هغه مو په فارسي ژبه وژباړلو...؟

استاد خادم زما له دې پوښتنې نه لږ حیران غوندې شو، لومړی یې ماته او بیا مولانا محمدامین خوګیاني ته وکتل، استاد خوګیاني وویل: هغه کتاب ما پر ۱۳۱۸ ل کال کې ژباړلی دی، هغه وختونو کې زه د انیس د اخبار مدیر وم او د مطبوعاتو مستقل ریاست نوی نوی جوړ شوی و او د دې ریاست مشر صلاح الدین سلجوقي ټاکل شوی و. .

چې سلجوقیان له توکمي پلوه ترکان دي، دغه سړی په ډهلي کې د افغانستان جنرال قونسل و او د حکومت په تېره بیا د سردارمحمدنعیم خان سره یې ډېرې نږدې اړیکې درلودلې او د پښتو ژبې دپرمختیا او رسمي کېدلو کلك مخالف پېژندل کېده. مولوی برهان الدین کشککي د اصلاح ورځپاڼې مدیر و احمد علی کهزاد د تاریخ د ټانګې مشر ټاکل شوی و.

د مطبوعاتو مستقل ریس په انیس او اصلاح دواړو باندې کلك کنترول درلود او په ټلیفون باندې به یې لارښوونې کولې،لیکن یوه ورځ د هغوی په لاسلیك یو ټوك عربي کتاب دیوه لیك سره ماته راورسېد چې په کې لاښوونه شوې وه:

"جناب مولانا محمدامین خوگیانی! مدیر مسول انیس!

به ساس لزوم دید مقامات کتاب علامه سیدجمال الدین افغان که بزبان عربی میباشد به شما فرستاده شد تا انرا به فارسی دري ترجمه نماید تا به طبع ونشر ان اقدام شود، بدین وسیله هدایت داده میشود تا کار ترجمه کتاب مزبور را اغاز و به ریاست مستقل مطبوعات اطمینان دهند".

ددغه لیك له رارسېدو وروسته ما د مطبوعاتو مستقل ریس ته په خپله خوله وویل چې که اجازه وي نو به نوموړی کتاب په پښتو ژبه ترجمه کړم خو ښاغلي سلجوقي راته وویل:

مولانا صاحب څنګه چې هدایت درکړل شوی عمل وکړئ او نورو خبرو پسې مه ګرځئ... او زه هم مجبور شوم چې همغسې وکړم، دا هغه مهال و چې حکومت د پښتوژبې د رسمي کېدلو تکل کړی و او د صلاح الدین سلجوقي، سیدقاسم رښتیا او یوه ډله نورو کسانو له خوا د هغه تکل په مخالفت کار کاوه تر څو د هغه مخه ونیسي، خو وزیر محمدګل خان مومند او ملګرو یې چې استاد خادم ) خادم صیب ته په

لاس اشاره) هم په هغو کې شامل و د مخالفینو سره کلکه مبارزه پیل کړې وه..."

په همدې کال په هېواد کې دپښتو ټولنې بنسټ کېښودل شو او د ځو ادبي ټولنو یا انجمنونو له یو ځای کېدو څخه د پښتنو ټولنې په نوم یوه نوې علمي او ادبي ټولنه جوړه شوه."

د کلونو او پیړیو په اوږد بهیر کې په افغانستان کې د فرهنګي ښکیلاك ټغر ټول نه شو او چې هر کله د پښتو ژبې د رسمي کېدلو خبره رامنځته شوې ده، نو مخالفت ورسره ښودل شوی او د فارسي ژبې د انحصار کړی په خپل حال پاتي شوی او پښتو ژبه د محکومیت له زندان نه نه ده راخلاصه شوې.

امیر حبیب الله خان پښتو ژبه دحبیبي لېسې په تعلیمي نصاب کې ور داخله کړه. لیکن په دې نصاب کې زده کوونکي دغه واك هم درلود چې د انګرېزي او پښتو ترمنځه یوه ژبه چوڼ کړي، چې دغه کار هېڅکله د پښتو ژبې په ګټه نه بلل کېده، د ملي ژبې پښتو سره یوه سیاسي لوبه وه.

پنځم څپرکی

# د امیر امان الله خان په امارت کې پښتو ژبه او د فرهنګي ښکیلاک دوام

د افغانستان په پېښلیک کې د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاکېدو نېټه د ۱۹۱۹م کال د فبرورۍ د میاشتې له یوویشتمې نېټې نه تر ۲۳نېټې پورې لیکلې شوې ده. په دې پېښلیک کې دغه پاچا دهېواد دخپلواکۍ ګټنې دملي اتل په نامه هم یاد شوی دی، چې دغه ویاړ نه د امیر عبدالرحمن خان او نه د امیر حبیب الله خان چې د غازي امان الله خان پلار او نیکه کېږي په برخه شوی دی، لیکن د محمدظاهر شاه د پاچاهۍ په دوره کې د هېواد ځینو تاریخلیکونکو او د حکومت د کنټرول او سانسور لاندې معلوماتو پاچا محمدنادرخان د هېواد د ژغورونکي (ناجي) او د خپلواکۍ ګټونکي په نوم یاد کړ چې دا یوه څرګنده تېروتنه ده.

مخکې له دې چې موږ د تاریخ په رڼا کې د امیرامان الله خان غازي شخصیت وڅېړو غوره دا بریښي چې دیوې لنډې شېبې لپاره ددې د پلار (شهیدحبیب الله خان) د امارت په دوره کې د پښتو ژبې حال ته یوه کتنه وکړو

موږ په دریېم او څلورم څپرکي کې ولوستل چې د امیرحبیب الله خان په دوره کې د پښتنوپوهانو، شاعرانو او لیکوالو په همت او هڅه د سراج الاخبار په نوم د یوې ټولنې بنسټ کېښودل شو او همدې ټولنې د لومړي ځل لپاره د سراج الاخبار په نوم یوه جریده هم د خپلې ټولنې په وړاندیز او د پاچا په منظورۍ خپره کړه، چې لومړنی چلوونکی یې هم یو انقلابي روڼ اندی پښتون مولوی عبدالروف خان خاکی و، خو د

انګرېزانو په شیطنت سره امیر هغه اخبار بند کړ او شپږ کاله وروسته هغه جریده په یو نوي نوم یانې سراج الاخبار افغانیه د محمود طرزي په مسولیت بېرته د خپرونو ډګرته راووت. پښتنو لکه څنګه چې د افغان انګلیس په لومړۍ او دویمه جګړه کې پښتنو سربښندنې کړي او د تاریخ په شاهدۍ ددواړو جګړو ډګرونه د پښتنو سیمې وې او په لومړۍ جګړه کې پښتنو د پېرنګیانو ۱۷ زره پوځ دکابل جلال اباد په لاره کې تباه او له منځه یوړ او په میوند کې هم ( دافغان انګلیس په دویمه جګړه) پښتانه ( سردار محمدایوب خان غازي او پیغله ملالۍ) د جګړې اتلان او د پښتنو جنګیالیو د ننګ او غیرت سمبولونه وو، همدغه ډول دلومړۍ او دویمې مشروطه غوښتنې یا ولسواکۍ د غورځنګ وتلي څېرې او په دې لاره کې ډېر کلک مبارزین او سر ښندونکي پښتانه او په ځته پښتون امیر حبیب الله خان هم له ټولو نه زیات پښتانه یا په توپ والوزول او یا یې د زندانونو په تورو کوټو کې دمرګ خولې ته وغورځول.

پښتنو دا ټولې سربښندنې په خپله رضا او خوښه وکړه. لیکن د خپل سرلوړي او نومیالي قوم ژبه یې خپل حق ته ونه رسوله او هغه یې د محکومیت له زنځیرونو ازاده نه کړه.

هغه فرهنګي ښکیلاك چې د ایران له لوري نه په پښتون قام اوپښتني هېواد کې مسلط کړی شوی او د هغه په نتیجه کې د پښتو ژبې پر ځای فارسي ژبه دیوې حاکمې ژبې بڼه غوره کړې وه، د مشروطه غوښتونکو پښتنو پام یې د ځان په لور را وانه ړاوه او نه یې د ترخو پایلو په ارزښت پوه شول.

دا چې دغو پښتنو د تېرو پښتنو لکه اعلیحضرت تیمورشاه دراني، شاه شجاع الملك سدوزی، سردار رحمدل خان مشرقي، سردار غلام محمد خان طرزی او نورو چې د فارسي شعرونو دیوانونه او

تولګي يې لرلې، په پل پښه کېښوده او د عبدالرحمن لودين کبريت عبدالهادي خان داوي پريشان په قوم کاکړ او زياتو نورو هم په فارسي ژبه مقالې وليکلې او شعرونه يې هم په همدې ژبه خپاره کړل، د خپلې ژبې او خپل قوم دهيلو او غوښتنو سره سمه خبره نه بلکې د سياست د دګر د هغو لوبغاړو خپله خوښه ګڼل کېدله او د پښتون ولس د ملي ارمانونو نماينده ګي يې نه شوه کولی، ځکه خو پښتانه هغوی ته د خپلو ملي اتلانو په سترګه نه ګوري.

دا چې د کومو لاملونو له مخې د مشروطه غوښتنې د غورځنګ نوميالیو پښتنو مشرانو يا دسراج الاخبار تکړه او سرښندونکو ليکوالو اوشاعرانو د خپلې ملي ژبې د حاکميت حق نه غوښت او يايې نه شو غوښتلی دتاريخي او ملي معتبرو سندونو په رڼا کې نه دی ځرګند شوی او زموږ درنو پښتنو څېړونکو او محققانو وریاندې څه پخې ليکنې نه دي کړي.

که چېرې هغو مشرانو د مشروطه غوښتنې د غورځنګ په چوکاټ کې د فرهنګي ښکيلاک د ختمولو او دپښتو ژبې د حاکميت غوښتنې ته هم ځای ورکړی وای نو يقيني خبره ده چې فرهنګي ښکيلاک او د پښتو ژبې محکوميت د اعليحضرت امان الله خان غازي تر واکمنۍ پورې دوام نه شو موندلی.

په تېرو پاڼو کې موږ دپوهاند عبدالحی حبيبي د وينا له مخې يادونه وکړه چې ددويمې مشروطې غړو د پښتو ژبې درسمي کېدو او دحاکميت کوم تکل کړی و، وګورئ دې لاندې کرښو ته:

" يکی ازخصايص خصامشی گروهی اين جميعت توجه به تعميم نوشتن وخواندن در زبان پشتو بود که مکاتبه های شخصی خود شانرا هم باين زبان ميکرده اند و نويسنده اين سطور مکاتبه های شخصی پشتو را بقلم محمد

ابراهیم خان چنداولی هم دیده بودم، که بدون تعصب لسانی یا مذهبی بـــه رفقای پشتو زبان مانند مولوی غلام محی الدین و عبدالهادی داوی وغـــیره نوشته بود (علیه رحمه)"(۱۸۴)

ددویمـي مشــروطه د غړیــو پرېکــړې د پښتــو ژبــې رسـمیت او حـاکمیت تـه کومـه ګټه ونـه رسوله او دغـو غړیـو یـاغورځنګ ونـه شـو کـړای پـه دې بـاره کـې د حکومـت موافقـت لاسـته راوړي، ځکـه چـې د غورځنګ موخـه پـه هېواد کـې د مشـروطه نظـام راوسـتل او د مطلقـه شاهي رژیم له منځه وړل وو او شـاهي رژیـم هـم د مشـروطه غوښتونکو سره ډېر سخت چلند کاوه او دوارو یو دبل پر ضد چلند درلـود. د ځینـو تاریخلیکونکو لکه فرهنـګ دغـه وینـا چـې ګواګې د سراج الاخبار یـوه ګنده دا هم وه چې د پښتـو ژبـې دتعمیـم لپـاره خپرونـې ولـري دعمـل پـه ډګر کې کوم دمنلو وړ ثبوت نه شي ښکاره کولی.

که چېرې د حکومـت لپـاره د پښتـو ژبـې د تعمیـم مسـلې دومـره ارزښت درلود نو په کار دا وه چې په دې هکله یـو فرمـان جـاري کـړي او دپښتو ژبـې سـره خپلـه نـږدې خواخـوږي او مینـه د یـوه ملـي احسـاس او فکـر پـه بڼه څرګند کـړي او یـوازې پـه ښوونځي کـې د یـو وچ او مجـرد مضمون له چوکاټ نه راوباسي.

امیر حبیب الله خان د خپلـې واکمنـۍ پـه کلونـو کـې تـر وروسـتۍ شـېبې پـورې پـه هـېواد کـې د فرهنـګي ښکیـلاك څخـه د افغانـانو د ژغورنې لپاره کوم علمـي ګام پورتـه نـه کـړ. پـه پښتنو بـاندې د همـاغې ژبې حـاکمیت پـر ځای پـاتې شو، چې په ایران کې د ایرانیـانو ملـي او رسـمي ژبـه ده او د همدې ژبـې د حـاکمیت لـه املـه ایرانـي مورخیـن، محققین او لیکوال ان د ایـران د اخونـدي رژیم د بهرنیو چـارو خپرونـې افغانسـتان د ایران د خاورې یوه برخه او د ایراني فرهنګ دحوزې سیمه

بولي په دې اړونـد دې وکتـل شـي د تـهران د پوهنتـون د استاد چنگیـز پهلوان اثر (افغانسـتان - عصر مجاهدین و برامدن طالبان) چې په ایـران کې خپور شوی دی.

په دې ډول فرهنگي ښکیـلاك د امـیر حبیب الله خـان لـه دورې نـه د امـیر امـان الله خـان دورې تـه راولېږدېده او پـه افغـان ولـس بـاندې یـې اغېزې په پخپل حال پاتې شوې.

د امیر حبیب الله خان د ژوند وروستۍ انجام ډېر دردوونکـی و او نوموړي د مشروطه غوښتنې د غورځنگ دیوه غړي شجاع الدولـه خـان بابکر خېل پښتون له خوا په شهادت ورسېد، لیکن د امیر امان لله خان غازي په دربارکې د فرهنگي ښکیلاك ناست اجنټ د افغان واکمن امان الله شاه او پښتون ولس سره د عناد او دښمنۍ له مخې په خپـل لیکلي اثر (تاریخ سیاسي افغانستان) کـې ولیکـل چې شهزاده امـان الله خـان دخپلي مور سرورسلطان سره د خپل پلار او مېړه امیر حبیب الله خان پـه وژلو کې لاس درلود.

دغه اجنـټ د امـیر امـان الله خـان پـه دربـار کـې د ایـران لـوی سفیر سیدمهدي فرخ و، نوموړي اجنټ محمدنادرخان او سردارشاه ولیخـان هم په هغه وژنه کې لاس لرونکي گڼلي دي.

د امـیر امـان الله خـان غـازي خلاف دمـهدي فـرخ لیکنـه د توهیـن، سپکاوي او افغان ولس ته له کنځلو او سپورو ستغو نه ډکه ده، چـې پـه خپـل ځای کې بـه یـې مـوږ ځینـې بېلـگې ددې کتـاب لوسـتونکو تـه وړانـدې کړو، چې دغـه پټـه ولگېږي چې د ایران د فرهنگي ښکیـلاك اجنټانو د پښتنو (افغانانو) سره څومره کینه او عـداوت درلودلـی دی او پښتنو واکمنو او پښتون قوم ته یې په کومو سترگو کتلي دي.

امیرامـان الله خـان غـازي د افغانـانو لپـاره د عـزت او درنـاوي وړ پاچا تېر شوی دی، چې پښتـانه وربـاندې ویـاړ کـوي. ددوی پـه واکمنـی

کې تر تولو ویاړلی اوستره کارنامه د برتانیې څخه دتورې په زور د افغانستان د بشپړې سیاسي خپلواکۍ اخیستل او پر ۱۹۱۹م کال د افغانانود تاریخي هېواد د استقلال اعلانول دي.

د افغانستان برتانوي هندوان چې د نړۍ عمومي تاریخ د پورتني روښانه حقیقت په اړه ځانګړی ځېرکی لري او دخپلواکۍ په لاره کې د پښتنو مېړانې او بې ساري سربښندنو او اتلوالیو کیسې په کې لیکل شوي دي، لیکن د ایران د فرهنګي اجنټ او تش په نوم مورخ له دې هرڅه نه انکار کوي او د افغان انګلیس د درېیمې تاریخي جګړې جریان نفی کوي او سترګې ورنه پټوي.

دغه ایرانی دیپلومات چې د عبدالحی حبیبی په وینا دتاریخلیکنې تول اصول یې تر پښو لاندې کړي او په دې برخه کې یې د ناپوهۍ ثبوت ښکاره کړی د خپلواکۍ ګټلو لپاره د پښتنو قربانۍ او د پښتون اعلیحضرت امان الله خان غازي همت او جرئت بې ارزښته بولي او داسې ځرګندول غواړي چې یوازې برتانیې د خپل سیاست له مخې افغانستان ته د یو څه ازادۍ په ورکولو راضي شو. دغه اجنټ د افغانانو د تاریخ دې ستر رویداد ته داسې کتنه کوي.

" سیاست دور اندیش انگلستان می دانست که با دولت بالشویک، مثل دولت تزاری نمی توان رفتار نمود و نه اینکه دولت سوسیالیستی حامی ملل ضعیف است، علیهذا یکی ازملل ضعیفه که درتحت سلطه وپنجه اهنین برتانیا می نالید افغانستان بوده است، پس بهتراین است که این ملت مظلوم استقلال خود را به دست بیاورد...

با مقدمه فوق واضح می شود که بعد ازشکست افاغنه در جنگ استقلال چه شد که حکومت انگلستان در کمال سهولت استقلال افغانستان

راتصدیق نمودند و امیر امان الله خان از این سیاست استفاده کــرده و بــه موجب عهد نامه راولپندی عهود سابق را تثبیت نمود"(۱۸۵)

د فرهنګي ښکیلاك اجنټ يوازې په همدومره دروغو بسنه نه کوي او د امیر امان الله خان غازي او افغان ولس سره د ایراني دښمنۍ نور ثبوتونه هم په لاس ورکوي، دساري په توګه کله چې اعلیحضرت امان الله خان د هېواد د خپلواکۍ د ګټلو په لومړي جشن کې چې په پغمان کې وشو د ګڼ شمېر خلکو په وړاندې چې د انګلیس لوی سفیر (سر فرانیس همریز) هم حاضر و په خپله تاریخي وینا کې چې د پښتني ناسیونالیزم په روحیه او د افغان ولس په زړه برابر وه په لوړ اواز وویل چې:

موږ د خپلې تورې او مېړانې په زور د نړۍ دیوه ډېر ظالم دولت څخه خپله خپلواکي واخیستله او دغه وینا د ایران لوی سفیر مهدي فرخ واورېدله، چې د بهرنیو سفیرانو په کتار کې ولاړ و، نو د ایراني تعصب له مخې یې په خپل کتاب کې داسې ولیکل:

" رفتار وزارت خارجه افغانستان نسبت به کار دیپلوماتیک خیلی بــی ادبانه وحتی این رفتار را مبین بر اهمیت وقدرت خود می دانستند جلوه دهند وحتی در امورات از نزاکت ظاهری نیز خارج شده ودر جشــن پغمــان در حضور سرفرانیسس همریز وزیر مختار انگلیس امان الله خان اظهار داشت.

ما استقلال خود را به زور شمشیر از ظالم ترین ملل عالم گرفتیــم و از این رویه خشنود هم بودند و تصور میکردند سفرای دول متحابه از این بــی ادبی ها اخافه شده افاغنه را خیلی مهم ومقتدر تشخیص خواهند داد"(۱۸٦)

د فرهنګي استعمار دغه استازي چې په خپله د اخلاقي انحطاط حتاکۍ او فحاشۍ یو سمبول دی افغان پاچا ته تش په دې خاطر د بې ادبۍ نسبت کوي، چې ګویا د انګرېزانو د مختار وزیر په مخکې یې

ولې دا وویل چې موږ د توري په زور د برتانیې څخه خپل استقلال اخیستی چې یو ظالم دولت و.

د افغانستان په دربار کې د ایران د فرهنګي استعما دې جاسوس صفته اجنټ دملا فیض محمد کاتب نه د فیض از فیوضات کتاب ددې لپاره واخیست، چې په ایران کې یې چاپ او خپور کړي، ځکه چې په هغه کتاب کې د افغانانو خلاف ډېر څه لیکل شوي او دفرهنګي ښکیلاك د اجنټ په زړه برابر و.

داسې سندونه هم لیدل شوي چې نوموړي سفیر په کابل کې د خپل سفارت له لارې جاسوسي فعالیتونه هم کول او د امیرامان الله خان غازي پر ضد یې د خپلو ګوډاګیانو په وسیله ناوړه تبلیغات مخ پر وړاندې بیول، ده افغان پاچا افغان وزیرانو او افغان ولس سره یو عجیبه کینه او دښمني درلوده او په فارسي ژبه یې چاپ کړي مطالب د سفارت په وسیله کابل ته رارسول او بیا یې د خپلو نوکرانو په لاس نورو ته رسول. دایراني سفیر د عناد او دښمنۍ یوه بله بېلګه وګورئ، دی لیکي:

" امان الله خان وسوء سیاست خارجی او"

در سیاست خارجی امان الله خان بی اندازه مبتدی بی فکر وبی اطلاع بود، وزای فهمیده ای نیز نداشت اگر چه محمودطرزی نسبتاً با تجربه کار بود ولی مشاور الیه نیز شخص با فکر وبا اطلاعی نبود...

امان الله خان و وزرای مشار الیه وزیر خارجه دیپلوماسی را فقط دروغ گفتن می دانستند و به همین جهت از شخص امان الله خان تا سایر متصدیان امور در کارهای خارجی به قدری دروغ میگفتند که هیئات سفرای خارجه در کابل نسبت به کار های خود شان د چار تفکر بوده وپیوسته به دول

متبوعه خود اظهار بی حقیقت و کاذبانه دربـــار کـــابل و وزارت خارجـــه افغانستان را راپور میدادند."(۱۸۷)

دایـران د فرهنــګي ښکیــلاك دغــه اجنــټ لکــه د نــورو ایرانـــي تـاریخلیکونکو، څېړونکو او لیکوالـو پـه شـان پـوازې پښتـو ویونکـي افغانـان بولـي او هغـوی چـې پـه فارسـي ژبـه غـږېږي ایرانیـان ګڼي او فارسي ددوی د ایراني هویت څرګند ثبوت پېژني.

دی دنـورو ایرانـي فرهنګیـانو غونـدې ددري ژبـې اصطـلاح پـه رسمیت نه پېژني او هغه بې مفهومه بولي. دوی وایي فارسي یوه ژبه ده چې په تاجکستان او افغانسـتان کې یـوازې لـهجوي تـوپیر لـري نـه پـه لیکـن لوسـت کې. ایران د فارسي ژبې د زېږېدلـو او پرمختللو اصلـي ټاټوبی دی، چې ایرانـي فرهنګي پـه کـې هـم وده کـړې ده او همدغـه فرهنـګ پـه اسـیا کـې یـوه پراخـه سـاحه پـه برکـې نیولـې چـې هنـد، افغانسـتان او تاجکسـتان په همدې ساحه کې پراته هېوادونه دي، چې د ایراني فرهنګي تر اغېزو لاندې دی.

دا چې ژبه دیو فرهنګ د ژوندي سـاتلو اساسـي عنصـر ګڼل کېږي هم منل شوی حقیقت دی او په افغانسـتان کې دغـه دبـل هرڅای نـه ښـه لیدل کېدی شي.

پـه افغانسـتان کې د ایرانـي فرهنـګ ټینـګښت یـوازې او یـوازې د فـارسي ژبـې د حـاکمیت لـه لارې ممکـن شـوی دی، ځکـه خـو چـې کلـه دپښتو ژبې د رسمي کېدلو او پیاوړتیا غږ پورتـه شـوی دی فارسـي ژبو چې د هېواد لږه کیان تشکیلوي، له هغه سره مخالفت څرګنـد کـړی دی او ددې مخالفت لپاره یـې داسـې دلایـل راوړي دي چـې ګواکـې پـه خپلـه پښتنو واکمنو پـه فـارسي ژبـه خـبرې کـړي او شـعرونه یـې ویلـي دي، همدغو واکمنو فارسي ژبې ته دیوې حاکمې او تعلیمي ژبې بڼه ورکړه.

د پښتو ژبې او پښتنو دمخالفينو دغه دليل تر ډېر ځايه سم او د منلو وړ دی او موږ هم په همدې کتاب کې د تاريخ په رڼا کې دا مسئله څېړلې ده چې په افغانستان کې د فرهنګي ښکيلاك مسلط پاتې کېدل په بنسټيز ډول د پښتنو واکمنو د غفلت، ناپوهۍ او سياسي تېروتنو پايله ده او ورسره ورسره دهغو پوهو، په هېواد مينو انقلابي پښتنو د سياسي لوبو نتيجه ګڼل کېږي، چې د افغانستان د لږه کيانو په ژبه يې د خپلې سياسي موخې لپاره مبارزه کوله، شعرونه يې ويل، مقالې يې ليکلې او ويناوې يې کولې خو خپله ملي ژبه يې چې د هېواد د ډېره کيانو ژبه وه له ياد نه ويستلې وه.

دوی دوخت پښتانه واکمن په دې ونه پوهول چې د افغانستان د ازادۍ او خپلواکۍ په لاره کې دپښتون قام د سرښندنو اوقربانيو په بدل کې بايد ددغه قام ژبه ديوې حاکمې او د ښوونې او روزنې د ژبې درجه ولري او ددغه قام له پښو نه د ايراني فرهنګ زنځيرونه مات کړی شي.

د ډېره کيانو لپاره د لږه کيانو په ژبه خبرې او زده کړه کول د دغه قام د محکوميت مانا لري اود پښتني فرهنګ او پښتو ژبې د غوړېدلو مخه نيسي. هغوی نه پوهېدل ديوه قوم نه چې ژبه او فرهنګ واخيستی شي په معنوي لحاظ هغه قوم د زوال سره مخامخ کېږي او ورو ورو د نابودۍ کندې ته تېل وهل کېږي.

د امير حبيب الله خان د واکمنۍ دوره په همدې تېروتنو او غلط فهميو کې تېره شوې او د ملي ژبې پښتو حق ادا نه کړی شو، په دې مانا چې دغه ژبه د محکوميت له حالت څخه د حاکميت حالت ته ونه رسول شوه او له دې لارې نه د ايراني فرهنګ اغېزې راکمې نه کړی شوې. ليکن مشروطه غوښتونکو چې پښتانه يې مخکښان پېژندل کېدل ديوې سياسي موخې په خاطر د امير دشاهي رژيم د ړنګولو لپاره

د مرګ تر پولي پورې هڅې جاري ساتلې وې او د پاچا د همدې موخې قرباني شول.

د امير حبيب الله خان له مړينې وروسته او د عليحضرت امان الله خان د پاچاکېدو نه مخکې پېرنګيان په افغانستان کې د نوي سياسي ګډوډۍ اند ېښنو واخيستل، خو د عملي ګام د پورته کولو نه يې ډډه وکړه او په انتظار کې پاتې شول. هلته په جلال اباد کې سردار نصرالله خان معين السلطنه د خپلې پاچاهۍ اعلان وکړ، ليکن د مخالفينو سره مخامخ شو، چې په سر کې شهزاده امان الله خان عين الدوله ولاړ و او ملکي پوځي بيعت همدوی ته وشو. د امير حبيب الله خان له مړينې دوه ورځې وروسته يانې د ۱۹۱۹ ميلادي کال د فبرورۍ د مياشتې په درويشتمه نېټه امير امان الله خان خپله پاچاهي اعلان کړه په داسې حال کې چې سردار نصرالله خان د همدې کال د فبرورۍ په يوويشتمه نېټه خپله پاچاهي اعلان کړې وه او د فبرورۍ په اته ويشتمه سردار نصرالله خان بندي کړل شو.

امير امان الله خان هغه ځوك و چې دلومړۍ او دويمې مشروطه د غورځنګ له غړو سره يې نږدې اړيکې درلودې او ان د ځينو تاريخليکونکو په وينا په خپله هم په هغه غورځنګ کې شامل و، نو د مشروطه غوښتونکو او د هېواد د روڼ اندي طبقې او خلکو د ملي ارمانونو نه ډېر ښه خبر و، ځکه خو يې د پاچا کېدو نه نږدې يوه مياشت وروسته يانې د ۱۹۱۹م کال د اپرېل د مياشتې په ۱۳ نېټه د خپل ګران هېواد بشپړه خپلواکي اعلان کړه او ډېر ژر د نويو اصطلاحاتو په فکر کې شو.

د افغانستان د تاريخ دغه مهمې او د پام وړ پېښې ډېرې ژر ژر او يوه د بلې پسې وشولې، ځکه خو ځينو تاريخليکونکو په امان الله خان

باندې دغه نیوکه کړې ده، چې ګواکې نوموړي امیر په کارونو کې له زیات تلوار نه کار اخیستلو او د زغم اوحوصلې سره یې روغه نه وه.

انګرېزان د امیر امان الله خان له خوا د افغانستان دبشپړې سیاسي خپلواکۍ دغږ په اورېدلو د انتظار له حالت نه راووتل او د نوي ژور تشویش او اندېښنو سره مخامخ شول، هغوی دا تصور نه کاوه چې د افغانستان زلمی واکمن به په دومره لنډه موده کې دومره سترګام پورته کړي او ان چې دبرتانوي پوځونو د ګوزارونو او یوې نوي جګړې دپیل کېدو پروا به هم ونه کړي.

امیر امان الله خان په دې حقیقت پوهېده چې د افغانستان خلك له دې نه ستړي شوي او کرکه ورته پیداشوې چې د افغان واکمنو په درباورنو او کارونو باندې دپېرنګیانو واك او تسلط د تل لپاره ټینګ پاتې وي او د برتانیې له خوا دې پښتنو پاچاهانو ته مواجب او د رشوت پیسې ورکړل شي او د هیواد بهرنی سیاست دې د انګرېزانو د خوښې او رضا تابع اوسي.

له همدې کبله امیر امان الله خان وپتېیله چې پخوانی حالت پای ته ورسوي او افغانستان دیوه خپلواك او سرلوړي هېواد په توګه نړۍ ته ور وپېژني او د ازادو ملکونو په کتار کې یې ودروي، لیکن برتانیې د امیرامان الله خان او افغان ولس د ملي ارمان د پوره کېدو په ځواب کې د افغانستان پر ضد د درېیمې جګړې اعلان وکړ او پښتانه هم یو ځل بیا د ننګ او غېرت ډګر ته په ورتلو مجبور شول.

داسې ښکارېده لکه د پښتنو چې ازلي برخه وي چې د هېواد ازادۍ او خپلواکۍ جګړې باید د تل لپاره د پښتنو له سیموپیل او پښتانه باید د هر بهرنۍ یرغل پر وړاندې لومړني مدافعین اوسي، ځکه چې د افغان - انګلیس درېیمه جګړه هم دپښتنو له سیمو یانې کلیو او بانډو څخه شروع شوه او د جګړې ټول تاوده محاذونه د پښتنو

په سیمو کې چې د محاذونو یادونه په لاندې ډول کېږي. ددې یادونې نه مقصد دادی چې وښیو دخپلواکۍ د جګړې درونده پېټی یوازې دپښتنو په اوږدو پروت و.

دخیبر محاذ - د چترال محاذ - د پکتیا محاذ - د وزیرستان محاذ - د پیواړ محاذ - د تل محاذ او داسې نور. د افغان - انګلیس په درېیم جنګ کې هم د تېرو دوو جګړو په څېر د بدخشان او پنجشېر - هزاره جات - تخار او پروان خلك د جګړې له تنور څخه لرې او ګوښه پاتې شوي وو او د پېرنګي توپونو او الوتکو ګولۍ وربانديې نه اورېدلې، بلکې یوازې او یوازې د پښتنو په کور او کلي - جومات او حجرې - هدیرې او دېرې باندې د کفر ګوزارونه کېدل.

د امیرامان الله خان د جنرالانو او قوماندانانو د سیمو په پښتنو زلمیانو او جنګیالیو تکیه درلودله او د پېرنګیانو مقابله هم یوازې د پښتنو سره وه. د هغو پښتنو سره چې په تېرو دوو جګړو کې یې له هغو ماتې خوړلې وه اود زرګونو په شمار انګرېزان د پښتون قوم د تورو خوراك شوي او په سوونو پښتانه د پېرنګیانو په ګولیو شهیدان او ټپیان شوي وو.

د نوي پاچا زلمي امان الله خان هیلې هم د همدغو پښتنو په توري او مېړانې پورې تړلې وې او د خپلواکۍ د ګټلو په ستر جهاد کې یې په توریالیو پښتنو دغه غږ کړی و چې په پښتني تکل د قربانۍ او سرښندنې ډګر ته راووځي.

جرنیل یارمحمد خان وزیر چې د خپلواکۍ له نومیالیو او زوړورو قوماندانانو له جملې څخه و، په همدې او په په خپلو یادښتونو کې وایي:

"اعلیحضرت امان الله خان په هغو فرمانونو کې چې ما د وزیرستان او ژوب د قومونو او قبیلو مشرانو، خانانو ، ملایانو او ملکانو ته ورسول لیکلي وو.

ما د افغانستان ددیني علماوو مشایخو او روحانیونو څخه د انګرېز په مقابل کې د افغانستان د خپلواکۍ او جهاد فتوا اخیستې ده، هلته ستاسو غیرتي قومونو د مشرانو نه زما دا هیله او امید دی چې خپل قوم او قبیله په ځان او مال باندې د جهاد لپاره وهڅوئ.
انشاء الله وتعالی چې د جهاد له مورچل نه ازادي نږدې ده" (۱۸۸)

د پښتون پاچا په هغو فرمانونو د پښتنو میړني قومونه او قبیلې، زلمي او بوډاګان او ان چې پښتنې میندې او خویندې د جرګو او مشورو نه وروسته د جهاد په مورچلو کې کېناستل او د افغانستان د خپلواکۍ په لاره کې یې خپل سرونه داو کړل.

دخپلواکۍ جګړه پیل شوه او تر هغه وخته پورې توده پاتې شوه چې د حالاتو د نازکۍ له امله دواړو خواوو یوې متارکې ته غاړه کېښوده لیکن په سوونو خپلواکۍ مینو جذباتي احساساتي زلمیانو د متارکې منلو ته غاړه کې نه ښوده او د پیرنګیانو خلاف یې خپلې غزا ته دوام ورکړ او ددښمن په وژلو یې خپل ټټرونه یخ کړل.

مورخ غبار چې په خپل پښلیک کې یې د پښتنو په وبار او کارنامو سترګې پټې کړي او یوازې د سلو نه یې په یوه بسنه کړې ده په دې اړه لیکلي دي:

" بعد از اعلان متارکه دولت البته عساکر افغانی در هیچ محاذ بـه جنگ نپرداختند ولی مردم مجاهد در خیبر و سرحدات پکتیا جنگ های ملی خود را به ضد انگلیس دوام دادند، درماه جولایی فشار مردم در سرحدات پکتیا انقدر شدید شد که دولت انگلیس مجبور گردید ۱٦ کندک عسکر

در تل متمرکز سازد. معهذا انگلیس تا زمان عقد قرارداد مصالحه به افغانستان قادر نگردیدند که قلعه های نظامی از دست رفته خود را از تصرف مردمان سرحد بیرون کشند"(۱۸۹)

. غبار چې په خپلو لیکنو کې دپښتنو له نوم سره حساسیت ښکاره کړی دی، دلته هم دپښتون د کلمې له استعمال نه ډډه کوي او هغوی د مردمان سرحدات په نوم یادوي، د همدې سیاست له مخې ده د پښتنو ویاړونه د نورو غیرپښتني قومونو سره شریك کړي دي.

غبار په خپل لیکلي پنډ تاریخ کې له دې نه هم ډډه کړې ده، چې د ایران پاچا شاه حسین صفوي خپله لور پښتون شاه اشرف هوتك ته په نکاح ورکړې او ایرانۍ شهزادګۍ دیو پښتون د کور مېرمن شوې ده، بلکي نوموړی مورخ تل دغه هڅه کړې ده، چې پښتنو کې خالیګاوې را پیدا کړي او خپلې نیوکې ورباندې وکړي، چې فرهنګ هم په دې کار کې د غبار پېښې (تقلید) کړی دی او دا عین هغه طریقه ده چې ایراني مورخانو او مولفانو وملافیض محمد کاتب هزاره ورنه کار اخیستی دی. په هرحال د افغان انګلیس په درېیمه جګړه کې چې افغانانو هغه د خپلواکۍ د جګړې په نوم یاد کړی دی، برتانیه مجبوره شوه چې د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ په تړون او د افغان ولس دسیاسي ازادۍ په تاریخي سند باندې لاسلیك وکړي او د افغانانو لرغونی ټاټوبی دیو خپلواك ازاد هېواد په توګه په رسمیت وپېژني او خپل سیاسي استازی یاسفیر د کابل دربار ته راولېږي.

درېیمه جګړه چې د خپلواکۍ جګړه وه یو ځل بیا د پښتنو په نوم تاریخونو قید اوثبت کړه او امیر امان الله خان نه یوازې د افغانستان دیو اتل زوی په حیث وپېژندل شو، بلکې په ټول ختیځ او ان چې په عربي او غربي نړۍ کې د نوموړي پاچا شهرت او محبوبیت دومره

زيات شو چې د بهرنيو هېوادونو او دولتونو عسکري او ملکي خلکو به ورته د احترام او درناوي سر ښکته کاوه او د امان الله شاه زنده باد چيغې به يې وهلې او د هند مسلمانانو خو ورته د زيات درښښت او قدرداني له کبله د اسلام د پاچا لقب ورکړ.

د امير امان الله خان غازي د وخت افغانستان د امير عبدالرحمن خان، امير حبيب الله خان د افغانستان سره دسياسي ارزښت او اهميت له پلوه يو ښنستيز او ځرګند توپير پيدا کړی و، نړۍ اوس افغانستان يو خپلواك او دسياسي ازادۍ درلودونکي هېواد په توګه پېژانده نه د برتانيې د سياسي نفوذ او حمايت لاندې افغانستان په بڼه.

امير امان الله خان غازي د خپلواکۍ د جګړې د پيل لپاره د افغان ولس ددينې عالمانو، مشايخو او روحانيونو فتوا هم اخيستې وه او د پښتنو قومونو او قبيلو د مشرانو خانانو او ملکانو په نوم يې فرمانونه هم لېږلي وو. پيرنګيانو د افغانستان د پاچا زلمی امير امان الله خان او افغان ولس د هغه عزم او تکل ماتولو لپاره چې د هېواد د ازادۍ اوخپلواکۍ لپاره يې کړی و، توپونه الوتکې، بمونه او ګولۍ وکارولې او خپل ډېر زيده او نوميالي پوځي جنرالان يې د افغانانود مقابلې لپاره راويستلي وو خو پښتانه په هغو تولو باندې بريالي او برلاسي شول او د نړۍ د يو ځواکمن ښکيلاکي دولت څخه يې دسرونو په قيمت خپله خپلواکي ترلاسه کړه. او د تاريخ دغه ډېر مهم جريان د نړالو له نظره پټ پاتې نه شو، ځکه خو د نړۍ يو زيات شمېر حکومتونو او دولتونه ديو ازاد او خپلواك هېواد په توګه په رسميت وپېژاند او سياسي ـ اقتصادي او تخنيکي اړيکي يې ورسره ټينګې کړې.

اميرامان الله خان هم د هېواد د نورو مهمو مسايلو خواته پام واړوو او په دې اړوند يې پراخه ګامونه اوچت کړل، چې په ځينو باندې لنډې خبرې کوو.

# امیر امان الله خان د یوملي شخصیت په جامه کې

ددې کتاب په دویم څپرکی کې د تاریخ په رڼا کې موږ دغه مطلب په لنډیز سره وڅېړلو چې کـه څه هم امیر عبدالرحمن خان د پېرنګیانو سره د ډیورنډ دکرښې په ملي کچ نـامنلي تړون باندې په لاسلیك کولو هغه ته رسمیت ورکړ او پښتنو قبایلو او قبیلو ګڼ شمېر سیمې یې د برتانوي هند حکومت ته ور پرېښودې، لیکن پښتنو قبایلو د هغه تړون دلاسلیك کېدلو سره سره د انګرېزي ښکیلاك پـر پـوځي چونیـو، تاسیساتو او وسله والو ټولګیو باندې خپلو بریدونو او شبخونونو تـه د پخوا په شان دوام ورکړ او هره ورځ یې له هغوی څخه مـرګ ژوبلـه وکړه او د جګړو دغه لړۍ تر ډېره وخته پورې روانه پاتې شوه.

همغـه ډول پښتنـو د پخـوا پـه شـان د امـیر امـان الله خـان غـازي او پېرنګیانو ترمنځ شوې متارکې ته هېڅ ارزښت ور نـه کړ او پـه ختیـځ او جنوبي افغانستان کـې مېشـتو پښتنو د پخوا پـه څېر خپلو بریدونـو او یرغلونو ته دوام ورکړ. پښتنو مشرانو که څه هم د علیحضـرت امـان الله خان فرمانونه منلي او په هغوی عملي کړي و. لیکن په دې خبره بـاندې ډېر خفه او خواشیني وو چې زلمی پاچا ولې په داسې یو نازك وخت کې چې پېرنګیان دماتې سره مخامخ او جګړه یېز مورال یې له لاسه ورکـړی و په اوربند او متارکه باندې موافقت ښکاره کړ.

د خپلواکۍ ددې تاریخ جګړې یو بریالی قومـاندان جنرال یـارمحمد خان وزیر په خپلو یادښتونو کې دې موضوع ته داسې اشاره کړې ده:

"دپېرنګیانو سره دمتارکې په اړوند هر عـامل او سبب چې و، ولـې اعلیحضرت امان الله خان په داسې حالت کې د پېرنګیـانو سره متارکـه او اوربند اعـلان کـړ، چې پـه هغـو شېبو کـې موږ د وزیرستـان، کنـدر،

ژوب او ګوملی مجاهدینو د پرنګیانو ټولې پوځې چوڼۍ او مرکزونه نیولي او دهغوی نیمايي پوځ مو ور تباه کړی و.

په هغو ګښتو کې مجاهد افغانان د فرنګیانو پر وړاندې د جنګ په ډګر کې برلاسي او غالب وو او اعلیحضرت امان الله خان د مغلوب دښمن دمتارکې او اوربند پېشنهاد قبول کړ، ولې په هر صورت د ۱۲۹۸م کال د خپلواکۍ په جهاد کې زموږ سیمې بیا د متارکې په پرېکړو کې د افغان اوپېرنګي په پرېکړو کې د افغان او پرنګي هېئاتونو له خوا په پېرنګیانو پورې وتړل شوې او زموږ د مجاهدینو له نظره دا درېیم ناولی تړون و."(۱۹۰)

د پورتنیو پېښو په جریان کې زلمی پاچا امیر امان الله خان ورو ورو دپښتون قام په پېژندګلوۍ کې تجربه او پوهه پیدا کړه او دې ته وهڅول شو، چې د واکمنۍ په چلولو کې ددغه قام ځانګړتیاوې او ملي خصوصیت په پام کې وساتي.

پاچا امان الله خان په خپله ددې تر تاریخ حقیقت عیني شاهد پاتې شو چې پښتانه د هېواد په درېیو سترو جګړو کې تر ټولو زیات برخمن او اغېزمن څواک و او دهېواد په تاریخ جوړونکو کې پېښو کې یې ستر رول لوبولی دی.

د پېرنګیانو سره درې واړه جګړې دپښتنو په سیمو کې او پښتنو سره شوي دي او د افغانستان مرکزي او شمالي برخې ددغو جګړو له اور نه بچ او لرې پاتې شوي دي.

پښتنو ملي او قومي مشرانو د هېواد دسیاسي برخلیك سره خپل برخلیك هم غوټه کړې او د افغان ولس د ننګ او غیرت شمله یې هسکه ساتلې ده، پښتنو مېرمنو د خپلو مېړونو، پلرونو او زامنو سره یو ځای د جګړو ستونزې ګاللي او د توپونو ګړزهار او ماشین ګڼو د کړسهار څه پروا یې نه ده کړې. چې زلمی امیر په دې ټولو باندې د ویاړ

احساس کاوه، ځکه خو ې په پغمان کې د خپلواکۍ د ګټلو په لومړني جشن کې د بهرنیو کور د ډیپلوماتیکو او کورنیو پرګنو پر وړاندې پرته له کومې سیاسي غوړه مالۍ څخه په لوړ اواز اعلان وکړ، چې موږ خپله خپلواکي د توري په زور لاسته راوړې او هغه هم د نړۍ له یوه ستر طاقت نه.

همدغه وجه وه چې اعلیحضرت امان الله خان د افغاني ناسیونالیزم یو سمبول وپېژندل شو او خپلې واکمنۍ ته یې خالصه افغاني بڼه ورکړه، د خپل ولس سره په سلا مشورو کښناستل او ملي ګټې په له شخصي او خانداني ګټو نه پورته وګڼلې او ډېر ژر د خپل وخت د لومړنۍ لويې جرګې د راغوښتلو په فکر کې شو او ددې لويې جرګې لپاره یې ډېرې عمده او غټې د اهمیت وړ موضوعګانې په پام کې ونیولې، چې په اوسني بحث کې به ورباندې خبرې وشي.

دهغوی په فکر او ذهن کې د پښتو ژبې او افغاني فرهنګ د پیاوړتیا او پرمختیا مسئله د هغو مهمو موضوعګانو په جمله کې وه چې تېرو پښتنو واکمنو ورته ځانګړې پاملرنه نه کړې او په سر سري نظر ورته کتل شوي وو، په تېره بیا ددوی د پلار امیر حبیب الله خان شهید د واکمنۍ په دوره کې چې له یوې خوا پښتانه کوم چې دپوهې او سالم تفکر خاوندان وو د مشروطه غوښتنې په سیاسي لوبه کې بوخت پاتې شول او د ملي ژبې پښتو دحق غوښتنه یې ونه کړه او له بلې خوا پاچاهم تر زیاته حده پورې په داسې کارونو کې بوخت پاتې شو، چې د هغه خپله خوښه په کې زیاته دخیله وه.

لیکن اعلیحضرت امان الله خان غازي دخپل پلار په پرتله پښتنو ته زیات ورنږدې شو او د هېواد د خپلواکۍ دلاسته راوړلو لپاره یې په ځانګړي ډول په پښتنو ډډه ولګوله او مهم تاریخي کار ته یې لاس اچولې وه، چې پلار او نیکه یې د هغه جرئت نه و کړی او هغه د چا

خبره چې ددې ډول کار تصور يې هم په ذهن کې نه و را پيدا شوی او ده کار د افغانستان لپاره د استقلال اخيستل و. د هند برتانوي حکومت او د انګلستان تاجداري هېڅکله تخمين نه شو کولی، چې امير حبيب الله خان شهيد خاورو ته سپارل ددوی د هيلو او ارمانونو دخاورې کېدلو مانا ولري او د دوی لپاره دسياسي او ستراتېژيك موقعيت درلودونکی افغانستان به د دوی له لاسه ووځي.

دبرتانوي هند حکومت او مشرانو يې د افغانستان د ځلمي واکمن له خوا پورته شوې غږ، دځلمي عمر د بې تجربه ګۍ پايله ګڼله او باور يې نه شو کولی، چې اميرامان الله خان به په هغه لاره کې بري ته ورسېږي، خوبرتانيې د افغان پاچا هغه بري نه يوازې په سترګو وکوت، بلکې د هغه په کاغذ او تاريخي سند باندې يې لاسليك هم وکړ او بيا يې لوی سفير (همرېز) د پغمان په جشن کې د ځلمي امير له خولې هغه سخته خبره هم واورېدله ويې ويل، افغانانو خپله خپلواکي د توري په زور د برتانيې نه اخيستې وه.

د پښتنو د بېلابېلو قبيلو په نوم د اميرامان الله خان لېږلي فرمانونه چې مخکې ورته اشاره وشوه، پېرنګيانو د خپلو جاسوسانو په وسيله لاسته راوړي او د مسلې له حقيقت څخه خبر شوي وو، ليکن هغوی په خپل پوځي زور او طاقت ډاډمن وو او په دې برخه کې يې دپښتنو قومونه خپل سيالان نه ګڼل کېږي، ځکه خو يې د پښتنو سره سم په جګړه کې دخپلې ماتې خوب هم نه ليدلو.

تاريخ تکرارشو او انګرېزي لښکرې د جګړې په ډګر کې د جنګيالیو پښتنو پر وړاندې د درېيم ځل لپاره دماتې سره مخامخ شوي او په پای کې هماغه څه پېښ شول چې هغوی وړباندې باور نه شو کولی او افغانانو خپله خپلواکي لاسته راوړله.

په دې ډول اعليحضرت امان الله خان د افغانستان دتاريخ تـوى څپرکی په خپل قلم وليکلو او ازاد افغانستان د نړۍ د سياسي نقشې پر مخ را ښکاره شو، په داسې حال کې چې دڅلورو سوو مليونو خلکو درلودونکي هندوستان د يوې نيمې پېړۍ راهيسې دخپلواکۍ او سياسي ازادۍ له نعمت نه بې برخې پاتې شوي او د برتانيې ديوې مستعمرې حيثيت درلود. همدغه وجه وه چې کله اعليحضرت امان الله خان د خپلواك افغانستان دمشر په توګه د هند له لارې په سفر ووت نو د هند ولس ورته بې ساري هرکلی وويلو او نوموړي ته يې د ازادۍ د يوه اتل لقب ورکړ.

اوس امير امان الله خان په خپله د خپلواکۍ او ازادۍ يو ژوندی سمبول ګرځېدلی و او په دې برياوو کې يې د پښتنو د سربښندنې درناوی کاوه او د يو ملي شخصيت په توګه يې ديوې تاريخي لويې جرګې د راغوښتلو پرېکړه د عمل په ډګر کې پلي کړه.

د ۱۹۲۳ميلادي کال د اپرېل دمياشتې په ۱۹ نېټه (د ۱۳۰۱ کال د وري دمياشتې شلمه نېټه) لومړنۍ لويه جرګه دختيځ افغانستان په مرکز جلال اباد ښار کې جوړه او د زلمي پاچا اعليحضرت امان الله خان په وينا پرانيستل شوه او په همدې لويه جرګه کې د خپلواك افغانستان لومړی اساسي قانون د "نظامنامه اساسی دولت عليه افغانستان" د جرګې د استازو له خوا منظور او تصويب شو.

پيرنګيانو په ډېر خير سره د افغانستان د کورنيو حالاتو او د زلمي د ازادۍ په نيشه مست پاچا اميرامان الله خان مخ پر وړاندې پراخو ګامونو ته کتل او د افغانانو په هېواد کې د نوي سياسي بهير څارنه يې کوله و دراتلونکي لپاره يې په خپلو پلانونو باندې غور او فکر کاوه.

هغه پلانونو چې د افغانستان د ترقي غوښتونکي پاچا او افغان ولس څخه يې د غچ اخيستنې بنه درلودله او دغه موخه په کې پرته وه، چې پښتانه او د پښتنو هېواد نه يوازې له دغه پاچا څخه بې برخې کړي، بلکې دهغه تخت يو پېژندل شوي بدنامه غل ته ورکړي چې په ليك لوست هېڅ نه پوهېده او هم په توكمي لحاظ يې ديوه غير پښتون قام پورې تړاو درلود او څواني يې ټوله په لاره وهلو تېره شوې وه. د انګرېزي ښکيلاك په خوله باندې داعليحضرت امان الله خان سوك ددې سبب شو. چې د افغانستان لپاره نوی ستراتېژي او سياسي نه پوځي كړنلاره جوړه كړه چې او پېرنګيان خپل مقصد ته د رسېدو لپاره له همدې كړنلارې او ستراتېژۍ څخه ګټه واخلي.

د هېواد د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته پاچا امان الله خان غازي هڅه وكړه چې په خپلو كړنو كې ملي اصولو او ګټو ته زياته پاملرنه وكړي او په حكومت كې د پېرنګيانو د استعمار پاتې شونې اغېزې هم بېخي له منځه يوسي او خپل ولس ته دغه ډاډ وركړي، چې افغانستان په رښتينې مانا يو ازاد او خپلواك هېواد او مستقل دولت دی او د ټولوپوځي او سياسي چارو واك او اختيار د افغانانو په خپل لاس كې دی.

هغه تاريخي وينا چې اعليحضرت امان الله خان غازي د جلال اباد په لويه جرګه كې وكړه د افغانستان په تاريخ كې بې سارې وه او په همدې وينا كې يې د قانون د حكومت او د ملي ژبې پښتو د تعميم او رسمي كېدلو خبره هم ياده كړه، چې خلكو وربانديې لاسونه زيات وپړكول او له چكچكو سره د خلكو اوازونه هم پورته شول چې دا په كې ښه اورېدل كېدل، عمر دې ډېر شه پاچا غازي امان الله ...

د برتانيې دولت په خپل لاسليك دغه سند د افغانستان لوري ته وركړی و، چې افغانستان يو ازاد او خپلواك هېواد دی او برتانيه به

ددغه خپلواکۍ پوره درناوی کوي او خپلې اړیکې به د مساوي او برابر حقوقو په برنسیب د افغانستان سره ټینګوي.

د افغانستان د خپلواکۍ په اړوند لاسلیك شوی تړون او تاریخي سند لومړنۍ ماده په دې ډول ده:

" ماده اول:

دولیتن علي برتانیه و افغانستان بالمقابل تمامی حقوق استقلال داخلی وخارجی یکدیگر شانرا تصدیق نموده محترم میشمارند"

دغه تړون ټولې ۱۴ مادې لري چې د افغانستان له خوا د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي او دبرطانیې له طرف نه سرهنری دابس لاسلیك کړی دی. په حقیقت کې همدې تاریخي ویاړلي سند اعلیحضرت امان الله خان غازي د یو ملي شخصیت په جامه کې راڅرګند کړ او ددوی لپاره د نورو ملي کارونو د ترسره کولو لاره اواره شوه.

اعلحضرت امان الله خان اوس د افغانانو له خوا د غازي په نوم هم یادېده او ولس دوی ته په خپله خوښه دغه ویاړ وربښلی و. هغه اوس د خپلې سرلوړي ولس سره په یوه دسترخوان ډوډۍ خوړله او افغانۍ پټکی پر سر به هم زیات وخت راښکاره کېدو او پښتنې جامه به یې اغوستلې وه، چې ډېر عکسونه یې په همدې جامه کې شته دي.

تکنوکرات صدیق فرهنګ د ۱۳۰۲ کال لویې جرګې جوړېدل د امیر امان الله خان له خوا یو نوی ابتکار بولي، خو له بلې خوا په دې لویه جرګه کې دپاچا له خوا د ملي ژبې پښتو په اړه وینا ته په ښه نظر نه ګوري او تعصب ورسره ښکاره کوي چې وروسته به موږ په دې اړه خبرې وکړو.

د پښتنو د ویاړلو کارنامو منکر م. غبار خو په خپل زرورقیز پېښلیك ( افغانستان درمسیر تاریخ) کې هډو په جلال اباد کې د غازي امان الله خان له خوا د راغوښتل شوي تاریخي لویې جرګې او د هغې د ارزښتناکو لاسته راوړنو ذکر هم نه دی کړی او سترګې یې پرې پټې کړي دي، په داسې حال کې چې د افغان دښمن ایراني متعصبو مورخانو لکه مهدي فرخ او محمود محمود له کتابونو یې په خپل اثر کې زیاته ګټه اخیستې ده او د استاد پوهاند عبدالحی حبیبي غوندې یې دغه لنډه یادونه هم ضروري نه ده ګڼلې چې مهدي فرخ د تاریخ لیکنې له پوهې او د تاریخ لیکنې له اصولو سره هېڅ ډول اشنایي نه لري.

مورخ غبار باید دې تاریخي پېښې ته زیات ارزښت ورکړی وای، ځکه چې د خپلواکۍ ګټلو نه وروسته د اعلیحضرت امان الله خان غازي له خوا رابلل شوي لومړنۍ لویه جرګه وه او د خپلواك افغانستان لومړی اساسي اصول چې په حقیقت کې د اساسي قانون و، په همدې لویه جرګه کې تصویب او منظور شول، چې صدیق فرهنګ ورته په خپل اثر (افغانستان درپنج قرن اخیر) کې هم ډېره لنډه او پرته له زیات او ضروري تفصیل څخه اشاره کړې ده.

موږ ووېل چې اعلیضرت امان الله خان په یو بشپړ ملي شخصیت باندې د بدلېدو هیله درلوده او وروستۍ پړاو ته یې د خان رسولو هڅې جاري ساتلې وې، هغه غوښتل چې د خپل ولس په منځ کې ځای ولري. د خلکو سره ناسته پاسته ولري او د خلکو د حال احوال پوښتنه وکړي، د خلکو مشورې واخلي او یا خلکو ته لارښوونې وکړي.

پښتون پاچا امیر امان الله خان ته یو ډېر ورنږدې دوست دده د ملي شخصیت په اړه داسې لیکلي دي:

" امیر بعضی وخت به تبدیل قیافه به بازار می براید با مردم شانه به شانه میخورد وخیلی زحمت دیده خود را به دوکان نانوا یا قصاب میرساند یک نان یا یک تکه گوشت گرفته به سرای شاهی عودت می کند و بدین واسطه خود به نفس نفیس از نرخ این چیزها علم اوری میکند.

دربین روسای قبایل ومشایر( که میگویند همیشه امیر بکابل سکونت می ورزد وهیچگاه از احوال ما نمی پرسد و ازین زهگذر شکایت دارند) بی خبر میرود با ایشان برخلاف امیر حرف ها میزند و میگوید بیائید همه ما یکجا به ارگ رفته شکایت کنیم.

غرض همان کوهستانیها حنشن را باخود گرفته بسرای شاهی خود ها ارود وچون روسا احترام فوق العاده محافظین وياوران را می بیند مسئله را فهمیده محجوب میگردند و درهمان روز مهمان امیرمی شوند."(۱۹۱)

ما لړ مخکې ديو بهرني تاريخليکونکي د ليکنې لـه مخې دغه يادونه وکړه چې زلمی پاچا اعليحضرت امان الله خان به زيات وخت له خپلو ملي افغاني جامو څخه استفاده کوله او پگړی به يې هم تړله دادي دپاچا د ژوندانه د کړو وړو دغه نړدې څارونکي په ليکنه کې ددې حقيقت روښانه ثبوت کتلی شو. دی وايي:

" به منبر با دستار ملی وشمشیر بالا می شود ومیگوید امیر ها باید خودشان خطبه بخوانند تا دارای فرمان وقوت وقطیعت شود" له دې ليك نه دا خبره هم پوره جوتېږي چې اعليحضرت امان الله خان غازي د اسلام په سپېڅلي دين کلکه عقيده درلوده چې ځينې بېلگې يې موږ د همدې تاريخي ليك په کرښو کې ليدلی شو دساري په توگه:

" بهرگونه تجددات عاشق است و درسینه اش یک دل صاف پر از مسلمانی درجنبش هست در خطبه های خود همیشه حضاررا به اتحاد توصیه

میکند اولا با هم متحد شوید، بعد از انکه ده ها و شهر ها با هـــم اتحـــاد نمودند نوبت به اتحاد بزرگ میرسد ومیگوید در استقبال از ان به شما بحث خواهم نمود. حکمداران اسلام را به ترتیب دعا میکند در اخر باین تضرع از منبر فرود می اید" خداوند !! باین عاجز مجاهد فی سبیل الله توفیـــق رفیـــق گردان" طرفداران است که خطبه بزبان اهالی قرائت شود، بعضی اوقـــات از ملاها می پرسد که خطبه برای کیست اگر برای اهالی باشد چرا بـــه زبـــان ایشان خطبه نمی خوانید؟

امیر میگوید که بدون استقلال زندگانی یک قوم ممکن نیست بنا بر ان به مجرد برامدن به تخت باین امر تثبیت ورزیده وملتش این میوه شیرین حیات بخشاراکه از نان و اب هم خوش گوارتر است تحســـــین از دســـت ایـــن جوانمرد چشیده است."(۱۹۲)

زه داسې انګېرم چې امیر امان الله خان د نړۍ یـا خـو د اسـلامي افغانستان لومړنی مسلمان پاچـا دی چې منبر تـه پورتـه کېږي او خپـل دیندار ولس تـه خطبـه لولي او ددې طرفدار هم دی چې خطبـه بـاید د ولس په خپله ژبه وي، دی لومړنی پښتون واکمن دی چې ځان تـه عـاجز مجـاهد فـی سبیل الله وایـي، خلـك یووالـي او اتفـاق تـه رابولـي او خپلواکي د یو ولس د ژوند وسیله بولي.

تاریخ موږ ته په بل کوم اسلامي هېواد او په تېره ګاونډیو هېوادونو لکه ایران کې دغسې یو پاچا نه شي را په ګوته کولی لیکن د فرهنګي ښکیلاك یو اجنټ ایرانی مورخ مهدی فرخ ددې سپېڅلي مسلمان افغان واکمن په هکله داسې ناسم قضاوت کوي او په خپله کرغېړنه هنداره کې د مجاهد پاچا اعلیحضرت امان الله خان څېره داسې ویني:

" امان الله خان در امور مذهبی به کلی لاقید بود و میتوان او را لا مذهب صرف دانست، زیرا مکرر شنیده شد که به خلفای ثلاثه ( د ایراني مـــورخ مقصد حضرت عثمان حضرت عمر او ابوبکر دي) به طور شوخی فحاشـــی میکرد."(۱۹۳)

ایرانیان چې شعیه مذهبه او یوازې په څلورم خلیفه حضرت علی کرم الله وجهه باندې عقیده لري او دی لومړنی خلیفه بولي. دریېو نورو خلیفه ګانو ته چې هغه حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت ابوبکر دي هیڅ ارزښت نه ورکوي او په ښه سترګه هم ورته نه ګوري ځکه خو یې په خپلو دروغو کې د خپل جهالت ثبوت وړاندې کړی او د امیر امان الله خان غازي پورې یې د زړه نه راویستلې خبرې جوړې کړي دي، چې دا په عین حال کې د افغانانو سپکاوی هم دی او د ایران فرهنګي ښکیلاك یو بل ثبوت هم دی.

مورږ د افغان واکمن اعلیحضرت امان الله خان دملي شخصیت په اړه دې حقیقت ته هم اشاره وکړه چې هغوی هڅه کوله خپلو خلکو ته ځان ورنږدې کړي او د هغې سره په یو دسترخوان کیني او ډوډۍ وخوري. دهغوی له حال نه ځان خبر کړي او د هغوی سره د زړه مینه ښکاره کړي. ددې مطلب د روښانه کولو لپاره د نوموړي پاچا د کړو وړو او اخلاقو د نږدې ځارونکي دلیك یو څو کرښې را واخلو:

"د لش با دل ملت یکی است، درباب تاسیس تیلفون کابل و مزارشـــریف گفته اند که" من این را برای این تاسیس نمودم که ملتم دردها ومشـــکلات خود را سر راست به من بگوید."

بر منبر وکرسی چنان به موفقیت خطبه میخواند که جمهور را بگریه مـــی ارد... تینس بازی میکند، مارش ترتیب میدهد، پیـــانو مـــی نـــوازد وقلبـــه میکند."(۱۹۴)

د پورتني ليك په اړوند د ح. رفيع چې د (حاكميت قانون در افغانستان) د كتاب سريزه، تصحيح او تعليق ددوى له خوا ليكل شوى دى ليكي چې:

"حکمدار جوان: این نبشته که درحقیقت خاکه صورت وسیرت اعلیحضرت امان الله خان است بقلم (ا-ص) بوده و قبل ازهمه درشماره ۲۹ اسد سال ۱۳۰۲ اما افغان تحت عنوان " مکتوب ازکابل" طبع گردیده وبعد درکتاب " منتخبات ادبی برای صنف اول مکاتب رشیدیه طبع سلل ۱۳۰۷ اقتباس گردیده و دران اصلاحی بعمل امده است، متن که در اینجا تقدیم میگردد مقتبس از کتاب منتخبات ادبیست وسیرت وصورت ان شاه جوان را موشگافانه معرفی میدارد و ازین نگارش زیبا پیداست که نویسنده با اعلیحضرت موصوف دوست ورفیق بوده ووی را دقیق و عمیق می شناخته است."(۱۹۵)

# د امان الله خان د لومړنۍ لویې جرګې او لومړني اساسي قانون په باره کې تېروتنې

په تېرو پاڼو کې مو دې مطلب ته یوه لنډه اشاره وکړه چې امیر امان الله خان لومړنۍ لویه جرګه پر ۱۳۰۱ل کال په جلال اباد کې راوغوښتله. چې ددې لویې جرګې لاسته راوړنې د افغان ولس لپاره زیاتې مهمې او د ارزښت وړ وې، ځکه چې یو خو په کې دخپلواک افغانستان لپاره نوی اساسي قانون تصویب او منظور شو او دویمه دا چې په هېواد کې : ملي ژبې درسمي پښتو دتعمیم لپاره د پاچا وینا چې پښتني احساسات هم ورسره ملګري وو د جرګې ګډون کوونکي او عام خلك ډېر خوشحاله کړل.

د افغانستان تر خپلواکۍ ګټلو وروسته د نوي اساسي قانون منځته راتلل په یقین سره چې ددې هېواد په پښبلیك کې دویمه غټه پښه وه او دلومړي ځل لپاره یو پرمختګ خوښوونکی واکمن په خپله د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو غږ پورته کړی و. خو مورخ غبار لکه چې مخکې وویل شول دې تاریخي پېښو ته په خپل لیکلي تاریخ کې کوم غبرګون ( انعکاس) نه دی ښکاره کړی. بلکې یوازې یې د پغمان په هغو دوو لویو جرګو خبرې کړي دي چې ده په کې ګډون درلود او د استازي توب دنده یې سرته رسولې ده. د پغمان لویې جرګې پر ۱۹۲۴-۱۹۲۸ کلونو کې جوړې شوي دي چې غبار یې یادونه کړې ده او هم یې د جرګه های کبیر په نوم یادې کړي دي.

م. صدیق فرهنګ چې د جلال اباد د لویې جرګې په جریان کې خبرې کړي دي او په دې اړوند یې دشوروي اتحاد (د نن ورځ روسیه) دیوه تن محقق (لئون پولادا) له کتاب نه اخیستنې کړي دي لیکن په لیکنه کې یې دوه تېروتنې تر سترګو کېږي، یوه دا چې د جلال اباد د جرګې جوړېدلو نېټه یې ۱۳۰۲ کال ښودلې ده. دویمه دا چې نوی اساسي قانون یې د نظامنامه اساسی دولت علیه افغانستان په نوم یاد کړی دی.

پوهاند عبدالحی حبیبي په جلال اباد کې د اعلیحضرت امان الله خان لـه خوا د لومړنی جوړې شوې لویې جرګې سمه نېټه د ۱۳۰۱ال کال د حوت یا کب دمیاشتې ۷نېټه ښودلې ده، چې د جرګې مشرتوب هم په خپله غازي امان الله خان کوله. پوهاند حبیبي عقیده ښکاره کوي چې د جلال اباد لویې جرګې د هېواد لومړنی اساسی قانون تصویب او منظور کړ، چې ۷۳ مادې یې درلودې او لومړنی ماده یې د نظامنامه اساس دولت علیه افغانستان وه ، چې په ۷ماده کې یې جوړه شوې وه، نورې مادې یې په لاندې ډول وې:

۲. حقوق عمومیه تبعه افغانستان هفده ماده.

۳. وزرا، یازده ماده.

۴. مامورین، سه ماده

۵. مجالس مشوره و شورای دولت یازده ماده.

۶. محاکم شش ماده.

۷. دیوان عالي دو ماده.

۸. امور مالیه دو ماده.

۹. مواد متفرقه شش ماده.

په دې ډول ليدل کېږي چې دفرهنګ په تاريخ کې هم دلويې جرګې نېټه چې ۱۳۰۲ کال ښودل شوی او هم د اساسي قانون پر ځای يوازې د نظامنامه اساسی دولت افغانستان نوم ناسمې دي او ښايي دغه تېروتنه د روسي محقق پولادا وي چې فرهنګ يې له کتاب څخه اخيستنې کړې دي.

سربېره پر دغو د (افغانستان سرزمين اريانا) دکتاب ليکونکی د هېواد د لومړني اساسي قانون نېټه ۱۳۰۳ کال ښودلی دی چې دا هم يوه تېروتنه ګڼل کېږي.

# دپښتو ژبې په اړه د امیر امان الله خان

# فکر او عقیده

امیر امان الله خان د واکمن کېدلو نه وروسته د پخوا په پرتله زیات د افغاني ناسیونالیزم تر اغېزو لاندې راغی او په خپله هره وینا کې یې د افغاني هویت په درلودلو د ویاړ څرګندونه وکړه.

دهمدې احساس او جذبې له مخې یې پښتو ژبې ته خپله محبوبه ژبه وویل او ددې ملي ژبې سره یې ژوره مینه ښکاره کړه. ددې ژبې د پیاوړتیا او پرمختګ لپاره یې ځینې ګامونه پورته کړل چې په همدې بحث کې به وربانډې لنډې خبرې وشي.

زیاتو بهرنیو او کورنیو لیکونکو لیکلي دي چې د افغانستان زلمي پاچا یو بامطالعه او کلك روڼ اندی افغان واکمن و. د خپل هېواد په اړوند مسایلو کې یې له ملي احساساتو څخه کار اخیست او زیات جدي او جذباتي کېدلو چې ښایي ددغو احساساتو او جذباتو لپاره لاندې دوه یا درې دلیلونه دپام وړ وپېژندل شي:

الف : د ځوانۍ موسم

ب : په همدې موسم کې انګرېزانو ته ماتې ورکول او د هېواد د خپلواکۍ لاسته راوړل.

پ : د افغانستان د ازادولو لپاره د پښتنو قومونو او قبیلو له خوا ددوی د فرمانونو منل او درناوی ځکه چې پلار او نیکه یې ( امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان ) د پښتنو مشرانو سره دومره نږدې اړیکې نه درلودلې او په تېره بیا د ډیورند د کرښې د نه منلو غوښتنه چې د پښتنو له خوا امیر عبدالرحمن ته شوې وه، لیکن د

هغوی له خوا نه وه منل شوې او په دې باندې سرحدي پښتانه ناهيله او خفه شوي وو.

هماغه پښتانه مشران د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه کې د اميرامان الله خان د غوښتنې له مخې د هغوی سره ودرېدل او د افغان - انګليس په درېيمه جګړه کې يې دومره غټه برخه واخيستله چې د افغانستان د پېښليک ځلانده ځپرکي شول. دا هغه څه وو چې اعليحضرت امان الله خان ورباندې پوره باور نه شو کولی او د عمل نه مخکې ورباندې ناباوره و. پاچا په دې حقيقت ډېر ښه پوهېدلی و. چې پښتانه ټول د افغاني خاورې او پښتون قام د ټوکړې کېدو او تجزيې نه ناراض وو، پښتنو د ټوکړې کېدو په وجه ډېر څه له لاسه ورکړي وو.

د برتانوي هند د خاورې پورې د پښتنو خاورې په تړلو د پښتون قام افغاني هويت او د خپلواک افغانستان پورې ددوی د تاريخي پيوستون مسله ترخطر لاندې راغلې وو، د همدې حقيقت له مخې چې کله اعليحضرت امان الله خان د ډيورنډ کرښې نه اخوا پښتنو مشرانو ته د خپلواکۍ په جهاد کې د ونډې اخيستلو فرمانونه ور ولېږل. نو پښتنو د افغانستان دپاچا هغې بلنې ته هرکلی وويلو او د افغانستان د ازادۍ لپاره يې د قربانۍ ډګر ته ور ودانګل.

هغو پښتنو قومونو او قبيلو د افغانستان د خپلواکۍ لپاره دا خبره هېره کړې وه چې د ډيورنډ دکرښې په چاره هغوی د افغانستان له خاورې او ولس د پيکر نه جلا کړی شوي دي، بلکې د افغانستان پاچا ته يې د خپل پاچا په سترګو وکتل او د هغوی فرمانونه يې ومنل او عمل يې هم ورباندې وکړ، ياني د افغانانو سره اوږه په اوږه د پېرنګيانو پر خلاف وجنګېدل چې نن ې زياتې کارنامې دپښتنو هر مخالف دتاريخ په پاڼو کې لوستلی شي.

امیر امان الله خان چې د استقلال د جګړې پیل کوونکی و، ددې حقیقت عیني شاهد هم و، چې د ډیورنډ کرښه پښتنو بې اعتباره وګڼله او د افغان پاچا د جهاد غږ ته یې مثبت او ډاډمن ځواب ورکړ.

اعلیحضرت امان الله د شهزادګی په دوره کې ددې تاریخ جریان هم یو سترګو لیدلی شاهد پاتې شوی و، چې په لومړۍ او دویمه مشروطه کې پښتانه مخکښان او د نورو په پرتله زیات فعال وو او زیاتو یې په هغه لاره کې خپل سرونه له لاسه ورکړل. ښایي دا ټولې خبرې ددې سبب شوي وي چې زلمی پاچا امان الله خان پښتو ژبې ته د تېرو واکمنو په نسبت زیات پام ور وګرځوي. ددې ژبې په هکله فکر وکړي او دحق ادا کولو تکل یې وکړي.

د اعلیحضرت ددې تکل ثبوت ددوی په هغه وینا کې ولیدل شو چې دجلال اباد په لویه جرګه کې یې وکړه او ویې ویل چې په هېواد کې به د پښتو ژبې لپاره ګړندي ګامونه واخیستل شي.

امیر امان الله خان کندهار ته د سفر په دوران کې زیات وخت خپلې ویناوې په ملي ژبه پښتو وکړې چې دهغو له جملې څخه یې یوه وینا په دې ډول پیل شوې ده:

"ای زما عزیزانو!

الحمدلله تاسې مې روغ صورت ولیداست، د پاك الله څخه ستاسې دواړو دنیاوو ترقي ولوړتیا غواړم ما غوښتل چې تاسې ته په باب د راتګ خپل څه بیان وکم، له دې جهته چې تاسې تر حد ډېر یاست خداي مو لا ډېر لره که زه څهووایم د ډېرښت له سببه تاسې وزما خبرې نه سوای اورېدلای انشاء الله تعالی یوه ورځ مو رابولم اوګردو سره به مرکه کوم.

اوس محض ستاسې سره د خولې دوه خبرې کوم او د خرقې مبارك په زیارت مشرف کېږم.

اولا از خداوند سلامتی و عافیت شما را میخواهم زه غواړم چې په پښتو ژبه چې زما محبوبه ده ستاسو سره مې خبرې کړې وای مګر چې ژبه د اکثرو مامورینو پارسي ده په پارسي بیان کوم څه تول ښه په وپوېږئ" (۱۹۶)

په پورتنی وینا اعلیحضرت امان الله خان غازي دې خبرې ته اشاره کړې ده چې ژبه اکثرو مامورینو پارسي ده نو زه هم په پارسي بیان کوم تر څو تول زما په وینا ښه پوه شئ.

دمامورینو ژبه څو پارسي څکه وه چې پارسي دحکومتونو د چارچلونې یانې ماموریت کولو او تنخواه اخیستلو او نورو امتیازاتو لاسته راوړلو یوازینی ژبه پېژندل شوې وه، لیکن هغه د ولس ملي ژبه نه وه، هغه ولس چې په خپل هېواد کې ډېره کیان وو او په پښتو ژبه یې خبرې او په لویو جرګو کې پرېکړې کولې.

هغه ولس چې د هېواد د ازادی په پېښلیك کې مخکښان ګڼل شوی وو او د تاریخ په پاڼو کې یې کارنامې کښل شوي دي. هغه ولس حې امیر په خپله ورسره شریکه وینه درلودله.

ددې ازاد او څواکمن ولس ژبه په محکومیت کې ساتل شوې وه او حق یې بلې ژبې ته ورکړ شوی و او له همدي لارې نه لږه کیانو په ډېره کیانو باندې حاکمیت کاوه، لږه کیانود خپلې ژبې پارسي په برکت او د ځانګړې امتیاز له مخې زیاته زده کړه او په نتیجه کې زیاته پوهه ترلاسه کوله. په حکومت کې د دندې ترسره کولو چانس د همدې ژبې ویونکو ته ورکول کېده او دوی هم د خپل فرهنګ د ځلا لپاره کار کاوه او پښتو ژبه له پام نه غورځول شوې وه.

امیر امان الله خان دیو هوښیار پاچا په توګه او د افغان ولس د روڼ اندو او هېوادپالو د خوشحالولو او یا هم ښایي د زړه په مینه او اخلاص

په خپله وینا کې ددې ټکي یادونه وکړه، چې پښتو د هغوی محبوبه ژبه ده او د تعمیم لپاره به یې هڅې وکړي.

زه په دې خبره باندې پوره باوري یم چې اعلیحضرت امان الله خان به په دې هم ښه خبر و، چې کله په څنګه شرایطو کې او د چا له خوا هغه ژبه د حکومت د ماموریت او زده کړې او تعلیم ژبه ګرځول شوې وه او د پښتو ژبې لپاره یې د رسمي کېدو او پرمختګ لارې بندې ساتلې شوې وې، په داسې حال کې چې په نورو ټولو کارونو کې پښتانه مخکښان وو، پاچا ښایي په دې حقیقت باندې ډېر ښه پوهېده چې پښتانه څنګه او د کومو پښتنو واکمنو د غفلت او ناپوهۍ له امله د فرهنګي ښکیلاک لاندې راوستل شول او په کومو پلمو او بهانو د هېواد غوث اکثریت ژبه د اقلیت د ژبې نه شاته پاتې شوه او د کوم لامل له مخې نن پاچا اعلیحضرت امان الله خان هماغه ژبه (پښتو) خپله محبوبه ژبه بولي.

په هر حال امیر امان الله خان کندهار ته د سفر په ورځو کې د کندهار خلکو ته په ملي ژبه پښتو ویناوې وکړې او په دې لړ کې یې د ۱۳۰۴ل کال د میزان د میاشتې په ۲۱نېټه دغه لاندې وینا وکړه چې د پښتنو د خوښۍ سبب شوه.

" ای زما عزیزانو!

اول احوال دسلامتۍ ستاسې پوښتم او شکر کوم چې تاسې مې جوړ ولیداست. جوش وخروش او اظهار د دلچسپۍ مو په حضور زما په ورځ دراتك وکی پرخوشحالۍ زما مو له ځانو خپلو څخه زیاتوب وکی او په هغه ورځ مې قصد درلود چې څه خبره له تاسې سره وکم مګر ښه راغلۍ او خیر مقدمونه ډك د محبت او بې نهایت تودښت او ډېرواله او غړونه دخوشحالتیا ستاسې وماته دا درنګ فرصت رانکی چې احساسات خپل وتاسې ته ووایم ځکه چې نن مې تاسو وغوښتلی چې

تاسو سره خبرې او وينا وکم. مقصد زما له راتگ څخه وقندهار ته اول مشرف کول دځان وو په "خرقه مبارکه" او بيا ليدل او پښتنه د حالو ستاسې عزيزانو وه. چې وځان ته معلوم کم. او خپله مې وغوښتل چې د مامورينو دکار روايې تفتيش او دولت د نظاماتو صورت د اجراتو چې په تدوين کې مې دځيگر وينې خوړلې دي اطلاعات حاصل کم او دا مسئله وځان معلوم کم چې ايا څما عزيزانو څخه کم قوم او کمې طايفې زياتره په اطاعت و فرمان برداری کې د نايب الحکومه صاحب او نورو مامورينو کوشش کړی دی او زه يې له ځان څخه راضي کړی يم. او کم کسانو په مقابل کې د اوامرو د خپل محلی حکومت بې امري يا سستي کړی دی چې هغه څخه بازخواس وکړی سی!

دا گمان ونکی چې زه به ديوه مطلب دپاره قندهار ته راغلی يم چې علاوه تر دې ويلو ديوې - له دې جهته که داسې وي چې کم کار مې پتاسې اجرا کولای نو به مې خود له مرکز څخه د کابل نايب الحکومه صاحب ته امر کړی وه يا به مې بل سړی را استه ولی وو. لکه چې وزير صاحب دداخله او يو پلا دپاره د تولیدو دفوج او وروسته مې دپاره د ترقی د افغنستان او دلوړوالي او نيکنامی ستاسې غيرتمند پښتنو کوم او شپه ورځ په فکر د ابادی ستاسې او په غم کې دعالم اسلام تيروم نه غوا ړم چې په هغه کی بيا ستاسې سره خبرې وکم يايې ونه کم. بلکه په ډېر صورته قطعی او حکمی هغه امرونه چې نظامنامو کې ددولت متبوعه ستاسې واضح دي پرټول افغانستان بيله فرقه جاري کوم او زياتی پر هغه پر يوه لتاسو په هيڅ تکليف روادار نه يم.

په دې ورځو کې کار د مامورينو د تفتيش په لاسو کې زما د ملگرو دی پس له دوو يا درو ورځو چې له تفتيشه فارغه سوه بيا زه په خپله ذات په هغه کارو کې علم راوړم وپس له هغه دربار کوم او له ښوو له بدو څخه د مامورينو د دولت او له ښووالی و دخراب والي څخه د

رعیت په حضور ستاسې توضیح وکوم او بیا هغو لره مجازات یا مکافات ورکوم.

هغه عرضونه چې تعلق په ما لري او په اعلان کې مواد د هغه نشرسوي وه په واسطه د شاغاسي حضوري یې وماته راوښه یاست چې ځوابونه په قاعده سره ووایم!

ده خدایه غواړم چې د افغانستان ډېرې لوړې ترقۍ په برخه او ملت د افغانستان خصوص قومونه غیرتمند د قندهار په دین و دنیا کې سرخرویه او سربلند و نیکنام وګرځوي او تاسې ده په هغه نفعو او ابادیو او عزتو چې تر خیاله ځما لوړ وي و شپه ورځ یه په زړه کې لرم کامیاب ولري"(۱۹۷)

په ختمه پښتنو واکمنو کې امیر امان الله خان لومړنی پاچا پېژندل شوی چې د ملي ژبې پښتو په هکله یې په ازادانه ډول د خپلې عقیدې او فکر څرګندونه کړې او دغه ژبه یې خپله محبوبه ژبه ګڼلې ده. همدغه ډول زلمي امیرپه خپله وینا کې د "غیرتمندو پښتنو" جمله هم په کار راوستی چې دخپل قام په اړه د نوموړي پاچا د عقیدې او فکر انځور وړاندې کوي، چې مخکې او وروسته پښتنو واکمنو د خپلې ملي ژبې او خپل قوم په باره کې په دومره جرئت او صراحت او د سیاست له پردې نه بهر وینا نه ده کړې.

د امیرامان الله خان غازي پښتو ویناګانې د نوموړي پاچا دپښتني کرکټر او ملي شخصیت ښکارندوی هم دی اود افغان ولس سره دده د صداقت او اخلاص ښه ثبوت په لاس ورکوي.

دغازي پاچا په وینا او کړو وړو کې د افغاني ناسیونالیزم رنګ او بوی له ورایه کتل کېږي او پوره باور دی چې دغه قومي او ملي احساس په برتانوي ښکیلاك باندې د پښتنو د بریاوو زېږنده ګڼل

کېږي او د هغوی د افغاني غرور جذبه په همدي سرچینې پورې تړاو لري.

اعلیحضرت امان الله خان په خپل ویاړلي تاریخ کې هغه سوبه لاسته راوړې وه چې پلار ونیکه یې له هغسې سوبې نه بې برخې پاتې شوي وو، بنایي دا خبره دومره سمه نه اوسي چې ګینې سړی ووایي، د هغوی لپاره د وخت او زمان شرایط مساعد نه وو. امیرامان الله خان ته هماغه افغانستان او ورسره تړلي سیاسي شرایط په میراث پاتې وو، چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې وو او یوازې د اعلیحضرت امان الله خان جرات او مېړانې او په پښتنو باندې ددوی باور او اعتماد هغو ته بدلون ورکړ او یوه تاریخ سوبه یې د زلمي پاچا په برخه کړه چې هغه د افغانانو د هېواد سیاسي خپلواکي لاسته راوړل وو.

همدې ستري بریا او تاریخي سوبې امیر امان الله خان ته یو نوی پیاوړی ملي احساس چې همغه ناسیونالیستي احساس دې ور وباښه او دغه پاچا یې په یو صادق او رښتیاني ملي شخصیت بدل کړ. داسې شخصیت چې دخپلې مورنۍ ژبې پښتو او پښتون قوم په اړه خپله عقیده او خپل فکر په ډېر صداقت سره بیان او سیاست د ملیت تر پردې لاندې راولي.

تر دې وروسته پاچا هڅه کوله چې په خپلو ویناوو کې پښتو ژبې ته یوه ځانګړې برجستګي ورکړي، دلته به د اعلیحضرت امان الله خان هغه لنډه پښتو وینا راواخلو چې د ۱۳۰۴ ل کال دعقرب دمیاشتې په ۱۴ نېټه دجمعې په ورځ یې د قندهار د ارګ په سلامخانه کې د جرګې د ګډون کوونکو پر وړاندې کړې ده.

" ای عزیزانو!

اول دستاسې احوال پښتم جوړیاست: غواړم چې بعضې نور خیالونه او ارادې خپلې چې دقندهار د کارو په باب کې لرم په قسم سره د

مشورې په پارسۍ وتاسې ته ووايم او جناب وزير صاحب داخله به زما او ستاسې ترمنځ پښتو ترجماني کوي ځو زما مطالب ښه ستاسې دانسته سۍ. اوس دستي دا نه غواړم چې د پلانۍ ډلې وکيل چېرې ناست دی يوازې خبره دهر بهير چې يادسو دهغه بهير وکيلان هر چېرې چې ناست وي سلا دې ورکي"(۱۹۸)

د فکر وړ خبره داده چې ټولو پښتنو واکمنو له امير شېرعليخان او امير عبدالرحمن خان نه نيولې تر امير امان الله خان پورې پښتو ژبې ته افغان ژبه ويلې او فارسي يا پارسي يې په خپل نوم ياده کړې ده او ددې ژبې تړاو يې د فارس يا پارس سره ښودلی دی. چې د ايران پخوانی تاريخي نوم دی، په داسې حال کې چې افغاني ژبه د افغان او افغانستان د نوم پورې تړلې بولي.

اميرامان الله خان غازي دلته د افغاني ژبې پر ځای دپښتو ژبې نوم راوړی دی او د همدې پښتو ژبې د تعميم خبره د جلال اباد لويه جرګه ياده کړه. ليکن په نوي اساسي قانون کې يې ددې ژبې د اجباري تعميم او رسمي کېدلو په اړه کومه ماده ورځای نه کړه او همدا مسئله د پښتو ژبې او پښتنو د مخالفانو د خوښۍ موجب شوه.

صديق فرهنګ په دې هکله ليکي:

" درين جرگه امير اين مطلب را هم اعلان کرد که ميخواهد زبان پشتو را در کشور تعميم نمايد و بعدانجمنی را بنام "مرکه پشتو برای انکشاف زبان مذکور تاسيس نمود اما به تحميل زبان مذکور بر مردم غير پشتون زبان اقدام نه نمود."(۱۹۹)

دا يو حقيقت دی چې اعليحضرت امان الله خان دملي ژبې پښتو سره د زړه مينه درلوده او ددې ژبې د پرمختيا فکر ورسره و، خو دا چې ولې يې د هېواد په لومړني اساسي قانون کې چې د جلال اباد د

لويې جرګې لـه خـوا تصويـب او منظـور شـو ددې ژبـې رسـمي کېدلـو او تعميم ته په هغـه اساسـي قـانون کـې ځـای ورنـه کـړ او ولـي د جرګې اتـو سوو استازو چې ۹۰ په سلو کې يې پښتانه وو ددې ملي مسئلې په اړه چوپ پاتې شول او د خپل روا حق غوښتنه يې ونه کړه د غور او فکـر وړ خبره ده.

دغه ډېره مهمه او عمده موضوع ده چې ولې دې يوازې فارسي ژبه د حکومت د چارچلونې، سياسي او اقتصادي تړونونـو او پـه پلازمېنـه کـابل کـې دې د پوهنـې او زده کـړې ژبـه وي او ټولـې رسـمي کړنـې او ددربار فرمانونه دې هم په غير پښتو ژبه وي په هغه تاريخي لويه جرګه کې چې د خپلواکۍ ګټلو نه وروسته لومړنۍ لويه جرګه وه راپورتـه نـه شوه او بحث ورباندې ونه شو.؟؟

دتـاريخ پـه رڼا کـې مـوږ وليـدل چـې دخپلواکـۍ ګټلو پـه جـګړه کـې پښتنو تر نورو ټولو قومونو ستره ونډه واخيستله او اعليحضرت امـان الله خان هم د مرستې د غوښتنې فرمانونـه د پښتنـو مشـرانو پـه نـوم استولي او هيله يې ښکاره کړې وه، چې د هېواد دازادۍ ګټلو لپـاره د جګړې ډګر ته راووځي.

لـه بلې خـوا ګڼ شمېر پوه او پـه وطـن مـين افغانـان چې دلومـړۍ او دويمې مشروطه غوښتنې دغورځنګ غړي او حتی مخکښان وو د امير امان الله خان د دربار او په خپله پاچا سره نږدې اړيکې درلودې او پـه سراج الاخبار افغانيه کې يې شعرونه او مقالې چاپ کېدلې او د هغـو ځينو کسانو د جلال اباد پـه لويـه جرګه کـې هـم ګډون کړی و، د پښتـو ژبې د رسمي کېدلو او تعميم پـه مسـئله لاژم ټينګار ونـه کـړ، چـې هغـه دې د نوي اساسي قانون په متن کې ځای ورکړای شي.

په دې اړوند د پښتنو پوهانو او څېړونکو له خوا کومـه مدللـه شـرحه او تفصيل نه دی څېړل شوی ليکن داسې فکر کېږي چې ګويـا د هېواد

د نوي خپلواکه کېدلو په خاطر د پښتو ژبې د مسئلې راپورته کېدل د وخت او شرایطو سره سم کار نه برېښي. په تېره بیا چې پاچا په خپله لویې جرګې ته د وینا کولو په وخت دغه وعده کړې وه چې دپښتو ژبې دتعمیم او پرمختیا موضوع تـه بـه حکومت عملي جامـه ور اغوندي او دا چې اعلیحضرت امـان الله خـان هم پښتـو ویـل لـه ځان نـه پیـل او پـه زیاتو غونډو او جرګو کې یې په همدې ژبې وینا ګانې کولې تر زیاتـه حده پورې د پښتنو د چوپ پاتې کېدلـو او نسبي قناعت پیدا کولو موجب شوي وو.

" مرکه د پښتو"

# د امیر امان الله خان د کړې وعدې

## یوه بېلګه

په تېرو کرښو کې موږ په دې هکله لنډې خبرې وکړې چې اعلیحضرت امان الله خان د جلال اباد په لویه جرګه کې چې د افغانستان د خپلواکه کېدلو را وروسته لومړنۍ لویه جرګه وه او د جرګې مشرتوب هم دپاچا پرغاړه و. دغه وعده وکړه چې پښتو ژبه به په ټول افغانستان کې تعمیم مومي او د پرمختیا لپاره به یې کار کېږي

دغه لویه جرګه لکه چې مخکې وویل شول پر ۱۳۰۱ل کال جوړه شوه او پر ۱۳۰۲ل کال دپښتو ژبې دپرمختګ لپاره په کندهار کې دپاچا په لارښووونه یوه اداره منځته راغله چې نوم یې ورباندې " مرکه دپښتو" کېښود. ددې ادارې د مشرتابه لپاره داسې څوك وټاکل شو چې اعلیحضرت امان الله خان د پلار امیر حبیب الله خان د واکمنۍ په دوره کې ورباندې د پاچا له خوا د اعدام حکم شوی و او کله چې امیر حبیب الله خان د لغمان د کله ګوش دښکار دسیمې ځای کې په شهادت ورسېد نو انقلابي پښتون عبدالرحمن لودین هم له مرګ نه بچ شو او دادی دشهید شوي پاچا زوی امیر امان الله خان نوموړی پښتون لیکوال او شاعر د نوي جوړې شوې ادارې " مرکه د پښتو" ریس وټاکلو.

ددې لپاره چې دغه مشروطه غوښتونکی انقلابي پښتون مو په سمه توګه پېژندلی اوسي د اړتیا له مخې یې په لنډه توګه دلته د کتاب لوستونکو ته وریېژنو.

عبدالرحمن لودین چې "کبریت" یې هم تخلص کاوه د پېژندل شوي انقلابي روڼ اندي پوه پښتون کاکا سیداحمدلودین قندهاري زوی و، د ۱۲۷۲ل کال په شاوخوا د کابل په ښار کې زېږېدلی او لومړنی زده کړې یې د خپل پلار څخه ترلاسه کړې او وروسته د حبیبي په لیسه کې د رشدیه ښوونځي پورې سبق لوستلی دی.

په پښتو، دري، ترکي، اردو، عربي او انګلیسي ژبو پوهېده او دغه ژبې یې زده کړې وې او په پښتو او دري ژبو یې له نوموړو بهرنیو ژبو نه ژباړه کولی شوه. پر ۱۲۹۰ل کال د (سراج الاخبار) په اداره کې دمحرر یا لیکونکي په توګه ومنل شو او په همدې اداره کې یې څوکاله د محمود طرزي سره تېر کړل او د هغوی د فکر، سیاسي او ادبي روزنې تر اغېز لاندې پاتې شو.

په امیرحبیب الله خان باندې د ډزو کولو په تور د نیول کېدلو وروسته زنځیر او غوراب زندان ته وغورځول شو او په اعدام محکوم شو، لیکن دبند او کړاو موده ډېره لنډه وه ځکه چې امیر حبیب الله خان ووژل شو.

د ۱۲۹۷ل کال دکب دمیاشتې په وروستیو ورځو کې کله چې امیر امان الله خان دپاچاهۍ پر تخت کېناست نو کبریت له زندان نه خوشې کړی شو او بیا یې د څه وخت لپاره د( امان افغان) په نوي تاسیس شوي جریده کې دنده سرته ورسوله او د وخت په تېرېدلو یې لاندې رسمي دندې هم یوه د بل پسې سرته ورسولې.

۱. پر ۱۳۰۰ ل کال د قانون جوړولو په مرکز کې غړیتوب.
۲. پر ۱۳۰۲ل کال په بخارا کې د افغانستان د فوق العاده سیاسي پلاوي غړیتوب.
۳. پر همدې کال یانې ۱۳۰۲ ل د "مرکه دپښتو " لومړنی مشر.

۴. پر همدې کال د دویم ځل لپاره د مرکه د پښتو په ریاست وټاکل شو.
۵. پر ۱۳۰۳ل کال دامیر امان الله خان د سرمنشي کفیل او پر ۱۲۰۴ل کال له دې دندې نه په خپله خوښه ګوښه او استعفا یې وکړه او په کندهار کې په کور کېناست.
۶. پر ۱۳۰۵ل کال کې د کندهار د ښاروالۍ د ریس په توګه وټاکل شو.
۷. له ۱۳۰۶ نه تر ۱۳۰۷ پورې د کابل د ګمرکاتو ریس او په سقوي دوره کې زندانی شو.
۸. پر ۱۳۰۸ل کال دکابل د ښاروال په دنده وګومارل شو.
۹. په ۱۳۰۹ کال چې ۱۹۳۰ م کېږي د وخت د پاچا محمدنادرخان سره د مخالفت له امله د ۳۷ کلنۍ په ځوان عمر کې د دلکشاه دمانۍ نه بهر ووژل شو."(۲۰۰)

وايي چې د نادرشاه په حکم د وژل کېدلو نه مخکې یې په شاهي دسترخوان د محمدنادرخان سره یو ځای ډوډۍ وخوړه او د ډوډۍ خوړلو په وخت یې د نوموړي پاچا سره خبرې کولې خو کله چې ډوډۍ وخوړل شوه نادرخان مخ حاضرباشانو ته واړونه او پرته له کومې مقدمې یې د عبدالرحمن لودین دنیولو او د دلکشاه نه بهر د هغه د وژلو حکم وکړ او په یوه لنډه شېبه کې یې سینه په ګولیو باندې سورۍ سورۍ شوه. په دې وخت کې هغه د کابل د ګمرك ریس و.

لودین دبرتانوي ښکیلاك او هم د پېرنګیانو کلك مخالف و. د پښتو او دري ژبو تکړه لیکوال ګڼل کېږي. د هغه ځینې سیاسي او ټولنیزې او اقتصادي مقالې او منظومې د افغاني رجالو د ژوند لیك یوه رساله او په دري او پښتو یا په دري ژبه د پښتو لغتونو یو غټ قاموس پاتې وو

چې له بده مرغه د هغه د وژل کېدو سره يوځای هغه اثار هم له منځه لاړل.

تـردې ځايـه مـو "مرکـه د پښتـو" دمشـر عبدالرحمـن لوديـن لنـډه پېژندګلوي وکړه او له دې څخه دغه پته لګېدلی شي چې امير امان الله خان غازي د هغې پښتو ټولنې لپاره يو پيژندل شوی پښتون او سياسي ادبي شخصيت چوڼ کړی او ټاکلی و اوس بـه د "مرکـه د پښتـو" حـال وڅېړو چې دې پښتو اداري ترکومه ځايه پـورې د پښتـو ژبې دتعميم او پرمختيا کې ونډه اخيستله او د مرکې کارکوونکي څوك څوك وو.

زمـوږ د هـېواد تـاريخليکونکي پوهـاد اسـتاد عبدالحـی حبيبـي مـيرغلام محمدحسـين ( وروسـته غبـار) او مـيرمحمدصديق فرهنـګ يـوازې دعبدالرحمن خان لوديـن د فارسي شعر ځينې بېلګې وړانـدې کړې او د شاعر عبدالرحمن لودين په سياسي او ادبي شخصيت لنډې خبرې او تبصرې کړي دي، ليکن د لودين د پښتو شعر يا سياسي ادبي مقالې کوم مثال يې نه دی راوړی، د افغاني رجالو د ژوند رساله او په دري ژبـه د پښتـو قـاموس دواړه لـه خپرېدلـو مخکـې دلوديـن د وژل کېدلو وروسته له منځه تللي او يا وړل شوي دي نو په هغو باندې هم د څه ويلو ګنجايش نه ليدل کېږي.

د سراج الاخبار يا سراج الاخبار افغانيه او يا د امان افغان د جريدو د پـاڼو پـه کتلو هـم دهـېواد ددغـه سياسـي ادبي شـخصيت عبدالرحمـن لوديـن د پښتـو شعر او شـاعری او پښتـو ليکوالـی سـم جـاج نـه شـي اخيستـل کېدی که نه هغو پښتنو څېړونکو او محققينو چې پـه پورتنيو يـادو شويو جريـدو کـې د پښتنـو ليکوالـو او شـاعرانو د خپـرو شـويو ليکنو يا شعرونو يادونه کړې او د هغوی په ليکلو او خپرو شويو اثارو يې رڼا اچولې ده خامخا بـه يې د عبدالرحمن لوديـن د شـعر او پښتـو شاعری يا څېړنو او تبصرو يادونه هم کړی وای او يا بـه يې لږ تـر لـږه

دغه مطلب روښانه کړای وای چې د "مرکه د پښتو" د ریاست په دوره کې عبدالرحمن خان لودین کوم د پام وړ ارزښتمند کارونه سرته رسولي دي، چې د هغو له مخې د پښتو ژبې د تعمیم او پرمختیا په اړه څه وویل شي او د اعلیحضرت امان الله خان د کړې وعدې ثبوت ترې لاسته راشي.

سربېره پر دې داسې یوه پښتو یا دري خپرونه چې په هغه کې د مرکه د پښتو د اداري تشکیل او د مهمو شعبو نومونه او د ټولنې د غړو بشپړ لست او د غړو اداري او ادبي دندې په کې ښودلي شوي وي او یا په کې د مرکه د پښتو له خوا د خپرو شویو اثارو ذکر راغلی وي، تر دې وخته په لاس کې نه شته دي. او هغه څه چې په دې باره کې ویل شوي یا لیکل شوي دیوه خانګړي پښتو یا دري اثر په بڼه نه دي چاپ شوي او که خپاره شوي هم وي نن یې کتنه ناممکنه بریښي ځکه چې لاسته راوړل یې د هر چا له وسه پوره نه دي. ددغو لاملونو او دلیلونو له مخې د پښتو ژبې دخدمت په لاره کې د عبدالرحمن خان لودین او " مرکه د پښتو" د مبارزې او زیار او کوښښ یو روښانه انځور زموږ په لاس کې نه شته، په دې اړوند دغه اندازه هم نه شي لګېدای چې ایا دهغه مهال د واکمنیو په دوران کې پښتو خپرنو او د پښتو ژبې خدمت ته اجازه نه ورکړل کېده او پښتو لیکنې او لیکوال د حکومت تر سانسور لاندې وو؟ امیر امان الله خان خو په خپله خوله فرمان د پښتو ژبې د تعمیم او پرمختیا وعده ورکړې او مرکه دپښتو هم د هغوی په هدایت جوړه شوه او دهېواد انقلابي ادبي شخصیت یې هم د هغه په مشرتابه ټاکلی و. نو بیا څنګه ددې ملي ژبې د رسمي کېدو او تعمیم لاره بنده وساتلی شوه او پاچا ونه غوښتل یایې دغه جرئت ونه کړ چې دغه مسئله اساسي قانون ته ورننه باسي او په دې ډول د فرهنګي ښکیلاک مری ته لاس واچوي

هغه ځیني لیکنې چې د سراج الاخبار په جریده کې د پښتنو لیکوالو او څېړونکو له خوا خپرې شوې دي. دغه حقیقت تر یوه حده پورې روښانه کوي. چې چې پښتنو روڼ اندو او په هېواد مینو لیکوالو د ملي ژبې پښتو په تعمیم او پرمختیا کې خپله ونډه اخیستې وه او دغه هڅه یې کولې چې پښتو ژبه خپل مقام لاسته راوړي. چې په دې برخه کې د دروند پښتون ادیب او لیکوال مولوی صالح محمد نوم دیادولو وړ دی. لیکن داسې نښې نښانې هم لیدل کېدلې چې په دربار کې ناست غیرپښتانه تالي څټي د پښتو ژبې د پرمختیا په لاره کې ستونزې او خنډونه راپیدا کوي او دغه پلان یې جوړ کړی دی. چې د پښتنو ادبي سیاسي شخصیتونه او مبارزین د پاچا له شاوخوا څخه لرې کړي.

مولوی صالح محمدخان په سراج الاخبار کې د ( پښتو مکتوب) تر سرخط لاندې لیکنه کې په جرئت سره د ملي ژبې پښتو سوال راپورته کړ او د حکومت او خلکو پام یې ددې مهمې مسئلې خواته را وګرځولو.

په همدې ډول نورو پښتنو لیکوالو او شاعرانو هم د همدې مسئلې په اړوند لیکنې پیل کړې. لیکن د فرهنګي ښکیلاک ښامار د امیر امان الله خان په دربار خېټه اچولې وه او ددې ښکیلاک حاجیان او پلویان ویښ او فعال وو، د امیر په دربار کې د ایران سفیر مهدي فرخ په دې لاره کې زیاتې پیسې خرڅولې اچولې وه او د خپلو ملګرو سره یې نږدې اړیکې ساتلې وې چې په دوی کې یو هم د سراج التواریخ فیض فیوضات. نژادنامه افغان لیکونکي فیض محمدکاتب و. چې د پښتو ضد لیکلې اثر یې همدې جاسوس ایراني ته سپارلې و. چې د افغانستان نه بهر یې چاپ او خپور کړي.

ملا فیض محمد کاتب د اعلیحضرت امان الله خان د فرمان له مخې یو ځل بیا دې ته وګومارل شو او د امیر له خوا دغه دنده ورکړل شوې، چې د سراج الاخبار وروستۍ ټوکونه هم ولیکي او د امانیه دورې پېښې په کې هم ځای کړی شوي دي.

د امیر امان الله خان دپاچا کېدو نه یو کال وروسته ملافیض ته دنده ورکړل شوه چې دغازي امان الله خان د واکمنۍ را په دې خوا د حاضر وخت پورې پېښې دیو کتاب په ډول د چاپ لپاره لپاره چمتو کړي. د فرمان متن په لاندې ډول دی:

" فرمان شاه امان الله به عنوان محمودخان ایشیک اقاسي درباره و اکمال سراج التواریخ وتاریخ عصر امانیه که به خط خودش انشاء یافته تالیف واقعات عصر امانیه را مسلم می سازد. د فرمان چنین هدایت داده شده است.

فضایل همراه ملافیض محمدکاتب از حضور والای ما کمافی السابق به تاریخ نگاری مامور گردیده که نسخه واقعات سراج التوریخ وواقعات عصر امانیه را انشاءالله تعالی تالیف واجرا نماید، از برای کار تاریخ نگاری ثبت مکاتب وگزارشات ضروریه و اشیای خوراکه جهت کار تاریخ موصوف قرار ذیل است.

* ثبت فرامین وگزارشهای ضروریه کارامدتاریخ نویسي.

* ثبت فرامین سال اول جلوس انور والای ما که از محفل شورا و دفاتر صدرویافته است.

* واقعات سرگذشت وخدمات اساسی متن که بدون ملاحظه از روی صدق مرقوم دارند از خودشان مطالبه کرده شود.

* کتب ثبت دفتر تعلقه یاور حضور کتب ثبت فرامین تعلقه ناظر عدلیه.

* صدراعظم واقعات رفتن خود را در قندهار وواقعاتی که به وی روی داده وخدماتی که به دولت کرده.

* سردار سپه سالار بهادرخان واردات سمت جنوبی ومحاربات غزوات وتدبیرات منتخبه که درقواعد حربیه اجرانموده کاملاً مسوده ارسال دارد.

* کتب عهد سلطنت اعلیحضرت قبله شهید مغفور فقرات وفد که همراه ناظر داخله رفته بودند.

* کتب ثبت دفتر مکتوب نویسي حضور.

از اشتهارات که انتشار داده شده یک یک قطعه.

* دوست محمدخان ناظم واقعات سمت شرقی را.

* عبدالرحمن خان سفیر، سرگذشت هندوستان را...الخ (مزین به خط خاص حضرت والا)(۲۰۱)

امیر امان الله خان د تاریخلیکنې دنده هغه چاته ور سپارلې وه، چې د افغان دښمنې ایران مورخ مهدي فرخ نږدې دوست پاتې شوی او دفیض از فیوضات یې همغه ته سپارلی و، چې په ایران کې یې چاپ کاندي لیکن د چاپ نه مخکې یې په خپل کتاب (تاریخ سیاسي افغانستان) کې ددغه کتاب نه ځینې اخیستنې خپرې کړې.

د مورخ غبار په وینا اعلیحضرت امان الله خان دسراج التواریخ دریم ټوك د ځینو مطالبو د ځینو مطالبو له کبله چې په دې تاریخ کې خپاره شوي وو په اور کې وسوزولو او څه وخت وروسته یې د نوموړي کتاب له سرنه د لیکل کېدلو هدایت ملا فیض محمدکاتب ته ورکړ.

دغــه حـالت ددې حقيقـت ثبـوت وړانـدې كـوي چــې د فرهنــګي ښكيلاك بړيڅې د اميرامان الله خان په دربار كـې پـه فعـاليت بوخت وو او همدوی پـه افغـان پاچـا بـاندې دا خـبره ومنلـه چـې بـايد ملافيـض محمدكاتب ببرته د دربار د تاريخليكونكو او مورخ په توګه ومنل شي او د تاريخي پـښو او د پاچاهۍ كړنو ټول معتبر اسناد ورتـه وسپارل شي چې د اماني دورې او د هغه نه لږ مخكې واقعات ټول ديوه تاريخي كتاب په ډول د چاپ كولو لپاره چمتو كړي. چې په دې اړوند فرمان هم موږ ددې كتاب لوستونكو ته وړاندې كړ.

محمود طرزی چې د خپل ناسيوناليستي احساس له مخې د افغـان مخلـص د ځان لپـاره ټاكلـي و، د سـراج الاخبـار د چلولونـه ګوښه او د بـهرنيو چـارو د وزيـر پـه تـوګه وټاكـل شـو او پـه وروسـته كـې پښتانـه اديبـان، شــاعران او ليكــوال لكــه عبدالــهادي خــان داوي پرېشــان، عبدالرحمن لودين كبريت، عبدالعلي خان مستغني، غلام محی ادين خان افغان، مولوی صالح محمد هوتك، مولوی عبدالروف او نور هم ورو ورو د سـراج الاخبـار د ادارې نـه خـواره واره او پــه نـورو كــارونو وګومارل شول.

د "مركه د پښتو" ټولنه هم د زياتو ستونزو لـه كبلـه د پښتـو ژبـې د پوره خدمت موقع پيدا نه كړه او امير امان الله خان په خپله او ټول ويـښ او بيدار افغانان په دې پوهېدل چې پېرنګيـان د اعليحضرت امان الله خان او خپلواك شوي افغانستان پر ضد پټ او تر پردې شاته فعاليتونـه پيل كړي او د پښتنو قومونو او قبيلو پـه منځ كـې د خپلو لاسپوڅو پـه مرسته داسې پانې ويشي، چې په هغه افغان پاچا ته د كفر او بـې دينـۍ نسبت شوی و.

پاچا د دوستانو د سلا مشورې له مخې د اصلاحاتو په پروګرام كـې لومړی بدلون ومنلو او وروسته يې د مخالفانو د خولو ټپولو پـه مقصـد

نوموړی پروګرام چې اروپا ته ددوی د سفر پایله وه، بېخي وځنډاوه لیکن دې کار هم امیر امان الله خان ته کومه ګټه ونه رسوله او د پېرنګیانو په ګمراه کوونکو تبلیغاتو تېروتلي پرګنې چې په سر کې یې ملایان او ځینې روحاني شخصیتونه ولاړ وو، د انګلستان په شرارت او شیطنت پوه نه شول او که پوهېدلي هم وو.

د اعلیحضرت امان الله خان د حکومت د ځرنګوالي سره دضدیت له کبله مخالفت نه لاس په سر نه شول، چې دا په حقیقت کې د راتلونکي انقلاب په لور لومړني قدم شمېرل شوي دي.

اعلیحضرت امان الله خان او د هېواد روڼ اندي طبقې د افغانستان په خپلواکۍ مینو خلکو هېڅکله دغه تصور هم نه شو کولی چې د ګران هېواد لپاره به د غازي پاچا خدمتونه دومره ژر له یاد نه ووزي او بې ارزښته به وګڼلي شي.

امیر امان الله خان د ملي ژبې پښتو د خدمت هیله په زړه کې درلوده او ددې خدمت پیل یې د مرکه د پښتو او کله کله په پښتو ژبه ویناو باندې وکړ او وروسته یې د ښوونځیو لپاره هم د افغاني ژبې یانې پښتو د زده کړې د پروګرام په هکله احکام ورکړل، چې دغه موضوع د نوموړي پاچا په قلم لیکل شوي کتاب (حاکمیت قانون در افغانستان) کې یاده شوې ده.

لیکن د افغانستان خلکو ولیدل چې د هغه ترقۍ غوښتونکي او ولسواکۍ خوښونکي پاچا د بخت ستوری ډېر ژر په ډوبېده شو او د هېواد لپاره د خدمت کولو ټول ارمانونه یې نیمګړي بلکې ځوانیمرګ پاتې شول. انګرېزان د نوموړي پاچا خلاف په دسیسو او توطئیو کې بریالي شول. د تاریخلیکونکو په وینا د پېرنګیانو دغه توطئې او دسیسې د افغانانو او په خپله د اعلیحضرت امان الله خان لپاره د درېیمې جګړې نه زیاتې خطرناکې او زیان رسوونکي ثابتې شوې. ځکه

چې پاېلې يې ډېرې دردوونکې وي او د نوي خپلواك شوي سرلوړي افغانستان واکمني غلو او داړه مارانو ته په لاس ورکړی شوې وه.

دتګاب روحاني مشر اخوند زاده صاحب چې امير امان الله خان غازي ورته د "فخرالمشايخ" لقب ورکړی و او د دربار سره نږدې اړيکې هم درلودلې د ټولونه مخکې د غازي پاچا او دهېواد د خپلواکۍ ګټونکي امان الله خان پر خلاف د مخالفت غږ پورته کړ او د فرهنګ دليکنې له مخې ګواکې همدغه اخوندزاده د تګاب په يوه شبخون سره حکومتي ځواکونوله منځ ته يوړل چې دغه کار دده په مرسته د لاړه وهونکي حبيب الله خان کلکانی د سقاوي زوی پر لاس سرته ورسېد." (۲۰۳)

مورخ غبار مجدديان هم د اعلحضرت امان الله غازي پر ضد ورانکاريو کې شريك بولي او ليکي.

" د مجددي د کورنۍ مشرانو محمدمعصوم مجددي د څلورو سوو ملايانو سره په ګډه په غازي امان الله خان باندې لګول شوې کفر فتوا د خان سره پکتيا ته يوړه او هلته يې د خلکو نه د پاچا خلاف د راپاځېدو او د اغتشاش کولو غوښتنه وکړه" (۲۰۴)

او په دې ډول د لسو کالو پاچاهۍ کولو نه وروسته په خپلواکۍ افغانستان کې د انګرېزي ښکيلاك ددښمنۍ او غچ اخيستنې د کينې په وسيله د پرمختګ او ولسواکۍ غوښتونکي پاچا امان الله خان غازي د واکمنۍ ځلېدونکي لمر په غر غړو شو او هېواد په قصدي توګه ديوې تورې کرغېړنې دورې په تورتم کې ور وغورځول شو.

د لومړي ځل لپاره د افغانانو په پېښليك کې يو څېرکی د غلو او لاړه وهونکو سقاويانو په نوم هم وليکل شو او دا هغه څه وو چې پښتنو يې خوب هم نه شو ليدلی. د هېواد مليوني پرګنو د زړه له کومي نه شو. منلي چې يو ناسيوناليستي غل او لاړه وهونکی دی، د يوه داسې

پاچا ځای ونیسي چې د افغانستان بشپړه سیاسي خپلواك د هغوی د افغاني غیرت او مېړاني حاصل ګڼل کېدو او په ختیځ او لویدیځ کې یې نوم په ډېر درناوي اخیستل کېده او د احترام سر ورته ټیټېدلو.

د ۱۹۲۹ میلادي کال د جنوري د میاشتې په ۱۴ نېټه د غازي امان الله خان د استعفا پاڼه په داسې وخت کې د هغوی د مشر ورور سردار عنایت الله خان معین السلطنه له خوا د ارګ د ماڼۍ د ننه، د حکومت د لوړ رتبه مامورینو پر وړاندې ولوستل شوه چې پاچا د خپلې کورنۍ او څو تنو ملګرو سره د موټر په سپرلۍ د قندهار پر لور روان شوی و. غازي پاچا د استعفا په پاڼه کې په خپل قلم د غه څو کرښې یا جملې لیکلی وې:

" خیر مملکت مقتضی این است که باید دست از کار بکشم زیرا تمام خون ریزي و انقلاباتیکه در مملکت است به سبب بر خلافی با من میباشد" (۲۰۵)

په استعفا لیک کې دا هم لیکلي وو، چې د هغوی مشر ورور سردار عنایت الله خان معین السلطنه دی د سلطنت چارې پرمخ بوځي، لیکن دلته زموږ لپاره دا ټکی مهم نه بلکې د غازي پاچا د استعفا پاڼه مهمه وه، ځکه موضوع په لنډیز سره ولیکله.

امیر امان الله خان دیوې خطرناکې کورنۍ جګړې نه په ډډه کولو په خپله خوښه شاهي تخت پرېښود او د هېواد نه وتل یې غوره وګڼل. غزني ته د رسېدلو په وخت هغه ته خبر ورکړشو چې دکندهار او کلات په زرګونه خلك چمتوشوي دي چې د هغو له پاچاهۍ نه دفاع وکړي اود مخالفینو قوت تس نس کړي. لیکن پاچا په دې عقیده او فکر نه و، چې د وینو توئېدو له لارې واکمني واخلي او په زور سره په خلکو باندې

پاچاهي وکړي. څکه څو يې دغزني او کندهار د خلکو هغه غوښتنه ونه منله او د پرديسي کاروان يې کندهار ته ورسېد.

دا عليحضرت امان الله خان په هغه ډارماتيکي وتلو باندې د افغان ولس د ارمانونو ډك زړه د نهيلي په وينو کې ډوب شو او په هېواد کې تيارې په رڼا باندې برې ومونده. هغه هېواد چې لس کاله مخکې د همدې پاچا په اخلاقي او سياست جرئت او د افغانانو په مېړانه اوهمت خپلواکي لاسته راوړې وه. دا دی په يو بل ډول د پېرنګيانو د دسيسې ښکار شوي او د تېري لاندې راغلی و.

د هند د برتانوي حکومت مامورينو چې د افغان ولس نه د غچ اخيستو تږی و، پټيلې وه چې ددې اتل ولس ملي او تاريخي غرور په يوه داسې طريقه مات کړي چې ساری يې په تاريخ کې چا نه وي ليدلی.

انګرېزانو ديو داسې سړي لپاره د پاچاهۍ پخلی کړی و، چې خلکو هغه دغل او لاره وهونکي په نوم پېژانده او څو څو وارې د غلا او داړه مارۍ په تور بندي شوی و.

پېرنګيانو که څه هم دا کار په ډېر احتياط او د تورې پردې شاته پيل کړ، خو بې رسوا کېدلو پاتې نه شو او نړيوالو وليدل چې څنګه د لومړي ځل لپاره يو بدنام شوی او پېژندل شوی غل او لاره وهونکي د انګرېزانو د پلان په وسيله په افغانستان کې پاچاهۍ ته ورسول شو او يو روڼ اندی ترقۍ خوښوونکی وطندوست پاچا امير امان الله خان هېواد پرېښودلو ته اړ کړی شو.

نړيوالو وليدل هغه پاچا چې د هېواد د خپلواکۍ د توري په زور له برتانيې عظمی څخه اخيستې وه اوس د کورنۍ جګړې له ويرې چې پېرنګيانو يې هيله درلودله د واکمنۍ نه لاس اخيستل مصلحت ګڼي او د وينو توئېدلو د مخنيوي په خاطر هېواد پرېږدي.

د افغانستان د مېړني ولس د هیلو هغه کاروان چې د اعلیحضرت امان الله خان غازي په وجود کې له هېواد نه کډه شوی و، د کلونو له تېرېدو سره سره بیا بېرته را ونه ګرځېد او د ترقۍ په لار روان شوي افغانستان د غل سالارۍ په نهه میاشتنۍ دوره کې بېرته په شا وتمبول شو او د نوي ګډوډۍ او لاقانونۍ تیارې یې ستونې ونیو.

امان الله خان په ژوند کې بیا ددې جوګه نه شو چې افغانستان ته راشي او هېواد له سره د پرمختګ په لاره روان کړي. هغه غازي هم د نورو غازیانو لکه سردارمحمدایوب خان غازي د میوند اتل په جلاوطنۍ کې ساه ورکړه او تول ارمانونه یې د ځان سره خاروته یوړل. هغه ارمانونه چې دده د هېواد پورې تړلي وو.

## شپږم څپرکی

# ۹ میاشتنی سقاو سالاري او د پښتنو برخلیک

د ۱۹۲۹م کال د جنوري دمیاشتې په ۱۶نېټه د پروان د ولایت دیوې وړې علاقه داری اوسېدونکي حبیب الله خان چې په خپله سیمه کلکانو کې یې هم د اوسېدو مینه نه درلوده او دسیمې د غلو دیوې ډلې مشرګڼل کېده، د انګرېزي ښکیلاك د پلان سره سم د محمدصادق خان مجددي، حمیدالله خان د تګاب اخوندزاده او سردارمحمدعثمان خان په بدرګه کې د کابل شاهي ارګ ته ور ننوت او د پاچاهی پټکی ورته وتړل شو.

فرهنګ او غبارلیکي چې دې د افغانستان تاجکو د قام پورې تړلي لومړنی پاچا و لیکن له نهومیاشتو څخه زیاته پاچاهي ونه کړای شوه. د حبیب الله پلار سقوي کوله، ځکه دسقاو زوی په نوم یاد شوی دی. دده خپل عمل چې تاریخلیکونکو زیاته یادونه کړې ده غلا او لاړه وهل وو، چې په دې جرم ډېر ځله بندی او قانوني جزا ورته ورکړی شوې وه. دسقاو زوی لیك لوست نه شو کولی او د خبرو کولو طریقه یې هم د نالوستو کسانو وه. په کلي کور کې د بدنامی له کبله یې جرئت نه درلود، چې په خپل کور کې د خپلې مېرمنې سره ژوند وکړي او د کلي د خلکو سره یو ځای په جومات کې لمونځ وکړي.

د سقاو زوی ددغو ځانګړنو په درلودلو سره ددې پوهه نه درلودله چې د مسایلو په اړوند فکر وکړي او پرېکړې لاسلیك کړي ځکه چې لاسلیك کول یې نه وو زده او بې سواده. ددغسې یو سړي لپاره چې عقلي او فکري کمزورتیا یې درلودله د افغانستان غوندې یو هېواد اداره کول او د امیر امان الله خان غازي د سیاسي پوهې او تدبر په نتیجه کې خپله بشپړه خپلواکي لاسته راوړي او یو نوی اساسي قانون په کې منظور او د اجرا وړ ګرځېدلي و، نړیوالو هم د امان الله شاه شخصیت او قیادت ته په درنه سترګه کتل. اوس چې هغه شخصیت او قیادت دواړه له منځه وړل شوي او ځای یې تش پاتې و، ځکه چې نالوستي لاره وهونکي او ملګرو یې هېڅکله دهغوی ځای نه شو ډکولی.

مورخ غبار د سقاو زوی حبیب الله په باره کې وایي:

"شخص حبیب الله طبعاً از اداره یک کشور نی بلکی از اداره یک قریه هم عاجزبود"(۲۰۶)

د ارګ شاهي مانۍ ته له ننوتلو وروسته ډېر ژر سقاوي کابینه اعلان شوه او ورسره جوخت هغه سردار محمدعثمان خان چې د محمدصادق مجددي او د تګاب اخوندزاده حمیدالله سره په ګډه یې ارګ ته د ننوتلو په وخت د سقاو د زوی بدرګه کړې وه. د څو تنو نورو پېژندل شویو شخصیتونو سره لکه سردارعبدالحمید خان، سردارحیات الله خان د امیرحبیب الله خان شهید زامن، قاضي محمداکبرخان، عبدالمجیدخان توخی او حبیب الله خان د حربیه وزارت پخوانی معین سره یو ځای په دې تور اعدام شول چې ګنې د حبیب الله کلکاني د وژلو پلان یې جوړ کړی و."(۲۰۷)

ځینو تاریخلیکونکو عقیده ښکاره کړې ده چې دسقاو زوی ته جامې اغوستل هم نورو ور زده کړل، دا یوحقیقت و چې ددغسې یو

سرې پاچاهي د هېڅ افغان لپاره د منلو وړ نه شوه کېدی او نه يې د هغه په شخصيت د غرور شمله هسکه پاتې کېدی شوه. ليکن محمدصديق فرهنگ دې مسئلې ته بل ډول کتنه کړې ده او داسې ښکاره کول يې غوښتي دي چې ګواکې يوازې پښتنو د سقاو زوی د پاچاهی جوګه نه ګڼلو دی وايي:

" اما پس از خارج شدن امان الله خان از کشور مسله قومي درصف اول موضوعات مورد اختلاف قرار گرفته و پشتونان با احساس اینکه پادشاهي از دست شان خارج شده و به زعم بعض از انان به شخص از قوم درجه پایین تر ( تاجک) تعلق گرفته در برابر دولت جدید موضع گرفتند."(۲۰۸)

په هر حال دا خبره د هر افغان لپاره د اندېښنې وړ وه چې د نړی يوه تاريخي پېژندل شوي خپلواك هېواد افغانستان پاچا څنګه يو داسې سړی کېدی شي، چې په نه د علم او پوهې خاوند وي او نه د افغانستان خلکو د غل او لاره وهونکي پرته په بل نوم پېژندلی دی. په غلا او داړه ماری کې د نوموړي شهرت ان د برتانوي هند او ايران تر خاورې رسېدلی و. همدغه لامل و چې کله دغه سړی د خپلو ملګرو سره پاچاهی ته ورسېد نو په هېواد کې د لوټماری او غلاګانو يوه نوې دوره پيل شوې وه او نويو واکدارانو د نورو نه مخکې دغه کار پيل کړ، چې دهېواد مورخ يې شرحه په دې ډول کړې ده:

" یک عده به کلي جاهل و نو به دولت رسیده و حریص فقط مشغول پول اندوختن بودند و ازگرسنه ککي بسیار هر جا زمینی وباغ و قصر می یافتند به هر نوعی بود انرا تصاحب میکردند، عمارات دولتی را منزل شخصی خود ساخته بودند. در حفظ ظواهر هم هر روز ریش وبروت انها کوتاتر روب دریشي شان قطور تر و القاب مرده قدیم زنده تر میشد از قبیل نائب السلطنه و معین السلطنه و جرنیل خود مختار وغیره این ها چون از

عمر وحتی محیط کابل بسیار عقب افتاده تر ودند، طاقت دیدن هیچگونــــه علم وعقلی در ماحول خود نداشته دشمن کفایت وفضیلت بودند"(۲۰۹)

د حبیب الله کلکاني په هکله دغه قضاوت هغه چا کړی دی چې په خته پښتون نه دی لیکن د هېواد په هغه حالت یې زړه دردېدلی دی او دا ورته دشرم خبره ښکارېدله چې یو غل او لاره وهونکی دې د سرلوړي او تاریخي افغانستان پاچا اوسي، بلکې حقیقت دادی چې ټول افغان ولس د همدې حالت سره مخامخ و.

اوس به دتاریخ په رڼا کې دغه حقیقت ته یوه کتنه وکړو، چې د فرهنگ په وینا د تاجك قوم څخه دغه د ناوړه نوم او شهرت درلودونکي سړي څنګه او د کوم ځواکمن هیواد له خوا پاچاهۍ ته ورسول شو او د سقاو سالارۍ ۹ میاشتنۍ دوره په افغانستان کې پیل شوه.

ماته غوره ښکاره شوه چې لومړی د افغان او افغانستان دښمن ایراني مورخ مهدي فرخ چې په تېرو پاڼو کې یې پېژندګلوي شوې ده نظر او عقیده د ذکر شوي مطلب په اړوند راواخلم. دده په لیکنه باندې دښمنۍ او څېړنې کوم ضرورت نه لیدل کېږي دی لیکي:

" در افغانستان انقلاب بر ضد امان الله خان به دست مامورین حکومت هند ایجاد شد، منتهی نظر به نزدیکی افغانستان به هند مامورین انگلستان بـــا نهایت دقت ومراقبت این انقلاب را اداره نمودند."

" انقلاب ۱۳۰۷ که بدون تردید به دست حکومت هند برتانوی شـوع شد. ازطرف انگلیس ها نقشه معین و مرتبی داشت و مطابق نقشه ای که در اداره سری هندوستان طرح کرده بود، مقصود سقوط حکومت امان الله خان در نهایت سرعت بدست هر کسی که ممک شود و بلا فاصله در حــــدود امکان تسریع در ایجاد یک حکومت ثابت درتحت ریاست یکی از متحدیــن

انگلیس که محل وسوق و اعتماد کامل باشند و برقراری نظم و خاتمه دادن انقلاب زیرا ادامه شورش برخلاف سیاست انگلستان و ممکن بـــود بـــرای بلشویک ها موقع مساعدی پیش امده و انها را مورد استفاده قرار دهند."

" حقیقت قضیه اینست که پس از مراجعت از پشاور بچه سقاو از طرف حکومت هند برتانوی مسلح وتقویت شده وپس از ورود کلنل لارنس بـــه منطقه شنوار بچه سقاو نیز رول خود را درین قسمت شروع نمود...

حکومت هند بچه سقاو را حاضر داشته تا انیکه در موقع انقلاب سـمت مشرقی بچه سقاو نیز وارد درمیدان عمل شد و سیدحسین نیز که از رفقـای او بوده با او متفقاً شروع به عمل نمودند.. اداره کنندگان انقـلاب بـه او دستور میدادند و از هر حیث او را تقویت کرده اسلحه کاملتر را نیز بـه او رسانیدند... وبالاخره انقلاب افغانستان تا ساعت اخر مطابق به نقشه هنـــد برتانوی عملی گردید."

" مطالعات تاریخی در انقلاب ۱۳۰۷سقاوی : انگلیس ها: بطوریکـه در ضمن وقایع انقلاب ذکر شد و محتاج به تکرار نیســـت انقــلاب ۱۳۰۷ افغانستان بدست انگلیس ها شروع و با نقشه انها درجریان وهم بدست انها خاتمه یافت"(۲۱۰)

تر دې ځايه مورږ د ايراني مورخ مهدي فرخ د ليکلي تاريخ په پاڼو کې د پېرنګيانو د پلان له مخې په افغانستان کې دسقاوي انقلاب ۱۳۰۷د راتلو دغازي امان الله خان د لرې کيدو او د برتانوي هند د حکومت د مامورينو او جاسوسانو په نيغه مرسته د حبيب الله کلکاني د پاچا کېدلو په اړه لنډ مطالب ( ددې کتاب له حوصلې سره سم) ولوستل او ومو ليدل چې څنګه انګرېزي ښکيلاك يو لاره وهونکی غل

د افغانستان پاچاهي ته ورسولو او د ۹ میاشتو لپاره د افغانستان واکمني له پښتنو څخه تاجکو ته ولېږدول شوه.

دلته به د همدې تاریخي پېښې په هکله د هېواد د ځینو تاریخلیکونکو لیکنو ته یوه لنډه کتنه وکړو. لومړی به د (افغانستان درپنج قرن اخیر) د لیکوال د وینا جاج واخلو:

م. صدیق فرهنګ چې د سقاو د زوی او دده د واکمنۍ په دفاع کې یې د فکر او قلم پښه په ډېرو ځایونو کې خوېدلې ده لیکن کله کله یې دغه لاچاري احساس کړې ده چې باید حقیقت ووایي. ترڅو یې تاریخي لیکلی اثر د هېواد د روښانفکرانو له پامه ژیات بې اعتباره نه اوسي دی لیکي:

" بدون شک فرانسیس همفریز وزیر مختار برتانیه درکابل واعضای وزارت مختاری ( در تحریکات علیه شاه امان الله خان دخیل بودند... در عین حال او (همفریز) با شورشیان و ازجمله حبیب الله خان تماس علنی قایم کرد."(۲۱۱)

فرهنګ دا خبره منلې ده چې په کابل کې د انګرېزانو مختار وزیر په ښکاره د سقاو د زوی حبیب الله او د بغاوت کوونکو شورشیانو سره ډېر نږدې تماس درلود. د فرهنګ دغه وینا د ایراني مورخ مهدي فرخ ددې خبرې تصدیق دی چې د سقاو زوی ته انګرېزانو لارښوونه کوله او د ۱۳۰۷ کال انقلاب د برتانوي هند د مامورینو په لاس رامنځته شو. که نه حبیب الله په ځمکه سیوری او په اسمان کې ستوری نه درلود.

فرهنګ خپلې خبرې د برتانوي لیکوال (ار. تی ستیوارت) له کتاب ( په افغانستان کې اور) نه اخیستي دي د وزیر مختار همفریز د مېرمن دیادښتونو په حواله لیکي:

"د سقاو زوی حبیب الله شخصا د وزیر مختار همفریز سره د سفارت د دروازې په خوله کې وکتل او د هغه سره یې خبرې وکړې، همفریز حبیب الله ته وویل چې باید نه یوازې د برتانیې د سفارت بلکې د نورو سفارتونو درناوی وساتي او د سفارتونو د لوټولو مخه ونیسي. د همفریز دهدایت له مخې حبیب الله خپلو جګړه مارو له جملې نه یو تن ته دنده وسپارله چې د سفارتونو ساتنه وکړي او بیا خپله حبیب الله د ښار پر لور وخوځېد.

دهمفریز مېرمن په خپلو یادښتونو کې دا هم ویلي دي چې: "د څو شېبې وروسته کله چې دسفارت یو کارکوونکی د ښار له لوري را روان و او د خلکو په بېړه کې یې د لار موندلو هڅه کوله خو چې دسقاو د زوی سترګې په نوموړي کار کوونکي باندې ولګېدې نو حکم یې وکړ چې باید د سفارت هغه غړی د سفارت تر دروازې پورې بدرګه کړي"(۲۱۲)

انګرېز لیکوال (ار. ستیوارت) په خپل کتاب کې د جګړې په وخت د سقاو زوی حبیب الله د تېښې کېدو او په شهرارا کې دبرتانیې د سفارت د جراح ډاکټر له خوا د هغه د علاج خبره هم کړې چې مرحوم فرهنګ د خپل اثر په ۳۷۵مخ کې هغه را اخیستې دی.

فرهنګ له یوې خوا د حبیب الله د غلا او لاره وهنې تصدیق کوي او لیکي چې:

" حبیب الله به هند برتانوي فرار نموده در باز گشت با اتفاق رهزن معروف دیگر بنام سیدحسین از اهل چاریکار در راس دسته ای از رهزنان قرار گرفت که کار ان تاراج مسافران و کار انها درشمال کابل بود"(۲۱۳)

لیکن د خپل قومي ذهنیت له مخې همدغه غل او لاره وهونکی په وروسته کرښو کې داسې ستایي:

" حبیب الله مرد روستایی بود و اکثر خصلت های مـــردم روستانشـــین افغانستان را در وجود خود جمع داشت. در ایام جوانی انسان قانع و پر کار و به مشاغل عادی باغبانی وسپاهی گیری راضی بود... مرد راستکار وجوان مرد بود"(۲۱۴)

د فکرمندۍ او پاملرنې خبره ده چې څنګه یو مورخ د خپل قومي تړاو له مخې هڅه کړې ده چې یو بدنام او رسوا غل او لاره وهونکی لپاره د تقـوای او راسـتکارۍ جامـه وګنـډي او هغـه قـانع او زیـار ایستونکی انسان وښيي، څنګه کېدی شي چې رڼا او تیاره اور او اوبه ، تور او سپین، یو شان وګڼل شي او کلیوالو خلکو تـه دغـه سپکاوی وشي، چې ګویـا د افغانسـتان کلیـوال خلـك د سـقاو زوی سره عیـن خصلت لري او کـه داسـې وای نـو بیـا خـو بـاید د کلیـو او بانـډو ټول اوسیدونکي د حبیب الله غونډې اخلاق درلودلای او کړنې یې د سقاو د زوی کړنو ته ورته وای.

فرهنګ حبیب الله کلکاني ته په برئت ورکولو او د نومورې پـېژنـدل شوي لاره وهونکي څخه د ګناه او خطا د مسئولیت د لرې کولو په هڅه لیکي، چې امیر حبیب الله د اماني دولت د مخالفانو د تبلیغـاتو تـر اغېزې لاندې راغی او ... د داخلي او بهرني دښمنانو لـه خوا استعمال شو".

د سقاو سالارۍ نالوستي مشر د پاچا کېدلو نه څو ورځې وروسته د وزیرانو یوه کابینه جوړه شوه، چې په غـوڅه تـوګه یـې سکتاریستي بـڼه درلوده او ټولې لوړې څوکۍ او عمده مقامونـه هغـو کسـانو تـه ورکـړل شول، چې د سقاو د زوی په داړه کې دهغه نـږدې ملګري او یـا خویـې د خپلې کورنۍ خلك او په قوم تاجك وو د ساري په توګه:

سیدحسین د حبیب الله لومړی درجه همکار هم نایب السلطنه او هم د حربیه وزیر وټاکل شو. د حبیب الله بچه سقاو خپل سکه ورور حمیدالله د معین السطنه په لقب او پردل او غیاث الدین د نایب سالارۍ په رتبه او ګڼ شمېر نور د خودمختاره جرنیلانو او کرنیلانو په نوم د پوځي ځواك په سر کې کېنول شول.

د سقاو زوی حبیب الله کلکان ملك، محسن دکابل د والي په توګه وټاکل شو او د همدې ملك محسن ورور سید محمد دقلابیګي په رتبه د ارګ ددفاع مسئول مقرر کړای شو او د کابل د ښارلوټ کېدل هم د همدوی له خوا وشو.

دسقاو سالارۍ د بهرنیو چارو وزیر د پروان اوسېدونکی صاحب زاده عطاالحق خان او دسقاو د دربار وزیر هم د پروان اوسېدونکی صاحبزاده شېرجان خان و. د سقاو زوی د حضور سرمنشي میرزا محمد یوسف خان و چې د مېرزا محمد حسین خان مستوفی المالك ورور کېده او دغه مستوفي المالك د هېواد د فارسي ژبې د وتلي شاعر او ادیب استاد خلیل الله خان خلیلي پلار و، په خپله خلیل الله خان خلیلي هم د سقاوي حکومت په دوران کې د بلخ دولایت مستوفي ټاکل شوی او دنده یې سرته ورسوله، چې د اعلیحضرت امان الله خان ډېر کلك مخالف پېژندل شوی و.

استاد خلیل الله خلیلي هغه څوك دی، چې د سقاو د زوی حبیب الله څخه ددفاع په تکل یې یو کتاب چې (عیاری از خراسان) نومېږي هم د پخواني محمدظاهر خان د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې ولیکلو او د څوکسو په لګښت یې چاپ او خپور کړ په دې کتاب کې درباندې پوره خبرې شوې دي.

د سقاویانو پاچاهۍ ته مورخ غبار" حکومت داره یی) ویلې دي لیکن ددې حکومت نالوستي او لاړه وهونکي مشرته هغو ملایانو د

"حبیب الله خادم دین رسـول الله " لقب ورکړ او یو اخبار یې هم دده په نوم جاري کړ، چې نوم یې ورباندې "حبیب الاسلام" ایښی و.

د نوموړي جریدې لومړنی مدیر سیدمحمد حسین او دویم مدیر یې د غبار په قول ملا برهان الدین کشککي و، چې دسقاوي حکومت په ګټه لیکنې به په کې خپرېدلې او هڅه کېدله، چې د سقاو حکومت د ولس په ذهن کې د خلکو په ګټه حکومت معرفي کړي لیکن افغانان ډېر ژر وپوهېدل چې تر کاسې لاندې نیم کاسه ده او نالوستي دسقاو زوی د انګرېزانو لاس پوڅی دی او خپل واك نه لري.

د سقاو زوی په خپلې ۹ میاشتنۍ دوره کې په پښتو باندې باور ښکاره نه کړ او لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه ټول عمده او مهمې څوکۍ او لوړ مقامونه یې غیر پښتنو یانې تاجکو ته ورکړې او دولت په بشپړ ډول انحصاري بڼه درلوده له همدې کبله ډېر ژر د ناکراریو او ګډوډیو ډنډته ور وغورځېد او مخالفتونه ورسره پیل شول.

فرهنګ دې مسئلې ته داسې کتنه کړې ده:

" عاملین دیگریکه علیه دولت سقاو کار میکرد، انتساب امیر و اکثر همکارانش به یکی از اقوام غیر پشتون (تاجک) کشور بود. از عهد احمدشاه ابدالی باین سو در مدت تقریباً دوصد سال زمامداران افغانستان پشتون و دربین پشتونان درانی و دربین درانیان نخست پوپلزای وبعداً بارک زای بودند که محمدزائ شاخه ای از ان است.

درین مدت کارمندان دستگاه مرکزي دولت د حکام و کارمندان ولایات اکثر پشتون بودند واگر بعض ایشان به علت اقامت درکابل به زبان فارسی تکلم میکردند، سلسله نسب خود را به یکی از قبایل پشتون خصوصاً درانی میرساندند"(۲۱۵)

لیکن پېرنګیانو د پښتنو څخه د خپلواکۍ د لاسته راوړلو غچ په دې ډول واخیست چې یو غیر پښتون واکمنۍ ته ورسوي او د هغه په لاس په افغانستان او سیمه کې خپلې ګټې خوندي کړي.
برتانوي تاریخلیکونکو په یوه خوله ددې حقیقت تصدیق کړی دی چې د برتانوي هند د حکومت مسئولینو د امیرامان الله خان په راغورځولو او دیوه غیر پښتون په واکمن کولو کې ستره تېروتنه وکړه، بلکې غوره دا وه چې د افغانستان د منل شوي پاچا امان الله خان سره د اړیکو د دوستانه کولو هڅه شوې وای او په همدې کې د برتانیې ګټه وه.
د افغانانو سره دوستي په برتانوي هند کې د انګرېزانو د واکمنۍ په ګټه تمامېدله ځکه چې په هغه صورت کې د برتانیې د حکومت مخالفان له هند نه افغانستان ته نه شول تللی او هندي ازادۍ غوښتونکو د افغانستان د حکومت ملاتړ نه شو جلبولی.
پېرنګیانو ډېر ژر د سقاو زوی حبیب الله نه مخ واړوه او د نوموړي د لرې کولو په فکر کې شول، د برتانوي هند د حکومت یوازینۍ موخه او مقصد دا و، چې د امیرامان الله خان نه د افغانستان د خپلواکه کولو غچ واخلي او له پاچاهۍ یې لرې کړي او چې کله په دې لاره کې بریالي شول، نو دحبیب الله کلکاني دپاتې کېدلو سره یې کومه خاصه دلچسپي نه درلوده او د هغه په پاتې کېدلو کې یې سیاسي ګټې نه شوې پوره کولی. د ۹ میاشتو سقاو سالارۍ دوره پای ته ورسېده او د پښتنو دواکمنۍ لړۍ بېرته پیل شوه چې تر ننه روانه ده.
دحبیب الله کلکاني د لومړۍ وینا هغه غټ ټکي چې ویلي یې وو: "چرګان او مرزان جنګوئ او خپل وخت په خوښۍ تېروئ" د کابل د ښار اوسېدونکو په ذهن کې پاتې وو. هر افغان د کمترۍ احساس کاوه چې د هېواد یو نالوستی غل دپاچاهۍ پر تخت ناست دی، هغو کسانو چې

دغـه لاره وهونکی پـه شـاهي تخـت کېنولـی و اوس يـې پـه خپلـې کړنـې باندې پښيماني ښکاره کوله او دده د لرې کولو هڅې يې پيـل کړې وې او پـه دې ډول يـې د تاريخي ملامتيـا نـه ځان ژغـورل غوښتـل خـو تـاريخ هغوی معاف نه کړل.

## عیاری از خراسان

## له غل نه د اتل جوړولو هڅه

په تېرو پاڼو کې موږ د تاریخي سندونو او د کورنیو او بهرنیو تاریخلیکونکو د ویناوو په رڼا کې دغه حقیقت روښانه کړ، چې دسقاو زوی حبیب الله کلکاني هغه فراري وران کاری او وژونکی، لاره وهونکی غل و. چې د نالوستی او ناپوهی له امله یې هر ډول ناوړه غیر انساني او غیراسلامي کړنې ته لاس اچولو اود خپلو داړه مارو ملګرو سره یې د لارې وهلو او غلا کولو په وسله ژوند کاوه.

نوموړي د خپلو بدو اخلاقو او فاسدو کړنو له کبله دغه حق او اجازه نه درلودله. چې په خپل کلي کلکان کې د خپلې کورنۍ د غړو سره ژوند وکړي. ځکه د حکومت امنیتي مقاماتو د هغه د نیولو هڅه کوله او د وخت حکومت یې د ګرفتارۍ حکم جاري کړی و.

د ۱۹۹۷م کال د اګست په میاشت کې دبي بي سي راډیو د (مجله اسیای میانه) په خپرونه کې د (افغانستان در قرن بیست) په نوم ځانګړي پروګرام کې دتاریخي پېښو په اړوند د نورو مطالبو په ترڅ کې د سقاو د زوی حبیب الله کلکاني دمېرمن بي بي سنګري خبرې د هغوی په خپل اواز کې د بي بي سي راډیو له غني ارشیف څخه د (بي بي سنګري خبرې او ځینې تاریخي لیکنې) تر عنوان لاندې د ناروي د هېواد څخه د خپرېدونکي درنې ملي جریدې د ۱۹۹۷م (۱۳۷۶ل)کال په ۱۷۹ او ۸۰ مه ګڼه کې خپره کړه او په هغه مضمون کې مې ددې مطلب یادونه تازه کړه، چې دسقاو د زوی په هکله دده مېرمن بي بي سنګري خبرې د حبیب الله کلکاني په اړوند هغه لیکنې غلطې ثابتوي

چې ځينو غيرپښتنو تاريخليکونکو د لاره وهونکي غل لپاره ديوه شخصيت تراشلو په مقصد ليکلي او خپرې کړي دي.

دحبيب الله کلکاني مېرمن (بي بي سنګري) په خپله ځانګړې لهجه يانې د کوهدامن د خلکو په لهجه د خپل مېړه نه داسې سرټکونه او شکايت وکړ:

" دحبيب الله د بدعملۍ په وجه به زه تل خپه او ناکراره وم او په کلي کې مې سر نه شو پورته کولی، ځکه چې مېړه مې خلکو ديو غل او داړه مار په نوم پېژانده چې حکومت يې تل د نيولو هڅه کوله، کومه شپه چې به په تياره کې هغه کورته راغی، نو مابه ډېر ملامته کولو او تل به مې ورسره لفظي شخړه درلودله.

مابه له هغه نه همدا غوښتنه کوله. چې دغلا او بدو عملونو نه لاس په سر شي او خپل کورته حلاله ډوډۍ راوړي. خلکو به ماته د لاره وهونکي حبيب الله په سترګو کتل او هر چا ته مې سر ښکته و، ليکن زما خبرو په حبيب الله باندې هېڅ اغېزه نه کوله. د کلي خلکو د خپل جومات د ملا نه غوښتنه وکړه چې حبيب الله د غلا او داړه مارۍ نه منع کړي، خو هغه يوازې د خپلو بدعملو ملګرو او دوستانو لکه ملك محسن او سيدحسين او د خپل ورور حميدالله خبرې اورېدلې اوبس.

بي بي سنګري د بي بي سي دخبريال ظاهر تنين سره په مرکه کې وويل: زموږ د کلي ټول خلك غريب دي ليکن په پت او عزت ژوند کوي او حلاله ډوډۍ خوري. ته ولې شپه او ورځ په حرامو پسې ورك يې او له شرم نه چا سره مخ کېدی نه شې، زه هم چاته په هسکه غاړه او زغرده نه شم کتلای، دا څه ژوند دی چې زموږ په برخه شوی دی..؟

باور دی چې د سقاو د زوی دمېرمنې دا خبرې به په هغه ورځ له بي بي سي نه ډېرو خلکو اورېدلې وي. مېرمن سنګري چې د خپل مېړه

کوم انځور وړاندې کړی دی، هغه د شمالي د هر اوسېدونکي ملي او اسلامي احساس ټپي کوي او افغاني غرور ته يې صدمه رسوي.

د افغانستان ټول ورونه قومونه دا خبره ډېره خواشينوونکې بولي چې څنګه د ځينو پېژندل شويو روحانيونو له خوا داسې يو سړي ته د (خادم دين رسول الله) لقب ورکړل شوی و، چې هغه خپلې کورنۍ ته هم خدمت نه و کړی او حلاله ډوډۍ يې کورته نه وه وړې او د پاك ځښتن د فرايضو په ادا کولو کې هم پاتې راغلی و.

خو زموږ د هېواد يو وتلي فارسي ژبي شاعر او اديب ديوه داسې سړي په ستاينه کې د (عياری ازخراسان) کتاب وليکلو چې خپلې ټولنې او ان چې خپلې مېرمنې او د کور کلي خلکو هغه رټلی او شړلی و او په نامه يې شرمېدل. دغه نوميالی شاعر او اديب استاد خليل الله خليلي چې د سقاو زوی په واکمنۍ کې د بلخ ولايت مستوفي او دېخواني پاچا محمدظاهر خان په واکمنۍ کې د پاچا مطبوعاتي سلاکار (مشاور) او د مطبوعاتو د مستقل رياست رئيس، په جده کې د افغانستان لوی سفيرو، پر ۱۹۵۰م کال يې د نيلاب په نوم ديوې اوونيزې د خپرولو امتياز واخيست او وروسته پر ۱۹۶۸م کال يانې د اساسي قانون په لسيزه کې د جبهه ملي په نوم يوه اوونيزه پرته له دې چې دچلولو مسئوليت يې پر غاړه واخلي په لاس کې لرله او خپل سياسي مقصدونه يې د هغې اوونيزې په واسطه پرمخ بيول.

پر ۱۹۲۵ _ ۱۹۵۳کال چې استاد خليلي د مطبوعاتو مستقل ريس و او په ولسي جرګه کې د ملي ژبې پښتو د رسمي کېدلو خبره راپورته شوې وه او د هېواد ورځپاڼو هم په هغه باره کې خپرونې کولې نو استاد خليلي د پښتو ژبې د رسمي کېدلو سره د مخالفت له کبله مطبوعاتو ته ليك ولېږه چې نور د ملي ژبې پښتو په اړوند خپرونې او ليکنې بندې کړي.

د استاد خليلي يو زوی (صفی الله خليلي) چې د استاد لـه لومړنی مېرمنـې څخـه او مـا سـره ( ددې کتـاب ليکـوال ) يـې نـږدې اړيکــې درلودلې. ماتـه ويلي وو چې زمـا نيـا ( د استـاد مـور) پـه خـټه صافـی پښتنـه وه او د هرات پخوانی والـي عبدالرحيـم خـان صـافی زمـا د پـلار (استـاد خليلي) مامـا کېده. لـه دې خبرې تـول خلك خبر وو چې استـاد خليلي لـوی پښتـون وزيرګل محمـد خـان تـه پـه ښه سترګه نـه کتـل او ددواړو ترمنځ اړيکي دوستانه نه وې.

دا عليحضرت امان الله خان پـه هکله هم استـاد ښه نظر نـه درلـود او لامـل يـې دا و چې استـاد پـلار مسـتوفی المـالك محمدحسـين خـان د اميرامـان الله خان پرضـد د يـوې توطيـې مشـرتوب پر غـاړه درلـود او پـه همدې تـور هغـه دپـاچا پـه حکـم پـه دار وځړول شـو. ښايـي چې استـاد خليلي د (عيـاری از خراسان) کتـاب چې خلکـو ورتـه د سقـاو نـامې نـوم ورکړی دی د اعليحضرت امان الله خان څخه د غچ اخيستلو په جذبه او د امان الله خان د راپرځوونکي په ستاينه کې کښلي وي.

سربېره پر دې د سقاو زوی لکه چـې پـه خپلـه استـاد ليکلـي دي ددوی کرونی سره نږدې اړيکـې درلـودې او د بزګری يـا باغبانـی دنـده يې پر مخ بيوله او سقاو هم وروسـتـه دبلـخ مسـتوفي وټاکلـو. ليکـن کورنـی او يـا دبـاداری او مـزدوری اړيکـي بـايد د تـاريخي حقيقـت د پټولـو وسـيله ونـه ګرځي او نـه هـم د ادبيـاتو پـه قـوت د غـل نـه اتـل جوړېدای شي.

د (عيـاری از خراسـان) کتـاب يــوه فانتــازي او تخيلـي بـڼه لـري او زياتې خبرې يې د تاريخي حقايقو سره سمون نه خوري، يو مورخ په دې اړوند ليکلي دي:

" داستان تاريخي که خليل الله خليلي با عنوان " عيارى از خراسان" نشـر نموده نيز نمی تواند مبنای تاريخ گردد زيرا مولف اسناد ومدارکش را ارايـه

نکرده و این هم توضیح نه شده که کدام قسمت از مطالب داستان است و کدام قسمت تاریخ"(۲۱۶)

استاد خلیل الله خان خلیلي په (عیاری ازخراسان) کې یوه ځانګړې موخه درلودلې او هغه دا چې دیوه پیژندل شوي او نوم بدي لاره وهونکي نه چې د غلا اوازه يې تر لرې لرې سیمو پورې رسېدلې د ادبي قریحې او استعداد په زور یو اتل جوړ کړي او د قلم په ځوکه يې ورته نوی شخصیت ورکړي داسې شخصیت چې د واقعیت له نړۍ سره يې هېڅ تعلق نه شته.

هغه حبیب الله کلکاني چې خپلو او پردیو يې په خپلو ځېړنیزو اثارو کې ځېره انځور کړې ده، د استاد خلیلي د عیاری از خراسان سره ژور توپیر لري. په عیاری از خراسان کې د سقاو کښل شوې ځېره هغه تصویر نه دی چې د افغان ولس په ذهن کې ځای لري او یا د حبیب الله نیازبینې میېرمنې (بي بي سنګري) په خپلو خبرو او یادونو کې هغه خلکو ته وړاندې کړی و. بلکې هغه تصویر یوازې د دهېواد د فارسي ژبې شاعر دایمي جینیش یا تخیل مخلوق دی.

هغه سقاو زاده چې په خپل وخت او زمان یانې د پاچاهۍ نه مخکې شمال وال يې له نامه شرمېدل او هغه يې د تاجك دشریف قوم پورې له تړاو یا منسوبیت نه بې برخې پیژندلو او ان چې خپله مېرمنې او کورنۍ وربانديې سرټېټي و استاد خلیلي په دې ډول ستاینه کوي:

" در مساجد برای فیروزی دعا کردند و اورا خادم دین نامیدند، زنان سالخورده نذر ها به خاطر کامیابیش به گردن گرفتند و درهر درخت کهن که بر فراز قبر شهیدی بود. نخ بستند البته وی از میانه مردم خود بود و قهرمان مردم. این ضرب المثل باستانی در مورد وی صادق امد که " اوازه خلق نغاره خدا است" (۲۱۷)

دفارسي ژبې دغه وتلي شاعر چې ځان شمالي وال تاجك بولي لاره وهونكي سقاو زاده د كراماتو خاوند هم معرفي كوي او ليكي:

" ديگر كارهاى وى جز افسانه ها شده بود، در اطراف قهرمانيسهاى وى سخن ها تراشيدند وخواب ها ديدند اواز در انداختند كه از تفنگ وى اواز حق ودين ميايد، او مظهر كرامات است، دامن خود را ازنان مملو ميكند هر قدر به مردم بخش ميكند. همان يک دامن نان تمان نميشود، يک دامن كارتوس را به صدها رفيق خود مى دهد اما هنوز دامنش پر ميباشد."(۲۱۸)

د استاد خليلي توكمي او قومي تعصب ددوى د عقل په سترگو پرده غوړولې او ناسمې يې له ذهن څخه د له قلم خولې دكاغذ پرمخ راتويې كړي دي، دغل او لاره وهونكي حبيب الله كلكاني په حق كې د پېرزوينې او دوستۍ او د امير امان الله خان غازي په هكله د سپكاوي او زړه بداوي نظر داسې وړاندې كوي:

" چرا افراد يک دودمان هميشه قدرتها را به دست دارند و طبقه عوام كور كورانه، محكوم امر ونهى انهاست ؟ اين سو برهنه پاى مظلومى از عمق توده ها برخاسته و ان سو عمال حكومت است، يعنى كسانى كه باخون توده ها بازى كرده اند، اين سو تائيد اسمانيست كه بيسوادى، فقيرى، گمنامى، برهنه پايى در هر ميدان مظفر و فاتح ميسازد و ان سو بركگشت خداونديست كه ارباب قدرت و ثروت با اسلحه و تجهيزات هرجا در برابر وى منهزم و مغلوب ميگردند."(۲۱۹)

د زياتې حيرانتيا ځاى دادى چې په عيارى از خراسان كې له دې حقيقت نه هم انكار شوى دى چې د سقاو زوى سره انگرېزانو مرسته كړې او هغه يې واكمنۍ ته رسولى دى، يا د ۱۳۰۷ كال سقاوي

انقلاب د برتانوي هند د مامورینو د هڅو او دسیسو پایله وه.وګورئ دغه لاندې کرښې:

" اینکه میگویند خادم دین رسول الله یا مردم شجاع و متدین کوهدامن کوهستان، پنجشیر وملحقات ان یا قومی از اقوام افغانستان بـه تحریک انگلیسها در مقابل حکومت امانیه قیام و انقلاب کرده اند یک افترا وتهمت و بهتان محض است"(۲۲۰)

استاد خلیلي په عیاری ازخراسان کې د توکمي او سکتاریستي احساس تر اغېزې لاندې دومره لار ورکی شوی دی چې دسقاو زوی حبیب الله د بې سوادۍ د توجیه کولوپاره یو ناسم او بې ځایه مثال راوړي او یو غل او لاره وهونکی دپاك څښتن د پیغمبر حضرت رسول اکرم ﷺ سره په یوه سترګه ویني او د سترګې ګناه او خطا مرتکب کېږي، خلیل الله خلیلي د سقاو زوی نالوستی په دې غلط مثال پټوي. دی لیکي:

" درجواب انانی که بربیسوادی حبیب الله انتقاد میکردند، دوستانش میگفتند، سواد شرط امارت نیست و حضرت پیامبر مظهر اسلام را مثال می اوردند."(۲۲۱)

د استاد خلیلي په عیاری از خراسان کې د غل نه د اتل جوړولو هڅې نه یوازې ناکامې ثابتې شوې، بلکې د لیکوال شخصیت او پوهه دواړه یې تر پوښتنې لاندې راوستي دي. استاد په تاریخ کې د پرتو حقایقو نه سترګې پټې کړي او له موزو سره په اوبو کې ګډ شوی دی. د ځان نه جوړو کړو دروغو ته یې د رښتینولۍ د جامې اغوستلو هڅه کړې ده چې دلته یې یوه کوچنۍ بېلګه وړاندې کوو:

استاد خلیل الله خان خلیلي په عیاری از خراسان کې څو ځایه ددې خبرې ذکر راوړی دی. چې دسقاو زوی حبیب الله ته ګواکی ولس د "

خادم دين رسول الله " لقب ورکړی و او خلکو هغه په دې نامه یاداوه. لیکن دا د تاریخ سره هېڅ سمون نه خوري او حقیقت بل ډول دی. حقیقت دادی چې کله د تګاب اخوندزاده حمیدالله، محمدصادق المجددي، سردارمحمدعثمان خان د سقاو زوی په سر د امیری پټکی وتړلو نو په همغه وخت کې حبیب الله د خادم دین رسول الله په لقب یاد کړی شو او دغه مطلب د حبیب الاسلام له جریدې نه نیولی تولو تاریخلیکونکو په همدې ډول لیکلی دی.

د شمالي شریف خلك د سقاو د زوی له بدو اعمالو شرمېدل او حبیب الله هم کلونه کلونه د تېښتې او فرار په حالت کې و او خپل کلي ته د خلکو له وېرې نه شو راتلای چې څوك یې حکومت ته د راتلو خبر ورنه کړي.

زیات وختونه یې په ازادو قبایلو او د پښتونخوا په مرکز پېښور ښار کې تېر کړی و او انګرېز لارنس ورسره په همغه ځای کې لیدل کتل وکړل او د اعلیحضرت امان الله خان پرخلاف یې د استعمالولو لپاره په پام کې ونیولو. نو هغه غل ته څنګه خلکو د خادم دین رسول الله لقب ورکړ.

دویمه دا چې سقاو زاده خپل ولس ته کوم نیك او ګټور خدمتونه کړي وو چې د هغو له مخې یې په خلکو کې تر دې اندازې پورې محبوبیت موندلی و چې دومره ستر لقب یې ورکړ.

امیر عبدالرحمن خان ته دضیاء الملت والدین او امیر حبیب الله خان ته د سراج الملت والدین لقبونه خو هم هغوی ته د خلکو له نه وو ورکړل شوي اود خلکو د ارادې ښکارندوی نه وو. په دې حالت کې خلیل الله خلیلي څنګه دعوه کوي چې لاره وهونکي حبیب الله ته دخادم دین رسول الله لقب د نوموړي لپاره د خلکو ډالۍ وه او بیا چې وروسته ورځخه پاچاهي محمدنادرخان واخیستله ولې د سقاو د زوی یا خادم

دین رسول الله هغو معجزو کار ورنه کړ، چې خلیل الله خلیلي یې په هغه غل پورې تړې او د خلکو له خولې یې لیکلي وو چې :از تفنگ وی اواز حق ودین میاید" او مظهر کرامات است" و" دامن خود را از نان مملو میکند هر قدر به مردم بخش میکند ،همان یك دامن نان تمام نمیشود ، یك دامن کارتوس را به صدها رفیق خود میدهد اما هنوز دامنش پرمیباشد"

د فارسي ادب یو نومیالی استاد تش په دې تعصب چې د سقاو زوی دده په سیمې او قوم پورې تړاو لري او یا د امیرامان الله خان کینه یې په زړه کې پرته ده دغه هڅه کړې ده چې د هغه نه یوخیالي او غیر حقیقي اتل جوړ کړي او په پښتون قام باندې دغه نیوکه وکړي چې " چرا افراد یك دودمان همیشه قدرت ها را بدست دارند و طبقه عوام کور کورانه محکوم امر ونهی انهاست؟"

مورخ غبار د استاد خلیلي سره په دې ټکي باندې مخالف دی چې خلیلي وایي حبیب الله ته خلکو د خادم دین رسول الله لقب ورکړی و، بلکې دغه لقب لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه تش د دوه یا درېیو تنو روحانیونو له خوا د پاچاهی په لومړیو ورځو کې ورکړل شو او بیا هماغو کسانو ورباندې وطن ته د غدار، خاین او غل فتوا ولګوله. غبار وایي:

" کسانیکه که تقریباً پنج ماه از بچه سقاو جداً حمایت و اورا به صفت "خادم دین رسول الله" به جامعه معرفی مینمودند اینک همه متحد القول اورا یک دزد غدار و دشمن افغانستان می نامیدند"(۲۲۲)

خلیل الله خلیلي چې خپله استادي یې دیوه لاره وهونکي غل نه ددفاع په لاره کې داو کړې ده، په دې کې پاتې راغلی چې یو غل د اتل په نوم د افغانستان خلکو او په تېره بیا افغان روڼ اندو او هېواد مینو

ته ور وپیژني، استاد خلیلي زړه او فکر ته راویستلي خبرې چې ادیبانه او مودبانه رنګ لري نالوستي لاړه وهونکي ته منسوب کړي دي او هڅه یې کړې ده چې د غل سقاو زوی د افغانانو نوي توك ته یو اتل ور وپیژني او تاجك ورونو ته قناعت ورکړي، چې حبیب الله یو ولسي شخصیت او په خدای او رسول او خلکو باندي مین سړی و او په دې ډول یې په خپلې ادبي قریحې او استعداد یو نوی بچه سقاو زېږولی دی

استاد خلیل الله خلیلي داسې حبیب الله کلکاني نړی ته راوړی دی. چې د کراماتوخاوند هم دی او په خبرو کې هم له پاچاهانو کم نه دی، د ولس سیاسي او ټولنیز نبض هم ډېر ښه پېژني او د لوړې حوصلې صبر او زغم خاوند هم دی. ځوانمرد او عیار دی او د سردښمنان هم معاف کولی شي او په دې ډول استاد په بې پروایی سره تاریخي حقایق تحریف کړي دي.

د "عیاری از خراسان" کتاب د هغې ډلې کسانو له خوا چاپ او خپور شو چې د ازادی په جریده کې یې د پښتنو پر ضد دریځ غوره کړی و، د ازادی په نوم جریده پر ۱۳۷۰کال د غلام غیرت له خوا خپرېدله چې د ملي ستم د ډلې سره یې تړاو درلود. لیکن د ازادی جریده له دې کبله چې لیکنې یې د ملي ګټو خلاف وې ډېر ژر د حکومت له خوا وتړل شوه او غلام سخي غیرت وروسته په مسکو کی د برهان الدین رباني دسفارت سکرتر وټاکل شو او له هغه ځای نه یې هم د پښتنو پر ضد خپل فعالیت جاري وساتلو. دی د سازاد مارکسستي ډلې غړی و

هماغسې چې د سقاو زوی ټول عمده او مهم وزیران د شمالي تاجکو قوم څخه و. پښتو ژبې هم په سقاوي حکومت کې کوم اهمیت نه درلود. د حبیب الاسلام اخبار مولانا برهان الدین کشککي چلاوه.

لیکن د مولانا قلم تل فارسي لیکنې کولې که څه په خپله ننګرهاري پښتون پېژندل کېده او په دیني پوهنو کې یې لوی لاس درلود ، زوی یې صباح الدین کشککي د صدراعظم موسی شفیق د اطلاعاتو او کلتور وزیر و.

مولانا د "نادرافغان" د کتاب لیکونکی هم دی چې هغه یې په دري ژبه کښلی او د "سیرت النبي" کتاب یې په همدې ژبه ژباړلی دی. دی د محمدظاهر خان په وخت کې د اصلاح د ورځپاڼې چلوونکی هم و، چې په اخبار کې یې دري برخې فارسي او یوه برخه پښتو وه.

د نهه میاشتنی سقاو سالارۍ پر مهال پښتانه او پښتو ژبه د ډېرو سختو شرایطو او ستونزو سره مخامخ شول، لیکن ویښ او په هېواد مین پښتانه لاس تر زنې پاتې نه شول او دسقاو سالارۍ پر خلاف یې خپله مبارزه د قلم په څوکه پیل کړه.

یوې ډلې نومیالیو پښتنو په ننګرهار کې د " دکورغم" ترنامه لاندې یوه جریده راوویستله. وایي چې د کور غم په خپرونه کې ځینو نورو انقلابي پښتنو لکه سیدحیدرپاچا او وزیر محمدګل خان مومند هم لیکنې کړې دي اودوی د پښتنو په استازیتوب د قلم او عمل له لارې د سقاو سالارۍ پرضد خپله مبارزه پیل کړې وه.

ما په خپله ( ددې کتاب لیکوال) دخدای بښلي محمدګل خان مومند له خولې دا خبره هم اورېدلي چې مولانا برهان الدین کشککي په حبیب الاسلام کې د اعلیحضرت امان الله خان غازي پسې بد ویل څکه خو پښتنو هم دهغه اخبار سره مقاطعه کړې وه او هر چېرې یې د هغه خلاف خبرې کولې. ترڅو چې دغه ساحه ورځ په ورځ پراخه او په یوه مبارزه بدله شوه. لوی پښتون محمدګل خان مومند دا خبرې د پښتو ټولنې د مشرپوهاند صدیق الله خان رښتین په دفتر کې کولې چې د پښتو ښوونکی عبدالعزیز خان خاوري هم ناست و، چې د وزیر

صاحب سره يې نږدې اړيکي د سقاو سالارۍ پر ضد د پښتنو مبارزې چې فرهنګ ورته زياتې اشارې کړي په څرګنده توګه په دې ټکي پورې وتړل شوې چې ګواکي امان الله خان يو پښتون او د سقاو زوی حبيب الله په قوم تاجك او دغه ډول شننه زياته غيرپښتنو کړې ده، چې دلته مورې يوازې د صديق فرهنګ يادونه وکړه او له نورو څخه تېرشو.

په دې ډول پښتنو ډېر ژر په سقاو سالارۍ د خپل برخليك د بدلولو لپاره قدم پورته کړ او پرې يې نښود چې حبيب الله خپل يو کال پوره کړي. پېرنګيانو هم هغه څه چې غوښتل د سقاو د زوی په وجود کې ونه شو موندلی او له بلې خوا يې د پښتنو د مبارزې جاج هم اخيستی و، نو حاضر نه شول چې د پښتنو په مخالفت کې د حبيب الله کلکاني په ملاتړ ودرېږي. په تېره بيا چې ليدل يې د اميرامان الله خان په لرې کولو سره خپلې موخې او مقصد ته هم رسېدلي دي

انګرېزان هوښيار خلك وو او پوهېدل چې که د پښتنو پر وړاندې د سقاو ملاتړ ته ور ودانګي نو دغه کار کېدلی شي د پښتنو پېرنګيانو په څلورم جنګ بدل شي او دغه جګړه ښايي د پخوا په څېر د انګرېزانو په مرګ ژوبله تمامه شي، چې دغه عمل د برتانوي هند د حکومت له پامه نه يوازې سم کار نه ښکارېده بلکې د هغوی د سياسي ګټو سره په تضاد کې و.

نور هغه روحانيون چې له يو غل نه يې خادم دين رسول الله جوړ کړی و هم د سقاو د ناپوهۍ او بې سوادۍ له امله تر پوزې راغلي وو او له خپلې کړنې نه سخت پښيمانه شوي وو. په تېره بيا د تګاب اخوندزاده حميدالله چې اعليحضرت امان الله خان ورته د (نورالمشايخ) دروند لقب هم ورکړی و.

دهغوی لپاره حبيب الله کلکاني هغه حبيب الله نه و چې د خليل الله خليلي په غلطه د هغه انځور په عياری از خراسان کښلی وي، بلکې

هغوی د سقاو زوی د نړدې سلاکارانو او دوستانو په توګه له ډېر نږدې نه کتل چې حبیب الله په هېڅ وجه د پاچاهۍ جوګه نه دی او کړه وړه، کردار او اخلاقي کمزورتیا یې د پاچاهۍ سره سمون نه خوري. په دې ډول د سقاوي حکومت یا سقاو سالارۍ د ړنګېدو او له منځه تللو ورځې په چټکۍ رانږدې کېدلې او پښتانه هم اوس په ښکاره د هغه پر ضد د تودې مبارزې ډګر ته راوتلي وو.

د حبیب الله خپل قوم په دومره اوبو کې نه و، چې هغه دې د سقاو د زوی او د غلو د ډلې سالارۍ ته نجات ورکړی شي. بلکه دا چې شمالي والو په حبیب الله باندې ویاړ هم نه و کړی، چې نن یې د ژغورنې لپاره ځانونه قرباني کړي وای. ځکه د سقاو سالارۍ ننه میاشتې د افغانستان د خلکو لپاره د سوکالۍ او سرلوړۍ میاشتې نه وې او نه سقاویانو د ولس او تاریخي افغانستان لپاره کوم د ویاړنې ډک خدمت سرته رسولی و.

# د پښتنو په لاس د سقاو سالارۍ ړنګېدل

د سقاوزاده پر ضد تر ټولو مخکې پښتنو سر را اوچت کړ او ددې لامل اهم دا و. چې پښتانه د اعلیحضرت امان الله خان په لرې کېدو او د افغانستان په تاج او تخت باندې دیوه لاره وهونکي او بدنام غل قبضه باندې ډېر سخت خفه شوي وو. که څه هم د پکتیا ځینو خال خال ورو قبیلو د حبیب الله پلوي ښکاره کړې وه او د هغه په ملاتړ ودرېدلي وو. لیکن د پښتنو سترو قومونو لکه وزیرو، مسیدو، دوړو، تڼیو، منګلو، ځدراڼو، ځاځیو، سلیمانخېلو، مومندو، احمدزیو او نورو د سقاو زوی په راتلو خفګان ښکاره کړی و او دیوه غل تر حکم او فرمان لاندې پاتې کېدل ورته بې غیرتي او د پښتني قانون له مخې بې ننګي ښکاره کېدله

د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې او د هېواد دنجات یا د سقاو سالارۍ نه د ګران افغانستان د ژغورنې یو نومیالی قوماندان او ملي اتل جرنیل یارمحمد خان وزیري په خپلو تاریخي یادښتونو کې په دې اړوند داسې وايي:

"ما چې عزم او اراده کړې وه چې افغانستان او خپل ولس ته به د حبیب الله له فتنې څخه نجات ورکوم او د وزیرستان ننګیالیو په همت او افغاني ننګ مې د ۱۳۰۸ل کال د حمل دمیاشتې د څلورمې نېټې څخه د حبیب الله او د هغه د پلویانو بشپړې مقابلې او اطاعت نه کولو ملاتړلې وه.

په شاه جوی کې مې د امان الله استازو ته وعده ورکړې وه، چې د سلطنت د اعادې لپاره به د وزیري او مسودي جنګیالیو لښکر د جګړې په محاذ کې حاضروم. نودا راته عار او شرم ښکارېده چې د امکاناتو په درلودلو سره د فتنې په خاموشولو کې برخه وانخلم او یا

دیوه سارق او د تاج او تخت د غاصب د حکم چلولو پر وړاندې ارام و اوسم"(۲۲۳)

په دې دول پښتنو د سقاو بچه د رانسکورولو لپاره خپل هوډ اعلان کړ او د سقاو سالارۍ د له منځه وړلو تکل یې د عمل په ډګر کې پلی کړ.

هغو خلکو چې دحبیب الله پاچاهي په حقیقت کې د پښتنو ددوه سوه کلنۍ واکمنۍ خاتمه او د خلیل الله خلیلي په وینا دیوه دودمان پورې د تړلو واکدارانو پای ګڼلې وه، ډېر ژر یې د خپلې غلطې اندازې اولنډ فکرۍ تصدیق وکړ او د افغانستان نه د پښتنو ددفاع نوې بېلګې یې د سر په سترګو ولیدې. هغه ډله پښتانه چې خپلې شخصي ګټې ورته له ملي ګټو زیاتې ارزښتمنې ښکارېدلې او د ذاتي موخو او مقصدونو له مخې د سقاو دربار ته سلامي شوي هم وو په خپله سهوه باندې پوه شول او د خپل وجدان پر وړاندې د شرم او خجالت احساس یې وکړ.

دیوه داسې لاره وهونکي د واکمنۍ نه دفاع چې په خپله لومړنۍ تاریخي وینا کې یې خلك مړزانو او چرګانو جنګولو او عیش کولو ته رابللي وو په رښتیا چې شرمناك کارګڼل کېدلو. غیر پښتنو قومونو لکه تاجکو، ازبکو، ترکمنو، هزاره و او نورو دا خبره یو عارګڼلو چې دوه سوه کاله وروسته په هغو کې یو پاچا راپیدا شو چې د غل او لاره وهونکي په نوم مشهور شوی و او لیك لوست یې هم نه و زده.

سربېره پر دې په قومي لحاظ هم د ځواك خاوند نه شو پېژندل کېدی. ځکه خو یې کابینه د هغو کسانو نه جوړه وه چې دده د کلي او باندې اوسېدونکي او ټول په قوم تاجك وو. په هغو کې یو تن هم ازبك، هزاره او ترکمن نه لیدل کېده په داسې حال کې چې پښتنو واکمنو د ستر احمدشاه بابا نه نیولې تر امیرحبیب الله خان او اعلیحضرت امان

الله خان او ان چې دمحمد نادرخان، محمدظاهرخان، سردارمحمدداود خان او ډاکټر نجیب الله احمدزي پورې د هېواد د ټولو قومونو ته په خپلې واکمنۍ کې پوره ونډه ورکړې وه.

د پښتنو په واکمنۍ کې تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، نورستاني، پشه یې ټول د عزت او قدر وړ پېژندل شوي وو او تر جنرالیو او وزارتونو پورې مقامونه اوځوکۍ ورته ورکړل شوي دي او ارام او سوکاله ژوند یې درلود. فارسي ژبه هم رسمي او هم درباري ژبه وه او شعیه مذهبو او قزلباشو خپل خپل امتیازونه درلودل.

حبیب الله سقاو زاده د پښتنو واکمنو په مخالف لوري کې ودرېد، پښتانه او ددوی ژبه یې د نورو په لمسون پردي وپېژندل او د خپل حکومت دروازې یې ورباندې وتړلې، چې دا په حقیقت کې ډېره لویه تېروتنه او غټه ناپوهي ثابته شوه.

سقاویانو دا په خوب کې هم نه شو لیدلی چې ګني پښتانه په ډېر ژر د هغوی د واکمنۍ پر ضد راپاڅېږي او د سقاوي د سالارۍ د نسکورولو ویاړ به هم ددوی په برخه کېږي لکه د خپلواکۍ ګټلو تاریخي ویاړ.

دسقاوي داړه مارانو د حکومت پر ضد د پښتنو لومړنۍ پوځي عملیات په بري سره سرته ورسېدل او په ارګون کې سقاوي ځواکونو ته سخته ماتې ورکړل شوه او مخ پر وړاندې د کابل پر لور د روانېدلو پرېکړه وشوه او په دې ډول د سقاو سالارۍ په خوسا پیکر باندې د مرګوني ګوزارونو لړۍ د پښتنو له خوا پیل شوه. جرنیل یارمحمد خان وزیر په دې اړوند لیکي:

" کله چې موږ د ارګون نظامي کلا د حبیب الله د پلویانو نه د ۱۳۰۸ ل کال د جوزا د میاشتې په شلمه ونیوله او د ارګون جبهه خانه زموږ په لاس کېوتله نو مې د لوګر او کلنګار د اوسېدونکي حاجي

نواب کاکا د زوی فیض محمد په لاس محمد نادر خان ته چې په ځانګو کې اوسېده لیك ولېږه او ورته څرګنده مې کړه چې زما تر قیادت او قوماندې لاندې د وزیرستان ننګیالیو د اورګون کلا د حبیب الله د ملګرو نه ترلاسه کړه. اوس د وزیرو او مسودو د قومونو او قبیلو مېړني مشران او سرتېري لښکریان دې لره تیار دي چې د اعلیحضرت امان الله خان د بیا راوستلو لپاره ستا او ستا د ملګرو سره په ګډه د کابل پر لور حرکت وکړي، خو متاسفانه چې د سپه سالار محمدنادرخان له لوري زما د لېږل شوي لیك ځواب په ټپ رانغی، نو همغه وو چې له څه انتظار ویستلو نه وروسته مونږ د لښکر مشرانو په خپل منځي جرګه کې په اتفاق او اتحاد سره داسې فیصله او پرېکړه وکړه چې له پوره تیاري نه وروسته به په نږدې وخت کې د کابل پر لور حرکت کوو."(۲۲۴)

زه دلته دغه مجبوریت احساسوم چې ددې کتاب د حجم د زیاتېدو د مخنیو په خاطر د تاریخي پېښو جریان په ډېر لنډیز سره وړاندې کړم، هیله لرم قدرمن لوستونکي مې ګرم ونه بولي.

دپام وړ مهمه خبره داده چې پښتنو پټېلې وه او هوډ یې کړی و، چې په هېواد کې به د غلو د واکدارۍ تخته اړوي او دغه غلط تصور به له منځه وړي چې پښتانه نور د واکمنۍ د بېرته لاس ته راوړلو جوګه نه دي. وروستیو پېښو وښودله چې پښتنو د افغانستان د خپلواکۍ ویاړ ګټلی دی. نو د هېواد د ژغورنې یا نجات وس هم ورسره شته دی.

د سقاو سالارۍ د نسکورولو او ړنګولو ویاړ هم د پښتنو په برخه شو او ننګیالي پښتانه د محمدنادرخان له ګډون پرته د پرله پسې سوبو او بریاوو نه وروسته د کابل ښار په دروازو ورننوتل او شاهي ارګ یې کلابند کړ. ځکه چې پښتنو غوښتل غاصب حبیب الله کلکانی ژوندی

ونیسي او د کابل په لوی چوك کې یې په دار وځړوي او د کړو وړنو او قتلونو سزا ورته ورکړي.
دکابل ښار ته د ننوتلو او د شاهي ارګ د کلابند کولو په وخت کې محمدنادرخان لا په پکتیا کې پاتې و او د ځان لپاره یې ملاتړي موندل. سردارشاولیخان په چهلستون کې و او سردار شاه محمود خان هم د ارګ په کلابندۍ کې د پښتنو جنګیالیو په مورچلونو کې نه و.
پښتنو چې سردار محمدنادرخان ته خپل مقصد او د کابل د نیولو او سقاو سالارۍ د ختمولو لپاره خپله موخه بیان کړه چې غواړي اعلیحضرت امان الله خان غازي بېرته دپاچاهۍ مقام ته ورسوي، نو محمدنادرخان د پښتنو جنګیالیو سره د کابل ښار په نیولو کې برخه وانخیستله. بلکې د ځان لپاره یې دپکتیا د ځینو قومونو د ملاتړ هڅه کوله او ددې نه سرۍ پوهېدی شي چې په هماغه لومړیو شپېو کې محمدنادرخان د خپلې پاچاهۍ اندېښنې اخیستی و.
هغوی شپږ میاشتې په پکتیا کې تېرې کړې وې، لیکن دیوه پیاوړي لښکر په جوړولو کې پاتې راغلي وو، د پکتیا خلکو ځینې غوښتنې درلودې او محمدنادرخان نه شو کولای هغوی ته قناعت ورکړي.
دشاهي ارګ د کلابندۍ د ادارې قومانده لکه جرنیل یارمحمدوزیر چې لیکلي ددې لاندې پښتنو قوماندانانو په لاس کې و، یارمحمدخان جرنیل وزیر. انګورخان، دلباز خان، شیرمحمدخان. شیرخان تنی، شادین خېل خان دوړ، ملك ګل محمدخان او ملك ډنډخان.
له بلې خوا په ننګرهار کې هم دیوه جلا پلان له مخې یو شمېر وتلو پښتنو شخصیتونو لکه روحاني مشرملاصاحب چکنور، پاچاګل خان، محمدګل خان مومند. سیدحسن خان پاچا دکونړ، په هغه مهال کې یې

د کنډك مشري په رتبه دنده درلوده. میرزا پاینده محمدخان، حبیب الله خان پاچا، سیداحمدخان پاچا، سیدعبدالحمیدپاچا، فرقه مشرخان زمانخان، محمدامین خان، عبدالرازق خان، او نور د سقاو سالارۍ د ړنګولو په مقصد د محمدنادرخان سره په پکتیا کې او محمدهاشم خان سردار سره په ننګرهار کې اړیکي نیولې وې. دغو مشرانو په ننګرهار کې د شینوارو، مومندو، رودات او چپرهار د استازو سره په یوه لویه جرګه ګډون وکړ. د محمدګل خان مومند په مشرتابه یې یو پلاوی پکتیا ته واستولو چې د سقاوي حکومت په ضد یوه شریکه تلواله منځته راوړي، ترڅو د پکتیا او ننګرهار د تلوالو په منځ کې د جګړه ییز فعالیت لپاره یووالی راولي.

محمدګل خان مومند په پکتیا کې د محمدنادرخان سره ولیدل او ننګرهار ته د بېرته وروسته دنده ورکړل شوه چې د خوګیانیو د جنګي ځوانانو سره په کابل کې د چکري د منار تر سیمې پورې مارش وکړي."(۲۲۵)

په دې وخت کې اپریدو هم د سقاو پرضد د یرغل اعلان وکړ او سیدانورپاچا د اپریدو د استازي په توګه دغه خبر سردارمحمدهاشم خان او محمدګل خان مومند ته چې د نادرخان سره د لیدنې او خبرو نه بېرته راګرځېدلی وتیزین ته واستوي."(۲۲۶)

مورخ غبار په همدې اړوند وړاندې لیکي:

" شاه محمود خان درین خصوص درمکتوب ۵ ربیع الثانی ۱۳۴۸قمری از حاجی به کتواز به نورالمشایخ چنین نوشت:

.... از مشرقی (ننگرهار) هم قوت زیاد مهمند، افریدی، خوگیانی، سرخرودی و شینواری حرکت کرده و درین دوسه روز به حدود کابل حمله خواهند کرد...

از طرف وزیرستان هم لشکر زیاد روانه شده ده هزار ان بـــه چـــهاونی خوست رسیده و باقی هم میرسند، اضافه از بیست هزار لشکر تهیه کـــرده اند.. درین وقت از طرف سلیمانخیل ها اگر یک حرکت کرده شود همـــه کار خوب میشود..."(۲۲۷)

دتاریخ دغه پاڼي ددې څلانده حقیقت څرګندوی دي چې د سقویانو د ړپرځولو لپاره ټولې هیلې په پښتنو پورې تړل شوې وې او بل هېڅ یو قوم په دې تاریخي غورځنګ کې ددوی سره شریك نه وو او حبیب الله کلکاني د پښتنو سره مخامخ و

## د سقاو زوی او دپښتنو څخه د ښني غوښتنه

مخکې دې ټکي ته لنډه اشاره وشوه چې محمدنادرخان لا په پکيتا کې د جنګياليو د راټولولو کار سر ته نه و رسولی. چې د وزيرستان وزيرو او مسودو د پکتيا د پښتنو او د ننګرهار قوتونو سره يو ځای د کابل ښار ته په ورننوتلو او د سقاوي ځواکونو په ماتولو بريالي شول او ارګ هم د پښتنو له خوا سخت کلا بند شو.

نوره د حبيب الله کلکاني څخه چې دسقاو سالارۍ مشر و دتېښتې لاره ورکه وه. نوموړي دځان بچولو په خاطر د پښتني دود او دستور پر خلاف يو ناځوانمردانه کار ته هم لاس واچولو او د شاهي کورنۍ ځينې زنانه او ماشومان يې دځان سره برمته کړل چې دغه عمل يې د افغانيت د اصولو نه ښځي مخالف و، خو هغه ددغو اصولو پابند نه و.

دسقاو زوی او ملګرو يې خوب هم نه شو ليدلی چې دومره ډېر ژر به يې دواکمنۍ تغر ټولېږي او پښتانه به دغه کورنۍ جګړه هم ګټي. دا وخت هغوی جلا جلا او په بې سرو ساماني سره د ځان ژغورنې هڅې کولې. د برتانيې سفارت ته هم هغوی او په تېره بيا حبيب الله کوم اميد نه شوکولی او د پرون ورځې ملګرو روحانيونو هم له هغوی مخ اړولی و د سقاو زوی او ځينو ملګرو کلابندۍ کافي وخت ونيو او حبيب الله پوره باوري شوی و. چې دهغه لپاره د نجات کومه لار پاتې نه ده، نو د ژوندي پاتې کېدو لپاره يې د پښتنو څخه د ښنې غوښتلو تکل وکړ او دغه احوال يې د يو څو تنو په لاس پښتنو قوماندانانو ته چې ارګ يې کلابند کړی و ور واستولو. ليکن پښتنو مشرانو د حبيب الله کلکاني غوښتنه په کلکه رد کړه، ترڅو سردارشاه وليخان د خپلې کورنۍ د

غړو د ژغورنې په خاطر پښتنو قوماندانانو سره ولیدل او په موضوع یې ورسره خبرې وکړې او د مسلې حل یې وغوښت.

نومیالي پښتون جرنیل یارمحمدخان وزیري چې د نورو زړورو پښتنو قوماندانانو د ارګ د کلابندۍ قومانده اوځارنه په لاس کې درلوده او د حبیب الله کلکاني د ښځنې غوښتنه یې هم نه وه منلې او د سقاوي حکومت د مشر د نیولو هوډ یې کړی و. په دې اړوند داسې رڼا اچوي او دیوه تاریخي مطلب حقیقت بیانوي دی لیکي:

" د ۱۳۰۸ل کال د میزان د میاشتې د شلمې نېټې سپیده چاود و، چې زموږ د بریدو وخت او نېټه لا نه وه رارسېدلې. د میزان دنولسمې په ماسخوتن چې نهه بجې وې حضرت اغاګل مجددي چې د حضرت صاحب نورالمشایخ مجددي ورور و، د دوو نورو ملایانو په ملتیا حبیب الله او د هغه خپلخانې ته د سر د امن د غوښتلو په درخواست زموږ سنګرونو ته راغلل. هغوی د ارګ څخه موږ تر مورچو پورې په موټر کې چې سپین بیرغ وربانديې په رپا و ورسېدل. د حضرت صاحب او د هغه دوو دیني علماوو مو زیات احترام او عزت وکړ، د هغوی سره تر معرفت وروسته چې حکمران سردار علیشاه خان یې هم ملګری و، د حبیب الله شفاهي پیغام موږ مشرانو لره ووایه.

د هغه ټول پیغام دا و، چې هغه باید په صحت او سلامت سره له ارګ نه ووځي او چېرې یې چې خوښه وي هلته باید ولاړ شي. د حبیب الله د همدې پیغام او پیشنهاد په اړه موږ حضرت صاحب اغاګل مجددي او ورسره ملګري هیئت ته وویل:

ښه د حبیب الله د پیشنهاداو غوښتنې په اړه به موږ د لښکر مشران په خپل منځ کې غونډه او جرګه وکړو او دخپلې فیصلې نتیجه به ستاسو جناب په لاس حبیب الله ته ولېږو.

د حبیب الله پیشنهاد او غوښتنې په اړوند موږ د لښکر مشرانو په هم هغه لحظه چې د شپې څه له پاسه نهه بجې وې خپل منځي جرګه وکړه او په دې اصل او اساسي غونډه کې چې دوطن د نجات اخیري ګینتې وې شېرمحمدخان وزیري فرقه مشر، انګورخان وزیر فرقه مشر، دلبازخان وزیر فرقه مشر، عبدالله جان وزیري غونډ مشر او شخصا ما (یارمحمد وزیري جرنیل) د وزیرو، مسودو، ټنیو او دوړو د جنګیالیو په وکالت زلمی خان منګل، زمرك خان ځدراڼ، محمدګل خان مومند، شاه ولیخان او شاه محمودخان ګډون درلود.

حضرت صاحب مجددي د مشرانو په همغه غونډه کې تر هرکس مخکې د وزیرو او مسودو د لښکر مشرانو رایه او نظریه وپوښتل. ځکه چې حضرت صاحب اغاګل مجددي ته پوره پته او معلومات و چې دکابل په فتح او د ارګ په محاصره کې زموږ د لښکرو برخه تر هرچا زیاته وه او هم یې دا درك او احساس کړی و، چې بې زموږ له موافقې حاصلولو څخه هیڅ هم نه کېږي. نو همغه و چې په جرګه کې د وزیرو د قوم بهادرو مشرانو د پرېکړې اختیارات ما ته راکړل او ما د وطن د نجات او حبیب الله ته د امن ورکولو په ارتباط د خان اود خپلو جنګیالیو نظریه په دې ټکو سره بیان کړه:

"جناب حضرت صاحب او معززو مشرانو! د هغه ورځې څخه چې حبیب الله د افغان تخت وتاج غصب کړی دی نو د همغې ورځې څخه بیا تردې شېبو پورې هغه رهزن اوسارق د افغانستان ملت ځورولی دی. کور پر کور یې نفاق او د ښمنۍ زېږولې دي. اعلیحضرت امان الله خان د همدې رهزن د بغاوت او قیام په نتیجه کې له ډېرې مجبورۍ د وطن پرېښودلو ته اړشو. که چېرې هغه وخت د حبیب الله هدف او مرام داو چې امان الله خان دې پر تخت نه وي. اعلیحضرت امان الله خان د افغانستان او ملت د مصالحو په خاطر تاج او تخت عنایت الله

خان معین السلطنه ته پرېښودې. خو ځرنګه چې حبیب الله د خپل بغاوت د پیل ځخه د تخت وتاج د غصب کولو خیال درلود، نو معین السلطنه یې هم درې ورځې ارام نه پرېښود. جنوبي مشرقي او کندهار هم دې سارق په کورنۍ جګړه بوخت کړی دی.

د شمالي پتمن افغان ولس هم د ملك محسن، سيد حسين او دده ځخه په تنګ دی. دا درې رهزنان هغه بیچاره او غریب خلك په جبر او اکراه سره د جنګ ډګر ته استوي، په ارګون، تنګي او محمداغه کې د هغه بیچاره خلکو ځخه یو زیات شمېر زمونږ اسیر شول او د یو زیات شمېر یې اولادونه یتیمان شول او مېرمنې یې کونډې شوې. دا ټوله د همدې رهزن او سارق له لاسه دي.

جناب حضرت صاحب! دحبیب الله د نهو میاشتو د سلطنت په موده کې د هغه ټول جنایتونه تر مونږ تاسو ته ښه معلوم او ځرګند دي او تاسو محترم په خپلو سترګو له نږدې مشاهده کړي دي. مونږ دا عزم او اراده کړې دی چې دا غصب شوی تخت وتاج به د حبیب الله ځخه د ټوپك د ګولۍ په زور اخلو او د الهي امانت په اصلي وارث او مالك ته سپارو اوس خدای پاك هغه ګینتې رارسولي دي، نو دا به ځنګه امکان ولري چې زمونږ د ملت قاتل ته امن ورکړو او یا په امن فرار وکړي؟

د شریعت هم دا حکم نه دی چې دملت قاتل ته دې ښنه او امن ورکړل شي، دهمدې قاتل دملګرو له لاسه یوازې دکابل په جګړه کې زما د لښکر ځخه په حساب دوه سوه لس کسان په شهادت رسېدلي دي او پنځوس سړي مې سخت ټپیان دي، اوس که ځوك زما د لښکر د مشرانو فیصله پوښتي، زمونږ فیصله خو همداده او مونږ دا نن پرېکړه وکړه چې د حبیب الله ځخه به قدرت په زوره اخلو او هلته په ارګ کې به یې لاس تړلی نیسو. د حبیب الله له لوري دا ستاسو معزز او خانداني هیئت رالېږل هم د هغه سارق یوه بله حیله ده. تاسو جناب

همدلته زمونږ سره اوسئ چې نن شپه مونږ ورسره خپل زور و ازمایو. خو بیا سبا یو بل رهزن او سارق د افغان تخت وتاج غصب نه کړي

انشاء الله چې دا دناجي لښکر جنګیالي به د لمر راختو سره حبیب الله او د هغه ملګري د ارګ څخه په زنځیر تړلی همدې جرګې ته حاضر کړي.

په هغه جرګه کې زما د وینا په وخت کې د غونډې ګډون کوونکي ټول مشران غلي او چوپ وو او کله چې زما وینا پای ته ورسېدله. مخکې لـه دې چې حضرت صاحب اغاګل مجددي دحبیب الله د امن غوښتلو د پیشنهاد په اړه د بل کوم مشر رایه او نظر وغواړي. سردار صاحب شاه ولیخان فوراً د حاضرو مشرانو څخه د څو کلیمو ویلو اجازه طلب کړه او په ډېره عاجزانه وینا سره یې مونږ مخاطب کړو

یارمحمد خان جرنیل صاحب هغه څه وویل چې زمونږ ټولو مشرانو د واحد زړه او فکر خبرې وې او س به مونږ حبیب الله سره په څه توګه جنګ وکړو. هغه په ارګ کې دی او زمونږ د کورنۍ نارینه او ښځینه غړي هغه څو ورځې مخکې په ارګ کې یرغمل کړي دي. زمونږ له لوري په حبیب الله باندې فشار زمونږ د کورنۍ د غړو ژوند په خطر کې اچوي. خو بیا هم د وطن د نجات په هیله تاسو د قوم مشرانو چې هرڅه پریکړه وکړه په هغه باندې زما او د شاه محمود خان موافقه ده.

سردارشاه ولیخان او سردارشاه محمود خان په هغه غونډه کې چې زیات وکم یوه ګینټه مشرانو په کې د حبیب الله د امن او د لاړې د لټون په اړه خبرې کولې پریشانه او ماښجن ښکارېده. محمدګل مومند چې یو حکومتي او قومي هوښیار او ځیرک شخصیت و او د جرګې چاپېریال یې ډېر ښه څاره. د ټولو مشرانو څخه هیله وکړه چې د حبیب الله د امن فیصله شاه ولیخان او شاه محمودخان ته وسپارل شي او د هغه دلیل یې د حبیب الله په لاس کې ددوی یرغمل شوی ناموس ګانه

او کله چې محمدگل خان مومند دېت او عزت مسله رامخکې کړه، موږ مشرانو هم خپل درست اختیارات او صلاحیت شاه محمود خان او شاه ولیخان ته وسپارل او سردارصاحب شاه ولیخان په زیاته خوشحالی سره د سقاو زوی ته په دې تکو سره لیک ولیکه:

حبیب الله وروره ! ته د افغانستان د حکومت غاصب یې او د افغانستان مظلوم ملت دې ټوکر ټوکر کړی، اوس ته امن غواړې، زموږ له لوري تاته امن دی او د خپل ال و عیال سره د شمالي دروازې له لارې کوهدامن ته ولاړ شه په بیت المال او جبه خانه باندې لاس مه وهه.

دماسخوتن لس بجې وې چې د شاه ولیخان په لاس تحریر شوی لیک مو حضرت اغاگل مجددي او هغو دوملایانو ته وسپارلو. حضرت صاحب اغاگل مجددي د نورالمشایخ ورور او هغه دوه تنه دیني علما چې د حبیب الله د ملګرو او پلویانو څخه وو د ماسخوتن په لسو بجو باندې په خپله سپرلی کې د ارګ په لور روان شول او موږ ټولو مشرانو ددې انتظار ایسته چې له همدې نه وروسته به څه واقع کېږي.

یوه ګینټه هم پوره نه وه تېره شوې چې خبر مو تر لاسه کړ، چې حبیب الله د خپلو ټولو ملګرو سره د شمالي برج له لارې کوهدامن په طرف فرار کړی دی. ددې خبر په اورېدو موږ ټول حیران او په سخته اندېښنه کې واچولو او دا راته ښرګنده نه شوه چې حبیب الله څه وخت او په کومه ګینټه کې د ارګ څخه فرار کړی و.

د شپې یوولس بجې وې چې ارګ ته له خپلو جنګیالیو سره داخل شولو. د ارګ د ننه مو د چور او چپاول د مخنیوي لپاره پیرې او ګزمې مقرر کړې او په همغه تیاره شپه مو د حبیب الله د بندیخانې څخه د سپاه سالار محمدنادرخان، شاه ولیخان، شاه محمودخان، سردار اسدالله خان، سردار علیشاه خان د کورنۍ غړي او د اعلیحضرت امان

الله خان ورور را وویستل او د هغوی د حفاظت لپاره مې شل تنه وزیر جنګیالي د انګرېزي ټوپکو سره د سلطان فقیر او امین ګکی خیل وزیر تر قوماندې او هدایت لاندې وټاکل چې هغوی خپل استوګنځي او محفوظ ځای ته ورسوي". (۲۲۸)

ما د یوه ځانګړې موخې له مخې د تومیالي پښتون جرنیل یارمحمدخان وزیر د وینا دغه برخه دلته را واخیستله تر څو ددې ژوندي تاریخ په رڼا کې د غیر پښتنو تاریخ لیکونکو او د هغو له جملې نه د میرمحمدغبار د تاریخي تېروتنو مسله یوځل بیا تازه کړم. چې د فرهنګي ښکیلاك دیو استازي په توګه د پښتنو په اړوند تاریخي پېښې تحریف او مسخ کړي او په دې ډول یې د غه هڅه کړې ده چې د پښتون قام پورې تړلي ویاړونه د پردې لاندې وساتي او یا یې د امکان په صورت کې د غیر پښتنو پورې وتړي.

د ساري په ډول یو تاریخي مطلب همدا دی چې جرنیل یارمحمد خان وزیري د یو عیني شاهد او د پېښې د اصلي عامل په توګه کښلی دی. غبار هڅه کړې ده چې دغه عمده او مهم تاریخي جریان د سقاو د زوی په ګټه په داسې نېمګړي مبهم او بې مفهومه عبارت ولیکي. چې د حبیب الله پرده په کې له یوې خوا شوې وي او له بلې خوا د پښتنو اتلولي په کې له نظره غورځول شوي وي.

غبار چې د سقاویانو او په ځانګړي ډول د سقاو د زوی کلك مدافع ښکاره شوی دی. د پورتني تاریخي جریان په اړه هېڅ نه دي ویلي او داسې توري یې په خپله لیکنه کې په کار راوستي دي. چې دغه مطلب د لوستونکي په ذهن کې تداعي کړي چې ګویا حبیب الله د ارګ کلابندي په زوره ماته کړې او خان یې کوهدامن او چهاریکار ته رسولی دی نه یې څوك د ښښنې لپاره استولي وو او نه ورته د سردار شاه ولیخان کوم لیك استولی او نه د سقاو زوی له خوا حضرت صاحب

اغاکل مجددي پښتنو ته تللی او راغلی دی، غبار هغه ټول جریان په لاندې دوه کرښو کې راوړی دی.

" روز ۱۹ میزان گلوله باران ارگ ادامه یافت وحصارمحکم ان شکاف برداشت، درین ضمن جبه خانه ارگ محترق گردید و ستون های اتش ودود تصاعد نمود. تا شام حمله اوران در زیربار وبروج ارگ رسیده بودنـــد، در حالیکه حبیب الله بچه سقاو با همکاران خویش در تاریکی شـــام از دروازه شمالی ارگ خارج و حلقه محاصره را عبور کرده بود. بچه سقاو اول بــــه کوهدامن و بعد به چهاریکار رفت"(۲۲۹)

د غبار په لیکنـه کـې د پـام وړ خـبره داده چـې نومـوړي د پښتنـو مشرانو او قوماندانانو لکه جرنیل یارمحمدخان وزیري او نـورو نومونـه نه اخلي او ان په غرضي ډول او دیوه خاص مقصد لـه مخـې د وزیـرو او پکتیا د قومونو په مشرتابه کې د الله نواز ملتـاني نـوم راوړي په داسـې حال کې چې هغه نه کوم قومي مشر و او نه یې جنګیالي په اختیـار کـې لرل.

غبار دا هڅه کړې ده چې د حبیب الله کلکاني او د هغـه د جـګړه مارو ځواکونو دیوه مشـر سپاه سـالار پردل خـان چې د پښتنـو ځواکونـو سره د جګړې په مهال ووژل شو د زړورتیا خبرې کوي چې دا پـه خپلـه د پښتنو سره د مورخ غبار د تعصب ثبوت هم ګڼل کېږي.

پـه هېـواد کـې د فرهنګي ښکیـلاک عـاملینو چې هرځومره لـه وسـه پوره وو د پښتنو د بدنامولو لپـاره یې خپلې هڅې نه دي سـپمولي د ساري پـه ډول د فارسـي ژبـې وتلي شـاعر واصـف بـاختري د خلیـل الله خلیلي د کتـاب ( عیـاری از خراسـان) پـه سریزه کـې د سـقاو د زوی پـه هکله په داسې لهجه خبرې کوي. چې ګویـا حبیب الله نـه غـل او نـه لاره وهونکی و او نـه یـې ژونـد پـه بدنامـۍ تېر شـوی دی. لیکـن کلـه چـې د

اعلیحضرت امان الله خان وار راخي تو بیا د هغوی دسپکولو لپاه د عبدالهادي خان داوي له قوله داسې لیکي:

" شاه امان الله خان قبل از فرار کردن با لبـــاس فاخرشـاهی و عصـا دردست خریطه های طلا وپول رامـــی شـمرد کـه داوی وارد انجاشـد. عبدالهادی خان داوی که شاه را مشغول شمردن کیسه های طلا و پول پـــا عصایش دید طور کنایه برای شاه گفت! اعلیحضرت همان طوریکــه بـی حساب برای تان امده بی حساب هم ببرید" (۲۳۰)

د غه متن او داسې نورې زیاتې خبرې په هغه کتاب کې راغلې دي چې ډاکټر خلیل وداد بارش د حبیب الله سقاو بچه په دفاع کې لیکلی دی چې د واصف باختري نږدې ملګری پاتې شوی او د ملي ستم د ډلې سره تړاو لري

هغه لیکنې چې بې سنده او د تعصب په سیاهي لیکل شوي وي تاریخي نه شي ګڼل کېدی. مثلاً حقیقت التواریخ د لیکونکي خبرې په ( قراریکه روایت شده) (طوریکه میگویند ) ( درین مودرمیگفتند ) او داسې نور تول کوم تاریخي ماهیت نه شي لرلای چې په دې لړ کې دا خبره ګینې خاخیو د طلاوو په بدل کې د ارګ نه د حبیب الله کلکاني د تښتې لاز برابرد کړې ده. د پښتنو له بدنامولو او سپکاوي پرته بل کوم مفهوم نه شي لرلی عبدالحق مجددي چې د حقیقت التواریخ کتاب دده په نوم خپور شوی دی لیکي:

" در طول روز ۱۹ میزان ۱۳۰۸ه ش همینقدار شد که اتـــش ارگ را خاموش کردند و درمورد فرار حبیب الله سقاو بچه گفتند که حبیـــب الله ده صندوق طلای مسکوک را به مردم جاجی رشوه داد کــــه راه فــرار او را باز گذاشتند" (۲۳۱)

نوموړی تش په نوم مورخ دکابل د نیولو د ارګ د کلابندی او ان چې د "براداران نادري" په نوم د سقاو بچه د لیك او سردار علیشاه خان د استازي په توګه نادري ورونو ته د لېږلو مسله او نورې کړنې ټولې د نادرخان د ورو نو سردارشاه ولیخان او سردار شاه محمود خان ته منسوبوي او د پښتنو مشرانو او جنګیالیو قوماندانانو ته اشاره قدرې هم نه کوي، تش په دې یو ټکي باندې بسنه کوي چې "قوای شاه محمودخان که مردم وزیری و جاجی بودند" د پښتنو په ستړو کارنامو او اتلولیو باندې خاورې اړول د فرهنګي ښکیلاك اصلي موخه ده او فارسي ژبو لیکوالو هر یوه د همدې موخې لپاره کار کاوه.

لاره وهونکی سقاو او ملګرو یې د افغانیت نوم د نوم سره روغ نه وو ځکه خو یې دپاچاهۍ په لومړیو ورځو کې د افغانی نوم بدل کړ او په وهلي سکه باندې یې د حبیبي نوم کېښود.

د سقاو زوی د بحران ونجات د کتاب د لیکونکي غلام محی الدین انیس په وینا د نورو دلاس اله او خپله یې کوم فکر او ثابته اراده نه درلوده.

" سقو بچه هم چون شخص بی سواد وامی محض بود ومعلوم است که از حود اراده وفکری ثابتی نداشت و همیشه اله دست بود که بـــه نفــع مغرضین کار میکرد. همه کار ها بدست سه برادر( عطاء الحق ، شیرجان کـه یکی ان وزیر امور خارجه دیگرش دربار و سوم ان رئیس ضبط احوالات بود بدست کگرفته بود... و سلطنت سقو بچه را که عبارت از یک دزد بازاری وپادشاه وزیری بود صورتی از تشکیل سلطنتی داد وفورا اخباری هم بنــــام حبیب الاسلام صادر وافکار و نظریات و اجرات حکومت سقو را به ظـــاهر فریبادران شایع میمود"(۲۳۲)

غیربښتنو لیکوالو او مورخانو هڅه کړې ده. چې دغسې یو لویدلی په فساد مشهور سړي دیو نوم او نښان خاوند وګرځوي او دقلم په څوکه ورته د سړیتوب زیره او بریتې وربرابر کړي او د پښتون امان الله خان پر وړاندې یې ودروي. خو دا هڅې هېڅکله بري ته ونه رسېدې. ځکه چې د افغانستان د اکثریت وګړو د عقیدې نه مخالفې وې

اووم څپرکی

# د محمدنادرخان پاچاهي او د پښتو

# او پښتنو سره چلند

محمدنادرخان دمیزان د میاشتې په یوویشتمه نېټه د پکتیا لـه ځائیو نه د پښتنو جنګیالیو په بدرګه کې دکابل پر لور روان شو او د همدې میاشتې پـه دوه ویشـتمه ورځ دکـابل چهلسـتون مـانۍ تـه راورسېد . لیکن وزیرو، مسودو اود پکتیا جنګیالیو د ۱۳۰۸ل کال د میزان د میاشتې په ۱۷ - ۱۸ ورځ کابل فتح کړی او د سقاو زوی یې د ارګ د ننه کلابند کړی و، چې له کلابندۍ نه په تېښتـه کې بریالی شو ترڅو یې د اجل وخت راورسېد او په دار وځړول شو.

هغـه حقیقـت چـې دنجـات د جـګړې نومیـالی قومـاندان جرنیـل یارمحمدخـان وزیري بیـان کـړی دی، ټولـو پښتنـو تـاریخلیکونکو او مسلکي لیکوالو په هغه باندې سترګې پټې کړي او تـاریخي پېښې یې د فرهنګي ښکیلاك دغوښتنو سره سمې تحریـف کـړي دي. د جګړې د ډګر او د کابل د فتحې ټول پښتانـه قومانداناـن او قومـي درانـه مشـران له قلم نه غورځول شوي او په کارنامو یې سترګې پټې شوي دي.

دغبار غوندې مورخینو او د همغـې لړۍ نورو غـیرپښتنو لیکوالـو چې کله ډېر مجبوریت احسـاس کـړی دی، نو پـه دې یـوه کلمـه یـې ځان خلاص کـړی دی. چې ولیکـي: " مـردم وزیری وپکتیـا" چـې د پښتنـو د نوم یادول یې هم مصلحت نه دی ګڼلی. هغه قلمونه چې دلاره وهونکـي حبیب الله د عیبونو او رسواییو پټولـو لپـاره کـاریدلي وو، د پښتنـو پـه سوبو اوجګړه ییزو مېړانو بـاندې داسې وچ شوي وو، چې ټکـی یې نـه شولیکلی او چې څنګه موقع په لاس ورغله نوټولـو پـه یـو فکـر د پښتنـو

ویاړنې او اتلولۍ په نورو پورې وتړلې او په دې اړونـد یې هغه څه دتاریخ په پاڼو کې ورځای کړل، چې د حقیقت سره یې سمون نه خوړ.

د ۱۳۰۸ل کال د میزان د میاشتې په ۲۳ نېټه محمدنادرخان دپاچاهۍ پر تخت کېناست په داسې حال کې چې د وزیرو، مسودو او د پکتیا د پښتنو سره یې دغه وعده کړې وه، چې په سقاویانو باندې د بریِ په صورت کې به پاچاهي اعلیحضرت امان الله خان ته ورپرېږدي ځکه چې د پاچاهۍ حقدار هغه ګڼل شوی دی.

د پکتیا او پکتیکا هغو پښتنو خانانو او ملکانو چې د دښمنانو په لمسون یې د امیر امان الله خان د اصلاحي ریفورمونو سره مخالفت ښکاره کړی و، دا وخت د محمدنادرخان په ملاتړ ودرېدلي اود سقاوي پرضد جنګېدلي وو. چې پاچاهۍ ته په رسېدو سره نادرخان د هغوی خدمتونه وستایل او ځینو ته یې اعزازي پوځي رتبې ورکړې او ځینو ته ځمکې او باغونه هم ورکړل شول.

د سقویانو پر ضد جګړه کې د محمدنادرخان او د ده د نورو ورونو (سردار محمدهاشم خان، سردارشاه ولیخان او سردارشاه محمودخان) بوله نکیه په پښتنو وه، سردار محمدهاشم خان په ننګرهار او نادرخان شاه ولیخان او شاه محمود خان په لویه پکتیا کې د وزیرستان په شمول فعالیت کاوه او هر سوه یې پښتنو قومونو ته په ویناو کې دپښتو پښتونولۍ خبرې کړې او یوازې په همدغو ټکو ې پښتنانه جذبول او د سقویانو پر خلاف یې جګړو ته چمتو کول. لکه چې جرنیل یارمحمدخان وزیري لیکلي دي، شپږمیاشتې محمدنادرخان په پکتیا کې تېرې کړې دکابل پر لور یې حرکت ونه کړ او چې کله جنګیالیو پښتنو د کابل ښار فتح او د سقاو زوی یې په ارګ کې کلابند کړ نادرخان ددې خبر له اورېدو وروسته د کابل خوا ته را روان شو.

له بلې خوا سردار محمدهاشم خان په ننګرهار کې د پښتنو ملاتړ ترلاسه کړ او د همدې لارې د سقاو حبيب الله د راپرځولو موخې ته نږدې شوي و. په هغه قومي جرګه کې چې د شوال په ۶نېټه په هډه کې جوړه اوسردار محمدهاشم خان په کې ګډون درلود ۹ مادې تصويب شوې چې مهمې مادې په کې دا وې، چې محی الدين انيس يې شرحه ليکلې ده:

۱. احدی از اهالی مشرقی بدون جرگه و مشوره اقوام به کابل رفته نمیتواند، هرکه نزد بچه سقاو بی مشوره رفته بود، پنج هزار روپیه ناغه قومی را ادا خواهد کرد.
۲. یک جرگه اقوام مشرقی نزد سردارمحمدنادرخان سپه سالار به غرض اتحاد با اقوام جنوبی برود.
۳. انچه منازعات بین افراد قبایل است سر از امروز معطل باشد، من بعد هر که بر علیه برادر دیگر اقدام کرد، مال ویا جان او را تلف کرد علاوه بر ترضیه حقدار وقصاص قتل ناغه سنگین قومی را ادا نماید.
۴. درغایت اتحاد با قبایل جنوبی یک جرگه اقوام مشرقی به کابل خواهد رفت تا با نماینده های سایر اقوام وطن در ضمن لویه جرگه درخصوص انتخاب امام (پادشاه) باصول صحیح مذاکره نماید.
۵. هرکه از سو اد جرگه عدول نماید، مبلغ پنج هزار روپیه ناغه قومی را تادیه خواهد کرد. (۲۳۲)

په هغه جرګه کې چې خپله سردار محمدهاشم خان په کې ګډون درلود دا خبره هم ومنل شوه چې د امام (پادشاه) د ټاکلو لپاره به لويه جرګه راغوښتل کېږي او دغه مهمې مسئلې به هلته فيصله کېږي،

لیکن د نادرخان په انتخاب او پاچا کېدو کې داسې ونه شول او دې (محمد نادرخان) يوازې د هغو ډلو پښتنو له خوا په پاچاهۍ وټاکل شو چې د چهلستون په ماڼۍ کې له ده سره ناست وو او زيات يې له ده سره يو ځاى له پکتيا او وزيرستان او څه هم له پکتيکا راغلي وو او نادرخان د همدې پښتنو په بدرګه کې د ارګ سلام خانې ته لاړ.

عبدالحق مجددي په دې اړوند ليکي:

" لشكرهاى سمت جنوبى دسته دسته درحركت بودند، صداى دهل ها بلند بود ومحمد نادر اهسته اهسته به طرف شهر مى امدند و با مستقبلين مصافحه و احوال پرسى ميكردند، در قصر سلام خانه سران شهر رجال بزرگ شاهى،معاريف، علماء، نويسندگان و ا عضاى شوراى ايوان سخن رانى كه تعين شده بود بالاشده بيانيه خود را ايراد كردند."(٢٣٤)

محمد نادرخان په خپله وينا کې دې ټکي ته اشاره وکړه چې زه د پاچاهۍ جوګه نه يم او ځان ددې دروند مسئوليت د سرته رسولو وړ نه بولم. تاسو ب اعليحضرت امان الله خان يا هم د هغو له کورنۍ څخه کوم بل تن په پاچاهۍ وټاکئ. ليکن دسلامخانې په تالار کې ناستو خلکو لاسونه ډېر کول او چيغې يې وهلې چې موږ تاته بيعت کوو او همدا تاسو. خپل پاچا ټاکو حقيقت التواريخ کې راغلي دي:

" مردم حاضر در مجلس و لشكريان قومى كه همه از همراهان و طرفداران محمدنادرخان بودند صدا و فرياد ميكردند كه شما مناسب ترين شخص براى سلطنت هستيد، از زمان استقلال وقبل و بعد از ان و اكنون خدمات تان براى ما ظاهر است ما با شما بيعت مى كنيم، سپه سالار محمدنادرخان به اشاره دست صدا ها را خاموش كرده وگفت:

من از انجام امر سلطنت عاجز میباشم، شما یا اعلیحضرت امان الله خان یا یکتن از خاندان شان را به سلطنت انتخاب کنید، من قول میدهم از صمیم قلب به انتخاب شما موافقت دارم، مردم باردیگر با احساسات و هیجان طرف از او را ابراز کردند، انگاه از همه مردم مقدم تر سردارمحمدعمرخان و سردار امین الله خان پسران امیر عبدالرحمن خان کاکای امان الله خان بودند، جهت بیعت پیش امدند ومردم دیگر نیز هجوم کردند. محمدنادرخان بار دیگر در ظاهر قبول امر سلطنت امتناع کرد و معذرت خواست و از اعتماد مردم تشکر کرد."(۲۳۵)

په هر حال په همغه وخت او همغه ورځ محمدنادرخان په پاچاهۍ ومنل شو او د لويې جرګې خبره منتفي شوه او د اعليحضرت امان الله خان د بېرته راتګ موضوع نتيجې ته ونه رسېده.

مورخ غبار چې ښايي په هغه غونډه کې ناست و ځکه چې د اميرامان الله خان په دوره کې د (ستاره افغان) د اخبار چلونکی پاتې شوی د خپل تاريخ په دويم ټوك کې د محمدنادرخان پاچاهي د " استقرار ارتجاع واختناق" په نوم يادوي او د نادرخان پاچا کېدل د ارتجاع او استعمار يوه توطيه بولي. دی پرته له دې چې د پاچاهۍ د قبلولو څخه د محمدنادرخان د انکار او د خلکو د اصرار موضوع ته اشاره وکړي په غوڅه توګه د نادرخان پاچا کېد د نادرخان له خوا يوه خاينانه عمل بولي:

" روزيكه نادرخان داخل شهر كابل شده و وارد تالار سلامخانه عام - ارگ كه مملو از مستقبلين كابل بود گرديد و چند نفر اشخاص معين شده پيشنهاد قبول سلطنت افغانستان را به شخص او نمودند نادرخان بدون انكه به وعده های كه به مردم افغانستان داده بود وفا نمايد روی سجده بر زمين

نهادو ازین نعمت عظمی دعای شکران نمود درحالیکه او بار هـــا کتباً و شفاها گفته بود که در مبارزه بچه سقاو استقرار مجـــدد صلـــح و امنیـــت افغانستان را میخواهد نه تاج وتخت را برای شخص خویش....

انتخاب پادشا وظیفه لویه جرگه نمایندگان تمام ملت افغانستان است تـــا هرکه را لایق سلطنت بدانند انتخاب کنند انتخاب من یکی از بیعت کنندگان چنین پادشاهی خواهم بود که منتخب تمام ملت باشد، این حلـــف صریـــح نادرخان از وعده های سابق از نظر روشنفکران افغانستان یک عمل خایانـــه بود".(۲۳٦)

غبار چې د "تاريخ منطق" ته كوم ارزښت نـه وركاوه او د پښتنو پـه هكلـه يـې يـو تيـاره نظـر درلـود، د پښتنـو نجـات ښونكـي او د لاره وهونكي حبيب الله د رژيم رنګوونكي لښكر د "حملـه اوران جنوبى" پـه نـوم يـادوى او پـه دې ډول د سـقاوبچه سـره د خپـل توكمـي او قومـي يوالي ثبوت وړاندې كوي او د نادرخان پاچاهي په افغانستـان باندې د هندوسـتانيانو حكومـت ګڼي چـې پـه تـاريخ ليكنـه كـې دده پوهـه لـه پوښتنې سره مخامخ كوي. دى د تعصب په توره سياهي داسې ليكي:

" فيض محمدخان باروت سازگفت ! برای شناختن ماهیت زمـــامداران جدید کافیست که مادر روز فتح کابل پیشا پیش حمله اوران جنوبی دو نفـر هندوستانی مخبر انگلیس را" الله نواز و شاجي" شانه به شانه با شـــاولیخان و شاه محمود خان دیدیم، شما باید بدانید که بعد ازین حکومت افغانســـتان در دست هندوستانی ها خواهد بود و مبارزه با تسلط اجنبی در زیر هرنقابی کـه باشد و ظیفه اولین و اخرین جوانان افغانست"(۲۳۷)

غبار چې تل ديوې روحي ناروغۍ تر اغېزې لاندې و، پـه دې نـه دى بريالى شوى چې په تاريخليكنه كې خپـل عصـاب كنترول او د تـاريخي

پښتو په لیکنه کې د یو ربښتیاني مورخ په توګه د بې طرفۍ دریغ غوره کړي. دی په هغو جرګو او قومي فعالیتونو باندې هم عقیده نه ښکاره کوي چې د ملي پوولۍ او د سقاوي رژیم د نسکورېدو په مقصد د ننه په هېواد کې روانې وې او د نادرخان یو ازاد خیاله معاصر لیکوال غلام محی الدین انیس د ورځني یادښتونو په توګه په خپل اثر (بحران ونجات) کې راوړي دي او موږ یې یوه بېلګه مخکې وړاندې کړه.

که څه غبار د دغه کتاب څخه اخیستنې هم کړي دي. لیکن د انیس غوندې بې طرفه او غیرجانبدار نه دی پاتې شوی. انیس لیکي:

" روز دوم ذیقعده جرگه اقوام مشرقی به طرف اقوام جنوبی اعزام شد و ریاست جرگه بنام اقای محمدگل خان مومند تفویـــض شـــد( دی هماغه محمدګل خان مومند دی چې په تېرو پاڼو کې یې ذکر راغلی دی) جرگه بتاریخ ۱۶ماه ذیقعده که متشکل از اقوام مشرقی بود از راه جنوبـــی شادان و فرجام برگشتند...

اقای محمدگل خان تعین شدند تا به سرخرود رفته فراهمـــی لشـــکر را بنماید، خوانین تگاب رسیدند که ما برای تعمیل حکم اماده هستیم وبیرق را برداشته تحت قیادت اقای عبدالرازق خان حرکت نمودند، از حضور جناب عالی نایب سالار صاحب حکم داده شد که دسته فوج ملی بطرف شـــیرزاد بروند، چندی انچا توقف نمودند و هم درین ایام لشکر جاجی بنواحـــی از فراهم شدند وخیال رفتن مرکز را داشتند تا هر دو قوا از یک دیگر احـــوال گرفته زیریک پلان به مرکز هجوم ببرند. همدرین ایام سعادت خان حصارک پسر خود را به حضور جناب عالی نایب سالار صـــاحب فرســتادند اقــوام خوگیانی را خبر کنند که ملت خواهان حصارک به زیر ریاست سعادت خان

ويار محمدخان مستعد حركت اند بايد شما هم همه قواى خود را حركـــت دهيد."(٣٣٨)

غبار چې د تاريخ په ليكنه كې يې د سوسياليستي عقيدې او مفكورې پيروي ليدل كېږي په قومي غورځنګونو باندې باور نه كوي او ټولو واقعيتونو ته دشك په سترګه ګوري دى د خپل مقصد لپاره ديو باروت ساز نظر ته چې د پاچا پر ضددى استفاده كوي ليكن د قوم د خوځښت او د قومي مشرانو فعاليتونو او هڅو ته په ارزښت قايل نه دى. د تعصب او تنګنظرۍ خپسۍ يې پر ذهن قابضه او مسلطه ښكاري او په ليكنه كې سپورې ستغې خوند وركوي.

ده د هېڅ قومي جريان په هكله خوشبيني نه ده ښودلې او د هر ملي پديدې سره يې ضديت ښكاره كړى دى. يوازې او يوازې د خپل فكر زېږنده سمه او صحيح بولي او د نورو ذهني او فكر زېږېدنې غلطې او ناسمې ګڼي چې دا په خپله يوه روحي ناروغي ده.

غبار چې د ( افغانستان در مسيرتاريخ) دويم ټوك په محمدنادرشاه باندې نيوكو او بدګويي ته وقف كړى دى د ډېرو مهمو خبرو اصلي منبع او ماخذ نه ښيي او داسې ښكاره كوي چې ګنې د ټولو پېښو عيني شاهد دى په خپله و او هرڅه يې د سر په سترګو ليدلي او په خپلو غوږونو اورېدلي دي. په داسې حال كې چې د فاصلې په لحاظ نوموړي پېښې هم زماني لرې والى لري او هم مكاني. ځكه خو يې منبع بايد جلا وي.

د افغانستان درمسير تاريخ دويم ټوك د كتاب لومړني ټوك نه په زيات عصبيت او د نادرخان د كورنۍ سره په زور ضديت ليكل شوى دى او د تاريخ ليكنې اصول په كې نه دي مراعات شوي. د ليكنې ډول داسې دى لكه يو دښمن چې د خپل رقيب د بدنامولو لپاره له هرڅه نه

استفاده کوي نه دا چې يو مورخ د يو پاچا د واکمنۍ په دورې باندې رڼا اچوي او د هېواد تاريخ ليکي.

په هر حال د افغانستان خلك او تاريخ له دې حقيقت نه انكار نه شي کولی. چې دمحمدنادرشاه پاچاهي په غوڅه توګه د پښتو د تورې، مېړانې او سربښندونو محصول و. لکه څنګه چې دسقو سالارۍ ړنګېدل او د سقو د پاچاهۍ چپه کېدل هم د پښتنو د بې ساري زړورتيا او جانبازۍ پايله وه او هېڅ مورخ نه شي کولی د خپلواکۍ ګټلو او د هېواد د نجات يا له سقاوي غلو څخه د ژغورلو وياړ په نورو پورې وتړي.

د لومړي او دويم نړيوال جنګ ګټل خو په خپله برتانوي تاريخليکونو او د هغو جرنيلانو د پښتنو په نامه پورې منسوب کړی دی، د غير پښتني قشر پورې تړلو مورخانو په دې قوم پورې تړلي وياړونه تحريف او خدشه دار کړي دي. هغه مطلب دی چې راتلونکي نسلونه به يې د علمي څېړنو په رڼا کې برملا کړي.

د پښتنو هيله داوه چې (نادرپښتون) به پښتانه د فرهنګي ښکېلاك له زندۍ څخه ازاد کړي او په دې ډول به د پښتون قام د هغو سربښندنو قيمت ادا کړي چې د هېواد د خپلواکۍ ګټنې او د هېواد د نجات په لاره کې کړي دي پښتو ژبه چې نادرخان د وزيرو، مسودو، دوړو، تڼيو، ځاځيو، منګلو، خدراڼو، احمدزيو، خوګيانيو، شينوارو، موندو او نورو سره په جرګو او غونډو کې په همدې ژبه خبرې کولې او پرېکړو ته کېناستل د خپل حکومت حقداره ژبه وګڼي. د لږکيو د ژبې له محکوميت نه يې خلاصه کړي.

ليکن وليدل شول چې اعليحضرت محمدنادرشاه خان له پاچاکېدو وروسته هغه سپه سالار محمدنادرخان نه و پاتې شوی. چې د پښتنو په ډېرو او درو ګرځېده او د حبيب الله بچه سقاو د چپه کولو لپاره يې د

پښتنو قومونو او قبیلو څخه د مرستو غوښتنه کوله او پښتنو ته یې د ننګ او غیرت خبرې کولې او د وطن د نجات سوال یې ورته مخې ته اچولو او ان چې کله کله یې د امیر امان الله خان د بېرته را غوښتلو وعدې هم ورکولې.

پښتانه مشران اوس پوه شوي وو چې پاچا محمد نادرخان څه غوښتل او څه یې ویل، د ویلو او کولو ترمنځه یې لوی واټن لیدل کېده، د پښتنو ستر خدمتونه ډېر ژر د هغوی هېر شوي وو او نویو شرایطو محمدنادرخان ته یو نوی شخصیت ورکړی و، جنرال یارمحمدخان وزیري چې د خپلواکۍ او نجات د جګړو اتل و په خپلو یادښتونو کې لیکي:

" محمدنادرخان او موږ قومي مشران هغه محل ته لاړو چې په ارګ کې دوی ورته سلام خانه نوم اېښودلی و. د لته د کابل ښار مخور او پاتې سرداران د سپه سالار هرکلي ته راغلي وو. د سفارتونو یو شمېر غړي هم تر سترګو کېدل. خلکو د محمدنادرخان ښه تود هرکلی او ښه راغلی وکړ. موږ قومي مشران په هغو ځایونو باندې کېناستو چې مخکې زموږ لپاره غوره شوي وو. محمدنادرخان د مجلس د صدر محل ته ولاړ او کله چې د حاضرینو غلغله او د زنده باد چیغې خاموشه شوې محمدنادرخان یوه لنډه وینا وکړه. خپل زحمتونه او تلاشونه یې بیان کړل. د وطن د نجات ټولې کارنامې یې په ځان او خپلو ورونو پورې وتړلې. موږ ټول د قومونو مشران دده د سترګو تر نظر لاندې غلي ناست وو ولې زموږ د خدمتونو او هڅو یې لږ شانته یادونه ونه کړه "(۲۳۹)

جنرال یارمحمدخان وزیري لیکي چې موږ پښتانه مشران ډېر خواشیني شولو او محمدنادرخان ته مو وروسته په یوه ځانګړي کتنه کې د خپل خفګان د ښکاره کولو لپاره هغه ته دغه اشاره وکړه چې

سمدستي موږ تاته بیعت نه شو کولی. په راتلونکي کې به وګورو چې څنګه کېږي

د پښتنو مشرانو د سردارمحمدنادرخان چال چلند هغوی په ډېر څه پاندې پوه کړل. خو محمدنادرخان نه شو کولی چې پښتانه په همدې حالت کې پرېږدي. نو وروسته یې د افغانستان ددفاع د وزارت په چوکاټ کې د یو منظم پوځي یونیفورم په بڼه دیو غنډ په جوړښت کې هغه جنګي ملېشې ځای کړې او بیا د خروټو، او اتمانزیو، وزیرو ملیشه ټولګي هم پرې ورګډشول چې ټول شمېر یې ۲۳۰۰۰ تنو ته رسېده او د هېواد د ختیزو پولو د ساتنې مقدسه دنده ورپه غاړه شوه.

ددغې پښتنو ملیشې تاریخي نقش د هېواد د پولو په ساتنه کې ډېر برجسته پېژندل شوی دی. هغو پښتنو چې د خپلواکۍ او نجات دواړو جګړو کې محمدنادرخان ته بری ور په برخه کړی او د اعلیحضرت امان الله خان او محمدنادرشاه خان له خوا ورته اعزازي پوځي رتبې ورکړل شوې وې او ځینې یې وروسته د محمدنادرخان د پوځي تشکیل له مخې د اړګون د ملیشې د سرحدي غونډ په مشرتابه وټاکل د ځینو نومونه دادي:

جرنیل یارمحمدخان وزیري، تورن جنرال باجان خان اتمانزی وزیر د ملیشې د غنډ عمومي قوماندان، برید جنرال انګور خان احمدزی وزیر، برید جنرال دلبازخان احمدزی وزیر، برید جنرال اختي خان احمدزی وزیر، برید جنرال شېرمحمدخان احمدزی وزیر، برید جنرال لالیکی احمدزی وزیر، برید جنرال میران خان اتمانزی وزیر، برید جنرال شابرام خان مسید، اعزازي نایب، سالار ملك موسی خان مسید، اعزازي نایب سالار رمضان خان مسید، چې د ۱۹۳۰_۱۹۳۱م کال د امو دریاب پر غاړه د مرکزي حکومت پر ضد د ابراهیم بېګ بغاوت په ځپلو کې یې برخه واخیستله، ډګرمن عبدالله جان احمدزی وزیر،

ډګرمن اصیل خان احمدزی وزیر، ډګرمن عالم خان احمدزی وزیر، ډګرمن مستي خان اتمانزی وزیر، اکبرخان اتمانزی وزیر، کرنیل میتاخان وزیر، کرنیل ابوخان احمدزی وزیر، کرنیل بهرام خان احمدزی وزیر، کرنیل قلم الدین خان احمدزی وزیر، راجي خان احمدزی وزیر، کریم خان احمدزی وزیر، سیدخان احمدزی وزیر، رحیم دادخان احمدزی وزیر، کوږي خان احمدزی وزیر، غلام احمدزی وریر، کرنیل لاهورخان مسید، کرنیل جلولی اتمانزی وزیر، ډګرمن نعمت الله خروټی (۲۴۰)

دغه د نومیالیو لست چې اعلیحضرت امان الله خان او محمدنادرخان د وارو ورته لیکونه او پیغامونه استولي وو، (یوه د خپلواکۍ د جګړې په وخت کې او بل د وطن د نجات د جګړې په وخت کې) دغه لست د جرنیل یارمحمدخان په یادښتونو کې لازیات او اوږد دی چې موږ نه شو کولی ټول را واخلو. بلکې د بېلګې په توګه مو د یو څو نومونه څکه راواخیستل چې د هېواد د غیر پښتنو تاریخلیکونکو لکه غبار، فرهنګ او نورو له سره په دې اړه څه لیکلي نه دي او غبار خو لکه چې مخکې وویل شول د پښتنو ازادۍ بښونکو لپاره د (حمله اوران پکیا یا جنوبي) جمله استعمال کړې ده، چې یوه جلا او بېله مانا لري او موخه یې د فرهنګي ښکیلاک د فارموله سره سم د پښتون د هېواد د خواکمن قوم په ویاړلو کارنامو خاورې اړول او ویاړونه یې د نورو پورې تړل دي

اعلیحضرت محمدنادرشاه خان چې د پښتنو په مېړانه پاچاهۍ ته ورسېد، لیکن د سلامخانې په غونډه کې یې ان په غونډه کې د ناستو اتلانو نوم قدر هم وانخیست، دوی د خپلواکۍ د جګړې پر مهال هم د پښتنو په توره بری ترلاسه کړی و، پښتنو ته یې ننګ اچولی و چې باید په جګړه کې د هغوی ملاتړ وکړي په داسې حال کې چې له هند څخه د

نادرخان تر رارسېدو مخکې د اعلیحضرت امان الله خان لیکونه او فرمانونه پښتنو ته رسېدلي وو او ټولو په توغ په نغاره د خپلواکۍ ګټلو ډګر ته وردانګلي وو.

د سقاویانو پر خلاف جګړه کې هم محمدنادرخان سپه سالار د پښتنو په نوم لیکونه ولېږل او د وطن په ژغورنه کې یې د پښتنو د ملاتړ غوښتنه وکړه، چې د بېلګې په توګه د هغوی یو لیک د لته وړاندې کېږي دغه لیک یې د حاجي نواب خان او مولوی الله نواز خان په لاس پښتنو مشرانو ته ورلېږلی و. په لیک کې راغلي دي:

"عزیزانو! د وزیرو او مسودو قومونو غیورو مشرانو! ستاسې مېړانه او شجاعت د خپلواکۍ په جګړه کې راته څرګند شوی دی. نن بیا همغه د مېړانې او غیرت ګښتنه ده، اعلیحضرت غازي امان الله خان د یوه سارق او کوتاه طریق له لاسه خارج ته فرار کړی دی. د هېواد هره برخه د بې اتفاقۍ په اور کې سوزېږي، افغاني ننګ او غیرت دا تقضا زموږ ټولو څخه کوي چې په اتفاق او اتحاد سره وطن ته د روانې فتنې نه نجات ورکړو. محمدنادر"(۲۴۱)

د ننګرهار اتلو مبارزینو له جملې نه محمدنادرخان، محمدګل خان مومند د خپلې پاچاهۍ د لومړنۍ د کورنیو چارو د وزیر په توګه وټاکلو، سید عبدالحمید پاچا او سید غلام رسول پاچا او نورو هم په ځینو وړو وړو دندو لکه ولسوالۍ یه یا هندوستان کې دقونسل په توګه وټاکل شول. دغه ډول د پکتیا زړورو جنګیالیو مشرانو لکه ببرك خان ځدراڼ، میرغوث الدین خان احمدزی، سرکي خان احمدزی، زلمی خان منګل، اعظم ګل خان توتاخېل، نورمحمدخان ګردېزی او نورو ته هم اعزازي رتبې ورکړل شوې.

د مومندو او شینوارو جنګیالیو چې په شریك یرغل سره یې سقویان له جلال اباد نه وتلو او تېښتې ته مجبوره کړي وو مشران یې

لکه چې څنګه په کار وو، د محمدنادرخان د پاملرنې وړ ونه ګرځېدل، محمدګل خان مومند چې د محی الدین انیس په وینا د ننګرهار د ټولو قومونو په استازیتوب د پکتیا ولس سره د اتحاد او یووالي د جرګې مشرتوب پر غاړه اخیستې اود سقاویانو پر ضد د کابل شاوخوا خونړې جنګونه یې کړي وو او د محمدنادرخان سره نږدې اړیکې یې هم درلودلې. د کورنیو چارو په وزارت مصروف وساتل شو. په داسې حال کې چې محمدنادرخان د غبار په قول د هرات د سیمې ځینو کسانو ته چې عملاً یې د نجات په جګړه کې کومه برخه نه وه اخیستې غټې څوکۍ ورکړې وې، چې له هغې جملې نه فضل عمر خان مجددي نورالمشایخ د عدلیه وزیر، فضل احمدخان مجددي د عدلیه وزارت معین. یو هراتی قاضي میر عطا محمدخان د سنا د عالي مجلس ریس او یو تن هراتی مفتي صلاح الدین سلجوقي په هند کې د افغان قونسل په توګه د یادولو وړ دي.

صلاح الدین سلجوقي هغه څوك دی چې د محمدظاهر خان د پاچاهۍ په دوره کې د وزیر په رتبه د مطبوعاتو مستقل رئیس شو اود پښتو ژبې د رسمي کېدلو د مخنیوي په خاطر یې ډېرې هڅې وکړې او د پښتنو لویو پوهانو لکه استاد قیام الدین خادم، مولانا محمدامین خوګیاڼي. استاد رښتین. استاد الفت، استاد عبدالحی حبیبي چې د سلجوقي مرستیال تاکل شوی و، استاد بېنوا، استاد غلام جیلاني جلالي او نور. د مأموریت تر پایه پورې روغ نه شول او د هغوی پر وړاندې د حساسیت او رخې له سلوك څخه کار واخیست او په هېواد کې د فرهنګي بنکیلاك پیاوړی ماهر پېژندل شو و( په دې اړوند په نورې خبرې وروسته راشي).

دهرات د غه مفتي ته دده شاګردانو لکه سیدقاسم رښتیا او نورو د علامه لقب ورکړ او دی د پښتو ژبې او پښتنو پوهانود پرمختګ یو

غښې مانع او ډېر ښکاره مخالف و ګڼل شو. لیکن د فارسي ژبې او ادب د پیاوړتیا لپاره یې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې وکړې او په ټاکنو کې یې تل له توپیر او توکمي تبعیض نه کار اخیست او د پښتو ژبې لپاره د محمدګل خان بابا د مبارزې پر وړاندې همدی مخالف ولاړ و.

سیدقاسم رښتیا په خپلو سیاسي یادښتونو کې لیکي چې "استاد سلجوقي موافقه نه درلوده او نه یې غوښتل چې د کندهار طلوع افغان مدیر عبدالحی خان حبیبي دې دده د مرستیال په توګه وټاکل شي. بلکې غوښتل یې چې زه دې د هغه مرستیال دنده ولرم. لیکن سردار محمدنعیم خان د حبیبي په مرستیالی ولاړ و."(۲۴۲)

محمدنادرخان (اعلیحضرت محمدنادرشاه خان غازي) شو او پښتنو چې د افغانستان خپلواکی ته رسولې او سقاو سالاري یې له منځه وړې وه، په هغو وړو وړو رتبو او مقامونو او لږو تنخواګانو قناعت وکړ، محمدنادرشاه خان او ورونه یې په دې پوهېدل چې پښتانه د ګازرې په خرپ خوشحاله دي او نه په ګازره.

پښتنو وروسته دا هم ولیدل چې پاچا داسې کسانو ته لوړ لوړ مقامونه ورکړل چې د حبیب الله کلکاني سره یې پټې اړیکې درلودلې. د هېواد ژغورنې په جګړه کې یې هم ونډه نه وه اخیستې. همدغو کسانو په کوټیو او ماڼیو کې ژوند پیل کړاو جنګیالي پښتانه چې د سرحد ساتنه هم ور په غاړه شوې او ټوپک یې له د پخوا په څېر په اوږه پاتې شوی ود ختو له کورونو را بهر نه شول.

پښتنو ته بیا د هېواد ساتنې او هېواد څارنې دنده پاتې شوه او د عیش او ارام ژوند د مفت خورو په برخه شو، د فرهنګي ښکیلاک زنځیرونه د پښتنو له پښو اولاسونو لرې نه شول او پښتو ژبه هغه شان محکومه او بې صلاحیته پاتې شوه او جنګیالو ویونکو یې د حقداری غوښتنه ونه کړه.

د خپلواکۍ او نجات د جګړو پښتنو اتلانو یو هم په خپله ملي ژبه باندې ننګ ښکاره نه کړ او له امیرانو نه به یې په کلکه دا غوښتنه ونه کړه. چې ولې پښتو ژبه د دربار او حکومت رسمي او د چار چلونې ژبه نه ده منل شوې په داسې حال کې چې امیران او پاچاهان یې پښتانه او واکمني هم د پښتنو وه.

هغوی دا پوښتنه ونه کړه چې ولې دې هغوی او د هغوی اولاد دا مجبوریت ولري چې حاکم ته دې خپله عریضه او ښوونځی ته خپله د ناروغۍ رقعه په فارسي ولیکي او پښتون حاکم وزیر او مدیر دې په هغه عریضه او رقعه باندې فارسي احکام ورکړي او په دې طریقه دې ټول پښتانه خپلې ژبې پرېښودو ته مجبور کړی شي.

په پخوانۍ شوروي اتحاد او په وروسته کې د ملګرو ملتونو نړیوالې موسسې په خپلو احصاییو( سرشمېرنو) کې دا څرګنده کړې ده چې څومره په سلو کې افغانان په خته پښتانه او په ژبه فارسي وانان شوي دي او هسدا ده د پښتنو لپاره د فرهنګي ښکېلاک خطرناکه پایله.

د فرهنګي ښکېلاک تر اغېزو لاندې پښتانه واکمنانو فارسي ژبې شوي وو او د پلارنیکه په ژبه ( پښتو) یې لنک لوست نه شو کولی، څو کله چې به هېواد له کوم بهرني یا کورني خطر سره مخامخ شو نو بیا به یې ژغورل له پښتنو څخه غوښتل کېدل او محمدنادرشاه هم د پښتنو سره عین هغه چلند وکړ چې نورو واکمنو کړی و.

دمحمدنادرخان اصلي موخه د پښتنو په توره پاچاهۍ ته رسېدل وو او بس او چې کله د غه مقصد تر سره شو نو بیا پښتنو ته هماغه بې اهمیته او تش په نامه مقامونه او اعزازي رتبې ورسېدې او امتیازونه د نورو شول. هغه نور چې د پښتو ژبې او پښتنو مخالف وو او دوی ته یې د (اکثریت جاهل) نوم ورکړی و.

# د محمدنادرخان په دوره کې د پښتنو یون ته یوه کتنه

داعلیحضرت محمدنادرخان د واکمنۍ لوړ او مهم مقامونه د پاچا ورونو او ددوی نورو نږدې خپلوانو ته وسپارل شول، یو تن غیر پښتون چې په ختېه هم افغان نه بلکې ویل کېدل چې د امو دریاب له اخوا څخه افغانستان ته راننوتي و د محمدنادرشاه، محمد ظاهرشاه او ان چې د محمد داودخان په وخت کې هم د اوچتو مقامونو درلودونکی پاتې شو. دغه سړی علي محمدخان نومېده چې دیوې روسي ښځې سره یې ژوند کاوه او ځینو خلکو ویل چې دهغوی واده چانه و لیدلی.

د ېرکلونه د افغانستان د حکومت او دولت بهرنی سیاست د همدې سړي له خوا اداره کېده. صدراعظم سردارمحمدهاشم خان، حربیه وزیر سردارشاه محمود خان چې وروسته صدراعظم هم شو، سردارشاه ولیخان د پاچا د وکیل دنده پر غاړه درلودله، د پاچا یو ورور په جرمني کې د افغانستان سفیر او نور هم خپل خپلوان په بېلابېلو مقامونو کې ځای پرځای شول.

محمدنادرشاه خان او ورونه یې ټول په ختېه پښتانه وو نه تاجك، نه ازبك یا هزاره او قزلباش. له پښتنو سره یې په یوه دسترخوان ډوډۍ خوړلې وه او ورځې، هفتې او میاشتې نه بلکې کلونه یې له پښتنو سره تېر کړي وو.

دوی ښه پوهېدل چې پښتانه د افغانستان په پېښلیك کې کوم ځای لري او دغه تاریخي هېواد د چا په لاس جوړ شوی دی. دوی په دې هم پوهېدل چې ولې د حاکمو افغانانو ژبه پردۍ، شوې او فرهنګي

ښکیلاك د کوم هېواد او قوم له خوا په پښتنو باندې مسلط کړل شوی دی.

ولې پښتانه د هر پښتون واکمن، امیر، پاچا او ان چې ولسمشر (جمهور رییس) لپاره دیو ضربتي ځواك په توګه استعمال شوي او خپلې واکمنۍ یې پوازې او تر زیاته حده پورې په همدې قوم ساتلې دي. لیکن د دوی ژبه یې بې اهمیته ګڼلې او دیوې حاکمې ژبې مقام او حیثیت یې نه دی ورکړی.

پښتانه نه پوهېږي چې د خپلو مشرانو دغه ډول چال چلند رندي او چالاکي او غولونه و شمېري او که د هغوی ناپوهي بې فکري او ناداني.

یقیني خبره ده که دغه رندي او چالاکي یا ناپوهي او لنډفکري نه وای نو افغانستان به هم د کلونو راهیسې د قومي ژبني شخړو ډګر نه ګرځېدلی او ډېره کیانو او لږه کیانو به خپل حد او خپل حق پېژندلی او لکه د ایران غوندې به عرب عرب او عجم عجم. کرد به خپل ځای درلوده او اذربایجاني به خپل. د لږه کیو ژبه به په خپل ځای کې وه او د ډېره کیانو ژبې به خپل مقام او حیثیت درلود او په نتیجه کې به ژبه د شخړو او خپلمنځي اختلافونو او تضادونو وسیله نه ګرځېدله.

ښایي ځینې کسان په دې عقیده او فکر هم وي چې پښتانه واکمن د پردۍ ژبې یا د فرهنګي ښکیلاك په اهمیت او ارزښت او یا خو په مانا او مفهوم سم نه پوهېدل او د فرهنګ او ژبې له لارې د یوه ازاد قام د غلامولو په ستراتېژۍ نه شول پوهېدلی او نه یې دا خطر احساسولی شو. په تېره بیا چې پښتنو تل د حاکمیت یو عنعنوي سیستم (فیوډالي یا د هغه نه مخکې) د ژوندانه لاره پېژندلی او په دې لاره باندې روان پاتې شوي دي.

لیکن په دې صورت کې دا پوښتنه راپورته کېږي، چې: ایا پښتانه د نړۍ یوازیني او واحد یا مجرد قام و، چې دغه ډول سیستم یې په ژوندانه حاکم و او که نور قامونه او ولسونه هم په نړۍ کې وو، چې ژوند یې د همدغه ډول سیستم پر اصولو او لارو چارو چلېده. ایا هغوی تر اوسه هم د پښتنو غوندې په هماغه کړۍ کې پاتې دي او که نه، له هغې راوتلي دي؟؟

که نورو د هغه کړۍ د ماتولو او له هغه څخه د راوتلو وس موندلی دی، نو دې مهم کار د لاربښوونکو له لاربښوونې پرته امکان نه درلود. لاربښوونکي هغه دي چې د ولس مشرتوب او اداره په لاس کې لري او د واکمنۍ چلولو مسولیت یې په غاړه اخیستی وي. که چېرته د پښتنو واکمن (امیر، پاچا، ولسمشر) په دې حقیقت پوهېدل چې پښتانه د هېواد څواکمن قوم دي او په جنګ جګړو کې باید له دوی کار واخیستل شي او د پاچاهۍ د تخت ستنې همدوی دي، نو بیا په دې څنګه نه پوهېدل چې د حاکم قام ژبه هم باید حاکمه اوسي، نه محکومه او د بل هېواد نه راغلی فرهنګي ښکېلاک ته باید د پای ټکی کېښېښودل شي. نه دا چې په خپله په هغه خم کې رنګ شي. خپله مورنۍ ژبه هېره کړي او د بل ژبه خپله کړي. که چېرته امیر عبدالرحمن خان په دې حقیقت پوهېدلی، چې وواییږ پښتو، د افغانستان لرغونې ژبه ده، نو په دې هم ښه پوهېده چې دغه لرغونې ژبه ولې په افغانستان کې لومړنۍ حقداره ژبه نه ده منل شوې او واکداران یې ولې رسمي او درباري ژبه نه بولي؟ تر هغوی راوروسته نور امیران او پاچاهان هم پښتانه وو، لیکن پښتني او افغاني جوهر یې یوازې په جګړو کې ښکاره کاوه، نه په فرهنګي او پوهنیزه ساحه کې.

د نړۍ په کچ پاخه پوهان، فرهنګي ښکېلاک له سیاسي او اقتصادي ښکېلاک څخه زیات خطرناک او د قومونو د مهار کولو او

غلام ساتلو ډېره غوره وسيله ده او ژبه د فرهنګ زړه دی. د فرهنګ بېخ او بنياد دی.

اعليحضرت محمدنادره شاه که څه هم د خپلې پاچاهۍ پر مهال د ځينو سياسي تېروتنو له کبله د سختو کورنيو شخړو او لانجو سره مخامخ شو او ګڼ شمېر مخالفين يې د سياسي لاملونو له مخې اعدام او زنداني کړل. لېکن له دې سره يې د يوه لنډ وخت لپاره د ځينو فرهنګي ادارو يا موسسو د منځته راتلو وسې ومونډ او په ۱۳۱۱ل کال کې يې د ادبي ټولنې (انجمن ادبي) بنسټ کېښېښود.

دې ټولنې ته په فرهنګي چارو کې د فعاليت دنده ورپه غاړه شوه او د لومړي ځل لپاره (سالنامه) يا وروسته کالنۍ د همدې انجمن له خوا چاپ او خپره شوه، چې دې لړۍ د محمدظاهر شاه د پاچاهۍ او تر هغه راوروسته دورو پورې هم دوام وکړ.

د ادبي ټولنې نوم او هم د کابل کالنۍ نومونه دواړه غير پښتو وټاکل شول. يانې (انجمن ادبي ـ سالنامه) دواړه په دري ژبه وو، چې وروسته يې نومونه په پښتو يانې کالنۍ او پښتو ټولنه يا د ربنتيا په وينا افغان اکاډمي غوره کړای شول.

"د ادبي انجمن چارې محمدنادرخان په خپله څارلې او د سالنامې د ليدلو لپاره به شخصاً دولتي مطبعې ته ورتللو. همدغه ډول کابل مجله د لومړي ځل لپاره د نادرخان په لارښوونه په همدې مطبعه کې چاپ او خپره شوه.

د ادبي انجمن منشي د (حافظ جي فارغ) په نوم يادېده او د انجمن غړي لس تنه کېدل." (۲۴۳)

د ادبي انجمن غړي غوڅ اکثريت غيرپښتانه وو، چې سيد قاسم ربنتيا هم په هغه جمله کې و. د انجمن سرمنشي په ختيه پښتون محمدنوروز خان لوګری و، لېکن په پښتو ژبه يې ليکل نه شول کولای.

دي چې وروسته سفارت او وزارت او د ملي شورا رياست ته هم ورسېد، په پښتو يې خوله خلاصه نه شوه.

په (سالنامه) او (کابل مجله) دوارو کې پښتو دومره لږه وه، چې په نشت حساب وه. د ظاهر خان په دوره کې د سردارمحمد نعيم خان په لارښوونه په (انجمن ادبي) باندې د پښتو ټولنې يا افغان اکاډمي نوم کېښودل شو او نورو نومونو هم بدلون وموند.

اعليحضرت محمد نادرخان د اعليحضرت امان الله غازي غوندې دا هڅه ونه کړه، چې په پښتو وينا وکړي او يا د پښتو ژبې د ودې او پياوړتيا لپاره جلا ادارې جوړې شي، بلکې دغه پښتون واکمن هم د نورو په څېر د فرهنګي ښکېلاك له زنځيرونو ازاد نه شو او نه يې د پښتو ژبې حق ادا کړ.

په مجله او سالنامه دوارو کې حاکمه ژبه پارسي وه، په داسې حال کې چې په هغه وخت کې پښتو اديبان او شاعران فراوان وو، لېکن د فرهنګي چارو ا داره او صلاحيت د غيرپښتنو په لاس کې و او پښتو ژبه او ويونکي يې محکوم پېژندل کېدل. د پښتو مقالې او شعر د خپرېدلو چانس د پارسي مقالو او شعرونو په پرتله تش دوه يا درې فيصده و او فرهنګي ښکېلاك د تېرو وختونو او کلونو په څېر په خپل حال پاتې و.

هغه محمدنادرخان چې د خپواکۍ او هم د نجات يا د سقوي غلو څخه د هېواد د ژغورنې په جګړو کې ټولې برياوې د پښتنو په توره او مېړانه لاس ته راوړې وې، نن يې د پاچاهۍ په دوره کې ډېر ښه کولای شو چې د څواکمن ولس ژبې ته خدمت وکړي او د دې ژبې خوړل شوی حق د فرهنګي ښکېلاك د ختمولو په بيه ادا کړي. د خپلې واکمنۍ په کلونو کې د پښتو ژبې برخه د اصلاح په اخبار کې چې د لومړي ځل لپاره د محمدنادر خان د مبارزې پر مهال په پکتيا کې خپره شوه او د

سقاوي غلو پرضد يې تبليغ کاوه، هم دومره لړه وه، چې په نشت حسابېدله. دغه شان د سقاويانو پرخلاف او د محمدنادرخان په ګټه ځينې نور اخبارونه لکه "ايمان" چې مولوي محمد ابراهيم خان کاموي (د شهيد صدراعظم محمد موسی شفيق کاموي پلار) چلوله، "اتحاد افغان" چې د پکتيا د څمکنيو په سيمه کې خپرېدله، لېکن د پام او اندېښنې وړ خبره دا وه، چې د پښتنو په سيمو کې او د پښتنو له خوا چلېدونکي اخبارونه په پارسي ژبه وو او يا يې په سلو کې پنځه نوي برخه پارسي وه او په فرهنګي ښکېلاك کې راګيرو پښتنو بايد هغه لوستلي واى، ځکه چې پارسي حاکمه ژبه وه او پاچا هم اخبار يوازې په همغه ژبه لوستلاى شو.

په همدې ډول د پاچا له خوا په جوړ شوي (انجمن ادبي) کې غوڅ اکثريت له غيرپښتنو سره و، چې د بېلګې په ډول يې دلته يېژندګلوي کوو:

۱. شهزاده احمدعلي دراني (د انجمن مشر) په خته پښتون په ژبه اردو، انګرېزي او پارسي.

۲. غلام جېلاني اعظمي د انجمن مرستيال، په ژبه پارسي.

۳. ميرغلام محمد خان، غړى، په ژبه پارسي.

۴. قاري عبدالله خان، غړى، په ژبه پارسي.

۵. محمد کريم نزيهي، غړى، په خته ازبك.

۶. سرورخان ګويا، غړى، په ژبه پارسي.

۷. سرورخان جويا، غړى، په ژبه پارسي.

۸. سيدقاسم رښتيا چې دغه تخلص يې وروسته خپل کړ، په ژبه پارسي.

۹. عبدالباقي لطيفي، غړى، په ژبه پارسي.

۱۰ عبدالغني خان مستغني، غړی، په خته پښتون، په ژبه پښتون.
۱۱ عبدالهادي خان داوي، غړی، په خته پښتون، په ژبه پښتون.
۱۲ امین الله خان مریالی، غړی، په خته پښتون په ژبه پښتون.

د دې انجمن له خوا لومړنۍ خپره شوې (سالنامه) قریباً په یو زرو مخونو کې تړوله، په پارسي وه او پښتو په کې لکه مالګه په اوړو کې وه. د محمدنادر خان د لومړني اساسي قانون نوم (اصول اساسي دولت علیه افغانستان) هم په پارسي ژبه و او په دې قانون کې د پښتو ژبې د برخلیك په اړه هېڅ کومه اشاره نه وه شوې او دا خبره په دې مانا وه چې محمدنادرخان ډېر ژر پښتانه له یاده ویستلي او هېر کړي وو، اوس هغه ته پاچاهي رسېدلې وه او سقاویان د پښتنو په توره له منځه وړل شوي وو او بل کوم خطر نه احساسېده.

د محمدنادرشاه په کابینه کې داسې کسان هم وو، چې د خپلواکۍ په جګړه کې یې ونډه اخیستې وه او نه یې د سقاویانو پر خلاف توري یا ټوپك ته لاس وروړی و، چې له هغې جملې څخه لاندې کسان یادولای شو:

فیض محمدخان د بهرنیو چارو وزیر، فضل احمدخان مجددي عدلیه وزیر، میرزا محمدخان په قوم یفتلي د تجارت وزیر، محمدایوب خان د مالیې وزیر او داسې نور چې له پښتنو څخه یې امتیازات ډېر وو.

په ۱۳۰۹ ل کال کې محمدنادرخان لویه جرګه راوغوښتله، چې مشرتوب یې هم د پاچا په غاړه و او په همدې لویه جرګه کې یې

د خپلې واکمنۍ مشروعیت او قانونیت لاسته راوړي، خو د ملي ژبې پښتو د رسمي کېدو مسله جرګې ته وړاندې نه شوه. که څه هم د لویې جرګې د ۳۰۱ غړو غوڅ اکثریت پښتنو جوړاوه، ځکه چې د هېواد په کچ پښتانه د ټولو قومونو په پرتله درې چنده زیات دي

د پاچا محمدنادر خان په (انجمن ادبي) کې داسې کسان هم وو، چې د پښتنو او پښتو ژبې سره یې فکري او عقیدوي ضدیت درلود، چې د بېلګې په توګه د محمد کریم نزیهي، میرغلام محمد غبار، سرورجویا، سید قاسم رښتیا، عبدالباقي لطیفي (دوکتور عبدالواسع لطیفي پلار چې دا وخت د امریکا په کالیفورنیا کې د حېربدونکې جریدې امید د پښتنو ضد لیکوالو په ډله کې ولاړ دي) او داسې نور د یادولو وړ دي. لېکن د حیرانتیا خای و، چې د کاکا عبدالعزیز خان، عبدالرحمان خان لودین چې د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې د (مرکه د پښتو) مشر او هم د سراج الاخبار د لیکونکې ډلې غړی و او عبدالحی خان حبیبي چې د پښتو او پارسي تکړه لیکوال او شاعر و او عبدالرحمان لودین چې د دري ژبې انقلابي شاعر پېژندل شوی و، د انجمن د غړو په جمله کې نه ور ننیول شوي.

پښتنو انقلابي شاعر او لیکوال چې د محمدنادر خان په وخت د کابل ګمرک رییس و، له پاچا سره د سیاسي اختلاف له امله د محمد نادرشاه په حکم د شاهي ارګ په ساحه کې ووژل شو او غبار له نادر خان نه وروسته د محمدظاهر شاه په وخت داسې پېښلیك ولیکلو. پر تاریخي تېروتنو سربېره د پښتنو په اړه له تعصب او سګ نظرۍ څخه ډك دی. چې دلته مې په تاریخ لیکنه کې د فکري او عقیدوي تضاد یوه بېلګه وړاندې کوم. هغه وخت چې سپه سالار محمدنادر خان د خپلواکۍ په جګړه کې د ګډون کولو دنده په غاړه

واخيسته او د پکتيا، گردېز ښار ته ورسېد او هلته ورباندې پښتانه جنګيالي راټول او د انګرېزانو خلاف د جنګ ډولونه وغږول شول. نو د مورخ غبار په دې اړه وليکل:

"وقتيکه سپه سالار محمدنادر خان در ۲۴ اپريل ۱۹۱۹ وارد شهر گرديد شد و عزم لازم بادولت انگليس را اشکارا نمـــود، در سرتاســر پکتيا غريو عمومي برخاست و جنبش مردم شروع شد. موکب قومندان افغاني در خط عبور و تمام جهات با فرياد های هزاران شليک تفنـگ و صدای طبل و نای مرد و زن استقبال شد.

بينندگان احساس ميکردند که اعلان جنگ بـــادولت انگليـــس در منزلت جشن عروسی در بين اين مردم قهرمان تلقين ميشود. اين بود کـه هزاران مرد مسلح از تمام پکتيا، احمدزايي و طوطاخيل، منگل، جدران، جاجي، چمکني، تنی، خوست، احمدخيل، حسن خيل، هاشـــم خيـــل، خروتی و هزاران نفر قهرمان گمنام ديگر که تاريخ به ضبط نام هايشـــان قادر نه شده، بيرق ها بستند و در ميدان های جنگ حاضر شدند".[۲۴۴]

ليکن همدغه مورخ (غبار) د پکتيا هماغـه سرتېري غازيان او انګرېزمـــاتوونکي جنګيـــالي چـــې کلـــه د همغـــه ســـپه ســـالار محمدنادرخان د مشرتابه لاندې د سقاوي لاړه وهونکو پر ضد جګړه پيل کوي نو د خپل کتاب په دويم ټوک کې چې د غبار تر مړينې څو کالـه وروسته د هغـوی د زوی لـه خـوا (حشـمت خليـل غبـــار) پـر ۱۹۹۹م کـال پـه امريکـا کـې چـاپ او خپـور شـو ارتجـاعي او استعماري قوه ګڼل شوي او د غلو ماتوونکو پښتنو په اړه يې داسې ليکلي دي

" قوه های ارتجاعی و استعماری سردارمحمدنادرخان سپه سالار را که اینک در پکتیا موجود و پرچم مبارزه ضدسقوی را افراشته نگهداشته بود، به میدان کشیدند." (۲۴۵)

د سقاویانو سره د غبار خواخوږي او دوستي یوازې قومي او ژبني لاملونه لري او د پښتنو سره د ضدیت او دښمنی روحیه ځکه خو غبار یو بې طرفه او غیر جانبدار مورخ نه شي ګڼل کېدی او لیکنې یې یوازې د غیر پښتنو په ګټه کړي دي او د پښتنو لپاره کوم ارزښت نه شي لرلی.

د پاچا محمدنادرخان په واکمنۍ کې د پښتو یون په تېره ولاړ و او فرهنګي ښکیلاك هم په خپل قوت باقي و، په (انجمن ادبي) کې راغلی بدلون هم د پخوا په څېر د غیر پښتنو او فارسي ژبې په ګټه و ، د ساري په توګه په خته پښتون احمدعلي خان دراني پرځای د فارسي ژبي شاعر ( محمدانور بسمل)( د ادبي انجمن مشر وټاکل شو. ددوی د کورنۍ غړي په همدې وخت ( د اوسني کتاب د لیکنې په وخت) کې د جرمني د هامبورګ په ښار کې د خپل شخصي ټلویزیوني شبکې له لارې د پښتنو خلاف دوامداره تبلیغات پر مخ بیایي.

د اصلاح ورځپانه چې دا وخت په کابل کې خپرېدله او مدیر یې مولانا برهان الدین کشککي و ، د تېر وخت په شان پنځه نوي په سلو کې فارسي مضامین خپرول او مولانا چې پرون ورځ د سقاوي رژیم د حبیب الاسلام اخبار په همدغه ژبه خپرولـه نن ورځ یې د اصلاح ورځپانه چلوله.

دیادولو وړ ده چې مولانا برهان الدین کشککي پر ۱۹۲۰م کال د (تحاد مشرقی) په نوم ورځپانه چلوله او د پښتنو په هغه

ولایت کې مولانا (اتحاد مشرقی) په فارسي ژبه چلولو دا کار د وخت د واکمنو یوه لنډه فکري وه. که له یوې خوا پاچا محمدنادرخان د پښتو او پښتنو نه مخ اړولی اود خپلو سیاسي مخالفانو په نابودۍ پسې یې راخیستی و نو له بلې خوا جنګیالو او روڼ اندو پښتنو هم هېر کړی و، چې د خپلې ملي ژبې د حق غوښتنه وکړي او په دې اړوند یوه ژوندۍ مبارزه پیل کړي، د فرهنګي ښکیلاک نه د ازادېدو غږ پورته کړي او د هېواد د ځواکمن ژبه د محکومیت له حالت نه راوباسي.

البته وزیر محمدګل خان مومند دغه مبارزه د پاچا محمدظاهر خان په دوره کې پیل او د خپل تقاعد بلکې د مرګ تر وخته پورې یې هم جاري وساتله، لیکن د خپلو هیلو سره سمه نتیجه یې لاسته راونه وړه، چې په دې هکله به وروسته خبرې وشي.

زه د هزاره محقق ابواحسان دا خبره چې ګواکې نادرخان قومي فکر کاوه او د سقاو زوی مذهبي سمه نه بولم، ځکه چې که محمدنادرشاه په رښتیا قومي فکر درلودلی، نو ددې قام ژبه به یې لږ تر لږه د محکومیت له حالته ژغورلې وای او په افغاني ټولنه باندې د فرهنګي ښکیلاک حاکم اتوموسفیر به یې له منځه وړی وای.

دغه ډول د سقاو د زوی په اړه دا ټکی چې هغه مذهبي فکر کاوه هم له حقیقت سره هېڅ سمون نه خوري ځکه چې یو خو سقاو زاده نالوستی و او دویمه دا چې نوموړي د مذهب له نوم څخه صحیح مانا او مفهوم نه شو اخیستلای. د هغه د ځوانۍ دوره زیاته په غلا او لاره وهنه کې تېره شوې چې بهرني او کورني تاریخلیکونکي او په خپله د حبیب الله مېرمن بي بي سنګري چې د حقیقت التواریخ په قول د خانګل کلکاني لور وه، په همدې مطلب

شاهدي وايي نو د يوه غل او لاره وهونكي پورې ددې خبرې تړل چې هغه دې مذهبي فکر وکړي ناسمه او غير منطقي بريښي.

تياره ربا اور اوبه ، تور او سپين، روغتيا او ناروغتيا يو د بل ضد ګڼل کېږي. په همدې ډول ښه کار او نابنه کار ياني غلا، لاره وهل او مذهبي کړنه هم يو د بل ضد پېژندل کېږي او د يوه سړي په وجود کې د نقيضينو يوځای کېدل ناممکن دی.

ابواحسان په خپل تاريخي څېړنيز اثر ( سياست تصرف زمين و برتری طلبی قومی در افغانستان ) کې ليکي:[١]

" پشتونها علی رغم تاجک ها اصالت قومی را نسبت به ارزش های دينی درموقعيت تامين منافع استراتيژيک ترجيح می دهند. تفاوت يا اساسی تر بگويم که علت شکست بچه سقاو و موفقيت نادرخان که او يک پشتون بود، اين مقوله بود که نادرخان بيشتر قومی فکر می کرد ولی بچه سقاو مذهبی")٢٣٦).

که چېرې اعليحضرت محمدنادرخان په رښيا سره قومي فکر کاوه نو د قومي اندېښنې لومړنۍ اغېزه بايد دا وی چې فرهنګي ښکيلاك له منځه وړل شوی وای او د ملي ژبې پښتو حاکميت تامين شوی وای په داسې حال کې چې پاچا دغه يو کار هم ونه کړ او پردی فرهنګ پر افغاني ټولنه باندې د پخوا په شان مسلط پاتې شو او نن د همغه فرهنګ او ژبې د تسلط د ټينګښت او تداوم لپاره د ابواحسان غوندې غير پښتانه هلې ځلې کوي او د تاريخي پېښو تحريف کول هم خپله دنده بولي.

دا خبره چې محمدنادرخان پښتو و، يو حقيقت دی خو دا چې هغوی قومي فکر کاوه غير حقيقت. ځکه چې د نادرشاه په لويه جرګه کې هم د ملي ژبې پښتو د تعميم او رسمي کېدلو غږ پورته نه

کړ. په داسې حال کې چې اعلیحضرت امان الله خان لړ تر لړه دغه اواز پورته کړی و.

د پاچا محمدنادرخان پښتون په دوره کې په پښتو ژبه کوم مستقل اخبار یا کومه مجله نه وه اود پښتو یون په تپه ولاړ و. دغه یون په پښتونخوا کې چې پېرنګیانو حکومت کاوه مخ پر وړاندې روان و. پښتو اخبار او مجله د پښتنو له خوا خپرېدل. په داسې حال کې چې انګرېزان له پښتو مطبوعاتو ډېر وېرېدل او زیات وختونه یې پښتانه لیکوال او اخبار چلوونکي زندانونو ته ور اچول، ځکه چې دوی هغه اخبارونه او مجلې د پښتنو د ویښولو وسیله ګڼله.

" د پښتو صحافت په لړ کې انګرېزان ډېر حساس وو ولې چې له کومو خلقو دوی وېرېدل هغه خلق یعنې پښتانه په اردو یا بله کومه ژبه نه پوهېدل. علما په فارسي ژبه پوهېدل. عام پښتانه صرف په پښتو پوهېدل. ځکه چې نر ښځو یې نمونځ اودس او نور بنیادي دیني عقاید په جماعتونو کې په پښتو ژبه زده کړي وو او تقریباً په هر کور کې د رحمان بابا کتاب پروت وو. چې د پښتو ژبې خورولو او زده کولو ډېره ښه ذریعه ګڼل کېده او همدارنګه ځینې نور واړه واړه پښتو مذهبي کتابونه او رسالې هم د علماو له خوا خپرېدې. ځکه خو انګرېزانو نه غوښتل چې د اخبار او مجلو په شکل کې دسیاسي پروپېګنډ په پښتو کې وشي.

د الله بخش یوسفي له اخبار " سرحد " نه وروسته چې کوم اهم او د یادولو وړ پښتو سیاسي مجلې راووتې هغه په ۱۹۲۸م کال کې میاشتنی " پښتون" او اوه ورځنی " انګار" وو. میاشتنی " پښتون" د خان عبدالغفار خان تر ادارت لاندې راووته چې د د

عطاوالله به افتاب برکی پریس امر تسر کې چاپېده سیاسي مجله وه. سیاسي مضامین او نظمونه په کې چاپېدل.

د "انګار" مدیر او مالك امیر نواز جلیا وو. د اسلامیه کالج سټوډنټ رو خو د انګرېزانو ډېر شدید مخالف انتهاپسند ځنې جوړ کړی و. کله چې انګرېز پرنسپل له کالجه وویستو نو جلیا په سرخپوش تحریك کې شامل شو او د "انګار" په نامه یې یوه پښتو او اردو مجله بې اجازې را وویسته او د برتانوي حکومت خلاف یې سخت مضامین او نظمونه په کې چاپ کړل."(۲۴۷)

اعلیحضرت محمد نادرخان له ۱۹۲۹ څخه تر ۱۹۳۳ م کال پورې پاچاهي وکړه، لیکن په دغو کلونو کې د پښتو کوم اخبار یا مجله چا ونه لیدله او نه فرهنګي ښکیلاك پای ته ورسېد. پښتو ژبه د محکومیت له حالت نه ونه وتله، هغه پښتانه روڼ اندي لیکوال او شاعران چې د مشروطیت غورځنګ یې د امیر حبیب الله خان شهید د واکمنۍ پر مهال رهبري کاوه دا وخت چوپ او د ملي خوځښت نه ګوښه پاتې شوي وو او د نادرخان په ادبي انجمن دولتي ادارو، ښوونځیو او رسمي او سیاسي نهادونو کې فرهنګي ښکیلاك د پخوا په شان پیاوړی پاتې شو.

## اتم څپرکی

# د محمدظاهر خان د پاچاهی په ۴۰ کلونو کې د پښتو یون

اعلیحضرت محمد نادرشاه د ۱۳۱۲ ل کال د لړم د میاشتې په شپاړسمه نېټه د نجات لېسې د یو زده کوونکي (عبدالخالق) له خوا د تمانچې په ډز شهید کړی شو او اتلس کلن محمدظاهر خان د همدې کال او همدې میاشتې په نولسمه نېټه یانې د پلار له مړینې نه دوه ورځې وروسته د پاچاهۍ په تخت کښنول شو.

ډېر کلونه پس هزاره څېړونکو او لیکوالو د محمدنادرشاه خان غازي وژونکی عبدالخالق د هزاره قوم پورې تړلی وښود او په دې حساب پښتانه او هزاره ګان په تاریخ کې د دوو مخالفو قطبونو درلودونکي شول، په دې مانا چې پښتنو محمدنادرخان پاچاهۍ ته ورساوه او هزاره و هغه په قتل ورسولو، په داسې حال کې چې د محمدنادرخان د پاچاکېدو سره هزاره ولس ته سوله او کراري راوستله.

نن ورځ په تاریخلیکونکو کې ددې خبرې تصدیق کېږي چې محمد نادرشاه د نوي پاچا په توګه د هزاره ګانو له خوا په خوښۍ ومنل شو او هزاره ولس یې تود هرکلی وکړ. حسن فولادي په (هزاره ها، حکام کابل و حکومت های همسایه) کې لیکي:

" صلح و ارامش در هزاره جات تا زمانی که نادرشا قدرت را در کابل در اکتوبر ۱۹۲۹م نگرفت و به حکومت سقاویان پایـــان نـــداد برنگشت.

نادرشاه به عنوان پادشاه جدید از طرف مردم هزاره مورد استقبال قرار گرفت" (۲۴۸)

دپام وړ خبره د حسن فولادي په تاریخي لیکنه کې چې علی عالمي کرماني په فارسي ژباړلې او خپره کړې داده چې وایي د نادرشا وژونکی د غلام نبي خان چرخي ناجایز (حرامي) زوی و، چې په هغه وخت کې ۱۷ کلن او په قام هزاره و او غلام نبي خان چرخي هغه ته زوی ویلي وو (فرهنگ ددغه هزاره د حرامیتوب خبره نه ده منلې)

دغه لیکنه چې دعلمیت پر ځای په کې عصبیت ډېر لیدل کېږي د تاریخي لیکنې اصول او معیارونه په کې له پام نه غورځول شوي دي. لیکونکی د محمدنادرشاه د وژلو لامل داسې ښیي:

" قاتل نادرشاه که بود؟ اغلب ادعا می شد که وی پسر حرامزاده ای بود از غلام نبی خان چرخی که پدرش در واقع غلام حیدرخان چرخي فرماندگارد امیر عبدالرحمن خان و یکی از باغیرت ترین حامیان امان الله خان بوده است، نام این قاتل محمدخالق است. (په نورو تاریخونو کې عبدالخالق لیکل شوی دی) جوان هزاره گی که در ان زما هفده ساله بود و غلام نبی چرخی او را به فرزندی قبول کرده بود و گفته می شود که او بخاطر اعدام نادرشاه مورد هتک حرمت پدر خوانده اش قرار گرفت و با کشتن اوانتقام خود را دریافت داشت.

منابع افغان هیچگونه توضیحی در مورد سرنوشت این جوان هزاره که چه اتفاقی برایش افتاده، نمی دهد اما یک منبع هزاره متذکر شده است که بعد از باز داشت، ظاهر شاه فرزند نادرشاه اورا اعدام کرده است، ظاهرشاه وحشیانه ترین روش را در اعدام او بکار گرفت، ابتدا

انگشتان او را قطع کرد، سپس زبان و چشمهای اورا در اورد، انـــگاه گوش و بینی اش را برید، بعـــد ازایـــن رفتـــار وحشـــیانه اورا اعـــدام کرد. (۲۴۹)

د اعلیحضرت محمدنادرشاه خان په هکله د غبار لیکل شوی کتـاب ( افغانسـتان درمسـیر تـاریخ دویـم ټوك) لـه همدغـه ډول عصبیت او قهرجنی ځخه ډك دی او د لیکنې ژبه یې دښمنانه ده نـه عالمانه. دا عین هغه ژبه ده چې افغـان دښمن ایرانـی مـورخ مـهدی فرخ په خپل کتاب ( تاریخ سیاسی افغانستان ) کې په کـار راوسـتې ده. ددغـو کتـابونو پـه هـره کـرښه کـې عقـدې او کمپلکسـونه هـر لوستونکی احساسولای شـي. محمدظاهر خـان پـه داسـې منـګ کـې پاچاهۍ ته ورسېد، چې د سلطنت دروند پېټی پورتـه کـول ورتـه ډېر ګران کار وو. لیکن شاته یې داسـې کسـان ولاړ وو، چـې د تجربـو پـه بټۍ کې پاخه شوي وو. دغـه کسان په ترتیب سره سردار محمدهاشم خان، سردار شاولیخان او سردار شاه محمودخـان چـې د پاچـا ترونـه یادېدل، چې ښایي د هزاره عبدالخالق په اعدامولـو کـې د همـدوی رایه او عقیده دخیله وه نه په هغه ډول چې حسن فولادي لیکلي دي.

دغه درې تنه مشران او په ځانګړي ډول سردارمحمدهاشم خان چـې د محمدنادرخـان صدراعظم و، سـردار شـاه محمودخـان حربیـه وزیر، وزیر محمدګل خان مومند چې صدیق فرهنګ د "سر دسته برتری خواهان پشـتون" پـه نـوم یـاد کـړی دی هغـه پیـاوړي کسـان وو چـې د نوي پاچا واکمنۍ وربانديې تکیه شوې وه. سردار محمدهاشم خان د افغانسـتان لومړنی صدراعظم و چـې تقریبـاً اووه لـس کالـه پـه خپله دنده کې پاتې شو. (د ۱۹۲۹ څخه تر ۱۹۴۶ کال پورې ).

ځرنګه چې محمدظاهرخان د خپل پلار د پاچاهۍ تر اعلان وروسته له فرانسې نه هېواد ته راستون شوی و. نو د سقاویانو سره د پښتنو د خونړیو جګړو له صحنې نه هم لرې پاتې شوی و او د هېواد ژغورنې د جګړې د اور د لمبو تودوخه یې هم نه وه احساس کړې. زلمی محمدظاهرخان په فرانسه کې په زده کړه بوخت و، چې پلار یې محمدنادرخان د نجات په جګړه کې د برخې اخیستو لپاره هېواد ته راستون شو او په سقاویانو باندې تر بري وروسته د افغانستان د پاچا په توګه ومنلی شو.

د نجات په جګړه کې د پښتنو سر ښندنې او اتلولۍ دوی په خپلو سترګوونه لیدلې، خو سردارمحمدهاشم خان، سردار شاه ولیخان او سردار شاه محمود خان دعینې شاهدانو په حیث نوي زلمي پاچا ته د خپلو سترګو لیدلي حالات بیان کړي و، په دې ډول زلمی پاچا چې ایله د ۱۸ یا ۱۹ کالو په عمر کې و اوس له هرڅه نه پوره خبر شوی و.

وایي د حکومت ټولې مهمې چارې د صدراعظم محمدهاشم خان له خوا سرته رسېدلې او محمدظاهر خان د زیاتو کلونو لپاره تش یو سمبول پاتې شوی و اود عمر په زیاتېدو سره یې په حکومتي او دولتي بهرنیو او کورنیو چارو کې بلدتیا پیدا کړه او ځه ناځه د تجربې خاوند شو.

په عین حال کې محمدظاهر خان د کتاب او مطالعې سړی هم و او د پاچاهۍ په دوره کې یې ډېر سودمند قیمتي اود زیات ارزښت وړ کتابونه چې پښتو خطي نسخې هم په کې وې په خپله شاهي کتابتون (کتابخانه) کې راغونډ کړي وو، چې بشپړ نوملیک (فهرست) یې په کال ۱۹۶۴م کې د فرانسوي پوه (پروفیسور دوبورکوي.راهب) له خوا خپور شوی دی.

په دې کتاب کې د نورو پښتو اثارو په جمله کې د محمد هوتك پټه خزانه چې په ۱۳۰۳ کې محمد عباس نومي په خپله قلم د حاجي محمداکبر هوتکي په غوښتنه او لارښوونه ليکلې ده هم ليدل کېږي، همدغه ډول د ضابطه ميراث نامه افغان د ملا يارمحمداثر مصاحبه افغان قندهاری و کابلی( مسمی به خوږه ژبه پښتو) اثر عبدالروف بينوا قندهاري ـ تحفه اليشتون اثر حاجي شيخ موج حسين خان نسب افاغنه اثر محمد عبدالسلام خان ـ طرز معاشرت افغانان ( تاريخ افغانستان اثر محمد محمود علي خان صاحب ماهر اکبر ابادی مناقب شيخ رحمکار اثر جميل بن شهباز افغان ۱۱۰۳ ـ ايينه الفاظ افغاني اثر مولوی محمد اسماعيل خان ـ تواريخ غوري اثر بلا قيداس بن جگن لال دهلوي ـ شرح حالات افغان ها اثر مياخان ـ علم گنج اثر احمدشاه بابا غازي درانی ـ ميرات الافاغنه ( ۱۰۳۰ه ) اثر خان ملقب به خان جهان لودي ( وزير جهانگير پادشاه ووالی ملتان ) او داسې نورو اثارو پېژندگلوي شوې ده.

زلمي محمدظاهرخان د استقلال په لېسه او فرانسه کې د نويو پوهنو او عصري پرمختللي ژوند سره اشنا شوی و، مشر ورور يې چې محمد طاهر نوميده د حبيب الله کلکاني په زندان کې خپل ژوند له لاسه ورکړی و، پلار او ترونه يې يوازې د پښتنو په ملاتړ واکمنۍ او ځواکمنۍ ته رسېدلي وو چې تاريخ ددې حقيقت شاهد دی او اوس چې دی د پلار تر مړينې وروسته د پاچاهۍ پر تخت ناست و نو په دې ټولو ښه پوهېده، په تېره بيا چې د بهرنۍ نړۍ په ليدلو او د کتابونو په لوستلو يې ذهن او فکر زيات روښانه شوی و.

سيد قاسم رښتيا په خپلو سياسي يادښتونو کې وايي:

" اعلحضرت فرمودند که اینجا (مطلب یې خپله کتابخانه ده) کتابهای زیاد موجود است وشما از بین ان بعضی را انتخاب کرده اول خود تان مطالعه کنید، بعضی روزها باهم می نشینیم و راجع به این کتابها حرف می زنیم، اگر چیزی مورد پسند واقع شد انرا مشترکاً ترجمه می کنیم، چند روز بعد به این فیصله رسیدند که کتاب تاریخ تحولا اجتماعی را که یک کتاب بسیار مفصل علمی بود ترجمه کنیم. عنوان جلد اول ان "از خانواده تا قبیله" بود و مضمون ان مشکل و نسبتاً خشک اما با وصف این اعلیحضرت با علاقه مندی زیادی به این کار دوام می دادند وساعت ها وقت خود را صرف ان می فرمودند" (۲۵۰).

رښتیا وايي په هغه وخت کې محمدظاهر خان ۱۸ کلن او زه شل کلن وم ځکه خو په لیسه کې دوه صنفه تر هغوی مخکې وم، وروسته هغوی اروپا ته لاړل، که د مورخ رښتیا دغه وینا رښتیا وي نو سړی پوهېدلی شي چې محمد ظاهر خان د زلمیتوب له وخته روڼ اندی او د مطالعې مینه وال و، له همدې کبله ډېر ژر د هېواد د عمده او مهمو مسایلو سره اشنا شو، له بلې خوا ددوی نږدې او تجربه کار ښوونکی صدراعظم سردار محمدهاشم خان و چې د کارونو دروند پېټی یې په خپلو اوږو اخیستی و.

دنوي حکومت او نوي زلمي پاچا پر وړاندې د پرتو مهمو مسایلو په جمله کې یوه مهمه مسله د ملي ژبې پښتو د تعمیم او رسمي کېدلو هم وو چې پخوانی پاچا اعلیحضرت امان الله خان د هغه ارزښت او اهمیت د جلال اباد په لویه جرګه کې اعلان کړی و، لیکن اعلیحضرت محمدنادرخان هغه مهمه مسله یو څه شا ته وغورځوله. صدرا عظم سردار محمدهاشم خان د خپلواکۍ د جګړې او د نجات د جګړې عیني شاهد پاتې شوی و او په دغو جګړو کې

د پښتنو د لوړ کردار اندازه ورته ښه څرګنده شوې وه، ځکه خو یې دغه مسولیت احساساوه چې ژلمي پاچا له تېرو تاریخي حقایقو له جریان نه پوره خبر او خپله غاړه خلاصه کړي.

هغه مبارزه چې د اعلیحضرت محمدنادرخان په وخت کې ملي مبارزینو لکه وزیر محمدګل خان مومند او نورو د پښتو ژبې د حق لپاره پیل کړې و، د وخت د پاچا د غفلت له امله بې نتیجې پاتې شوه ( په دې اړه مفصلې خبرې به په راتلونکي څپرکي کې ولولئ).

اوس چې محمدظاهر خان پاچا شوی و، د ملي ژبې پښتو د تعمیم او رسمي کېدلو اړتیا له پخوا نه زیاته لیدل کېده، ځکه چې د نوي واکمنۍ په تینګښت کې پښتانه له نورو ټولو مخکې وو، لیکن ژبه یې د پخوا په څېر د محکومیت او غیر رسمیت په حال کې پاتې وه. د پاچا دحضور سرمنشي محمد نوروز خان و چې د محمدنادرشاه د حضور سرمنشي هم و، دی په خته پښتون لیکن په ژبه فارسي زبان و، پخوا د اصلاح ورځپاڼې چلوونکی پاتې شوی و او په مطبوعاتي سیاست ښه پوهېده، په دې برخه کې زیاتې مشورې همده پاچا ته ورکولې او د اختیار او صلاحیت خاوند هم و. غبار وايي ( د نګاهی با افغانستان ) مقالې چې تاریخي ماهیت یې درلود او ما د کابل مجلې لپاره لیکلی د پاچا د سرمنشي میرزا نوروز خان له خوا په کلکه سانسور کېدلې او زیات ځایونه یې ورځنې ایستل کېدل. د محمد ظاهر شاه په وخت کې هم محمدنوروز خان د هغوی د حضور لومړنی سر منشي و خو د وزیر محمدګل خان مومند سره یې د پښتو ژبې لپاره په مبارزه کې مرسته ونه کړه، بلکې د مطبوعاتو د ریاست مشر صلاح الدین سلجوقي چې د پښتو ژبې او پښتنو نږدې ملګری و، دده په دوره کې مطبوعات تر کلك سانسور لاندې وو او مطبوعاتي سیاست یې

په دې ټکی ولاړ و چې د اخبار ( ورځپاڼې ) او مجلې په سطحه باید د پښتو ژبې سوال پورته نه شي او په دې اړوند باید هيڅ ډول شعر يا مقاله خپره نه شي، ځکه چې دا کار په افغانانو کې د بې اتفاقۍ د پيدا کولو سبب کېږي.

صلاح الدين سلجوقي، سيدقاسم رښتيا، محمدابراهيم صفا، سرورجويا، چې د انيس چلوونکی و او نورو چې د هغه وخت په مطبوعاتو کې يې اغېزمن رول درلود په دې ډګر کې د صلاح الدين سلجوقي دسياست نظريې او عقيدې پيروان وو او عين همدغه سياست چې کله سيدقاسم رښتيا په خپله د مطبوعاتو مستقل ريس و ( د وزير په رتبه) او محمدابراهيم صفا د محمدظاهر خان د سلطنت په لومړيو کلونو کې د غه مطبوعاتي سياست په کلکه عملي کړی شو ليکن پښتنو په هرځای او هر وخت کې د نوي سياست پر ضد خپل غږ پورته کاوه، خو شعرونو او مقالو يې د خپرېدلو اجازه نه درلودله، سيدقاسم چې د پښتنو له خوا له پښتنو سره په دښمنۍ تورن شوی و، له ځان ځخه ددغه تور د لرې کولو په خاطر يې پښتو تخلص ( رښتيا ) د ځان لپاره غوره کړ.

محمدظاهرشاه د خپلې څلويښت کلنۍ پاچاهۍ په موده کې يو پېژندل شوی پښتون هم د خپل سر منشي په توګه ونه ټاکلو او د حضور سرمنشيان يې ټول غير پښتانه وو، لکه استاد خليل الله خليلي د سقاو د زوی ستاينوال، نورمحمد کهکدای او داسې نور...

قاسم رښتيا د پاچا يو باوري مطبوعاتي سلاکار و او د همدې باور له مخې ورته دوه ځلې دمطبوعاتو د مستقل رياست څوکۍ ورکړل شوه. په همدې ډول خليل الله خليلي چې د پاچا مطبوعاتي سلاکار او په حقيقت کې د حضور سر منشي و وروسته د مطبوعاتو

د مستقل ریاست پر څوکۍ کېناست او همدی و چې کله په ولسي جرګه کې د ملي ژبې پښتو د تعمیم او رسمي کېدلو مسله راپورته شوه او د جرګې مبارزه استازو په خپلو وینااوو کې په دې اړه سپینې وینا وې کولې او په خپله غوښتنه هم کلك ولاړ وو، دمرکز او ولایاتو اخبار چلوونکو ته د خپل قلم مخصوص مدیریت د لارې لیکونه په متحدالمال ډول ور ولېږل چې د پښتو ژبې د مسلې په اړه د لیکوالو مقالې او د شاعرانو شعرونه خپاره نه کړي ځکه چې ملي وحدت ته زیان رسوي او په قومونو کې بې اتفاقي راپیدا کوي.

په دې ډول د پښتو ژبې مخالفانو چې د پاچا سرمنشیان، مطبوعاتي سلاکاران او د مطبوعاتو د مستقل ریاست مشران یې په سر کې وو د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو مسله د پاچا په سترګو کې دیوې داسې خطرناکې مسلې په ډول انځور کړې وه چې ان د پاچا تاج او تخت یې هم له لړزېدو سره مخامخ کولی شو، پاچا چې په خپله د پښتنې وینې څخه و، د مسلې په بنسټیز اړخ باندې ښه پوهېده.

هغه نه پوهېده چې له پښتو ژبې سره ناروا او بې انصافي په حقیقت کې د پښتون قوم سره جفا او بې انصافي ده، دغه مسله یوه ملي مسله ده نه لکه مخالفینو چې تبلیغ کاوه یوه سیاسي مسله.

پښتانه مبارزین چې د ملي ژبې په اهمیت ښه پوهېدل او د دې ملي ژبې د مخالفینو موخې او مقصدونه هم ورته معلوم وو نو په هغو شرایطو کې یې د خپل پیغام په ادبي لفافه کې پښتون قام ته رساوه.

د پاچا شاوخواته داسې کسان راټول شوي وو چې په سر کې یې د توکمي او ژبني تعصب ناروغۍ ځای نیولی و، لیکن کله چې صدراعظم محمدهاشم خان او محمدنعیم خان په خپله کابینه کې د

( معارف د وزیر په توګه ) وتاکلو نو په وضع کې یو نسبي بدلون راپیدا شو او د پښتو ژبې په ګټه یو څه قدمونه پورته کړی شول چې په هیدې څېرکې کې به ورباندې خبرې وشي.

سردارمحمدهاشم خان صدراعظم هم ورو ژلمي پاچا پـه دې وپوهولو چې د پښتو ژبې خوا ته پام اړول دوخت او شرایطو غوښتنه ده او د هغه نه سترګې پټول د ګټې پرځای زیان لري. پاچا ومنله چې په دې اړه یو ګام پورته کړي او دغه ګام د پښتـو ژبـې د تعمیم او رسمي کېدلو په اړونـد دیو فرمـان جـاري کـول وو. دغـه فرمـان د ۱۳۱۵ کال د حوت په میاشت کې ( د ۱۹۳۷ م کـال د ) د مارچ په میاشت) کې جاري او د هغه وخت د اصلاح په اوونیزه کې هم خپور شو. په دې فرمان کې راغلي وو:

" ج.ع.ج.ا.ا نشان عم محترم سردار شاه ولیخان غـازي وکیل صدراعظم:

مسلم است که مساله زبان در وحدت علیه حفظ اداب وشعایر یک ملت اثرات مقنابهی داشته و توجه باین مطلب از جمله ضروریات حیاتیه یک مملکت بشمار میرود. چون در مملکت عزیز ما از طرفـی زبـان فارسی مورد احتیاج بوده و از جانب دیگر به علت اینکه قسمت بزرگ ملت ما به لسان افغانی متکلم و مامورین علی الاکثر په سبب ندانستن زبان پشتو د چار مشکل میشوند لهذا برای رفع زیان این نقیصه و تسهیل معاملات رسمی و اراده فرموده ایم همچنان که زبان فارسی در داخـل افغانستان زبان تدریس و کتابت است در ترویج و احیای لسان افغانی هم سعی بعمل امده و از همه اول مامورین دولت این زبان ملی را بیاموزند.

شما به وزارت ها و نایب الحکومه ها .. امر بدهید که مامورین لشکری و کشوری مربوط خودرا مکلف نمایند که در مدت سه سال لسان افغانی را اموخته و در محاوره و کتابت مورد استفاده قرار بدهند. . . الی الاخر"(۲۵۱).

اعلیحضرت محمدظاهرخان په دې فرمان کې چې يوه برخه يې ددې كتاب لوستونكو له نظره تېره شوې څو مهمو خبرو ته څرګنده اشاره کړې ده.

الف : په هېواد کې پښتانه د ډېره کيانو په نوم ياد شوي دي.

ب : د حکومت د مامورينو زياته برخه په پښتو باندې د نه پوهېدلو له امله له ستونزو سره مخامخ کېږي.

پ : تر ترڅه لومړي دولتي مامورين بايد دغه ملي ژبه زده کړي.

ت : پښتو، د ملي ژبې په توګه ياده شوې ده.

ج : د ملي ژبې پښتو د رواجولو او ژوندي کولو لپاره دې هڅې وشي.

چ : ټول ملکي او پوځي مامورين دې په دريو کلونو کې پښتو ژبه زده کړي او په خبرو او په ليکلو کې دې ورڅخه ګټه پورته کړي.

ليکن دغه فرمان د خپلي ځانګړې روحيې له کبله په مخالفانو باندې ډېر سخت ولګېد او درد يې څوکاله وروسته په ختمه هزاره صديق فرهنګ په خپل كتاب کې په ترخو الفاظو او کلماتو سره بيان کړ، پښتون دښمن فرهنګ د غه فرمان داسې تعبير کړ:

" پس از انکه درسال ۱۹۳۳هتلر رهبر حزب ناسیونال سوسیالیست المان زمام قدرت را در دست گرفت وبه تبلیغ نظریه برتری نژادی پرداخت یک عده از شخصیت های دولتی افغانستان ازجمله محمدداود خان و محمدنعیم خان برادر زاده گان محمدهاشم خان و عبدالمجید خان ریس

بانک ملی به نظر یه مذکور گرویده تبلیغات همانندی را در افغانستان رویدست گرفتند.

انها نظر محمدگل را درباره تعمیم زبان پشتو و طرد سایر زبان ها از خود نموده پس از انکه انرا با اب وتاب هتلری جلا وصیقل دادند به عنوان سیاست جدید فرهنگی درمحل تطبیق گذاشتند، این وقتی بود که در سطح بین المللی المان نازی باوج قدرت رسیده و دور نمای پیروزی نهای و حتمی ان عنصر زروگو و فاشیست مزاج در همه جا بسوی خود جلب میکرد. در افغانستان قدم اول درین راه توسط فرمان برداشته شد که در شماره ۲حوت سال ۱۳۱۵ مرادف با ۳ مارچ ۱۹۳۷ میلادی راجع به زبان پشتو در جریده اصلاح نشر شد."(۲۵۲)

د فرهنګي ښکیلاك پرېښو ، د صدیق فرهنګ غونډې د پاچا دغه فرمان چې د هېواد دغښ اکثریت ( پښتنو) ژبني حقوق یې خوندي کول یوه " فاشیستي" کړنه وبلله او په دې ډول یې یو ځل بیا د پښتو او پښتنون قام سره د تعصب، تنګنظری تیاره ذهنیت اود حقایقو او رښتیاو نه د تېښتې ثبوت ورکړ. د پاچا د فرمان په رڼا کې د فارسي ژبې ) نه دري ژبې) په اړه هم وضاحت شوی و او فرمان دا مانا نه ورکوله چې ګني د پښتو ژبې په بدل کې فارسي ببخي له منځه ځي او یا یې حاکمیت پای ته رسېږي، لیکن ددې سره سره د فرهنګي ښکیلاك عاملانو غوغا جوړه کړه او په ویر کښناستل.

دوی پرته له کوم علمي دلیل او منطق یا کوم عیني ثبوت نه د مخالفت لاره ونیوله او په واویلا شول، له بلې خوا د ایران د تهران ورځپاڼو او اوونیزو هم د فارسي ژبې نه ددفاع غږ پورته کړ او داسې مقالې یې خپرې کړې چې ګواکې فارسي ژبې افغانان ایرانیان او د ایرانیانو اولاده دي.

په هر حال د پاچا محمدظاهر خان د فرمان پر اساس ډېر ژر په مرکز او ولایاتو کې د پښتو ژبې کورسونه جوړ شول او ددې کورسونو په نوم یوه اداره هم لومړی مستقله او وروسته د پوهنې د وزارت په چوکاټ کې منځته راغله او د پښتو ژبې د زده کړې لپاره یو نوی پړاو پیل شو.

د معارف د وزیر په توګه د سردارمحمدنعیم خان د ټاکل کېدو سره د محمدنادرشاه د وخت "انجمن ادبی" د خپل تشکیل سره یو ځای په یو نوی ادبي تشکیل واړول شو او نوم وربانډې "پښتو ټولنه یا افغان اکاډمي کیښودل شوه. مورخ سیدقاسم رښتیا په دې اړه لیکي:

" به زودی سردارمحمدنعیم خان به حیث وزیر معارف و ریس انجمن ادبي تعین گردید وباین صورت کار های من رسماً تحت اثر شان قرار گرفت، اولین اقدام شان در قسمت انجمن ادبي تغیر نام و تشکیلات ووظایف انجمن بوده که در اساسنامه جدید، انجمن ادبی به نام" پشتو تولنه " یا افغان اکاامي مسمی گردید" (۳۵۳).

په همدې ډول په مطبوعاتو کې هم یو بدلون راغی چې موخه او مقصد یې په مطبوعاتي ډګر کې پښتو ژبې ته پام اړول او په ورځپاڼو او مجلو کې د پښتو ژبې ونډه زیاتول وو چې دغه کار هم د سردار محمدنعیم خان د اصلاحاتو د پروګرام یوه برخه وه.

د همدې اړتیا له مخې کابل مجله چې د محمدنادرشاه په دوره کې ټوله فارسي وه، ټوله پښتو شوه، د قندهار ادبي انجمن د کابل د انجمن ادبی سره یو ځای په "پښتو ټولنه" کې مدغم شو او په نوي منځته راغلي پښتو ټولنه کې نوې څانګې د ژبې، ادبیاتو، تاریخ او څېړونو په نوم جوړې او په کار یې پیل وکړ.

رښتیا په خپلو یادښتونو کې وایي:

" در این حصه هدف اول توجه به زبان پشتو و انتخاب ان به حیث زبان ملی افغانستان بود که این مفکوره بیشتر جهت تقویه مبانی _ ملیت وتثبیت هویت ملی در حلقه های بالا به میان امده بود. و درین قسمت اولین کاری که صورت گرفت تغیر شکل ووظایف انجمن ادبی کابل بود که چنانچه ذکر شد، با یکجا نمودن انجمن ادبی قندهار یک موسسه بزرگ بنام پشتو تولنه با شعبات مختلف لسان، ادبیات، تاریخ ونشرات بنیانگذاری شد" (۲۵۴)

د پښتو ژبې نوي يون د هېواد د ډېره کيانو پښتنو لپاره نوي هيلې را پيدا کړي، ليکن ددې په څنګ کې مخالفانو په نويو وران کاريو او غلطو تبليغاتو لاس پورې کړی و او په دې لاره کې يې خندونه راپيدا کول، چې د پښتو زده کړې سره ددولت د مامورينو او کارکوونکو ليوالتيا کمه او ان بيخي له منځه يوسي، چې ځينې ورې بېلګې يې د دلته د موضوع د روښانه کولو په مقصد راوړل کېږي.

۱. غير پښتنو وزيرانو ځانونه له پښتنو نه معاف کړل که څه هم پښتو ليک لوست يې نه شو کولی.

۲. د وزير مرستيالانو او معينانو هم ځانونه په هماغه کته ګوری کې شمېرل او د پښتو زده کړې ته نه حاضرېدل.

۳. لوی او واړه ريسان د کارونو د زياتوالي په بهانه د وزيرانو او معينانو په موافقت له پښتو زده کړې نه معاف شوي وو.

۴. لويو مديرانو او مديرانو د پښتو کورسونو د ښوونکو په موافقت چې ځينې ځانګړې لاملونه يې درلودل د زده کړې خونې ته د حاضرېدلو نه ښښلی شوی وو او په دې اړه د کورسونو ښوونکي د زياتو تورونو لاندې وو.

۵ د تیټو پاوړو رتبو او څوکیو کارکوونکو د لوړ رتبه مامورینو چلند ته په کتلو د پښتو زده کړې سره بې علاقه ګي ښودله او د پښتو ښوونکي د خپل صلاحیت د محدودیت او د لوړو مقاماتو د منفي چال چلند له امله جدي غبرګون نه شو ښکاره کولی.

۶. د پښتو ښوونکي چې د لوړو زده کړو پراوونه یې نه وو وهلي او د ژبې د تدریس پوهه یې لږه وه او له بلې خوا په معاشي او اقتصادي لحاظ یې ژوند ستونزمن و نو خینو یې د پیسو اخیستلو په بدل کې د بري دلمبرو د ورکولو نه هم مخ نه اړولو او دغه اوازه چې د پښتو شهادتنامه ( بری لیک) په پیسو خرڅېږي هره خوا خپره شوې وه.

په دې ډول د دولت د کارکوونکو ( ملکي او عسکري) لپاره د پښتو ژبې د زده کړې کورسونه لکه څومره چې یې اټکل شوی و ګټور ثابت نه شول او پایلې یې په زړه پورې نه وې.

ددې ناکامۍ اصلي لامل د پوهانو او روڼ اندو له نظره په جدي او صادقانه توګه د فرمان نه تطبیق کېدل وو او واکمن مقام تش دیو کاغذ ( فرمان) لاسلیك کول کافي وګڼل او د فرمان دسم او رښتیاني تطبیق او کلکې څارنې ضرورت ته یې کوم خاص اهمیت ور نه کړ.

صدیق فرهنګ چې دپښتو ژبې د زده کړې په اړوند د پاچا فرمان یوه ( فاشیستي) کړنه بللې وه د فرمان په ناکامۍ یې خپله خوښي داسې څرګنده کړه:

" در پایان مدت سه سال طرح کنندگان بر نامه حتی خـــود شـــان و اعضای حکومت و کابینه شان موفق نشدند زبان پشتو را فرا گیرند، تا چـــه رسد به مامورین جزء که سیاست برتری خواهی قومـــی و لســـانی دولـــت

ضدیت شانرا در برابر ان تحرک کرده و تلاش میورزیدند تا انرا از طریق مقاومت منفی ناکام سازند."(۲۵۵)

د پښتو ژبې د تعمیم او رسمیت ډېر کلك مخالف صدیق فرهنګ له یوې خوا ددولتي کارکوونکو لپاره د پښتو ژبې د زده کړې تجویز ددولت د قومي او ژبني برترۍ غوښتنې سیاست بولي او د بلې خوا د پښتو د زده کړې پر وړاندې د منفي مقاومت خبره کوي. دغه منفي مقاومت هماغه څه وو چې مخکې موږ هغه د وران کاریو، د پښتو ژبې په اړه د تورو ذهنیتونو د ساحې پراخولو او د پاچا د فرمان د سم عملي کېدلو په لاره کې د خنډونو او ستونزو راپیدا کول وګڼل او د فرهنګي ښکیلاك د بریڅو پښتنو ضد عمل ډېر څرګند ثبوت هم و.

د هېواد د یو وړونکي غیرپښتون اقلیت اغه دښمني او وران کاري د پاچا محمدنادرخان په دوره کې هم روانه وه او د پښتنو په مېړانه د جوړشوي او خپلواك شوي افغانستان د ډېره کیانو د پردۍ ژبې د ښکیلاك لاندې ساتلي شوی او د خپلې ملي ژبې پښتو د حاکمیت په ارمان پاتې وو، وزارتونه او سفارتونه د غیر پښتنو لکه ربنتیا، فرهنګ او داسې نورو په برخه او د افغانستان د خپلواکۍ او د خاورې د بشپړتیا نه دفاع او ساتنه د پښتون قوم په حق کې رسېدلی وو.

د هېواد د ډېره کیانو روڼ اندي او په پښتو او پښتونولۍ مین پښتانه ددومره سترې حق وژنې پر وړاندې چوپ او خوب وړي پاتې وو، دوی د مشروطیت غوښتنې په لاره کې د مرګ تر پولې وړاندې لاړل لیکن د خپلې مورنۍ ملي ژبې د حاکمیت او د فرهنګي ښکیلاك د پای ته رسېدو لپاره یې د مبارزې او حق غوښتنې بېرغ پورته نه کړ او نتیجه دا شوه چې هغه غمیزه تر نن را ورسېږي او د فرهنګ غوندې غیر پښتانه په شلمه پېړۍ او د پښتنو د واکمنۍ پر مهال افغان ضد

پښتلیك ولیکي او یا غبار د پښتنو د تاریخ زیاتې پښتې تحریف او په ناسم ډول خلکو ته وړاندې کړي.

د محمدظاهر خان د پاچاهۍ په وخت کې د مطبوعاتو مستقل ریاست په ۱۳۱۹ (۱۹۴۰) کال د هېواد د مطبوعاتو د کنترول او څارنې په مقصد خپل کار پیل کړ او ددې ریاست مشر د وزیر په رتبه د هرات د ولایت هماغه مفتي (صلاح الدین سلجوقي) وټاکل شو، چې نه د مشروطیت د غورځنګ غړی نه و نه یې د خپلواکۍ په جګړه کې کومه برخه اخیستې وه او نه د سقاویانو پر ضد جګړه کې شریك و.

نادرپښتون نوموړي مفتي بمبۍ ته د جنرال قونسل په توګه استولي و، رښتیا وایي چې دی د استقلال په لړسه کې د دنیات ښوونکی هم پاتې شوی و، په همدې لړسه کې ظاهرخان هم زده کړه کوله او یوه لنډه موده د اتفاق اسلام چلونکی پاتې شوی و، د پښتو ژبې نومیالی لیکوال محقق او د فارسي ژبې استاد عبدالحی خان حبیبي چې د قندهار د طلوع افغان د اوونیزې مدیر چلوونکی و، لوړو مقاماتو له خوا د مطبوعاتو د مستقل ریاست مرستیال او د پښتو ټولنې لوی مدیر وټاکل شو، چې د رښتیا د وینا له مخې صلاح الدین سلجوقي د نوموړي نومیالي پښتون د مقررۍ مخالف و او د ډېرې هڅې سره سره یې د هغه مخنیوی ونه کړای شو. چې دغه مطلب سید قاسم رښتیا په خپلو یادښتونو (۳۰مخ) کې راوړی دی.

د پښتو ژبې لوی پوه او پوخ لیکوال عبدالحی حبیبي په طلوع افغان کې د خدمت پر مهال د پښتو د نومیالي شاعر عبدالقادر ختك د عالمانه سریزې او تعلیق سره په کندهار کې چاپ او خپور کړی و او د " پیغام شهید" مشهور شعر یې په فارسي ژبه هم فارسي ژبو لوستلي و او نور پوهنیز څېړنیز کارونه یې هم سرته رسولي وو په داسې حال کې چې صلاح الدین سلجوقي مطبوعاتي او نشراتي کارونو کې هېڅ ډول

سابقه نه وه لرلې، نو په کار خو داوه چې پښتون پوه اديب او د تاريخي مسايلو ماهر بايد د مطبوعاتو مستقل ريس په توګه وټاکل شو او د مرستيالۍ سره يې هم سلجوقي مخالف و.

ددې بنيادي وجه دا وه چې د مطبوعاتو مستقل ريس يو وتلی پښتون پوه په خپل څنګ کې نه شو برداشت کولی. بلکې هغه غوښتل چې سيد قاسم رښتيا د نوموړي د مرستيال په توګه وټاکل شي او ر ښتيا يې د همدې مقصد لپاره سردارمحمدنعيم خان ته ورو لېږلو خو ددې دول هڅو څخه کومه نتيجه را ونه وتله.

وروسته پوه عبدالحی حبيبي د خپل علميت له مخې د ادبياتو د پوهنځي لومړنی ريس وټاکل شو، چې د فرهنګي ښکيلاك بريخو لپاره دغه ټاکنه د غم او درد موجب شوه، زلمی عبدالحی حبيبي چې وروسته بيا د پښتو او فارسي ژبو د افغانستان د تاريخ او ادب لوی استاد او پوهاند وګرځېد او په نړيوال کچ او بين المللي سطح يو منلی عملي شخصيت وپېژندل شو او د ليکلو کتابونو شمېره يې له سلو هم واوښته د فرهنګي استعمار نوکرانو ورته په نېك نظر او ښه ستر ګه ونه کتل او وخت نا وخت يې د هغه لوړ علمي او ادبي شخصيت په مقابل کې حسادت او تعصب ښکاره کړ، چې دوه کوچنی بېلګې يې دلته وړاندې کوو.

الف : دغه په خته هزاره ايرانی الاصل محقق د پوهاند استاد عبدالحی حبيبي د علمي او ادبي شخصيت له ستاينې وروسته او دا چې ددوی څينې اثار په انګليسي او عربي ژبو هم ژباړل شوی دی، د پښتنو سره د خپل ړوند تعصب او تياره ذهنيت له مخې ليکي:

" او ازنگاه فکری و انديشه، يک نژاد پرست و پشتون گرای مطلـــق بود، در در تحقيقات تاريخ نيز تا حد امکان را بر اساس مفکوره نژاد گرايانه

خویش تحلیل و توجیه کرده و نظریات مشکوک و بعضاً بی اساس زیادی ارایه دارد و حتی رجال و شخصیت های موهومی تراشیده است، تصحیح نظرات نادرست وی به سال ها کار و تحقیق مداوم نیاز دارد"(۲۵۶).

ب : همدغه ډول نوموړی لیکوال په یوه اوږده څېړنه کې چې هڅه یې کړې ده د ادب دوه مهم کتابونه ( پټه خزانه او تذکره الاولیاء) چې مولفان یې محمد بن هوتك او سلیمان ماکو دي جعلي وښيي، د خپلې لیکنې په پای کې لیکي:

" باری اقای حبیبی و دستیاران او متاسفانه با جعل پته خزانه نه تنها تاریخ کشور را مخدوش ساختند، بلکه بذر تعصب و نفرت درمیان اقوام و ملیت های با هم برادر پاشیدند و ضربه مهلکی به وحدت و همبستگی ملی اقوام وارد کردند تا ان حد که اثرات و پیامدهای شوم ان تا کنون در اذهان باقی مانده است" (۲۵۷).

موږ ددې کتاب په مخکنیو پاڼو کې په افغاني خاوره کې د فرهنګي ښکیلاك په هکله دغه مطلب روښانه کړ چې دغه ښکیلاك له سیاسي او اقتصادي ښکیلاك نه څو چنده خطرناك دی ځکه چې د فرهنګي ښکیلاك ستر هدف او مقصد تر استعمار لاندې ولس د تاریخ او فرهنګ تحریف او مسخه کول او د ملي هویت د پخو دیوالونو نړول دي او هغه کسان چې د ښکیلاك په خدمت کې دي د هر ډول وسیلې او هرې لارې نه چې امکان ولري کار اخلي او کله کله د علم او پوهې د نمایش په ښکاره کولو په ناپوهۍ او جهالت ولاړ اراجیف او د قومي او ژبني او مذهبي تعصب نه ډك مطالب خپروي.

ددغه ایراني الاصل محقق د ناپوهۍ او جهالت لپاره ډېر ښه سند او دستاویز ددوی خپله وینا ده، دی داسې عقیده لري چې ګواکې د پټې خزانې د کتاب د جعل لپاره دغه دلیل کافي دی چې نوموړی

کتاب د افغان ملت له جوړښت سره سمون نه خوري یانې که د پتې خزانې په اړه د حبیبي نظر ومنو نو دا په دې مانا ورکړي چې پرته له دې چې ملت موجود اوسي د هغه ملت ادبیات موجود وو. دی وایي:

" اگر ادعای حبیبی را بپذیریم نتیجه ان خواهد شد که ادبیـــات یـــک ملت قبل از تشکل وی به وجود امدن خود ان ملت پا به عرصـــــه وجـــود گذاشته است. و این بسیار بعید می نماید"(۲۵۸).

ددغه هزاره څېړونکي لپاره به دا گرانه وي چې د افغان ملت د تاریخي جوړښت او ددغه ولس د شتوالي په هکله معلومات ولري، په داسې حال کې چې د شلمې پېړۍ د پای تر کلونو پورې په خپله هزاره گانو لیکلی تاریخ نه درلود او دغه پښلیك ورته د شلمې پېړۍ په پای کې یو شوروی (روسی) محقق ( تیمورخانوف) ولیکلو.

( تاریخ ملي هزاره ) کوم تاجك یا هزاره نه دی لیکلی بلکې روسي یوه تیمورخانوف کښلی دی، فیض محمد کاتب هزاره سراج التواریخ، امان التواریخ اود پښتنو ( افغانانو) په باب نور کتابونه لیکلي دي خو د خپل قام هزاره په نوم یې تاریخ یا کوم څېړنیز اثر نه دی لیکلی، څکه خو د هزاره څېړونکي ( کاظم یزدانـي) قضاوت د پوهاند عبدالحی حبیبي او د هغوی د اثارو په باره کې د تعصب، تنگنظری، ناپوهی او حسادت څخه پرته بل څه نه شي کېدلی او د ارزښت وړ نـه شـي گڼل کېدلی.

دغه ډول لیکنې په افغانستان کې د فرهنگي ښکیلاك د برېـڅو هغه ناکامې هڅې دي چې د پښتنو یانې افغان ولس د کرکې او نفرت اندازه نوره هم زیاتوي او د پښتو ژبې او پښتون قام ضد بلل کېږي.

د پاچا محمدظاهر خان د واکمنۍ په څلوېښتو کلونو کې د ایران سره دسیاسي اړیکو د نږدیوالي له کبله د ایرانیانو لپاره د فرهنگي

فعالیت ساحه زیاته پراخه وه، په لسګونو ډول فرهنګي او سیاسي خپرونې کابل ته راتلې او د کابل د ښار په ګوټ ګوټ کې پلورل کېدلې.

د ایراني مخربو کتابونو پلورنځي پریمانه لیدل کېدل او د ځینو خاصو ورځو او هفتو په لمانځلو کې ایراني نارینه او ښځینه سندرغاړو برخه اخیستله او د کابل نه هم فارسي ژبي سندر غاړي ایران ته تلل او ایراني مقاماتو دغه موخه درلودله چې د پښتو ژبې او پښتني فرهنګي د ودې او پرمختیا مخه ونیسي.

د همدغو کلونو په دوران کې یو لړ نوي فرهنګي موسسې منځته راغلې لکه د کابل راډیو، باختر اژانس، انجمن تاریخ چې وروسته یې نوم په (د تاریخ ټولنه) باندې واړول شو. لیکن د دغو ټولو فرهنګي ادارو مشران غیر پښتانه وټاکل شول او خپرونې له څلورو نه درې برخې فارسي او یوه برخه پښتو وې او هغه هم په داسې ډول چې اصلي متن به په پښتو نه بلکې په فارسي و او یوازې له فارسي متن څخه به ژباړې اجازه درلودله.

د افغانستان د تاریخ انجمن لومړنی رییس احمدعلي خان کهزاد وټاکل شو. د باختر اژانس مشر عبدالرشید لطیفي او همدغه ډول د نورو ادارو لکه د کابل راډیو مشران هم غیر پښتانه وټاکل شول چې دا په حقیقت کې د پښتو ژبې او پښتنو سره ناانصافي وه. د دغه جریان له مخې د رښتیا دا خبره چندان سمه نه برېښي لکه چې لیکي:

څرنګه چې د پښتو ژبې موضوع په هغه وخت کې زیات اهمیت درلودلی و. څکه حکومت عبدالحی حبیبي د مطبوعاتو د ریاست مرستیال په توګه وټاکلو، په دې هکله دغه ثبوتونه هم خورا څرګند وو چې د پښتو ژبې او پښتو سره یوه سیاسي لوبه روانه وه، په دې مانا

چې پاچا او حکومت ویل یو څه او کول یې بل څه. چې موږ یې بېلګې دلته وړاندې کړې.

د مطبوعاتو د مستقل ریس چې غیر پښتون و د وزیر صلاحیت او اختیارات درلودل او همغه دا خبره د دربار او حکومت له سیاست نه مخالفه ګڼله چې د هغه مرستیال دې د پښتو ژبې د حاکمیت سوال راپورته کړي. یانې هغه لاس تړلی و.

ACKU

## د پښتو یون پر وړاندې ستونزې او خنډونه

د پښتو ژبې او افغان (پښتون) قام مخالفانو د پښتو ژبې په اړه د محمد ظاهرخان پاچاهي فرمان چې په همدې روان څپرکي کې د لوستونکو له نظره تېر شو ددې ويرې له کبله يوه فاشيستي کړنه وګڼله چې ګني دغه فرمان په حکومتي او دولتي چارچلونه کې د فارسي ژبې د طرد او د حاکميت نه د غورځېدلو په مانا دی په داسې حال کې چې دا ډول فکر او خيال بېخي ناسم او غلط و. ځکه چې په فرمان کې راغلي وو چې څرنګه په هېواد کې فارسي ژبې ته اړتيا ده دغه ډول پښتو ژبه هم چې د افغانستان زيات وګړي او د خلکو غټه برخه په افغاني ژبه خبرې کوي، نو بايد په ژوندي ساتلو او زده کولو کې يې هڅې وشي او ددولت ملکي او عسکري کار کوونکي مکلف دي چې دغه ژبه زده کړي او په چارو کې يې په کار راولي.

په پاچاهي فرمان کې د فارسي ژبې سره هېڅ ډول ضديت او مخالفت نه و ښکاره شوی، ليکن د پښتو ژبې او پښتنو مخالفانو يوازې د هغه له نوم سره د حساسيت او روحي غوټو (عقدې) له مخې د پښتو زده کړې په وران کاري يا د صديق فرهنګ په وينا منفي مقاومت پيل شو.

فرهنګ له يوې خوا د پاچا فرمان يو فاشيستي عمل نه ورته کړنه وګڼله. ليکن له بلې خوا دا خبره هم کوي چې د فرمان اصلي موخه او

مقصد" په دولتي چارو کې د پښتو او فارسي ترمنځه د موازنې او برابر ی ټینګول وو" دی لیکي:

" عبارت فرمان به پیمانه ای که اهمیت موضوع در کار داشت روشن و دقیق نبود اما از فحوای ان معلوم میشد که مقصد از ان از بین بردن زبان فارسی و طرد ان از دفتر و دیوان و درس مکتب نبود. بلکه میخواست برای زبان پشتو در کار های رسمی حیثیت مساوی بازبان فارسی داده مشکلات مراجعه کنندگان را رفع کند(۲۵۹).

د سردار محمدهاشم خان د کابینې وزیرانو چې دغه فرمان د هغوی په وخت کې خپور او اعلام شو ددې فرمان په تطبیق او تدبیق کې مرسته ونه کړه او د خپل افغاني هوست د ثبوت لپاره یې یو قدم هم پورته نه کړ په داسې حال کې چې زیات یې په ختیه پښتانه وو او د افغان د ستر ټبر پورې یې تړاو درلود.

هغوی پاچا او صدراعظم ته کتل چې په ملي ژبه پښتو خبرې نه کوي او رسمي کړنې هم په فارسي ژبه کوي نو دا یو لوی دلیل و، ددې لپاره چې پښتو ونه وایي او پښتو ونه لیکي. دا په هېواد کې د پښتو یون پر وړاندې لومړنۍ غټه او د پام وړ ستونزه وه او مخالفانو ته یې دغه موقع په لاس ورکوله چې د پښتو ژبې د پرمختیا په مخکې خنډ شي او د منفي مقاومت لاره غوره کړي.

سربېره پر دې د هېواد د فرهنګي موسسو او ادارو ریستان او لوی مدیران چې په دې برخه کې ټول اختیارات د هغوی په لاس کې و، په حساب شوي ډول له یوې مخې غیر پښتانه او د تاجك د لړه کې قام پورې یې تړاو درلود. په دې حالت کې ناممکنه وه چې د پښتو ژبې لپاره دې په فرهنګي ادارو او موسسو کې کار وشي له همغه وخته د

افغانانو یانې پښتنو پښتلیك دغیر پښتنو له خوا ولیکل شو او پښتني فرهنګ هم له پام نه وغورځول شو.

د افغانستان په تاریخ دغو لاندې غیر پښتنو زیات کار وکړ او تاریخ پاخه او مهم سندونه دهمدوی لاسته ورغلل:

احمدعلي کهزاد، میرغلام محمدغبار، علی احمد خان نعیمي، محمدعثمان صدقي، خلیل الله خلیلي، محمدابراهیم خلیل، سیدقاسم رښتیا او نور، میر محمد صدیق فرهنګ چې د رښتیا کشری ورور دی په هغه مهال کې یو تکنوکرات و او چې کوم وخت غبار (حزب وطن) جوړ کړ دی هم په هغه کې شامل او دوطن اوونیزې چلوونکی شو، یانې نوموړي په مسلکي او علمي لحاظ یو مورخ نه و، د ژوند په وروستیو کلونو کې یې "أفغانستان در پنج قرن اخیر" ولیکلو.

پوهاند استاد عبدالحی حبیبي هم په وروستو کې د تاریخ ټولنې ته ورغی، استاد غلام جیلاني جلالي چې په ختبه د غزني پښتون و په نوموړي ټولنه کې په کار پیل وکړ، لیکن د غزنه و غزنویان تاریخ یې په فارسي ژبه ولیکلو، خو استاد عبدالروف بینوا دوه تاریخي اثار (هوتکیان او د افغانستان نومیالي) په ملي ژبه پښتو ولیکل.

بنایي هغه وخت پوهاند ډاکتر محمدحسن کاکړ په تاریخ کې لوړې زده کړې ترسره کولې او پوهاند عبدالشکور رشاد لومړی په هند بیا د پښتو ټولنې مرستیال و، چې دلودي پښتانه په نوم کتاب یې چاپ او خپور شو.

همدغه ډول محمدابراهیم ثابت چې دپښتو ټولنې د تاریخ د څانګې غړی و د (غوریان) په نامه کتاب چاپ او خپور شو، پوهنوال محمدحسن ضمیر ساپي چې په هند کې د تاریخ ماستري هم اخیستې وه د تاریخ په هکله یو کتاب (تاریخ څه ته وایي) خپور شو. نوموړی په دې وخت کې د پښتو ټولنې غړی و.

باید یادونه وشي چې پښتانه ډېر وروسته د تاریخلیکنې ډګر ته ور ننوتل او ددوی نه مخکې لکه چې وویل شول غیر پښتانه د تاریخ او فرهنګ د چارو مسول تاکل شوي وو او هغوی پرته له کومې ځارنې څخه د افغانستان د تاریخ په لیکلو پیل کړی و.

د تاریخ او فرهنګ په چارو باندې د غیر پښتنو تسلط د پښتو یون پر وړاندې یو لوی خنډ و. د پښتو ژباړونکو دنده یوازې دا وه چې د غیر پښتنو له خوا لیکل شوی کوم اثر لکه د احمد علی کهزاد ( د افغانستان تاریخ یا تاریخ افغانستان ) په پښتو وژباړي.

استاد عزیزالدین وکیلي پوپلزی چې د ستر احمدشاه بابا دراني د دیوان بیګي پښتون عبدالله خان پوپلزی له کورنۍ څخه و، د تاریخ په ټولنه کې خپل تاریخي کتاب ( تیمورشاه دراني) په فارسي ژبه ولیکلو چې دغه ډول کارونه د پښتنو او پښتو ژبې په ګټه نه شو بلل کېدای، بلکې د فرهنګي ښکېلاک ګټې په کې خوندي کېدلې. عبدالله خان دیوان بیګي په خپله په پښتو شعر ویلو.

په باختر اژانس کې ټول خبرونه په فارسي ژبه له بهرنیو راډیو ګانو څخه برابرېدل، ددغې ادارې مشر عبدالرشید تطیفي یو غیر پښتون و، خبرونه او نور مطالب له فارسي نه په پښتو ژباړل کېدل او په دې موسسه کې هم لکه د نورو موسسو غوندې حاکمه ژبه فارسي وه، په اژانس باختر کې د زیاتو پښتنو نه په فارسي څانګه کې کار اخیستل کېده خو فارسي ژبو ویونکو د پښتو په څانګه کې څه مرسته نه شوه کولی ځکه چې په پښتو نه پوهېدل.

د کابل راډیو چې وروسته ورته د افغانستان راډیو نوم ورکړ شو، عین همدغه حالت درلود، ددې ادارې لوړې څوکۍ غیر پښتنو ته ورکړل شوې وې او حاکمه ژبه هم په راډیویي خپرونو کې فارسي ژبه وه، دغه ټاکنې ټولې د صلاح الدین سلجوقي بیا د سید قاسم رښتیا او

وروسته د استادخلیل الله خلیلي له خوا کېدلې، چې یو د بل پسې د مطبوعاتو د مستقل ریاست په سر کې وو او بیا نوبت د کتور محمداصف سهیل ته ورسېد.

له هغه مهاله چې د مطبوعاتو مستقل ریاست په وزارت بدل شو، نو پښتنو ته هم د وزیر کېدلو چانس ورکړی شو او د راډیو په خپرونو کې د پښتو برخه لږه زیاته شوه او پښتانه مامورین هم په مطبوعاتي ډګر کې د پخوا په پرتله زیات شول.

د پښتو ټولنې تشکیل له د پخوا په نسبت پراخه شوه او د نړیوالو فرهنګي او علمي موسسو سره یې اړیکې ټینګې شوې او د استاد حبیبي نامتو کتاب (پټه خزانه) د لومړي ځل لپاره چاپ او خپور شو. د پښتو او پښتنو دښمنانو یو ځل بیا په ناسمو تبلیغاتو پیل وکړ او دپښتو یون نوی دور یې برداشت نه کړای شو.

هغو کسانو چې په ایران کې لوړې زده کړې کړې وې، د پښتو ژبې پر ضد د منفي مقاومت لاړښوونه پر غاړه واخیستله چې ډاکټر عبدالاحمد جاوید، ډاکټر جلال الدین صدیقي او نور ددې حرکت په سر کې ولاړ وو. دغو کسانو چې د کابل پوهنتون یو استاد سلطان شاه همام یې ملګرتیا کوله د پښتو یون پر وړاندې د خنډ کېدلو هڅې پیل کړې او د پښتنو په مخالفت کې یې قلمونه وچلول.

یو هزاره څېړونکی د هغه وخت د حالاتو انځور ددښمنۍ او کینې نه په ډك زړه داسې کښلی دی:

" این کتاب ( مقصد مې پټه خزانه ده) زماني در فضای مطبوعات کشور ظهور کرد که پشتونخواهی و ملی گرایي در میان تحمیل کرده کگان و روشنفکران وکارمندان دولت و سرد مداران رژیم به اوج خود رسیده بود، در واقع انها حکومت و ثروت ملی را در انحصار داشتند و دربی تحکیم

قدرت وبسط و نفوذ پشتونیزم تلاش بی دریغی را اغاز کرده بودند، وحشت و نفرت به سراسر کشور سایه انداخته بود، اقوام غیر پشــتون را تضعیــف نموده یا عملاً از صحنه سیاست بیرون رانده بودند" (۲۶۰).

دغه د حقیقت نه لرې لیکنه چې د ځېرونکي ناپوهي څرګندوي که چېرته ربښتیا وای نو بیا خو پشتونیزم اجازه نه ورکوله. چې فارسي ژبه دې د پخوا په شان حاکمه ژبه اوسي او فرهنګي ادارې دې دغیر پښتنو په لاس کې وي او ملي ژبه پښتو دې د تېرو کلونو په څېر د محکومیت به حالت کې پاتې وي او حکومتي چارې دې تولې د ښوونې او روزنې د چارو سره یو ځای په فارسي ژبه سرته ورسېږي.

پښتونیزم خو تر ټولو لومړی فرهنګي ښکیلاک او ایرانیزم ته په هېواد کې خاتمه ورکوله او پښتو ژبه یې هم حاکموله.

که چېرته په ربښتیا پښتونخواهي او ملي ګرایي ددولت د چارواکو او د رژیم د سردمدارانو سره وای نو بیا خو د هرڅه نه مخکې په افغانستان کې پښتو ژبه واکداره کېدله او د ایران نه د راغلي فرهنګي ښکیلاک جرړې ویستل کېدلې او د پښتنو ضد لیکل شوي تاریخونه او کتابونه لــه اعتبــار نــه غــورځول کــېدل او د ایــران پــه پوهنتــون (دانشگاه) کې روزل شوي ایران دوستان په غټو او مهمو څوکیو او د فرهنګي موسسو په سر کې نه شو کېناستلئ او د ډاکټر احمدجاوید غوندې سړی د کابل پوهنتون ریس نه شو ټاکل کېدلی او نه د راډیو کابل د خپرونو چارې ور سپارل کېدلې.

که چېرته ددغه هزاره محقق دې لیکنې ډېر لږ حقیقت هم درلودلی نو بیا خو د پښتو یون پر وړاندې پرتې ټولې ستونزې او خنډونه لــه منځه وړل کېدل او فرهنګي ښکیلاک پای ته رسېدلو. دغسې او ان چې له دې نه سخت بې بنیاده تورونه په پښتنو باندې تل د غیر پښتنو په

تېره بیا د هزاره څېړونکو له خوا لګول شوي لیکن هېڅکله یې د افغانانو په نزد کوم معنوي ارزښت نه دی لرلی. چې په لاندې کرښو کې د دغه ډول بې ارزښته تورونو یوه بله بېلګه وړاندې کوو چې هغه هم د یوه هزاره محقق صدیق فرهنګ له خوا لګول شوی دی او د پښتو قام سره د نوموړي دښمنۍ ډېر ښه ثبوت ګڼل کېدلی شي، دی وایي:

" همزمان با برنامه تعمیم جبری زبان پشتو اجرااتی هم در زیر نظر وزیرمعارف در جهت تبلیغ ایدیولوژی ناسیونالیستی نژادی همانند ایدیولوژی حزب نازی در المان رویدست گرفته شد و سعی به عمل امد که تاریخ افغانستان هم بر اساس نظریه مذکور تدوین و تدریس شود، اصطلاحات نژاد پاک ارین و قوم شریف اریایي و امثال ان مد روز گردید و نویسندگان تشویق شدند تا اثاری مبنی برتری نژاد مذکور و ارتباط بعضی از اقوام افغانستان به ان نگارش دهند" (۲۶۱)

فرهنګ د خپلې طبیعی محافظه کارۍ له امله د پښتو د نوم ذکر کولو پر ځای د ( بعضی از اقوام افغانستان ) عبارت راوړی دی، دا یو تاریخي حقیقت دی چې پښتانه ځانونه اریایي بولي او د تاریخ ماهرانو د ارین یا اریانا مانا شریف او سپېڅلی ښودلې ده او د افغانستان لرغونی تاریخي نوم اریانا یا اریانا ویجه پېژندل شوی دی. یانې د شریفو او سپېڅلو خلکو ټاټوبی، په دې پوړې د برترۍ نژادي تعبیر د فرهنګ د ذهن زېږنده ده، ځکه چې پښتنو هېڅکله ځانته یو برتر قوم نه دی ویلی. البته په دې کې شك نه شته چې پښتانه د نړۍ په تاریخ کې یو ننګیالی او جنګیالی قوم منل شوي دي چې ددې خبرې ثبوت هم په تاریخ کې پروت دی او د افغان انګلیس درې جګړې او د افغان شوروي لویه جګړه ددې ثبوت شاهدي ورکوي.

د حاجي میرویس خان هوتکي ولسي حکومت او د احمدشاه بابا ابدالي په لاس د خپلواك افغانستان منځته راتلل د پښتنو د ننګ او غیرت، توري او میړانې هغه تاریخي ثبوت دی چې فرهنګ او ملګري یې ورڅخه د انکار جرئت نه شي کولی او که دې ته څوك د برترۍ قومي او نژادي نوم ورکوي دا به د هغو خپله عقیده او فکر وي.

دویمه خبره داچې ناسیونالیزم د پښتنو همغه پښتو او پښتونولي ده چې ددغه اریایي قوم ژوند ور پورې غوټه دی او دا د نن او پرون مسله نه ده بلکې دیو زرکالو مخکې وخت سره تړاو لري. یانې هغه وخت چې د پښتون قوم نیکه امیر کروړ جهان پهلوان هغه غړ پورته کړ چې:

| | |
|---|---|
| ره یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته | هم په کابل نسته |
| بل په زابل نسته | له ما اتل نسته |

دا چې ددغو اتلو خلکو په خپل هېواد او تاریخي تاتوبي کې چې ددوی په وینو جوړ شوی دی ولې ملي ژبه پښتو رسمیت او حاکمیت نه دی درلودلی بنایي د فرهنګ غوندي کسانو سره هم د هغه ځواب نه وي، په داسې حال کې چې واکمني هم ددوی وه او واکمنان هم غیر پښتانه نه بلکې په ختېه او وینه پښتانه وو او اعلیحضرت محمدظاهرشاه یو تن د هغو له جملې نه و.

تر دې ځایه موږ ولیدل چې پاچا محمدظاهرخان د پښتو ژبې د تعمیم او زده کړې په اړه فرمان جاري کړ، خو دغه ډېره مهمه او د پښتنو لپاره حیاتي مسله یې د خپل اساسي قانون په چوکاټ کې ورځای نه کړه او په عین حال کې یې د خپل جاري کړي فرمان د عملي کېدو او د هغه د پایلو پوښتنه قدر له هم ونه کړه.

د جاري شوي فرمان د عملي کېدو پر وړاندې د خنډونو او ستونزو څخه هم خبر نه شو او د منفي مقاومت او ضدیت د پای ته

رسولو ضرورت یې هم احساس نه کړ او نتیجه دا شوه چې فرهنګي ښکیلاك په خپل حال پاتې شو او پښتو ژبه د حاکمیت مقام ته ونه رسېدله. البته پښتنو روڼ اندو په دې مسله کې په خپل پاچا ګرم وګڼلو او د پښتو ژبې په هکله یې د هغوی فرمان تش یو سیاسي مصلحت وپېژاند چې د پښتنو د راضي کولو او د لنډې مودې د خوشحالولو موخه او مقصد په کې پروت و.

هغو پښتنو مشرانو، ادیبانو، شاعرانو او استادانو چې د پښتو ژبې د حق ژوندي کولو مبارزه پر مخ بیوله، له ډول ډول ستونزو او ناخوالو سره مخامخ کېدل چې زیاتو یې له حکومتي ادارو څخه سرچینه اخیستله. د ساري په ډول:

پښتنو استادانو، ادیبانو او شاعرانو هغه لیکنې چې د پښتو ژبې د حق غوښتنه یې کوله د مرکز او ولایاتو په ورځپاڼو، اوونیزو او مجلو کې نه شوی خپرولی او د اخبارونو مسولو مدیرانو د هغو د چاپولو جرئت نه شو کولی، څکه چې هغوی ټول د مطبوعاتو د مستقل ریاست (وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت) رسمي مامورین وو او معاش او ترفیع دواړه یې پر دې ریاست پورې تړلي وو او ټاکنې یې هم له همدې مستقل ریاست او وزارت له خوا کېدلې. د مطبوعاتو مستقل رئیس صلاح الدین سلجوقي او وروسته ریښتیا او خلیل الله خان خلیلي وو چې د پښتو یون کلك مخالفین پېژندل شوي وو.

د استاد قیام الدین خادم، استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدالروف بینوا، استاد صدیق الله رښتین، محمدارسلان سلیمي وردګ، محمدګلاب ننګرهاري او نورو په لیکنو باندې په اخبارونو کې چې ټول دولتي وو بندیز لګول شوی و. هر اخبار هم په دولتي مطبعه (چاپخونه) کې تر چاپ مخکې سانسور کېده او هم تر خپرېدو وروسته د مطبوعاتو د مستقل ریاست د نشراتو د لوی مدیریت د کوڼیو

خپرونو د مراقبت ( څارنې) د مدیریت لـه خوا پـه ډېر ځیر سره کنترول کېده چې زه ( ددې کتاب لیکـوال) پـه خپلـه نـږدې درې کالـه ددغـې اداري مدیر وم. البته دا هغه وخت و چـې د کتـور محمداصف سهیل د مطبوعاتو د مستقل ریاست مشر و. چې لـه پښتنو او پښتو ژبې سره یې زیات حساسیت ښکاره کاوه او د ایرانی کلتور لیوال و.

که چېرته به کوم لیکوال په خپله لیکنه کې د وزیر محمدګل خان مومند کومه خبره را اخیستې وه، نو هغه لیکنه به نه چاپېدلـه. استاد خلیـل الله خان خلیلـي خـو ان پـه پښتـو ژبـه بـاندې د ولسـي جـرګې د وکیلانو د وینا راپورتاژ نشرېدلو ته نه پرېښود. د پښتو یون پـر وړانـدې داسې ستونزې او خنډونه دومره زیات وو چې پـه دې کتـاب کـې د هغـو ټرلو راوړل ګران برېښي. د پښتنو روښانفکرانو اعتراضونـه د هېچـا لـه نظره پټ نـه وو پاتې شـوي او د ولسـي جـرګې پـه تـالار کـې د پښتنـو وکیلانو اوازونه هم د هرچـا غوږونـو تـه رسـېدل چـې پـه دې جملـه کـې د نومیالي پښتون غلام محمدخان فرهاد نوم د یادولو وړ دی.

دپاچا محمدظاهرخان د واکمنۍ پـه دوره کـې کـه څه هم فرهنګي ښکیلاک د فارسي ژبې په جامه کې پـه پښتـو مسلط پاتې و لیکـن روڼ اندو او پوهو په هېواد مینو پښتنو د خپل رسالت د سرته رسولو لپاره جلاجلا لارې ولټولې چې یوه لاره یې د یـو ملـي سیاسـي ګونـد جـوړول وو. دغه ګوند "ویښ زلمیان" و.

ددغه ګوند بنسټ ایښودونکي بیـا هم پښتانـه وو چې تـاریخ یـې نومونه په لاندې ډول ثبت کړي دي:

ګل پـاچـا الفـت، قیـام الدیـن خـادم، عبدالـروف بینـوا، فیـض محمدانګار، غلام حسن خان ساپی، نورمحمدتره کـی او حـاجي محمد انور اڅکزی. د ویښ زلمیانو ګونـد خپـل نشـراتي ارګانونـه هم درلـودل چې یـو یـې "انـګار" نومـېده چـې د امتیـاز خـاوند او مسـول مدیـر یـې

فیض محمدانګار تاکل شوی و او بل یې د " ولس" په نوم اخبار چې د امتیاز خاوند یې ګل پاچا الفت و. لـه دې لارې نـه پښتـو ادیبانو، شاعرانو او سیاسي شخصیتونو خپله مبارزه چې هم سیاسي وه او هم ملي او افغاني مخ پر وړاندې بیوله او په دې لاره کې یې زندان ګاللو تـه هم ځانونه چمتو کړي وو.

سربېره پـر دې پـه کـابل پوهنتـون کـې هـم د پښتنـو استـادانو او ډاکترانو شمېره ورځ پر ورځ زیاته شوه او د ادب د مجلې تر څنګ چې په پوهنتون کې په فارسي خپرېدله د پښتو ښکلي مجله د ورمې پـه نوم د خپرېدلو ډګر ته راووتله.

د کابل مجله چې پخوا ټوله په فارسي چاپېدله اوس ټوله پـه پښتـو خپرېدله او پوه پوه پښتانه لکه محمدولي زلمی، محمدحسن کاکړ ( پـه هغه وخت کې یې لا پوهاندي او ډاکټري نـه وه اخیستې) او داسې نـور چې د ټولـو د نومونـو راوړل زیاتو پاڼو تـه اړتیـا لـري او ددې کتـاب پرسوب زیاتوي.

حکومت د پښتــو ژبـې لپـاره د پښتنـو روښانفکرانـو او ادبـي شخصیتونو مبارزه چې په اصولي او اوسوله ییزه طریقه مخ پر وړانـدې بیولـه کېدلـه لـه پامـه نـه شـوه غورځولـی او داسـې نـښې نښانـې هـم ښکارېدلې چې د پښتو مسلې ته اهمیت ورکول کېږي چې دلتـه یې پـه ډېر لنډیز سره یادونه کوو:

پاچا د خپلو ترونو سردارمحمدهاشم خان صدراعظـم او سردارشـاه محمود خان صدراعظم او سردار شاه ولیخان د صدراعظم د وکیـل د حکومتونــو پــه کلونــو کــې د ځینــو ځانــګړو مصلحتونــو او ښایــي مجبوریتونو له امله په خپل خپل وخت د پښتو ژبې د رسمیت او تعمیـم په برخه کې د ځینو قدمونو پورتـه کېدلـو سره موافقت ښکـاره کړ اود سردارمحمدنعیم خان او تر یوه حده پورې د وزیر محمدګل خـان مومنـد

مشورو ته يې عملي جامه ور واغوستله او زه داسې انګيرن چې د سردارمحمدنعيم خان او وزير محمدګل خان مومند سره د فرهنګ او غبار، سلجوقي او خليلي او رښتيا خفګان او مخالف ټکی همدا اوسي.

د پښتو ژبې په هکله دپاچا تر فرمان وروسته ځينې نور مهم او د پام وړ کارونه سرته ورسېدل چې په هغو کې هم د پاچا موافقت او رضايت تر سترګو کېده او د حکومتونو د پرېکړو له مخې سرته رسېدل. په دې پرېکړو کې يوه مهمه پرېکړه دا وه چې دا خبره د يو ملي او علمي اصل په توګه ومنل شوه چې بايد د وزارتونو، رياستونو، ادارو، موسسو، فابريکو، پوهنيزو نهادونو او مرکزونو نومونه ټول په پښتو واړول شي او پښتو ټولنې ته لارښوونه وشوه چې ډېر ژر د فارسي او عربي پخوانيو نومونو معادل په پښتو کې را پيدا او حکومت ته يې په لاس ورکړي.

پښتو ټولنې د خپلو پوهو او لايقو مسلکي غړو په مرسته او همکارۍ د حکومت غوښتنې ته ډېر ژر ځواب وويلو او د وزارتونو د پوهنې وزارت د ارام لاندې دپښتو دغه جمله چې " پوهنه رڼاده" وليکل شوه.

دغه نور وزارتونه لکه وزارت صحيه په روغتيا وزارت، حربيه وزارت په ملي دفاع وزارت، وزارت زراعت د کرهنې په وزارت، وزارت معادن و صنايع، په د کانو او صنايعو وزارت، وزارت خارجه، په د بهرنيو چارو وزارت او داسې نور ټول وزارتونه په ملي ژبه پښتو و نومول شول. وزارت داخله ته د کورنيو چارو وزارت نوم ورکړل شو.

همدغه ډول د پوهنيزو ( علمي موسسو) لپاره هم پښتونومونه لکه پوهنتون، پوهنځی، د انجمن تاريخ لپاره د تاريخ ټولنه، د فرهنګي کلتوري او چوپړي موسسو او ادارو لپاره هم پښتو ښکلي او مانا

لرونکي نومونه لکه کابل ننداري، پوهنې ننداري، افغاني سره میاشت د حلال احمر یا صلیب سرخ لپاره، د بوای سکاوت لپاره د څارندوی چې وروسته بیا دغه نوم د پولیس لپاره هم غوره کړی شو.

د عربي دارالمساکین نوم په سوچه او خوږه پښتو مرستون واړول شو، دشفاخانو پاره د روغتون، د دواخانې لپاره د درملتون، د هوټل لپاره د مېلمستون، د زایشگاه لپاره د زېږنتون او په سلهاوو نور پښتو نومونه د سیاسي، فرهنگي اقتصادي او ټولنیزو ډگرونو کې د عربي، فارسي او اوزبکي نومونو پر ځای غوره کړی شول.

د افغانستان د پیسې ( سکې) له پاسه د لومړي لپاره پښتو ولیکل شوه او د لوټونو پر تندي باندې هم پښتو عبارت وکښل شو او د مطبوعاتو ( ورځپاڼو، اوونیزو، میاشتنیو او نورو) لپاره د پښتو نومونو ایښودل ضروري او حتمي وگڼل شول.

د هر وزارت درسمي سندونو لکه شرعي وثیقې، د بهرنیو او کورنیو چارو د وزارتونو په پاسپورتونو او ویزو او د وزارتونو د رسمي مکتوبونو عناوین ( سرلیکونه) پښتو و ټاکلی شول که څه هم د لیکونو (مکاتبو) متن د پخوا په څېر فارسي پاتې شو ان چې پښتنو به هم متن یا اصل مطلب په فارسي لیکلو او عریضه لیکونکو ( عریضه نویسان) به د عارض د عرض مطلب په فارسي لیکلو او د پښتو عریضې لیکلو په برخه کې بې وسه وو او د غه ستونزه لا پر ځای پاتې وه.

داسې ښکارېدل لکه د پښتو یون پر وړاندې چې ستونزې او خنډونه مخ په لږې کېدو وي او پښتو حقداره ژبه د حاکمیت درشل ته ور نږدې شوې وي لیکن داسې نه وه او یو اوږد واټن له په مخکې پاتې و چې وهل یې دومره اسان نه برېښېدل.

په هېواد کې د دغه نوي فرهنګي بدلون او تحول سره په کار وو چې پاچا صدراعظم، وزیران، معینان او نور لوړ رتبه حکومتي او دولتي چارواکي په خپلو رسمي او پروتوکولي ویناوو کې هم له ملي ژبې پښتو څخه کار اخیستی وای او یا د یوه کس فارسي ژبې سره په خبرو کې لسو تنو پښتنو فارسي نه وای ویلی، بلکې هغه یو کس یې هڅولای وای چې پښتو خبرې وکړي که څه هم پښتو یې کمزورې وي.

ACKU

# په مطبوعاتو کې د پښتو ژبې انځور

په تېرو پاڼو کې موږ د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د څلوېښت کلنۍ په وخت کې د پښتو ژبې په حالت او پښتو یون باندې تر یوې اندازې پورې رڼا واچوله، دلته باید دا حقیقت یو ځل بیا په ګوته کړم، چې په هېواد کې د پښتو ژبې هغه حالت او دیو پړاو څخه بل پړاو ته ور اوښتل نه دومره اسانه او ساده خبره وه او نه د یو صدراعظم د حکومت او کابینې په دوره کې هغه ستر او عمده کار سرته رسېدلی. صدراعظمانو، حکومتونو او کابینو بدلون وموند، زاړه لاړل او نوي راغلل لیکن یوازې پاچا په خپل حال او په خپل ځای پاتې و.

اوس به د همدې پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه د واکمنۍ په کلونو کې د وخت مطبوعاتو ته یوه لنډه کتنه وکړو، چې په هغو کې د پښتو ژبې انځور څرنګه و، د پښتو او فارسي ژبو موازنه څنګه وه اود تېرو پاچاهیو په پرتله په دې پاچاهۍ کې پښتو ژبه په مطبوعاتو کې په کوم کچ ولاړه وه.

زموږ ګران ولس د افغانستان ژوندی پېښلیک (تاریخ) ګڼل کېږي او پښتانه ددې ولس تر ټولو غټه برخه جوړوي، دوی شاهدان وو او دي چې د اعلیحضرت تیمورشاه دراني له وخت نه راوروسته محمدظاهرخان یوازینی پاچا و چې د دولتي او غیر دولتي اخبارونو (ورځپاڼې، جریدې او مجلې) شمېره په کې زیاته وه او د تېرو پاچاهیو

په پرتله په کې زياتې ورځپاڼې جريدې او مجلې خپرېدلې چې ازاد او شخصي اخبارونه هم ورکې شامل وو.

د پاچا محمدظاهرخان په وخت کې د پښتنو سيمو لپاره د پښتو اخبارونو چاپېدلو امکان منځته راغی او هغه اخبارونه چې پخوا په فارسي ژبه خپرېدل په پښتو واړول شول او نومونو يې هم تغير ومونده، چې د ساري په ډول په ختيځ ولايت ننګرهار کې د "اتحادمشرقي" اخبار نوم يادولی شو چې استاد برهان الدين کشککي په فارسي ژبه چلولو خو وروسته هغه اخبار د ننګرهار ورځپاڼه شوه چې يوازې په پښتو ژبه تر نن ورځې پورې چلېږي او زه (ددې کتاب ليکوال) قريباً درې کاله ددې ورځپاڼې چلوونکی وم.

همدغه ډول د کندهار د طلوع افغان جريده په پښتو او فارسي چلېدله وروسته ټوله په پښتو شوه چې ما هم (ددې کتاب ليکوال) څه کم درې کاله ددې ورځپاڼې د چلولو مسوليت پرغاړه درلود.

د محمدظاهرخان په وخت کې د هېواد په ټولو ۲۹ ولايتونو کې ورځپاڼې. جريدې او مجلې خپرېدلې، د پښتنو په ولاياتو کې خالصې پښتو ورځپاڼې. اوونيزې او مجلې چاپېدلې، ليکن په فارسي ژبو ولايتونو کې اخبارونه په دوه ژبو (فارسي او پښتو) خپرېدل او دا کار په دې دليل او منطق شوی و چې پښتانه په فارسي ژبو ولايتونو کې هم مېشته وو او په همدې دليل په افغانستان کې د پښتنو اکثريت منل شوی او تصديق شوی دی.

سربېره پر دې د افغانستان د شمالي ولايتونو په هغو سيمو کې چې ازبک ژبې مېشته وو او ورځپاڼې، جريدې او مجلې په کې خپرېدلې. دغه ورځپاڼې او جريدې په پښتو او فارسي وې، ځکه چې پښتانه په هغو ولايتونو او سيمو کې هم د ازبکو او هم د ترکمنو او

تاجکوسره ګډ اوسېدل او همدغو پښتنو په وزلوبه (بزکشی) کې هم د ازبکو او ترکمنو سره يو ځای ونډه اخيستله.

په پلازمينه کابل کې هم ځينې ورځپاڼې او مجلې لکه هېواد، زيری، کابل مجله او داسې نور يوازې په پښتو خپرېدل ليکن په هغو اخبارونو کې چې په فارسي چاپېدل پښتو خپله برخه درلودله.

عين همدغه کار د راډيو افغانستان په خپرونو کې هم تر سره کېده، زياتو فارسي پروګرامونو پښتو نومونه او سرخطونه يا عناوين درلودل،لکه کورنی ژوند، روزنه او داسې نور. خو د راډيو افغانستان د مرکز او ولاياتو د اخبارونو او مجلو او تمثيلي ننداړو وزارتونو، رياستونو او مديريتونو ټولې مالي او اداري چارې په فارسي ژبه سر ته رسول کېدلې. په دې اړوند ديوې کوچنۍ خاطرې يادونه به بنايي بې ګټې نه وي چې زه يې خپله د هغه شاهد وم.

پر ۱۳۳۸ل کال زه د کابل راډيو د "پښتو ژغ" د مجلې مسول مدير وم، زما مرستيال يو حسابي سړی و چې عبدالمتين اندړ نومېده او د غزني د سيمې اوسېدونکی و. ښه د عقيدې خاوند کلك پښتون و. يوه مياشت يې د ليکوالو د حق الزحمې لست د پښتو مکتوب (ليك) په ملتيا د محاسبې لوی مدير ته ور واستولو. ليکن هغوی هغه لست په دې دليل چې مکتوب يې په پښتو دی او د محاسبې او کنترول مامورين ورباندې نه پوهېږي بېرته راولېږلو او زموږ د لايلو ته هم مقاماتو غوږ نه ونه نيوو. دغه حالت د هېواد په سطح په مالي او اداري چارو باندې مسلط و او دا په خپله د پښتو يون پر وړاندې يو خنډ ګڼل کېده.

پاچا محمدظاهرخان د خپلې واکمنۍ په کلونو کې ازادو مطبوعاتو ته هم اجازه ورکړه او په هېواد کې د لومړي ځل لپاره د هېواد روڼ اندو او ملي شخصيتونو لکه پاپا (غلام محمدفرهاد)

صدراعظم محمدهاشم میوندوال، استاد گل پاچا الفت، خلیل الله خلیلي، میرغلام محمدغبار، صدیق فرهنگ، قدرت الله حداد، استاد قیام الدین خادم، فدا محمد فدایي، خال محمد خسته، صباح الدین کشککي، شاه زمان وریځ، عبدالحکیم مشرده، داکتر عبدالرحیم نوین، غلام نبي خاطر، غلام محمد الماسك، محمدیوسف فرند، غلام محمداورمړ، کریم فرزان، یعقوب کمك، سیدمحمدبامداد، محب الرحمن هوسا او نورو د خپلو سیاسي موخو لپاره جریدې د مطبوعاتو ډګر ته راوویستلې چې په هغو کې ځینو د پښتو او پښتون ضد دریځ درلود.

په دوی کې د ازادي په نوم اخبار چلوونکی یې غلام سخي غیرت و، چې ددې کتاب د لیکلو په وخت کې د برهان الدین رباني د تش په نوم سفارت (مسکو ـ روسیه) کې د سکرتر په توګه دنده ترسره کوي، په څرګنده یې په قومي او ژبني تعصب ولاړې خپرونې کولې او د ملي ستم د ډلې پورې یې تړاو درلود دی د سازا د مارکسیستي ګوند غړی و.

ډاکټر عبدالرحیم نوین چې وروسته د محمدداود خان په جمهوریت کې د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو د ترجمان نومي جریدې د امتیاز خاوند و، دی په خټه یو سفزی پښتون و، چې پلار یې د ترجمان په نوم یادېده، لیکن زیات وخت په ترجمان اخبار کې د پښتو او پښتنو ضد خپرونې لیدل کېدې، لامل یې دا و چې مسول چلوونکی یې د هرات د ولایت اوسېدونکی بشیرهیروي د پښتنو او پښتو ژبې په نسبت حساسیت درلود. په خپله ډاکټر نوین هم د مرګ تر ورځې پورې ځان پښتون و نه بنود.

د مساوات اخبار چې د شهید میوندوال د ګوند سیاسي ارګان پېژندل کېده د امتیاز خاوند یې د پښتو ژبې او د پښتنو د تاریخ وتلی

پوه اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد و او د افغان ملت اخبار چې د پښتو ژبې پښتو او د افغانستان د ملي ګټو نه په دفاع کې یې پوره شهرت لاسته راوړی و د امتیاز خاوند یې په پښتو او پښتونولۍ مین افغان غلام محمدفرهاد او د حبیب الله رفیع غونډې پیاوړی لیکوال یې د چلولو دنده پر غاړه درلودله او وروسته یې چلوونکي نوي کسان شول.

په همدې دوره کې د مطبوعاتو د ازادۍ نه په ګټه اخیستلو کمونیستي اخبارونه چې زیات یې د مارکسیزم لیننیزم په ایډیولوژۍ ولاړ مضامین او شعرونه خپرول د خلق، پرچم او شعله جاوید په نوم یې د نورمحمدتره کي، ببرک کارمل او ډاکټر عبدالرحیم محمودي په امتیاز د مطبوعاتي خپرونو ډګر ته راووتل.

د اسلام د سپېڅلي اندیښنې خپرېدونکی اخبار ګهیځ د منهاج الدین ګهیځ په مدیریت او د ندای حق اخبار د مولوی ستارصدیقي په امتیاز او د غلام نبي زرمتي په مدیریت د کمونیستي اخبارونو پر ضد دریغ درلود.

د پورتنیو لنډو یادونو څخه موخه او مقصد دا دی چې و ښیو د محمدظاهرخان د واکمنۍ په څلوېښتو کلونو کې د تېرو ټولو پاچاهیو په پرتله د مطبوعاتو وضع ډېره ښه وه او پر ۱۹۵۰م کال کې چې دپاچا له خوا سردارشاه محمودخان ته د صدارت دنده وسپارل شوه نو په هېواد کې د ازدو یانې غیر دولتي اخبارونو د منځته راتلو لپاره لاره اواره شوه او ګڼ شمېر شخصي اخبارونه خپاره شول، چې دا د هېواد د مطبوعاتو په تاریخ کې یوه مهمه پېښه وه، په دې اړوند اصلي خبره داده چې حکومت ددغو اخبارونو د سانسور او څارنې پالیسۍ کې ډېرې زیاتې نیمګړتیاوې درلودلې چې د بېلګې په ډول دغو لاندو ټکو ته اشاره کوو:

۱ـ د اطلاعاتو او کلتور وزارت د تنخواه خورو مامورینو چې ازاد اخبارونه د سانسور په چشمو( عینکو) کتل یوازې په دې هڅه او لټه کې وو چې په هغو خپرونو کې د پاچا او د هغوی د کورنۍ خلاف مطالب نه وي خپاره شوي.

۲ـ هغوی مضامین ټکي په ټکي لوستل چې نه چېرې د اسلام د مبارك دین سپکاوی نه وی شوی او یا د حضرت محمد (ص) په یارانو او اصحابو کرامو باندې نیوکې نه وي شوي.

۳ ـ هغوی د نوموړي وزارت عادي کارکوونکي وو او په زیاتو پرمختللو ، پیچیده سیاسي او فرهنگي، اقتصادي او ټولنیزو مسایلو او فلسفي عقیدو او مفکورو ښه نه پوهېدل. د ساري په توگه دمارکسیسزم لیننیزم په اصولو لیکلي شوي مطالبو په هکله یې د پوهې نه درلودلو له امله خپله پرېکړه نه شوه کولی.

۴ ـ په ځینو اخبارونو کې داسې مطلبونه هم چاپېدل چې موخه او مقصد یې د قومي او ژبني تعصب راپارول او دیوه ځانگړي مقصد او هدف لپاره کار کول وو هغه د افغانستان د ملي گټو سره په تضاد کې و لیکن د سانسوردنده لرونکو دې ټکي ته پام نه ور اړولو.

۵ ـ د سیاسي ډلو پورې تړلو اخبارونو زیات وختونه د افغانستان د ملي گټو پروا نه ساتله بلکې یوازې یې د خپل گوندي موخې لپاره کار کاوه لیکن د اطلاعاتو او کلتور وزارت او هم په دولتي مطبعه کې ناستو سانسورچیانو دغه مطلب چندان مهم او د پام وړ نه گڼلو.

۶ـ ځینو اخبارونو د هېواد د لوړو ملي، قومي او سیاسي فرهنگي شخصیتونو پورې بې بنیاده تورونه پورې کول لیکن داسې کوم ځای او مقام نه و چې له نوموړي اخبار څخه یې په دې باره کې سند او دستاویز غوښتی وای او ددرغو د ثابتېدلو په صورت کې یې

نوموړي اخبار يا د مطلب ليکونکي ته سزا ورکړي واى، اخبار کتونکو سانسورچيانو په دې اړه هيڅ غبرګون نه ښکاره کاوه

نتيجه دا شوه چې د مطبوعاتو د ازادۍ څخه د هيواد د ملي ګټو ته د سود پر ځاى زيان ورسېد او اخبارونه د حملو په مورچلو بدل شول د مطبوعاتو له ازادۍ نه يوه ناوړه ګټه اخيستونکي اخبار " ازادي" نومېده چې حکومت مجبور شو ډېر ژر هغه بند کړي.

د ځينو اخبارونو لکه "پيام امروز ـ سبا " په اړوند خو حکومت ته داسې سندونه هم په لاس ورغلل چې ګواکې نوموړو اخبارونو د ملي سوداګرو څخه د هغوى د ويرولو او په رسوا کولو باندې د تهديد له لارې پيسې اخيستلې، د پيام وجدان اخبار قومي تعصب ته په لمن وهلو تورن و او خلق او پرچم اخبارونو د هري ايډيولوژي خپرولو او د شورويانو په ګټه يې خپرونې کولې.

ددولتي ورځپاڼو او مجلو دنده د حکومت او دربار د پاليسۍ او غوښتنې سره سم مطالب خپرول او د حکومت د اجرآتو برجسته ښودل وو چې راډيو افغانستان عين همدغه دنده پر غاړه درلودله.

دا و د پاچا محمدظاهرخان د پاچاهۍ په څلوېښتو کلونو کې د هېواد د مطبوعاتو انځور چې په ډېر لنډيز سره مو ديو تاريخي جريان په توګه بيان کړ، په دې مطبوعاتي جريان کې چې د افغانستان د نوي پېښليك مهمه برخه جوړوي بيا هم پښتنو خپل رسالت د پښتو او پښتونولۍ د قانون په چوکاټ کې سرته ورساوه او په خپلو قلمونو او دماغونو يې د هېواد د ملي ګټو نه دفاع وکړه.

هغوى د خپلو اخبارونو پاڼې په ملي ژبه پښتو باندې ښکلې وساتلې او په هره ليکنه او هر شعر کې يې د افغاني ناسيوناليزم شمله هسکه وساتله. د هغو اخبارونو پر ضد ودرېدل چې د پښتو ژبې او پښتون قوم خلاف يې ليکنې خپرولې او د خلکو ذهنونه يې خرابول، د

مطبوعاتو په پانو کې پښتو یون د فارسي ژبې سره دیوه نسبي انډول پیدا کولو په لاره مخ پر وړاندې لاړ او د تېرو کلونو د انجماد او کنګل شوي حالت نه را بهرشو.

پښتنو لیکوالو په ډېر جرئت سره د پښتنو پر ضد د دښمنانو تبلیغات شنډ او بې اغېزې کړل، د پښتنو شاعرانو د شعر ژبه د تېرو کلونو په پرتله زیاته تونده او تېزه شوه، ملي افکارو او د پښتونولۍ پیاوړي احساس او د وطنپالنې جذبې د پښتو شعر محتوا لامانیزه او غښتلي کړه، چې فارسي شعر ورسره په دې برخه کې سیالي نه شوه کولی.

په اخبارونو او مجلو کې داسې پښتو شعرونه او نظمونه خپاره شول چې پخوا یې ساری نه و لیدل شوی، هر شعر د پښتني او وطني جذباتو مجموعه شوه، د پښتو ادب پېژندونکو عقیده ښکاره کړه، چې د پښتو شعر په دغه مرحله کې د پښتونستان ملي تاریخي مسلې ژوره اغېزه درلودلې وه او دغه مسله هم د محمدظاهرخان د واکمنۍ په کلونو کې د افغانانو په سیاسي ژوند کې وزېږېدله.

ښایي دغه عقیده تر یوې اندازې سمه وي. لیکن دحقیقت له مخې دغه مرحله د افغانستان د ننه د نویو سیاسي ټولنیزو شرایطو او د فارسي ژبې د حاکمیت ددوام زېږنده وه.

پښتانه د فرهنګي ښکیلاک څخه د خلاصون فکر اخیستی وو. ددوی په خپل هېواد کې ددوی خپله ژبه حاکمه نه وه او په اصل مطبوعاتو کې د ملي ژبې د حاکمیت غوښتنې غږ هم چا نه شوه پورته کولی. ځکه چې د حاکمې طبقې رضا نه وه او دغه غږ یې د خپلې واکمنۍ لپاره خطر ګڼلو. د دربار او حاکمې طبقې مضر احتیاط د پښتو په زیان او د غیر پښتنو په ګټه تمام شوی و. خبره ان دې ته رسېدلې وه چې پښتون وزیر، معین، ریس او ان د صدراعظم مرستیال

او د پوهنې وزیر هم پښتو احکام نه شول ورکولی او نه یې د خپلو مامورینو سره په پښتو ژبه خبرې کولې او پاچا په خپله هم په څلوېښتو کلونو کې یو ځلي د خپلواکۍ د جشن په ورځ پښتو وینا ونه کړه او نه یې په پښتو ژبه خپل مسلمان ولس ته د اختر مبارکي وویله.

لیکن دداسې شرایطو سره سره د پښتو ژبې د حق لپاره د مبارزې کاروان په زور شور سره خپله لار وهله او مخ پر وړاندې روان و.

## نهم څپرکی

# د پښتو ژبې لپاره د وزیر محمدګل خان مومند او ملګرو مبارزه

د هېواد د خپلواکۍ په جګړه (۱۹۱۹) او د سقاوي لاره وهونکو غلو څخه د تاریخي او سرلوړي افغانستان د ژغورلو او نجات په جګړه (۱۹۲۹) کې ستر پښتون وزیر محمدګل خان مومند دیو پوه، مدبر ملي او سیاسي شخصیت په توګه تبارز وکړ او د ننګرهار او پکتیا د قومونو په یو کولو او اتحاد کې هغه هم د سقاوي غلو خلاف ددوی نه ستړي کېدونکي هلې ځلې، د کابل په نیولو کې د سردارانو (شاه ولیخان او شاه محمودخان) سره دنوموړي نومیالي پښتون مرسته د هېواد په پېښلیك کې دیادولو وړ ځای لري.

په هغه وخت کې چې محمدنادرخان لاد پکتیا د خلکو د ملاتړ لاسته راوړلو په هڅو کې بشپړ بریالیتوب ته نه و رسېدلی چې د وزیر محمدګل خان مومند سره یې اړیکې ټینګې کړې وې او ددوی د شخصیت، عقیدې او مفکورې درناوی یې کاوه او د همدې درناوي له مخې یې د خپلې پاچاهۍ په لومړیو ورځو کې محمدګل خان مومند د کورنیو چارو وزیر وټاکلو.

مخکې له هغې چې محمدګل خان مومند د سقاویانو پر ضد خپل جګړه ییز فعالیت پیل کړي د مشرقي (ننګرهار) د ولایت پوځي قوماندان او په ختیځ کې د برتانوي یرغل ګرو پر وړاندې د وسله والو ځواکونو د مشرتابه دنده پر غاړه درلودله او د ډکې او باسول په جګړو کې یې عملي برخه اخیستې وه.

ننګرهار ته د سردارمحمدهاشم خان د رارسېدلو په وخت همدوی د توموړي سردار او پښتنو قبایلو مشرانو ترمنځه د نږدې کېدو شرایط برابر کړل او له همدې ځایه د محمدګل خان مومند شخصیت، پوهه او تدبر د سردارمحمدهاشم خان لپاره د باور وړ او مهم و پېژندل شو او دې بارو وروسته ډېرې ښې پایلې درلودلې.

د پښتنو مخالفینو لکه غبار او فرهنګ د ډکې او شیرشاهي په محاذونو کې د وزیر محمدګل خان مومند د جګړه یېزې ماتې خبرې کوي چې په حقیقت کې د محمدګل بابا د شخصیت د رانسکته کولو لپاره یوه هڅه ګڼل کېږي او سیاسي هدف په کې پروت دی خودا یې له یاده وتلي دي چې په خپله او د کورنۍ غړو یې نه د برتانوي یرغلګرو او نه د سقاوي لاره وهونکو ځواکونو سره د مخامخ کېدو مېړانه نه ده ښکاره کړې.

دویمه دا چې په هره لویه او وړه جګړه کې قوماندانان له ماتې او برې سره مخامخ کېږي او دا جګړې اصول دي. د محمدګل خان مومند پوځي او ملي شخصیت هم په سپه سالار محمدنادرخان او هم د هغه په هوښیار ورور سردار محمدهاشم خان باندې پوره اغېزه درلودلې او دواړو توموړو یې ملي مشر د ځینو داسې ځانګړتیاوو خاوند پېژندلو چې په ډېرو لږو کسانو کې د هغو ساری موندل کېدی شي.

د محمدګل خان مومند ژوندانه ځو بعدونه یا اړخونه درلودل، هغه هم پوځي شخصیت و او هم ملي او ادبي شخصیت و. په جګړه کې به د یو زړور او مسلمان قوماندان په توګه د جګړه مارو په لومړۍ لیکه کې ولاړ وو او په ملي مسایلو کې دیوه صادق او ایمانداره استازي په توګه د ټولو خلکو لپاره د منلو وړ و او په ادبي ډګر کې هم د خاصو او ځانګړو افکارو او نظریاتو درلودونکی پېژندل کېده، د پښتو ژبې، پښتو او پښتونولۍ سره د محمدګل خان مومند مینه د هغوی د ایسار

یوه غټه برخه ګڼل شوې وه او د پښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو یا ددې ملي ژبې د حاکمیت په لاره کې د هغوی بې پایه او نه ستړې کېدونکي هلې ځلې د پښتون قام په نظر کې د زیات قیمت او اهمیت وړ پېژندل شوي دي.

موږ په دې څېرکي کې زیار باسو چې د وزیر محمدګل خان مومند په هغو مبارزو اوتاریخي خدمتونو لړه رڼا واچوو او د هغوی په وینا کې د ملي ژبې پښتو ارزښت او د فرهنګي ښکیلاك خطر تر ممکن حده پورې جوت کړو، یقیني خبره ده چې په دې حق کې به څه زیاتې نیمګړتیاوې اوسي لیکن په یو پردي هېواد کې دیر ګډوال د ژوند سخت او تراخه شرایط که په پام کې ونیول شي نو دا هیله کېدلی شي چې دکتاب لوستونکي به زموږ د لیکنې په نمیګړتیاو باندې سترګې پټې کړي.

څرنګه چې ددې کتاب اصلي موخه او مقصد په هېواد کې د فرهنګي ښکیلاك او د پښتو ژبې د حاکمیت په جق باندې د پښتو واکمنو د سترګو پټولو موضوع ده او ورسره د هغې مبارزې او کوښښونو په حقیقت باندې رڼا اچول دي چې زموږ ملي او علمي مشرانو د وخت او زمان د شرایطو سره سم او د خپل وس په اندازه مخ پروړاندې بیولي دي، د همدې موخې او مقصد په پام کې ساتلو له مخې به ونه کړای شو چې د محمدګل خان مومند بابا په پوځي او قومي خدمتونو باندې خبرې وکړو.

تر هغه ځایه چې لیکلي اسناد لیدل شوي دي د وزیر محمدګل خان مومند سره د پښتو ژبې او پښتون قام غم د زلمیتوب له منګ څخه ملګری و او پرته د کار او دندې د خصوصیت او ځانګړنې نه بابا د غه غم پاللی او ګاللی و او د هرې موقع نه یې د خپلې ژبې او خپل قوم په ګټه فایده اخیستې ده.

که مومند بابا په کندهار کې دنده درلودلې وه، نو هلته یې د کندهار د روڼ اندي طبقې په تېره بیا پښتنو سره د پښتو ژبې د پرمختیا او تعمیم په اړه خپل فکر او عمل شریك کړی دی. چې د اعلیحضرت امان الله خان په لاربښوونه په کندهار کې د " مرکه د پښتو" جوړېدل د یادولو وړ پېژندل کېږي چې عبدالرحمن خان لودین یې لومړنی مشر وټاکل شو، ما په کندهار کې د پوه او عالم لیکوال او محقق پښتون " نجیب صاحب" څخه چې د پوهاند استاد عبدالشکور رشاد ورور دا خبره واورېدله، چې وزیر محمدګل خان مومند په کندهار کې د ویښو او په ملي او پښتني احساساتو سمبال پښتنو سره تل لیدنې کتنې درلودلې او د پښتو ژبې په اړوند یې ورسره خبرې کولې، هر پښتون دهغوی خبرې غنیمت ګڼلې او په مینه یې ورته غوږ ایښوده.

پوهاند استاد عبدالحی حبیبي په کابل کې د بایزید انصاري (پیرروښان) د نړیوال سیمینار د جوړېدو نه مخکې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پښتو د پرمختیا د ریاست چې مشر یې دروند او په پښتو مین شاعر او ښوونکی محمدابراهیم خواخوږی و، په یوې ځانګړې غونډه کې چې دنوموړي سیمینار د جوړېدو په هکله خبرې کېدلې، دغه یادونه وکړه چې که امکانات وي او مقامات مخالفت ونه کړي نو د وزیرمحمدګل خان مومند دلیکلو اثارو یوه ټولګه چاپ او خپره کړي او زه چمتو یم چې د مومند صاحب. پېژندګلوي او په چاپ کېدونکي ټولګه باندې مفصله سریزه ولیکم، د پښتو د پرمختیا د ریاست لپاره به دا غټه کامیابي وي.

مور په همدې باب یو وړاندیز د اطلاعاتو او کلتور زیر ډاکتر عبدالرحیم نوین ته وکړ او هغوی وعده راکړه چې په هغه باره کې به د مقاماتو سره خبرې وکړي، لیکن د څو اوونیو په تېرېدلو سره کوم احوال معلوم نه شو وروسته بیا د ریاست مشر محترم خواخوږي ته د

وزیر له خوا خبر ورکړ شو چې اوس دې موضوع معطله وي یو بل وخت به په دې اړه خبرې وشي.
تر هغه ځایه چې موږ معلومات لرو نو محمد حسن شرق چې د ډاکټر نوین ډېر نږدې دوست و د موضوع سره موافقه نه وه کړې.
(د یادونې وړده چې ووایم زه (ددې کتاب لیکوال) په هغه وخت کې دپښتو د پرمختیا د ریاست مرستیال وم).
دا یوازې د کتور محمدحسن شرق نه و چې د خپل لوړ صلاحیت نه یې دپښتو ژبې او د یو ستر پښتون دمعنوي زیار او کار پر ضد استفاده کوله، بلکې دغه ډول ډېر نور هم وو، چې د وزیر محمدګل خان مومند د شخصیت او ان چې د هغوی له نوم سره یې حساسیت درلود او چې د هغې جملې کسانو نه چاته وسیله په لاس ورغلې وه نو د بابا د کارنامو په اړه یې په خلکو کې د شکونو پیدا کولو هڅه کړې وه، چې غبار او فرهنګ هم په همغه کتار کې ولاړ وو. موږ به په همدې څېرکي کې په دې اړوند ځینې لیکلې شوي سندونه وړاندې کړو.
موږ دې ټکي ته اشاره وکړه چې د پښتو ژبې او پښتون قام غم د زلمیتوب له مهال نه د وزیر محمدګل خان مومند سره ملګری پاتې شوی و او د هغوی له خوا لیکلي شوي کتابونه لکه پښتو سیند (۱۳۱۶ _ ۱۹۳۷ _ ۱۹۳۸) د پښتـــو ژبـــې لار (۱۳۱۷ _ ۱۹۳۸ _ ۱۹۳۹) لنډکی پښتو او پښتونواله (۱۳۲۷ _ ۱۹۴۸ _ ۱۹۴۹) هغه اثار دي چې هم د پښتو ژبې او هم د پښتون قام سره د محمدګل خان مومند بابا د مینې او دوستۍ او غم او درد ډېر ښه انځور وړاندې کړو.
په دې کې بابا خپل قام ته د ننګ غیرت، پت او عزت، پښتو او پښتونولۍ، تورې او مېړانې او ملي غرور سبق تازه کوي او د پښتو او پښتون قام په اړه خپلې فلسفې ناسیونالیستي افکار په ډېره ساده ژبه

بیانوي. د ساري په توګه دغه ستر پښتون د پښتو فلسفه په یو څو لنډو لفظونو کې داسې څرګندوي:

" پښتو : پښتو منل، پښتو ویل، پښتو کول او پښتو چلول دي، پښتو دین، وطن او پښتون ولس ته خدمت دی".

محمدګل خان مومند د خپل ژوند په اوږد بهیر کې په همدې فلسفه او عقیده ټینګ پاتې شواو کورنیو او بهرنیو دښمنانو ونه کړای شول هغه له دې سپېڅلي لارې نه واړوي. د بابا د مبارزې بنیاد په همدې عقیده او فلسفه ولاړ و او د هغوی ستر توب هم په همدې پښتني مفکوره کې پروت و، چې استاد امیرحمزه خان شینواري هغه په شعر سره نوره هم ښکلې او رنګینه کړه.

وزیر محمدګل خان مومند لومړنی پښتون پوه و، چې د پښتو او پښتون په اړه یې یوسیستم تفکر خلکو ته وړاندې کړ او په دې تفکر یې دپښتنو مانوي شمله لاهسکه کړه او د نوي ملي ژوند روح یې د خپل قام په کالبد کې پوه کړ، چې پخوا یې هېڅکله ساری نه و لیدل شوی.

د پښتنو د کلتور او فرهنګ پورې تړلی د "پښتو" لفظ د محمدګل خان مومند د تفکر له مخې یوه نوي او جلا شرحه او مانا پیدا کړې وه چې په بشپړ ډول سره په حق او حقیقت ولاړه وه او یوریالیستیك ماهیت یې درلود.

د وزیر محمدګل خان مومند "د پښتو سیند" د حجم یا پنډوالي له پلوه څه غټ کتاب نه دی لیکن د مانا او مفهوم له پلوه په رښتیا یو سیند دی چې پښتو او پښتونولي په کې څپې وهي او د یوه نوي فکر ځلاندې پلوشې په کې ځان ښکاره کوي او پښتون لوستونکي ته نوی روح ښښي. بلکه دغه ځانګړتیا د محمدګل خان بابا په ټولو لیکلو اثارو کې پرته ده، هغوی چې هرڅه لیکلي او ویلي د پښتو او پښتون لپاره یې ویلي او لیکلي دي، بابا په اسانه او سپېڅلي پښتو، د پښتو اصلي

څېره ښکاره کړې ده، هغوی پښتنو ته یو روڼ مثال بل کړی او ددې مثال په رڼا کې یې سمه لار خپل قام ته په ګوته کړې ده.

د هغوی د کتابونو په لوستلو سړی پوهیږي چې بابا څومره پوه، مدبر، حکیم او د پښتنو د ژوند په راز پوه پښتون و او د خپل ناپوه قوم سره یې مینه او همدردي، صداقت او وفا په زړه کې پرته وه. هغوی سره په هر وخت او زمان کې په هره څوکۍ او هر مقام کې د خپل قام او هېواد سودا وه او چې وس یې رسېدلی په همدې لاره کې یې خدمت کړی او زیار یې ویستلی دی.

پښتو سیند، د پښتو ژبې لیار او لنډه کې پښتو او پښتونواله یوازې د محمدګل خان مومند غوندې کسانو په هغو شرائطو کې لیکلی شول، چې فرهنګي ښکیلاک د افغانستان د پښتنو واکمنو مړۍ کلکه نیولې وه او هغوی یې بې پښتو کړي وو. یوازې بابا په هغسې اختناقي شرایطو او زندۍ شوې تولنه کې هغه جرئت او غیرت ښکاره کولی شو او واکمنو هم د هغوی سره مخالفت نه شو کولی، ځکه چې وزیر محمدګل خان مومند د افغانستان د خپلواکۍ په جګړه او هم د سقاویانو خلاف په جګړه کې په سر لوبې کړې وې او د پاچاهانو ملا یې تړلې وه.

هغوی د پښتو، پښتو ژبې او پښتون قام ته د خدمت په لاره کې د سختو مخالفتونو سره مخامخ شول او ډېرو غیر پښتنو شخصیتونو یې پر ضد تبلیغات پیل کړل، چې د هغو یوه وړه برخه به دلته په همدې څپرکي کې ولولی.

محمدګل خان مومند په دې خدمت او مبارزه کې لومړی یوازې و او په یوازې ځان یې خپله مبارزه پیل کړې وه، لیکن ډېر ژر ورسره نور پوه او په پښتو او پښتونولۍ مین پښتانه ملګري شول، چې په هغه جمله کې د لاندې نومیالیو پښتنو نومونه د یادولو وړ دي:

استاد قیام الدین خام، استاد عبدالحی حبیبي، استاد گل پاچا الفت، استاد صدیق الله رښتین، استاد عبدالروف بینوا. سیاسي شخصیت غلام حسن خان صافی او غلام محمد خان فرهاد چې د ولسي جرګې په غونډه کې یې د پښتو ژبې غږ پورته کړی و. دوی ټولو د تفکر او اندیښنې له پلوره د محمدګل خان مومند لاره خپله کړه.
استاد قیام الدین خادم د پښتو دمخالفانو غوږونو ته خپل رسا غږ چې همغه د بابا د عقیدې انځور وو په دې ډول رساوه:

رقیبه دا چې تعصب یې بولې
دغه ایمان دی د پښتو ژبه ده
زه له ایمان نه تېرېدی خو نه شم
چې ځان ښکاره کړم د پردو ژبه ده.

استاد ګل پاچا الفت هم چې د وزیر محمدګل خان مومند د ملي مبارزې په ملګرو کې د پام وړ ځای درلود، د خپلې ملي ژبې په اړوند خپل احساس داسې څرګند کړ:

پښتنې بـه درتــه وایي بې ایمــانه
که پښتو شوه درنه پاتې ای پښتونه
واخله درس د سربازۍ ته له پتنګه
لوی صفت د پښتونوالي قرباني ده.

په دې ډول د پښتو سیند اوس په څپو راغلی و او د مخالفانو په خس او خاشاك یانې اوتو بوتو او بې ځایه نیوکو ته شو بند بدلی. که پاچا او کورنی یې پښتو نه ویله نو افغان رونې اندي او په پښتو مین مبارزان هم چوپه خوله نه شول پاتې او د اعتراض غږ یې په نظم او شعر کې تل پورته کاوه.
دهمدغو خاموشو اعتراضونو پایله وه. چې اعلیحضرت محمدظاهرخان دغه تکل ښکاره کړ چې باید زامن یې شهزاده

احمدشاه. شهزاده محمدنادر او شهزاده میرویس پښتو ژبه زده کړي اود پښتو ژبې درانه استادان محمددين پژواك محمداسلام صافي او عبدالغفور ویاند یې دهغوی لپاره د کورنیو ښوونکو په توګه وټاکل. دغه کار د پوهنې د وزیر ډاکټر علی احمدخان پوپل په هدایت سرته ورسول شو

حقیقت دادی چې د پښتو ژبې د مسلې په رونـد د حکومت نوی سیاست ددې ژبې او وزیر محمدګل خان مومند د مبارزې پایله وه. هغه د لوړو نه لوړو مقاماتو ته خان رساوه او د ژبې دعوه یې پرمخ بیوله. لیکن واکمنو نه شوای کولی چې د محمدګل خان مومند ټولې غوښتنې او وراندیزونه ومنې. نوموړي وزیر دا غوښتنه هم کوله چې باید پښتو د هېواد لومړی او فارسي دویمه ژبه ومنل شي. یانې د فارسي ژبې پرځای پښتو ژبه د حکومتي چار چلونې او اجرااتو ژبه وي. او که امکان ولري فارسي دې بیخي مردوده وپېژندل شي (په دې اړوند به څه خبرې وروسته راشي).

محمدګل خان مومند لکه چې وراندې ورته لنډه اشاره وشوه. د ژبې لپاره خپله مبارزه په یوازې خان پیل کړه او ټولې ستونزې یې په دې برخه کې په خپله وګاللې

مخالفین دا هم وایي چې وزیر محمدګل خان مومند نه یوازې د پښتو ژبې حاکمیت غوښتلو بلکې زیاتې پښتنې کورنۍ یې د هندوکش نه اخوا شمالي ولایتونو ته ولېږدولې او په هغو سیمو کې یې ورته ځمکې ورکړې او مېشته یې کړل

رښتیا خبره داده چې دیوه سړي لپاره دومره ستره مبارزه د ډول ډول ناخوالو سره سره ډېره ګرانه او درنده وه. لیکن د مومند بابا همت او حوصله د هندوکش او سپین غر له غرونو هم پورته وه.

د وزیرمحمدګل خان مومند لپاره د نورو غیر پښتنو مخالفت او شکایت کوم ارزښت نه درلود. خو د هغوی په خپله وینا پښتانه واکمن او د هغوی بې پښتو درباروته د بابا د مبارزې پر وړاندې غټ خنډونه ګڼل کېدل او ددې خنډونو لرې کول هم څه اسانه کار نه و. د هغوی شکایت او نه رضایت تل دپښتنو واکمنو څخه و او دوی یې بې پښتو پښتانه واکمن پېژندل

هغه به ویل چې د انګرېزانو پاچهانو انګرېزي او د ایران پاچاهانو ایراني یانې فارسي خبرې کولې خو زموږ پښتانه دي او پښتو نه شي ویلی چې دا په حقیقت کې د خپل قام سره ظلم او جفا ده

د محمدظاهرشاه لومړنی صدراعظم سردار محمدهاشم خان او لومړنی د معارف وزیر سردار محمدخان دواړه د وزیرمحمدګل خان مومند درناوی کاوه او نږدې اړیکي یې ورسره درلودې چې دپښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو په هکله د پاچا لومړنی فرمان هم د همغو اړیکو پایله پېژندل شوې ده. چې صدیق فرهنګ دې مسلې ته اشاره هم کړې ده. ان تکنوکرات مورخ په دواړو سردارانو باندې د وزیرمحمدګل خان مومند د نفوذ ټکی هم منځته راوړی او ښایي دغه مسله هم د مفکر وزیر محمدګل خان مومند سره د غبار ـ رښتیا ـ فرهنګ او د نورو د ضدیت او مخالفت یو دلیل اوسي

پاچا محمدظاهرخان، صدراعظم سردارمحمدهاشم خان او همدغه ډول سردارشاه محمودخان، سردارشاه ولیخان د بېلابېلو کابینو وزیران او پوځي لوی او واړه منصبداران او ملکي مامورین تول او تول ددې حقیقت شاهدان وو چې محمدګل خان بابا د خپلو تاریخي سترو خدمتونو په بدل کې د پاچا او حکومت نه د ځمکو، باغونو، جایدادونو، کوټیو، ماڼیو تقاضا نه درلوده بلکې په همغه غریبانه ژوند خوشحاله و او قناعت یې ورباندې کاوه. لیکن د پاچا او حکومت نه

يې د ملي ژبې پښتو دحق کلکه غوښتنه کوله او په دې اړوند هېڅ ډول معاملې ته تيار نه و.

همدغه ملي مسله د وزير محمدګل خان مومند د پښتني غرور وسيله جوړه شوې وه او مخالفان له همدې امله په بابا نه شول بريالي کېداى. پښتو او پښتو ژبه او پښتونواله د محمدګل خان مومند ايمان و، د هغوى د ژوند او مبارزې فلسفه او تفکر په همدې ايمان پورې تړلى و. ځکه خو يې نشول کولى په ايمان معامله وکړي او يا په څوکۍ او مقام اخيستو له ايمان نه تېر شي لکه چې نورو مشرانو دغه کار کړى و او پښتو يې په مقام او څوکۍ، صدارت او وزارت خرڅه کړې وه.

اوس به وګورو چې دپښتو او پښتونولۍ مخالفانو د بابا وزير محمدګل خان مومند کار او مبارزې ته په کومو سترګو کتل او د هغوى د برحقې مبارزې پر وړاندې يې له تعصب او تنګنظرۍ پرته نور څه ښکاره کولى شول؟

# د وزیر محمدګل خان مبارزه او د مخالفانو غبرګون

د لیکلو سندونو په ډول د پښتو ژبې ، پښتون قام او وزیر محمدګل خان مومند مخالفانو چې ټول غیر پښتانه دي، ځینې لیکنې کړي دي، چې دپوهې او منطق پر ځای په کې تعصب او وچ بې دلیله مخالفت زیات ترسترګو کېږي.

دغه مخالفان په داسې حال کې چې د افغانانو په هېواد (افغانستان) کې د فارسي ژبې له حاکمیت نه ډېره کلکه دفاع او پلوي کوي دیو پښتون مفکر او ملي شخصیت محمدګل خان مومند او ملګرو مبارزې ته چې د خپلې ژبې د محکومیت پر ضد یې کوي او د افغانانو په هېواد کې د افغاني ژبې رسمیت او حاکمیت غوارې په فاشیستي احساس ولاړه مبارزه وایي او د نازي المان د وخت د رویدار سره یې پرتله کوي.

ددې غلطې عقیدې او مفکورې منځته راوړونکی مورخ سیدقاسم رښتیا کشر وروړ میر محمدصدیق فرهنګ دی، د ی دپښتو ژبې د حق غوښتنې مبارزې ته د برتري خواهي نوم ورکوي لیکن دفارسي ژبې په جامه کې د ایران د فرهنګي ښکیلاك مسله تر پردې لاندې ساتي او ان دلیل راوړي چې:

" احمدشاه ابدالی با اینکه پشتو زبان بود و دران زبان شعر میگفت بادرک این واقعیت زبان دری را به عنوان زبان رسمی وزبان معاملات دولتی حفظ کرد، جانشینان او اعمم از شاهان سدوزایی و امیران محمدزایی نیز ازین روش پیروی کردند" (۱۶۲).

پښتون مفکر وزیر محمدګل خان مومند دشلمې پیړۍ تر دویمې نیمايي پورې ژوندی او یو پوه با صلاحیته شخص و دملي ژبې پښتو ( زبان افغانی) په هکله د همدې پیړۍ د غوښتنې او شرایطو سره سم تفکر کاوه او د پښتون قام د ژوند او واکمنۍ خبره یې د ملي ژبې تر حاکمیت پورې تړله.

شلمه پیړۍ په نړۍ کې د هر ډول ښکیلاکي ( استعماري) سیستمونو د له منځه تلو پیړۍ پېژندل شوې وه. هر ولس په خپله ملي ژبه ژبه حکومتي چارې سرته رسولې او په همدې ژبه یې زده کړې کولې او پوهه ( علم) یې ترلاسه کاوه.

عربو، ایرانیانو او د نړۍ نورو پوهانو او د ژبې ماهرانو پښتو ژبه د افغاني ژبې په نوم یاده کړې او ټولو افغاني واکمنو د اعلیحضرت محمدظاهرشاه پورې عین همدغه نوم په کار راوستی و او لکه چې ومو لیدل وروستي فرمان کې چې فرهنګ ورته د فاشیستي کړنې نوم ورکړی دی هم پښتو د افغاني ژبې په نوم یاده کړې ده. په دې حالت کې خو هر شعورلرونکی افغان دا فکر کوي چې د افغانستان نوم د افغان د نوم او افغاني ژبې سره نیغه اړیکه او تړاو لري ولې دې دغه ژبه محکومه او تر فرهنګي ښکیلاک لاندې ژبه وي.

ولې دې د افغانانو په هېواد (افغانستان ) کې د افغانانو خپله ژبه حاکمه نه وي او دا غوښتنه ولې په فاشیستي مفکورې پورې وتړل شي؟

د محمدګل خان مومند د تفکر له مخې د پښتو ژبې نه واک اخیستل او ددې ژبې د صلاحیت نه انکار په حقیقت کې د پښتون یانې افغان قوم د وجود نه انکار دی او چې افغان قوم او پښتو یا افغاني ژبه له پام او کام نه وغورځول شي نو د افغانستان وجود او تشوالی په خپله تر پوښتنې لاندې راځي او د ایران په مدرسو او پوهنتونونو کې روزل

شوي موقع پـه لاس راوړي چې د خراسان غږ پورته کړي او په خراسان بـاندې د افغانسـتـان د نـوم اړولـو وړاندېزونـه وکـړي او هـزاره ګان د جمهوري هزارستان نقشه په مطبوعاتو کې خپره کړي

ددغـه اساسـي لاملـ لـه مخـې وزيـر محمـدګل خـان مومنـد او د مبارزې ملګرو يې د پښتـو ژبې د حاکميت غوښتنه کوله او د بابـا د مفکورې بنسټ پر همدې تکي ولاړ و

وزير محمدګل خان مومند په خپلو کتابونو ( د پښتـو ژبې ليـار لنده کې، پښتو او پښتونواله ) کې دغه عقيده ښکاره کړې ده چې " ژبه د ملي موجوديت او هويت، هوساتوب او سعادت د لوړوالي او جګوالي ستنه ده نو ژبه بايد وساتله شي. وبالله شي په هر حيثيت سره د ملت درستو اړينو ته کافي شي.

پښتو د پښتنو په ولس او ټولنه کې لکه روح پـه کالبد کې ده. که په کالبد کې روح نه وي نو کالبد يو خوشې شی دی."

دهمدې تفکـر پـر بنيـاد بـاندې محمـدګل خـان مومنـد د خپلې مبارزې اصول عيار کړي وو. ليکن مخالفانو دغه ډول تفکر د فارسي ژبې لپاره يو خطر ګڼلو او د بابا محمدګل خان مومند د مبارزې پـر وړاندې يې منفي غبرګون ښکاره کولو او بې اسـاسـه تورونه يې ورپـورې وتړل. فرهنګ د وزيـر محمـدګل خان مومنـد د تفکر او عمـل ډېر کلک مخالف دی. ده د خپل کتاب په يوه برخه کې راوړي دي

" در دوره پادشاهی محمدنادرشاه، محمدگل خان مومند وزير داخلـه تحريکاتی را درجهت تعميم زبان پشتو و طرد زبان دری نه تنها از دوايـر دولت بلکه از موسسا تعليمی و حتی خانه و بازار اغاز کرد. شاه نخسـت اورا به عنوان ريس تنظيمه به قندهار فرستاد تا اقداماتش درمنطقه پشتو زبان محدود مانده موجب بروز ردعمل در ساير مناطق کشور نشود، اما در سـال

۱۹۳۳ تغیر فکر داده اورا به همان عنوان به ولایات شمالی فرستاد و درانجا محمدگل خان نظریه برتری خواهی قومی ولسانی اش را در محـــــل اجـــرا گذاشت. درین ضمن وی مردمان دری زبان وترکی زبان را وادارمیساخت تا عرایض شان را بزبان پشتو بنویسند وبه عرایض که به زبان دری باو میرســید ترتیب اثر نمی داد.

خانواده های پشتون راحتی از خارج سرحدات افغانستان به تعداد زیاد به شمال هندوکش کوچ داده با دادن زمین و دیگر امتیـــــازات اســکان و درماموریت هم به پشتو زبانان ترجیح میداد" (۲۶۳).

ځوك چې د تاریخلیکنې دعوه کوي او ځان د مورخانو پـه جملـه کې شمېري په کار دی چې د مسایلو په هکله بې طرفانه اوله تعصب او شخصي جبهه ګیـري څخه لرې د علم او پوهې پر بنسټ ولاړ قضاوت وکړي او د تـاریخي تېروتنو نـه ځان وسـاتي، پـه داسې حـال کې چـې د فرهنګ پورتني لیکنه دغه یو اصل هم په ځان کې نه لري.

، دی په خپله لیکنه کې پښتنو ته د پردیو په سترګه ګوري او هغوی داسې خلك بولـي چـې وزیـر محمـدګل خـان مومنـد د افغانسـتان د سرحدونو د هغې خوانه هېواد ته راوستلي او په شمالي ولایتونو کې یې مېشته کړي دي. فرهنګ باید دغه تـاریخي حقیقت نـه وای هېر کړی چې هغـه پښتانـه د لـوی افغانسـتان اصلي اوسېدونکي او افغانسـتان دهغوی ابایي ټاټوبی او د مور او پلار کور و. لیکن د امیر عبدالرحمن خان په واکمنـې کې پېرنګیـانو لـوی افغانسـتان وړوکـی او د ډیورنډ د کرښې ویستلو په واسطه یې یوازې د پښتون پیکـر دوه ټوکړې کـړ. خو هغـه فرضیـې کرښه هېڅکله پښتنو ونـه منلـه او د دواړو خـواو پښتنــو خپـل منځي وروروليي خوندي او د تـل لپــاره ټینـګه وسـاتله او تـر نـن ورځې پورې ټینګه ده.

ددې تاریخي سند له مخې د مصنوعي کربنې نه اخوا پښتانه په هېڅ دلیل او منطق پردي نه شي ګڼل کېدلی او مورخ باید دغه ډول ستره تېروتنه ونه کړي

پردي خو هغه ایراني شعیه ګان او قزلباشان او نور وو چې د نادرقلي افشار سره یو ځای افغانستان ته راغلل، د افغانانو په تاتوبي کې پاتې او پښتون واکمن اعلیحضرت تیمورشاه دراني هغوی په مهمو مالي، اداري او اقتصادي دندو وټاکل او د پېړیو په اوږدو کې یې نسل زیات شو او په افغانستان کې یې د ایران د فرهنګي ښکیلاک ستنې ټینګې کړې او دیو وړوکي اقلیت په توګه یې د هېواد د ستر اکثریت (پښتنو) پر ضد دوران کاری دنده د ایران په ګټه پر غاړه واخیسته

دویمه تېروتنه داده چې فرهنګ د وزیر محمد ګل خان مومند له خوا د پښتو ژبې لپاره کار کول په قومي او ژبني برتري خواهي تعبیروي که داسې وي نو دغه برتري خواهي خو له پښتنو مخکې سیر پښتنو یانې د فرهنګ خپل قام کړی دی او د لږه کیانو ژبه یې د ډېره کیانو پښتنو په هېواد ( افغانستان ) کې حاکمه کړې او ایران د ژبې پر اساس د افغانستان پارسو ویونکي ایرانیان بولي او پښتانه افغانان فرهنګ په یو ناسم منطق قضاوت کوي. په دې مانا چې په افغانانو باندې د فارسي ژبې حاکمیت د فاشیزم په تله باندې نه تلي او یو روا عمل یې بولي. لیکن کله چې پښتانه په خپل هېواد کې د خپلې ژبې د حق خبره راپورته کوي نو دې کار ته د فاشیستي عمل نوم ورکوي

دیو عادلانه قضاوت په رڼا کې زیاتو پوهانو او تاریخلیکونکو د پښتنو په اړه د فرهنګ دغه ډول تنګنظرانه او له غرضونو ډک تفکر دیوه فاشیستي احساس زېږنده ګڼلی دی، ځکه چې دی د هېواد د لږه کیانو ژبې ته د حاکمیت حق ورکوي. په دې دلیل چې ګویا احمد شاه دراني او د پښتنو دغې پاهغې پاچا د لږه کیانو په ژبه د حکومت چار

چلولی دی نو دا باید یو تل پاتې او همیشنی قانون اوسي او پښتو ژبه دې تل د محکومیت لاندې پاتې وي او که څوك د دې لرغونې افغانې ژبې د حق غوښتنې غږ پورته کړي هغه فاشیستان دي.

دا د غیر پښتون فرهنگ قضاوت دی چې فاشیستي او د قومي برتري خواهي بوی ورکوي. دغه ډول منطق نه په علمي اصولو ولاړ دی او نه ورباندې سلیم عقل د صحت مهر لگوي.

د وزیر محمد گل خان د مبارزې سره د مخالفانو مقابله په همدغه ډول او بې اصوله روانه پاتې شوې ده او حکومتونو دیوې غوڅې پرېکړې مېړانه نه شوه ښکاره کولی او حق یې حقدار ته نه شوه ورکولی.

صدیق فرهنگ چې د پښتو ژبې دتعمیم او رسمي کېدلو ډېر کلك مخالف و د خلو نورنو لمن لا پسې پراخوي او لیکي:

" همزمان با برنامه تعمیم جبری زبان پشتو اجراآتی هم درن زیر نظر وزیر معارف درجهت تبلیغ ایدیولوژی ناسیونالیستی همانند ایدیولوژی حزب نازی در المان رویدست گرفته و سعی به عمل امد که تاریخ افغانستان هم بر اساس نظریه مذکور تدوین و تدریس شود. " (۲٦۴)

دده له خوا لیکل شوی اثر (افغانستان در پنج قرن اخیر) ټوله له همدغه ډول تورونو، دروغو او د پښتنو پر ضد په ناوړو تبلیغاتو ډك دی چې تعصب، قومي او ژبنۍ تنگنظري په کې اساسي ماده او مایه ده.

فرهنگ د افغانستان د تاریخ په اړه وایي چې دا هم د برترۍ غوښتنې د نظریې پر اساس تدوین او لیکل شوی دی. په داسې حال کې چې دده خپل مشر ورور د همدغو تاریخلیکونکو په جمله کې ولاړ دی خو د (افغانستان درقرن ۱۹) په تاریخ کې ددغه ډول نظر څرك نه

لیدل کېږي. بلکې په زیاتو برخو کې یې د پښتنو په حق سترګې پټې کړي دي

اوس به وګورو چې مورخ سید قاسم رښتیا (د فرهنګ مشر ورور) د وزیر محمد ګل خان مومند د مبارزې په اړه څه څرګندوی او د پښتنون مشر شخصیت ته په کومه سترګه ګوري.

باید یادونه وشي چې نوموړی تاریخلیکونکی د اعلیحضرت محمد ظاهر خان د واکمنۍ په لومړیو کلونو کې د حکومتي دندو د سرته رسولو په جریان کې د محمد ګل خان بابا سره مخامخ شوی دی. چې د پښتو ژبې لپاره د بابا د مبارزې دوران هم د همدې لړۍ یوه کړۍ ګڼل کېږي.

رښتیا له هغه وخت څخه د وزیر محمد ګل خان مومند د مبارزې خبره را اخلي چې سردار شاه محمود خان صدراعظم او نجیب الله خان د معارف وزیر و. په خپله رښتیا نوی نوی د مطبوعاتو د ریاست کفیل ټاکل شوی و.

نجیب الله خان توراویانا چې د بهرنیو چارو تر وزارت هم ورسېد او د افغانستان په تاریخ کې د مطالعې خاوند و هغه څوک دی چې د پاکستان د جوړېدو (۱۹۴۷م) نه وروسته د افغانستان د فوق العاده استازي په توګه د پاکستان د قاید اعظم محمد علي جناح سره د پښتنو د برخلیک معلوملو لپاره د خبرو اترو په مقصد پاکستان ته لاړ او وروسته یې د جناح د کړو خبرو په اړوند یو وړوکی کتاب هم خپور شو چې د خبرو تفصیل په کې لیکل شوی و.

وزیر محمد ګل خان مومند په هغه وخت کې د پښتو ژبې لپاره د مبارزې یو نوي پړاو ته داخل شوی و. نجیب الله خان هم د حکومت له نظریې سره سم د پښتو ژبې په مسله کې دخیل شوی او رښتیا یې په څنګ کې ولاړ و

ربښتیا عقیده ښکاره کوي چې دپښتو ژبې د تعمیم او رسمي کېدلو لپاره چې دصدراعظم سردارمحمدهاشم خان په وخت کې کوم پروګرام د معارف د وزیر سردارمحمدنعیم خان له خوا جوړ شوی و. د سردارشاه محمودخان صدراعظم په وخت کې د معارف وزیر نجیب الله غوښتل په هغه کې څه بدلون راولي چې زه هم د نوموړي وزیر (نجیب الله خان) د نظریې طرفدار وم. لیکن وزیر محمدګل خان مومند د هغه بدلون ډېر کلك مخالف و.

ربښتیا دغه مطلب په دې ډول بیان کړی دی:

"نجیب الله خان میخواست در پروگرام تعلیمی زبان پشتو که در دوره سردارمحمدهاشم خان ازطرف سردار محمدنعیم خان طرح شده بود تعدیلاتی وارد سازد. در وقت محمدهاشم خان امر برین بود که در تمام ولایات افغانستان تدریس زبان پشتو صورت گیرد اما نجیب الله خان در نظر داشت که در جاهای که پشتو زبان مادری است تدریس پشته و در نقاطی که مردم فارسی زبان استند به زبان فارسی تدریس شود، و پشتو لسان دوم باشد که نظریه معقولتر و عادلانه تر بود.

از این تغیر محمدگل خان مومند ازرده شد و به سردار شاه محمود خان شکایت کرد و دلایل گفت، در نتیجه یک شب سردار شاه محمودخان نجیب الله خان، محمدگل خان مومند و مرا به خانه خود دعوت کرد تا با هم مذاکره کرده و ما دونفر قناعت محمدگل خان مومند را حاصل نمایم. درین مذاکرات اگر چه نسبت به پروگرام تعلیمی نظریه من و نجیب الله خان یکی بود و همان نظریه را تائید می نمودم اما پیش امد من به طرف دلچسپی محمدگل خان قرارگرفت زیرا احساس کرد که من به پیشرفت وتعمیم زبان پشتو علاقه قلبی دارم ( چنانچه در اثر همین علاقه مندی زبان پشتو را

فراگرفته و به این لسان مقالاتی نشر وهم تخلص پشتو برای خود انتخـــاب نموده بودم."(۲٦٥)

"له هغه وروسته محمدگل خان څو ځله زه خپل کورته وغوښتم او د پښتو ژبې د پروگرام په اړوند يې له ما سره خبرې وکړې او هغوی ته مې دغه ډاډ ورکړ چې د معارف په برخه کې څه نه شم کولی خو د مطبوعاتو په برخه کې به خپل زيات کوښښ وکړم. چې پښتو ژبه تقويه او د معقولې لارې نه په تدريج سره تعميم ومومي."

مورخ سيد قاسم رښتيا چې ډېر هوښيار سړی و او د خپل ورور غوندې چپ گر او د بېرك كارمل نږدې ملگری نه و پاتې شوی. خپلې خبرې ډېرې سنجيده په خپلو يادښتونو کې راوړې دي. ليکن هر پښتون چې ډېره لږه پوهه هم ولري د نومړي په ليکنه کې د يو پټ راز څېره ويني. چې رښتيا له هغه نه پرده لرې کړې ده، پرته له دې چې اراده کړي وي مونږ به دلته د پښتو روښانفکرانو او پوهانو له نظره د رښتيا دغه خبره وڅېړو ترڅو د وزير محمدگل خان مومند د مبارزې په مقابل کې د مخالفانو د وران كاريو كرغېړنه څېره بربنده شوې وي.

لومړی: ولې صدراعظم محمدهاشم خان او د معارف د وزير سردارمحمدنعيم خان له خوا د پښتو ژبې د تعميم لپاره د منلي شوي پروگرام د تعديل خبره دومره ژر رامنځته شوه. هغه پروگرام چې صدراعظم او د معارف وزير محمدگل خان مومند سره په سلا مشوره ترتيب او د حکومت له خوا منظور شوی و د صدراعظم او د معارف د وزير د لرې کېدو سره سم معطل او نوي د معارف وزير نجيب الله خان يې د تعديل وړانديز وکړ؟

دويم: څنگه نوی صدراعظم سردارشاه محمودخان چې د سردارمحمدهاشم خان حربيه وزير په دې خبره غور ونه کړ چې د پښتو ژبې د تعميم پروگرام دمخکيني صدراعظم او د معارف د وزير سره په

په سلام مشوره جوړ او منظور شوی و او حکومت ته یې د عملي کولو لاربنوونه کړې وه دی یې د نوي معارف وزیر د تعدیل وړاندیز ولې ومني او چې کله وزیر محمدګل خان مومند د تعدیل دنه منلو له امله د نه رضایت او خفګان څرګندونه وکړه او خپل شکایت یې ده ته ورسولو د بابا د شکایت اورېدو پرځای یې وزیر محمدګل خان مومند. نجیب الله خان او سیدقاسم رښتیا خپل کور ته ور وغوښتل ترڅو د بابا قناعت لاسته راوړي.

درېیم: وزیر محمدګل خان مومند پرته له دې چې قناعت وکړي، د رښتیا له خوا چې د نجیب الله خان د نظریې طرفدار و په پروګرام کې د تعدیل راوستو غوښتونکی و دغه هڅه وشوه چې بابا په دې راضي وساتي چې د مطبوعاتو له لارې به د پښتو ژبې د تدریجي تعمیم لپاره مرسته وکړي. دغه هڅه ددې لپاره وه چې د وزیر محمدګل خان مومند په قهر او غوسه کې کموالی راولي.

څلورم: نوي صدراعظم سردارشاه محمودخان پرته له دې چې غوښتل یې وي د وزیر محمدګل خان مومند د رواو برحقې مبارزې خندشوی و او هم یې د پښتو ژبې د تعمیم د پروګرام خنډولو په توطیه کې نا اګاهانه برخه اخیستې وه.

پنځم: هغه وخت چې سردارمحمدهاشم خان صدراعظم او سردارمحمدنعیم خان د معارف وزیر او د وزیر محمدګل خان مومند سره په مشوره د پښتو ژبې د تعمیم پروګرام جوړ او منظور کړ، هیڅوا دهغه سره مخالفت او یا د تعدیل غږ پورته نه کړ. لیکن همدا چې هغه دواړه مشران ګوښه او پرځای یې نوی صدراعظم او نوی د معارف وزیر وټاکل شول او رښتیا د مطبوعاتو د ریاست چارې په لاس کې ونیولې. نو په هغه پروګرام کې د تعدیل او تغیر راوستلو هڅې پیل شوې. چې وزیر محمدګل خان مومند مجبور شو خپل اعتراض او شکایت د

شخصي خفګان په ښه څرګند کړي او دغه شکایت ان صدراعظم شاه محمودخان پورې ورسوي چې دا د بابا د مبارزې مشکل پړاو و.

شپږم: ولې نوي صدراعظم (سردارشاه محمودخان) د خپل نږدې ملګري وزیر محمدګل خان مومند چې د خپلواکۍ او نجات په جګړو کې دهغه سره یوځای برخه اخیستې وه په شکایت غوږونه کانه واچول او د نجیب الله خان او سیدقاسم رښتیا د پښتو ضد حرکت یې ونه غندلو ځکه چې هغه پروګرام دده نه مخکې قبول او منظور شوی و.

اووم: په هغه پلان کې دا خبره سپینه شوې وه. چې باید د افغانستان په ټولو ولایتونو کې تدریس په پښتو ژبه وشي. ترڅو ټول خلك واړه او زاړه په پښتو خبرې او لیك لوست وکړی شي او په دې برخه کې د وګړو ستونزې له منځه لاړې شي. لیکن نجیب الله خان او سیدقاسم رښتیا په فارسي ژبو ولایتونو کې دپښتو ژبې د تدریس طرفدار نه وو او د صدراعظم شاه محمودخان ذهن یې هم ګډوډ کړی و. وروستیو وختونو دغه حقیقت روښانه کړ، چې هغوی دواړو وزیرمحمدګل خان مومند ته په ښه سترګه نه کتل او د پښتو ژبې دحق لپاره یې د محمدګل خان بابا مبارزه له سیاسي پلوه ګټوره نه ګڼله او عین دغه موضوع یې د پاچا محمدظاهرخان ترغوږو هم رسولې وه. ځکه خو پاچا د وزیر محمدګل خان مومند. نجیب الله خان او رښتیا په شخړه سترګې پټې او غوږونه کانه واچول.

لیکن پښتون محمدګل خان مومند داسې په اسانه د مبارزې میدان پرېښودلو ته چمتو نه ښکارېده. هغوی د خان سره دا هوډ کړی و چې څو یې ساه په بدن کې چلېږي خپلې مبارزې ته به دوام ورکوي.

په وروسته وختونو کې هغوی د پښتو ژبې د استادانو لکه استاد قیام الدین خادم. استاد ګل پاچا الفت. استاد صدیق الله رښتین او نورو سره له نږدې لیدنې او کتنې درلودلې او د پښتو ژبې د تعمیم

نورې لارې يې لټولې او په همدې غونډو کې دغه نظر وړاندې شو، چې بايد د کابل ښار او ولايتي بازارونو او ښارونو د هټيو لوحې او د ښوونځيو او لويو واټونو نومونه دې له يوې مخې پښتو کړی شي.

په کار وو چې حکومت د پښتو ټولنې دغه وړانديز چې وزير محمدګل خان مومند سره په مشوره ليکل شوی و پرته له کوم شرط او تعديل نه منظور کړي. د صدراعظم شاه محمود خان له خوا ددې وړانديز منظوري ورکړی شوه او پښتو ټولنې ته په هغه کار کې د مرستې او همکارۍ لارښوونه وشوه.

په هېواد کې د فرهنګي ښکيلاک پرېخو يوځل بيا د مخالفت غږ پورته کړ ليکن هېڅ ګټه يې ونه کړه او پښتو ټولنې د حکومت د پرېکړې د تطبيق او عملي کولو مسوليت پر غاړه واخيست او د کابل ښاروالۍ او د ولاياتو ښارواليو ته دنده وسپارل شوه چې هټۍ لرونکي او د ولايت د پوهنې لوی مديريتونه په دې اړوند د پښتو ټولنې همکاري او مرسته غواړي. په دې ډول لومړی دکابل د ښار او وروسته د ولايتونو د ښارونو د هټيو لوحې په پښتو کړی شوې چې دغه لړ د محمدظاهر شاه د پاچاهۍ تر وروستيو کلونو او د ولسمشر سردار محمدداودخان شهيد د حکومت تر ورځو پورې جاري وساتل شوه ليکن په هېواد کې د کمونست ډوله نظام د ټينګېدو نه وروسته له پامه وغورځول شوه.

په مرکز او ولايتونو کې د پښتو ژبې د سرتاسري تعميم او تعليم لپاره د وزير محمدګل خان مومند په مشوره د جوړ شوي پلان د ناکامۍ په مقصد د مخالفانو سازش او توطيه يو ځل بيا ددې حقيقت ثبوت وړاندې کړ، چې فرهنګي ښکيلاک په دومره اسانۍ او ساده‌ګۍ له منځه نه شي وړل کېدی او ددې ښکيلاک په خدمت کې ولاړ عناصر هر ډول غيرګون ښکاره کولو ته تيار دي. صدراعظم سردارشاه محمود

خان چې د کور دننه یې هم پښتانه ساتونکي ځای پرځای کړي وو د خپل حکومت په چار چلونه کې په غیر پښتنو باندې تکیه شوی و او د هغوی په مشوره یې قدم پورته کاوه.

په هغه وخت کې چې پاچا محمدظاهرخان لا د ۱۸ ـ۱۹ کالو هلك و او پاچاهي ورته له پلار نه په میراث پاتې وه، وزیر محمدګل خان مومند د محمدنادرخان غازي، محمدهاشم خان، شاه ولیخان او شاه محمود خان سره د جګړو ځو دګرونه وهلي او فتح کړي او تر زیاته حده پورې د محمدنادرخان بریالیتوب او پاچاهي ته رسېدل د محمدګل خان مومند د پښتو، پښتونولی او تدبر نتیجه ګڼل شوې ده. لیکن د پښتو ژبې د حق اخیستلو په مبارزه کې پاچا د وزیر محمدګل خان مومند او ان چې دسردارمحمدهاشم خان او سردار محمدنعیم خان ملګرتیا او پلوي ونه کړه. په داسې حال کې چې وزیر محمدګل خان مومند او ملګرو یې په هېواد کې د فرهنګي ښکیلاك دپای ته رسولو لپاره مبارزه کوله او د حکومت په چارو کې فارسي ژبه حاکمه وه د پښتنو او پښتو ژبې مخالفانو هغه شان خپلو ناسمو نظریاتو او ګمراه کوونکو تبلیغاتو په دوام ورکولو کې د فرهنګي ښکیلاك د جرړو ټینګولو لپاره په خدمت کې بوخت دي وګورئ دې لاندې کرښو ته:

" سیاست گذاری های فرهنگی و اموزشی به گونه ای بوده است که سعی می شده با تقویت وتوسعه ی زبان پشتو به عنوان زبان اول در مراکز اداری، فرهنگی اموزشی و حتی سیاسی، زبان فارسی را در برابر ان تضعیف ومحدود گردانند" (۲٦٦).

د پښتولپاره مبارزه د حق لپاره مبارزه وه چې وزیر محمدګل خان مومند بابا د ژوندانه تر وروستیو ورځو پورې هغه مبارزه جاري وساتله

اداری، فرهنگی اموزشی و حتی سیاسی، زبان فارسی را در برابر ان تضعیف ومحدود گردانند" (۲٦٦).

د پښتولپاره مبارزه د حق لپاره مبارزه وه چې وزير محمدگل خان مومند بابا د ژوندانه تر وروستيو ورځو پورې هغه مبارزه جاري وساتله او په پوره مېړانه يې پرمخ بوتله. په دې مبارزه کې د بابا سره دپښتو ژبې وتلي استادان ملگري وو.

# لسم څپرکی

## په سردار محمدداودشهید باندې دپښتونیزم تورونه او دپښتو یون

د ۱۹۷۳م کال د جون د میاشتې په ۲۵ نېټه سردارمحمد داود خان دهېواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د شاهي نظام پرځای جمهوري نظام اعلان کړ او دغه کار د احمدشاه درانۍ د پښتني سترې واکمنۍ نه ۲۲۶ کاله وروسته وشو.

تر هغې نېټې پورې پښتنو په افغانستان کې چې د افغانانو لرغونی ټاټوبی دی ۲۲۶ کاله پاچاهي کړې وه، پښتنو واکمنو دغه لیاقت او صلاحیت یا کفایت ښکاره نه کړ، چې د احمدشاه بابا په لاس او همت او تدبر کومه ستره امپراتوري جوړه شوې هغه خوندي او پرځای وساتي، بلکه د بېلابېلو پښتنو واکمنو په دوران کې د افغانستان د خاروې یوه غټه او د پام وړ برخه د انګرېزانو او روسانو تر خېټو لاندې شوه.

پېرنګي مور تیمور د ډېورنډ خوا د امیر عبدالرحمن خان له سیاسي کمزورتیا نه په ګټه اخیستلو نه یوازې د افغانستان خاوره تجزیه او توکړې کړه بلکې پښتون قام یې هم په دوو برخو وویشلو چې یوه برخه یې د کرښې نه په دې خوا پاتې شوه، یو ورور د کرښې په دې اړخ او بل ورور د کرښې په هغه اړخ کې په ژوند کولو اړ کړی شو.

سردارمحمد داود خان چې په خټه محمدزی پښتون او د پاچا محمدظاهرخان د کورنۍ غړی و د خپلو ملګرو په مرسته او همکارۍ

سره دوه سوه شپږویشت کلنه شاهي لړۍ پای ته ورسوله او د شاهي رژیمونو په هبواد کې یې جمهوري یا ولسواکي رژیم منځته راوړ او ښتنانه چې پاچا ته به یې د خدای (ج) سیوری وایه نور د تل لپاره د هغه سیوري څخه بې برخې شول. هغه ولس چې د پېړیو پېړیو په اوږدو کې یې دفیوډالي شرایطو په غېږ کې ژوند کړی و او د ژوندانه اصول یې په همدغو شرایطو باندې ولاړ وو په ناڅاپي توګه او پرته له دې چې فکر وریاندې شوی وای د متمدنې او پرمختللي نړۍ دسیاسي نظام لاندې راوستل شول او د نوي ژوند د غوښتنو په سمندر کې وغورځول شول.

زیات سیاسي ماهران او دسیاسي اندیښنو د ازادۍ پلویان عقیده ښکاره کوي چې که سردارمحمدداودخان د ولسمشر په توګه دغه هڅه کړې وای چې نوی جمهوري نظام ته افغاني بڼه ورکړې او د افغانستان د خلکو دودیز ژوند د اصولو د چوکاټ دننه ورته د ودې امکانات برابر او د هغوی دفکر او عقیدې د ازادۍ په حدودو کې خپل ګامونه پورته کړي نو یقیني خبره وه چې کمونستانو نشوای کولی چې د محمدداود خان د جمهوریت په دېوالونو کې درزونه راپیدا کړي او خلک له هغوی نه مخ واړوي.

سردارمحمدداودخان چې لس کاله (۱۹۵۳ نه تر ۱۹۶۳) د افغانستان صدارعظم پاتې شوی نو د غه وس یې درلودلو چې د خپلې تجربې له مخې د حکومت کولو په چارو کې د پوهې په برکت نوی جمهوریت په پښو ودروي او د پرله پسې تېروتنو څخه ځان وساتي.

د محمدظاهرخان د پاچاهۍ نه شل کاله تېر شوي وو. چې سردارمحمدداودخان د پاچا له خوا صدراعظم وټاکل شول. د عمرله پلوه هم دوی دواړه (پاچا او صدراعظم) یو بل ته ډېر نږدې وو لیکن د اندیښنې او تفکر په ډګر کې د دواړو ترمنځ ښه زیات واټن لیدل کېده

په دې مانا چې سردارمحمد دواد خان دیو پوځي شخصیت په توګه د لهجې د صراحت او سپینې وینا طرفدار و او په رسمي کړنو کې هم د جدیت او انظباط خوښوونکي پېژندل کېدل په داسې حال کې چې محمدظاهر خان دیوه محافظه کار طبیعت او بوروکراتیک خصلت درلودونکی و او په کارونو کې د زیات فکر او ورو قدم اخیستلو پلوی و.

وایي چې سردار محمدداود خان زیات احساساتي او جذباتي سړی و او اکثر وخت ددغو احساساتو او جذباتو په قابو کولو کې پاتې راتللو ځکه خو ورته خپلې کورنۍ او نږدې دوستانو او ملګرو نوموړی دلیوني سردار په نوم یاداوه.

لیکن محمدظاهرخان د محمد داود خان برخلاف دیو ساړه طبیعت او غیر جذباتي شخصیت درلودونکی و او هېڅکله نه احساساتي کېده، دواړو ځلا ځلا د کار چاپېریال درلودلی و چې بو عسکري او بل ملکی و. د صافیو سره په جګړه کې د سردارمحمد داودخان پوځي شخصیت پوره وپېژندل شو او د پښتنو قبایلو سره د نږدې اړیکو درلودلو او ناستې پاستې په نتیجه محمدداودخان د ژورو ملي او پښتني جذباتو تر اغېزو لاندې راغی او د ژوندانه تر پای پورې ورسره هغه جذبات او احساسات خوندي پاتې شول.

د ژوند په وروستیو شېبو کې چې دښمن (خلق او پرچم د خونړي کودتا ټوپك لرونکی) له هغه غوښتنه کوي چې ځان تسلیم کړي نو هغه په ځواب کې وویل چې کمونستانو ته د تسلیم کېدلو نه مرګ ښه دی او رښتیا یې هم همغه مرګ غوره ګڼلو. داو د نوموړي د پښتني احساساتو یو څرګند ثبوت.

امریکي، شورویانو، ایراني او پاکستاني واکدارانو سردارمحمد داود خان یو کلك ملي ګرا ( ناسیونالیست ) ګڼلو. سي، ای ، اې د خپلو محرمانه سندونو د لړۍ په لومړي نمبر سند کې په څرګند ډول ددې مطلب تصدیق کړی دی، (۲۶۷).

ایرانیانو هم سردارمحمد داود ته په همدې سترګه کتل. ایراني محقق علي ابادی عقیده ړي چې سردار محمد داود یو وطندوست و د افغانستان د پرمختیا ارمان یې په زړه کې پروت و، سربېره پر دې نوموړی یو پښتون شهزاده او د سیاسي او پوځي تجربې درلودونکی ژنرال هم و.

همدغه ایرانی لیکوال او محقق د سردار محمد داود د کودتا په اړوند لیکي:

"کودتای داودخان یک کودتای کمونیستی نبود و داودخان هم قصد نداشت تا به شوروی نزدیک گردد، وحکومت مارکسیستی به راه اندازد، مقصود او استفاده از امکاناتی بود که افسران چپ قاردر بودند در اختیارش بگذدار علاٌوه براین گمان میکرد که می تواند با شوروی کنار بیاید"(۲٦۸).

پاکستان سردارمحمد داود خان د ۱۹۶۰م کال راهیسې ډېر ښه پېژانده څکه چې په دې کال کې د پښتونستان د مسلې پر سر محمد داود په پاکستان باندې د برید کولو ننبې نښانې ښکاره کړې او په خپل هېواد کې یې د عمومي سفر بری یالام تړلو اعلان وکړ.

دهغه هېواد واکمن د سردار محمد داودخان د ملي احساساتو او جذباتو په انداز ډېر ښه پوهېده او د هغوی سره یې په خپلو سیاسي کړو وړو کې له زیات احتیاط نه کار اخیستلو.

په ۱۹۴۷م کې چې کله پاکستان جوړ شو نو په هغه وخت (۱۹۴۷ ـ ۱۹۴۶) کې سردارمحمد داودخان د افغانستان د ملي دفاع وزیر و او

ویل کېږي چې محمدظاهرخان، سردارمحمدداودخان ددوی د تندو ملي احساساتو له کبله له نوموړي دندې څخه گوښه کړ. که څه هم په وروسته کلونو کې د سردارمحمدداودخان او پاکستان اړیکې عادي حالت ته راوگرځېدې. لیکن هغه تجربه د پاکستان په ذهن کې خوندي پاتې شوه او د هغه په رڼا کې یې له زیات احتیاط څخه کار واخیست.

د امریکې د حکومت په پټو سیاسي سندونو کې د سي، ای، اې په حواله راغلي دي چې پاچا محمدظاهرخان په ۱۹۶۳ م کال کې محمدداود له دې کبله د صدارت له څوکۍ نه گوښه کړچې د پاکستان پر وړاندې دیوه نه پخلا کېدونکي سیاست پیروي یې کوله. (۲۶۹)

ایران هم تر کودتا وروسته د سردارمحمدداود خان قدرت ته رسېدل یوه جدي پېښه وگڼله او د ایران ـ افغانستان سیاسي اړیکې یې له گواښ سره مخ لیدلې. د ایران له خوا د جمهور رییس محمدداودخان په ژوند لیک کې ویل شوي دي:

" به قدرت رسیدن داود، روابط بین تهران و کابل که در گذشته اخیر به تدریج درحال بهبود را مورد تهدید قرار داد" (۲۷۰).

هغه وخت چې سردار محمدداود خان خپل جمهوري نظام اعلام کړ. دوه سوه تنه شوروي پوځي سلاکاران او تکنیسنان په افغانستان کې موجود وو." (۲۷۱)

دا هغه کسان وو چې د پاچا محمدظاهرشاه په وخت کې راغوښتل شوي وو او دا خبره ددې ثبوت وړاندې کوي چې د محمدداودخان نه مخکې شوروي مشاورین او ښایي د کې، جي، بي جاسوسان او اجنټان د افغانستان په پوځي او سیاسي ځایونو کې ځای پرځای شوي وو او همدوی به د سردارمحمدداود خان دملي او سیاسي شخصیت یو سم انځور خپلو مقاماتو ته ورکړی وي، چې د هغه له مخې شوروي مشران له سردارمحمدداودخان سره د خپلو راتلونکو اړیکو موازنه برابره کړي.

اوس هر افغان په دې تریخ حقیقت باندې پوهېدلی شي چې هغو دوو سوو شوروي پوځي سلاکارانو او تکنیسنانو به د افغانستان ملي او اسلامي اردو کې څومره فعالیت کړی وي او د خپلو روسي شرابو (وډکا) او نورو جنسي تحفو په برکت به یې څومره افغاني پوځیان بې لارې کړي وي او څنګه به یې د مارکسیستي دهري عقیدې زهر د پاکو او سپېڅلو افغانانو په ذهنونو کې ورګډ کړي وي ترڅو د اړتیا پر مهال ورځخه په خپله ګټه کار واخلي؟

په دې حالت کې هر افغان دغه حق لري چې دغه پوښتنه راپورته کړي:

ایا اعلیحضرت محمدظاهرخان د هغو ۲۰۰ شورویانو له فعالیتونو څخه خبر و؟

ایا د شاهي رژیم د ضبط احوالاتو او د شاهي اردو د انتلجنس اداري د هغو فعالیتونو څارل او د کنترول لاندې ساتل که چېرې د شاهي اردو ضد جاسوسي اداره او د ضبط احوالاتو ریاست د روسانو په فعالیت خبر وو نو ولې یې پاچا ته د هغو پوځي افغاني افسرانو په اړه معلومات نه و ورکړي چې کمونستان شوي وو او وروسته یې د سردارمحمدداود خان په قدرت رسولو کې ونډه واخیستله او کودتا دهغوی په مرسته بریالیتوب ته ورسېده.

که پاچا محمدظاهرخان د افغاني بې عقیده شویو پوځي زلمیانو په هکله معلومات درلودل نو ولې یې هغوی له شاهي اردو له کتارو نه ویستل او د هغو په باب یې له غفلت نه کار واخیست؟

ښایي داسې نورې ډېرې پوښتنې وي چې د هر افغان په ذهن کې راپیدا کېږي، خو ځواب ورته نه شي موندلی. عین همدا ډول پوښتنې د شهید محمدداودخان په هکله هم راپیدا کېږي، چې هغوی ولې یوه ملي ګرا او ناسیونالیست افغان مشر په توګه ولې اردو او نورو

وزارتونه له کمونستي عناصرو څخه پاك نه کړل چې وروسته بیا د افغان ټولنې په بدن کې دیوه ناسور (سرطان) په دانه بدل شول؟

فرهنګ چې تل یې په هېوادپالو او ملي شخصیتونو باندې د فاشیستي ټاپه لګولې ده په ملي ګرا او ناسیونالیست ولسمشر سردار محمدداودخان باندې هم همدا ټاپه لګوي اود فاشیستي ګرایش درلودونکی یې بولي وګورئ د فرهنګ دې کرښو ته:

" روش مملکت داری محمدداود خان با روش های رژیم های فاشیستي شباهت بهم میرساند... و بنا بر این دور از حقیقت نخواهد بود که یک زمامدار فعال وترقیخواه با گرایش فاشیستي شمرده شود."(۲۷۲)

فرهنګ د پښتنو په ضد هغه د بېرمنانه تبلیغات په افغانستان کې کړي دي چې ایرانیانو په ایران کې کړي دي.

ددې کتاب د لوستونکو له نظره به دغه مطلب تېر شوی وي چې فرهنګ د پښتو ژبې د تعمیم او سرتاسرۍ زده کړې په اړه د پاچا فرمان ته یوه فاشیستي طرحه وویله او د وزیر محمدګل خان مومند، صدراعظم محمدهاشم خان او سردارمحمدنعیم خان پروګرام یې هم یوه فاشیستي کړنه تعبیر کړه او دادی د ولسمشر محمدداودخان رژیم یې داسې رژیم ګڼلی دی چې فاشیستي رژیمونو ته ورته والی لري او په دې ډول یې د فرهنګي ښکیلاك دیو وفادار بریخي په توګه خپله دنده په ډېر صداقت سره سرته رسولې ده.

ایرانیانو سردارمحمدداود ته دیو پښتون په سترګو کتل. ایرانی لیکوال او څېړونکی علی ابادي وایي چې د ۱۹۷۳م کال د جولایي په ۱۷ نېټه چې کله کودتا بریي ته ورسول شوه نو د کابل په وخت د سهار په ۷ بجو او ۲۰ دقیقو د رادیو کابل څخه د جمهوري نظام اعلام وکړ

او تر يو څو مارشونو او رولونه وروسته يې په پښتو ژبه خبرې پيل کړې.(۲۷۳)

د سردارمحمدداود خان رژيم د ټولونه لومړی (اتحاد جماهير شوروي د سوسياليستي يا USSR) په رسميت و پېژاند چې عين همدغه دول چلند يې د اعليحضرت امان الله خان غازي د خپلواکه دولت او پاچاهي رژيم سره کړی و. داسې ښکارېدل لکه چې د شوروي اتحاد کمونستي دولت د افغانستان او افغانانو سره کومه ځانګړې علاقه ولري.

د کابل ښار اوسېدونکي چې له نږدې نه د محمدداود خان د کودتا عيني شاهدان وو د هغو کورنيو غړي له نږدې نه ويېژاندل چې په هغه کودتا کې يې ونډه درلوده، همدغه ډول د ښار روڼ اندو د هغو کسانو په اړه پوره معلومات درلودل چې شاهي ګارد يې د محمدداودخان د کودتا په ګټه پرته له کومې ډزې او وينو توئېدلو څخه بې وسلې کړې او د بارکونو د ننه ساتلي و.

ځلورو پوځي زلميانو چې په کودتا کې يې عملي ونډه درلودلې وه د شوروي اتحاد فارغ التحصيلان او د مارکسيستي عقيدې درلودونکي وو، سرېېره پر دې د ډکتور محمدحسن شرق چې دمحمدداودخان ښی لاس پېژندل کېده د شوروي اتحاد د کې جي، بي په غړيتوب تورن و او په خلکو کې يې ښه نوم نه درلود

د افغانستان خلکو انتظار درلود چې محمدداودخان بـه خپل جمهوري نظام په اسلامي او افغاني لاره برابروي او يوه ملي افغاني صبغه به ورکوي. جمهوري اصول به د افغاني اصولو چوکاټ ته نږدې کوي او د مارکسيستي مفکورې درلودونکي به د حکومت له مهمو او کليدي ځايونو او مقامونو څخه لرې ساتي

پښتنو دغه هیله درلوده چې ولسمشر محمدداود خان به د فرهنګي ښکیلاك مسلې ته پام ور واړوي او د ملي ژبې پښتو خوړل شوې حق به د خپل ولس ته بېرته ورکوي او د هېواد د یو ستر ډېره کې قام ژبه د محکومیت له حالت نه د حاکمیت حالت ته ورسوي.

لیکن نه د خلکو هغه هیلې او نه د پښتنو دغه غوښتنې په حقیقت بدلې شوې. په پښتو او پښتونولۍ مشهور شوی محمدداودخان ونه غوښتل او نه یې وخت ومونډ چې په دې مهمه او تاریخي مسله غور وکړي، د پام وړ خبره داده چې د هغو څلورو تنو له جملې چې دغوایي کودتا یې بري ته رسولې وه درې تنه پښتانه وو.

سردارمحمد داودخان که په ننګرهار کې عسکري قوماندان او نایب الحکومه و او که په کندهار کې عین دغه دنده درلودله، که دمرکزي قواو ستر قوماندان و او که وزیر دفاع یا صدراعظم د پښتنو مشرانو او روڼ اندو سره یې اړیکي ساتلې وې، لیکن کله چې د کودتا نه وروسته ولسمشرۍ یا جمهوریت په کرسۍ کېناست نو هغه حالت پرڅای پاتې شو او ددوی د جمهوریت په دورو کې لومړي ګوزارونه په هغو مشرانو وشول، چې په ختیه او وینه او ژبه پښتانه وو چې په هغو کې پښتون صدراعظم محمدموسی شفیق، پښتون صدارعظم محمدهاشم میوندوال، پښتون پوځي شخصیت خان محمدمرستیال او نور د یادونې وړ دي.

پښتون قام په دې اندیښنه کې و، چې څنګه په پښتو او پښتونولۍ مشهور شوی محمدداودخان په مارکسیستانو باندې باور او اعتماد کولی شو، لیکن په هېواد مینو پښتنو باندې نه شو کولی؟

د پښتنو په پېښلیك کې یو نوی پېر پیل شوی و، د سردارمحمد داود کودتا جمهوري نظام له ځان سره راوړ، چې د پښتنو رول په کې نه

نورو زيات برجسته و او د حسن شرق غونډې غير پښتانه په کې دقدرت او مقام خاوندان شول.

له بلې خوا پاکستان د افغانستان د هغه ګډوډ حالت نه په ګټه هغو کارونو ته لاس واچوو چې پېرنګيانو يې هم د کولو جرئت نه وکړي او هغه د پښتنو په ازادو سيمو کې د افغانستان د سرحد پر لورې د سړکونو جوړول او په کار راوستل وو. اولاً کيرو ليکي چې د محمد داود خان د کودتا په درشل کې دپاکستاني غاړې په سرحد کې تحريکات پيل شول. متروکه قشلې بېرته احيا او اشغال شوې، د سرحد پر لورې هرې خواته د سړکونو جوړول پيل شو. ديوسف خېلو او ناوګۍ ترمنځ سړك بشپړ شو. د اورکزو په سيمه کې د کلا يا سړك تر کلات پورې اوږد شو او د کورمې سړك د اپريديو د تيرار تر سرحد پورې ورسېد او سدې ته يوازې پنځلس نيم ميله لار پاتې وه.

زړې کلا ګانې لکه د "تنه خېلو" لاډا او تيارزه او همدارنګه رزمك فعالې شوې "(۲۷۴).

ليکن د سردار محمدداود خان د جمهوريت له خولې د اعتراض کوم غږ وانه ورېدل شو او داسې ښکارېدل لکه محمدداود خان چې هم هغه پخوانی محمدداود خان نه اوسي او په ملي او سياسي اندېښنو او تفکر کې يې ژور بدلون راغلی وي.

د ولسمشر محمد داود خان چوپتيا د ازادو علاقو او ان چې د پښتونخوا پښتانه د نهيلۍ سره مخامخ کړل. د افغانستان د ننه د حالاتو رخ او لوری سم نه شو معلومېدلی او پښتانه روښانفکران چې د اميد سترګې يې د محمدداود خان خواته ورځ په ورځ د نا اميدۍ په سيند لاهو کېدل.

هغه محمدداودخان چې ايرانيانو يو متعصب پښتون ګڼلو او پاکستان ورته د يو جذباتي او ضدي شخصيت نوم ورکړی و، تر کودتا

وروسته او په هېواد کې د جمهوریت د اعلانولو له وخت څخه را په دې خوا د تېرو کلونو په پرتله ژور تغییر موندلی و، دملي او سیاسي مسایلو پر وړاندې یې جدي او سملاسي غبرګون نه ښکاره کاوه او زیات وخت یې په چوپتیا تېروله. ښایي د ځوانۍ د دورې تېرېدل او د عمر پورته تلل هم د هغه په فزیکي او فکري بدلون کې اغېزه درلودلې وه.

سردارمحمدداودخان د جمهوریت د دورې په لومړنۍ وینا (د افغانستان خلکو ته خطاب) کې او هم د نوي جمهوري اساسي قانون په څپرکو کې چې ټول (۱۳) څپرکی وو په هېواد کې د فرهنګي ښکیلاك د پای ته رسولو او ملي ژبې پښتو ته د حق ورکولو موضوع ونه څېړله او ان کومه اشاره یې ورته هم ونه کړه.

افغانانو ولیدل چې د جمهوري ریاست چارې له محمدداود خان نه وروسته هغه غیر پښتون ته ورسپارل شوی دی، چې په افغاني هویت او پېژندګلوۍ کې یې هرچا شك درلود او د هېواد او قام سره یې د صداقت او وفادارۍ ثبوت چا نه وکتلی او هغه سړی د کتور محمدحسن شرق و چې د پرچم د ډلې پورې یې تړاو درلود او د ببرك کارمل نږدې دوست پېژندل شوی و. د داودي جمهوریت د اساسي قانون د دریم څپرکی په ۲۲ ماده کې تش همدومره ذکر راغلي و چې:

"از جمله زبان های افغانستان پشتو و دری زبان های رسمی میباشد" په داسې حال کې چې د پاچا محمدظاهرخان په اساسي قانون کې د پښتو ژبې سره د ملي کلمه هم لیدل کېدله، خو په نوي قانون کې دغه کلمه هم له منځ نه وړل شوې وه.

هغه وخت چې د نوي اساسي قانون مسوده په مطبوعاتو کې خپره شوه نو ډېرو پښتنو پوهانو او لیکوالو په دې اړوند مقالې مطبوعاتي ادارو ته ورولېږلې. لیکن هغوی یې د خپرولو اجازه نه درلوده او د ملي

ژبې نه دفاع د جمهوري دولت د سياست نه مخالف كار و او د دفاع كوونكو لپاره يو خطر او مسوليت ښودل كېده.

د پام وړ خبره داده چې سردار محمدداودخان د خپل صدارت د لسو كالو په موده كې هم د پښتو ژبې د تعميم او پراختيا په اړه كوم اغېزمن قدم نه و پورته كړى، په داسې حال كې چې د هغه نه وروسته د نورو صدراعظمانو په دوره كې د ملي ژبې پښتو په ګټه مبارزه ان د ولسي جرګې يانې پارلمان په سطح جاري وساتل شوه، چې په همدې روان څپركي كې به ورپاندې مفصلې خبرې وشي.

په دې حقيقت باندې پوهېدل ډېر ګران دى چې ايرانيانو او دفرهنګي ښكيلاك برېخو په كومو د منلو وړ دلايلو سره په محمدداود خان باندې د پښتونيزم او متعصب پښتون تورونه لګول او هغه يې يوازې او يوازې د پښتون قام خواخوږى او حامي ګڼلو دلته به ددې موضوع د روښانولو لپاره يو ليكلى سند وړاندې كړو:

" سردارمحمدداودخان را فردى توانا وميهن دوست ميدانند او براى اعتلاى كشورش علاقمندى زيادى نشان ميداد، داودخان يكى از بنيان گزاران جنبش عدم تعهد هم بود ولى با اين احوال يک پشتون متعصب بود و از پشتونيزم دفاع ميكرد. او طى دوران زمامدار خود تدريجاً مناصب را در اختيار پشتون ها قرارداد.

اصلاحات مودر نظر داودخان با افكار متعصبانه وقومى پشتون اميخته بود و توسعه كشورش را درقالب برترى پشتون ها دنبال مى كرد او متعقد بود كه هسته اصلى ملت افغانستان در قوم پشتون است و نسبت به ان حساسيت زيادى داشت".(۲۷۵)

دا چې ايرانى محقق د "پښتونستان" سياسي مسله او اختلاف د محمدداودخان پشتونيزم بولي يوه تېروتنه او د افغانستان دتاريخ نه د

نوموړي ايراني بې خبرتيا بايد وګڼل شي، که پشتونيزم د مارکسيزم، لينننزم، کمونيزم، کاپيتاليزم په چوکاټ کې تعبير او تفسير شي نو خبره عقيدې، مفکورې، ايډيالوژۍ او ان چې فلسفې ته رسېږي او که داسې وګڼل شي چې محمد داود خان په پښتون او پشتونيزم کلکه عقيده او ايمان لرلی لکه مارکسيستان چې په مارکسيزم، کمونستان يې په کمونيزم لري نو بيا خو په کار وه، چې نوموړي سردار بايد د پښتو ژبې او د فرهنګي ښکيلاك څخه د پښتنو د ژغورنې په هکله هم څه فکر او عمل کړی وای او د هغه پشتونيزم له مخې چې دی يې پېرو ګڼل شوی دی. بايد د پښتو ژبې محکوميت هم له منځه تللی وای او د محمدحسن شرق غوندې پښتون دښمنان يې بايد پر پښتنو باندې نه واکمن کولی. پښتانه روڼ اندي او پوهان لکه استاد عبدالحی حبيبي او نور يې له کاره نه لرې کولی.

د افغانستان د پښبليك په ګواهي د پښتونستان سياسي او ملي مسلې د سردارمحمدداود خان د پشتونيزم څخه سرچينه نه وه اخيستې او نه محمدداودخان د خپل صدارت او جمهوريت په دوران کې پښتنو ته کوم ځانګړی امتياز ورکړی و، چې د افغانستان او پښتونخوا پښتانه ددې حقيقت شاهدان وو.

محمدداودخان د خپلو واکمنيو په کلونو کې يوه پښتو وينا هم نه ده کړې او نه يې پښتو ژبه د رسمي او بين المللي مذاکراتو ژبه ګرځولې وه. بلکې لومړنی بين المللي سند چې په پښتو، انګليسي او اردو ژبو وليکل شو، هغه د افغانستان د مسلې دحل لپاره د ژنيو د خبرو اترو سند و، چې د امريکې او شوروي اتحاد تر څارنې لاندې د افغانستان د موکراتيك جمهوريت او پاکستان ترمنځه لاسليك شو او داسې تبليغ وشو چې ګواکې د همدې موافقې او لوزنامې له مخې شوروي پوځونه له افغانستانه ووتل.

د پاکستان، ایران، عربي هېوادونو، شوروي، شوروي مشرانو او نورو سره د محمدداودخان د خبرو اترو او موافقو ټول متنونه د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت د کارکوونکو له خوا په فارسي ژبه ترتیب او برابر شوي دي او د محمدداود خان د پشتونیزم کومه وړه نښه نښانه هم په کې نه لیدل کېږي او دا په خپله ددې حقیقت ثبوت وړاندې کوي چې محمدداودخان په پشتونیزم باندې عقیده نه درلودله او کوم متعصب پښتون هم نه و چې ایرانیان ورباندې دغه تور ولګوي.

حقیقت دادی چې پښتانه په هېڅ "ایزم ـ ایسم" باندې عقیده نه لري، بلکې د ژوند اصول یې په ننګ، غیرت، توري، مېړانې، ناموس، پت او عزت باندې ولاړ دي او دغه ټول په یوه کلمه کې خلاصه کېږي، چې هغه "پښتو" ده.

د پښتو سبق ماشوم ته په زانګو کې د مور له خوا ورکول کېږي، چې د هغه مثال د نړۍ په بل هېڅ یو قام کې نه شي موندل کېدای. دغه سبق د افغاني فرهنګ او کلتور یوه برخه ده او پښتون پٌه همدې فرهنګي ځانګړتیا له نورو قومونو او لسونو څخه جلا کېږي.

هغه سبق چې پښتنه مور یې زانګو کې خپل ماشوم ته ورکوي او په خپل خوږ اواز یې د هغه په غوږ کې زمزمه کوي د (الاهو) په نوم یادېږي چې یوه نمونه یې د مطلب د روښانولو لپاره دلته راوړو لیکن دا خبره باید په یاد کې وساتل شي چې دغه الاهو یو واحد شکل نه لري بلکې دپښتنو د ژوندانه د شرایطو، سیمه ییز چاپېریال، قومونو او قبایلو د معاشرې او ټولنیز ژوند دتاریخ سره نېغ تړاو لري او جلا جلا بڼې لري چې له هغو نه یوه یې په دې ځای کې ذکر کېږي:

## الاهو

الاهو شه الاهو زما جانه الاهو

پلار دې تللی دی په جنګ د وطن په نام او ننګ

یو توپک په غاړه وړي    بله توره یې ترخنګ
لویوم دې په خوارو    الاهو شه الاهو
په غلیم کړي ګوزارونه    کړي په شا به یې پوځونه
دغلیم وینې به توی کا    پرې به سره کا سنګرونه
خلاص به نه شي په زارو    الاهوشه الاهو
ستا د پلار د متو زور دی    ستا د پلار د توري شور دی
چې په هرساعت تېرېږي    ستا د پلار د غضب اور دی
هم په غرونو سر درو    الاهو شه الاهو
ته د لوړو غرونو باز یې    چې سبا به په پرواز یې
د بابا د توري شرنګ یې    د بابا د زړه اواز یې
په ترنګ او باز درو    الاهو شه الاهو
زه دې مور په تا مینه    زه به ستا کوم پالنه
زما پې په تا حرام شه    که دې ځنګ کړو له دښمنه
یا که دار شوي له خطره    الاهو شه الاهو
ستا دا وینه امانت ده    د وطن ده د ملت ده
دا د امن سرچینه ده    د انسان سره د پت ده
دا غیرت ده د پښتو    الاهو شه الاهو
چې سبا له خیره ځوان شې    د بابا په پل روان شې
زه به هسکې سترګې ګرځم    چې شمله دلوی افغان شې
قام به باسې له تیارو    الاهو شه الاهو
شې سرخېل دشاه زلمو    د خپل وخت د ورځو شپو
چې امو هسې روان یې    په غورځنګ او په ځپو
شې سوب د ښېرازو
الاهو شه الاهو (۲۷۷)

ACKU

# د پښتو ژبې دحق لپاره د مبارزې دوام

په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې دپښتو ژبې د حق په لاره کې د مبارزې پیل د ټولو نه لومړی د پښتون بابا وزیر محمدګل خان مومند له خوا وشو او هغې مبارزې تقریباً درې پاچاهۍ (اعلیحضرت امان الله خان غازي، اعلیحضرت محمدنادرشاه او اعلیحضرت محمدظاهرخان) په برکې ونیولې او د محمد داود خان د جمهوري دورې نه مخکې بابا ته د عمر د تقاضا سره سم او هم د نهیلیو او سیاسي او ټولنیزو ناخوالو او فشارونو له کبله دوام داره ناروغي پیدا شوه او د همدغو ناروغیو له امله یې له دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې، روح دې یې ښاد اوسي.

هغه مبارزه د وخت او زمان د شرایطو او د حکومتونو د چال چلند سره سم کله نرمه او کله ګرمه روانه پاتې شوه، لیکن د سردارمحمدداود خان د صدارت او ولسمشرۍ په دورو کې نه د فرهنګي ښکیلاك زنځیرونه مات شول او نه د هېواد د ډېره کیانو (پښتنو) ژبې ته کومه کلکه پاملرنه وشوه. بلکې د محمدداودخان د ځانګړي سیاست له کبله دې مسلې ته دحل لاره ونه موندل شوه، په داسې حال کې چې په دوی باندې دپشتونیزم اوپښتون دوستۍ یا پښتون پالنې ټاپې هم لګول شوې وې، ان په ختمه هزاره صدیق فرهنګ خو وربانديې د فاشیستۍ مهر ولګولو.

دغه تور یو بل هزاره محقق حسن فولادي چې لیکلی اثر یې ( هزاره ها _ حکام کابل و حکومت های همسایه) په ایران کې دعلی عالمی کرماني له خوا په فارسي ژبه ژباړل شوی دی، د ایراني محقق علی ابادي غوندې په محمدداود خان باندې همغه تور لګوي او وایي:

" داود کاملاً مجذوب امورات پشتون ها شده بود، توسعه مناطق پشتون نشین، یا تکامل زبان پشتو یا تبلیغات تشکیل پشتونستان بود."(۲۷۸)

دا په حقیقت کې دپښتو او پښتو ژبې پسې د هغو ناسمو او غیر واقعي تبلیغاتو لړۍ وه چې مرکز یې په ایران کې و، په محمدداودخان پورې دغه ډول تورونه لګول اوس یوه عادي خبره ګرځېدلې وه او بنایي د همدغو تورونو د اغېزو پایله وه، چې سردارمحمدداود د پښتو ژبې دحاکمیت مسله هېڅکله هم د هغوی له خوا د حکومت پر وړاندې مطرح نه شوه، هغوی نه دپښتو ژبې د تکامل لپاره کوم فرمان جاري کړ او نه یې د پښتو د سیمه ییزې پراختیا لپاره کوم عملي ګام پورته کړ، بلکې د هغوی د جمهوریت پر اساس قانون کې هغه متن ته هم تغیر ورکړ، چې د محمدظاهرشاه د وخت په اساسي قانون کې ځای کړی شوی و او هغه هم دپښتو د اوږدې مبارزې پایله ګڼل کېدله.

دلته به د سردارمحمدداودخان د صدارت له دورې را وروسته د پښتو ژبې دحق په لاره کې د شوې مبارزې یو لنډ انځور وړاندې کړو او د مخالفانو غبرګون ته به هم یوه لنډه کتنه وکړو څو د بحث کړۍ بشپړه شوې وي.

د خپرو شویو لیکنو په رڼا کې دا مطلب ډېر روښانه دی چې د وزیر محمدګل خان مومند د مبارزې لړۍ په را وروسته کلونو کې هغه شان جاري وساتل شوه او د هغه وخت د ولسي جرګې پښتنو استازو د ډاکټر محمدیوسف، محمدهاشم میوندوال، ډاکټر عبدالظاهر، نوراحمد اعتمادي او محمد موسی شفیق د صدارت په دورو کې دغه مسله د پښتنو رون اندو او د ولسي جرګې د وکیلانو په لیکنو او ویناوو کې ژوندۍ او خوځنده پاتې وه، چې یوه نتیجه یې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په چوکاټ کې د پښتو د پرمختیا د ریاست نوی جوړېدل و چې لومړنی مشر( ریس) یې د پښتو ژبې تکړه لیکوال او په

پښتونولۍ مېن محمدارسلان سليمي وردك وټاكل شو او دا پـه حقيقت كې د پښتو ټولنې او افغان اكاډمـۍ نـه وروستـه دريمـه اداره وه چې د پښتو ژبې د خدمت دنده ور په غاړه شوې وه.

د ۱۹۶۹ او ۱۹۷۱م كلونـو پـورې د افغانسـتان د ولسـي جـرګې د روښانفكرانو او پښتنو مينو وكيلانو لـه خوا د ولسـي جرګې غونډو او جلسو كې د ملي ژبې پښتو دحق مسله د ورځې موضوع پېژندل شوې وه او د پخـوا وختونـو پـه پرتلـه زياتـه جـدي وه. دغـه كلونـه د ډاكـټر عبدالظاهر او نور احمداعتمادی د صدارت تر كلونـو پـورې لـري، څكه كله چې پـه ۱۹۷۲م كـال كې محمدموسى شفيق د صـدارت دنـده پـر غاړه واخيستله، د پښتو د پرمختيـا رياست لـه هغـه مخكې خپـل كـار پيـل كـړی او محمدابراهيـم خواخـوږی ددې رياسـت مشـر او زه ( ددې كتـاب ليكـوال) د رياست مرستيال وم. پـه دې وخت كې صبـاح الديـن كشككي د اطلاعاتو او كلتور د وزير په توګه ټاكل شوی و، چې ددوی په لاربنوونه د باختر اژانس په رياست كې د پښتو ژبې د پياوړي كېدلو لپـاره يـوه نـوې اداره منځتـه راغلـه، چـې درې تنـه پښتانـه (ډاكـټر مجاوراحمد زيـار ـ دوست محمددوست شينواری او عبدالقديرفـهيم) يې د همكارۍ او ادارې لپاره وګومارل شول.

كله چې نوراحمداعتمادی ددويم ځل لپاره د صـدارت دنده پـر غـاړه واخيستله په دغه مهال ددولتـي كـاركوونكو لپـاره ديـوه نـوي قـانون پـه عـادي او نور مال ډول ولسي جرګې ته وړاندې شو، چې د بحث او خـبرو په دوران كـې د ولسـي جرګې د استازو اكثريت د هغـه قـانون پـه ځينـو مـادو كلكې نيوكې وكړې او په قانون كې يې د بدلون راوستلو غوښتنـه هم وكړه.

د ولسـي جرګې د استازو غوښتنه د پښتو ژبې پـه هكله و، وكيلانـو تقاضا درلوده چې ددولت په ماموريت كې د قبلېدلو او شـموليت شـرط

د پښتو او فارسي دواړو ژبو باندې په پوهېدلو او ليک لوست کولو پورې تړلې وي او يوازې فارسي ژبې دې د کاميابۍ معيار نه اوسي.

په ولسي جرگه کې دپښتنو وکيلانو دې ملي حرکت په غير پښتنو د وکيلانو باندې چې په اقليت کې و پر غز راوست او سخت پرېشانه او وارخطا شول. هغوى داسې فکر وکړ چې گنې دپښتنو وکيلانو د وړانديز موخه او مقصدا وادى چې په دې ډول ددولت ماموريتونه يوازې د پښتنو په لاس کې پاتې کېږي، ځکه چې هر پښتون هم په پښتو ژبه او هم په فارسي ډېر ښه پوهېږي او ليک لوست ورباندې کولى شي ليکن غير پښتانه يوازې په خپله يوه ژبه پوهېږي او په پښتو باندې ليک لوست نه شي کولى.

دهمدې ذهني خطا او تېر وتنې له مخې غير پښتنو وکيلانو په اعتصاب لاس پورې کړ او دا په حقيقت کې د پښتو ژبې پر وړاندې د منفي مقاومت بله دوره وه. ددې وړانکارۍ پايله دا شوه چې ولسي جرگه کومې غوڅې پرېکړې ته ونه رسېږي. صديق فرهنگ د همدې موضوع په اړه ليکي:

" وکلای پشتو زبان با اتکاء به ماده سی وپنجم قانون اساسی که دولت را موظف می ساخت تا پروگرام موثری برای انکشاف و تقويه زبان ملی پشتو وضع و تطبيق کند" پر پيشنهاد جديد پا فشاری کردند. چون وکيلان غير پشتو زبان در مجلس در اقليت از نصاب افتاده کار ان معطل شد" (۲۷۹).

ددولت د ملکي مامورينو د قانون مسوده چې د صدراعظم نور احمد اعتمادى د حکومت په وروستيو وختونو کې ترتيب شوې وه د دکتور عبدالظاهر د حکومت د جوړېدو سره ولسي جرگې ته وړاندې شوه او لکه چې پورته وويلى شول د غير پښتنو وکيلانو د ساپوتاژ په

نتیجه کې د ولسي جرګې له خوا پاس نه کړی شوه لیکن د پښتو ژبې د حق لپاره د پښتنو وکیلانو مبارزه هغه شان جاري پاتې شوه او د هېواد د اساسي قانون د ۳۵ مادې خواته یې د حکومت پام را واړوه او له حکومت نه یې په کلکه د هغې مادې د تطبیق غوښتنه وکړه.

هغوی حکومت ته سپارښتنه وکړه چې باید د ملي ژبې پښتو د پرمختیا او پراختیا لپاره لاس په کار شي او په پښتو تولنې سربېره یوه بله نوې اداره د پښتو ژبې د خدمت لپاره منځته راوړی شي، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته په دې اړوند لارښوونه وشوه.

دهمدغې لارښوونې په رڼا کې د "ریاست انکشاف پشتو" یا "د پښتو د پرمختیا ریاست" د اطلاعاتو او کلتور د وزرات د چوکاټ د ننه جوړ او په فعالیت یې پیل وکړ. دا هغه وخت و چې د دکتور عبدالظاهر حکومت په وچکالۍ او سوکړې سربېره د ځینو سیاسي او اقتصادي ستونزو او مخالفتونو سره هم لاس او ګرېوان و او د ولسي جرګې ګڼ شمېر وکیلان هم د نوموړي سره د مخالفت غږ پورته کړی و چې پاچا محمدظاهرخان مجبور شو د حالاتو د عادي کولو په مقصد د کتور عبدالظاهر پر ځای بل سړی د صدراعظم په توګه وټاکي او هغه سړی پښتون شاعر او لیکوال، د عربي ژبې استاد او په فرانسوي ژبو باندې پوه او د فارسي ژبې ماهر موسی شفیق و.

دی د هېواد د صدراعظمانو په دله کې تر ټولو زلمی تعلیم یافته صدراعظم و چې لوړې زده کړې یې په بهرنیو هېوادونو کې سرته رسولې وې. کمونستانو په ده باندې د اخوانیت تاپه لګولې وه. لیکن دی یو مترقي او روڼ اندی زلمی و چې ذهني تړاو یې تر زیات حده پورې د لوید یځ سره درلود.

مخالفانو ده د اخوانیت لپاره ددوی په خپل شعر باندې تکیه کوله او هغه شعر دا و:

موړ په ایشیا کې یو مسعود افغانستان غواړو
موړه حکومت او حاکـــمیت دپاك قران غواړو
اباد په ســوله او امنیت باندې جهـــان غواړو

څو که سرې د شهید موسی شفیق د شعرونو ټولګه "پیغام" ولولي نو هېڅکله د هغوی په اخوانیت باندې حکم نه شي کولی، بلکه هغه یو با احساسه دردمند پښتون و، چې د هېواد د پرمختیا هیلې یې په زړه کې پرتې وې، هغه و چې د باختر اژانس په ریاست کې یې د پښتـو ژبې دیوې جلا ادارې دمنځتـه راوړلـو هدایـت د اطلاعـاتو او کلتـور وزیـر صباح الدین کشککي ته ورکړ، چې موږ یې یادونـه پـه تېرو کرښو کې وکړه. ددې نوې ادارې موخه او مقصـد داو چې د بـاختر اژانـس پښتــو ژباړونکي په خپله ژباړه کې سمه او کره پښتو په کار راولي او دفارسي ژبې تر اغېز لاندې رانه شي.

دا په حقیقـت کـې دیوې خوا د فرهنګي ښکیلاك سره مقابله او لـه بلې خوا د پښتو ژبې دحق لپاره د مبارزې دوام و. د یادونې وړ خبره ده چې ووایم په هغه مبارزه کې د ولسي جرګې د نورو مبارزو پښتنو سره غـلام محمدفرهـاد چې پـه ولسـي جرګه کـې د کـابل د خلکـو منتخـب استازی و غـټه برخه واخیستـله او ان چـې د فارسـي ژبـې پـه رسـمیت پېژندل یـې هم رد کـړل اویـوازې یـې د رسـمیت مسـله پښتـو ژبـې پـورې محـدوده کـړه. پـاپـا دیـوه ذهیـن او هوښیـار پښتـون پـه تـوګه دپښتنـو وکیلانو په وړاندېز کې د فارسي ژبې د رسمیت کلمه زیاته ګڼي او حتـی ناحقه ګڼله څکه څو یې په دې خبره ټینګار درلود چې درسمیت موضوع دې یوازې تر پښتو ژبې پورې محدوده وساتل شي. لیکن د عبدالهادي داوي وړاندېز د بحث لوری بلې خوا ته واړوو اود فارسي نـوم د پښتـو د نوم سره یوځای ولیکل شو فرهنګ په دې باره کې لیکلي دي:

"در مسله زبان غلام محمدفرهاد وکیل کابل بـــه رســمیت زبـــان دری اعتراض نموده پیشنهاد کرد که رسمیت به زبان پشـــتو محــدود بمـــاند، درجواب او رمضان علی شریفی وکیل جاغوری با استشهاد از ایه کریمـــه و علمه البیان از مساوات زبان های افغانستان دفاع کرد و درپایان مباحثه بــه پیشنهاد عبدالهادی داوي متن مسوده به این صورت تعدیل شد که " ازجملــه زبان های افغانستان پشتو ودری زبان های رسمی میباشد" (۲۸۰).

سیدقاسم رښتیـا د فرهنـګ مشـر ورور دپښتـو ژبـې پـر وړانـدې فرهنګ ته ورته دریځ درلـود او د ملي ژبې پښتـو د مخالفـانو پـه کتـار کې ولاړ و. نوموړي حتی د پښتو ژبې د نوم سره د ملي کلمې د لیکلو هم مخالف و. دی چې د محمدظاهر خان پـه وخت کـې (۱۹۶۴) د نوي اساسي قـانون د کمیسـون پـه غـړو کـې شـامل و پـه دې خـبره بـاندې خواشیني ښکاره کوي چې ولې د اساسي قـانون پـه مسوده کـې دپښتـو ژبې د نوم سره د ملي کلمـه عـلاوه شوې ده چې دا د اساسـي قـانون لـه اصولو څخه وتل دي. وګورئ دې عبارت ته:

" درموضوع لسان کمیسون درقسمت همپایه قراردادن هر دو زبان عمده کشور یعنی پشتو وفارسی دری که در مسوده قانون اساسی در نظر گرفتـــه شده بود، د چار تشنج زیادی گردید و متاسفانه تمام اعضای پشتو زبان یک جبهه واحد راتحت ریاست عبدالمجیدخان زابلی تشکیل دادند و بر قومیـت و رجحان زبان پشتو پا فشاری کردند، درحالیکه این کار از جمله همان نکات عمده ای بود که کمیته برای رفع تبعیضات و تفوق جویی های اینده انرا بـــه همین شکل تثبیت وبرای پیش بینی همین طرز تلقی نام پشتو را مقدم ذکـــر نمود.

در اخیر برای رسیدن به یک توافق کمیسون موافقه کرد تا ماده اصلی به شکل موجود باقی مانده ویک ماده علیحده مبنی بر مکلفیــــت دولـــت در انکشاف و تعمیم زبان " ملی" پشتو در قانون اسای علاوه شود که البته ایزاد کلمه " ملی" به عقیده کمیته تدوین انحراف صریحی را از اصول اساسی نظام جدید ارایه نمود" (۲۸۱).

د پښتو ژبې او پښتون قام مخالفین د ربښتیا په ګډون په خپله په غیر قانوني هڅو کې بوخت پاتې شوي وو او غوره کړې لارې یې د هېواد د غوڅ اکثریت خلکو دحق خوړل وو. نوموړي او ملګرو یې په دې حقیقت باندې ښه پوهېدل چې د پښتنو د واکمنۍ په دوران کې فارسي ژبه چې په تاریخي افغانستان کې د لږه کیانو ژبه وه چې په ډېره کیانو باندې د حاکمې ژبې په توګه پاتې شوې وه او چې کله پښتنو د خپلې ژبې د حاکمیت لپاره مبارزه پیل کړې وه او دا کوم ناروا کار هم نه و دلږه کیانو د ژبې د ویونکو له خوا ورسره مخالفت کېدلو. د پښتو ژبې سره د" ملي" کلمه ځکه ضروري وه، چې پښتو د تاریخ په اوږدو کې د بهرنیانو او کورنیانو په اثارو او کتابونو کې د "افغاني" ژبې په نوم یاده شوې ده او افغاني د افغان او افغانستان دنومونو سره نه شلېدونکې او طبیعي تړاو لري. په داسې حال کې چې فارسي دغه خصوصیت او ځانګړتیا د ځان سره نه لري او ایران دعوه کوي چې فارسي د ایران ملي او تاریخ ژبه ده، چې په افغانستان کې ورته دري فارسي او په تاجکستان کې ورته تاجکي فارسي وایي، چې درې واړه په ویلو او لیکلو کې هېڅ توپیر نه لري.

د پښتو ژبې په اړه چې ربښتیا د کومې مسودې ذکر راوړی دی د هغه اساسي قانون مسوده ده چې د محمدظاهرخان دپاچاهۍ پر مهال

په ۱۹۶۴ م (۱۳۴۳ ل) کال کې جوړې شوې لويې جرګې ته وړاندې شوه او لويې جرګې هم هغه منظور او تصويب کړه.

اصلي خبره داده چې د پښتو ژبې دحق په لاره کې د پښتنو مبارزه هغه وخت پيل شوه، چې پښتون قام پر دې حقيقت باندې پوه شو چې د (ژبې په بې واکۍ کې دقام بې واکي پرته ده).

دې مبارزې بېلابېل پړاوونه ووهل او پښتنو مشرانو د خپل وس سره سم دغه ستونزمنه لار ووهله. ليکن وينا او ختمه پښتنو واکمنو دغه مرسته د پښتو ژبې دحق غوښتونکو سره کړې وای يقيني خبره ده چې

په افغانستان هم د فرهنګي ښکيلاک تغر ټول شوی وای او د افغانانو ژبه (افغاني) به د هېواد واکمنه ژبه وای.

فرهنګي استعمار به په پښتنو باندې نږدې درې پېړۍ دوام نه وای کړی او د افغانانو ټاټوبی او پاکه خاوره نن ورځ ديوه تاريخي ناورين سره نه وه مخامخ او نه به د خراسان او هزارستان خبرې راپورته کېدلې.

د فرهنګي ښکيلاک بريخو چې سردارمحمد داودخان شهيد په پشتونيزم او پښتني تعصب درلودلو تورن کړی دی يوازينی موخه او مقصد يې دادی چې د پښتو او پښتنو سره خپل تعصب او دښمني ښکاره کړي که نه نو محمد داود خان خو د پښتو ژبې او پښتون قام په ګټه کوم د پام وړ قدم نه و پورته کړی، چې ددغو دواړو ( پښتو او پښتنو) حاکميت پر ځای او د فرهنګي ښکيلاک خاتمه يې يقيني کړې وي.

هو! که چېرته فرهنګي استعمارچيان يوازې دسردارمحمدداودخان د جمهوري نظام د ملي سرود نه چې په پښتو ژبه جوړ شوی او ويل شوی او د شعر جوړوونکی يې هم د پښتو ژبې او ادب پېژندل شوې څېره استاد عبدالروف بينوا و دا مانا اخلي چې شهيد محمدداودخان يو پشتونيست او د پشتونيزم پېرو و. دا د مخالفانو خپله تېروتنه ده.

ده خبره سمه ده چې د جمهوریت په ملي سرود کې د افغانیت عنصر ډېر پیاوړی ښکاري لیکن دا د شاعر (استاد بینوا) له عقیدې او مفکورې نه سرچینه اخلي نه د ولسمشر محمدداودخان له عقیدې او مفکورې څخه.

استادبینوا ته تش همدومره ویل شوي وو چې دولسمشر محمدداودخان د وینا( د افغانستان خلکو ته خطاب) په چوکاټ کې د نوي نظام لپاره ملي سرود( ملي ترانه) جوړه کړي. څرنګه چې خبره د ملي سرود وه نو باید ملي ترانه یا ملي سرود" ملي" مفهوم په ځان کې ولري، ځکه خو استاد مجبور و چې هغه ملي سرود په افغان ـ افغانیت او افغانستان تکیه ولري او د افغانیت عنصریې پیاوړی وي یا په بل عبارت د افغاني ناسیونالیزم یوه ښېلګه وي.

څرنګه چې د هېواد د خلکو غوڅ اکثریت افغانان ( پښتانه) دي استاد بینوا پرته له دې بله لار نه درلوده چې ووایي:

څو چې دا ځمکه اسمان وي
څو چې دا افغانستان وي
څو چې ژوند پر دې جهان وي
څو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت... (تر اخره)

بله خبره دا وه چې استاد بینوا په خپله د پښتو ژبې د حق غوښتنې په مبارزه کې شریك و او ددې ملي ژبې لپاره یې د پښتو ژبې د نورو استادانو سره په ګډه ستر خدمت سرته رسولی دی، ددوی ټولو مبارزې په هېواد کې د مارکسیستي نظام تر راتلو پورې دوام درلود.

## یوولسم څپرکی

# د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

# مارکسیزم د ناسیونالیزم په مقابله کې

د ۱۳۷۵ل کال د غویي د میاشتې په اتمه نېټه ولسمشر سردارمحمدداود د خپل ورور سردار محمدنعیم او د خپلې کورنۍ له نورو غړو سره د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د رهبرۍ د ډلې په لارښوونه او پرېکړه د امام الدین لوګري له خوا چې د وسله والو ځواکونو د کوماندو د ټولي قوماندان و په روسي وسلو په شهادت ورسول شول.

امام الدین لوګری اود افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند مشران د مارکسیزم دمکتب پیروان وو چې مسلمانان همدغه مارکسیزم دهریت او لاديني بولي په داسې حال کې چې د افغانستان دنفوسو په سلو کې ۹۹ سلنه سني مذهبه سوچه مسلمانان دي او پرته له دې بل مکتب او عقیده نه پېژني اونه یې د پېژندلو سره کومه علاقه لري.

په دې دول لیدل کېږي چې د سردارمحمدداودخان او دده دکورنۍ د غړو د وژونکو په لاس کې روسي وسیلې او په زړه او مغزو کې روسي عقیده او مفکوره وه. ځکه چې مارکس، انګلز او لینن د مارکسستي فلسفې او مفکورې تخلیق کوونکی او د نړۍ پر مخ معرفي کوونکی وو او روسانو د ټولو نه مخکې په مارکسیزم او لیننزم باندې عقیده پیدا کړې وه او دهریان شوي وو.

کمونیزم دهمدوی له ځوا نړی ته ور وپېژندل شو او همدوی د اسلام دین، خپل د ټولو نه غټ او سر سخت دښمن اعلام کړ او د دغه الهي او خدایي برحقه دین پر ضد یې کتابونه ولیکل او جوماتونه یې ټول وتړل او یا یې ورڅخه د نڅا او شرابو څښلو ځایونه یې جوړ کړل. چې وروسته بیا عین کار د شوروي اتحاد پورې تړلو اسیایي هېوادونو کې چې دنفوس ډېره کیان یې مسلمانان وو لکه تاجکستان. ازبکستان، قرقیزستان، تاتارستان، ترکمنستان هم سرته ورسول شو او د هغو هېوادونو نوی توك له اسلام نه مخ واړوه او ددهري عقیدې پېروان شول.

دهند د کمونست ګوند یو مشر ویلي وو چې مارکسیزم د کمونیزم مور ده او د همدغې مور له بطن څخه کمونیزم زېږېدلی دی او دا وخت په افغانستان کې یو داسې ګوند چې جوړې یې په مارکسیزم پورې تړلی شوی وي د ولسمشر محمدداود خان په وژلو سره د ټانکونو زغره والو، الوتکو او توپونو په زور چې دمارکسیستي رژیمونو خاصه ده واکمني لاسته راوړي او په دې ډول دیوې لنډې مودې لپاره مارکسیزم په ناسیونالیزم باندې بری موندلی و.

شهید سردارمحمدداود د خپل ژوند تر وروستیو شېبو پورې د افغان ولس دیوې ملي تاریخي صبغې درناوی وکړ او هغه ددین او خاورې دښمنانو ته نه تسلیمېدل دي.

د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند یو لوړ رتبه غړی چې ددې مارکسیستي ګوند د بنسټ اېښودونکو څخه هم دی او د غوایي په خونړي کمونیستي کودتا کې یې هم فعاله ونډه درلودلی او د ځینو خاصو وجوهاتو له مخې چې سردارمحمدداودخان ناسیونالیزم هم په کې شامل دی د نوموړي ډېر کلك دښمن و، د شهید محمدداود خان د ژوندوروستۍ شېبې یې داسې انځور کړي دي:

" رهبری سیاسی قیام در یکی از اتاق های منزل اول تعمیر رادیو افغانستان متصل ستدیوهای رادیو افغانستان کار میکرد، در این اتاق تره کی و کارمل نکات عمده پالیسی خارجی، داخلی اطلاعیه ها و شعارها را مانند شب ۷ ثور ۱۳۵۷ سلیمان لایق و این جانب طرح میکردند، پیش نویس ها نگارش میافت بعد از کنترول توسط رهبری حزب به ستدیو جهت نشر گیسل میگردید. در چنین وضع به رهبری حزب هوشدار دادم که به فرماندهان نظامی اجاره ندهند تا نزد سردارمحمدداود بروند زیرا مد جاه طلب و سردار مغرور است، او هر گز زنده تسلیم نمی شود او مانند گژدم اخرین زهر خودرا و اخرین مرمی های خودرا به جان فرماندهان نظامی قیام خالی خواهد کرده و انگاه به حیات سیاسی خود وبه زنده گی اعضای بیگناه خاندان خود خاتمه خواهد داد."(۲۸۲)

داده د مارکسیستي گوند د کمونست غړي شاهدي چې وايي سردارمحمدداود هېڅکله په ژوند کې د هغوی وسله والو کسانو ته نه تسلیمېدلو نو ځکه ووژلی شو. د ستګیر پنجشیری هڅه کړې ده ببرك کارمل د محمدداود خان د وژلو په پېښه کې له مسولیت نه وژغوري او د پښتون ضد عقیدې له مخې د وژلو ټول مسولیت د ګوند پر پښتو ژبو باندې واچوي. دی لیکي:

" اما سلیمان لایق در باره شیوه برخورد با سردار داود درپاسخ تره کی گفت " دا فرعون دې ووژل شي" (۲۸۳).

په دې ډول شهید محدداودخان کمونستانو ته د تسلیمېدلو پرځای مرګ ته هرکلی وویلو چې دا د افغانستان د مسلمان ولس او ددې هېواد وطنپرستو، روښانفکرانو او پوهانو لپاره د پام وړ خبره ګڼل کېږي.

د مارکسيستي ګوند دې وفادار غړي سردارمحمد داود ته د مغرور تکي استعمال کړی دی. ليکن دا يې نه دي ويلي چې د نومړي غرور د هغوی د ملي ناسيوناليستي احساس او جذبې نه سر چينه اخيستې ده او په افغانيت يې کلکه عقيده درلوده او دا هغه څه وو چې کمونستانو نه درلودل او له همدې کبله يې د "پرولتارياو د هېواد" پر ځای امپرياليستي هېوادونو ( دکمونستانو په وينا ) ته په سر کوزی پناه يوړه او هلته ميشته شول.

د ذکر شوي ګوند بل غړی محمدداودخان ته د فرعون خطاب کړي دي او د هغوی د وژلو غوښتنه يې وکړه خو د افغانستان شلو ميلونو مسلمانو او ديندارو خلکو او د نړۍ په سلهاو مليونو وګړو وليدل، چې په افغاني مارکسيستي ګوند او حکومت کې داسې فرعونان وليدل شول چې تصور يې هم چا نه شو کولی. تاريخي افغانستان دهمدغو فرعونانو د غلامۍ له کبله دشوروي کفارو د يرغل لاندې راغی او دهريت د هېواد په دروازو رانتوت، دوه مليونه مسلمان افغانان شهيدان او په لکونو نور بې کوره او بې وطنه شول.

هغوی په افغانستان کې د کمونيزم ټينګول غوښتل نن ورځ په خپله د پانګوالو هېوادونو په دسترخوان دوډۍ خوري او خپلې ټولې دعوې يې غلطې او باطلې ثابتې کړې او چې نن ورځ يې په لاس کې هېڅ نه شته دي نو يو د بل په رسوا کولو يې لاس پورې کړی دی.

د ګوندیانو واکمنۍ د افغانستان د مسلمان ولس د ملي ژوندانه هډونه مات کړل د خواري کښانو، کارګرانو او مزدورانو د شمار لاندې داسې ديکتاتوري ( زورواکي ) منځته راوړه چې د افغانستان په پېښليك كې يې ساری نه و ليدل شوی.

په نوي واکمنۍ کې وطنپرستي او مليګرايي ( ناسيوناليستي ) داسې جرم او ګناه وپېژندل شوه چې سزا يې مرګ او يا په پلچرخي

زندان کې د شپو سبا کول وو لکه چې هېوادوال او ترېوال شاهد دي مارکسیستي رژیم په سوونو ملي شخصیتونه شاعران، لیکوال، پوهان د پوهنتون استادان او روڼ اندي په همدې ګناه د پلیګون مېلمانه او ژوندي تر خاورو لاندې کړل چې یوازې په کې د افغان ملت د ګوند څو سوه کسان شامل وو.

ګوندي رژیم په ډېرې چټکۍ سره د لینن، مارکس او انګلز سره کتابونه د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسول او په وزارت، ریاست او شرکت کې یې دلینن خونې جوړې او د لینن مجسمې یې په کې کېښودلې. نوی رژیم د هرڅه نه لومړی په حکومتي سیستم کې د مارکسیزم لیننزم اصول پلي کړل پرته له دې چې د افغاني ټولنې جوړښت په پام کې ونیسي او د ولس دیني معتقداتو ته کوم ارزښت او اهمیت ورکړي.

د افغانانو غوڅ اکثریت په تېره بیا کلیوالو خلکو او نالوستو پرګنو نه شو کولی د نوي هیولا( رژیم) ملي او افغاني هویت تشخیص کړي خو دومره پوه شول چې د کور زلمیانو او پېغلې یې د لامذهبۍ او دهریت خواته بېول کېږي اود اسلامیت څخه یې لاره بېلېږي.

ګوند او دولتي مشران ظاهراً افغانان وو لیکن کړنې یې د افغانیت او اسلامیت د اصولو او د افغاني ټولنې د عنعنې او روایاتو نه بیخي مخالفې وې. ټول امتیازونه د ګوند او یا ګوندیانو حق او د ګوند غړیتوب د لیاقت او پوهې او حتی زعامت معیار و، ځکه خو څوکۍ او مقامونه یوازې ګوندي ته ورکول کېدې، غیر ګوندیان پردي او د مارکسیستي عقیدې ضد ګڼل کېدل ځکه خو یې له مقام او څوکۍ نه لرې کول او وژل د ګوندې رژیم لپاره د وخت یوه اړتیا وه.

ګوند دخپلې دهري عقیدې له مخې دهغه ولس په تاریخي عزت او شرف یرغل کړی و چې ماشومانو ته یې په روښي او زانګو کې د افغاني ناسیونالیزم الاهو ویل کېدله، پښتو او پښتونولۍ د هغه د

ژوند بنسټ او ګوند د مارکسیزم په لور او څټك باندې د هغه بنسټ د ورانولو او نړولو تکل کړی و.

دګوند هغه غړي چې د محمدداود خان په وژلو باندې داصحه اینبې وه "چې دغه فرعون دې ووژلی شي" د نوي نظام لپاره ملي ترانه یا ملي سرود هم تصنیف کړ. لیکن په هغه کې پرولتاریایي رنګ کارېدلی و او د ناسیونالیستي احساس پرځای په کې انترناسیونالیستي روحیه ځای کړای شوې وه.

همدغه ډول نوئ رژیم، خپل رسمي بیرغ هم د شوروي اتحاد غوندې سور رنګی غوره کړ، چې د ګوندي دیکتاتورۍ (زورواکۍ) سمبول ګڼل کېږي اود سرو وینو مانا ورکوي. افغاني میندو او پلرونو له نږدې‌نه دغه حقیقت لیدلو چې لونه او زامن یې په زور او ګواښ. ویرولو او جبر سره د ګوند په سازمانونو کې شاملېدل او سره کتابونه ورباندې ویشل کېدل.

د اوسني یا معاصر افغانستان د جوړېدو په څه کم درې سوه کلن عمر کې دا نه وو لیدل شوي چې څوك دې د افغان ولس دیني معتقدانو او ملي رواياتو ته په سپك نظر وګوري او یا دې په دې هېواد کې د کفر او الحاد د تفکر رواجولو هڅه وکړي. لکه نن چې د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند او نظام دغه هڅې پیل کړې وې.

شوروي اتحاد د نوي ګوند نظام لپاره د الهام او تقلید کعبه ګڼل کېده او دهري عقیده او مفکوره له همدې ځایه اسلامي او افغاني خاورې ته رانوتې وه، هر ګوندي ته دنده ورکړل شوې وه چې پنځه وخته د مارکس اولینن کتابونه ولولي او د اسلامي اصولو او افغاني رواياتو له چوکاټ نه بهر شي، ملاکان، فیوډالان او ناسیونالیستان خپل نه پخلا کېدونکي دښمنان وګڼي او د خپل کور دننه دهغو پر

خلاف د مبارزې بيرغ اوچت کړي. گوندي سازمانونو ته د هغوی راپورونه ورکړي او په هېڅ يو باندې رحم ونه کړي.

په سوونو بې تجربه گوندي هلکانو او نجونو د خپلو غير گوندي ورونو، پلرونو، ترونو او تربورانو راپورونه گوندي سازمانونو او گوندي مقاماتو ته ورکړل او په دې ډول د پرولتاريايي د يکتاتوری (زورواکی) منگولې په وينو سرې شوې او د گوندي مشرانو دعيش او نوش لاره اواره شوه.

دگوند دځوانانو سازمان دشوروي اتحاد د (کمسومول) بڼه غوره او د شوروي زلميانو او پيغلو سره يې لاره يوه شوه، د ملي ژبې او افغاني ژبې او افغاني فرهنگ د ودې او پرمختيا گوډرې وتړل شوې. د گوند د سياسي بيوروغړي دستگير پنجشيری د محمدداود خان وژل کېدل په زاړه باندې د نوي غلبه بولي خو د افغانستان مسلمان ولس ډېر ژر ددغه نوي ماهيت او اصليت وپېژاند او د غفلت له خوب نه راويښ شو.

د افغانستان خلکو وليدل چې واکمن گوند او منځته راوړي نظام يې دواړو غير اسلامي او ضد افغاني بڼه لري او کړنې يې دولس د معتقدانو او تاريخ رواياتو سره مخالفې دي. پنجشيري د سردارمحمد داود خان د مرگ خبر ازادي افرين بولي او وايي:

" به زودی خبر مرگ سردارمحمدداود و نزديکانش به وسيله رهبری قيام تنظيم و باشورو هيجان وصف نا پذير نشر گرديد نشر اين خبر ازادی افرين واقعاً معجزه کرد"(۲۸۴).

ليکن د افغانستان د مسلمان ولس لپاره د هغه خبر خواشينی او ژور خفگان موجب شوی و. ځکه چې هغوی محمدداود له نږدې پېژانده چې سوچه مسلمان او په هېواد مين افغان دی. د بدو اخيستلو،

عیاشی او وطن پلورني تور وربـاندې نـه شته او د کوم بهرني هېواد د لاس الـه او د کـوم خـارجي طـاقت د غلامـی جـغ پرغـاړه نـه لـري، پـه اسلامي عقیده ټینګ او په افغاني هوډ ولاړ مشر دی.

د کمونیزم او مارکسیزم ډېر کلـك دښمـن دی او د پښتنـي غـرور شمله یې تل هسکه پاتې شوې ده، ملي عنعناتو او افغاني خصایلو ته په درنه سترګه ګوري او په افغاني تاریخ باندې ویاړ کوي او دا ټول هغه څه وو چې په ګوندي مشرانو کې نه لیدل کېدل.

په ګوند واکمنی کې پښتو او فارسي ادبیاتو ته هم سوسیالیستي بڼه ورکـړی شـوه او پـه ګونـدي خپرونـو کـې ګونـدي لیکوالـو د سوسیالیستي ادبیاتو نه کار اخیستل خپلـه فریضـه وګڼلـه. خبرې، ویناګانې، مطبوعاتي کنفرانسونه په همدغو ادبیاتو سره کېدل، چې ځانګړی او جلا ترمونه په کې په کار راوستل کېدل. د شوروي اتحاد په پروګرس او نووستي چاپخونو ( مطبعو) کې چې د افغانانو لپاره کوم کتابونه په پښتو او فارسي ژبو لیکل کېدل یا ژباړل کېدل نو همدغه موخه او مقصد په کې په پام کې ساتل کېدلو.

د چپي کمونستي او مارکسیستي افکارو لرونکو شاعرانو هم لـه خپـل عنعنـوي او دودیـز چوکـاټ څخـه نـوي چوکـاټ او قـالب تـه ور وغورځوو. دغه قالب یـا چوکـاټ ډېر کلونـه پخـوا هغـه وخت چې رضا شاه د پـهلوي کورنـی د پـاچاهـی تـېره کېښودلـه ایرانـی شـاعر چـې دسوسیالیستی ایډیالوژی مبلغ ګڼل کېده، د خپلو کمونستي افکارو د بیان لپاره منځته راوړی و، دغه شاعر ابوالقاسم لاهوتی نومېده ویـل کېږي چې نوموړی د حکومت له خوا ووژل شو.

په پښتو شـاعری کـې نـور د ملـي او ناسیونالیسـتي تفکر ځای سوسیالیستي او انترناسیونالیستي تفکر ونیولو او د پـېژنـدل شـوي شـاعر سـلیمان لایـق "ملـي سـرود" چـې د افغانسـتان د دموکراتیـك

جمهوریت رسمي او دولتي ترانه وه. د همدغه تفکر یوه ښه او ژوندۍ بېلګه وه.

که چېرته سلیمان لایق په هغه لاره نه وای تللی نو نن ورځ به یې د هېواد د ملي ادبي شخصیت په توګه درناوی کېده لیکن ډېرو خلکو به په دې کې شك درلود چې د کمونستي دورې لیکوالو او شاعرانو د زړه له کومې دمارکسیستي عقیدې او تفکر سره مینه نه درلودله.

بلکې یوازې د څوکۍ او مقام او مادي امتیازاتو د لاسته راوړلو لپاره یې هغه لاره غوره کړې وه. ددې شك حقیقت هغه وخت د افغانستان خلکو په خپلو سترګو وکوت چې کله شوروي اتحاد د افغانانو پر وړاندې ماتې وخوړه او وربسې په افغانستان کې مارکسیستي نظام ړنګ او د افغانستان د خلکو دموکراتیك ګوند ټول مشران او کشران د شوروي اتحاد (روسیې) پرځای پانګوالو هېوادونو ته چې دوی به یې پر ضد شعارونه ورکول او په شعر او مقالو کې به یې امپریالیستي (ښکیلاکي) نظامونه ګڼل پناه یوړه. البته دغه کار د ټولې نړۍ لپاره حیرانوونکی و.

افغان ولس چې دیو زرکالو را په دې خوا (د امیرکروړ جهان پهلوان او امیر پولاد سوري) له وخت نه په شعر او شاعرۍ کې د ننګ او غیرت سندرې ویلې وې او په دې ډول یې افغاني ناسیونالیزم ژوندی او پیاوړی ساتلی و. د مارکسیستي تفکر د ځپو سره د مقابلې په وخت د مارکسیستانو له پامه کمزوری ښکاره شو. لیکن دغه اندیښنه ډېره ژر ناسمه ثابته شوه ځکه چې دمقاومت په کلونو کې د مبارزې اصلي زړی پښتني ننګ او غیرت، د هېواد سره مینې او د ازادۍ غوښتنې احساس تشکیلاوه چې اسلامي جذبه هم ورسره ملګرې وه. پښتنو میندو خپل زامن په همدې احساس روزل او همدغه بدله یې په زانګو کې ورته تکراروله.

د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند لارښوونکو او مشرانو، مارکسیزم او لیننزم) د سرو کتابونو په پاڼو کې لوستلي او زده کړي وو په داسې حال کې ناسیونالیزم ( ملېګرايي) د افغانانو په وینه کې ګډ و او کوم کسبي څېز نه و.

عجب خان اپریدي په دې ګناه انګرېز پوځي منصبدار (کرنیل ایلس) ته سزا ورکړه او د څو هفتو لپاره یې پېغله لور (مس ایلس) ورنه بوتله چې هغه پوځي افسر د پښتونولۍ په اصولو تېرى کړى و او د عجب خان پښتون د مور بي بي دغه غوښتنه یې نه وه منلې چې په کور کې د نارینه د نه موجودیت په حالت کې دهغوی کور تالاشي نه کړي.

د افغانستان دخلکو دموکراتیك ګوند که چیرې د افغاني ټولنې ملي جوړښت په پام کې ساتلی وای او دیوه الحادي هېواد ناولې ایډیالوژي یې په زوره په دې ټولنه کې نه وای خپره کړې نو شل ۲۲ ملیونه افغانان به هم په بدمرغیو، تباهیو او دربدریو نه اخته او د افغانستان نوی تاریخ به په وینو نه لیکل کېدلو.

د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند د خپل مارکسیستي تفکر د سیپې (قلس) له دننه څخه افغاني ټولنې ته کتل چې دا په حقیقت کې ځان غولونه وه، ګوند په خپله ځان د ټولنې نه تجرید کړی و او غړو یې د عامو خلکو سره دناستې پاستې څخه وېره درلودله. دغه لامل و چې ګوند په زورواکۍ تکیه وکړه او هر ګوندي ته لارښوونه وشوه چې وسله دځان سره ولري. د خلق زامن د خلکو نه وېرېدل او ګوندي دیکتاتورۍ یوه اړتیا پېژندل شوې وه.

د ګوند مشران او حتی د لارښودې ډلې ډېره کیان پښتانه وو، غیر پښتانه لږه کیان او په دویمه او درېیمه کته ګورۍ کې شمېرل کېدل او شوروي اتحاد په دې باره کې د ټولو نه ښه معلومات درلودل، د محمدداود خان د وخت په اردو کې بې لارې شوې او مارکسیستان

شوي واړه افسران هم زيات پښتانه او لږ غير پښتانه وو او ان چې کمونستي کودتا د سردارمحمدداود خان د وژلو لپاره هم پښتانه کوماندوګان ورلېږلي وو چې په وړاندنيو کرښو کې يادونه وشوه.

لاکن هغو پښتنو په مارکسيزم باندې ايمان او عقيده درلوده نه په اسلام او افغانيت (پښتونولۍ) په پښتو ژبه يې خبرې کولې خو" پښتو" يې نه پېژندله. په تېر تاريخ او ملي وياړونو بې باوره وو او ټول باور يې په مارکسيزم لېنيزم و.

ګوند ټول مسايل په همدې فارمول حل کول غوښتل پرته له دې چې د هغه پر وړاندې د ولس غبرګون او کرکه په پام کې ونيسي او د تېرو وختونو وژنې او د ګوندي غړو پر خلاف دخلکو قهر او غوسه په ياد کې وساتي.

په ۶۰ مو کلونو کې خلکو د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند غير اسلامي، افغاني او د يوې دهري عقيدې او مفکورې درلودونکي ګوند وپېژاند او ديني عالمانو د ګوند د نشراتي ارګان (دخلق جريده) د بندولو غوښتنه حکومت ته وړاندې کړه او د همدې غوښتنې له مخې هغه جريده بنده کړی شوه.

" دوی د افغانستان دخلك دموکراتيك ګوند پر پلويانو د بې دينۍ د نظريو او له بهر نه د راوړل شوي ملي ضد ايډيالوژۍ د خپرولو تورونه لګول د ۱۹۷۰ کال په پسرلي کې په کابل او مزار شريف کې دلېنن د زېږېدنې د سلمې کاليزې په اړوند د ملايانو او مشايخو ټولنو داسې سترې مظاهرې وکړې، چې د مرتدانو او د کمونيزم د اجنټانو پر ضد دجهاد د افغانستان دخلك دموکراتيك ګوند ددويم نشراتي ارګان " پرچم" د جريدې د بندولو تر شعارونو لاندې روانې وې" (۲۸۵).

په همدې کال کې د لغمان په مرکز مهترلام کې خلکو عبدالرحمن نومي چې د افغانستان د خلق دموکراتيك ګوند فعال غړی و او د پرچم

د اړخ سره يې تړاو درلود د پوليس د سترګو پر وړاندې ټوټې ټوټې کړ او خلك د ګوند په غړو پسې کوځه په کوځه ګرځېدل.

دمخالفتونو او د ګوند د ايډيالوژۍ سره د ضديت لړۍ د هېواد د ټولو ولايتونو، ولسواليو او علاقداريو ته هم ورسېدله او د دې ګوند پېژندل شويو غړو( ببرك كارمل او اناهيتا راتب زاده) د ولسي جرګې د پښتنو استازو له خوا ډېر كلك وهل وخوړل.

په ۱۹۷۷ م كال چې كله د شوروي ساخت ټانكونو، هيلي كوپټرونو، جنګي جټ الوتكو او توپونو په زور د محمد داود پر ضد كودتا بري ته ورسول شوه او د افغانستان دخلق دموكراتيك ګوند واكمن شو، نو دا يې له ياده وتلي وو چې افغاني ټولنه هماغه پخوانۍ ټولنه ده او هېڅ توپير په كې نه دی راغلی.

ګوند بيا هم په ناسمه لار روان شو او د څلورو طبقو يا قشرونو خلاف يې د جګړې او تشدد اعلان وكړ، دغه څلور طبقې داوې:

۱ــ ديني عالمان او پوهان او روحانيون او ملايان.

۲ــ ناسيوناليستان يا مليګرايان.

۳ــ هېواد دوست روښانفكران.

۴ــ فيوډالان او ملاكان يا غټ ځمكه لرونكي او پانګوال.

لومړۍ او څلورمه طبقه په كليو او بانډو كې مېشته وه او دويمه درېيمه طبقه په ښارونو كې يا يې اكثريت په ښارونو كې و او په دې ډول ګوند هم په كليو او بانډو او هم په ښارونو كې د مخالفانو په پاك كارۍ پيل وكړ. ليكن ګوند په دې كار كې ډېر غټ زيان وكوت او په سوونو تنكي زلميان. ښوونكي او نور چې د ګوند غړيتوب يې منلی او پيژندل شوي وو د خلكو په لاس ووژل شول او په هر ولايت او پلازمېنه كابل كې د شهيدانو غونډې او هديرې جوړې شوې. د وژل شويو كسانو زياته

برخه پرته لـه اسـلامي اصولـو او دوديـزو طريقـو څخـه د شـپې شـپې ښخېدل او د جنازو کېدلو امکانات يې نه ليدل کېدل.

د مارکسيستي ګوند د بنسټ ايښودونکو لـه ډلـې نـه دستګير پنجشيري د سردارمحمد داود د وژل کېدلو په اړه ليکي چې:

" در ان روز تاريخى اخرين نماينده برجسته خاندان سلطنتى و دولت بيروکراتيک اشرافى زير بار اشتباهات خود غرق ميشد"(۲۸۶).

ليکن اوس ليدل کېږي چې ددغه مارکسيستي ګوند " اشتباهات" لـس چنده د شهيد محمدداود خان نـه زيـات او ددې تېروتنـو پايلـه د افغانستان او د افغان ولس لپاره لـه تباهيو او بربايد نـه پرتـه ور څه نـه وو، د ګوند اشتباهاتو د ګوند د مشرانو او کشرانو سرونه وخوړ. ګوند سردار محمدداود ته د يو ناسيوناليست په سترګو کتل او مليګرايي ګڼلو ځکه خو يې د مارکسيستانو دغه غوښتنه ونه منله چې هغو ته ځان تسليم کړي او د خپلې عقيدې نه تېر شي، ليکن د ګوند مشران او کشران چې د مارکسيستي عقيدې درلودونکـي وو پانګوالو هېوادونو ته پناه يوړه او هغوی ته يې سرونه ټيټ کړل لـه همدې امله د دواړو په اړه د خلکو په قضاوت کې زيات توپير دی.

ګوند لارښود ببرک کارمل د ګوند غلطۍ د ملي خيانت تر بريد پورې ورسوله او شوروي لښکر يې له ځان سره افغانستان ته راوست او د غه تاريخي بدنامي او رسوايي د افغانستان د خلق د موکراتيك ګوند په نوم وليکلې شوه.

# پښتني فرهنګ د روسي ژبې تر خطر لاندې

شورويانو په ګونډ باندې د کنټرول او اغېز له لارې ددغه پلان عملي کول غوښتل چې روسي ژبه د روسي ښوونکو او استادانو په مرسته ورو ورو په يوې داسې ژبې واړوي چې خلک خپلې مادي او معنوي اړتياوې د همدې ژبې په وسيله پوره کړي او خلک بيا د همدې اړتيا له مخې د روسي ژبې زده کولو ته د مجبوريت احساس وکړي.

د افغانستان د موکراتيک جمهوريت د ښوونې او روزنې پخوانی سيستم له منځه يوړ او د روسي ژبې زده کړه د پوهنې د وزارت له خوا چې په سر کې ګونډي وزير ناست و په تعليمي پروګرام کې شامله شوه او د روسي ژبې د زده کړې د کورسونو شمېره هم له سوونو څخه واوښته، دغه زده کړه په بشپړ ډول وړيا وه او ان چې قلم او کاغذ او کتاب زده کوونکو ته مفت ورکول کېدل او سربېره پر دې زده کوونکي د کورس د نصاب پوره کولو نه وروسته دشوروي اتحاد د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د نورو زده کړو لپاره استول کېدل.

د ګونډ او ګونډي دولت د پام لرنې په برکت روسي ژبه د ټولو ژبو په سر کې ودرول شوه، فرانسوي، انګليسي، جرمني او عربي ژبې له پخوانی اهميت څخه ولوېدلې. ځکه چې دغو ژبو په زده کوونکو باندې بهرنيو هېوادونو ته د تللو لارې بندې شوې. فرانسوي، انګليسي او جرمني ژبې امپرياليستي او عربي اخوانـي وپېژندل شوې او ټوله پاملرنه روسي ژبې ته واړول شوه، چې ددې په نتيجه کې ددغو ژبو بهرني ښوونکي او استادان خپلو هېوادونو ته ستانه شول او ددغو ژبو د لېوالانو شمېره هم ورځ پر ورځ راټيټه شوه.

د شوروي استادانو شمېره هم په پوهنتون کې زياته شوه، تر څو ګونډي دسپلين او کنټرول په پوهنتون کې ټينګ کړي، د پوهنې وزيران

یا د مارکسیستي عقیدې درلودونکي او یا داسې کسان وټاکل شول چې په شوروي اتحاد کې یې لوړې زده کړې سرته سولې وې، چې په دغو کسانو کې د دستګیر پنجشیري او دکتور فقیرمحمد یعقوبي نومونه د یادولو وړ دي. همدغه ډول د لوړو زده کړو وزیر هم د ګوند غړی او د شوروي اتحاد فارغ التحصیل و.

په دې ډول (وروسیت) د افغانانو په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ژوند باندې حاکم شو او ګوند ددې حاکمیت اله او وسیله وه. ګوندیانو چې په مارکسیستي ایډیولوژۍ سمبال شوی کرار کرار خپل ملي افغاني احساس او تاریخي هویت له لاسه ورکاوه، ځکه چې مارکسیزم له دغو څېزونو سره نه پخلا کېدونکی دی. په مارکسیزم کې د تفکر بنسټ په مادیت اېښودل شوی او هغه‌څه ردوي چې له معنویت څخه سرچینه اخلي.

افغاني احساس او ملي جذبه د افغانانو په وینه او روح کې پراته دي او مارکسیزم لیننیزم د مادیت سره تړاو لري او کمونیزم یې پرمختللی پړاو ګڼل کېږي. له همدې کبله ناسیونالیزم او مارکسیزم یو له بل سره نه پخلاکېدونکي دښمنان پېژندل شوي دي.

د مارکسیستانو د ژوندانه ستنې په اشتراکیت ولاړې دي خو د افغانانو د ژوندتهداب په افغانیت او اسلامیت باندې اېښودل شوی دی. افغان یو پیکر دی او افغانیت او اسلامیت ددغه پیکر روح، دغه پیکر په همدغه روح ژوندی دی او چې روح له منځه لړشي نو دغه پیکر تش کالبوت پاتې کېږي.

شوروي دهریانو دغه پلان درلود چې د افغانانو وجود په یو کالبوت بدل کړي او ددوی د پښتني فرهنګ د بدلولو له لارې دغه موخه او مقصد په اسانی سره لاسته ورتلای شو. ځکه خو یې تر ټولو زیاته پاملرنه روسي ژبې ته اړولې وه او ژبه د هر ولس د ملي فرهنګ د

ملا تیر دی، د فرانسوي او لیوروا په وینا مسکو غوښتل روسی کلتور په کابل برلاسی کړي.

اوس چې یو روس پلوی کمونست دوله نظام پر افغانانو باندې حاکم وی و، د ملي ژبې پښتو پر ځای روسي ژبې او فرهنګ ته زیاته پاملرنه ضروري ګڼل کېدله. د روسي ژبې د پراختیا لپاره چې شورویانو په افغانستان کې څومره لګښت پر غاړه اخیستی و، هومره لګښت په تېرو رژیمونو کې د افغاني ژبې "پښتو" د پرمختیا لپاره نه و شوی.

شوروی افغان پېژندونکي چې زیاتوي د افغانستان د علومو اکاډمۍ او پښتو ټولنې سره اړیکې درلودلې پر دې حقیقت پوهېدلي چې پښتو ژبه د پښتني فرهنګ جوهر دی او د پښتنو تاریخي هویت د همدې ژبې په برکت د سوونو کالو په اوږدو کې ژوندی پاتې شوی دی. له همدې کبله دغه پلان جوړ شوی و کرار کرار د پښتو ژبې ځای روسي ژبې ته ورکړي او همدغه ژبه د هر افغان لپاره د پرمختګ او مادي خوشحالۍ او سوکالۍ یوازینۍ وسیله وپېژندل شي.

شورویانو د همدې مقصد لپاره د پښتو روسي او روسي پښتو ډکشنرۍ او قاموسونو هم جوړ او چاپ کړل ترڅو د روسي زده کړې په لاره کې دپښتنو زده کوونکو ستونزې له منځه لرې شي. کمونستانو ټول امتیازات د روسي ژبې فارغانو ته ورکول او د همدغو امتیازاتو په شوق ځوانانو او ان چې بوډاګانو د روسي ژبې لپاره لېوالتیا ښکاره کوله.

د مارکسیستي رژیم لپاره د هېواد ملي ژبې ته پاملرنه د اهمیت وړ موضوعګانو څخه نه وه، ځکه چې روسي تیوریسنانو پښتانه په ناسیونالیستانو کې راوړي وو او پښتو ژبه ددغه قام د تاریخي هویت یو پوخ سند ګڼل کېدو.

ځینې پاك زړي پښتانه پر دې عقیده او نظر وو چې ګنې شورویان پښتو ژبې ته دخدمت په فکر کې وو خو دا یوازې خوش باوري وه او یو امپریالیستي او ښکیلاکګر نظام د کوم ورکوکي او وروسته پاتې هېواد او قوم د خدمت فکر هېڅکله نه شي کولی او دغه ډول کارونه یې د سیاسي او فرهنګي موخو په چوکاټ کې ځای نه شي موندلی.

هغوی ( شورویانو) د منځنۍ اسیا د هېوادونو د غلامولو لپاره له هرڅه نه مخکې د هغو ولسونو ژبې د روسي ژبې پر وړاندې بې اعتباره او بې اهمیته کړې. روسي ژبه یې پر هغوی باندې حاکمه کړه او د همدې لارې نه یې د تاجکي، ازبکي، ترکمني، قرغیزي، تاتاري او نورو قومونو فرهنګ له منځه یوړ او خپل فرهنګ یې ورباندې مسلط کړ.

۲په هغو هېوادونو کې د نارینه او ښځو نومونه چې پخوا د اسلامي قاعدې له مخې ایښودل کېدل روسي او غیر اسلامي کړی شول، لکه رحمانوف، کریموف، نظربایوف، محمدوف، مجیدوف او داسې نور چې د روسي قاعدې پر اساس ایښودل کېدل. د روسانو نومونه په عین همدغه ډول و لکه : اویلوف، ګریلوف، ګروموف، وراشیلوف، ګورباچوف او نور..

په نورو فرهنګونو باندې د روسي فرهنګ د حاکمیت د روسي ژبو او ادبیاتو له لارې تامین شو. نه د ټانک او کلاشینکوف له لارې او شورویانو دغه پلان د افغانانو په اړه هم کرار کرار تطبیقول غوښتل، ځکه خو د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند دغه مجال نه درلود چې په خپلې واکمنۍ کې د ملي ژبې پښتو مسلې ته پام واړوي او په دې برخه کې د هېوادا وسېدونکو د اکثریت غوښتنې ومني او یا یې دغور وړ وبولي.

دګوندي رژيم لپاره د ټولو کارونو نه مهم کار په هېواد کې د مارکسيستي اصولو تطبيق او په ولس کې د ناسيوناليستي روحيې وژل وو، په مارکسيزم باندې دګوند عقيده د ملي ژبې او پښتنې فرهنګ نفي کول او د هغه نه مخ اړول وو له همدې کبله ځواك لرونکو ګوندي مشرانو که څه هم خبرې په پښتو کولې د خپلې واکمنۍ په کلونو کې د پښتو ژبې پر ځای د روسي ژبې دپراختيا او پرمختيا په لاره کې زيات خدمت وکړ او د شوروي مشرانو رضايت يې لاسته راوړ.

د ګوندي واکمنۍ لومړنی پښتون مشر نورمحمدتره کی و، چې روڼ اندو پښتنو ورته د پښتو ژبې د ليکوال او ژباړونکي په سترګو کتل او د "بنګ مسافری" ناول يې په روښانفکره طبقې کې يوه اندازه شهرت هم پيدا کړی و، نورمحمد تره کی د لومړي ځل لپاره د خپلې واکمنۍ په وخت په ملګرو ملتونو کې په پښتو ژبه وينا وکړه او په امريکا او کيوبا (هاوانا) کې يې هم د ژورناليستانو سره مرکې په پښتو وکړې که څه هم په انګريزي ژبه ښه پوهېده، ليکن د خبرو انګريزي ژباړه به يې بل ګوندي کوله، ليکن له دې سره سره هغوی ونه کړای شول د پښتو ژبې دحاکميت په اړوند کوم فرمان جاري کړ.

نورمحمدتره کی په (U.N) کې په پښتو وينا سره نړۍ ته دغه ثبوت وړاندې کړ، چې دی يو افغان واکمن دی او حق لري په افغاني ژبه وينا وکړي، ليکن په خپل هېواد کې يې د فرهنګي ښکيلاك دپای ته رسولو لپاره کوم قدم پورته نه کړ او ښايي دغه اجازه ورته نه وه شوې. تره کې دېر کلونه پخوا د ويښ زلميانو د ګوند غړی هم پاتې شوی و، خو تر کومه ځايه چې اسناد ښيي د پښتو ادب په باره کې يې هومره معلومات او پوهه نه درلوده څومره پوهه او معلومات يې چې په مارکسيزم لينينزم کې درلودل.

پښتنو ګوندیانو ولیدل چې د افغانانو په هېواد کې د پښتو ژبې نه زیات خدمت روسي ژبې او فرهنګ ته کېږي خو د هغوی لپاره دې مسلې کوم اهمیت نه درلود ځکه له وجود نه یې د افغاني ناسیونالیزم جرړې ویستل شوې وې او مارکسیستي تفکر یې وینې ته بل رنګ ورکړی و او د همدې تفکر له مخې ګوندي مشرانو د سردارمحمدداود د وژلو پرېکړه وکړه.

د ګوندي زورواکۍ ملي سرود خو د یو پښتون شاعر د ذهن او تفکر محصول و. لیکن د پښتني احساس او جذبې پر ځای په کې سیوسیالیستي انترناسیونالیستي روحیه ځای کړی شوې وه. ځکه چې شاعر په خپله د مارکسیستي ګوند غړی و. په ګوند مشرانو کې اکثریت (دېره کیان) پښتانه وو لیکن دوی هېڅکله د خپل ولس د دېره کیانو د ژبې او فرهنګ خیال ونه ساتلو.

د ګوندي زورواکي رژیم د چارچلونې ژبه هماغه پاتې شوه. چې په تېرو رژیمونو کې هم حاکمه ژبه وه. دغې رژیم د خپلې واکمنۍ پیل په هغو اتو فرمانونو وکړ چې غیر اسلامي او غیر افغاني روحیه یې درلوده او د مارکسیزم په اصولو برابر وو. دا په حقیقت کې د ګوند غټه تېروتنه وه چې دېرې خطرناکې پایلې له ځان سره لرلې. د افغانستان مسلمان ولس د همدې فرمانونو په رڼا کې د ګوند مارکسیستي ماهیت وپېژاند او له هغه سره دمبارزې تکل یې وکړ. دا چې ګوندي لیکوالان په دغه مبارزه کې د بهرنیو هېوادونو لاس دخیل بولي تر زیاتې اندازې پورې دحقیقت سره اړخ نه لګوي او ددې خبرې د ثبوت لپاره دېر سندونه هم شته دي چې په دې کې د ګوند خپلې تېروتنې اود باطلې ایډیولوژۍ پیروي غټه برخه لري.

د افغانستان مسلمان خلك ځه لوتې او دېرې نه وې چې په دې نه شول پوهېدلی چې ګوند او ګوندیان د مارکسیستي عقیدې

درلودونکي او د حکومت او دولت چارې د شوروي اتحاد له خوښې سره سمې چلوي او د اسلامي او افغاني اصولو درناوی په کې نه لیدل کېږي. په هر مسلمان افغان د اخوانیت او په هر قام دوست افغان د ناسیونالیستی ټاپه وهل کېدله او د دارو برخلیك یا زندان او یا مرګ و چې د افغانستان ۲۰ ـ ۲۲ ملیونه نفوس ددې حقیقت عیني شاهدان پاتې شوي دي.

هغه پښتانه لیکوال او شاعران چې د ګوند غړي پېژندل کېدل، مجبور وو چې په شعر او لیکنه کې د مارکسیستي اندېښنې په پام کې وساتي او د لیننزم برجستګي ښکاره کړي. د هغوی لپاره د ګوند ګټې اصلي موخه او مقصد و او ګوند هم د چپې لارې لاروي او د مارکسیزم پلوی و. ګوند د ملت لاره نه وه غوره کړې، بلکې ملت یې په زورسره خپلې لارې ته راوستلو چې همدغه کشمکش د ګوندي زورواکۍ د زوال سبب شو.

د نورمحمدتره کي نه وروسته د ګوندي زورواکۍ دویم مشر حفیظ الله امین په ځته خروټی پښتون و، چې تر ځواکمن کېدلو مخکې او وروسته وربانديې د ناسیونالیزم او فاشیزم ټاپې لګېدلې وې، ده د لومړي ځل لپاره د (صدراعظم کلمه په "لومړي وزیر") واړوله چې د نوموړي هغه کړنه د غیر پښتنو ګوندیانو او د (سازایا سازمان انقلابي افغانستان) د غړو د قهر او غوسې موجب شوه.

په دې اړه هماغه وخت دا خبرونه هم خپاره شول چې ببرك کارمل د امین دغه عمل د شوروي مشرانو ته دیو ناسیونالیستي عمل په بڼه څرګند او په حفیظ الله امین یې د بریژنیف او نورو شك نور هم پیاوړی کړ.

امین په پښتو خطابي کوله او په مطبوعاتي کنفرانسونو کې یې هم پښتو ویله، لیکن د پښتو ژبې او پښتني فرهنګ د ودې او پیاوړتیا

په هکله د کوم پلان خبره راپورته نه کړه خو چې کله روسي کوماندوګانو امین د خپل کور دننه چې ددارالامان د تاج بیګ په ماڼۍ کې وو دیوې ناڅاپي حملې په ترخ کې ووژلو او ببرک کارمل د تاشکند له راډیو نه د هغه د وژل کېدو خبر ورکړ، نو د څوګړیو تر تېرېدو وروسته ببرک کارمل د روسي پوځي ټولګیو سره یوځای د کابل په هوایي ډګر کې له الوتکې راکوزشو.

کارمل چې دستګیر پنجشیري ورته د پښتون هویت ورکړی دی د خپلې واکمنۍ او ځواکمنۍ په ټوله موده کې یوه ویېا هم په پښتو ژبه ونه کړه او نه یې په مطبوعاتي کنفرانسونو کې پښتو وویله. نوموړي د مارکسیستي عقیدې له مخې د افغانستان جلا جلا قومونه د ملیتونو په نوم یادکړل او د روسي سلاکارانو (پوځي او ملکي) بهیر یې په افغانستان رامات کړ.

دده په خپله لارښوونه د ګوند خپرېدونکی ارګان ( د ثور انقلاب) نوم هم له پښتو نه په فارسي واړول شو او د ثور انقلاب ( حقیقت انقلاب ثور) شو او په همدې ډول نور نومونه هم وګرځول شول.

د ګوند دسیاسي بیورو غړی دستګیر پنجشیری لیکي چې نورمحمدتره کی او حفیظ الله امین دواړو د شوروي اتحاد ګوندي او دولتي لوړو مقامونو د " امر ونهی" هېڅ پرواه نه کوله"(۲۸۷).

لیکن ببرک کارمل شوروي اتحاد ته د خپلې غلامۍ داسې ثبوت ورکړ چې د ۱۳۵۸ل کال د جدي د میاشتې په ۶مه نېټه یې شوروي پوځونه ( سرې لښکرې) له ځان سره یو ځای افغانستان ته راوستل چې دا د افغان ولس د ملي ژوندانه په پېښلیک کې د یوې سترې غمیزې پیل وګڼل شو. د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند دغه غټ غړی چې د سردار محمدداودخان په وژل کېدلو یې خوښي ښکاره کړې او هغه

يې د " مرد جاه طلب وسردار مغرور" په نوم یاد کړی و. د جدي د ۶ مې نېټې د پېښې په اړوند دغه انځور وړاندې کړی دی.

" اغاز تراژیدی تاریخ زنده گانی ملی و اجتماعی و نقطه اغاز جنگها و کشمکش های خونین جامعه بلاکش ما برای کسب و حفظ قدرت سیاسی بود."(۲۸۸)

په دې ډول له دې حقیقت نه پرده لرې کېږي چې د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند په افغانستان کې داسې خونړۍ فاجعه منځته راوړه چې د دې هېواد تاریخ کې دهغه ساری نه و لیدل شوی او هېڅ ګوندي پر دې حقیقت باندې خاورې نه شي اړولای.

ببرك کارمل چې په خپل لاس یې د هېواد لمنې ته اور اچولی و په جلا وطنۍ کې د سرطان په لاعلاجه ناروغۍ مړشو. د سوسیال امپریالیزم مانۍ ړنګه شوه او د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند واکمني هم پای ته ورسېده.

په پښتني ټولنه باندې فرهنګي بنکیلاك د پخوا په شان په خپل حال پاتې شو. ډاکټر نجیب الله احمدزی چې د ګوندي واکمنۍ وروستنی مشر و د خپلې کورنۍ له غړو سره په پښتو ژبه خط او کتابت کاوه. چې ددوی په قلم لیکل شوي پښتو لیکونه د پښتونخوا د پښتو ژبې د تکړه ژورنالیست او پوخ لیکوال " نورالبشر نوید" له خوا د پېښور چاپ په " لیکوال" مجله ( څلورم جلد یوولسمه ګڼه ) کې د فوټو کاپي په ډول خپاره شوي دي.

سلیمان لایق چې دګوندي جنرال نبي عظیمي په وینا د نجیب الله احمدزي پر ضد د شمال کودتا په وخت د ډاکټر نجیب الله د مخالفانو په ډله کې ولاړ و او د ګوند دمرکزي کمیټې د غړي " فقیرمحمدودان" په وینا چې په خپل کتاب " دشنه های سرخ" کې یې لیکلي دي ګویا د

کودتا په نتیجه کې چې د ببرک کارمل د ورور محمود بریالي په مشرۍ د ډاکټر نجیب الله پر ضد وشوه. د نجیب د ګوښه کېدو یا سبکدوش کېدو وروسته د لنډې مودې لپاره سلیمان لایق د هغه پر ځای د ګوند عمومي منشي وټاکل شو او د نجیب الله د وژل کېدو په وخت په جرمني کې مېشته شوی و د "سورمومن" تر سرخط لاندې یو شعر د مرثیې په ډول د ډاکټر نجیب الله روح ته ډالۍ کړ چې ددې شعر په یوځای کې داسې راغلي دي:

وینــو د نجیب د شپې په تــــورو څڅو وشېنـــدل
عطر د منصور خـدایه لادې مقـــام تـه څه وایي
دا وینې به لـــمر شي او د شپې لـــمن به تږوله کړي
بیا به تلونکې شپې د زلمي نمر خرام ته څه وایي.

او همدغه شاعر چې اوس د ګوند د لمنې نه لرې غورځېدلی و د نثر په ژبه ډاکټر نجیب الله داسې ستایي:

"زموږ د ځمکې اتل
زموږ دعقل او ددین ملګری
زموږ په زړونو کې ناست نجیب
د مرګې د پاڅون زوږ واورېد" (لیکوال ۲۵مخ)

خو که چېرته دې پښتون د ګوند د واکمنۍ په دوران کې د پښتو سره پښتو کړی وای نو نوم به یې د محمدګل خان مومند غونډې د پښتنو د زړونو له پاڅه لیکل شوی وای او موږ به هم د پښتونولۍ په ډګر کې دیو بل شهسوار شاهدان وای خو دریغه چې داسې ونه شول. ګوندي پښتنو مشرانو د خپلې واکمنۍ په وخت کې د ملي ژبې پښتو ننګه ونه کړه او د پښتو نه زیات مارکسیزم ته وفادار پاتې شول. په دغه تاریخي دوره کې هم چې پښتانه د ګوندي واکمنۍ په اهرم کې ولاړ وو پښتنو ته د خپلې ژبې حق ورنه کړی شو او ګوندي پښتانه د

مارکسیزم لیننزم په فلسفه کې استادان وو د پښتني فرهنګ په ارزښت او اهمیت پوه نه شول.

نورمحمدتره کی د "زنده ګی نوین" په نوم پند اثر په فارسي ژبه د نظر زاده په مستعار نوم خپور کړ مارکسیستي محتوایي درلودله لیکن دیو پښتون لیکوال په توګه یې د پښتو ژبې په ګټه څلور کرښې هم ونه لیکلې او په همدې ډول نورو پښتنو ګوندي لیکوالو او شاعرانو په دې اړوند کومه هوښیارتیا ښکاره نه کړه. هغوی د پردی ایډیالوژۍ لپاره په خدمت بوخت پاتې شول او د پښتني مور الاهو یې هیره کړه.

دعلم او پوهې دغو دعوه دارانو په "توپانونو کې د بري لاړ" صرف دا وګڼله چې ګوند واکمن شو او سردارمحمدداودخان په شهادت ورسول شو. لیکن د افغان ولس تاریخ، دغه بری یوه ستره تباهي وګڼله او د افغانستان خلک یې د ظلم او ستم بدمرغی او نامرادی په نوم یادوي او سخته کرکه ورڅخه ښکاره کوي.

هغو کسانو چې ډاکټر نجیب الله د پاینسی پرځای کې زوړند لیدلی و نو ویل به یې چې ډېر ښکلي پښتني کالي یې په تن وو او له پاسه یې کوچانی واسکټ ورباندې اغوستی و. لیکن هېڅوك نه شي ویلی چې پښتنو ګوندي مشرانو کله د واکمنی په وخت له پښتني جامې او یا پښتو ژبې څخه کار اخیستی وي. دغه پښتانه واکمن په قوم تره کی، خروتی، احمدزی. سلیمانخېل. شینواری. مومند. منګل. ځدراڼ. تني او نور وو. لیکن هم یې قلم په فارسي چلېده او هم یې ژبه (البته له کور نه بهر).

مارکسیزم لیننزم یې په مغزو کې ځای کړی و. خو دایې له مغزو نه ویستلی و چې دپښتني ابی نه پیدا او مور ورته په پښتو ژبه الاهو ویلې وه ځکه خو پښتو ورباندې زیات حق درلود نه فارسي. د ګوندي واکمنی او ښرایي د ډاکټر نجیب الله احمدزي پر وخت د پښتنو ضد لړه

کې چې په سر کې یې ( سازمان انقلابی زحمتکشان افغانستان ) ولاړ و وکړای شول دهراتي ډاکتر جلال الدین صدیقي هغه لکچرنوټونه د لکونو په شمېره د کابل پوهنتون له خوا چاپ کړي چې دپښتنو تاریخ یې تحریف کړی و او پښتنو ته په کې بدرد ویل شوي وو لیکن ګوندیانو پښتنو دغه مېړانه ونه کړه چې پښتنو پوهانو ته دغه حق ورکړي چې په هغه پوهنتون کې دیوه مستقل کتاب په توګه د جلال الدین صدیقي اوتې بوتې رد کړي او نوموړي ته خپلې تېروتنې ور په ګوته کړي

د افغانستان ۱۲ ملیونه پښتانه په دې حقیقت باندې خبر وو چې په افغانستان کې د روسانو اصلي موخه او مقصد د پښتنو ډېره کیانو تباهي او د غیر پښتنو لړه کیانو خواکمني وه. څکه خو د سګاد توغندي هم د پښتنو په سیمو ویشتل کېدل، بمباری هم د پښتنو په سیمو کېدلې او جګړې به دایمي د پښتنو په سیمو کې روانې وې خو پښتنو ګوندي مشرانو دې مسلې ته کوم ارزښت نه ورکاوه او چوپه خوله پاتې وو.

شوروي مشرانو چې د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند پښتون اړخ ته دشك په سترګو کتل او دوی یې د غیر پښتنو په اندازه مارکسیزم لینزم ته وفادار نه ګڼل نو د خپل پښتون ضد سیاست له مخې یې حاکم ګوند مجبور کړ. چې د غیر پښتنو چپي او کمونستي ګوندونه لکه د ستمیانو سازمان انقلابی زحمتکشان افغانستان چې مشر یې محبوب الله کوشاني د بدخشان اوسېدونکی و په دولتي واکمنۍ کې شریك کړي ترڅو په حاکم ګوند کې د پښتنو وزن را کم کړي

شورویانو هڅه کوله چې تر ممکن حده پورې پښتانه ګوندیان د غیر پښتنو په محاصره کې وساتي. کرملین له پښتو سره چې د هېواد

غوځ اکثریت وو صداقت نه ښکاره کاوه او دغه پلان یې د عمل په ډګر کې پلی کاوه چې حاکمیت له پښتنو نه غیر پښتنو ته ولېږدوي چې دغه مطلب یو شوروی لیکوال ( اولیانوفسکي) په خپل کتاب " د افغانستان پر ضد نا اعلان شوې جګړه کې" داسې راوړی دی:

" موږ څکه افغانستان ته لښکرکشي وکړه چې د اکثریت دیکتاتوري ختمه او دولتي ځواك اقلیتونو ته انتقال کړو"(۲۸۹).

دغه پلان شورویانو د حفیظ الله امین تر وژلو وروسته د عمل په ډګر کې پلی کړ. شورویانو پښتون امین چې دکرملین مشرانو ورته دسرکښ نوم ورکړی و په روسي کوماندوګانو ووژه او پرته له دې یې بله چاره هم نه درلوده، څکه چې د هغه وخت په اردو کې غیر پښتنو او پښتنو دغه ډول عمل سرته نه شو رسولی او د پوځیانو اکثریت د امین ملاتړ کوونکي وو.

شوروي مشرانو پښتون ضد ببرك کارمل د افغانستان د لړه کیو د استازي په توګه واکمنۍ ته ورسولو او ددې قام شرمۍ سره یې یوځای سرې لښکرې هم افغانستان ته ور ننوستې او په دې ډول یې تول بین المللي او د بشري حقونو نورمونه تر پښو لاندې کړل. که څه هم نړیوالو د شوروي حکومت دغه عمل وغانده لیکن د ملګرو ملتونو نړیوالې ادارې په دې برخه کې یو ستر خیانت وکړ او هغه خیانت دا و چې د امنیت شورا په اضطراري غونډه کې یوه پرېکړه د رایو په اتفاق منظور او تصویب شوه چې په کې د شورا د نوم اخیستلو نه ډډه شوې وه او همدومره په کې ویل شوي وو چې بهرني ځواکونه دې له افغانستان څخه ووځي

څرنګه چې په پرېکړه لیك کې دشوروي اتحاد نوم نه و راوړل شوی نو شورویانو هم هغه ته کوم ارزښت ور نه کړ او سرې لښکرې په افغانستان کې پاتې شوې.

د افغانستان د لړه کیو نماینده غیر پښتون ببرك کارمل چې ډېر کلونه پخوا لا د ولسي جرګې په تالار کې یې په ملعون لینن باندې درود ویلي و او د جرګې پښتنو استازو ورته مرګوني وهل ورکړي وو دادی شورویانو د واکمنی په ډېره کېنولی و او دغه هغې یې کولې چې د نوموړي په ګوډاکیتوب کې خپلو موخو او مقصدونو ته خان ورسوي. لیکن دغه وړی شړی نه شوه او د ببرك کارمل واکمن کېدل د افغانستان په تاریخ کې یوه ستره غمیزه وګڼل شوه.

په افغانستان کې روسي ژبې ته زیاته پاملرنه هم د شوروي (سوسیال امپریالیزم) د پلان یوه مهمه برخه وه او هدف یې دا و چې له دې لارې نه د پښتني فرهنګ جرړې وباسي او کرار کرار یې له مسخه کولو وروسته په بشپړ ډول له منځه یوسي.

شورویانو په دې لړ کې داسې پښتانه هم روزلي وو چې په روسي ژبه یې د لینن لپاره شعر وایه او دغه شعرونه د منځنی اسیا د هېوادونو په روسي ژبو اخبارونو کې چاپېدل چې د هغو له جملې نه د تاجکستان په یوه ګوندي خپرونه کې چې نوم یې (صنعت و ادبیات) او د تاجکستان د لیکوالو د اتحادیې نشراتي ارګان و خینې شعرونه خپاره شوي وو. په افغانستان کې د افغانستان د خلق دموکراتیك ګوند د واکمنی په وخت د شوروي سلاکارانو تر څارنې او نظر لاندې د منځنی اسیا د هېوادونو په څېر د لیکوالو، ژورنالیستانو او هنرمندانو اتحادیې جوړې شوې. چې دیوې اتحادیې ریس هم پښتون نه و او روسانو دا نه غوښتل چې د کومې اتحادیې ریس دې پښتون وټاکل شي.

د ساري په توګه د لیکوالو د اتحادیې رئیسان له جوړېدو نه بیا تر سقوطه پورې دغه لاندې کسان وو. چې دیوه ژبنی تړاو هم له پښتو سره نه بلکې ټول غیر پښتانه او زیاتره یې ستمیان وو.

دکتور اسدالله حبیب ، غلام دستگیر پنجشیری ، دکتور اکرم عثمان، اعظم رهنورد زریاب، پویا فاریابی.

شورویانو هڅه کوله چې د پښتني فرهنګ خوځښت بیخي په ټپه ودوري او پښتو په یوه راکده او غیر فعاله ژبه باندې بدله کاندي او د غیر پښتنو رئیسانو لپاره همدغه دنده سپارل شوې وه. ګوندي پښتنو مشرانو یوازې دغه تعهد کړی و چې د مارکسیزم لیننزم په خدمت کې اوسي او د ژبې سوال راپورته کول یو ناسیونالیستي حرکت دی او جرم ګڼل کېږي.

ACKU

## دولسم څپرکی

# تنظیم واکي، د طالبانو اسلامي امارت

# او د فرهنګي بنکیلاک دوام

موږ ددې کتاب د پیل په پاڼو کې په دې مطلب باندې د تاریخي سندونو له مخې رڼا واچوله. چې څنګه پښتون پاچا (اعلیحضرت تیمورشاه دراني) په ۱۷۷۳ م کال کې د پاچا کېدلو سره سم ایراني فرهنګ ته په خپل دربار او د حکومت په سیاسي او مالي اډانه کې ځای ورکړ او ایراني قزلباشانو او شعیه ګانو ته یې مهم دولتي کارونه وسپارل او د لومړي ځل لپاره یې فارسي ژبه د رسمي چار چلونې ژبه وګرځوله.

موږ ولیدل چې څنګه اعلیحضرت تیمورشاه دراني چې د پښتو ژبې ښه شاعر هم و په لوی لاس د خپل غفلت له امله فرهنګي ښکیلاك د افغانانو په واکمنۍ باندې مسلط کړ او افغاني ژبه (پښتون) یې په یوه غیر فعاله او دویمه درجه ژبه بدله کړه او د ژبې دلاري یې غیر پښتانه لړه کې د هېواد په ډېره کې (پښتنو) باندې حاکمان کړل.

هو! غیر پښتانه ځکه حاکمان شول چې ژبه یې حاکمه وه. فارسي ژبه د افغاني ژبې په پرتله د افغانانو لپاره بېخي نوې وه. د حاکمې ژبې فارسي یا پارسي فرهنګ نماینده ګي کوله نه د پښتني فرهنګ. څومره توپیر چې دپارسي او افغاني ژبې ترمنځ پروت دی همدومره توپیر د پښتني او فارسي فرهنګ په منځ کې هم لیدل کېږي په پښتنو باندې دیوې غیر افغاني ژبې حاکمیت ددې سبب شو چې ایرانیان تل

په افغانستان کې دخپل ښکیلاکي جال غوړولو په موخه په همدغه ژبه تکیه وکړي او ځانته دا حق قایل شي چې په افغانستان کې مېشته دري ژبي په ایران پورې وتړي او په خپلو لیکنو کې یې د ایرانیانو په نوم یاد کړي او هم افغانستان یا د افغانانو تاتوبی د ایراني فرهنګ په ساحه کې وشمېري چې سندونه یې په دغه کتاب کې لیدل کېدی شي.

ایراني لیکوالو او مورخانو دفارسي ژبو نه ددفاع په خاطر د افغانستان اصلي او تاریخي اوسېدونکي (پښتانه) په بېلابېلو نومونو یادکړل او په دوی باندې یې ډول ډول تورونه ولګول. دغو مورخانو او محققانو د خپلې ښکیلاکي مفکورې له مخې هېوادپال او په پښتو او پښتونولی مین پښتانه د فاشیزم او پشتونیزم پلویان وګڼل او په لږه کیو قومونو باندې یې ددوی واکمني د زور او جبر د واکمنی په نوم یاد کړل چې دلته ددغه ډول لیکنو یوه کوچنی بېلګه وړاندې کېږي. چې پښتنو ته ددوی په په اړه د ایراني تفکر څرنګوالی ښه معلوم شي.

چنګیز پهلوان د ایران د پوهنتون (دانشګاه) استاد او د" افغانستان عصر مجاهدین و برامدن طالبان" د کتاب لیکونکی دی چې خپل دغه کتاب یې هم قوماندان احمدشاه مسعود ته ډالۍ کړی دی. د خپل کتاب په یوه برخه کې داسې لیکي:

" ساختارقدرت در افغانستان تا ۱۹۹۲ که مجاهدین درکابل به قدرت دست یافتند همواره متکی به یک قوم بوده است. قوم پشتون این موقعیت ویژه که پشتونان توانسته بودند به مدد بر پایی سلطنت خود کسب کنند. موجب شد که نوعی خاص از تفکر که انرا پشتونیزم می نامم در افغانستان شکل بگیرد که اساس ان نوعی برتری قومی است نسبت به اقوام دیگر درین کشور.

افغانستان که ترکیب رنگارنگی از اقوام دارد همواره از این ســـروی یکسویه رنج برده است و خسر انهای بسیارخود هموار ساخته است"

" پشتونیزم سعی داشته شیوه ی فرهنگی زیانباری را به نام وحدت ملی رواج دهد و ارزش یکسان سازی حد اکثر استفاده را به منظور طرد تنـــوع فرهنگی در کشوری که ازین بابت می تواند بـــه خـــود ببـــالد بـــه کـــار بگیرد". (۲۹۰)

ایرانیان په افغانستان کې د یوې ښکیلاکي طریقې څخه په کار اخیستو هڅه کوي چې په هېواد کې مېشته اقلیتونه چې دافغانانو (پښتنو) د ورونو مقام او حیثیت لري او پښتنو یې تل درناوی کړی او په ګډ کور کې ورسره اوسېدلي دي په دغه ډول استعماري لیکنو بې اتفاقی، تربګنی او دښمنی ته راوبولي او جنګ جګړې اختلافونه او تضادونه په کې ژوندي وساتي.

هېڅ افغان په دې نه شي پوهېدلی چې ایرانیانو ته دغه حق چا ورکړی چې د افغانستان کورنیو چارو کې دې لاسوهنه وکړي او دغه ډول له دښمنی ډکې لیکنې دې وکړي پرته له دې چې وویل شي دوی د خپل فرهنګي ښکیلاک دموخې اومقصد په خاطر دې وران کاریو ته لاس اچوي او په دې لاره کې هم له فارسي ژبې استفاده وکړیو په داسې حال کې چې پښتو ژبه د تاریخ په اوږدو کې کوم پردي هېواد د افغانانو خلاف نه ده کارولي او نه په دې ملي ژبه د هېواد د نورو لږه کیو قومونو پر ضد کوم اثر یا کتاب لیکل شوی دی.

اوس به دلته د ایراني لیکوال چنګیز خان پهلوان د استعماري تفکر یوه بله کوچنی بېلګه وړاندې کړو. ترڅو مطلب ښه روښانه شوی وي. دی د ډاکتر نجیب الله د حکومت سقوط د پښتون واکې پای بولي

او د فارسي ژبې حاکمیت ته د استاد رباني د حکومت په وخت کې داسې اشاره کوي:

" بعد از سقوط حکومت نجیب الله و تکشیل دولت اسلامی به رهبری مجاهدین تکلم به زبان فارسی افزایش یافته و مذاکرات دولتی نیز عمدتا به زبان فارسی دری شد" (۲۹۱).

په دې ډول ليدل کېږي چې ایرانیان تل او په هر وخت او زمان کې د خپل فرهنګي ښکیلاك په فکر کې پاتې شوي او په افغانستان کې يې د همدې هدف او مقصد لپاره کار کړی دی. د همدې ښکیلاك د اغیزې له مخې ( رباني مسعود ) د خپل جوړ کړي دولت لپاره ملي سرود په فارسي ژبه او اخواني تفکر جوړ او رسمي کړ.

د ۱۷۷۳م کال نه د پښتون تیمورشاه درانـي د واکمنی پیل بیا د ۱۹۹۲م کال د اپرېل د میاشتې تر ۱۶ نېټې پورې چې ډاکتر نجیب الله احمدزی د افغانستان د موکراتیك ګوند د پرچم د ډلې دیوه پټ سازش له مخې دیوې سپینې کودتا په نتیجه کې له واکمنی وغورځول شو پوره دوه نولس کاله فرهنګي ښکیلاك د پښتنو واکمنو په دربارونو باندې مسلط پاتې شو او پښتنو ونه کړای شول د ښکیلاك له زنځیرونو ځخه خان خلاص کړي.

په ۱۹۱۹م کال چې کله افغان ولس برتانیه ددرېیم ځل لپاره له ماتې سره مخامخ کړه او اعلحضرت امان الله خان غازي د افغانستان بشپړ خپلواکي اعلان کړه نو ددغه پښتون واکمن په دربار کې ( میرزا سید مهدي فرخ) نومې د ایران لوی سفیر و او همدې ایراني د افغان ولس او امیر امان الله خان پر ضد لیکلی کتاب " تاریخ سیاسی افغانستان " په ایران کې چاپ او خپور کړ(۱۳۱۴ل) او دغه د غرض نه

دك اثر (۶۶) كاله وروسته د هزاره شعيه حزب وحدت د فرهنګي كميتې په هڅو په ايران كې يوځل بيا چاپ او خپور شو

دمهدي فرخ په تاريخ كې د افغانانو په اړه ډېره ژوره كينه پرته ده. فرخ يوازې پښتانه افغانان بولي نه هزاره ګان او تاجكان او نور چې دغه لړۍ ان د ايراني اخوندزادانو د حكومت تر وخته پورې راورسېده او د ايران د بهرنيو چارو په وزارت كې د ( دفتر مطالعات سياسى و بين المللى ) هم د افغانستان د كتيو پرضد د اثارو په خپرولو پيل وكړ او دغه اثار ټول په افغانستان كې د فرهنګي ښيكيلاك نه په كلكه دفاع كوي او د افغانستان د ننه غير پښتانه اقليتونه د پښتنو پر خلاف راپاروي

پښتنو واكمنو له اعليحضرت تيمورشاه څخه نيولې تر ډاكټر نجيب الله پورې د فرهنګي ښكيلاك مسلې ته جدي پاملرنه ونه كړه او د محمدنادرخان. محمدظاهرخان او محمدداودخان په واكمنيو كې د پښتو ژبې د حاكميت او دفرهنګي ښكيلاك د پاى ته رسولو لپاره د افغانستان د ولسي جرګې د پښتنو استازو او ددې نه مخكې د وزير محمدګل خان موند او ملګرو د مبارزو ملاتړ ونه شو او د وخت دربارونو د خپل كمزوري سياست له مخې ددې مسلې د حل جرئت ونه كړ

ماركسيستي رژيم دې مسلې ته د پښتنو د ناسوناليزم د بيا راژوندي كولو نوم وركړ او هغه يې محكومه وګڼله او د نجيب الله د رژيم تر ړنګېدو وروسته چې پروفيسر برهان الدين رباني او قوماندان احمدشاه مسعود واكمنۍ ته ورسېدل. نه يوازې د پښتنو دواكمنۍ د پاى ته رسېدلو اعلانونه وشول بلكې د پښتو ژبې خو هډو نوم اخيستل هم منع كړى شول

تنظیم واکي په اصولي توګه د ۱۹۹۲م کال څخه چې استاد رباني په قدرت کېناست پیل شوه او د افغانستان په مظلوم او کړېدلي او برباد شوي ولس باندې محشر راښکته شو. بې ناموسي، لوټماري، د ښځو او پېغلو تښتول، د خلکو وژل، بندي کول، شکنجه او عذاب د ورځې یوه عادي او معمولي خبره وګرځېده او د انسانیت او افغانیت جنازه له دې خارووې څخه پورته شوه.

ایراني چنګیز پهلوان د ۱۹۹۲م کال د افغانستان د نوي اسلامي دولت (د پروفیسر برهان الدین رباني په مشرتوب) نوی مبداء شمېري او دې ته د مجاهدینو د دولت نوم ورکوي، لیکن زیات کورني او بهرني محققین او دسیاسي، تاریخي مسایلو څېړونکي د استاد رباني دولت په ګڼ شمېر دلایلو او سندونو دمجاهدینو ددولت په نوم نه پېژني، ځکه چې په دې دولت کې له یوې خوا د مقاومت تولې ډلې چې دسرو لښکرو پر ضد جنګېدلي وو ګډون نه درلود او له بلې خوا د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند زیات جنرالان چې د افغانستان خلکو روسي ګوډاګیان بلل او د محاکمې په انتظار کې وو د استاد رباني ددولت په ترکیب کې موجود وو.

دغه پرچمي جنرالان، پرچمي ستر جنرال نبي عظیمي په خپل کتاب " اردو وسیاست" کې په لاندې ډول ذکر کړي دي:

"جنرال مجید روزي، جنرال مومن، جنرال بابه جانو جنرال حسام الدین، جنرال لطیف، جنرال امیر محمد، جنرال حلیم، جنرال رباني د کابل د ګارنیزیون د امنیت امر، جنرال فهیم، جنرال همایون، جنرال اصف دلاور، سیداعظم سعید، جنرال فتاح، داود عزیزي، ډګروال ولي د کابل د ګارنیزیون د پېژند امر او داسې نور..."

همدغه پرچمي جنرال نبي عظیمي ددې خبرې یادونه هم کړې ده، چې دقوماندان احمدشاه مسعود او پروفیسر رباني د موافقې له مخې

د افغانستان د خلق دموکراتیك گوند لاندیني مشران صحیح سلامت د افغانستان څخه ووېستی شول. چې ټول ورځ ټول په اروپا، امریکه، کاناډا او استرالیا کې ژوند کوي.

عبدالوکیل دبهرنیو چارو وزیر، نوراحمدنور، فرید مزدك، یارمحمد، نجم الدین کاویاني، جنرال رفیع، سلیمان لایق، قدوس غوربندي، بارق شفیعي، صالح محمدصالح زیری، محمداسلم وطنجار، پکتین، سلطان علی کشتمند، کریم مشتاق، محمود بریالی او نور...

ښاغلي نبي عظیمي عقیده ښکاره کړې چې د استاد رباني په دولت کې ټول غړي فارسي ژبي وو او پښتون استاد عبدالرب رسول سیاف ددغه حالت سره موافق نه بلکې ډېر خواشینی و، دی وایي:

" پروفیسر سیاف از ترکیب دولت جدید حضور گسترده فارسی زبان ها در کابل و نقش بسیار گسترده جمعیتی ها دردولت موقت که به هرحال فارسی زبان هستند ناخورسند است. به همین دلیل فقط یکبار قدم به داخل ارگ گذاشته و از انجا به کوه ودره پغمان پناه برده است. و گاه گاه دولت موقت را تهدید می کند که این مساله خود مایه نگرانی اعضای دولت موقت که فارسی زبان هستند فراهم مینماید به ویژه انهای که از پستان دولت موقت شیر بیشتری می دوشد". (۲۹۲)

ده چې په خپل کتاب کې د ایرانیانو په څېر پښتنانه رټلي او کنځلي دي له ډاکټر نجیب الله نه نیولی تر سلیمان لایق پورې تر ممکن حده پورې توهین او سپك کړي دي او په عین حال کې په ډېر جرئت سره دنجیب الله خلاف دقوماندان احمدشاه مسعود سره دخپلې وفاداری او همکاری یادونه داسې کوي:

" احمدشاه مسعود درچاریکار بود، درهمان روز برای اولین بار با من تماس گرفت و موفقیت های بدست امده را برایم تبریک گفت. از مسعود پرسیدم که چه وقت وارد کابل می شوید؟

او گفت: هنوز راه بند است و اما مذاکره با انجنیر گلبدین حکمتیار دوام دارد. او قوت های خود را به دو قول تقسیم کرد وسعی نمود با فریب دادن طرف مقابل از طریقی سرک سابقه وارد کابل شود. سوق و اداره عمومی هنوز بدست من بود" (۲۹۳)

کمونست غیر پښتون جنرال عظیمي دا وخت د کابل د ګارنیزیون لوی قوماندان و چې په دغه څوکۍ باندې ډاکټر نجیب الله کینولی و او چې اوس موقع په لاس ورغلې وه نو د همغه قبر یې کیندلو.

دغه سندونه ددې حقیقت ثبوت وړاندې کوي چې دقوماندان احمدشاه مسعود په واکمن کولو کې پرچمي جنرالانو ستر رول لوبولی او همدغه جنرالان د طالبانو د اسلامي غورځنګ سره د (مسعود ـ رباني) د ځواکونو د مقابلې په دوران کې هم د استاد رباني ـ مسعود په ګټه د طالب ځواکونو پرضد جنګېدل او لړۍ یې لا روانه ده. له دې سره سره استاد رباني له روس او هند ـ ایران او نورو څخه هم مرستې تر لاسه کړي چې د طالب غورځنګ خلاف جګړې ته دوام ورکړي پرته له دې چې د افغانستان په مسلمان ولس باندې زړه وسوزوي.

په دې اړوند په امریکه کې خپرېدونکې اوونیزې "کاروان" د رباني د حکومت په هکله ولیکل:

" مردم حکومت فعلی استاد ربانی را حکومت جنگ وجدال وویرانی وهم پیمانی روس و هند میدانند که نفت و سلاحش را از روس وپولش را در روسی چاپ می کند تا اینکه یک حکومت سازنده و با برنامه های ابادانی و عمران باشد، ومیگویند که این حکومت عاشق ومجنون قدرت و

چوکی است و دوره ان بدترین دوره فتور اجتماعی افغانســتان بـــه شـــمار خواهد امد وعوض محاکمه کمونیست های ادم کش به همه شان امان داد و کلیه امکانات مسافرت به خارج و توطیه بعدی را بر ضد سلامت جامعه مان بانها هموار ساخت" .(۲۹۴)

ددغسې یو نامنلي او په افغاني ټولنه کې د بدنام شوي حکومت دروازې لکه نبي عظیمي چې لیکلي دي د پښتنو پر مخ وتړلې شوې او پښتو ژبه ددغه حکومت له خوا منسوخه او له چلنده لوېدلې ژبه وګڼل شوه. د هغو روسانو سره دوستي ټینګه شوه چې د هغوی پر خلاف جهاد شوی و او نږدې دوه ملیونه افغانان په هغه جهاد کې شهیدان شوي وو لیکن د پروفیسر رباني او ملګرو لپاره یې د غو شهیدانو او روسي دهریانو نادودو هیڅ ارزښت او اهمیت پیدا نه کړ. بلکې دخپلې واکمنۍ ټینګښت یې له بل هرڅه پورته شمېرلو له همدې امله کورنیان او بهرنیان د استاد رباني تنظیم واکي د مجاهدینو دولت او حکومت نه بولي. مجاهدین په خپله دغه حکمت د افغانانو دسپېڅلي جهاد بدنامونکي ګڼي

پروفیسر رباني یوازې د ارګ په رنګو شویو دیوالونو کې پاتې شو. جنرال دوستم چې صبغت الله مجددي ورته په خپل دوه میاشتني جمهوریت کې د خالد بن ولید لقب ورکړی و دڅان لپاره په مزارشریف کې پاچاهي جوړه کړې وه او استاد رباني یې په رسمیت نه پېژندلو لیکن داسې ښکارېدو لکه چې د پښتنو سره د ضدیت ښودلو څخه ډډه کوي. څکه چې د جنبش ملي اسلامي په رسمي نشراتي ارګان ( نشریه مرکز فرهنګي جنبش ملي اسلامي جنرال دوستم) کې دپښتنو په اړه ډېر ښه نظر ښکاره شوی و. چې دلته یې د بېلګې په ډول څو کرښې را اخلو:

".. دا یو تاریخي حقیقت دی چې پښتانه په افغانستان کې یو پیاوړی او له برم نه ډك ملیت دی، د وطن نه په دفاع کې او د باندني د ښمنانو د تجاوز په مقابل کې د وطن د سرحدونو په ساتنه کې د پښتنو ورونو حماسې په تاریخ کې نه هېرېدونکي دي" (۲۹۵)

د فکرمندۍ خبره داده چې پروفیسر رباني دیوه عالم په توګه دغه تاریخ انکار نه کېدونکي حقیقت چې پښتانه تل د افغانستان د برخلیك پورې تړلي پاتې شوي دي او هېڅ قدرت دوی له دغه برخلیك څخه نه شي جلا کولی له یاده ویستلی و لیکن رشید دوستم دیوه پوخي په توګه دغه حقیقت په یاد کې ساتلی و او اجازه یې ورکړې و چې دملي اسلامي غورځنګ په خپرونه کې دغه ډول مطالب خپاره شي.

ځینې خلك د پښتو ژبې او پښتون قام سره د استاد رباني او قوماندان مسعود ضدیت ددوی، سیاسي خطا او تېروتنه ګڼي، چې پایله یې هم د هغوی لپاره ډېره ترخه او خطرناکه ثابته شوه، کله چې پروفیسر رباني او د کابینې یا حکومت غړو یې په پښتو ویناګانو لاس پورې کړ، هغه وخت ډېر ناوخته شوی او اوبه له ورخه تېرې شوې وې، پښتانه طالبان قدرت ته رسیدلي وو او استاد رباني په افغانستان کې د ناستې ولاړې ځای هم لاسه ورکړی و او کله په سمه او کله په ناسمه کې یې شپې سبا کولې.

هېڅوك نه شي پوهېدلی چې دا خبره کوم مصلحت وبولي که مجبوریت چې د استاد رباني ژبه دلومړي ځل لپاره په پښتو وګرځېده او په ماتې ګوډې پښتو یې د امریکې غږ او بي بي سي راډیو ګانو سره په پښتو ژبه مرکې وکړې او چې هر څومره یې د تنظیم واکې عمر لنډېده هومره استاد رباني پښتو ویلو ته زور ورکړ او خپله پښتو یې هم لږه لږه سمه کړه او له پښتو ژبې سره یې علاقه ښکاره کړه.

یقیني ده چې پروفیسر رباني خپلو نږدې همکارانو ته هم لارښودنه وکړه چې باید پښتو ووایي ځکه خو محمدیونس قانوني، دکتور عبدالله، دکتور روان فرهادي، په لندن کې د رباني دحکومت سفیر ولي مسعود (د قوماندان مسعود ورور) او نورو په پښتو خبرې او مرکې پیل کړې.

د هندوستان په پلازمېنه ډهلي کې د پروفیسر رباني د حکومت استازی او د قوماندان احمدشاه مسعود ډېر نږدې دوست او ملګری سفیر (مسعود خلیلي) په خپل نشراتي ارګان (میزان) کې هم پښتو برخې ته ځای ورکړ او ان د استاد رباني د پښتو پیغام یوه برخه یې د اخبار په لومړي مخ کې چاپ کړه چې په هغه کې راغلي وو:

"باور لرم چې د هېواد مېړنیو بچیانو او اتلو لورانو په همت به د ملت پاڅون د تلپاتې حماسي روښانه پلوشې چې سر یې د اتمې کالیزې لمانځنه کوو د تل لپاره ځلانده وساتو او ددښمنانو هر ډول توطئو ته چې په هره بڼه ځان ځرګند کړي، ناکامي او ماتې ورکړو. د افغانستان د جمهور رئیس له پیغام څخه" (۲۹۶).

په رښتیا هم چې دپښتو لپاره ډېره عجیبه ښکارېدله چې څنګه د پروفیسر رباني په تنظیم واکې کې منسوخه شوې او له رسمیت نه غورځول شوې پښتو ژبې ناڅاپه دومره ارزښت او اهمیت وموند چې په خپله تش په نوم جمهور رئیس په پښتو ژبه مرکې وکړې او د ملت په نوم یې پیغام خپور کړ. یا د رباني د سفارت ارګان (میزان) په خپله لمنه کې پښتو مضامینو او شعرونو ته ځای ورکړي.

اعلیحضرت محمدظاهر شاه (تولواك) د خپل سلطنت په څلوېښتو کلونو کې دومره پښتو نه وه ویلې چې استاد رباني په څلوېښتو ورځو کې وویله او خپل پیغام یې هم پښتو ورکړ. که چېرته دا سیاسي مجبوریت و نو دغسې مجبوریتونه خو محمدظاهرخان او

محمد داود خان ته هم پېښېدل، خو ژبه يې په پښتو ونه خوځېده که څه هم د پښتون قام سره يې تړاو درلود.

ښايي د استاد رباني او ددوی د کاري دلې په عقيده دا يو نوی سياسي تاکتيك و چې پښتو ژبه خپل هدف او مقصد ته د رسېدلو لپاره وسيله وګرځوي او پښتو ويناګانې او مرکې وسيله وه نه غايه او مقصد. ليکن دې حرکت غه حقيقت هم په ثبوت ورسولو چې پښتون قام او پښتو ژبه څوك د سياست له سمندر په څپو کې نه شي لاهو کولی، ددې خبرې رښتينولي ډېره ژر څرګنده شوه چې د جمعيت اسلامي غړو او پروفيسر رباني پښتو ژبه د خپلو سياسي موخو لپاره په کار راوستله چې يوه کوچنۍ بېلګه يې دلته وړاندې کوو:

په ډهلي کې د استاد رباني سفير د فارسي ژبې د وتلي شاعر استاد خليل الله خليلي زوی مسعود خليلي و. چې په ډهلي او نورو ښارونو کې په زرګونو مېشتو پښتنو د نوموړي سفير ستمي سلوك او پښتني ضد کړنې ليدلې وې اوله هغه څخه يې زيات شکايتونه درلودل. د اورېدو خبره ده چې پښتنو څو وارې د استاد رباني دغه سفير د ټيليفون او ليکونو له لارې تهديد کړی هم و. کله چې په ۱۹۹۷م کال کې سفارت خپل نشراتي ارګان (ميزان) خپور کړ نو وار له واره د اخبار لپاره د پښتو ژبې د قلمي همکارانو په لټه کې شو.

ميزان هڅه وکړه چې د پښتو مقالو او شعرونو له لارې د هغو ښارونو پښتانه راضي وساتي او په پښتو ژبه د خپل هدف او مقصد لپاره کار وکړي او هغه مهال چې د پروفيسر استاد رباني حکومت يا تنظيم واکي د طالبانو د اسلامي غورځنګ په لاس را نسکوره شوه نو د همدې اخبار له لارې د طالبانو خلاف بې کچه تبليغ پيل شو. چې اکثره دغه تبليغي مطالب په پښتو وو.

د سفارت نشراتي ارګان (میزان) په همدغه لړ کې یو مضمون خپور کړ چې سرخط یې و : "طالبان د پښتنو استازي نه دي" (۲۹۷)
په دې ډول ددغه حقیقت له مخ نه د شك ګردونه لرې شول چې استاد رباني او ډله یې دیوې ځانګړې موخې لپاره پښتو ژبه رامخکې کړې وه، نه دا چې دې ژبې ته په کوم حق قایل شوي وو او یا یې ورسره صادقانه مینه پیدا شوې و، د سیاسي څېړونکو په وینا د پروفیسر رباني او ملګرو ستره تېروتنه داوه چې قدرت ته د رسېدلو په لومړي وخت کې یې د پښتون قام او پښتو ژبې سره ضدیت او حساسیت ښکاره کړ، چې د طالبانو د اسلامي غورځنګ د پیدا ښت او پوځي بریاو سره دغه ضدیت لاپسې زیات او په یو ړوند تعصب بدل شوچې په دې تېروتنې سره د رباني او شریکانو ستونزې څو چنده ډېرې شوې.
د استاد رباني په تنظیم واکې کې خو پښتو ژبه تش د سیاست په ډګر کې په کار راوستل شوه لیکن د پښتنو سره د نږدېوالي صادقانه هڅې ونه لیدل شوې، استاد رباني دښمنه او تباه کاره روسه خپله دوسته وګڼله خو د افغاني طالب غورځنګ سره یې ددښمنۍ لاره غوره کړه او دا په حقیقت کې د افغانستان د کورنۍ جګړې د اوږدېدلو او د ملیونونو افغانانو د بربادۍ او بې کوره کېدلو سبب وګرځېد.
پروفیسر رباني څه کم پنځه کاله په خونړیو جګړو، سیاسي تېروتنو او قومي تعصب تېر کړل، چې ددهري روسیې سره دوستۍ دده د اسلامي او افغاني شخصیت او هویت ته سخت زیان ورسولو او ددوی په نسبت یې د افغانانو کرکه لازیاته کړه. هېچا د استاد رباني څخه ددغه ډول غلطۍ انتظار نه درلود.
د پرچمي جنرالانو سره د استاد رباني او احمدشاه مسعود نږدې دوستانه اړیکي او په هغوی اعتبار که په پوځي ډګر کې د رباني ـ مسعود په ګټه تمامې شوې وې، په سیاسي او ټولنیز ډګر کې د هغوی

د بدنامی او رسوایی وسیله هم شوې او د جهادي قوتونو بې باوري يې منځته راوړه.

کله چې درباني د تنظیم واکی له خوا د پښتنو ددرې سوه کلنې واکمنی دپای ته رسېدو غږ پورته شو نو دغه غږ یوازې دچهاريکار ولس واورېد لیکن غبرګون يې په پښتنو باندې ډېر ناوړه اثر وغورځولو او داسې فکر وشو چې ددې موخې د بریالي کېدو په صورت کې دفرهنګي ښکیلاك جرړې نورې هم مضبوطېږي، ځکه خو د افغانستان د ننه او بهر پښتنو د هغه پر ضد کار پیل کړ، د کډوالو په جلا وطن خپرونو کې د استاد رباني او قوماندان احمدشاه مسعود خلاف نیکونو زور ومونـد او ددې حرکت پرضد د پښتـون روڼ اندو او هېوادپالو په صفونو کې ډېر کلك وحدت او يووالی رامنځته شو.

هغو کسانو یا ډلو ټپلو چې دپښتنو او پښتو ژبې د همیشني زوال خوب لیدلی و رښتیا نه شو اوفرهنګي ښکیلاك په نوي بڼه سا ویستلو ته پرې نښودل شو. استاد رباني د طالبانو د اسلامي غورځنګ پر وړاندې پرله پسې ماتې وخوړه او په داسې حال کې چې ځان يې لاد افغانستان دولسمشر یا جمهور رئیس په توګه پېژندلو په بدخشان کې خپل ابايي کور کلي ته ورستون شو، ځکه چې د هېواد غټه برخه يانې له څلورو نه درې برخې د افغانستان د اسلامي امارت د ځواکونوترد کنترول او قابو لاندې راغلې وې.

دغه اسلامي غورځنګ په ۱۹۹۴م کال کې منځته راغی او په لنډ وخت کې يې د افغانستان دخاورې په سلو کې ۹۵ برخه تر خپلې ولکې لاندې راوستله او افغانستان يې ديو اسلامي امارت په توګه اعلان کړ. د اساسي قانون پر ځای يې شرعي قانون د دولتي او ملي چارو د سرته رسولو ذریعه وګرځوله، د شرعي اصولو په تطبیق کې يې سخت دریځ غوره کړ. له همدې امله لویدیځې نړۍ او کورنیو مخالفانو د بنست

پالو په نوم یاد کړل او د مدنیت او فرهنګي او اقتصادي پرمختګ کلك مخالف یې وګڼل

طالب اسلامي غورځنګ د جهاد د دورې د اوه ګونو او نهه ګونو تنظیمونو پورې نړلي قوماندانان او تش په نامه امیران یو پر بل پسې له ماتې او ناکامۍ سره مخ کړل او له سیمو څخه یې وشړل. د ازبك ملیشې وتلی قوماندان جنرال عبدالرشید دوستم څخه نیولې د هزاره و دحزب وحدت اسلامي او له هغه نه بیا د پروفیسر رباني د جمیعت اسلامي د احمدشاه مسعود او قوماندان اسماعیل خان او نورو پورې تړل له خواکمنۍ څخه وغورځول اوپه دې ډول یې په هېواد کې د قوماندانانو حاکمیت پای ته ورسولو او د هېواد یو له بله شلېدلې سیمې بېرته سره یوځای کړې.

د طالبانو د اسلامي غورځنګ دغه له تصور نه پورته سوبې او بریاوې د نړیوالو په ذهن کې د ډول ډول پوښتنو راپیداکولو موجب شوې و، خینو کسانو ته دغه سودا راپیدا شوه چې دا نوی خواکمن غورځنګ چې په هېواد کې یې د وسلو ټولولو حیرانوونکی کار سرته ورسولو په ناڅاپي ډول له کومه راپیدا شو. د سرولښکرو سره دافغانانو د جهاد په دوره کې چېرې و او مشرتوب یې د چا پر غاړه و. کوم کوم وتلي قوماندانان یې درلودل پرمختللو وسلو استعمال یې څنګه زده کړی و؟

دغه ډول په لسګونو نورې پوښتنې وې چې ځواب یې په اسانۍ سره نه شو موندل کېدی لیکن هغه کتابونه او کن شمېر اثار چې بهرنیانو د طالبانو د اسلامي غورځنګ په هکله چاپ او خپاره کړل. هغو ټولو پوښتنو ته ځواب وویل شو چې دخلکو او په تېره بیا ددغه غورځنګ د مخالفانو په ذهن او فکر کې پرتې وې او خینو ته یې موږ

لنډه اشاره وکړه. د هغو کتابونو له جملې نه چې ما کتلي دي یو څو دلته ذکر کوم:

1: INTERPRETIN THE TALIBAN_ by WILLIAM MALEY.

2: HOW THE TALIBAN BECAME AMILITARY FORCE. By ANTONY DAVIS.

3: PAKISTAN AND THE TALIBAN by AHMAD RASHID.

4: THE UNITED STATES AND RIEHARD MAEKENZIE.

5: RUSSIA, CENTRAL ASIA AND THE TALIBAN by ANTONY HYMAN.

6: AFGHAN WOMEN UNDER THE TALIBAN by NANEY HATEN DUPRE.

7: THE TALIBAN AND THE FUTURE OF POLITICAL ISLAM IN AFGHANISTAN by OLIVIER ROY.

8: THE TALIBAN by PETER MARSDEN.

په دې کې د طالبانو د اسلامي غورځنګ په اړوند دمقالو هغه ټولګه هم شته چې هغه ویلیام مالي راغونډه کړي دي. سربېره پر دې په عربي ژبه کې هم ځینې کتابونه او اثار د طالبانو په اړه لیکلي شوې دي چې یوټوك یې مولوی حفیظ الله حقاني د " افغانستان طالبان" تر سرلیك لاندې لیکلی دی. چې په اسلامي اباد کې د (سیاسي مطالعاتو د انستیتیوت د عربي څانګې) له خوا په ۱۹۹۷م کال کې چاپ او خپور شوی دی او په دري فارسي باندې هم ژباړل شوی او خپور شوی دی.

په دې کتاب کې د طالبانو د اسلامي غورځنګ د ټولو مشرانو او برجسته غړو د ژوندلیکونو او په دې اړه چې د سرولښکرو پر ضد جهاد کې یې څومره برخه اخیستې او د چا سترګې، پښې لاسونه او د بدن نور غړي د شوروي یرغل سره په جګړه کې زیانمن شوي او یا بیخي له منځه تللي دي. مطالب لیدل کېږي او ددوی اسلامي موخې او مقصدونه په کې کښل شوي دي او هم په کې ټولو پوښتنو ته ځوابونه موندل کېدای شي.

لاندې له همدې کتاب نه يو څوکربښې را اخلو ترڅو په اړوند مسـله باندې زياته رڼا اچول شوې وي:

" اشنايي با جنبش طالبان: نام : طالبان حرکت خودرا" جنبش حرکـت" اسلامي مدارس دينی" می نامند.

پرچم : رنگ سفيد درد که در بالای ان کلمه توحيــــد" لااللــه الاالله محمدرسول الله" نقش شده است.

اهداف: هنگامی که طالبان حرکت خود را از کناره های قندهار اغـاز کردند برمنطقه سپين بولدک مسلط شدند، عبدالمنان نيازی سخنگويی رسـمی جنبش په تاريخ ۹۴/۱۱/۳ در مصاحبه با بی بی سی اعلام کرد که هـدف انان عبارت است از:

اعاده امنيت وثبات، جمع اوری اسلحه ازهمه اطــــراف و احـزاب، برداشتن مراکز اخازی و باجگيری از راه های عمومی که موجب چپـاول و غارت اموال مردم و تجاوز برناموس و عزت انان شده است، در ان زمـان جنبش فکر نه ميکرد که کار انان به جای برسد که حکومت افغانستان را به دست بگيرند.

زمانی که انان تعدادی از ولايات را فتح کردند وبه مناطق مشرف بـر کابل رسيدند، هدف انان هم تحول پيدا کرد و برقراری حکومت اسلامی را هدف حود قراردادند. اين چيزی است که ملا محمدعمر درسخنان خود بـا علماء در قندهار بتاريخ ۹٦/۴/۴ بيان کرد. وی گفت: " ما ميخواهيم ديـن خدا را در زمين اوپياده کنيم و برای کلمة الله خدمت نمايم و احکام شـرعی و حدود خداوند را اجرا کنيم" (۲۹۸).

دهغو لیکنو او اثارو په رڼا کې چې بهرنیان د طالبانو د اسلامي غورځنګ په اړه چاپ او خپاره کړي دي دوه ټکي زیات د پاملرنې وړ ښودل شوي او هغه دوه ټکي دا دي:

الف : د طالبانو اسلامي غورځنګ د افغانستان دننه زېږېدلی او خالص افغاني هویت لري.

ب : په دې غورځنګ کې ډېره کیان پښتانه او لږه کیان نور واړه قومونه دي چې له پخوا نه په افغانستان کې له افغانانو سره ګډ ژوند کوي. په دې ډول د طالبانو اسلامي غورځنګ په ترکیب کې هم پښتانه او غیر پښتانه لکه هزاره، تاجك، ازبك، ترکمن او نور لیدل کېږي خو د پښتنو شمېره په کې تر ټولو زیاته ده.

دا خبره چې د نوموړي غورځنګ پیدایښت د پښتنو په سیمه کې شوی دی. ددې سبب شوی چې پښتانه د غورځنګ په رهبرۍ کې ځای ولري او نور لږه کیان هریو په خپل خپل مقام کې پاتې شي. په لیکل شویو اثارو کې د طالب غورځنګ په افغاني هویت باندې پوره ټینګار شوی دی او ددوی د ابهام مسله یې حل کړې ده، سربېره پر دې د امریکې حکومت او کانګرس مینانو طالبان په پښتنو پورې وتړل او ددوی اسلامي غورځنګ یې د پښتني ټولنې څخه راوتلی غورځنګ وباله. مولوی حفیظ الله حقاني په " طالبان افغانستان " کې وایي چې:

" بدون شک پشتونها در جنبش طالبان اکثریت را تشکیل می دهند".

ددغو واقعیتونو په رڼا کې وینو چې تاریخ یو ځل بیا تکرار شو او د افغانانو واکمني بېرته د افغانانو په لاس کې پاتې شوه او پښتانه یوځل بیا د تاریخ ازمېښت سره مخامخ شول. دغه تاریخي ازمېښت د افغانستان د سیاسي بریدونو ساتنه او د افغانستان د خپلواکۍ او استقلال خوند کول دي. دغه درونډ کار د طالبانو مشرانو ته په غاړه لویدلی چې د ستونزو په تویاني څپو کې دغه بېړۍ صحیح سلامت

وچې ته ورسوي په داسې حال کې چې وخت او زمان د واکمنی شرایط په پرتله زیات گران کړي دي او پښتانه طالبان د مدرن او عصري سیاست له اصول سره هېڅ اشنایي نه لري او نړی اوس د پرون ورځې نړۍ هم نه ده. په هر څه کې بدلون راغلی او انسانان د هسك مورګو ته ور ختلي دي

# د طالبانو په اسلامي امارت کې

# دپښتو ژبې او فرهنګ مسئله

لومړی بـاید دا خبره پـه یـاد کـې وساتل شـي چـې د طالبـانو د اسلامي غورځنګ د مشر ملامحمدعمر لـه خوا اعـلان شوی امـارت د افغانستان په کړکیچ کې لومړنی امـارت نـه دی، بلکې حقیقت دادی چې دامارت لړۍ په دې هېواد کې ښایسته اوږد تاریخ لـري چې دلتـه یې په لنډیز سره یادونه کېږي:

د امیر دوست محمدخان امـارت. د امیر شیرعلیخان امـارت، د امیرمحمدافضل خان امارت. د امیرمحمداعظم خان امارت، د امیر محمدیعقوب خان امارت، د امیر عبدالرحمن خـان امـارت. د امیر حبیب الله خان امارت. د امیرامـان الله خـان امـارت چـې وروسـته پـه پاچاهۍ واوړول شو

دغو ذکر شویو امیرانو د اعلیحضرت امان الله خان غـازي څخـه پرته نورو ټولو اوږدې ړیرې درلودلې او ان چې شاه شجاع سدوزی هم دوه لویشتې ږیره لرله ددغو امارتونو لامل دا ښودلی شوی دی چې د افغانستـان مسلمان ولس د اسلام دسپېڅلي دین د پـاك زړو پیروانو پـه توګه دا غوره ګنلې وه چې د خپل هېواد سیاسي حکومتي سیستم د اسلام لـه نوم سره تړلی وسـاتي او د نـورې نړۍ د سیاسـي حکومتـي نظامونو سره یـې برید نـه وي غـوټه شـوې، څکـه خـو هـر واکمـن دا مجبورت درلـود چې د افغـان ولـس دغـه انګیرنـه پـه پـام کـې وسـاتي او امیران د ږیرې پـه پرېښودلو خپل ولس تـه د اسلامیت ثبوت ورکړي

امیر حبیب الله خان شهید لومړنی واکمن و چې د وخت او زمان له شرایطو سره سم یې په ډیره کې اصلاحات راوستل او خپله ډیره یې په مدرن طریقه جوړه او اصلاح کړه. په داسې حال کې چې پلار یې امیر عبدالرحمن خان دهمغه پخوانی طریقې پیروي کړې وه.

داعلیحضرت امان الله خان نه وروسته اعلیحضرت محمدنادرخان بېرته د ډیرې سنت پر ځای کړ. خو زلمي محمدظاهرخان ډیره نه لرله په هر حال د امارت مسله د افغانستان د خلکو لپاره نوې نه وه او له تاریخ جریان څخه یې ټول خبر وو. د طالب غورځنګ د شریعت په قانون کې ځینې نورې ځانګړتیاوې وې چې د خلکو په فکر د عصر او وخت دغوښتنو سره په تضاد کې وې او د هغو تطبیق هم د اسلامي امارت او هم د افغانستان د ولس (نارینه او ښځو) لپاره غټې ستونزې رامنځته کولې او ان چې د طالبانو د اسلامي غورځنګ پر وړاندې یې بین المللي ستونزې هم را پیدا کړې وې. چې یوه یې د نړۍ د سترو طاقتونو او پرمختللو هېوادونو له خوا د افغانستان د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل او له سیاسي اقتصادي پلوه د نوي جوړ شوي اسلامي امارت تجرید یا ګوښه کول وو.

په ۱۹۹۴م کال کې چې د طالبانو د اسلامي غورځنګ دپیداینښت کال دی د خپلو سوبو د لړۍ د پیل کېدلو په وخت نوموړي غورځنګ اعلان وکړ چې دوی نه کوم سیاسي ګوند یا تنظیم دي او نه د سیاسي موخې او مقصد لپاره مبارزه کوي. خو کله چې واکمنۍ ته ورسېدل او د اسلامي امارت جوړول یې اعلام کړل نو څرګنده شوه چې اسلامي طلبه کرام هم د سیاست او حکومت چلولو شوق لري او ددین او سیاست ترمنځه پیوستون غواړي لیکن دا کار په شلمه او یوویشتمه پېړۍ کې دومره اسان نه و لکه چې یې فکر کېدلو.

طالبانو په داسې هېواد کې خپله واکمني اعلان کړه چې د شورويانو او کمونستانو سره د جهاد او د هغه نه وروسته د جهادي تنظيمونو د قدرت طلبۍ په جګړو کې ګنډواله شوې او تباه شوی و، د پښتنو د واکمنۍ په پېړيو کې جوړ شوې او په خپلو پښو درېدلی افغانستان د قدرت غوښتونکو د ليونتوب په نتيجه کې د بشپړې نابودۍ په مورګه درول شوې او د مطلقې تجزيې او توکړې کېدلو حالت ته رسول شوی و.

افغان ولس ديوه تباه شوي اقتصاد، له منځه تللې پوهنې، سوکړه شوې کرهنې او رنګ شوي فرهنګ په وچه غونډۍ باندې ولاړ پاتې و او د يوه پوه او مدبر ژغورونکي لار يې څارله چې خښتن تعالی به کله پر دوی رحم وکړي او داسې طبيب به ورته ور ولېږي چې ددوی په ټپونو باندې ملهم کېدې او د ستونزو په سمندر کې يې له ډوبېدو بچ کړي.

د طالبانو د اسلامي غورځنګ د راپورته کېدو په وخت داسې وښودله چې يوازې د ظالمانو او لوټمارو د له منځه وړلو او د هېواد د ابادۍ او د ولس د سوکالۍ په مقصد يې پاڅون کړی دی له همدې امله ولس هم د هغو هرکلی وکړ او شاته يې ودرېدل ظلم، لوټمارۍ او بې ناموسۍ له منځه يوړل شوه ليکن د علم او فرهنګ، اقتصاد او زراعت، ښوونې او روزنې ډګرونه بې نوره او بې روښنايۍ پاتې شوې او د طالبانو اسلامي غورځنګ د سياسي تېروتنو او دښلمي ـ يوويشتمې پېړۍ د غوښتنو او اړتياو د نه پېژندلو په نتيجه کې ولس د نويو ستونزو ، دردونو او کړاوونو په سمندر کې لاهو شو. نړيوالو ددې ولس سره چې ستر شوروي اتحاد يې راپرزولی و د مرستو نه لاس واخيست او د طالبانو سره ددښمنۍ په تړس کې يې د افغانستان د خلکو د کړولو او زورولو کار ته مخه کړه.

ددغو ستونزو دمقابلې لپاره طالبانو په زړګونو پوهو او تجربه کارو افغانانو د همکاريو او مرستو لاسته راوړلو لاره هواره نه کړه او په خپلو اصولو کې يې د وخت او زمان له غوښتنو سره سم بدلون رانه وست او نه يې د وخت او زمان عنصر ته کوم ارزښت ورکړ.

د اسلامي امارت مشرانو د کورنۍ جګړې دپای ته رسولو په کار کې لازمه هوښيارتيا ښکاره نه کړه او خپل منجمد سياست يې په خوځنده او متحرك سياست بدل نه کړ. چې مخالفانو يې له دې تکې نه زياته ګټه واخيستله او په ولس کې يې د خپل منفوريت اندازه کمه کړه. د افغانستان اسلامي امارت له يوې خوا د تنظيم واکي او دپروفيسر رباني د پنځه کلنې دورې ناپاکې او ګډوډۍ سره مخامخ شو او له بلې خوا يې د زمانې سره د نه چلند او مخالفت له لارې نورې ګډوډۍ او ناخوالې پر پخوانيو ګډوډيو او ناخوالو ور زياتې کړې. چې د هغه له جملې نه د نجونو او هلکانو پر مخ د ښوونې او روزنې د دروازو تړل، دمالي اداري او اقتصادي چارو شړېدل او د يو منظم او پيٰ وړي مالي او اقتصادي سيستم نشتوالي. د اوسني عصر اوپېر اړتياو ته په کتلو د سياسي پليټ فارم د جوړولو ضرورت ته په پام نه اړول او په لوی لاس د نورې نړۍ څخه د اسلامي امارت تجريد يا جلا ساتل او داسې نور د يادولو وړ پېښندل کېږي.

په دې نيمګړتياو او بې تجربه ګيو سره افغانستان ژغورونکي اسلامي غورځنګ او مشران يې د افغانستان د خلکو دنهيليو او تازه پريشانيو د راپيدا کېدو موجب وګرځېدل. افغاني ټولنه د نويو رامنځته شويو شرايطو په تياره کې د خپلو ستونزو او کړاوونو له حل نه عاجزه پاتې شوه او هم شپږوملیونو ګډوالو افغانانو بېرته هېواد ته د راستنېدلو جرئت له لاسه ورکړ او د لاچارۍ له مخې په پرديو هېوادونو

کې مهاجر پاتې شول او د خپل جنګ ځپلي هېواد د خدمت وس یې ونه موند.

په دې وخت کې چې دغه کتاب د کډوالۍ تر شرایطو لاندې لیکل کېږي، د طالبانو د اسلامي غورځنګ له واکمنۍ څخه اوه نیم کاله تېر شوي دي او لکه چې لېدل کېږي د نړۍ له هېوادونو او هم په خپله افغانانو سره د اسلامي امارت ستونزې چې بېلابېل اړخونه لري د حل کېدلو پړاو ته نه دي رسېدلي او د کابل ښار چې په تنظیمي جګړو کې ویجاړ شوی دی هغسې کنډواله پاتې دی.

په دغسې یو حالت کې اسلامي امارت د امریکې د متحده ایالتونو او د ملګرو ملتونو سره د ډغرو وهلو په درشل ولاړ دی او ملګرو ملتونو د امریکې په غوښتنه په اسلامي امارت باندې یولړ داسې بندیزونه لګولي دي چې زیان یې له ټولونه زیات عام ولس ته رسېدلی او د خلکو ویرجن حال یې لاپسې خراب کړی دی.

له پورتنیو ټولو خبرو سره سره د افغانستان د اسلامي امارت واکمن د پښتنو دتېرو واکمنو سره یو غټ توپیر لري او هغه دا چې طالب واکمن او د امارت ټول چارواکي په پښتو ژبه خبرې کوي. پښتو فرمانونه جاري کوي او د کورنیو او بهرنیو ژورنالیستانو سره په مورنۍ ژبه مرکې کوي او په فارسي ژبه باندې د پخوانیو واکمنو په پرتله ښه نه پوهېږي او که فارسي هم وایي نو لهجه یې افغاني وي.

ښایي ددې لامل دا وي چې دطالبانو اسلامي غورځنګ یو کلیوالي او غیر روڼ اندي غورځنګ دی او ښاري روښانفکران او پوهان په کې ډېره لږه ونډه لري او په عصري پوهنو سمبال پښتانه په کې نه لیدل کېږي او نه هم غورځنګ دغه هڅه کړې ده چې دغه ډول کسان د ځان ملګري کړي ځکه ددوی عقاید او فکري اندېښنو ته د شك په سترګو ګوري.

په مطبوعاتي ډګر کې هم وضع د تېرو دورو په پرتله نوې ښکاري په دې مانا چې د اسلامي امارت د مرکزي نشراتي ارګان " خلافت" له مجلې څخه نیولې دعامو خپرونو پورې په ټولو کې پښتو ژبه عمده او د پام وړ برخه لري خو فارسي هم له پام او قلم نه نه ده غورځول شوې. د اسلامي امارت په اداري، سیاسي، اقتصادي او پوهنیزو ادارو کې لاخط او کتابت د پخوا په شان په فارسي ژبه روان دی او لیکونه اکثر دیوه وزارت نه بل وزارت ته په فارسي استول کېږي که څه هم اوس پښتو کمپیوترونه هم راوتلي دي.

تر دې وخته پورې د اسلامي امارت چارواکو د پښتو ژبې او فرهنګ په مسله برغولی ایښی او په دې باره کې یې د کوم پلان یا پروګرام چې ددوی د ارادې او اندیښنې څرګندونه وکړي اعلان کړی نه دی او داسې هم برېښي چې دغه مسله چندان مهمه او د ارزښت وړ نه بولي. هغه څه ته چې د اسلامي امارت مشرانو پاملرنه کړې دشریعت د قانون عملي کول دي او بس.

که څه هم د نګه او سوچه اسلام د تطبیق خبره کوي لیکن د نړۍ اسلامي هېوادونه د طالبانو د کړنو تائید او ملاتړ نه دی ښکاره کړی او ان چې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت هم نه پېژني. ددې په نتیجه کې د طالبانو واکمني د اسلامي هېوادونو له خوا تجرید شوی او د افغانستان سره سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکي نه لري چې دا د هر افغان لپاره د خواشینۍ وړ خبره ده.

افغانان پوهېږي چې دین او ملیت یا قومي هویت دوه جلا جلا څېزونه دي. دین د پاك څښتن په اسماني کتاب او د محمد (ص) په مبارکو احادیثو کې دی او ملي هویت په ملي ژبه او ملي فرهنګ کې نغښتی دی. په نړۍ کې له شپږ پنځوسو نه زیات لوی او واړه اسلامي هېوادونه دي، دغه هېوادونه خپلې خپلې ملي ژبې لري او دفرهنګي

شمتنې خاونداني دي، ځينو هېوادونو لکه ترکيې خو خپله ژبه د عربي ليك دود او رسم الخط له چوکاټ نه رابهر کړه او نوی ليـك دود او رسم الخط يې ورته وټاکه. چې دغه کړنه يې نه د اسلام سره د ضديت مانا لري او نه دعربي ژبې د سپکاوي.

ددې ټکي ديادونې نـه مقصد دادی چې کـه اسلامي هېوادونـه او ولسونه ديو واحد اسلام پيروان هم دي ژبې او فرهنګي خصلتونـه يې سره بېل دي، هغوی که عربي ژبـه نـه وای نـو سره لـه دې هم مسلمانان دي او اسلاميت يې هم خوندي پاتې دی.

د افغانسـتان پـه اسلامي امـارت کې لاتـر دې وختــه د ملـي ژبـې پښتو او پښتني فرهنګ په اړونـد د کومې پاليسـی او کړنلارې اعلان نه دی شوی که څه هـم اوه کالـه ددغـه امـارت لـه جوړېدلـو نـه تېـر شـوی دی. د فرهنګي ښکيلاك هغه زنځيرونه چې دپښتنو واکمنو د غفلت لـه امله د پښتنو د ژوندانه په پښتـو او لاسونو کې ور اچول شوي دي او د هغو په نتيجه کې پښتو ژبـه او فرهنګ د خپـل حق نـه بې برخې شوی دی. د اسلامي امارت مشرانو په دغه باره کې خپله رايـه نـه ده څرګنده کړې، بلکې داسې نښې نښانې هـم ترسترګو کېږي چې عربـي ژبـه ورو ورو د پښتو ژبې ځای نيسـي او اردو ژبه د پلازمېنې کابل او د ولايتونـو پـه ښارګوټو کـې د هټيـو د نومونـو لپـاره پـه کـار راوسـتل کـېږي، چـې ځيني بېلګې يې د هجرت په خپرونو يا مطبوعاتو کې ليدل شوي دي.

د عربي د استعمال په برخـه کې بـايد د اسلامي امـارت د مرکزي نشراتي ارګان " خلافت" او د افغانسـتان د راډيـو پښتـو نـوم پـه راډيـو شـريعت اړول او هـم د امـارت د رسـمي ورځپـاڼې "شـريعت" يادونــه د ساري په ډول بس بولم. اردو ژبه يوه نوي فرهنګي ښکيـلاك پـه ښـه ورځ پر ورځ ځان ښکـاره کـوي چې دلتـه يـې ځينـې ورې بېلـګې د کتـاب لوستونکو ته وړاندې کېږي:

"داسمار ولسوالۍ د نښه ګام بازار:_
۱_ الهام ټيلرز بازار نښه ګام
۲_ مسلم هوټل اينډ ريسټورنټ بازار نښه ګام
۳_ امين الحق اينډ شاد محمد حيات هوټل، نښه ګام کا مشهور چپلي کباب اور تيکه.

نښه ګام بازار کوهستان مارکيټ، پامير هوټل اينډ کوهستان ريسټورنټ کنړ، افغانستان نښه ګام بازار، هماری ها هرقسم کی لذيذ کهانو اور کمرو کا انتظام موجود هی، هوټل ميجر عبدالقادرکوهستاني.

د اسمار ولسوالۍ د ناړی علاقه داری بازار:
۱_ صلاح الدين ايوبي پبلك سکول ناړی (ايوبی ارټسټ).
۲_ الجامعته تعليم القران مرکز اشاعه التوحيد و السنته بمقام ناړئ."(۲۹۹)

دغه ډول نورې زياتې بېلګې شته چې موږ يې د مجبوريت له مخې دلته نه شو راوړلی. انګرېزان چې لومړي ځل لپاره د يو اروپايي ستر ځواك په توګه د اسيا پراخه هېواد هندوستان ته راغلل، نو د انګليسي ژبې رواج يې په همدغه طريقه پيل کړ او په پای کې يې دهنديانو لپاره ديو فرهنګي ښکيلاك په بڼه غوره کړ، چې تر ننه ورځې پورې يې دوام موندلی او انګرېزي دهېواد کاروباري او رسمه ژبه ده او حاکميت يې هغه شان پرځای پاتې شوی دی.

همدا نن د هند وتلي اخبارونه (ورځپاڼې) چې هره ورځ د مليونونو په شمېر چاپيږي په انګليسي ژبه دي، په عين حال کې پوهنتونونه او پوهنځي او ان چې لېسې او لومړنی ښوونځي او وړکتونونه ټول په همدې بهرني ژبه دي، ځکه خو وايي چې هنديان نن هم د انګرېزانو شته والی احساسوي

ځکه خو باید د افغانستان د اسلامي امارت مشران او کشران د پښتو ژبې او فرهنګ اړتیا په پام کې وساتي او د زاړه او نوي فرهنګي ښکیلاک د خپرېدو او پیاوړتیا مخه ونیسي او د افغانستان د خلکو او تایخ پر وړاندې خپل ملي او اسلامي دین ادا کړي.

اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان چې کافرستان په نورستان بدل کړ او نورستانیان یې نوي په اسلام مشرف کړل نو هم دومره اوږده کلونه یې په بر کې نه وو نیولي، په داسې حال کې چې د اسلام مبین دین د یو نیم زر کلونو راهیسې په افغانستان کې منل شوی مبارک دین دی او د خلکو د ژوند یوه برخه ګرځېدلی دی. اوس پښتانه دغه هیله لري چې باید د فرهنګي ښکیلاک له شکنجې نه وژغورل شي او د کور دننه د پردیو ژبو او فرهنګ مسله تر غور لاندې ونیول شي.

هلته په پښتونخوا کې د پښتو ژبې د ژوندي ساتلو کار روان دی. لیکن د لته د افغانستان کلیو او باندو، ښارونو او بازارونو ته اردو ژبه د ننوتلو په درشل ولاړه ده. اسلامي امارت یوازې دشریعت د قانون د پلي کولو دنده پر غاړه نه لري، بلکې د ملي ژبې او فرهنګ د احیا او ژوندي ساتلو او د فرهنګي ښکیلاک د ختمولو مسئولیت هم ددوی پرغاړه دی.

دا یو حقیقت دی چې د افغانستان اسلامي امارت ډول ډول ستونزې په مخکې لري. لیکن ددغو ستونزو غټه برخه د چارواکو دخپلو تېروتنو او د واکدارۍ له چارو سره د نابلدۍ پایله ده او که خبره داسې نه وای نو مخالفانو به هم دخپل مخالفت نه کومه نتیجه نه شوه اخیستی.

په تاریخ کې لیدل شوي دي چې زیات وخت فرهنګي ښکیلاک د یو هېواد د غلام کېدلو وسیله شوې ده او حاکمې ژبې او فرهنګ دولس د ملي ژوندانه اډانه دړې وړې کړې او د ژوند څېره یې ورته له منځه وړې

ده. دغه ښکیلاك تر پرون ورځې پورې یوازې د ایران له لوري و. لیکن نن دختیځ ګاونډي هېواد پاکستان له لوري نه هم د اردو ژبې او پاکستاني ثقافت په بڼه ځان ښکاره کوي، چې پیل یې د طالبانو د اسلامي غورځنګ له جوړېدو وروسته شوی دی.

نن سبا د امریکې له حکومت او د سنا د مجلس له غړو نه نیولې د انګلستان د لاردانو د مجلس، د امریکې غږ او بي بي سي راډیو ګانو پورې او دلویدیځې نړۍ مطبوعات ټول د طالبانو اسلامي غورځنګ په پښتنو پورې تړي او طالب مشرانو هم په خپلو ویناو کې دغه ثبوت ورکړی دی، چې دوی پښتانه او یا خو یې غوڅ اکثریت پښتانه دي. د امیرالمومنین ملا محمدعمر "مجاهد" مرکې او فرمانونه ټول په پښتو ژبه کې دي ځکه خو د هېواد ډېره کیان دغه هیله لري چې طالب مشران او په مجموع کې حکومت د پښتو ژبې او فرهنګ مساله د کلکې پاملرنې لاندې ونیسي او د فرهنګي ښکیلاك خطر احساس کړي.

افغاني ژبه د افغانستان او افغان ولس د نوم سره تړاو لري او د پېړیو په بهیر کې د محمدظاهرخان تر پاچاهۍ پورې پښتو ژبه د "زبان افغاني" په نوم یاده شوې ده چې ایراني، هندي او عربي مورخانو هم عین کار کړی دی په دې حالت کې د پوهانو دغه پوښتنه علمي او منطقي ګڼل کېږي، چې په افغانستان کې د افغاني ژبې محکوم پاتې کېدل او په پښتنو باندې د فرهنګي ښکیلاك دوام په هېواد کې د شخړو او اختلافونو د راپیدا کېدلو اصلي او اساسي وسیله باید وپېژندل شي

د اسلامي امارت مشران او حکومتي چارواکي چې په کومه ژبه ویناوې کوي هغه ددې لرغونې تاریخي هېواد د ډېره کیانو ژبه ده او

همدغه خلك چې افغانان یادېږي دغه ارمان لري چې ددوی په ټاټوبي کې فرهنګي ښکیلاك ژر پای ته ورسېږي.

د افغانستان خپله لرغونې ژبه چې افغاني یا پښتو ده د خپل کور دننه خپل حق ته ورسېږي او نور پښتانه یوازې د پښتنو واکمنو لپاره دواکمنۍ ساتندویان پاتې نه شي، بلکې دغه حق ورکړل شي چې بچیان یې په خپله مورنۍ ژبه زده کړې ترلاسه کړي او په خپل امارت یا پاچاهۍ کې یې خپله ملي ژبه د چارچلونې ژبه اوسي.

پښتانه په دې انتظار کې دي چې په دفترونو، ادارو او د ښوونې او روزنې په ډګر کې، د پخوا نه راپاتې ژبنۍ تبعیض او انحصار دحق او عدالت له مخې له منځه لاړ شي او پښتون له دې لاچارۍ او مجبوریت څخه خلاص شي، چې حکومتي مقاماتو ته عریضه او یا ددوی دپولې پټي او کور قباله او نکاح نامه په فارسي ژبه ولیکل شي.

نن ایران د ژبې پر بنیاد د افغانستان په لویدیځ څنډو څمکنۍ دعوه کوي او هغه خپله خاوره بولي، د اسلامي امارت مشران دغه ذمه واري لري چې افغانانو ته د افغاني ژبې حق ته په درنه سترګه وګوري او د فرهنګي ښکیلاك له زنځیرونو نه یې ازاده کړي، افغان ولس د ژبې له لارې او د پښتو ژبې په وسیله خپل فرهنګ ته خدمت وکړي او په ټوله نړۍ کې یې وځلوي.

د اسلامي امارت واك لرونکي باید پر دې حقیقت پوه اوسي چې پښتو د پښتنو لپاره یوازې یوه ژبه نه ده بلکې د ژوندانه قانون، رسم او رواج، ننګ او ناموس، مېړانه او غیرت او دپښتنې فرهنګ د ملاتیر هم دی. د پښتو ژبې تاریخ د پښتون قام تاریخ دی او ددې قام هرڅه ددوی په ژبه کې پراته دیو که دا ژبه خواره او بې اختیاره وي پښتون قوم په خپله خوار او بې واکه کېږي، لکه په تېرو دوه درېیو

پېړيو کې چې و واکمنان پښتانه وو ليکن واکمني د غير پښتنو په لاس کې وه

پښتو ژبه د پښتون د لرغونتوب او ساهوتوب لوی ژوندی سند دی او فرهنګي ښکيلاک په دې سند باندې د خاورو اړولو يوه بريالۍ هڅه ګڼل کېږي، ددې هڅې اصلي موخه او مقصد دادی چې که له پښتون نه دغه ژبه واخيستی شي. نو پښتون بيا بې هويته کېږي او هضمېږي او د پښتون دورکېدلو يوازينۍ لار همدا پېژندل شوې او تشخيص شوی چې ژبه ترې واخيستل شي.

پښتو ژبه د پښتون په لاس کې ديوې تېرې تورې حيثيت لري او په افغانستان کې رانوتی فرهنګي ښکيلاک زيار باسي دغه توره له دوی څخه واخلي

## دیارلسم څپرکی

# د زوړتاریخ نوی پړاو، پښتانه او فرهنګي

## بنګیلال

د هېواد دننه غیر پښتني لږه کیو او بهرنیانو طالبان اوطالب غورځنګ دواړه په غوڅه توګه یوازې د افغانستان د ډېره کې قوم (پښتون) پورې تړلي ګڼل، له همدې امله یې د طالبانو واکمني په افغانستان کې د پښتنو دتېرې درې سوه کلنې واکمنۍ دوام باله اوپه ښه سترګه یې ورته نه کتل. مخالفانو د خپل مخالفت دلیل هم همدا بیانولو نه د طالبانو اسلامي اصول او کړنې ځکه چې د ازبکو،تاجکو، هزاره و او نورو لږه کیو غټ غټ دیني عالمان او ملایان دطالبانو په ځنګ کې لیدل کېدل. دساري په توګه مولوی غیاث الدین چې د طالبانو د رژیم دښوونې او روزنې وزیر و، په ختنه ازبك او د فاریاب په ولایت کې زېږېدلی دی. (۳۰۰).

د طالبانود اسلامي تحریك زیات مشران په پښتني سیمو او پښتني کورنیو کې نړۍ ته راغلي وو. چې د موضوع په اړوند دځینو یادونه ضروري ګڼل کېږي

ملامحمدعمر اخوند. په ختیه پښتون هوتك او د ارزګان په ولایت کې زېږېدلی دی. ملا محمدربني د طالبانو د حکومت د شورا ریس ملا محمد حسن د کابل د حاکمې شورا د ریس مرستیال، ملا محمدغوث د طالبانو د حکومت دبهرنیو چارو د وزارت سرپرست، ملا

عبدالرزاق ددفاع وزارت لومړنی سرپرست. ملا محمدفاضل چې بیا د لومړني وزیر په رتبه وټاکل شو. ملا محمدحسن رحماني، چې دملا محمدعمر نږدې ملګری اود کندهار والي و. ملا نورالدین ترابي چې د طالبانو د حکومت د عدلیې وزیر و. او ملامحمدحسن رحماني دواړو د ارزګان په ولایت کې زېږېدلي دي. د ملا عبدالجلیل په کندهار کې پیدا شوی و او دطالبانو دغورځنګ دمالي چارو وزیر و. چې وروسته بیا د بهرنیو چارو د وزارت نایب وټاکل شو.

مولوی احسان الله احسان چې د افغانستان بانك د ریاست دنده وریه غاړه وه. مولوی احمدالله چې د مولوی ناني په نوم یې شهرت درلود چې دی هم په کندهار کې زېږېدلی و او وروسته دهرات والي شو. ملا سیدمحمدحقاني په کندهار کې زېږېدلی او د ملا محمدعمر اخوند نږدې باوري ملګری او د طالبانو د اسلامي غورځنګ رسمي ویاند و. ملایارمحمدپه کندهار کې نړی. ته راغل او څه موده د هرات والي و. چې بیا د غزني والي شو. ملا امیرخان متقي. د هلمند په ولایت کې زېږېدلی دی. چې وروسته بیا د طالبانو د اسلامي امارت د تبلیغاتو او فرهنګ د وزارت دنده ورکړی شوه.

ملاوکیل احمد متوکل د کندهار د یو علمي دیني شخصیت شیخ محدث عبدالغفار زوی و چې لومړی د ملا محمدعمر اخوندزاده منشي او مشاور وروسته د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزارت مسولیت ور تر غاړې شوه. د یادونې وړ ده چې پلار یې یانې شیخ محدث عبدالغفار د کمونستانو د واکمنۍ په دوره کې شهید کړی شو.

ملاخیرالله خیرخواه د کورنیو چارو د وزارت مسولیت په غاړه درلوده. ملاحمدالله نعماني د لوړو زده کړو د وزارتونو سرپرست، ملا محمدعیسی د اوبو او برېښنا وزیر و. ملامحمدنسیم اخوندزاده د کرنې وزیر. ملاحافظ محب الله د سوداګرۍ وزیر. ملا عباس د روغتیا

د وزارت سرپرست، ملامحمدالله زاهد د کانو او صنایعو وزیر، ملاعبیدالله د طالبانو د اسلامي امارت ددفاع وزیر چې طالبانو د سقوط تر وخته پورې دغه دنده ور په غاړې وه.

مولوی جلال الدین حقاني د پکتیا ولایت نومیالی قومانډان او وروسته وزیر، ملا دادالله په کابل کې د طالبانو د پوځي ځواکونو مشر، ملا برادراخوند، مولوی محمد، ملامشر، ملا بورجان، ملاعبدالسلام راکټي، حاجي محمدنعیم کوچی د لوګر په ولایت کې زیږېدلي او په احمدزي قبیلې پورې تړاو لري. اوداسې نور چې ټول په پښتني کورنیو کې زیږېدلي او دطالبانو د اسلامي تحریک پیاوړي ستنې ګڼل کېدلې.(۳۰۱)

په دې ډول لیدل کېږي چې د طالبانو اسلامي غورځنګ تر زیاته حده پورې په پښتنو ولاړ و. لیکن په دې غورځنګ کې د پښتنو روڼ اندو، د عصري پوهې خاوندانو، ډاکټرانو، استادانو، انجنیرانو، لیکوالو، شاعرانو، ادیبانو او نورو قشرونو لوړو او پېژندل شویو شخصیتونو او فرهنګپالو ځای نه درلود او نه طالبانو دومره پوهه درلوده، چې دغه ډول کسان دخپل غورځنګ سره یوځای کړي، بلکې ددوی نږدې کېدل یې دخپل غورځنګ او خپلې ادارې لپاره خطرناک ګڼل، چې ددې دول سوچ پایلې په خپله د طالبانو په زیان تمامې شوې.

مونږ وړاندې دې ټکي ته اشاره وکړه، چې طالب مشرانو پښتو ویله خو فارسي یې لیکله، هغوی د فرهنګي ښکیلاك په مانا او مفهوم هېڅ نه پوهېدل ځکه خو یې د خپلې واکمنۍ په دوران کې نه خو پښتنو او نه پښتو ژبې ته کوم خدمت وکړ.

طالب مشران ټول په کلیوالي چاپېریال کې لوی شوي روزل شوي او له دیني مدرسو څخه فارغ شوي وو، ځکه خو د ښاري تهذیب او مدني غوښتنو سره نا اشنا وو. د عصري پوهنو د ارزښت نه بې خبره او

د زماني دپرمختـګ او تخنيکـي پيشـرفت پـه اړه يـې معلومـات نـه درلـودل او د اسلامي حکومت دچلولـو سره يې په خپلـه اسلامي نـړۍ مخالفـه وه. ځکـه خـو يــې د امريکــې پرضـد د امــيرالمومنين ملامحمدعمـر اخونـد دجـهاد غـږ تـه مثبـت ځواب ونـه ويلـو او د افغانستـان د اسلامي امارت ملاتړ يې ونه کړ.

ددې يرغل لپاره امريکې د ډېر وخت راهيسې اوسامه بن لادن او دهغـه د القاعده ډلـه چې تولـه پـه افغانسـتان کې وو خپـل دسـتاويزات جوړ کړي و.

پـه نيويـارك او واشـنګتن بـاندې د ترهـګرۍ تـر بريـد وروسـته امريکې د اوسامه بن لادن د ورسپارلو غوښتنه بيا تکرار کړه او دطالب حکومت لپاره يې ديوې مياشتې ضرب الاجل وټاکلو. دغفلت پـه خوب ويده طالب مشرانو دې ضرب الاجل ته هم کوم اهميت ورنـه کړ. افغـان ولس يو ځل بيا د يـو نـوي بـهرني يرغـل تـر خطر لاندې راغـی او پـه دې برخه کې يې طالب چارواکي ګرم پېژندلو.

اوسامه بن لادن هم ديو مسلمان په توګه دغه شهامت او مېړانه ونه ښودله چې د امريکايي يرغل د مخنيوي او د تباهۍ نه د افغانسـتان او افغان ولس د بچ کېدو په خاطر له افغانستان نه لاړشي او د افغانسـتان مسلمان ولس د احسان او ځوانمردۍ ځواب ووايي.

امريکې مخکې لـه مخکې نـه پـه افغانسـتان بـاندې د يرغـل لاره دځان لپـاره هـواره کـړې وه، د افغانســتان ګاونـډي هېوادونــه يــې دپاکستان په ګډون او لوېديځه نړۍ د ځان ملګري کـړي او د پاکستان پوځي مشر جنرال مشرف ته يې د مليـاردونو ډالرو ورکول اعـلان کـړي وو. په دې ډول پاکستان يوځل بيا د افغانسـتان د قربانۍ په نتيجه کې مليـاردونه ډالر لاسته راوړل. لکه د افغان شوروي د جهاد پـه دوران کـې چې جنرال ضياءالحق لاسته راوړي وو.

جنرال مشرف د پاکستان د ګټو لپاره د طالبانو سره خپله یارانه وشلوله، لیکن طالب ملایانو د افغانستان ګټې له پام نه وغورځولې چې په نتیجه کې یې په افغانستان باندې د امریکایي بمونو باران جوړ شو.

امریکې د اوسامه بن لادن د لاسته راوړلو څخه د ناهیلۍ له مخې دغه ضرورت احساس کړه چې باید عرب اوسامه سره یوځای طالبان او ددوی واکمني هم له منځه یوسي. دطالبانو مشر ملامحمدعمر هم د امریکې سره دمقابلې غږ پورته کړ او یوځل بیا یې د خپلسرۍ او دخپل ولس سره دصلاح نه کولو ثبوت ورکړ.

# د طالبانو پرخلاف د امریکې ستراتیژي او تاکتیک

د طالبانو د واکمنۍ پر ضد د امریکې جګړه لومړی د میډیا (مطبوعات ـ راډیو ـ ټلویزیون او انټرنیټ) له لارې پیل شوه او په څنګ کې یې له سیاسي لارو چارو او هلو ځلو څخه هم ګټه اخیستل کېده، ددې مقصد لپاره د امریکې متحده ایالاتو پوره امکانات په لاس کې لرل په داسې حال کې چې طالب واکمني له دې هرڅه نه بې برخې وه.

د امریکې موخه او مقصد وا و چې طالبان په نړیواله سطحه د خلکو په اذهانو کې د وحشت او بربریت، وېرې او ترهې تروریزم او وژنو اصلي عاملان او د مدنیت سترد ښمنان ثابت کړي. د پرمختللي الکترونکي سیستم او عصري وسایلو په برکت یې دغه مقصد په ښه توګه ترلاسه کړ او نړۍ په ټولیز ډول د طالبانو د نسکورېدو غوښتونکې شوه. په لویدیځ او ختیځ کې مطبوعاتو د طالبانو د نوم سره د (پښتون) ټکی تل لیکلو اوپه دې سره د هېواد د ننه هم د پښتنو ضد عناصرو او ډلو ټپلو تبرګي لاستی پیدا کاوه او د خپلې واکمنۍ د ټینګېدو غږ یې پورته کاوه

د امریکې CIA یوځل بیا په خپل بشپړ ظرفیت سره فعالیت پیل کړ او لومړی ګام یې د افغان جهادي شخصیتونو څخه د کار اخیستو پر لور واخیست. د امریکې حکومت هغه افغاني شخصیتونه ډېر ښه پېژندل چې د افغانستان د خلکو سره یې نږدې اړیکي ساتلې وې، چې

د هغو له جملې نه یو قوماندان حاجي عبدالحق جبارخېل او بل حامد کرزی پوپل زی و، دغو دواړو شخصیتونو د پخواني پاچا محمدظاهرخان په ګټه فعالیت درلود او پخوانی پاچا هم د امریکې انتخاب و، چې د افغانستان په راتلونکي برخلیك کې ی د برخې خاوند ګڼلو او د سولې په راوستلو کې یې د هغوی رول مهم شمېرلو.

امریکې داسې فکر کاوه چې دغه شخصیتونه کولی شي د افغانستان د ننه د طالبانو د مخالفینو مورچې جوړې او د مقاومت لیکې پیاوړې کړي. بنایي د امریکې له خوا دغه ډول انګیرنه تر زیات حده پورې منطقي وه لیکن د طالبانو په څنګ کې د اوسامه بن لادن د القاعدې شبکه هم ډېره پیاوړې او غښتلې وه او همدوی ډېر ژر او په چټکتیا سره د قوماندان عبدالحق جبارخېل د فعالیت او وسله والې مبارزې لاره بنده او د افغانستان د ننه یې نوموړی له نیولو وروسته پرته له کومې محاکمې اعدام کړ.

دغه وژنه د هېواد دننه او د باندې د زیاتو افغانانو د خپګان او قهر موجب شوه او په دې کار کې خو ځینو خلکو د پاکستان د ISI ای، (اس. ای) لاس هم د خپل وګاڼه. څکه چې قوماندان عبدالحق د امریکې نه لومړی پاکستان ته راغلی او په پېښور او اسلام اباد کې یې د پښتنو جهادي قوماندانانو سره غونډې پیل کړې وې.

دقوماندان حاجي عبدالحق دوه ورونه نور هم چې د عمر له پلوه له ده نه مشران وو، جهادي قوماندانان پاتې شوي وو، چې یو یې حاجي عبدالقدیر او بل یې حاجي دین محمد دی، دا وخت دغه دواړه ژوندي او فعال دي.

د قوماندان عبدالحق په مړینه زیات شمېر پښتنو خپل خپګان ښکاره کړ او په طالب چارواکو باندې دا نیوکې وشوې چې ولې د عبدالحق جبارخېل سره هغه شان سلوك ونه شو، لکه د قوماندان

اسماعیل خان هراتي سره چې شوی و. په داسې حال کې چې اسماعیل خان هم د طالبانو سره د وسله والې مقابلې او جګړې پر مهال نیول شوی او په کندهار کې بندي ساتل شوی و، ترڅو د پیسو په برکت له زندان څخه و تښتېد او ایران ته لاړ او هلته یې د ایران څخه د وسلو او پیسو په اخیستو له سره د طالبانو پر ضد توده مبارزه پیل کړه.

دسپیني ماڼۍ لوړو مقاماتو او د امریکې ددفاع وزیر (ډانلډرامزفیلډ) د CNN سي ان ان تلویزیوني شبکې له لارې دا څرګندونه وکړه. چې امریکایي جنګي هیلي کوپټرو د قوماندان عبدالحق د ژغورلو لپاره ډېرې هڅې وکړې لیکن کومې نتیجې ته ونه رسېدل.

همدغه ډول پخوانی مجاهد حامد کرزی هم افغانستان ته له داخلېدو وروسته، د ارزګان په یوه غرنۍ سیمه کې د طالب مشرانو سره د خبرو هڅې پیل کړې او ددغو هڅو اصلي موخه داوه چې طالب مشران دې نه وهڅوي د امریکې سره له مقابلې او جګړې نه لاس واخلي او دسوله ییزې لارې او د ولس سره په مشوره د اوسامه بن لادن مسله حل او په دې ډول په افغانستان باندې د امریکې دیرغل مخه ونیول شي.

حامدکرزي څو څو وارې دا خبره تکرار کړه چې موخه او مقصد یې د طالبانو پر ضد وسله واله جګړه نه بلکې له سوله ییزې لارې د طالبانو د راضي کولو او د افغانستان د ملي ګټو په خاطر د طالبانو ګوښه کېدل او د قدرت نه لاس اخیستل دي.

حامد کرزي په دې لاره کې دځان خطرونه سره هم مخامخ شو او طالب جنګیالیو دده د نیولو کوښښونه وکړل. لیکن هېڅ یې لاسته ورنه وړل. د امریکې ستراتیژي جوړوونکو دغه تاکتیك هم په پلان کې درلود چې باید د افغانستان په شمال کې د طالبانو د واکمنۍ

مخالفین چې په حقیقت کې په هغه سیمه کې غیر پښتانه اتنیکي لړه کې دي او مشري یې د قوماندان احمدشاه مسعود پرغاړه وه دیوې سیاسي موافقې له مخې د ځان ملګري او د طالبانو خلاف ورځخه ګته واخلي.

د شمال په ائتلاف کې درې قومونو ونډه اخیستې وه چې هغه هزاره، تاجك او ازبك وو او د امریکې نه ډېر مخکې د روسیې، هند او ایران د هر اړخیزو مرستو څخه برخمن شوي وو. ددې ائتلاف تاجك مشر پروفیسر برهان الدین رباني چې واکمني یې د طالب غورځنګ له خوا ړنګه شوې وه د نوي روسي مشرانو سره ډېر نږدې او خواړه اړیکي لرل او د ولسمشر پوتین سره یې عکسونه په روسي او نړیوالو مطبوعاتو کې چاپ شوي وو.

روسي مشرانو چې دتروریزم پر ضد جګړه کې یې د امریکې ملاتړ څرګند کړی و. د شمال د ائتلاف دپوځي ځواکونو څخه د امریکې د استفادې پلان تائید کړ او ان هغه یې د روسیې او منځنۍ اسیا د هېوادونو په ګټه وباله امریکه هم ډېره ژر په خپل تاکتیك کې بریالیتوب ته ورسېده او د شمال نامتحداتحاد د امریکې خدمت ته تېر وواهه او د عمل په انتظار کې پاتې شو.

امریکایي مقاماتو د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر او د اکتوبر څو ورځې په دې هیله تېرې کړې، چې بنایي سیاسي هلې ځلې یې کومه پایله په لاس ورکړي. خو داسې ونه شول او سیاسي هڅو هېڅ نتیجه ور نه کړه.

دهمدې کال د اکتوبر په میاشت کې په افغانستان باندې د امریکې د متحده ایالتونو هوایي یرغل پیل شو او امریکایي درنو الوتکو B52 او C130 ډوله الوتکو په ازاد او خپلواك افغانستان باندې د بمونو او تو غندیو ویشتل او اورول په داسې طریقه شروع کړل چې ساری یې کله نه و لیدل شوی.

امریکې دغه اټکل کړی و، چې ښايي د طالبانو پوځي ماشین د ېر ژر او د بې ساري درنو بمباریو او خطرناکو توغندو په استعمال له منځه یوسي او طالب جنګیالي د مقاومت وس له لاسه ورکړي. لیکن دغه اټکل سم نه و. ځکه چې طالب جنګیالیو په هېڅ یوه سیمه کې سپین بیرغ پورته نه کړ او په هومره اساني تسلیم نه شول. د امریکې د دفاع وزیر دانلډ رمزفیلډ د سي ان ان له ټلویزیوني شبکې سره په مرکه کې وویل، چې د طالبانو د واکمنۍ د ړنګولو لپاره باید اول د طالبانو پوځي ځواک له منځه لاړ شي، چې دا کار یوازې په هوایي بمباریو کېدی شي. ځکه چې د طالبانو پر ضد د ځمکنیو عملیاتو امکانات نه لیدل کېدل. امریکه به په ځمکنیو عملیاتو کې د افغانستان د ننه د شمال اتحاد له پلیو ځواکونو څخه ګټه واخلي او په هوایي یرغل کې به د هغو ځواکونو د پرمختګ لاره خلاصه کړي. چې دا د پنتاګون (د دفاع وزارت) ستراتیژي تشکیلوي. د امریکې د سي ای. اې یو پخواني لوړ رتبه مامور (ویکرز) دا خبره په ډاګه کړې چې:

" د امریکې په اند د شمال ائتلاف (ټلواله) په حقیقت کې هېڅ ائتلاف نه دی او باور وړ باندې نه شي کېدلی. لیکن پرته له دې امریکې بل انتخاب نه درلود، په اوس وخت کې زموږ اصلي موخه طالبان دي او یوازې زموږ هوایي ځواکونه د طالبانو مقابله نه شي کولی او ځمکنیو پوځونو ته زیاته اړتیا لیدل کېږي. د همدې اړتیا له مخې د طالبانو مخالف ځواکونو ته پام اړول شوی و، او په کار وو چې د شمالي ټلوالې له ملیشو څخه د طالبانو پر ضد کار واخیستل شي. نه د امریکې او لویدیځ د ځمکنیو ځواکونو څخه"(۳۰۲).

د CIA دغه لوړ رتبه مامور (ویکرز) په دې عقیده و چې د شمال ټلواله د پښتنو د ملاتړ نه پرته اغېزمنتوب نه شي لرلای او یووالی یې پیاوړتیا نه شي موندلی" (۳۰۳).

ددغو خبرو سره سره امریکې دغه ستراتیژي درلوده چې دطالبانو د رژیم د رنګولو لپاره خپل ځمکني پوځونه د جګړې ډګر ته ونه باسي، تر هغې پورې چې د طالب جنګیالیو پوځي او لوژستیکي طاقت له منځه لاړ نه شي او د هغوی جګړه ماری ډلې او کتارونه یې د هوایي ګوزارونو په نتیجه کې تس نس کړې نه وي. ددې پرځای دشمال ټلوالې په راتلونکي حکومت کې د امتیاز ترلاسه کولو لپاره دې ته غاړه ایښې وه. چې د امریکې په خدمت کې ودرېږي او د امریکایي قوماندانانو په لارښوونه او هدایت حرکت وکړي او امریکې هم خپله ګټه په همدې کې لیدله چې دشمال ملیشا د خپلې موخې او مقصد لپاره استعمال کړي.

دهمدې موافقې له مخې د شمال ټلوالـه چې پـه حقیقت کـې د احمدشـاه مسـعود د نظار شورا پخوانـي ځواکونـه وو، چـې پـه ۹۲ ـ۱۹۹۴ کلونـو کـې یې کـابل پـه وینو لړلـی و او د امریکـې د هوایـي بمباریو په برکت مخ پر وړاندې لاړل او ټپلاټپل ولایتونه یې د طالبانو له واکمنۍ څخه ازاد کړل او خپله قبضه یې وربانډې ټینګه کړه.

په دې وخت کې روسی مشر ولادي میر پوتین هم ددې حقیقت نه پرده پورته کړه چې روسي د تېرو پنځو کلونو په دوران کې چې طالبان د افغانستان حاکم ځواک و. دطالبانو پرضـد د شمال ټلوالې او د هغه لـه مر قوماندان احمدشاه مسعود سره د وسلو او پیسو ډېره مرسته کړې او دادی اوس دغه مرسته نوره هم زیاتوي.

د روسیې سره د شمال ټلوالې د ښو او نږدې دوستانه اړیکـو پـر بنسټ د ټلوالې مشرانو مسکو ته پرلـه پسـې سفرونه وکړل او د کوربـه هېواد روسیې سره یې پوځي او تخنیکي تړونونه لاسلیك کړل.

## پښتانه د امریکې د بمباریو اصلي موخه

د امریکې د متحده ایالتونو یوه تکړه لیکوال او پوخ څېړونکی (بروس ریچارډسن) په خپل کتاب (په افغانستان او د قفقاز نه اخوا مرکزي اسیا کې د روسیې سیاست) کې دا ذکر راوړی دی، چې روسانو غوښتل پښتانه په افغانستان کې بیخي محوه کړي، ځکه خو یې ټولې هوایي او ځمکنۍ حملې د پښتنو سیمو ته متوجه وې. دغه امریکایي محقق ویلي چې شورویانو په افغانستان کې د (جینوسیایت) یانې قتل عام څخه کار اخیستلو.

دادی اوس امریکې د اوسامه بن لادن او د هغه د القاعده د غړو د وژلو او نابودولو او د طالبانو د واکمنۍ د ړنګولو په نوم په ټولو هغو ښارونو، کلیو او باندو باندې بمباری کولې، چې د پښتنو پرګنې په کې مېشتې وې.

امریکایي الوتکو وچ او لانده یوځای په اور سېزل. په وور او زوړ، روغو او ناروغو خلکو یې شپه او ورځ بمونه غورځول او څاروي یې هم له بمبارۍ نه نه معاف کول. کوچیان او شپانه هم وویشتل شول او کورونه، کلاګانې، ژرندې او کاریزونه، ویالې او بندونه یې ټول له منځه یووړل شول او په زرګونو کورنۍ یې کلیو او ښارونو پرېښودو ته اړ او مجبوره کړل او د ولسونو د ژوند اډانه یې خرابه او تباه کړه.

امریکې دخپل دغه ناروا عمل لپاره دا لامل ښودلو چې طالبان پښتانه دي او په کليو او بانډو کې پښتنې پرګنې د هغوی په ملاتړ ولاړ دي، ځکه خو مـوږ مجبور يو وچ او لانده دواړه وټکوو او لـه منځه يې يوسو.

په ننګرهار، کندهار، لويه پکتيا، لوګر، وردګو، پکتيکا، قندوز او زياتو نورو سيمو کې په سوونو کسان په خپلو کورونو او کلاګانو، ښارونو او بانډو کـې د امريکايي بمونو او توغنديو قرباني شول، خو ولس مشر بوش او لويديځو مشرانو وربانديې غوږ هم ونه ګراوه او د افغانانو اعتراضونو او احتجاجونو ته يې هيڅ ارزښت ورنه کړ.

دنړۍ په ګوټ ګوټ کې په وطن مينو افغانانو مظاهرې وکړې او د امرکې وحشيانه بمباري يې وغندله. د ملګرو ملتونو لوی منشي ته يې د اعتراض ليکونه وليږل خوکومه نتيجه يې ورنه کړه.

د پښتنو لپاره دا يـوه بلـه غميزه وه چـې بيګناه او غـيرحق وژل کېدل او وينې يې تويېدلې خو نړيوالې ټولنې يې په ټولو احتجاجونو او اعتراضونو سترګې پټې او غوږونه کاڼه کړي وو.

د هېواد نه بهر افغان مهاجرو مطبوعاتو پـه پوره ايمانداری د امريکې په ناروا عمل خپرې کړې او ميتينګونه يې جوړ کړل، ليکن د زور منطق ويلو او د خپل مقصد خبرې يې کولې او د افغانانو په تباهۍ يې زړه نه سوزولو. امريکې په دې خبرو د افغانانو قناعت غوښتلو چې ګويا د طالبانو د واکمنـۍ لـه ړنګيدو او د اوسامه بـن لادن او مـلا محمدعمر او القاعدې د مشرانو له نيول کېدو يا وژل کېدو وروسته د افغانستان د بيا ودانـۍ کار پر غاړه واخلي او يـو پياوړی ملي دموکراتيك نظام به په افغانستان کې حاکم کړي.

امريکې دخان په ګټه د افغانانو په هېواد کـې يـو حيرانوونکي عمل ته لاس اچولی و. له يوې خوا يې دطالبانو د واکمنۍ د ړنګولو او

ختمولو پسې هڅه کوله او له بلې خوا یې د شمال اتنیکي لړه کې (ازبك، تاجك او هزاره) د قدرت پر ګدۍ کېنول غوښتل او په خپلو هوایي بمباریو یې د هغوی د وړاندې تللو لاز خلاصوله.

پښتانه یې په غرونو او دړو کې په راکټونو او بمونو ویشتل. کلي او باندې او ښارونه یې ورخراب ول او له بلې خوا یې اتنیکي لړه کیو سره دوستي او همکاري درلوده او په راتلونکي کې یې هغوی ته د غټو غټو امتیازاتو وعدې ورکولې. چې پښتنو د واشنګټن دغه سیاست یو خاینانه عمل ګڼلو او کرکه یې ورته کوله.

دلوی پکتیا، لوی ننګرهار، پکتیکا او کندهار، لوګر او غزني او وردګ ولسونو امریکې ته اخطارونه هم ورکړل چې که امریکه د پښتنو په سیمو بمباري بنده نه کړي نو ددغو ولسونو په زړونو کې به د امریکې په نسبت کرکه لا زیاته شي چې دا به د امریکې په ګټه نه وي.

دا د هر افغان (پښتون) لپاره د فکرمندۍ خبره وه چې امریکه یو دانه بم یا توغندی د غیر پښتنو په سیمو نه غورځوي، بلکې د پښتنو د اوسدلو یا هستوګنې سیمې هم د ورځې او هم د شپې له خوا بمباري کوي او ښځې او ماشومان، ځوانان او بوډاګان په شهادت رسوي.

ایا دا په خپله یو جینوسایټ یا قتل عام نه ګڼل کېده چې امریکې سرته رسولو؟؟

ایا د پښتنو سره د غه ظلم او ناروا تش په دې دلیل کېدله چې طالبان هم پښتانه وو او اوسامه بن لادن یې تر خپل وزر لاندې ساتلی و؟

ایا امریکې دغه روڼ حقیقت په سترګو نه شو کتلای چې طالبانو پښتنو ته هم هېڅ نه دي ورکړي، بلکې هرڅه یې ورنه اخیستي دي.

د طالبانو په لیکو کې خو عربان، چیچنیان، پاکستانیان، ایرانیان، امریکایانه فرانسویان، انګرېزان، د ماورالنهر ازبکان او تاجکان هم شامل شوي او د طالبانو د مخالفینو پر ضد جنګېدل. چې

دغه کار یې د شورویانو او افغانانو د جګړې پر مهال هم ترسره کړی و، نو د بمبارۍ ور یوازې پښتانه څنګه پېژندل کېدی شول؟

رون اندو او پوهو پښتنو خو په خپله د طالبانو کړنې د هېواد د ملي ګټو مخالفې ګڼلې او تل یې وریاندې اعتراض کاوه او غرنۍ او کلیوال پښتانه خو هم په خپل ساده او سوه یېز ژوند بوخت پاتې شوي وو نو امریکې څنګه ددوی پر وړاندې له تبعیض نه کار اخیستو او د هوایي ګوزارونو لاندې یې نیول؟

د امریکې د روندو بمباریو له امله د لوی پکتیا دیوې درنې جرګې سل تنه سپین روږي او مشران چې د خپل ولس په استازیتوب کابل ته د لنډمهالې حکومت د قدرت نیولو په مراسمو کې د ګډون په تکل روان شوي وو له یوې مخې شهیدان شول، چې په دې اړه د خلکو اعتراضونه د امریکې او برتانیې، جرمني او فرانسې په ټلویزیونې خپرونو کې اروپایي نړۍ ته وښودلی شول، خو پنتاګون او سپینې ماڼۍ ور باندې سترګې پټې او غوږونه کاڼه کړل.

په دې ډول دغه ثبوت خلکو د سر په سترګو وکوت چې په پښتنو باندې د امریکې بمبارۍ د نړیوالو اصولو او قوانینو څخه بربنډه سرغړونه وه او د طالبانو په نس کې هرځای پښتانه تباه کېدل او امریکې د نړۍ دیو ستر ځواك او مدني هېواد په توګه یو لوی بشري جنایت ته لاس پورې کړی و.

د بوش په حکم اولاړشوونه د طالبانو او اوسامه بن لادن د چقولو او نابودولو په بهانه پښتانه د افغانستان په خاوره کې دننه بې رحمۍ وژل کېدل او هیڅا یې مخه نه شوه نیولی.

د امریکې د بمباریو اصلي موخه یوازې پښتانه وو نه د هېواد اتنیکي لړه کې لکه تاجك، ازبك او هزاره. د نورو قومونو سیمې، کورونه او کلاګانې د امریکایي بمباریو څخه په امن پاتې وې، امریکې

پلان درلود چې پښتنانه د تل لپاره د نورو کوچنیو قومونو پر وړاندې کمزوري کړي ترڅو په راتلونکي کې د ځواك خاوندان نه اوسي. البته دا د امریکې یوه غټه تېروتنه وه چې وروسته ورباندې پوه شول.

لویدیځو مطبوعـاتو او ان د امریکې د سی ان ان تلویزیـون یـو تـن مفسر فیشر ددې مطلب یادونه وکړه چې د ویتنام لـه جګړې نـه پس په افغانستان کې د امریکایي الوتکو بمبارۍ ډېرې درنې او ډېرې سختې وې چې هم د شپې او هم د ورځې له خوا په پرله پسې ډول روانې وې.

د حیرانیـا ځای دا و، چې په دغه وحشت او بربریت باندې ټولـې نړۍ خپلې سترګې پټې کړې وې او ضمیرونه یې زندۍ شوي وو. ددې اسلي لامـل دا ښودل کېده چې متمدنې نـړۍ لـه طالبـانو څخـه کرکـه درلوده او د هغوی تباه کېدو اوله منځه تلو تـه خوشحاله وو، دا چې د امریکې د بمبارېو اصلي موخـه د پښتنو بربـادي وه د نـړۍ لپـاره کومـه مهمه موضوع نه ګڼل کېدله.

# په افغانستان کې د طالبانو سقوط او د قدرت خلاء

په افغانستان باندې د امریکې یرغل، بې ساري بمباری او د هغو په نتیجه کې د طالبانو نسکورېدلو له درېیو میاشتو څخه زیات وخت ونیو . په داسې حال کې چې د امریکې ددفاع وزارت د طالب واکمنی د راغورځولو لپاره یو څو ورځې یا اوونی په پام کې نیولې وې.

امریکې لیدل چې طالب جنګیالي په تش لاس مقاومت کوي او د هغوی اخطارونو ته نه تسلیمېږي. که د امریکې سره دشمالي ټلوالې ځمکنیو ځواکونو او محلي قوماندانانو مرسته او همکاري نه وای کړې، بنایي دغه موده نوره هم اوږده شوې وای، ځکه چې امریکې جرئت نه درلود. چې د طالب جنګیالیو د مقابلې لپاره خپل پلي پوځونه په افغانستان کې پلي کړي او د امریکې خلکو هم حکومت ته ددې کار اجازه نه ورکوله.

امریکې دطالبانو د راپرځولو لپاره د شمال ټلوالې نه زیاته ګټه واخیسته او شمال ټلوالې هم له خدای نه همدا غوښتل چې د امریکې د درنو بې ساري بمباریو په نتیجه کې طالب جنګیالي له پښو وغورځېږي. ځکه چې طالبانو هغوی د هېواد وروستی سرحدي کرښې ته ورټېل وهلي وو. چې د افغانستان یوازې پنځه په سلو کې خاروه ترې جوړېدای شوه طالب ځواکونو د امریکایي بمباریو له امله یو یو ولایت له لاسه ورکړ چې کابل هم په دې جمله کې و.

دکابل د خلکو، ګاونډیو هېوادونو او ملګرو ملتونو سره دا تشویش را پیدا شوی و چې دطالب ځواکونو له وتلو وروسته به د کابل

حالت څه وي او څوك به په دې ښار واکمن کېږي. ځکه چې نه د کابل خلکو او نه ملګرو ملتونو د شمال ټلوالې د حاکم کېدلو سره موافقت درلود او په ۱۹۹۲ ـ ۱۹۹۴ م کلونو کې د نومورې ټلوالې تورې او کرغېړنې کارنامې لا د ټولو په یاد وې.

له همدې امله د طالبانو په سقوط او نسکورېدلو په نږدې کېدلو او یقیني کېدو ملګرو ملتونو د امریکې او لویدیځو هېوادونو په سلا پرېکړه وکړه، چې باید په کابل کې د قدرت د تشوالي مخه ونیول شي او هېڅ لورې ته دغه حق ورنه کړای شي چې په خپل سر د کابل ښار ته ورننوځي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان ځانګړي استازي لخدر ابراهیمي چې په افغانستان باندې د امریکې دهوایي برغل سره یې خپلې هڅې چټکې کړې او هم یې مرستیال فرانسیس وندرل خپل فعالیتونه ګړندي کړي وو. د افغانستان لپاره د یو نوي حکومت د رامنځته کولو منصوبه تر لاس لاندې ونیوله.

د بېلابېلو افغاني ډلو ټپلو او سیاسي او جهادي ګوندونو سره تماسونه ونیول شول چې په دې جمله کې د روم او قبرس جریانونه او د پېښور جهادي او ازاد تنظیمونه هم شامل وو.

له بلې خوا د شمال ټلوالې خواکونه چې امریکایي بمباریو ورته دځان راټولولو او حرکت کولو چانس ورکړی و ولایات یې د طالبانو له مقابلې پرته یو پر بل پسې نیولي وو او کابل ته د را ننوتلو په هیله وو او پروفیسر برهان الدین رباني چې وروستي کلونه یې په روسیه، تاجکستان او ایران کې په جلا وطنۍ تېر کړي وو بېرته هېواد ته د راننوتلو او کابل ته د داخلېدو ارمان یې د پوره کېدو په حال کې لیده.

روسیې اعلان وکړ، چې د طالبانو تر سقوط نه وروسته باید استاد رباني یوځل بیا د جمهوري ریاست واګې په لاس کې واخلي.

ځکه چې هغه د افغانستان قانوني او زموږ له خوا منلی شوی دولتي مشر دی.

د افغانستان ګاونډیو هېوادونو لکه تاجکستان، ازبکستان او ایران هم عین نظر درلود. لیکن پاکستان ددغه نظر سره مخالفت درلود او د شمال ټلواله یې په یوازې خان په کابل باندې د حاکم کېدلو حقداره نه ګڼله.

پاکستان، تاجکستان، ازبکستان دریو وارو هېوادونو خپله خاروه او هوايي اډې د امریکې په واک کې ورکړې وې، چې د طالبانو خلاف ورځخه کار واخلي. لیکن ایران دې کار ته غاړه نه وه ایښې وخت او زمان نور د طالبانو پرځای د شمال ټلوالې په ګټه تېرېده او هغه ټلواله د امریکې او برتانیې په مرسته د کابل دروازو ته ورنږدې کېده.

کابل ښاریان د ټولو نه زیات د تشویش او پریشانۍ سره مخامخ وو اویه ملګرو ملتونو باندې دغه غږ کاوه چې په کلکه کابل ښار ته د شمال ټلوالې د ملیشو د ننوتلو مخه ونیسي.

خوا په امریکه کې امریکايي سناتورانو، هم جمهوریت غوښتونکو او هم د موکراتانو هم د بوش له ادارې نه غوښتنه کوله چې د شمال ټلوالې خواکونو ته اجازه ورنه کړي چې کابل ته ننوزي. چې د برتانیې صدراعظم توني بلیر هم همدغه غوښتنه کوله او کابل ښار ته د شمال د ټلوالې په ور ننوتلو راضي نه وو. لیکن ددغو ټولو خبرو سره سره حالات او شرایط دومره ګډوډ شوي وو چې په هېڅ وجه د شمال ټلوالې مخه نه شوه نیول کېدی او لاس د بري چار و.

دملګرو ملتونو خاص استازی لخدر ابراهیمي چې دا وخت په خپله په کابل کې و او دشمالي ټلوالې د مشرانو سره یې هم لیدلي وو. دغه وس ونه موند چې دکابل نه د طالب جنګیالیو له وتلو وروسته د کابل ښار په یوه نورمال حالت کې وساتي. نوموړی په دې هڅه کې و

چې د جرمني حکومت د وړاندېز له مخې په هغه هېواد کې بین الافغاني غونډه ډېره ژر جوړه او د افغانستان د راتلونکي برخلیك په اړه تصمیم ونیول شي.

دکابل نه د طالب خواکونو له وتلو وروسته د افغانستان له دننه او هم په ترېواله کچه د بین المللي ادارو له خولې همدغه تقاضا اورېدل کېدله چې کابل ته باید جنګي ډلې په هېڅ وجه داخلې نه شي، خو شمالي تلوالې چې د اقتدار د بېرته نیولو جنون ورسره و دغه تقاضاوې او غوښتنې نه منلې.

د روسیې ولسمشر پوتین خو په همدې ګډوډو حالاتو کې اعلان وکړ چې د شمال تلوالې دپوځي ځواك لپاره یې عسکري لباس جوړ او د هغوی په اختیار کې ورکړی دی. چې په هغو کې روسي ډوله عسکري خولۍ هم شاملې وې. په همدې جامه کې چې د روس ملحدانو پوځي جامه وه شمالي تلواله په کابل ور ننوتله. دا وخت کابل ښار د بهرنیو ژورنالیستانو، عکاسانو، تلویزیوني کمرو لرونکو او نورو څخه ډك و او نړیوالو د مهاجرو افغانانو سره یوځای د کابل ښار په اړه جریانات ژوندلي لیدلی شول، چې په روسي عسکري جاموکې دشمال تلوالې ملیشا هم په دې جمله کې وو.

پروفیسر برهان الدین رباني یوځل بیا دکابل په ښار کې ولیدل شو او دکابل ښاریانو په ذهن کې یوځل بیا د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۴کلونو ترخې خاطرې را ژوندۍ شوې او پخوانۍ تشویشونه یې بېرته راتازه شول.

د استاد رباني اواز بیا له بي بي سي راډیو، د امریکې غږ راډیو او سي ان ان له تلویزیوني شبکې واورېدل شو. چې د خپلې منلې واکمنۍ په بېرته را ژوندي کېدو یې خوشحالي څرګندوله

هغـه د ننـه پـه زړه کـې امریکـې تـه دعـا کولـه چـې د طالبـانو د ځواکمنۍ او واکمنۍ ته یې د پای ټکی ایښی و او دشمال ټلواله یې بیا قدرت ته رسولې وه.

پروفیسر رباني په دې حقیقت پوهېدلو چې که طالبان په قدرت کې پاتې وای نو دشمال ټلوالـې د هېواد هغـه کوچنـۍ برخـه هم چې پـه لاس کې یې پاتې وه لـه لاسه ورکوله او فیض اباد ته د بېرته راستنېدو او مېشته کېدو ارمان یې د تل لپـاره پـه زړه کې پاتې کېده او دادی اوس امریکا د هغوی لپاره د ناجي حیثیت پیدا کړی و.

د استاد رباني او د شمال ټلوالـې لـه خوا پـه کـابل کـې د قـدرت نیولو سره نه د ملګرو ملتونو موسسـې، نـه امریکـې، نـه افغانـانو او نـه هم لویدیځې نړۍ موافقت درلود. لیکـن د ټلوالـې مشرانو دغـه دلیـل راوړلو چې د طالبانو له وتلو وروسته افغانستـان د قـدرت لـه خلا سره مخامخ دی او دوی ځانته دا حق ورکوي چې دغـه خلا پـه خپـل حضـور بېرته ډکه کړي.

نړیوال، د ملګرو ملتونو موسسـه، امریکه او برتانیـه پـه ځانګړي توګه په دې حقیقت ډېر ښه پوهېدل چې کابل تـه دشمال ټلوالـې ننوتـې ځواك یوازې د نظار شورا پورې تړاو لري، چې تاجکان پـه کې اکثریت لري. پـه دې کـې د ازبـك جنګسـالار عبدالرشید دوستم او هزاره حـزب وحـدت ځواکونـه نـه لیـدل کـېدل، همدغــه ډول د هراتــي جنګســالار اسماعیل خان ملیشا قوتونه په کې نه وو. ځکه خو ورتـه ټلوالـه نـه شوه ویـل کـېدای. همدغـه شـان د ننګرهـار، پکتیـا او کندهـار وسـله وال ځواکونـه پـه کې نـه وو موجـود. ځکـه چـې هلتـه لا د امریکـې هوایـي بمبارۍ روانې وې او کندهار لا طالب جنګیالیو په خپل لاس کې سـاتلی او په کلکه یې ورنه دفاع کوله.

## د بن غونډه

## او د افغانستان لپاره د نويو حکومتونو د جوړونې ترون

په تيرو کرښو کې موږ دې ټکي ته اشاره وکړه، چې د هېواد په ښارونو، کليو او بانډو، غرونو او رغونو باندې د امريکايي الوتکو د سختو او بې شمارو بمباريو له امله طالب جنګيالي دې ته مجبور شول، چې د جګړې د لومړيو کرښو نه په شا شي. ولايتونه او ولسوالۍ يو د بل پسې خوشې کړي او يوازې د کندهار دولايت د ساتلو او د امريکې د ځواکونو سره د مقابلې هوډ په خای کړ.

دکابل ښار نه د طالبي قوتونو د وتلو سره سم امريکې او ملګرو ملتونو دطالبانو د اسلامي امارت او د مذهبي نظام د ړنګيدو اعلان وکړ، چې ددې اعلان سره يوه عجيبه سياسي فضا منځته راغله. روسيې، ايران او حتی امريکې په کابل ښار کې د خپلو سياسي نماينده ګانو د پرانيستلو خبره راپورته کړه او رسيې د کابل ښاريانو لپاره د روغتيايي عاجلو مرستو په بهانه په روسي پوځيانو بار يوه الوتکه د اوږدو کلونو وروسته د بګرام په هوايي ډګر کې راښکته کړه.

دیادونې ور ده چې د بګرام هوایي اډه د طالبانو د ماتې نه وروسته د امریکایي او برتانوي ځواکونو له خوا چې په لړشمېر کې هلته پلي شوي وو. په ډېره چټکتیا ترمیم او فعاله شوې وه.

همدغه ډول د مزارشریف څخه د طالب ځواکونو تر وتلو وروسته په هغه ښار کې فرانسوي پوځیان په کوچنیو ډلو کې پلي شوي او دهوایي ډګر او ځینو نورو تاسیساتو چې د امریکې د بمبارۍ له امله زیانمن شوي وو رغونې کار پیل کړی و.

له بلې خوا امریکې او برتانیې د ازبکستان د ولسمشر اسلام کریموف څخه په کلکه غوښتي وو چې هرڅومره ژرکېدلی شي د حیرتان بندر او د دوستۍ پل بېرته پرانیزي ترڅو د هغوی لپاره د استفادې ور اوسي.

امریکې د خپلو هوایي بریدونو په دوران کې د هېواد اکثر هوایي ډګرونه چې دکابل او کندهار هوایي ډګرونه هم په کې شامل وو له کاره غورځېدلي وو.

د حیرانتیا ځای و چې په ننګرهار، کندهار، پکتیا او پکتیکا، لوګر او وردګ، کونړ او لغمان لا د امریکې هوایي حملې روانې وې. چې امریکې او ځینو نورو هېوادونو په کابل کې دخپلو سفارتونو د بېرته پرانیستلو پرېکړه وکړه او په ډېر لنډ وخت کې یې دغه پرېکړه د عمل په ډګر کې پلې کړه.

د امریکې او متحدینو پوځي ډلې افغانستان ته راورسېدې او د ورسپارل شویو کارونو سرته رسول یې پیل کړل. له بلې خوا ملګرو ملتونو، امریکې، برتانیې، جرمني، فرانسې د افغانستان لپاره د نوي یا نویو حکومتونو دجوړېدو منصوبه د لاس لاندې ونیوه او جرمني ددې مقصد دپوره کېدلو لپاره د خپل کوربه توب وړاندیز له مخکې نه هغو ته ورسپارلی و.

د ملګرو ملتونو استازی لخدرابراهیمي کابل ته د خپل سفر په دوران کې د شمال ټلوالې دمشرانو او روم ته د ورتلو پر مهال یې د پخواني پاچا محمدظاهرخان او د هغوی د سلاکارانو او نږدې خپلوانو لکه جنرال عبدالولي، سردارسلطان محمودغازي، مصطفی ظاهر او نورو سره د کتنې او خبرو وروسته دغه موافقه لاسته راوړې وه، چې د روم په غونډه کې به د پاچا په استازیتوب برخه اخلي.

د ملګرو ملتونو نماینده د قبرس د جریان د مشرانو او په پېښور کې د ځینو تنظیمي مشرانو او خپلواکو افغاني ټولنو او نهادونو سره له نږدې کتلي او د راتلونکي حکومت په اړه ورسره غږېدلی و. لخدر ابراهیمي په ننګرهار کې هم د ننګرهار د شورا مشرانو او د حاکمو قوتونو د مسولانو سره لیدنې کتنې کړې وې او دغه موافقه یې لاسته راوړې وه چې د بن په غونډه کې به ګډون کوي.

د ۲۰۰۱ میلادي کال د نوامبر په میاشت کې د جرمني د بن ښار ته نږدې په یوه ستر پخواني هوټل کې د ملګرو ملتونو، امریکې، المان، برتانیې، ایټالیې، هالینډ او ځینو نورو اروپایي هېوادونو چې جاپان، ایران او پاکستان استازي هم د کتونکو په توګه حاضر وو. د افغاني بېلابېلو ډلو د غړو ترمنځه شانداره غونډه د عظیم الشان قران د ایاتونو په لوستلو پیل شوه.

په دې غونډه کې تر ټولو زیات کسان د شمال ټلوالې (په حقیقت کې د نظار د پخوانۍ شورا) غړي وو او تر ټولو لږ په کې د ننګرهار د شورا او د پېښور د سیاسي ډلو او د ازبکو نماینده ګان وو.

شمال ټلوالې چې یواځې په تاجکو پورې یې اړه درلوده د خپل پخواني جنګ سالار احمدشاه مسعود یو غټ عکس هم له ځان سره د غونډې تالار ته راوړی و. (احمدشاه مسعود د ۲۰۰۱م کال د سپتامبر د میاشتې په نهمه نېټه د تخار د ولایت مربوط د خواجه بهاء الدین په

ولسوالۍ کې د ناپېژندل شویو کسانو له خوا دبم په چاودنه کې وژل شوی و).

بهرنیو کډوالو او افغاني استازو دې حرکت ته د حیرانتیا په سترګو وکتل، ځکه چې هېڅ توقع یې نه کېدله. دبن د غونډې پایلو ته نه یوازې افغانان بلکې بهرنی نړۍ هم د انتظار سترګې نیولې وې او زیاتې هیلې ورپورې تړلې وې.

د جرمني مطبوعاتو او ټلویزیون هره ورځ دغونډې عکسونه او جریانات خپرول. عین دغه کار د امریکې او لویدیځو هېوادونو اطلاعاتي ادارو او موسسو له خوا سرته رسېده او ډول ډول تبصرې ددې غونډې په باره کې خپرېدلې. په ټولو لیکنو او تبصرو کې په دې خبره زیات تاکید کېدلو چې افغانان باید له دې طلایي چانس نه پوره ګټه واخلي د خپل منځي اختلافاتو نه تېر شي او د افغانستان ملي ګټې په پام کې ونیسي.

د بن په غونډه کې حاکمه ژبه فارسي او دغونډې اکثریت هم غیر پښتانه وو چې دغه وضع په پښتنو استازو ښه نه لګېده او ځینې ایمانداره پښتنو دغونډې سره بایکاټ وکړ او د تالار نه ووتل چې د ننګرهار والي او پخوانی مجاهد عبدالقدیر هم په هغه جمله کې وو.

حاجي عبدالقدیر په دې وینا چې په دې غونډه کې څو نه پښتو ژبه او نه د پښتنو ریښتینې ستازي ګډون لري نو زه هم له غونډې وځم چې وروسته بیا نوموړي د بي بي سي راډیو سره همدا خبرې وکړې.

غونډې نهه ورځې دوام وموند او لامل یې دا و چې شمالي ټلواله د زیاتو امتیازاتو غوښتونکې وه او دلیل یې راوړو چې دا وخت د افغانستان حاکم ځواک د شمال ائتلاف دی او دوی طالبانو ته ماتې ورکړې ده.

دغونډې کار د ملګرو ملتونو د استازي لخدر ابراهیمي پرغاړه او په دې برخه کې یې زیات فعالیت کاوه. د هر افغان استازي سره بې جلا جلا لیدل کتل او خبرې یې ورسره کولې او په همدې خبرو کې یې نور قانع کول غوښتل چې د شمال ائتلاف امتیاز طلبی ته کوم ارزښت او اهمیت ورنه کړي او پرېږدي چې غونډه له ناکامېدلو بچ وساتل شي.

دبن دغونډې پرانستل کېدلو په وخت د شمال ټلوالې استازی محمد یونس قانوني په خپله وینا کې وویل چې:

" موږ غواړو نړۍ ته وښایو همغه ډول چې موږ افغانان د جهاد د جګړې اتلان وو د سولې او روغې جوړې د راوستو اتلان هم یو او خپل منځي ستونزې او شخړې په خپله اوارولی شو."

( موږ ددې کتاب د پنډوالي لـه امله نه شو کولی د بن د غونډې بشپړ جریان او د غونډې د قرارداد متن دلته راوړو. باور دی دکتاب لوستونکي به موږ له دې امله ګرم ونه بولي.)

دبن د موافقې اصلي او عمده ټکی دا و چې دملګرو ملتونو او امریکې او لویدیځو هېوادونو په مرسته او همکارۍ به د افغانانو له خوا لومړی یو لنډ مهالې حکومت چې عمر به یې شپږ میاشتې وي چې غړي به یې په همدې غونډه کې معرفي او منظور کېږي. چې یو تن مشر او د دېرشو تنو په شاوخوا کې غړي ولري. چې مشر به یې د حکومت سربراه او غړي به یې د وزیرانو حیثیت ولري.

څرنګه چې د وزارتونو په وېش او د حکومت د کلیدي او مهمو وزارتونو په اخیستو کې سم تناسب نه و موجود او د شمال ټلوالې تر ټولو زیات پستونه او څوکۍ ترلاسه کړې وې چې د بهرنیو، کورنیو او ددفاع د وزارتونو څوکۍ هم په کې شاملې وې او پښتانه په غوڅ اقلیت کې راوستل شوي وو نو ځینو پښتنو استازو لکه ډاکټر انورالحق احدي چې د افغان ملت ګوند مشرتوب هم پرغاړه لري، د بن د غونډې په

منظور شوي قرارداد لاسليك ونه كړ او همدغه ډول د قبرس د جريان استازي له قرارداد سره يوازې شفاهي موافقه ښكاره كړه نه تحريري يا ليكلې.

د ازبكو او هزاره ؤقومونو يا تنظيمونو استازي هم ګوښه پاتې شول او په قرارداد يې اعتراض هم وكړ. يوازې دپخواني پاچا او پېښور دسياسي او خپلواكو ډلو استازو رضايت ښكاره كړ او له اعتراض نه يې ډډه وكړه.

دبن دغونډې په قرارداد كې حامد كرزی چې دا وخت لا په ارزګان كې د طالبانو سره د مبارزې په مورچل كې ناست و دلنډمهالې ادارې د مشر او د شمال ټلوالې پورې تړلي، ډاكټر عبدالله عبدالله د بهرنيو چارو وزير، محمديونس قانوني د كورنيو چارو وزير او محمدقاسم فهيم جنرال د ملي دفاع وزير په توګه ټاكل شوي وو او دغه ټاكنې په داسې شرايطو او حالت كې وشوې چې طالبان لا په كندهار كې مسلط پاتې وو او د هېواد دننه د امريكې بمباريو دپخوا په شان دوام درلود او په سوونو بې ګناه ولسي خلك د بمونو او توغنديو خوراك كېدل.

دبن په غونډه كې حاكمه او رسمي ژبه يوازې فارسي وه او چې كله حاجي عبدالقدير د ترجمان له لارې لخدر ابراهيمي ته وويل چې پښتو ژبه خو د افغانستان د اكثريت خلكو (پښتنو) ژبه ده ولې په غونډه كې رسميت نه لري؟

نو د ملګرو ملتونو استازي ابراهيمي يې په ځواب كې وويل چې: خير دی پښتانه ټول په فارسي پوهېږي خو كه پښتو خبرې وشي نو بيا و د شمالي ټلوالې كسان په پښتو نه پوهېږي او بيا به هغوی ته ترجمان په كار وي.

د بهرنيو، كورنيو او د فاع د چارو وزيران درې واړه د استاد رباني د جميعت اسلامي د تنظيم غړي او د احمدشاه مسعود دنظار د

شورا پیاوړي ستنې وې او چې کله په جرمني کې افغانانان خبر شول چې د بن په غونډه کې دشمال تلوالې کسان اکثریت لري او د نظارد شورا ځتې هم په کې شته نو د غونډې په دوران کې د هوټل مخې ته په سوونو افغانانو چې ډیره کې یې پښتانه وو زروره مظاهره وکړه چې لیکلي شعارونه یې هم په لاس کې نیولي وو.

دبن په غونډه کې د منل شوي او رسمي شوي قرارداد له مخې په افغانستان کې لومړی یو لنډ مهالې حکومت چې د شپږو میاشتو لپاره به د ټاکلي پروګرام پر بنسټ خدمت کوي او لومړني ضروري کارونه به سرته رسوي، چې له هغو ضروري کارونو نه د لومړنۍ لويې جرګې د جوړېدو لپاره لاره اوارول، په هېواد کې د امنيت ټينګول د لويو لارو بېرته جوړول، د پوهنې د سيستم بيا فعالول د روغتيايي او اقتصادي چارو په ښه شان سمول او داسې نور وو.

د بن د غونډې د پام وړ پايله داوه چې امريکې، لويديځو هېوادونو، نړيوال بانك، د اسيا دپرمختيابانك، د ملګرو ملتونو وجهي صندوق، جاپان، سعودي عربستان او اسلامي بانك د افغانستان د بيا ودانولو په کار کې پوره ونډه اخيستله او په مليياردونو ډالر يې په دې كار كې د لګښت لپاره منلي وو، چې د همدې مقصد لپاره پرېكړه شوې وه، چې د ۲۰۰۲م كال د جنوري د مياشتې په ۲۱نېټه به د جاپان په پايتخت توكيو كې د مرسته كوونكو هېوادونو لويه غونډه جوړېږي چې په هغه كې به د افغانستان د لنډمهالې ادارې ريس او ځينې وزيران هم برخه اخلي.

د بن دغونډې په منظور شوي قرارداد كې ويل شوي وو چې نوی حكومت به په كابل كې په رسمي او اصولي توګه د پخواني حكومت د مشر برهان الدين رباني نه د حكومت واكې اخلي او د ۲۰۰۱م كال ددسمبر دمياشتې په ۲۲نېټه به رسماً په كابل كې په كار پيل كوي.

د بن د غونډې له پرېکړو سره سم عمل وشو او د بهرنيو او کورنيو نماينده ګانو پر وړاندې برهان الدين رباني د حکومت له مقام نه لرې او حامد کرزی دلنډ مهاله ادارې د حکومت د ريس په توګه په کار پيل وکړ.

د حکومت د لېږدولو د مراسمو په وخت کې چې څومره ويناوې وشوې هغه ټولې په پارسي ژبه وې او ان چې د نوي حکومت مشر حامد کرزي هم خپله اوږده وينا په فارسي واوروله. په داسې حال کې چې په مليونونو پښتنو د افغانستان دننه او د باندې دغه هيله درلوده چې حامد کرزی به د برهان الدين رباني، يونس قانوني او نورو د فارسي وينا په مقابله کې په ملي او خپلې مورنۍ ژبه پښتو وينا کوي او د پښتون ولس حق به ادا کوي ليکن داسې ونه شول.

حامد کرزی د کندهار دکرز د سيمي اوسېدونکی په ختيه پوپل زی پښتون او د مرحوم عبدالاحد خان کرزی زوی دی، چې د افغانستان د ولسي جرګې منتخب غړی او د هغه جرګې معين هم و.

حامد کرزی خپلې لوړې زده کړې د MA يا ماسټرۍ تر درجې پورې د هندوستان د شملې په پوهنتون کې د سياسي علومو او حقوقو په څانګه کې سرته رسولې دي.

په ټوليز ډول د کرزيانو د کورنۍ ټول غړي روڼ اندي، پوه او وطنپال خلك وو او دي. حامد کرزی هم د خپل مرحوم پلار په لاره روان او د پخواني پاچا محمدظاهرخان د ملاتړو له جملې څخه پېژندل شوی دی، همدغه وجه وه چې دنوي حکومت په مشرتابه له ټاکل کېدو وروسته روم ته لاړ او هلته يې د پخواني پاچا سره ليدل کتل وکړل او د هغوی مشوره يې ترلاسه کړه.

دین د غونډې د پرېکړې له مخې به د لنډ مهالي حکومت ددورې د پوره کېدو نه وروسته لویه جرګه راغوښتل کېږي او پخوانی پاچا به دلویې جرګې د پرانیستلو لپاره هېواد ته راستنېږي، د لویې جرګې له خوا به انتقالي یا عبوري حکومت ددوو کلونو لپاره چوڼ کېږي او د همدې حکومت په دوره کې به د هېواد لپاره نوی اساسي قانون تدوین او تسوید کېږي او د هېواد پوځي. سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې اداري به په ملي بنه منځته راځي او افغانستان به د خپل زوړ او لرغوني تاریخ نوي پړاو ته ورداخلېږي.

## د هېواد وروستي حالات او نوي اټکلونه

د اوسني کتاب د وروستي څېرکي په وخت په افغانستان کې نوي لنډمهالي حکومت په کار پیل کړی او د بهرنیو هغومرستو د لاسته راوړلو لپاره هڅې روانې دي، چې د امریکې او لویدیځو او ختیځو پانګوالو هېوادونو له خوا یې وعده ورکړی شوې ده.

په دې اړوند ټولې هیلې د جاپان د غونډې پورې تړلې دي. د نوي حکومت رئیس د سعودي عربستان په سفر تللی او له هغه ځایه به دیوه اووه لس کسیزهیئت (پلاوي) په مشرۍ توکیو ته چې دېر خلك اټکل کوي چې ښايي د افغانستان د بیا ودانۍ لپاره کافي پیسې د افغانستان حکومت ته ورکړل شي. خو د امنیت له پلوه لا خلك ډاډمن حالت نه لري. دکورنۍ غړي اوس هم تښتول کېږي او په مزار- هرات- کندهار او ننګرهار کې لا دلنډ مهالي حکومت اغېز نه لیدل کېږي او جنګسالاران د پخوا په شان ځواکمن پاتې دي. دمرکز اوامر لا په صداقت او ورین تندي نه قبلوي.

د لندن د سنډې تلګراف ورځپاڼې د کابل څخه د خپل خبریال په حواله ولیکل چې د نوي حکومت په دریو اونیو کې یوازې د کابل په ښار کې ۷۰ تنه وژل شوي دي چې سوداګر هم په دې جمله کې شته

دي، دورځپانې دغه مطلب د بي بي سي راډيو په پښتو پروګرام کې خپور شو.

امريکايي او برتانوي ځواکونو لا نه اوسامه بن لادن موندلی او نه هم د طالبانو د غورځنګ مشر ملا محمدعمر اخوند. هغه عرب چې د القاعده د ډلې پورې تړاو لري. د ځينو طالب جنګياليو سره يوځای د امريکې له خوا د جنګي بنديانو په توګه د کيوبا د هېواد د ګوانتانامو امريکايي زندان ته لېږدول شوي دي.

د نوي حکومت د وزيرانو په ډله کې داسې کسان هم ليدل کېږي، چې پخوا يې د امريکې د کاليفورنيا په ايالت کې د پښتون دښمنی جريدې (اميد) په پاڼو کې پښتنو ته کنځل کول او د پښتون قام او پښتو ژبې سره يې مخالفت څرګندولو.

دوی د اميد او خراسان په جريده او مجله کې دا خبره هم راپورته کړې وه چې د افغانستان نوم بېرته خراسان کړي، ځکه چې د افغانستان نوم د افغان (پښتون) له نوم سره تړاو لري.

دوی دلويې جرګې د نوم او دپوهنتون د کليمو سره حساسيت ښکاره کاوه او په ليکنو کې يې دلويې جرګې پر ځای مجلس کبير او د پوهنتون او پوهنځي د نومونو پرځای يې دانشګاه او دا نشکده ليکل او په ليکنو کې يې پښتنو ته د بې فرهنګ ټکی استعمالاوه.

دغه ډله وزيران د روم د جريان له خوا ټاکلي شوي او په هغه لست کې يې نومونه کښل شوي وو چې د روم له لوري د بن غونډې ته ورانديې شوی و. چې دغه تشويش يوې ډلې پښتنو روڼ اندو چې له جرمني څخه روم ته ورغلي وو هم پخواني پاچا او دهغوی د کورنی غړو ته څرګند کړی و.

په دې حالت کې دغه اټکل کېږي چې که پاچا بېرته هېواد ته راستون او د راتلونکي حکومت مسوليت او يا نګراني پر غاړه واخلي

نو ښايي په پښتنو باندې فرهنګي ښکيلاك د پخوا په شان پر ځاى پاتې شي.

پښتون قام له هغو پښتنو مشرانو څخه چې په راتلونکي لويه جرګه کې د ولس په استازيتوب ګډون کوي په کلکه دغه غوښتنه لري چې بايد په همدې لويه جرګه کې د پښتو ژبې د رسمي کېدلو مسله هم په مېړانه راپورته او د شلو ميليونو پښتنو حق د راتلونکي لپاره د پامال کېدو نه بچ کاندي، د فرهنګي ښکيلاك د دوام مخه ونيسي او په دې ډول راتلونکي توك ته خپله غاړه خلاصه او د پښتنې مورشيدې حلالې کړي.

فرهنګي ښکيلاك د پښتنو نه خپل اصلي هويت اخيستى او ډېره کيان پښتانه يې د لړه کيانو تر معنوي اغېزې لاندې راوستي دي، د هر هغه قوم چې ژبه محکومه وي په خپله هم محکوم ګڼل کېږي.

د پښتو ملي ژبې د حق غوښتل د بلې ژبې پر حق باندې تېری نه دی، بلکې د نورو ژبو د ويونکو سره دګډ او برابر ژوند ډېره غوره لاره ده، که په افغانستان کې پښتانه د ژبې د محکوميت له لارې محکوم ساتل اصلي موخه وي نو دغه ډول تفکر يو ښکيلاکي تفکر دی او استعماري ريښه لري.

نن چې دپښتون قوم د زوړ تاريخ نوی پړاو پيل شوی او افغانستان د نويو بدلونونو سره مخامخ کېدونکی دی، نو له هرڅه نه مخکې بايد پښتانه د فرهنګي ښکيلاك له زنځيرونو ازاد شي. که د شمال ټلواله ځانته دغه حق ورکوي چې لنډ مهالې حکومت ته د قدرت د واکې سپارلو په فارسي ژبه ملي سرود ووايي او په نوي حساسه مرحله کې د ځواکمنۍ مظاهره وکړي، نو پښتانه چې دخپلواك افغانستان جوړوونکي پېژندل کېږي هم دغه حق لري چې ژبه يې د

راتلونکو حکومتونو د چارچلونې ژبه وي او د کومې بلې ژبې د حاکمیت سیوري یې پر سر ونه لیدل شي.

د فرهنګي ښکیلاك زنځیرونو یې له پښتو مات شي او ژبه یې پوره رسمیت او په حکومتي چارو کې قانونیت پیدا کړي. پښتانه دا د ...روري لار بولي او د هېواد راتلونکي واکداران باید دې حقیقت ته پوره پاملرنه واړوي ژبه د فرهنګ بنسټ جوړوي دیو قوم د ژوندي پاتې کېدو یوازینۍ ارزښتمنه وسیله هم ګڼل کېږي.

# اخځليکونه

د "پښتانه د فرهنګي ښکيلاك په زنځيرونو کې" د کتاب د ليکلو پر وخت لاندنيو ته اثارو لنډه کتنه شوې ده:


۱_ افغانان . مونت ستوارت الفستون، د محمد اصف فکرت ژباړه _ د ايران ټاپ.

۲_ افغانستان درمسيرتاريخ، ميرغلام محمدغبار، دکابل ټاپ.

۳_ افغانستان ، علی رضا ابادی، د ايران ټاپ.

۴_ افغانستان ديپلوماسی دوچهره، ناصر مستوری کاشانی، د ايران ټاپ.

۵_ افغانستان وظهورطالبان، حسام الدين امامی // //.

۶_ افغانستان در پنج قرن اخير، م . صديق فرهنګ ، د امريکې ټاپ.

۷_ انغانستان درقرن ۱۹ ، سيدقاسم رښتيا ، د کابل ټاپ.

۸_ افغانستان . سرورايزرتلر، احمدکهزاد ، د لندن ټاپ.

۹_ افغانستان از امير کبيرتا رهبر کبير، عبدالحق مجددي، دپېښورټاپ.

۱۰_ افغانستان عصر مجاهدين و برامدن طالبان، چنګيز پهلوان، د ايران ټاپ.

۱۱_ اسناد لانه جاسوسی امريکا ، دانشجويان خط امام، د ايران ټاپ.

۱۲_ اردو وسياست، جنرال نبي عظيمی، د پېښور ټاپ.

۱۳_ اکبرنامه . حميدکشميری، دکابل ټاپ.

۱۴_ ايران در زمان ساسانيان، ارتوکريستن سن، درشيد ياسمي ژباړه، ايران ټاپ.

۱۵_ افغانستان او سرحد، "Afghanistan and the Frontier" ډاکټر فضل الرحيم مروت، پېښور چاپ.
۱۶_ ايينه افغانستان، دکتور سيدخليل الله هاشميان، ۳۸ ګڼه ۱۹۹۴ م کال. امريکا.
۱۷_ بازی بزرګ، پيترهاپکرك، د محمداسحق توخي ژباړه، د پېښور چاپ.
۱۸_ بحران ونجات، غلام محی الدين انيس، د پېښور چاپ.
۱۹_ پښتانه، سراولاف کيرو، د شېرمحمدکريمي ژباړه، پېښورچاپ.
۲۰_ پروفيسرامير حسين عابد، د کنفرانس متن، ډهلي (هند).
۲۱_ پادشاهان متاخر، يعقوب علی صافی، دکابل چاپ.
۲۲_ په سرحدي صوبه کې رومبنی ثقافتي کنفرانس، ۱۹۸۶م کال، د پېښور چاپ.
۲۳_ تاريخ سياسی افغانستان، سيدمهدی فرخ، د ايران چاپ.
۲۴_ تاج التواريخ، اميرعبدالرحمن خان، دپاريس چاپ.
۲۵_ تاريخ روابط سياسی ايران و انګليس، محمودمحمود، د ايران چاپ.
۲۶_ تتمه البيان فی تاريخ الافغان، علامه سيد جمال الدين افغان، د محمدامين خوګياڼي ژباړه، کابل.
۲۷_ تيمورشاه دراني، عزيزالدين وکيلي پوپلزای، دکابل چاپ.
۲۸_ جنګ افغانستان، اوليورغوا، د ايران چاپ.
۲۹_ جنبش مشروطيت در افغانستان، استاد عبدالحی حبيبي، کابل چاپ.
۳۰_ حاکميت قانون، اعليحضرت امان الله خان، ح، رفيع، د پېښورچاپ.
۳۱_ حقيقت التواريخ، عبدالحق مجددي // //

۳۲_ خاطرات سیاسی، سیدقاسم رښتیا، د امریکې چاپ.
۳۳_ خاطرات. دکتور عبدالحکیم طبیبي، د سویس چاپ.
۳۴_ دعوت (طارق بزګر)، ناروې، ۱۰۵_۱۰۶_۱۰۷_۱۰۹_۱۱۰ ګڼې.
۳۵_ دخپلواکۍ جګړه، مولوی محمدظاهرشاه وزیر، د کابل چاپ.
۳۶_ د افغانستان دخپلواکۍ او نجات تاریخ. جنرال یارمحمدخان وزیري، دپېښور چاپ.
۳۷_ در دری. ۱۳۷۸ل کال، د ایران چاپ.
۳۸_ دجنبش ملي اسلامي فرهنګي خپرونه. د ۱۹۹۲م کال، د کابل چاپ.
۳۹_ د افغانستان برخلیك او ختیځ پښتانه، دکتور وارث محمدو زیر، د پېښور چاپ
۴۰_ سراج. ۱۳۷۸ل کال، ۱۶_ ۱۷ ګڼې، د ایران چاپ.
۴۱_ سراج التواریخ. ملا فیض محمدکاتب هزاره، دپېښور چاپ.
۴۲_ سفارت روسیه تزاری به دربار امیرشېرعلیخان، یاورسکي، ژباړونکی برښنا، دکابل چاپ.
۴۳_ سراج // ۱۳۷۸ل، ۱۸ ګڼه د ایران چاپ.
۴۴_ ظهور وزوال حزب دموکراتیك خلق، دستګیر پنجشېری، دپېښورچاپ.
۴۵_ عیاری از خراسان، استاد خلیل الله خلیلی. د کابل چاپ.
۴۶_ کله منارها در افغانستان، محمدعیسی عرجستانی، د ایران چاپ.
۴۷_ کاروان، سرطان ۱۳۷۵ل کال، امریکا.
۴۸_ ملی زاویه، حبیب الله رفیع، دپېښورچاپ.

۴۹_ میزان، د ۱۹۹۷کال ۷_ ۹ گڼې او د ۲۰۰۰م کال ۶۰ گڼه د ډهلي چاپ.
۵۰_ نوای معارك، میرزاعطا محمد، دکابل چاپ
۵۱_ وطن یا کفن، نورالبشر نوید، د پېښورچاپ.
۵۲_ جنبش طالبان ، مولوی حقانی، سراج، ۱۵ گڼه ، ایران.
۵۳_ ائتلاف نامقدس، توماس والکوم، افغان رساله ۲۳_۲۴ گڼه.

## پایلیکونه


۱. سراولاف کیرو، پښتانه ، ۶۳۵مخ.
۲. افغانان. الفنستون، ۲۲۰ مخ.
۳. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۳۵۳مخ.
۴. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۱۰۰مخ.
۵. ایضاً همدغه کتاب ، فرخ. ۸۸ مخ.
۶. افغانان. الفنستون، ۴۱۳مخ.
۷. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۱۰۳مخ.
۸. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۳۷۲مخ.
۹. پښتانه . اولاف کیرو، ۴۶۱مخ.
۱۰. تاج التواریخ، امیرعبدالرحمن خان، ۶ مخ.
۱۱. همدغه کتاب. ۶مخ.
۱۲. پښتانه، اولاف کیرو، ۳۷۳مخ.
۱۳. همدغه کتاب. ۳۷۴مخ.
۱۴. افغانستان ، علی رضا ابادی، ۱۷مخ.
۱۵. همدغه کتاب، ۱۷مخ.
۱۶. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۱۱۵مخ.
۱۷. افغانستان . علی رضا ابادی، ۱۶مخ.
۱۸. افغانستان، دیپلوماسی دوچهره، مستوری کاشانی، ۱۷مخ.
۱۹. دعوت، ناروې، ۱۰۵، ۱۰۶، ۱۰۷، ۱۰۸، ۱۰۹، ۱۱۰مخونه.
۲۰. پښتانه . اولاف کیرو، ۳۸۹مخ.
۲۱. تاج التواریخ، امیرعبدالرحمن خان، ۸ مخ.
۲۲. ایران در زمان ساسانیان، ارتوکریستن سن، ۸۲مخ.
۲۳. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۴۰ مخ.

۲۴. سراج، حمزه واعظی، ایران ۱۶_۱۷ ګڼه ۴۱مخ.
۲۵. تاریخ افغان، سیدجمال الدین افغان، محمدامین خوګیاڼي ژباړه. ۶۲_ ۱۵۶مخونه.
۲۶. همدغه کتاب، ۱۵۷مخ.
۲۷. پښتانه. اولاف کیرو، دشېرمحمد کریمي ژباړه، ۱۸۹مخ.
۲۸. همدغه اثر، ۱۸۷مخ.
۲۹. همدغه اثر .۱۹۱مخ.
۳۰. افغانستان ، علی رضاعلی ابادی، ۵۴مخ.
۳۱. سراج، ابواحسان ۱۸ ګڼه، ۱۶۸مخ.
۳۲. همدغه اثر، ۴۶مخ.
۳۳. سراج، حمزه واعظی ۱۸ ګڼه ، ۵۰ مخ.
۳۴. د پروفیسرامیرحسین عابدی کنفرانس متن، ډهلي.
۳۵. په ډهلي کالج، ډیلي پوهنتون کې د دکتورعابدي وینا ۱۹۶۹کال.
۳۶. افغانستان وظهورطالبان، حسام الدین امامي، ایران، ۱۱۴مخ.
۳۷. پښتانه، اولاف کیرو، ۵۵۹_ ۵۶۰ مخونه.
۳۸. همدغه کتاب، ۳۸۹مخ.
۳۹. Afghanistan and the frontier ډاکټر فضل الرحیم مروت، ۱۰۴، ۱۰۵ مخونه.
۴۰. افغانستان در پنج قرن اخیر، صدیق فرهنګ، ۲۲۹_ ۲۳۰ مخونه.
۴۱. سراج التواریخ ۲ ټوك، ملافیض محمدکاتب، ۲۶۱مخ.
۴۲. پادشاهان متاخر، یعقوب علی صافی، ۵۹ مخ.
۴۳. افغانستان ، علی رضا ابادی، ایران ۴۹ مخ.

۴۴. سراج التواریخ ۲ ټوك // ۲۳۱_ ۲۳۲مخونه.
۴۵. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، **۵۹۵**مخ.
۴۶. همدغه اثر **۵۹۵**مخ.
۴۷. اکبرنامه_ جمید کشمیری ۱۳۳۰ل کال ، ۱۶۱مخ.
۴۸. نوای معارك، میرزا عطامحمد، ۱۳۳۱ل کال ۱۶۱مخ.
۴۹. افغانستان درقرن ۱۹ سیدقاسم رښتیا، ۲۰۰ مخ.
۵۰. سراج التواریخ، // ۲۳۶مخ.
۵۱. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۲۲۴ مخ.
۵۲. افغانستان درقرن ۱۹، رښتیا، ۱۸۸ مخ.
۵۳. سفارت روسیه تزاری به دربارامیرشیرعلیخان، دکتوریاورسکي، ترجمه برشنا،
۵۴. همدغه کتاب، ۷۶مخ.
۵۵. همدغه کتاب، ۷۶مخ.
۵۶. ملی زاویه، حبیب الله رفیع، ۶۹ مخ.
۵۷. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۰۷مخ.
۵۸. بازی بزرگ، پیترهاپکرك، ترجمه اسحاق توخی، ۲۳۸مخ.
۵۹. سفارت روسیه تزاری بدربارامیرشیرعلیخان ۲ټوك، ۶۹ مخ.
۶۰. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۱۶مخ.
۶۱. همدغه کتاب، غبار، ۶۳۸.
۶۲. تاریخ سیاسی افغانستان، مهدی فرخ، ۲۹۹مخ.
۶۳. همدغه اثر ، ۲۹۸مخ.
۶۴. پښتانه، سراولالف کیرو، ۵۳۳، ۵۳۴مخ.
۶۵. افغانستان درقرن ۱۹، رښتیا، ۲۶۱مخ.
۶۶. سراج التواریخ، فیض محمد کاتب، ۱۷۷مخ.
۶۷. افغانستان درقرن ۱۹، رښتیا، ۱۱۱مخ.

۶۸. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۱۵مخ.
۶۹. تاج التواریخ، امیر عبدالرحمن خان، ۲ ټوک ۳مخ.
۷۰. همدغه کتاب، ۸ مخ.
۷۱. همدغه کتاب ۱ ټوک ۱۵۱مخ.
۷۲. همدغه کتاب ۱ټوک ۶۱مخ.
۷۳. همدغه کتاب ۲ټوک، ۱۶۲_ ۱۶۳مخ.
۷۴. همدغه کتاب، ۱ ټوک، ۵۷مخ.
۷۵. همدغه کتاب ۱ ټوک، ۱۵۳ مخ.
۷۶. همدغه کتاب ۱ ټوک، ۱۵۳ مخ.
۷۷. همدغه کتاب ۱ ټوک ، ۱۵۳مخ.
۷۸. سراج، ایران، ۱۶_ ۱۷ګڼه ۱۸۵مخ.
۷۹. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنګ، ۳۹۶مخ.
۸۰. سراج، ۱۶_ ۱۷ ګڼه، ۱۸۶مخ.
۸۱. همدغه ، ۱۸۶مخ.
۸۲. ایینه افغانستان ، اسحق نګارګر، ۴۸ګڼه ۱۹۹۴کال
۸۳. جنګ افغانستان ، اولیوررو‌ا. ۱۹۸مخ.
۸۴. افغانستان در قرن ۱۹ ، رښتیا ، الف او ب مخونه.
۸۵. سراج، ۱۶۰_ ۱۷ ګڼه ۱۸۲_ ۱۸۳ مخونه.
۸۶. کلـه منـار هـا در افغانسـتان ، محمدعیسـی غرجسـتانی، ۶۲مخ.
۸۷. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۸۳مخ.
۸۸. تاریخ سیاسی افغانستان ، مهدي فرخ، ۳۱۳_ ۳۱۵_ ۳۱۸_ ۱۲۲ مخونه.
۸۹. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۳۴۰مخ.
۹۰. تاج التواریخ ۱ ټوک، امیر عبدالرحمن خان ، ۱۶۲مخ.

۹۱. همدغه کتاب، ۱ټوک ۱۶۳مخ.
۹۲. افغانستان درپنج قرن اخیر، صدیق فرهنګ، ۲۶۳مخ.
۹۳. تاج التواریخ، ۱ټوک، ۲۰۵مخ.
۹۴. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنګ، ۲۶۷مخ.
۹۵. تاج التواریخ ۱ ټوک ۲۰۵مخ.
۹۶. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۵۸مخ.
۹۷. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنګ، ۲۶۷_۲۶۸مخونه.
۹۸. تاریخ روابط سیاسی ایران وانګلیس، محمودمحمود، ۱۱۶۸مخ.
۹۹. سراج التواریخ، فیض محمدکاتب، ۴۶۴مخ.
۱۰۰. افغانستان درپنج قرن اخیر. فرهنګ ۲۸۹مخ.
۱۰۱. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۲۸۵مخ.
۱۰۲. همدغه کتاب ۶۵۸مخ.
۱۰۳. تاج التواریخ، امیرعبدالرحمن خان، ۲۰۵مخ.
۱۰۴. سراج التواریخ، فیض محمدکاتب ۳ ټوک، ۴۰۸مخ.
۱۰۵. همدغه اثر، ۵۵۸مخ.
۱۰۶. دخپلواکۍ جګړې، مولوی ظاهرشاه وزیر، ۲۰ مخ.
۱۰۷. تاج التواریخ، ۲ ټوک امیر عبدالرحمن خان، ۶مخ.
۱۰۸. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۸۳مخ.
۱۰۹. همدغه اثر، غبار، ۶۸۲مخ.
۱۱۰. همدغه اثر ، غبار، ۶۸۲مخ.
۱۱۱. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۶۸۵مخ.
۱۱۲. پښتانه. اولاف کیرو، ۵۱۶مخ.
۱۱۳. په سرحدي صوبه کې رومبی ثقافتي کنفرانس، ۱۶۱مخ.
۱۱۴. پښتانه. اولاف کیرو، ۵۳۳مخ.

۱۱۵. تاج التواریخ، امیرعبدالرحمن خان، ۱۲۴ _ ۱۲۵مخونه.
۱۱۶. افغانستان ، فرایزوتتلر، احمدعلی کهزاد،
۱۱۷. دخپلواکۍ جګړې، مولوی ظاهرشاه وزیر، ۲۰_۲۱_۲۲ مخونه.
۱۱۸. افغانستان در مسیرتاریخ، غبار، ۶۹۴مخ.
۱۱۹. تاج التواریخ، امیرعبدالرحمن خان، ۱۱۹مخ.
۱۲۰. همدغه اثر، ۱۱۵مخ.
۱۲۱. همدغه اثر، ۱۰۵مخ.
۱۲۲. همدغه اثر، ۱۷۹مخ.
۱۲۳. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۲۹مخ.
۱۲۴. سراج، ایران، ۱۸ ګڼه.
۱۲۵. تتمه البیان فی تاریخ الافغان، د محمدامین خوګیاني ژباړه، ۷۲مخ.
۱۲۶. پښتانه، اولاف کیرو، ۱۸۷ مخ.
۱۲۷. همدغه اثر ۱۸۹مخ،.
۱۲۸. همدغه اثر، ۱۸۹مخ.
۱۲۹. تاج التواریخ، ۱ټوك، ۱۲۴مخ.
۱۳۰. تاریخ سیاسی افغانستان ، مهدي فرخ، ۴۲۷مخ.
۱۳۱. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۱۱مخ.
۱۳۲. تاج التواریخ، امیر عبدالرحمن خان، ۱۲۴مخ.
۱۳۳. پادشاهان متاخر، یعقوب علی خافی، ۱۵۹مخ.
۱۳۴. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۰۰مخ.
۱۳۵. تاج التواریخ، امیر عبدالرحمن خان، ۱۷۶مخ.
۱۳۶. افغانستان ، علی رضا آبادی، ۱۴۲مخ.
۱۳۷. سراج، هزاره ها، حکام کابل، ۱۴۸مخ.

۱۳۸. همدغه ګنه، ۱۴۸مخ.
۱۳۹. تتمه البیان فی التاریخ الافغان، سیدجمال الدین افغان، ۱۷۲مخ.
۱۴۰. سراج، ۱۸ ګنه ۱۳۷۸کال، ۱۷۶مخ.
۱۴۱. همدغه ګنه ۱۴۲مخ.
۱۴۲. همدغه ګنه ۱۴۶مخ.
۱۴۳. خاطرات سیاسی، سیدقاسم رښتیا، ۴مخ
۱۴۴. افغانستان ازامیرکبیرتا رهبرکبیر، عبدالحق مجددي. ۳۲۸مخ.
۱۴۵. همدغه کتاب، ۳۲۸مخ.
۱۴۶. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۰۰ مخ.
۱۴۷. افغانستان ازامیرکبیرتا..... ۳۱۶ _ ۳۱۷مخونه.
۱۴۸. جنبش مشروطیت در افغانستان، علامه عبدالحی حبیبی، ۸_ ۹مخونه.
۱۴۹. همدغه اثر // ۸مخ.
۱۵۰. همدغه اثر // ۶مخ.
۱۵۱. همدغه اثر // ۱۲_۱۳مخونه.
۱۵۲. همدغه اثر // ۱۵مخ.
۱۵۳. همدغه اثر // ۲۲مخ.
۱۵۴. همدغه اثر // ۲۹مخ.
۱۵۵. همدغه اثر // ۳۱مخ
۱۵۶. همدغه اثر // ۴۰ مخ.
۱۵۷. همدغه اثر // ۵۳مخ.
۱۵۸. همدغه اثر // ۵۵_ ۵۶ مخونه.
۱۵۹. افغانستان درمسیر تاریخ، غبار، ۷۲۷مخ.

۱۶۰. همدغه کتاب، ۷۲۰_۷۲۱مخونه.
۱۶۱. جنبـــش مشـــروطیت در افغانســـتان، حبیبـــي، ۱۴۶_۱۴۷مخونه.
۱۶۲. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۳۱۴مخ.
۱۶۳. خاطرات، دکتور عبدالحکیم طبیبي، ۱۴۱مخ.
۱۶۴. افغانستان در مسیرتاریخ، غبار، ۷۰۳مخ.
۱۶۵. سراج التواریخ، فیض محمدکاتب ۱ ټوك، ۱مخ.
۱۶۶. سراج، ۱۸ کنه ایران ۱۳۷۸، ۱۱۷، ۱۱۸مخونه.
۱۶۷. سراج، پژوهشی درباره سراج التواریخ، ۲۴۲مخ.
۱۶۸. کاروان، امریکا، سال سوم، شماره سرطان، ۱۳۷۵کال.
۱۶۹. افغانستان درمسیر تاریخ، غبار، ۶۸۵مخ.
۱۷۰. سراج ۱۸ کنه، ایران ۲۶۴مخ.
۱۷۱. همدغه // ۱۶_۱۷ مخونه.
۱۷۲. جنبش مشروطیت در افغانستان، حبیبي، ۱۴۳مخ.
۱۷۳. تاریخ سیاسی افغانستان، فرخ، ۱۹۴_۱۹۵ مخ.
۱۷۴. افغانستان در قرن ۱۹، ربنتیا، ۱۰۶مخ.
۱۷۵. همدغه اثر // ۱۰۶_۱۰۷ مخونه.
۱۷۶. اکبرنامـــــه، حمیدکشـــــمیری، ۱۳۳۰کـــــابل، ۱۸۳، ۱۸۶، ۱۸۷، ۱۸۸ مخونه.
۱۷۷. گروههای شیعي وائتلاف های شکننده، سراج، ۲۸ مخ.
۱۷۸. سراج، حسین علی نایل و ۲۵۳مخ.
۱۷۹. تیمورشاه درانی، عزیزالدین وکیلي پوپلزای، ۱۸۳مخ.
۱۸۰. جنبش مشروطیت در افغانستان، حبیبي، ۴۲_۴۵مخونه.
۱۸۱. پژوهشی در باره سراج التواریخ، سراج، ۲۳۸مخ.
۱۸۲. نژادنامه افغانستان، ملا فیض محمدکاتب، ۱۵_۱۶مخونه.

۱۸۳. جنبش مشروطیت در افغانستان ، حبیبي، ۱۲۴مخ.
۱۸۴. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۴۴۱مخ.
۱۸۵. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۲۹۴مخ.
۱۸۶. همد ه کتاب، فرخ، ۴۵۳_ ۴۵۴مخونه.
۱۸۷. د افغ نستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ، جنرال یارمحمدخان وزیری، ۴۳مخ.
۱۸۸. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۷۰مخ.
۱۸۹. د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ، جنرال یارمحمدخان وزیري ۱۰۲مخ.
۱۹۰. حاکمیت قانون، امیر امان الله خان، سمونه او نښلونه، ح، رفیع، ۲۴۳_ ۲۴۴مخونه.
۱۹۱. همدغه اثر ، ۲۴۳مخ.
۱۹۲. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۲۹۴مخ.
۱۹۳. حاکمیت قانون، امیر امان الله خان ، سمونه او نښلونه ، ح، رفیع، ۲۴۲_ ۲۴۳مخونه.
۱۹۴. همدغه اثر ، ۲۴۱مخ.
۱۹۵. همدغه اثر ۲مخ.
۱۹۶. همدغه اثر، ۷۸ مخ.
۱۹۷. افغانستان در پنج قرن اخیر، فرهنګ، ۳۷۰ مخ.
۱۹۸. جنبش مشروطیت در افغانستان ، حبیبي، ۱۳۲_ ۱۳۳_ ۱۳۴_ ۱۳۵ مخونه.
۱۹۹. پژوهش در باره سراج التواریخ، حسین نایل، ۲۴۸مخ.
۲۰۰. جنبش مشروطیت در افغانستان ، حبیبي، ۱۲۰ مخ.
۲۰۱. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنګ، ۳۶۳مخ.
۲۰۲. افغانستان در مسیر تاریخ، غبار، ۲۲۵مخ.

۲۰۳. همدغه کتاب، غبار، ۸۲۵مخ.
۲۰۴. همدغه کتاب، غبار، ۸۲۸مخ.
۲۰۵. همدغه کتاب، غبار، ۸۲۷مخ.
۲۰۶. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۳۹۲مخ.
۲۰۷. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۲۶مخ.
۲۰۸. تاریخ سیاسی افغانستان ، فرخ، ۴۸۴_ ۵۱۰مخونه.
۲۰۹. افغانستان در پنج قرن اخیر، فرهنگ، ۳۷۴مخ.
۲۱۰. همدغه اثر ، ۳۷۴مخ.
۲۱۱. همدغه اثر ، ۳۶۴مخ.
۲۱۲. همدغه اثر، ۴۰۲مخ.
۲۱۳. همدغه اثر ، ۳۹۳مخ.
۲۱۴. همدغه اثر ۳۸۸ مخ.
۲۱۵. همدغه اثر ۳۹۳مخ.
۲۱۶. عیاری از خراسان، خلیل الله خلیلی، ۱۳۲مخ.
۲۱۷. همدغه اثر ۱۳۳_ ۱۳۴مخونه.
۲۱۸. همدغه اثر ، ۱۳۳_ ۱۳۵مخونه.
۲۱۹. همدغه اثر ۱۹مخ.
۲۲۰. همدغه اثر، ۱۴۹مخ.
۲۲۱. افغانستان درمسیرتاریخ، ۲ټوك، غبار، ۶مخ.
۲۲۲. د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ، جنرال یارمحمدخان وزیري، ۲۳۰ مخ.
۲۲۳. همدغه کتاب ، ۲۲۵_ ۲۲۶مخونه.
۲۲۴. افغانستان در مسیرتاریخ، ۲ټوك، غبار، ۱۴مخ.
۲۲۵. همدغه کتاب، ۱۵مخ.
۲۲۶. همدغه کتاب، ۱۶مخ.

۲۲۷. د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ، جنرال یارمحمدخان وزیري، ۳۲۵_ ۳۲۸مخونه.
۲۲۸. افغانستان درمسیرتاریخ، ۲توك، غبار، ۱۸ مخ.
۲۲۹. حقیقت التواریخ، عبدالحق مجددي، ۴۴۰مخ.
۲۳۰. همدغه اثر، ۵۰۴مخ.
۲۳۱. بحران و نجات، غلام محی الدین انیس، ۹۱_۹۲ مخونه.
۲۳۲. همدغه کتاب، ۲۳۲مخ.
۲۳۳. حقیقت التواریخ، عبدالحق مجددي، ۵۰۶مخ.
۲۳۴. همدغه اثر ، ۵۰۶_ ۵۰۷ مخونه.
۲۳۵. افغانستان درمسیر تاریخ، غبار، ۲۶_ ۲۷مخونه.
۲۳۶. همدغه کتاب، ۲توك، ۲۹ مخ.
۲۳۷. بحران ونجات، انیس ۲۳۶_ ۲۳۷ مخونه.
۲۳۸. د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ، جنرال یارمحمدخان وزیري، ۳۳۲مخ.
۲۳۹. د افغانستان برخلیك او ختیځ پښتانه، دکتور وارث محمد وزیر، ۲۳۲_ ۲۳۳ مخونه.
۲۴۰. د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ، جنرال یارمحمدخان وزیري، ۲۳۸_ ۲۳۹ مخونه
۲۴۱. خاطرات سیاسی، رښتیا ، ۳۰ مخ.
۲۴۲. همدغه کتاب، ۱۹ _ ۲۲ مخونه.
۲۴۳. افغانستان درمسیرتاریخ، غبار، ۷۶۴مخ.
۲۴۴. همدغه کتاب، غبار، ۲۲مخ.
۲۴۵. سراج ۱۸ گنه ، ایران، ۱۳۷۸کال.
۲۴۶. په سرحدي صوبه ږومبی لساني او ثقافتی کنفرانس، سلطان محمدصابر، ۲۱۱_ ۲۱۲مخونه.

۲۴۷. سراج، ۱۸ گنه.
۲۴۸. همدغه خپرونه ۱۳۷۸ کال.
۲۴۹. خاطرات سیاسی، رښتیا، ۲۴مخ.
۲۵۰. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۴۲۷مخ.
۲۵۱. همدغه کتاب، ۴۲۶_ ۴۲۷مخونه.
۲۵۲. خاطرات سیاسی، رښتیا، ۲۵مخ.
۲۵۳. همدغه اثر، رښتیا، ۲۶مخ.
۲۵۴. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۴۲۷مخ.
۲۵۵. در دری، ایران، کاظم یزدانی، پته خزانه در زیر ذره بین.
۲۵۶. همدغه خپرونه، کاظم یزدانی،. ۳۴مخ.
۲۵۷. همدغه خپرونه، ۳۳ مخ.
۲۵۸. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۴۲۷مخ.
۲۵۹. در دری، کاظم یزدانی، ایران، ۶_ ۸ گڼه، ۳۹مخ.
۲۶۰. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۴۲۸مخ.
۲۶۱. همدغه کتاب، ۴۲۶مخ.
۲۶۲. همدغه اثر، فرهنگ، ۴۲۶مخ.
۲۶۳. خاطرات سیاسی، رښتیا، ۶۳مخ.
۲۶۴. بحران افغانستان، قومیت، سراج ۱۸ گڼه ایران، ۴۵مخ.
۲۶۵. اسنادلانه جاسوس امریکان، تهران، ۳۳۰ مخ.
۲۶۶. افغانستان، علی رضا علی ابادی، تهران، ۱۴۹_ ۱۵۰_ ۱۵۱مخونه.
۲۶۷. اسنادلانه جاسوسی امریکا، تهران، ۳۳۲مخ
۲۶۸. همدغه اثر، ۳۳۲مخ.
۲۶۹. همدغه اثر ۳۳۰ مخ.
۲۷۰. افغانستان در پنج قرن اخیر، فرهنگ، ۴۷۶مخ.

۲۷۱. افغانستان ، علی رضا ابادی، ۱۵۰ مخ.
۲۷۲. پښتانه، سراولاف کیرو، ۳۰۷مخ.
۲۷۳. افغانستان ، علی رضا علی ابادی، ۱۴۹مخ.
۲۷۴. همدغه کتاب، ۱۴۹ مخ.
۲۷۵. په سرحدي صوبه ږومبی لساني او ثقافتي کنفرانس، ۲۰۴مخ.
۲۷۶. سراج، ۱۵۱مخ.
۲۷۷. افغانستان درپنج قرن اخیر، فرهنگ، ۴۷۶مخ.
۲۷۸. همدغه کتاب، فرهنگ، ۴۹۱مخ.
۲۷۹. خاطرات سیاسی، رښتیا ، ۱۸۱مخ.
۲۸۰. ظهوروال حزب دموکراتیک خلق، ۲ټوك، دستگیرپنجشیری، ۹۴ مخ.
۲۸۱. همدغه اثر ، ۹۶مخ.
۲۸۲. همدغه اثر، ۹۷مخ.
۲۸۳. د افغانستان برخلیك او ختیځ پښتانه، دکتوروارث محمدوزیر ، ۲۳۸مخ.
۲۸۴. ظهور زوال حزب دموکراتیك خلق، پنجشیری، ۹۳مخ.
۲۸۵. همدغه اثر، ۱۲۰ مخ.
۲۸۶. همدغه اثر ، ۱۲۱مخ.
۲۸۷. وطن یا کفن، نورالبشرنوید ، نیازی، ۱۵۹مخ.
۲۸۸. افغانستان ، عصر مجاهدین وبرامدن طالبان، چنگیزپهلوان، ۳۰_ ۳۱مخونه.
۲۸۹. همدغه کتاب، ۲۹_ ۳۰ مخونه.
۲۹۰. اردو وسیاست، جنرال نبي عظیمي، ۶۰۸مخ.
۲۹۱. همدغه اثر ، ۵۹۱مخ.
۲۹۲. کاروان، امریکا ، ۲۲گڼه، ۲مخ.

۲۹۳. د جنبش ملي اسلامي د فرهنګي مرکز خپرونه، ۶ ګڼه ۱۳۷۱ کال.
۲۹۴. میزان. ډهلي، ۶۰ ګڼه. ۲۰۰۰ م کال.
۲۹۵. همدغه خپرونه، ډهلي، ۷ ګڼه ۱۹۹۷ کال.
۲۹۶. طالبان افغانستان . حقاني سراج.
۲۹۷. سباوون، ۲۳ ګڼه، مشوانی ۱۶ مخ، ۱۳۷۹ کال.
۲۹۸. طالبان مولوی حقاني. اسلام اباد. سرور دانش ژباړه.
۲۹۹. همدغه اثر.
۳۰۰. ائتلاف نامقدس، توماس والکوم، کاناډا، افغان رساله، ۲۳–۲۴ ګڼه.
۳۰۱. همدغه اثر.

PROPERTY OF ACKU 10116

PROPERTY OF ARIC